کشف الباری
عما فی
صحیح البخاری
تصنیف

کشف الباری

عما فی

صحیح البخاری

کتاب الجهاد والسّیر (اول)

تالیف ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم الله خان مدظله العالی
شیخ الحدیث جامعه فاروقیه کراچی

ترتیب وتحقیق ← مولانا حبیب الله زکریا صاحب استاذ جامعه فاروقیه کراچی

ترجمه ← مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم

خصوصیات

جلد ⑥

① داحادیثو تخریج
② د تعلیقات بخاری تخریج کول
③ د اسماء الرجال مختصر تعارف
④ دګرانو لغاتو لغوی صرفی او نحوی حل
⑤ ماقبل باب سره د ربط په باره کښې پوره تحقیق
⑥ د شرحې د هرې خبرې په حاشیه کښې حواله ورکول
⑦ د ترجمة الباب مقصد په بیانولو کښې پوره تحقیق
⑧ د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان او بیا د مذهب حنفی ترجیح
⑨ دحدیث اطراف بیانول چه په بخاری کښې داحدیث په کوم کوم ځائې کښې دې.

خورونکی فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور
موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

دکتاب نوم:- کشف الباری عما فی صحیح البخاری

جلد: کتاب الجهاد والسیر (اول)

شارح: صدر وفاق المدارس شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان مدظله العالی

ترتیب وتحقیق: مولانا حبیب الله زکریا صاحب استاذ جامعه فاروقیه کراچی

پښتو مترجم: مولانا شاه فیصل فاضل امداد العلوم و وفاق المدارس
ایم اے اسلامیات وعربی پیښور یونیورسټی

د ملاویدو پتې: د فیصل کتب خانه پېښور څخه علاوه

- رشیدیه کتب خانه اکوړه خټک
- علمیه کتب خانه اکوړه خټک ۰۹۲۳۶۳۰۵۹۴
- مکتبه رشیدیه کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
- مکتبه عثمانیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰
- مکتبه یوسفیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۲۱۰۸۲۸۹۳۰
- راشد کتب خانه،چمن ۰۳۰۰۳۸۹۶۳۵۳
- مکتبه عمریه تاج میر روډ چمن بلوچستان
- مکتبه علوم اسلامیه تاج میر روډ چمن بلوچستان ۰۳۳۳۷۹۵۸۶۹۶
- مکتبه حقانیه چمن ۰۳۳۳۷۷۵۲۲۱۹
- صداقت کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۸۷۷۴۲۳۲۱
- مکتبۀ رحمانیه قندهار افغانستان ۰۷۹۷۷۳۵۲۸۱
- مکتبه عبد الحي قندهار افغانستان ۰۷۰۰۸۲٤۳۳٤
- اسد الله کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۰٧٤۷۷۶۲۷
- مکتبۀ غفاریه قندهار افغانستان ۰۷۰۰۳٤۱۷٤۹
- مکتبۀ رشیدیه قندهار افغانستان ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹
- مکتبۀ حبیبیه قندهار افغانستان ۰۷۹۹٤٤۷٤۱۳
- مکتبة القدس قندهار افغانستان ۰۷۰۷۹٤۸۵۵۹
- قدرت کتب خانه کابل افغانستان ۰۷۹۹۲۱۹۲۰۳
- عبد المجید کتب خانه جلال آباد ۰۷۰۸۱۹۷۷٤۹
- شاهین کتب خانه خوست افغانستان
- بلال کتب خانه خوست افغانستان
- اسلامی کتب خانه خوست افغانستان ۰۷۹۹۳۱۰۲٤۷

فهرست مضامین

۲- بَاب: أَفْضَلُ النَّاسِ مُؤْمِنٌ مُجَاهِدٌ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

۳- باب: الدعاء بالجهاد والشهادة للرجال والنساء

۴- بَاب: دَرَجَاتِ الْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ يُقَالُ هَذِهِ سَبِيلِي وَهَذَا سَبِيلِي

۵- بَاب: الْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَقَابِ قَوْسِ أَحَدِكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ

شمیره	مضمون	صفحه

۱۳- بَاب عَمَلٌ صَالِحٌ قَبْلَ الْقِتَالِ

شميره	مضمون	صفحه

۱۴- بَاب: مَنْ أَتَاهُ سَهْمٌ غَرْبٌ فَقَتَلَهُ

۱۵- بَاب: مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا

شمیره	مضمون	صفحه

۲۲- بَاب: الْجَنَّةُ تَحْتَ بَارِقَةِ السُّيُوفِ

۲۳- بَاب: مَنْ طَلَبَ الْوَلَدَ لِلْجِهَادِ

۲۴- بَاب: الشَّجَاعَةِ فِي الْحَرْبِ وَالْجُبْنِ

۲۵- بَاب: مَا یُتَعَوَّذُ مِنَ الْجُبْنِ

شمیره	مضمون	صفحه

۲۹- بَاب: مَنْ اخْتَارَ الْغَزْوَ عَلَی الصَّوْمِ

۳۲- بَاب: الصَّبْرِ عِنْدَ الْقِتَالِ

شمیره	مضمون	صفحه

۳۵- بَاب: مَنْ حَبَسَهُ الْعُذْرُ عَنْ الْغَزْوِ

شمیره	مضمون	صفحه

۳۶- بَاب: فَضْلِ الصَّوْمِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ

۳۷- بَاب: فَضْلِ النَّفَقَةِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ

۳۹- بَاب: التَّحَنُّطِ عِنْدَ الْقِتَالِ

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

۴۹- بَاب: مَنْ ضَرَبَ دَابَّةَ غَيْرِهِ فِي الْغَزْوِ

۵۰- بَاب: الرُّكُوبِ عَلَى الدَّابَّةِ الصَّعْبَةِ وَالْفُحُولَةِ مِنْ الْخَيْلِ

شمیره	مضمون	صفحه

۵۲- بَاب: مَنْ قَادَ دَابَّةَ غَيْرِهِ فِي الْحَرْبِ

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

۲۰- بَاب: بَغْلَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيْضَاءِ

شمیره	مضمون	صفحه

۷۱- بَاب: جِهَادِ النِّسَاءِ

۷۲- بَاب: غَزْوِ الْمَرْأَةِ فِي الْبَحْرِ

شمیره	مضمون	صفحه

۷۰- بَاب: فَضْلِ الْخِدْمَةِ فِي الْغَزْوِ

شمیره	مضمون	صفحه

شميره	مضمون	صفحه

۷۳- بَاب: مَنْ غَزَا بِصَبِيٍّ لِلْخِدْمَةِ

۷۴- بَاب: رُكُوبِ الْبَحْرِ

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

۹۰- بَاب: الْحَرِيرِ فِي الْحَرْبِ

شمیره	مضمون	صفحه

۹۳- بَاب: قِتَالِ الْيَهُودِ

۹۴- بَاب: قِتَالِ التُّرْكِ

شمیره	مضمون	صفحه

فہرس اسماء من ترجم لهم على حروف الهجاء

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

عرض مرتب

د الله تعالی جل شانه وعم نواله ډېر زيات رحم وكرم او احسان دې چه حضرت شيخ الحديث رئيس المحدثين مولانا سليم الله خان صاحب دامت معاليهم د درس صحيح بخاری يو بل جلد ترتيب. تحقيق اوتعليق سره ستاسو حضراتو په وړاندې د پيش كولو سعادت حاصليږی.
د نن نه دوه كاله وړاندې د كشف البارى كار راته تفويض شوې وو. په هغه وخت كښې مې دا خيال او گمان هم نه وو چه په دومره كم وخت كښې به دا جلد ستاسو په وړاندې د طباعت په كالی باندې ښائسته كړې شی او رابه شی. فلله الحمدوله الشكر.
دا جلد د صحيح بخاری كتاب الجهاد متعلق دې په كوم كښې چه ټول د ۹۸ ابوابو تشريح، تعليق، تحقيق او ترتيب په يوځائې راغلې دې. په دې جلد كښې هم د هغه ټولو امورو التزام شوې دې د كوم اهتمام چه په كتاب الايمان او كتاب العلم په جلدونو كښې شوې دې او د ترتيب او تعليق په دوران كښې هم هغه طريقه برقراره ساتلو كوشش كړې شويدې د كوم اهتمام چه په دې پورتنو جلدونو كښې شويدې، البته په دې جلد كښې دوه امره داسې دی د كوم ښكاره كونه چه ضروری ده.
د احاديثو په تشريح كښې كله كله عربی عبارتونه نقل كولې شی بحمدالله په دې جلد كښې داسې د ټولو عبارتونو ترجمه هم كړېشوې ده، دې د پاره چه په عربئی كښې د كمزوری استعداد حاملين قاريان صاحبان هم دينه په آسانئی سره استفاده اوكړېشی.
تراجم رجال كښې رواة سند احوال او تذكره بيان كولو اهتمام كولې شی. كتاب الجهاد د صحيح بخاری جلد اول تقريباً آخره كښې دې او د كتاب الوضوء نه تركتاب الجهاد پورې د كشف البارى كار تراوسه نه دې شوې په دې وجه مونږ چه كوم ځائې هم په حاشيه كښې ليكلی دی چه د هغوی د حالاتو د پاره اوګورئی كتاب الوضوء باب..... يا د هغوی حالاتو د پاره اوګورئی «كتاب الزكاة باب....» نو د دې نه مراد د صحيح بخاری مذكوره كتاب او باب دې او كه د يو راوی يا بزرګ نوم په اول ځل د كتاب الجهاد په يو باب كښې راغلې دې نو هم هلته د هغه تذكره هم ليكلې شويده او كه د كشف البارى په رومبنو دريو جلدونوكښې د هغوی تذكره شته نو باقاعده د صفحې نشاندهی كړېشويده.

....

احقر ته د خپلې علمی بې بضاعتی اود تحقيق په ميدان كښې د خپلې ناتجربه كارئی او نوی راتلو دا صرف احساس دې بلكه د دې مكمل اعتراف هم دې، خو صرف په الله تعالی باندې توكل كول او د حضرت شيخ الحديث صاحب دامت بركاتهم د حكم او د هغوی د توجيهاتو. عناياتو او دعاګانو په وجه د دې عظيم خدمت كولو اراده ده، عين ممكن دی چه په دې كښې بغير د قصد او ارادې غلطيانې شوی وی نو د اهل علم حضراتو په خدمت كښې داپه ډېر ادب سره عرض دې كه په كتاب كښې په كوم قسم غلطئی نظر پريوزی نو احقر د هغې نه خبر كړئی.

دَ دې كتاب دَ شروع نه واخله تر آخرى ترتيب او تحقيق پہ دوران كښې احقر ته چه دَ كومو حضراتو راه نمائى حصاله شوې ده په هغوى كښې دَ ټولونه لوئ نوم حضرت شيخ الحديث صاحب دامت بركاتهم نه پس حضرت استاذ مكرم مولانا نورالبشر صاحب دامت معاليهم (نگران شعبه تخصص فى الحديث، رفيق شعبه تصنيف واستاذ حديث جامعه فاروقيه كراچئى) دې، چه دَ هغوى راه نمائى بنده ته قدم په قدم حاصله ده. په نورو صورتونوكښې دَ كتاب دومره زردَ لوستونكو په وړاندې دَ راتلو امكان نه وو. دَ كتاب مكمل پروف ريډنګ احقر پخپله كړيدې، البته دَ بعضو احاديثو تخريج، دَ فهرست وغيره تيارى او بعض حواله جاتو تخريج كښې محترم رور خرم سعيد صاحب استاذ جامعه فاروقيه،عزيزم كفايت الله زكريا او عزيزى محمد اسماعيل عاطف وغيره تعاون كړې دې. الله تعالى دې دې ټولو تعاون كونكوته جزائې خير وركړى او علمى او عملى ترقنى دې وركړى. سره دَ دې بنده دَ هغه ټولو حضراتو استاذانو مخلصينو او محببيو هم ډيره شكريه ادا كوى دَ چا حوصله وركول او دعاګانې چه احقر ته حاصلې وې.

په آخره كښې ټولو لوستونكو ته دَ حضرت شيخ الحديث صاحب دامت معاليهم دَ پاره دَ خصوصى دعاګانو درخواست دې چه الله تعالى دې دَ هغوى دَ عاطفت سورې زمونږ په سرونو باندې تر ډير وخت پورې قائم او دائم اوساتى او په ملك كښې يا بهر ملكونو كښې چه دَ علمى افاداتو كومه سلسله (خاص كر جامعه فاروقيه كراچئى په صورت كښې) تقريباً دَ پنځوستو كالو راسې روانه ده. دَ قيامت پورې دې دغه شان جارى او سارى او ساتى او دَ هغوى دَ پاره دې صدقه جاريه جوړه كړى. آمين

دې سره سره دَ احقر مرتب دَ پاره هم خصوصى دعا اوكړئى چه باقى كار دې الله تعالى آسان اوګرځوى او دَ زر نه زر دَ پوره كولو توفيق راكړى او په خپل دربار كښې دَ قبوليت شرف وركړى او زمونږ دَ پاره او زمونږ دَ استاذانو او مشائخو او والدينو او متعلقينودَ پاره دَ آخرت ذخيره او دَ خلاصى ذريعه جوړه كړى.

حبيب الله زكريا
رفيق شعبه تصنيف وتاليف واستاذ جامعه فاروقيه كراچى

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

۶۰= کتاب الجهاد والسیر

دَ نسخو اختلاف: دَ بخاری شریف په اکثرو نسخو کښې عنوان کښې "کتاب" مذکور نه دې، صرف ابن شبویه او نسفي داسې عنوان ذکر کړیدې. (۱)

بیا بسمله په ټولو نسخوکښې دَ مذکوره بالا عنوان نه روستوده، البته دَ نسفي په نسخه کښې بسمله دَ عنوان نه وړاندې ده. (۲)

دَ جهاد لغوی معنی: دا دَباب مفاعله مصدر دې دَ دې معنی محنت مشقت او کوشش کول دی. په دې معنی کښې دَ جیم په کسره سره مستعمل دې، دَ جیم په فتحه سره په وزن دَ سحاب یعنی سخته شاړه زمکې ته وائی ۱.(۳)

اصطلاحی تعریف: دَ جهاد اصطلاحی تعریف دې "قتال لکفار التقویة الدین" (۴) یعنی دَ دین دَ مضبوطیا او استحکام دَ پاره کافرانو سره جنګیدل.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی "وشرعا بذل الجهد فی قتال الکفار" (۵) او علامه عینی رحمه الله "لاعلاء کلمة الله تعالی" اضافه کړیده.(۶) یعنی دَ الله تعالی دَ دین دَ سرلوړئی دَ پاره کافرانوسره دَ جنګیدو کوشش کول.

دَ جهادصورتونه: علماو دَ جهاد مختلف صورتونه بیان کړی دی.

① جهادمع الکفار ② جهادمع الفساق

③ جهاد مع الشیطان ④ جهاد مع النفس.

دَ دې تفصیل دا دې چه جهاد مع الکفار په لاس، مال، ژبه او زړه سره کیږی.

اوجهاد مع الفساق لاس، بیا ژبه او بیا زړه سره کیږی.

او دَ جهاد مع الشیطان مطلب دا دې چه هغه په زړه کښې شك شبهې پیدا کوی یا بد عملونه ښائسته کوی او پیش کوی نو چه دَ دې نه ځان اوساتی.

جهاد مع النفس دا دې چه دَ دینی امورو ذده کړه اوبه دې عمل کولو کښې سرې خپل ځان مشغول اوساتی او بیا دَ دې په خودلو کښې لګیا شی. (۷)

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۷۸)-

۲) (حواله بالا-

۳) (تاج العروس (۲/مادة جهد، ص۳۲۹) وعمدة القاری (ج ۱٤ص۷۸) دَ جهاد مشروعیت او مقصد او دَ دې ضرورت پیژندلودَپاره کشف الباری کتاب المغازی (ص۱۲-۳۶) اوګوری-

٤) (شرح الکرمانی(ج۱۲ص۹۲)-

۵) (فتح الباری(ج۶ص۳)-

۶) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۷۸)-

۷) (فتح الباری (ج۶ ص۷۸)-

دغه شان علماؤ لیکلی دی چه یو ظاهری جهاد وی او بل باطنی. ظاهری جهاد خو همدغه وی چه کافرانو وغیره سره وی او جهاد باطنی دَ خپل نفس ناجائزو امورو کښې مخالفت اودَ شریعت دَ تابعدارئی نوم دې.
دې نه پس تاسو دا اوګنړئی چه په بعض روایاتو کښې دې جهاد ته چه نفس اوباطن سره وی هغه ئې جهاد اکبر ګرځولې دې ځکه چه کافرانو سره جهاد خو کله کله وی خودَ نفس سره دَ سړی مقابله هر وخت او هره ګهړئی وی نو په دې وجه دا اهم او اکبر دې.(۱) دغه شان بیهقی په کتاب الزهد (۲) کښې دَ حضرت جابر ﷺ روایت نقل کړیدې چه رسول الله ﷺ دَ غزوه نه واپس تشریف راوړو اووئی فرمائیل "رجعنا من الجهاد الاصغر الی الجهاد الاکبر" (۳)
جهاد فرض کفایه دې که فرض عین؟: دې نه پس په دې خبره پوهه شئی چه دَ امت دَ علماؤ دَ جهاد په حکم کښې اختلاف دې. جمهور علماء جهاد ته فرض کفایه وائی یعنی هغه جهاد چه کافرانو سره وی هغه فرض کفایه دې چه دَ څه خلقو په ادائیګئی سره دَ ټول امت نه ساقطیږی اوکه څوك هم دَ کافرانو سره دَ جهاد دَ پاره اونه ځی نو ټول امت به ګناهګار وی.
لیکن الله دې نکړی که کافرانو په دارالاسلام باندې حمله اوکړه نو په هغه صورت کښې دَ هغه ځائ په خلقو باندې جهاد فرض عین دې. ترهغې چه دَ هغوی حمله زیاته شی نو بیا چه په کوم کوم ځائ کښې دَ هغوی رخ وی نودَ هغه ځائ دَ خلقو دَپاره جهاد فرض عین دې.(۴)
او یو وخت داسې هم راتلې شی چه جهاد به په ټولو مسلمانانو باندې فرض عین شی.
علامه عینی ﷫ "بنایه" کښې عمرو بن دینار، عطاء بن ابی رباح، ابن شبرمة او سفیان ثوری ﷭ نه نقل کړی دی چه جهاد مطلقاً واجب نه دې (۵) او دَ ابن المسیب ﷫ مسلك دا دې چه جهاد په هر حال کښې فرض عین دې. (۶)

---

۱) (تعلیقات لامع الدراری (ج۷ ص۲۰۷-۲۰۸)-
۲) (اتحاف السادة المتقین(ج۸ص۶۵۷) وتعلیقات لامع الدراری(ج۷ص۲۰۸)-
۳) (انظر کشف الخفاء للعجلونی (ج۱ص۴۲۴) علامه عجلونی ﷫ په دې حدیث باندې کلام کولو سره فرمائی "قال الحافظ ابن حجر فی تسدید القوس: هو مشهور علی الالسنة وهو من کلام ابراهیم بن ابی عبلة"- محمد بن زیاد المقدسی فرمائی "سمعت ابن ابی عبلة وهو یقول لمن جاء من الغزو: قد رجعتهم من الجهاد الاصغر فما فعلتم بالجهاد الاکبر جهاد القلب؟" (سیر اعلام النبلاء ج۶ ص۳۲۵) او شیخ السلام علامه تیمیه ﷫ فرمایی "لااصل لهو ولم یروه احد من اهل المعرفة باقوال النبی صلی الله علیه وسلم" مقدمة مشارق الاشواق الی مصارع العشاق (ج۱ص۳۱). حضرت شیخ الاسلام مدنی ﷫ په خپل یو مکتوب نمبر ۱۰۵ کښې لیکی: "صوفیاء په کتابونو کښې "رجعنا من الجهاد الاصغر الی الجهاد الاکبر" ته صحیح حدیث ونیلې شویدې. لیکن دَ عسقلانی (کشف الخفاء ج۱ص۴۲۴) قول دې چه امام نسائی دَ ابراهیم بن عبله کلام خودلې دې دَ الفاظو رکاکت یو زبردست قرینه ده چه دا دَ حضور ﷺ قول نه شی کیدې او نه دَ حدیث متداول کتابونو کښې شاه عبدالعزیز ﷫ غوندې متبحر محدث کتلې دې....." (مکتوب شیخ الاسلام ج۱ص۳۰۷-۳۰۸)-
۴) (بدائع الصنائع (ج۲ص۹۸) فصل واما بیان کیفیة فرق الجهاد...... والهدایة (ج۲ص۵۵۸)-
۵) (البنایة (ج۲ص۷۸۹)-
۶) (اوجز المسالک (ج۸ص۱۹۹) وتنظیم الاشتات لحل عویصات المشکوة(ج۳ص۹۰)-

دَ نبی کریم ﷺ په زمانه کښې د جهاد څه حکم وو د دې متعلق تفصیل "باب وجوب النفیر" کښې راځی. انشاء الله په دې به هم هلته خبرې کیږی.

مشروعیت جهاد دَ جهاد مشروعیت په مدینه منوره کښې شویدې. په شروع کښې نبی کریم ﷺ ته همدغه حکم ورکړیشوې وو چه په تاباندې کوم احکام نازلیږی هغه ته په ښکاره اعلان کوه او بیانوه. دَ الله تعالی ارشاد مبارک دې ﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾ (١) نو واوروه په کولاوْ وینا سره دوی ته څه چه تاته حکم وی او دَ مشرکانو پرواه مه کوه.

دې نه پس حضور اکرم ﷺ ته دَ مجادله حسنه اجازت ورکړیشو اوفرمائیلې شو ﴿ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ ۖ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ﴾ (٢) یعنی راغواړئی دَ خپل رب لارې ته پخو خبرو باندې ئې پوهه کړه او نصیحت ورته په ښه شان سره واوروه، او الزام ورته ورکړه څنګه چه بهتر وی.

بیا دَ هغې نه پس مدینې طرف ته هجرت اوشونو په شروع کښې مدافعانه جهاد اجازت ورکړیشو. یعنی چه کله په تاسو باندې حمله اوشی یا په مسلمانانو باندې حمله اوشی نو دا حمله بندول او دَ دې دَ مقابلې کولو اجازت ورکړیشو. ارشاد اوفرمائیلې شو ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ﴾ چه حکم شویدې هغه خلقو ته چا سره چه کافران جنګیږی. په دې وجه چه په هغوی باندې ظلم اوشو او الله تعالی دَ هغوی په امداد کولو قادر دې.

بیا دې نه پس ارشاد اوشو ﴿فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ﴾ (٣) بیا چه کله تیرې شی میاشتې دَ پناه نومشرکان وژنئی. چرته چه مومئی اودَ هغوی دَ نیولو راګیرولو دَ پاره هر ځائ کښې په لټون کښې کینئی. دلته مطلقًا دَ اقدامی او دفاعی جهاد حکم نازل شو. (۴)

١- بَاب: فَضْلِ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ

دَ سیر لغوی معنی سیر-بکسر السین المهملة وفتح الیاء-سیرة جمع دې. دَ دې معنی طریقه راځی اودَ دې باب ضرب دې. (۵)

دَ سیر اصطلاحی معنی نبی اکرم ﷺ او صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین په مختلفو غزواتو اوجنګونو کښې چه کومه حکمت عملی اوطریقه پاتې وه هغې ته سیر ونیلې شی. (۶)

---

١) (الحجر: ٩٤)-

٢) (النحل:١٢٥)-

٣) (التوبة:5)-

٤) (انظر البناية (ج٢ص ٧٨٩) وزادالمعاد فی هدی خیر العباد (ج٣ ص٦٩-٧٢)-

٥) (انظر تاج العروس(ج٣ص٢٨٦-٢٨٧)مادة "سار" وعمدة القاری (ج ١٤ص٧٨) والکرمانی (ج١٢ص٩٢)

٦) (انظرعمدة القاری (ج ١٤ص ٧٨) والمغرب (ج١ص٤٢٧) حیث قال الامام المطرزی: "و....الاانها غلبت فی لسان الشرع علی امورالمغازی کالمناسک علی امورالحج"-

د ترجمة الباب مقصد د امام بخاری رحمه الله د دې باب د ترجمې نه مقصد د جهاد فضیلت، د هغې اهمیت او په دې باندې د اجراو ثواب بیانول دی. (۱)

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ إِلَى قَوْلِهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ [التوبة: ۱۱۱-۱۱۲]

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْحُدُودُ الطَّاعَةُ

اختلاف نسخ د باب د ترجمه لاندې ذکر شوې پورتنی مذکوره آیت کښې د صحیح بخاری مختلف نسخو اختلاف دې، د نسفی او ابن شبویه روایت داسې دې چه د اصیلی او کریمه نسخو کښې دواړه آیاتونه مکمل ذکر دی. اود ابوذر په روایت کښې اول آیت ﴿وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا﴾ پورې دې بیا د الی قوله: ﴿وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ﴾ دې. (۲)

د آیت شان نزول امام قرطبی رحمه الله د دې آیاتونو شان نزول بیانولوسره فرمائی چه دا آیاتونه د بیعت عقبه ثانیه په موقعه نازل شوی دی. داسې اوشوه چه کله د مدینې منورې نه اویا کسانو باندې مشتمل ډله د عقبه مقام ته راورسیده نو د حضور ﷺ د ملاقات د پاره حاضر شو نو په دې موقع باندې حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ خبرې اوریدونه پس اوفرمائیل "اشترط لربك ولنفسك ماشئت" یعنی تاسو ﷺ د خپل رب د پاره اود خپل ذات د پاره کوم شرط په مونږ باندې منل غواړئ هغه ومنئی. حضور اکرم ﷺ اوفرمائیل چه د الله تعالی د پاره خو شرط دا دې چه تاسو صرف د هغه عبادت کوئی او څوك د هغه شریك مه گرخوئی. او د خپل ځان د پاره شرط دا دې چه تاسو د خپل ځان او مال حفاظت کوئی اوزما هم کوئی. په دې باندې انصارو عرض اوکړو که دا شرطونه مونږ پوره کړل نو مونږ ته به څه ملاویږی؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل "الجنة" هغه وخت د انصارو زړه د خوشحالئ نه باغ باغ شو او وئې وئیل دا سودا خو ډیره گټندویه ده. اوس به نه دا سودا پخپله ضائع کوو او نه به تاسو نه د دې ضائع کولو خواهش کوو. (۳)

د آیاتونو ترجمه بیشکه الله تعالی د مسلمانانو نه د هغوی ځانونه اود هغوی مالونه د دې خبرې په عوض اخستی دی چه هغوی ته به جنت ملاویږی. هغه خلق چه د الله تعالی په لار کښې جنگیږی په کوم کښې چه قتل کیږی او قتل کوی په دې باندې رښتونې وعده اوکړې شوه په تورات کښې، انجیل کښې او قرآن کښې. اود الله تعالی نه زیات خپله وعده پوره کونکې بل څوك دې؟ تاسو خلق په خپله دې بیع باندې د کوم چه تاسو معامله اودروله خوشحالی اوکړئی او دا لویه کامیابی ده.

هغوی داسې دی چه توبه کونکی دی، عبادت کونکی دی حمد کونکی دی روژه ساتونکی

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ ص۷۸)-

۲) (حواله سابقه-

۳) (بیان القران (ج۱ص۱٤۳) مع تغییر یسیر-

دي، روكوع او سجده كونكي دي. د نيكو خبرو تعليم كونكي او د بدو خبرونه منع كونكي اود الله تعالى د حدودو خيال ساتونكي دي او داسې مؤمنانوته خوشخبرى واوروه.

د دې آياتونو ذكركولو مقصد: د امام بخارى رحمه الله څنګه چه معروف عادت دې چه د خپل طرف نه ترجمه كولونه پس آياتونه ذكر كوى چه د دې خبرې دليل دې چه دا آياتونو د باب د ترجمه دپاره دليل دې. (١)

دلته هم د امام بخارى رحمه الله مقصد د دې آياتونو ذكركولونه د جهاد په فضيلت باندې دليل پيش كول دى.

قوله: قال ابن عباس: الحدود الطاعة:

د مذكوره تعليق تخريج: دا تعليق ابن ابى حاتم د على بن ابى طلحه په طريق باندې موصولاً نقل كړيدې. (٢)

د مذكوره تعليق مقصد: د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما مذكوره پورتنې تعليق ذكر كولو وجه دا ده چه سابقه آيت كښې چه "حدود" لفظ ﴿وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ﴾ كښې ذكر كړيشويدې دينه مراد اطاعت الهى دې ځكه چه څوك د الله تعالى مطيع او حكم منونكې وى اود هغه هر حكم په خائ راوړونكې وى او د كومو څيزونونه الله تعالى منع كړې دې د هغې نه ځان ساتونكې وى نو لكه دا تفسير د باللازم د قبيل نه دې. (٣) د مقرر حدودو حفاظت د الله تعالى د تابعدارئى نه بغير نشى كيدې په دې وجه د حدود د حفاظت كولو دپاره اطاعت به لازم وى.

حديث باب

[٢٦٣٠] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ صَبَّاحٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَابِقٍ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ مِغْوَلٍ قَالَ سَمِعْتُ الْوَلِيدَ بْنَ الْعَيْزَارِ ذَكَرَ عَنْ أَبِي عَمْرٍو الشَّيْبَانِيِّ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(٤) سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ قَالَ الصَّلَاةُ عَلَى مِيقَاتِهَا قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَسَكَتُّ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَوِ اسْتَزَدْتُهُ لَزَادَنِي [ر:٥٠٤]

تراجم رجال

١- **حسن بن صباح:** دا ابوعلى الحسن بن صباح بن محمد بزار رحمه الله دې، د دوى تذكره «كتاب الايمان باب زيادة الايمان ونقصانه» لاندې تيره شوې ده. (٥)

---

١) (كشف البارى (ج١ص١٧) ومقدمة لامع (ص٣٢٩-٣٣٠)-
٢) (انظر فتح البارى(ج٦ص ٤) وتغليق التعليق (ج٣ص ٤٣٠)-
٣) (انظرعمدة القارى (ج ١٤ص٧٩)-
٤) (قوله: عبدالله بن مسعود رضى الله عنه: الحديث: تقدم تخريجه فى باب مواقيت الصلاة-
٥) (كشف البارى (ج٢ص٤٦٧)-

۲- محمدبن سابق تمیمی: دا ابوجعفر محمد بن سابق تمیمی رحمه الله دې. (۱)

۳- مالك بن مغول بن مغول: دا مالك بن مغول کوفی رحمه الله دې. (۲)

۴- الولید بن عیزار: دا ولید بن عیزار بن حریث عبدی کوفی رحمه الله دې. (۳)

۵- ابوعمرو الشیبانی: دا ابوعمروسعدبن ایاس بن شیبانی رحمه الله دې. (۴)

۶- عبدالله بن مسعود: دا مشهور صحابی حضرت ابوعبدالرحمن عبدالله بن مسعود هذلی رضی الله عنه دې. دَ دوی حالات ((کتاب الایمان باب ظلم دون ظلم))کښې تیرشوی دی.(۵)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ پورتنی حدیث دَ باب ترجمه سره مطابقت بالکل واضح دې او ظاهره ده چه دَ حدیث الفاظوکښې ((الجهاد فی سبیل الله)) هم دې کوم چه دَ مانځه او برالوالدین نه پس افضل عمل ګرځولې شوې دې. (۶)

او دَ حدیث باقی تشریح په (کتاب الصلاة کښې باب مواقیت الصلاة) کښې تیره شویده.

حدیث باب

[۲۶۳۱] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنِي مَنْصُورٌ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ طَاوُسٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ(۷) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا [ر:۱۵۱۰]

تراجم رجال

۱- علی بن عبدالله: دا مشهورمحدث امام علی بن عبدالله ابن المدینی رحمه الله دې. دَ دوی تذکره ((کتاب العلم، باب الفهم فی العلم)) په ذیل کښې تیره شویده. (۸)

۲- یحیی بن سعید: دا یحیی بن سعید بن فروخ القطان رحمه الله دې، دَ دوی حالات ((کتاب الایمان باب من الایمان ان یحب لاخیه....)) کښې تیرشوی دی.(۹)

---

۱) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الوصایا باب قضاء الوصی دیون المیت.....-

۲) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الوصایا باب الوصایا وقول النبی ﷺ.....-

۳) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب مواقیت الصلاة باب فضل الصلاة لوقتها-

۴) (حواله بالا-

۵) (کشف الباری (ج۲ص۲۵۷)-

۶) (انظرعمدة القاری (ج ۱۴ ص۷۹)-

۷) (قوله: عن ابن عباس رضی الله عنهما مرتحریجه فی الحج باب لایحل القتال بمکة-

۸) (کشف الباری (ج۳)-

۹) (کشف الباری (ج۲ص۲)-

٣- سفيان: دا مشهور امام حديث، حضرت سفيان بن سعيد الثورى رحمه الله دي. دَ دوى تذكره ((كتاب الايمان باب علامة المنافق)) كښې تيره شوى ده.(١)

٤- منصور: دا مشهور محدث ابوعتاب منصوربن معتمركوفى رحمه الله دي دَ دوى حالات ((كتاب العلم باب من جعل لاهل العلم اياما معلومة)) كښې تيرشوى دى.(٢)

٥- مجاهد: دا ابوالحجاج مجاهد بن مكى قرشى رحمه الله دي. دَ دوى حالات ((كتاب العلم باب الفهم في العلم)) كښې راغلى دى. (٣)

٦- طاوس: دا مشهورتابعى حضرت طاؤس بن كيسان رحمه الله دي. (۴)

٧- ابن عباس رضي الله عنهما: دا مشهور صحابى، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دي دَ دوى تذكره "بدءالوحي" خلورم حديث لاندې نقل شويده ده.

قوله: لاهجرة بعدالفتح :دَ فتح مكه نه پس هجرت نشته.دَ حديث مطلب دادې چه هغه هجرت چه دَ مكې نه مدينې منورې طرف ته لازمى او ضرورى وو هغه اوس دَ فتح مكه نه پس فرض او ضرورى نه دې. (۵)

مطلب دا نه دې چه هجرت بالكل منقطع كړيشو، سنن ابى داؤد كښې حضرت معاويه بن ابى سفيان رضي الله عنه نه روايت دې:

قوله: سمعت رسول الله ﷺ يقول: لاتنقطع الهجرة حتى تنقطع التوبة ولا تنقطع التوبة حتى تطلع الشمس من مغربها:(٦) مادَرسول الله ﷺ نه اوريدلى دى فرمائيلې چه هجرت به نه موقوف كيږى تر هغه وخت پورې چه توبه نه وى موقوف شوې او توبه به هغه وخت پورې نه موقوف كيږى تركومې چه نمر دَ مغرب طرف نه وى راوتلې.

دَ دې دَ پاره دَ باب په حديث كښې دَ هغه خاص هجرت ختميدلو ذكر مراد دې چه مكې نه به كيدلو.

اول داحكم ووچه كوم سړې به كوم ځائ كښې مسلمان شودَ حضور دَ معاونت دَ پاره دَ هغه حصاريدل په مدينه منوره كښې ضرورى او لازمى وو.حافظ ابن حجر رحمه الله دَ امام خطابى رحمه الله نه نقل كړيدى چه دَ اسلام په شروع كښې په مدينه منوره كښې دَ مسلمانانو شمير قوت او شوكت دَ كميدلو په وجه باندې په هريو اسلام قبلونكى باندې مدينې منورې طرف

---

١) (كشف البارى (ج٢ص٢٧٨)-
٢) (كشف البارى (ج٣ص ٢٧٠)-
٣) (كشف البارى (ج٣ص٣٠٧)-
٤) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب من لم يرالوضوء الامن المخرجين....-
٥) (انظرعمدة القارى (ج ١٤ص٨٠)-
٦) (سنن ابى داؤد (ج١ص٣٣۶) كتاب الجهالد باب فى الهجرة هل انقطعت؟ رقم(٢٤٧٩)-

نه هجرت فرض وو. دې دپاره چه د مسلمانانو تعداد قوت یو ځائ شی لیکن کله چه د الله تعالی په فضل سره مکه مکرمه فتح شوه او خلق په اسلام کښې ډلې ډلې داخلیدل او ټول حجّاز د هغوی د حکم او فرمان لاندې راغلونو په هجرت کښې د مکې نه مدینې ته فرضیت ساقط شو او دا حکم منقطع شو.(۱)

یا داسې اووایه چه کوم ښاربه فتح شو د هغه ځائ نه به د هجرت حکم اوچتیدلو ځکه چه هغه ښار به دفتح نه پس دارالاسلام کښې شامل شو. د هغه ځایه به بیا د هجرت ضرورت باقی نه پاتې کیدو.

یا داسې اووایه چه د کوم هجرت نفی کولې شی هغه((هجرت مندوبه)) دې او هغه هجرت چه کوم ثابتولې شی هغه هجرت مفروضه دې. نو ((هجرت مفروضه من دارالکفر الی دارالاسلام))اوس هم باقی دې خو چه په دارالکفر کښې په احکام اسلام باندې عمل ممکن نه وی. (۲)

قوله: ولکن جهاد ونية :او لیکن جهاد او نیت خالص باقی دې. مطلب دا دې چه هغه هجرت کوم چه د جهاد د پاره یا د څه ښه نیت د پاره وی مثلاً دارالکفر نه دارالاسلام ته وربدلیدل خو چه په دارالکفر کښې په اسلامی احکامو عمل کښې نه وی.د علم په طلب کښې وتل وغیره د دې ثواب او حکم باقی دې.(۳)

قوله: واذا استنفرتم فانفروا:او چه کله تاسو ته د جنګ د پاره اووئیلې شی نو اوځئ.

د دې جملې تشریح انشاء الله وړاندې ((باب وجوب الغزو)) لاندې راځی.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د پورته ذکر شوی حدیث مناسبت د ترجمه دباب نه بالکل واضح دې کوم چه د ((ولکن جهاد ونية، اذا استنفرتم فانفروا)) نه ظاهر دې.(۴)

حديث باب

[۲۶۳۲] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا خَالِدٌ حَدَّثَنَا حَبِيبُ بْنُ أَبِي عَمْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ طَلْحَةَ عَنْ عَائِشَةَ(۵) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ يَارَسُولَ اللَّهِ تُرَى الْجِهَادَ أَفْضَلَ الْعَمَلِ أَفَلَا نُجَاهِدُ قَالَ لَكِنَّ أَفْضَلَ الْجِهَادِ حَجٌّ مَبْرُورٌ[ر:۱۴۴۸]

تراجم رجال

۱-مسدد: دا مشهور امام حدیث مسدد بن مسرهد بن مسربل رحمه الله دې. د دوی مختصراً

---

۱) (انظر اعلام الحدیث (ج ٤ ۲۱۳۵-۲۱۳۵۵) وایضاً فتح الباری (ج ۱ص۳۸-۳۹)-
۲) (بذل المجهود (ج ۱۱ص۳۷۳)-
۳) (انظر فتح الباری(ج ۶ص ۳۹)-
٤) (انظر عمدة القاری(ج ۱٤ص ۷۹)-
۵) (قوله: عن عائشة رضی الله عنها تقدم تخریجه فی کتاب الحج باب فضل الحج المبرور-

حالات ((کتاب الایمان، باب من الایمان ان یحب لاخیه....)) په ذیل کښې تیر شوی دی.(۱)

۲- خالد: دا خالدبن عبدالله الطحاوی رحمه الله دې. (۲)

۳- حبیب بن ابی عمرة: دا حبیب بن ابی عمره اسدی رحمه الله دې. (۳)

۴- عائشه بنت طلحه: دا عائشه بنت طلحه تمیمیه قرشیه رحمها الله ده. (۴)

۵- عائشه بنت ابی بکر: دا ام المؤمنین حضرت عائشه بنت ابی بکر الصدیق رضی الله عنهما ده. دَ دوی حالات ((بدء الوحی)) دَ دوئم حدیث په ذیل کښې راغلی دی.(۵)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت. دَ پورته ذکر شوی حدیث دَ ترجمه دَ باب سره مناسبت ((نری الجهاد افضل العمل)) کښې دې. (۶) اودَ حدیث مکمل تشریح ((کتاب الحج باب فضل الحج المبرور)) لاندې تیره شویده.

حدیث باب

[۲۶۳۳] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ أَخْبَرَنَا عَفَّانُ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جُحَادَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو حَصِينٍ أَنَّ ذَكْوَانَ حَدَّثَهُ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حَدَّثَهُ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ يَعْدِلُ الْجِهَادَ قَالَ لَا أَجِدُهُ قَالَ هَلْ تَسْتَطِيعُ إِذَا خَرَجَ الْمُجَاهِدُ أَنْ تَدْخُلَ مَسْجِدَكَ فَتَقُومَ وَلَا تَفْتُرَ وَتَصُومَ وَلَا تُفْطِرَ قَالَ وَمَنْ يَسْتَطِيعُ ذَلِكَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ إِنَّ فَرَسَ الْمُجَاهِدِ لَيَسْتَنُّ فِي طِوَلِهِ فَيُكْتَبُ لَهُ حَسَنَاتٍ

تراجم رجال

۱- اسحاق بن منصور: دا ابویعقوب اسحاق بن منصور نوسج رحمه الله دې، دَ دوی تذکره ((کتاب الایمان باب حسن اسلام المرء)) کښې راغلې دې. (۷)

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص۲)-

۲) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب من مضمض واستنشق....-

۳) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب الحج باب فضل الحج المبرور-

٤) (حواله بالا-

۵) (انظرفتح الباری (ج۶ص ٤-۵)-

۶) (قوله: ان اباهریرة رضی الله عنه الحدیث اخرجه مسلم فی صحیحة (ج۲ص۱۳٤) کتاب الامارة باب فضل الشهادة فی سبیل الله تعالی رقم (۱۸۷۸) والترمذی (ج۱ص۲۹۱) فی فضائل الجهاد باب ماجاء فی فضائل الجهاد رقم(۱۶۱۹)والنسائی فی کتاب الجهاد باب مایعدل الجهادفی سبیل الله عزوجل(ج۲ص۵۶) رقم(۳۱۳۰)

۷) (کشف الباری (ج۲ص۴۲۰)-

۲-عفان بن مسلم: دا عفان بن مسلم الصفار انصاری رحمه الله دی. (۱)

۳-همام: دا همام بن یحیی بن دینار عوذی شیبانی رحمه الله دی (۲)

۴-محمد بن جحاده: دا محمدبن جحاده ایامی ازدی رحمه الله دی. (۳)

۵-ابوحصین: دا ابوحصین بن عاصم اسدی رحمه الله دی. (۴)

۶-ذکوان: دا ابو صالح ذکوان الزیات رحمه الله دی.

۷-ابوهریرة رضی الله عنه: دا مشهور صحابی حضرت ابوهریره رضی الله عنه دی. د دی دواړو حضراتو حالات ((کتاب الایمان باب امورالایمان)) لاندې تیرشوی دی. (۵)

قوله: ان اباهریرة رضی الله عنه حدثه قال: جاء رجل الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال: دلنی علی عمل یعدل الجهاد: ذکوان رحمه الله فرمائی چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه ماته بیان اوکړو چه یو سړې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضرشو او هغوی صلی الله علیه وسلم ته ئی عرض اوکړو چه تاسو زما یو داسې عمل طرف ته لارخودنه اوکړئی چه د جهاد مماثل او برابر وی.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ماته د هغه سړی نوم معلوم نه شو "لم اقف علی اسمه" (۶)

قوله: قال: لااجده: حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل زه خوئی نه مومندم.
مطلب دا دې چه د جهاد برابر یو عمل هم نشته (۷)

قوله: قال: هل تستطیع اذا خرج المجاهد ان تدخل مسجدك فتقوم ولاتفتر وتصوم ولاتفطر؟: بیا هغوی صلی الله علیه وسلم د دې سړی نه تپوس اوکړو چه کله مجاهد (د جهاد د پاره) اوځی نو ته دا کولې شې چه په خپل جمات کښې داخل شې او مسلسل په مانځه اودریږې او ستړې نشې، مسلسل روژه اونیسې او روژې ماتې اونه کړې؟
د حضور صلی الله علیه وسلم د مذکوره فرمان مطلب دا دې چه د جهاد برابر یو عمل دادې چه سړې مونځ کوی او په مینځ کښې آرام هم نه کوی، اودې ستړې هم نه وی. دغه شان مسلسل روژې ساتی او روژې ماتې نه کوی نو هله به د دې سړی عمل د مجاهد د جهاد

---

۱) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب دفع السواک الی الاکبر-
۲) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب ترک النبی صلی الله علیه وسلم والناس الاعرابی حتی....-
۳) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الاجارة باب کسب البغی والاما-
۴) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب العلم باب اثم من کذب علی النبی صلی الله علیه وسلم-
۵) (کشف الباری (ج۱ص۶۵۸-۶۵۹)-
۶) (انظرفتح الباری(ج۶ص۵)-
۷) (انظرعمدة القاری(ج۶ص۸۲)-

برابر او مساوی کیدیشی ګنی نونه کیږی.

قوله: قال: ومن یستطیع ذلك؟: نوهغه سړی اوونیل دا طاقت څوك لرلې شی؟ یعنی مسلسل مونځ کول او نه ستړې کیدل. مسلسل روژې ساتل او روژې ماتې نه کول څوك کولې شی؟

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دَ الله تعالی په لارکښې دَجهاد کونکی په نوروباندې دا بالکل واضح فضیلت او اوچتوالې دې اودا فضیلت دَ دې خبرې متقاضی دې چه دَ جهاد برابر بل یو عمل هم نشته.(۱)

قوله: قال: ابوهریرة: ان فرس المجاهد لیستن (۲) فی طوله (۳) فیکتب له حسنات: حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه دَ مجاهد اس چه په رسئی کښې تړپونه وهی په دې باندې هم مجاهددپاره نیکئی لیکی.

امام بخاری رحمه الله دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه دا قول موقوفاً نقل کړیدې او همدغه روایت ((باب الخیل ثلاثة)) لاندې ((زیدبن اسلم عن ابی صالح)) په طریق مرفوعا ذکرکړیدې. (۴)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت دَ پورته ذکر شوی حدیث مناسبت د باب د ترجمې نه بالکل واضح دې، په کوم کښې چه وئیلی شوی دی چه دَ جهاد مساوی او مماثل بل هیڅ عمل نشته.(۵)

۲-باب: أَفْضَلُ النَّاسِ مُؤْمِنٌ مُجَاهِدٌ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

دَنسخ اختلاف: په ټولونسخوکښې دَمؤمن صفت کښې مجاهد اسم فاعل په وزن دې او د کشمیهنی په روایت کښې دا لفظ صیغه مضارع سره یجاهد دې. (۶)

دَ ترجمة الباب مقصد: د دې باب دَ ترجمه مقصد دَ مجاهد فضیلت بیانول دی چه کوم سړې دَ الله تعالی په لارکښې خپل ځان او مال سره دَ صحیح نیت اوځی هم هغه دَ ټولونه افضل سړې دې.

دَماقبل باب سره سره ربط او مناسبت په تیرشوی باب کښې امام بخاری رحمه الله دا خودلې ووچه دَ ټولو نه افضل عمل جهاد او قتال فی سبیل الله دې. په دې باب کښې دا خودل

---

۱) (انظر فتح الباری (ج۶ص۵)-

۲) (قال العلامة الفتهی استن استنانا: ای عدالمرحه ونشاطه شوطا ولاراکب علیه..... فاستن بتشدید نون: وهن ان یرفع یدیه ویطرحهما معا..... انبر مجمع بحار الانوار (ت۳ص۱۳۲-۱۳۳) باب السن مع النون-

۳) (الطول والطیل بالکسر: الحبل الطویل یشد احدطرفیه فی وتداوغیره والطرف الاخرفی یدالفرس لیدور فیه ویرعی ولا یذهب بوجهه. انظر مجمع بحارالانوار(ج۳ص۳۲)وعمدة القاری (ج۱٤ص۸۳)-

٤) (انظر شرح القسطلانی (ج۵ص۳۲) وعمدة القاری(ح۱٤ص۸۳)-

۵) (انظر عمدةالقار (ج۱٤ص۸۲)-

۶) (انظر فتح الباری (ج۶ص۶)-

غوارې چه د ټولونه افضل سړې هغه دې چه د جهاد او قتال فى سبيل الله فريضې سره تړلې وى او هغه پوره کوى او په هغې کښې خپل خان اولګوى.

وَقَوْلُهُ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ [الصف: ۱۰-۱۲]

د مذكوره آيت ترجمه اې د ايمان خاوندانو! تاسو ته داسې سوداګرى اونه ښايم چه تاسو د يو دردناك عذاب نه بچ كړى (هغه دا ده چه) تاسو خلق په الله تعالى باندې اود هغه په رسول باندې ايمان راوړئى او د الله تعالى په لاركښې په خپل مال او ځان سره جهاد اوكړئى. دا ستاسو د پاره ډيره بهتره ده، كه تاسو پوهيږئى (كله چه داسې كوئى نو) الله تعالى به ستاسو ګناهونه معاف كړى او تاسو به (دجنت) داسې باغونو ته داخل كړى د كومو د لاندې چه به نهرونه روان وى او په ښكلى مكانونو كښې به مو (داخل كړى) چه د هميشه اوسيدو باغونوكښې (جوړ) شوى وى، دا لويه كاميابى ده. (۱)

دمذكوره آيت ذكر كولومقصد: د باب د ترجمه په اثبات باندې د مذكوره آيت نه استدلال مقصود دې يعنى امام بخارى رحمه الله دا واضح كول غوارى چه د ايمان نه پس د ټولو نه بهترين تجارت ((جهادفى سبيل الله بالمال والنفس)) دې. لكه چه د آيت نه واضحه ده، نو په ځان او مال سره جهاد كونكې د ټولو نه افضل دې.

حديث باب

[۲۶۳۴] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي عَطَاءُ بْنُ يَزِيدَ اللَّيْثِيُّ أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۲) حَدَّثَهُ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُؤْمِنٌ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ قَالُوا ثُمَّ مَنْ قَالَ مُؤْمِنٌ فِي شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَتَّقِي اللَّهَ وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ [۶۱۲۹]

---

۱) (بيان القران (ج۱۲ص ٤)-

۲) (قوله: اباسعيد الخدرى رضى الله عنه الحديث اخرجه البخارى ايضًا فى صحيحه (ج۲ص۹۶۱) فى كتاب الرقاق باب العزلة راحة من خلاط السوء رقم(٦٤٩٤) ومسلم فى صحيحه (ج۲ص۱۳۶) كتاب الامارة باب فضل الجهاد والرباط رقم (٤٨٧٧-٤٨٧٨) والنسائى (ج۱ص۳۵۸) كتاب الزكاة باب من يسال الله عزوجل ولايعطى به رقم (۲۵۷۰) و(ج۲ص ٥٤) كتاب الجهاد باب فضل من يجاهد فى سبيل الله بنفسه وماله رقم (۳۱۰۷) والترمذى (ج۱ص۲۹۵) فى فضائل الجهاد باب ماجاء اى الناس افضل؟ رقم (۱۶۶۰) وابوداؤد (ج۱ص۳۳۶) كتاب الجاهد باب فى ثواب الجهاد رقم (٢٤٨٥) وابن ماجه (ص۲۸۶) فى ابواب الفتن باب العزلة رقم(۳۹۷۸)-

تراجم رجال

۱- ابوالیمان: دا ابوالیمان الحکم بن نافع حمصی رحمه الله دي.

۲- شعیب: دا ابوبشر شعیب بن ابی حمزه قرشی رحمه الله دي. دَ دې دواړو حضراتو تذکره ((بدء الوحی)) دَ شپږم حدیث په ذیل کښې تیره شویده. (۱)

۳- الزهری: دا مشهور امام حدیث محمدبن مسلم بن شهاب زهری رحمه الله دې دَ مختصر حالات ((بدء الوحی)) دَ دریم حدیث په ذیل کښې تیره شویدی.(۲)

۴- عطاء بن یزید اللیثی: دا عطاء بن یزیدلیثی رحمه الله دې. (۳)

۵- ابوسعید الخدری: دا مشهور صحابی حضرت ابوسعید سعدبن مالك خدری رضی الله عنه دې. دَ دوی تذکره ((کتاب الایمان باب من الدین الفرار من الفتن)) لاندې تیرشویدې.(۴)

قوله: قیل: یارسول الله: یوویونکی اووئیل یارسول الله ﷺ.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ماته دَ هغه ویونکی نوم معلوم نه شو، خو دومره خبره ده چه دا قسم سوال حضرت ابوذر رضی الله عنه نه هم مروی دی(۵)

قوله: ای الناس افضل؟: کوم سړې دَ ټولونه افضل دې؟

قوله: فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: مؤمن یجاهد فی سبیل الله بنفسه وماله: نو جناب نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه دَ ټولو نه افضل سړې هغه مؤمن دې چه د الله تعالی په لارکښې ځان او مال سره جهاد کوی.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه شاید مؤمن نه دا مراد وی چه کوم اولنی واجبات عینیه ادا کړی بیا هغه ته جهاد فضیلت دَ ځان او مال سره حاصل وی. دا بالکل مراد نه دی چه جهادخو کوی لیکن نور واجبات او فرائض پریږدی، په دې صورت کښې به دَ مجاهد فضیلت ظاهریږی ځکه چه په دې کښې مجاهددَ الله تعالی دَ رضادپاره خپل ځان او مال لګولی دی او دَ دې نفع هم متعدی ده. (۶)

قوله: قالوا: ثم من؟: صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین سوال اوکړو بیا څوك افضل دی؟ یعنی دا مجاهد (چه خپل ځان او مال دَ الله تعالی په لار کښې اولګوی) نه پس دَ ټولو نه

---

۱) (کشف الباری (ج ۱ ص ۴۷۹-۴۸۰)-
۲) (کشف الباری [۱ص ۳۲۶)-
۳) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب لاتستقبل القبلة بغائط....-
٤) (کشف الباری (ج ۲ ص ۸۲)-
۵) (انظرفتح الباری (ج ۶ ص ۶)-
۶) (انظرفتح الباری (ج ۶ ص ۶)-

افضل سړی څوك دی؟

قوله: قَالَ: مؤمن في شعب من الشعاب يتقي الله، ويدع الناس من

شرح: هغوی ﷺ اوفرمائيل بيا هغه سړی افضل دی چه په يو کنده کښې ناست وی اود الله تعالی نه ويريږی او خلق د هغه د شر نه محفوظ او په امن کښې وی.

((شعب-بكسر الشين المعجمة وسكون العين المهملة)) کندې ته وائی د دې جمع شعاب ده.(۱)

خلقوسره يوځائ کيدل افضل دی که خلوت نشينی: حديث باب کښې حضور ﷺ د مجاهدنه پس د ټولونه افضل هغه سړی ګرځولې دې چه په کنده کښې د خلقو نه خان له او جدا ناست وی او هلته د الله تعالی عبادت کوی اود هغه نه ويريږی. دې نه معلومه شوه چه خلوت نشينی د جلوت نه افضل ده.

ليکن دا افضليت علی الاطلاق نه دې بلکه دا هغه وخت دې کله چه د فتنودور وی، د سړی د پاره خپل ايمان بچ کول ګران شی نو خلوت نشينی افضل ده.البته که يو سړی په جلوت او خلقو سره اوسيدلو سره د خپل ايمان حفاظت کولې شی اوهغه ته په فتنوکښې د پريوتلو انديښنه نه وی اود ايمان د حفاظت د پاره هم معاون ثابتيږی نو د هغه د پاره بيا دا خلوت نشينی به صحيح نه وی.

حافظ ابن حجر او علامه نووی ﷫ دامت د جمهور علماؤ مذهب همدغه نقل کړيدې چه خلقو سره يو ځائ اوسيدل افضل دی خو په دې شرط چه په فتنه کښې د پريوتلوويره نه وی ګنی نو نه.

د دې په خلاف يوه ډله دې طرف ته تلې ده چه خلوت نشينی افضل ده او هغه د حديث باب اود هغه احاديثو کوم کښې چه دا مضمون وارد شويدې نه استدلال کوی چه نبی کريم ﷺ دلته د مجاهدنه پس د ټولونه افضل خلوت نشينی ګرځولې ده. (۲)

د جمهورود طرف نه جواب: علامه نووی ﷫ د دې حديث د جمهورود طرف نه دوه جوابونه ورکړی دی:

① يو جواب خودا دې چه دا حديث د سختو فتنو او جنګونو زمانه باندې محمول دې چه کله د سړی خپل ايمان هم محفوظ نه شی.

② دونم جواب دا دې چه د دې حديث محمل هغه سړی دې د چا د تکليفونونه چه نور خلق محفوظ نه وي اوهغه د خلقو د تکليف رسولونه صبرکيدې نشی. (۳)

ددې وجه علامه نووی ﷫ دا ذکر کوی چه ټول انبياء کرام صلوات الله وسلامه عليهم، جمهور صحابه کرام. تابعين او علماء او زاهدان خلقو سره هم په جلوت کښې اوسيدل او د اختلاط او جلوت فائدې به ئې حاصلولې لکه د جمعې د مانځه حاضری، د جمع مونځ، د

---

۱) (انظر عمدة القاری(ج ۱٤ص۸۳) وايضًا انظر مجمع بحار الانوار(ج۳ ص۲۲۳) حيث قال: هوما انفرج بين جبلين)

۲) (انظرفتح الباری (ج۱۳ص٤۳) وشرح النووی علی مسلم (ج۲ص۱۳۶)-

۳) (انظرشرح النووی علی مسلم(ج۲ص۱۳۶)-

جنازې مونځ، د بیمار تپوس اود الله تعالی د ذکر حلقې وغیره.(۱)
اود جمهورود قول تائید د دې حدیث نه کیږی. ((**المؤمن الذی یخالط الناس، ویصبر علی اذاهم، اعظم اجرا من المؤمن الذی لایخالط الناس، ولایصبر علی اذاهم**)) (۲)
یعنې هغه مؤمن خلقو سره اختلاط ساتونکې وی اود هغوی په تکلیفونو ورکولو صبر کوی نود هغه اجرد هغه مؤمن نه ډیر زیات دې چه خلقو سره اختلاط نه ساتی او د هغوی په تکلیفونو صبرنه کوی.(۳)
داخبره په ذهن کښې ساتل پکار دی چه دا ټول اختلاف هغه وخت دې چه کله فتنه عام نه وی او که چرې فتنه عام وی نو هم خلوت افضل دې ځکه چه د عامو فتنو محظوراتوکښې پریوتلو قوی اندیښنه وی. خوداسې هم کیږی چه د الله تعالی عذاب هم د فتنویه خلقو باندې راځی ولې د هغې اثر په غیر اصحاب فتن باندې هم واقع کیږی لکه چه ارشاد ربانی دې ﴿ وَاتَّقُوْا فِتْنَةً لَّا تُصِيْبَنَّ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْكُمْ خَآصَّةً ﴾ (۴) یعنې ویریږئ د هغه فتنې نه چه په تاسوکښې به صرف ظالمانوخلقوته نه رسی بلکه غیرظالمانوته به هم هغه عذاب راځی.(۵)
د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د پورتنی حدیث مطابقت د باب د ترجمې نه بالکل ښکاره دې کوم کښې مجاهد په خلقو کښې افضل ګرځولې شویدې. (۶)

[۲۶۳۵] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ(۷) قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِهِ كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ وَتَوَكَّلَ اللَّهُ لِلْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِهِ بِأَنْ يَتَوَفَّاهُ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ أَوْ يَرْجِعَهُ سَالِمًا مَعَ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ [ر:۳۶]

رجال الحدیث

۱- ابوالیمان ۲- شعیب ۳- زهری: د دې دریواړودپاره د سابقه سند اولنی درې حضرات اوګورئ. (۸)

---

۱) (حواله بالا-
۲) (اخرجه الترمذی فی سننه (ج۲ص۷۷) فی کتاب صفة القیامة باب رقم(۲۵۰۷) وابن ماجه فی سننه(ص۲۹۲) فی ابواب الفتن باب الصبر علی الاذی رقم (۴۰۳۲)-
۳) (انظرعمدةالقاری (ج ۱٤ص ۸٤)-
٤) (الانفال(۲۵)-
۵) (انظرفتح الباری(ج۱۳ص٤۳) مزید اوګورئ کشف الباری (ج۲یص۸۵-۸۸)-
۶) (انظر عمدة القاری (ج ۱٤ص۸۳)-
۷) (قوله: اباهریرة رضی الله عنه الحدیث تقدم تخریجه فی کتاب الایمان باب الجهاد من الایمان انظر کشف الباری (ج۲ ص۳۰۵)-
۸) (کشف الباری (ج۱ص۳۲۶) و(ج۱صض۴۷۹-۴۸۰)-

--سعيدبن المسيب: دا امام التابعين. حضرت سعيدبن المسيب قرشى رحمه الله دي. دَ دوى حالات ((كتاب الايمان باب من قال: ان الايمان هوالعمل)) كښې تېرشوى دى.(١)

د-ابوهريره رضي الله عنه: دا مشهور مکثرصحابى حضرت ابوهريره رضي الله عنه دي. دَ دوى تذکره ((کتاب الايمان باب امور الإيمان)) لاندې راغلې ده. (٢)

قوله: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: مثل المجاهد في سبيل الله، والله أعلم بمن يجاهد في سبيله، كمثل ... إلخ: حضرت ابوهريره رضي الله عنه وائى چه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلى دى چه د الله تعالى په لارکښې دَ جهاد کونکى مثال راو هم الله تعالى ښه پوهېږى چه څوك دَ الله تعالى دَ پاره جهاد کوى) روژه دار او دَ شپې اودريدونکى او عبادت کونکى په شان دى.

دلته دَ پوهيدلو خبره دا ده چه "والله اعلم بمن يجاهد في سبيله" جمله معترضه واقع شويده دَ کوم نه چه مقصد دَ نيت اخلاص طرف ته اشاره کول دى. يعنى دَ هغه دَ نيت حال الله تعالى ته ښه معلوم دې نو که دَ هغه نيت خالص دَ اعلاء کلمة الله دَ پاره وو نو هغه مجاهد فى سبيل الله دې. ليکن که دَ هغه نيت دَ دنيا مال او شهرت حاصلول وى نو هغه دَ الله تعالى دَ لارې سره دنياهم شريکه کړه اودَ هغه دا جهاد به نافع هم نه وى. (٣)

دَ پورتنى حديث مکمل تشريح ((کتاب الايمان باب الجهاد من الايمان)) لاندې تېره شويده. (٤)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ پورتنى حديث دَ باب دَ ترجمې سره انطباق واضح دې کوم کښې چه مجاهد فى سبيل الله ته دَ روژه دار او عبادت گذار په شان گرځولې دې، او په دې باندې مرتبه او اجر او فضيلت بيان کړيشويدې. (۵)

٣-باب: الدعاء بالجهاد والشهادة للرجال والنساء

دَ ماقبل باب سره ربط اومناسبت: په وړاندينى بابونوکښې دابيان شوې وو چه جهاد دَ ټولو نه افضل عمل او مجاهد دَ ټولونه غوره سړې دې. نو چه کله دَ مجاهد او جهاد دا مرتبه او فضيلت دې نودَ دې مرتبې او فضيلت دَ پاره دعا هم کول پکاردى لکه څنګه رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين او نورو تابعينو وغيره نه دَ جهاد او شهادت دعا نقل ده.

دَ ترجمة الباب مقصد: دَ امام بخارى رحمه الله دَ دې باب دَ ترجمې نه مقصد دا دې چه څنګه سړې

---

١) (کشف البارى(ج٢ص١٥٩)-

٢) (کشف البارى(ج١ص٦٥٩)-

٣) (انظر عمدة القارى(ج١٤ص٨٤)-

٤) (انظر کشف البارى(ج٢ص٣٠٥-٣١٠)-

٥) (انظر عمدة القارى (ج١٤ص٨٤)-

د جهاد او شهادت د پاره دعا كولې شى دغه شان ښځې هم د جهاد او شهادت د پاره دعا كولې شى. د شهادت په دې دعا كښې ښځه او سړې دواړه برابر دى او هيڅ فرق نشته.(١)
او علامه ابن المنير رحمه الله فرمائى چه په دې امر باندې په خاص توګه د دې د پاره تنبيه فرمائيلې ده چه د شهادت دعا كولو مطلب دا راوځى چه د كافرانو غلبه اوشى او مسلمانان مغلوب شى خو دا صورت مقصد نه دې نو په دې وجه كه يو سړې د خپل ځان د پاره د شهادت دعا كوى نو په دې كښې هيڅ مضائقه نشته. دا ځكه چه لوئ مقصد حاصلولو د پاره غيرمقصود برداشت كولې شى او د كافرانو غلبه مطلوب اومقصود نه ده،بلكه غير مقصود غيرمطلوب ده، نو د عظيم مقصد د پاره دا غير مقصود برداشت كولې شى.(٢)
دا هم وئيلې شى چه د شهادت دعا كولونه كله دا لازميږى چه د كافرانو غلبه دې هم اوشى، زمونږ مقصد خو شهادت دې، بس چه مونږ ته شهادت ملاؤ شى. پاتې شو كافران نو د هغوى د علاج د پاره زمونږ نور رونړه شته چه د هغوى د راګيرولود پاره كافى دى. په دې وجه د شهادت په دعاسره دا نه لازميږى چه د كافرانو د غلبې په دې كښې احتمال پيداشى او د هغوى تسلط لازم راشى.

قوله: وَقَالَ عُمَرُ اللَّهُمَّ ارْزُقْنِي شَهَادَةً فِي بَلَدِ رَسُولِكَ: او حضرت عمر رضى الله عنه د دعا په توګه فرمائيلى وو چه اې الله ماته د خپل رسول صلى الله عليه وسلم په ښار كښې شهادت راكړې.

د مذكوره تعليق تخريج: دا تعليق امام بخارى رحمه الله د ((زيدبن اسلم عن ابيه عن عمر)) په طريق موصولاً ((كتاب فضائل المدينة باب كراهية النبى صلى الله عليه وسلم ان تعرى المدينة)) ذيل كښې نقل كړى دى او هلته په دې باندې كلام هم تيرشوې دې.(٣)

د مذكوره تعليق ذكركولومقصد: په دې تعليق كښې د حضرت عمر رضى الله عنه د شهادت د دعا ذكر دې د دې د پاره امام بخارى رحمه الله د خپل عادت موافق دا تعليق په توګه د استدلال على الترجمة ذكر كړې دې.(۴)

[٢٦٣٦] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ (٥) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

١) (انظرعمدة القارى (ج ١٤ص٨٥)-
٢) (انظر فتح البارى(ج٦ص ١٠)-
٣)(انظرصحيح البخارى(ج١ص٢٥٣-٢٥٤) كتاب فضائل المدينة باب كراهية النبى صلى الله عليه وسلم ان تعرى المدينةرقم (١٨٩٠)-س
٤) (كشف البارى(ج١ص١٧٧) ومقدمة لامع (ص٣٢٩-٣٣٠)-
٥) (قوله: عن انس بن مالك رضى الله عنه: الحديث اخرجه البخارى ايضًا (ج١ص٣٩٢) فى كتاب الجهاد والسير باب فضل من يصرع فى سبيل الله فمات فهو منهم رقم (٢٧٩٩-٢٨٠٠) و (ج١ص٤٠٣) باب غزوة المراة فى البحر رقم (٢٨٨٧، ٢٨٧٨) و (ج١ص٤٠٥) باب ركوب البحر رقم (٢٨٩٤-٢٨٩٥) وفى كتاب التعبير (ج٢ص١٠٣٦) باب الرؤيابالنهار رقم (٧٠٠١-٧٠٠٢)....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

يَدْخُلُ عَلَى أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ فَتُطْعِمُهُ وَكَانَتْ أُمُّ حَرَامٍ تَحْتَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ فَدَخَلَ عَلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَطْعَمَتْهُ وَجَعَلَتْ تَفْلِي رَأْسَهُ فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ قَالَتْ فَقُلْتُ وَمَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَرْكَبُونَ ثَبَجَ هَذَا الْبَحْرِ مُلُوكًا عَلَى الْأَسِرَّةِ أَوْ مِثْلَ الْمُلُوكِ عَلَى الْأَسِرَّةِ شَكَّ إِسْحَاقُ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَدَعَا لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ وَضَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ فَقُلْتُ وَمَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَا قَالَ فِي الْأَوَّلِ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ أَنْتِ مِنَ الْأَوَّلِينَ فَرَكِبَتِ الْبَحْرَ فِي زَمَانِ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ فَصُرِعَتْ عَنْ دَابَّتِهَا حِينَ خَرَجَتْ مِنَ الْبَحْرِ فَهَلَكَتْ [۲۶۴۶، ۲۷۲۲، ۲۷۳۷، ۲۷۶۶، ۵۹۲۶، ۶۶۰۰]

تراجم رجال

۱- عبدالله بن یوسف: دا عبدالله بن یوسف تنیسی دمشقی رحمه الله دې.

۲- مالك: داامام الهجرة، حضرت امام مالك بن انس رحمه الله دې.د دې دواړو حضراتو تذکره "بدء الوحی" د دوئم حدیث لاندې راغلې ده.(۱)

۳- اسحاق بن عبدالله بن ابی طلحه: دا ابویحیی اسحاق بن عبدالله بن ابی طلحه رحمه الله دې. د دوی د حالات ((کتاب العلم باب من قعد حیث ینتهی به المجلس....)) لاندې تیرشوی دی. (۲)

۴- انس بن مالك: دا مشهور صحابی خادم رسول، حضرت انس بن مالك رضی الله عنه دې. د دوی حالات ((کتاب الایمان باب من الایمان ان یحب لاخیه....)) لاندې تیرشوی دی. (۳)

قوله: انه سمع یقول: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یدخل علی ام حرام بنت ملحان، فتطعمه: اسحاق بن عبدالله بن ابی طلحه رحمه الله فرمائی چه ما د

...دنیرمخ بقیه حاشیه] ومسلم فی صحیحة (ج۲ص۱٤۱)فی کتاب الامارة باب فضل الغزوفی البحر رقم (٤۹۳٤) وابوداؤد (ج۱ص۳۳۵) فی الجهاد باب فضل الغزوفی البحر رقم (۲٤۹۰) والترمذی (ج۱ص۲۹٤) فی فضائل الجهاد باب ماجاء فی غزوالبحر رقم(۱٦٤۵) والنسائی (ج۲ص٦۲) فی الجهاد باب فضل الجهاد فی البحر رقم (۳۱۷۳) وابن ماجه (ص۱۹۹) فی ابواب الجهاد باب فضل غزوالبحر رقم(۲۷۷٦)-

۱) (کشف الباری (ج۱ص۲۸۹-۲۹۰) اود امام مالک رحمه الله د نورو حالاتودپاره اوګورئ کشف الباری (ج۲ص۸۰)-

۲) (کشف الباری(ج۳ص۲۱۳)-

۳) (کشف الباری(جص۲ص٤)-

حضرت انس رضي الله عنه نه اوريدلي دي هغوى ونيل چه رسول الله ﷺ ام حرام بنت ملحان رضي الله عنها كره تشريف راوړلو نو ام حرام رضي الله عنها به په هغوى باندې خوراك كولو.

حضرت ام حرام رضي الله عنها دا مشهور صحابيه ام حرام بنت ملحان مالك بن خالد بن زيد بن حرام بن جندب بن عامر بن غنم بن عدى رضي الله عنها ده.د دوى تعلق د مدينې منورې د انصارو د معروف قبيلې بنو النجار نه ده.

هغه د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه ترور ده (١) اود ام سُليم رضي الله عنها خور ده.(٢)

دا هم په خپل كنيت باندې مشهوره ده. اود هغې په نوم كښې اختلاف دې. علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائي ((لااقف لهاعلى اسم صحيح))(٣)اوبعض حضراتود هغوى نوم "الرميصاء" او بعض "الغميصاء" بيان كړې.(٤) ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله په دوى باندې ردكولو سره فرمائي چه دا د ام سُليم رضي الله عنها اوصاف دى نه چه د ام حرام نوم دې. (٥)

د صحيح قول مطابق د هغې رومبنۍ نكاح حضرت عمرو بن قيس بن زيدبن سواد انصارى رضي الله عنه سره اوشوه (٦)

او عمرو بن قيس واقدى د بدريين نه شمير كړيدې او ابواسحاق ذكر كړې دى چه هغه د احد په شهيدانوكښې وو.(٧) اوحافظ ابن حجر رحمه الله په هغوى باندې د اهل مغازى اتفاق نقل كړيدې.(٨)

د هغه نه د ام حرام رضي الله عنها دوه خامن قيس او عبدالله پيداشو.(٩)

د حضرت عمرو بن قيس رضي الله عنه د شهادت نه پس دا د حضرت عباده بن الصامت رضي الله عنه په نكاح كښې راغله اود هغې نه د ده يو ځوئ محمد پيداشو. (١٠)

نبى كريم ﷺ به د هغې ډير اكرام كولو، هغې كره به ئى تشريف اوړلو او هلته به ئى كله كله قيلوله فرمائيله. (١١)

اودا د هغه صحابياتونه وه چا چه د رسول الله ﷺ په لاس باندې بيعت كړې وو.(١٢) د هغې د پاره نبى اكرم ﷺ د هغې د پاره د شهادت دعا هم كړې وه. (١٣)

---

١) (انظر تهذيب الكمال(ج٣٥ص٣٣٨)-
٢) (سيراعلام النبلاء (ج٢ص٣١٦)-
٣) (الاستيعاب بهامش الاصابة (ج٤ص٤٤٣)-
٤) (كذااخرجه ابونعيم كما فى الاصابة(ج٤ص٤٤١)-
٥) (الاصابة (ج٤ص٤٤١)-
٦) (تهذيب الكمال (ج٣٥ص٣٣٩)-
٧) (الاصابة (ج٣ص١١) والمغزى للعلامة الواقدى (ج١ص١٦٢) باب تسمية من شهد بدراً من قريش والانصار
٨) (فتح البارى (ج١١ ص٧٣)-
٩) (الطبقات لابن سعد(ج٨ص٤٣٥)-
١٠) (انظر الطبقات لابن سعد(ج٨ص٤٣٥)-
١١) (تهذيب الكمال (ج٣٥ص٣٣٩)-
١٢) (الطبقات لابن سعد(ج٨ص٤٣٥)-
١٣) (تهذيب الكمال (ج٣٥ص ٣٣٩)-

د حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کښې او د حضرت معاویه رضی الله عنه په مشرئی کښې ۲۷ یا ۲۸ هجری کښې دا د خپل خاوند حضرت عباده بن الصامت رضی الله عنه سره د شام طرف ته د جهاد د پاره اووتله.(۱)

اودا د مسلمانانو رومبې لښکر وو چه د حضرت امیر معاویه رضی الله عنه په امارت کښې د رومیانو د ښکته کولو د پاره وتلې وو. دغه شان دا رومبې سمندری جنګ هم وو، د کوم پیشن ګوئی چه هغوی صلی الله علیه وسلم کړې وه او په دې جنګ کښې مسلمانانو قبرص فتح کړو. واپسئی کښې د ام حرام رضی الله عنها د سورلئی د پاره قچر وړاندې کړیشو او په دې باندې سوریدو سره راپریوتله او شهیده شوه. او هم هلته خښ کړې شوه. (۲) د هغوی قبر عام زیارت ګاه او مرجع خلائق دې او هغه ئی "قبر المراة الصالحة" سره موسوم کړیدې.(۳) علامه ذهبی رحمه الله خوتردې پورې لیکلی دی چه انګریز او نور غیرمسلم هم د هغوی په قبر مبارك باندې حاضری ورکوی.(۴)

دوی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه د حدیث روایت کوی. اود هغې نه روایت کونکوکښې د هغې خورې حضرت انس بن مالك رضی الله عنه حضرت عطاء بن یسار، عمیر بن الاسودا العنسی او یعلی بن شداد بن اوس رحمهم الله شامل دی.(۵) اود هغې خاوند حضرت عباده بن الصامت رضی الله عنه هم د هغې نه روایت کوی. (۶)

د هغې نه ډیر احادیث مروی دی او په هغې کښې یو حدیث متفق علیه دې. (۷) رضی الله عنها وارضاها-

یواشکال: د باب په حدیث کښې اوس ذکر شوچه حضور اکرم صلی الله علیه وسلم به حضرت ام حرام رضی الله عنها کره تشریف اوړلو او هغې به حضوراکرم صلی الله علیه وسلم باندې خوراك خوړلو. او هغې به د پیغمبر علیه السلام په سر کښې سپګې لټولې.

اوس دا اشکال پیدا کیږی چه دا خو پردئی ښځه وه، پردئی ښځې سره ځان له کیناستل خو جائز نه دی نو بیا به هغوی صلی الله علیه وسلم څنګه هغې کره تشریف اوړلو؟

جوابونه: علماؤ د دې اشکال مختلف جوابونه ورکړی دی. ابن وهب، ابوالقاسم جوهری، داؤدی او ابن عبدالبر رحمهم الله فرمائی چه حضرت ام حرام رضی الله عنها د نبی کریم صلی الله علیه وسلم رضاعی ترور وه.(۸) همدغه قول د مهلب رحمه الله هم دې. (۹)

---

۱) (حواله بالا-
۲) (انظر عمدة القاری (ج ۱٤ص ۸۶-۸۷)-
۳) (حلیة الاولیاء (ج ۲ص ۶۲)-
٤) (سیراعلام النبلاء (ج ۲ص ۳۱۷)-
۵) (تهذیب الکمال(ج ۳۵ص ۳۳۹)-
۶) (الاصابة (ج ٤ص ٤٤۲)-
۷) (خلاصة الخزرجی (ص ٤۹۷)-
۸) (فتح الباری (ج ۱۱ص ۸۷)-
۹) (شرح ابن بطال (ج ۵ص ۱۰)-

بعض حضراتو داسې فرمائيلي دي چه حضرت ام حرام رضي الله عنها د حضور اکرم ﷺ د پلار يا نيکه ترور وه، ځکه چه د هغوی ﷺ د نيکه عبدالمطلب مور د بنوالنجار نه وه. (۱)
ليکن حافظ شرف الدين دمياطی رحمه الله فرمائي چه دا ټول تاويلات غلط دي او هغه وائي چه ام حرام رضي الله عنها د نبی کريم ﷺ ترور ګرځول که هغه رضاعی وی او که نسبی په يو شان هم صحيح نه ده. ځکه چه د هغوی ترورياني که رضاعی دي او که نسبی هغه مشهورې او معروفې دی، ام حرام رضي الله عنها د هغوی نه نه ده. او د عبدالمطلب مور سلمی بنت عمروبن زيد. بنوعدي بن النجار ضرور وه او ام حرام هم نجاريه ده، دا يوه رشته داسې ده چه په دې باندې د مجازی ترور اطلاق کيديشی او د مجازی ترور کيدوسره د هغې ذورحم کيدل نه لازميږی. اودا د هغوی ﷺ د دې قول په شان دی په کوم کښې چه هغوی ﷺ حضرت سعدبن وقاص رضي الله عنه باره کښې فرمائيلي وو "هذاخالي" چه دا زما ماما دې. ځکه چه د حضرت سعدبن وقاص رضي الله عنه تعلق بنوزهره نه وو چه د هغوی ﷺ د مور بی بی آمنه د رشته دارانو نه وو. نو حضرت سعد رضي الله عنه نه د حضرت آمنه نسبی رور وو او نه رضاعی. (۲)
علامه کرمانی رحمه الله فرمائي چه دا واقعه د نزول حجاب نه وړاندې ده چه نبی کريم ﷺ به هغې کره تشريف اوړلو. (۳)
ليکن دا حافظ ابن حجر رد کړيدی او فرمائي چه دا واقعه د حجة الوداع سره نزدې نزدې ده او هغه وخت د حجاب حکم نازل شوی وو. (۴)
او حافظ شرف الدين دمياطی رحمه الله د دې اشکال جواب دا ورکړيدې چه ممکن ده حضور ﷺ د هغې د يو محرم په موجودګئی کښې تشريف فرما ووځکه عادة د مخدوم په راتلوباندې خادم او د هغه د کور خلق موجود وی (۵)
ليکن په دې جواب هم اشکال دې هغه دا چه په وړاندې حديث کښې دی "وجعلت تفلی راسه" چه حضرت ام حرام رضي الله عنها به د نبی کريم ﷺ د سر نه سپګې راويستلې. نو سوال دا دې که هغه غيرمحرمه وه نود حضور ﷺ سر له ئی څنګه لاس اوړلی شو؟ (۶)
د دې اشکال قاضی ابوبرك ابن العربی د بعض علماؤ په حواله سره دا جواب ورکړيدې چه دا د نبی کريم ﷺ د خصوصياتونه دی چه هغوی ﷺ ته فتنه او فساد واقع کيدونه په امن کښې کيدلو په وجه د دې خبرې اجازت ووچه اجنبيات سره خلوت کوه. (۷)
قاضی عياض رحمه الله په دې جواب باندې اعتراض کولوسره وائي چه د خصوصيت د پاره

---

۱) (شرح النووی علی مسلم(ج۲ص۱٤۱) وعمدة القاری(ج٤١ص٨۶)-
۲) (فتح الباری(ج۱۱ص۸۷)-
۳) (الخصائص الکبری (ج۲ص۲٤۷) باب اختصاصه صلی الله عليه وسلم باباحة النظر الی الاجتناب والخلوة بهن
٤) (فتح الباری(ج۱۱ص۷۸)-
۵) (عمدة القاری (ج٤١ص٨۶)-
۶) (فتح الباری(ج۱۱ص۷۹)-
۷) (عمدةالقاری (ج٤١ص٨۶)-

دعوى كافي نه ده. د دليل ضرورت وى. (۱)

دليل څه دي؟ حافظ ابن حجر رحمه الله قاضي ابوبكر ابن العربي رحمه الله جواب ته احسن الاجوبة ګرځولو سره فرمائي دلائل واضح دى. (۲) د غيرمحرم سره چه د کوم خلوت ممانعت کړې شوې دې هغه د فتنه د ويرې د وجه نه کړې دي او په دې وجه چه شيطان د ده په زړه کښې دننه څه خرابه وسوسه يا ګناه وانچوى او هغوى ﷺ خو معصوم وو. د هغوى ﷺ په حق کښې خلوت بالاجنبيه جائزوو. هلته دننه هم څه د ګناه ويره نه وه او نه د شيطان د وسوسې اچولو يا د غولولو او دهوکه کولو. نو علامه سيوطى رحمه الله (الخصائص الكبرى) کښې ليکى:

((وقال ابن حجر: الذى وضح لنا بالادلة القوية ان من خصائص النبى صلى الله عليه وسلم جواز الخلوة بالاجنبية والنظر اليها وهوالجواب الصحيح عن قصة ام حرام بنت ملحان فى دخوله عليها ونومه عندها وتفليتها راسه ولم يكن بينهما محرمية ولازوجية)) (۳)

سراج الدين ابن الملقن رحمه الله چه د حافظ ابن حجر رحمه الله استاذ دې د خپلو بعض مشائخونه همدا نقل کړى دى. علامه جلال الدين سيوطى رحمه الله (الخصائص الكبرى) کښې همدغه نقل کړى دى او هم دغه جواب مستند معلوميږى.

قوله: وكانت ام حرام تحت عبادة بن الصامت :او ام حرام رضي الله عنها حضرت عباده بن الصامت رضي الله عنه نكاح کښې وه.

د حديث په مختلف طرق کښې تعارض: د حديث د مذکوره ټکړې نه معلوميږى چه حضرت ام حرام رضي الله عنها د حضرت عباده بن الصامت رضي الله عنه نكاح کښې د اول نه وه. ليکن راتلونکى رواياتوکښې راغى دې هغې نه معلوميږى چه هغه د حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه په نكاح کښې روستوراغلې وه. ((باب غزوة ركوب البحر)) کښې ((محمد بن يحيى بن حبان بن انس)) په طريق کښې دى ((فتزوج بها عبادة فخرج بها الى الغزو)) (۴) دغه شان ((باب غزوة المراة فى البحر)) کښې ((ابوطوالة عن انس)) په روايت کښې ((فتزوجت عبادة بن الصامت)) دى.(۵) او د مسلم په روايت کښې په صراحت سره ((محمد بن يحيى بن حبان عن انس)) په طريق کښې ((فتزوجت بها عبادة بعد)) دى.

د مذکوره تعارض حل: د حديث شارحين د دې تعارض درې جوابونه فرمائى:

---

۱) (فتح البارى(ج ۱۱ص۷۸)-

۲) (حواله بالا(ج ۱۱ص۸۹)-

۳) (الخصائص الكبرى (ج۲ص۲٤۷) باب اختصاصه صلى الله عليه وسلم باباحة النظر الى الاجتناب والخلوة بهن

٤) (انظر صحيح البخارى (ج۱ص٤۰۵) باب ركوب البحر رقم (۲۹٤، ۲۸۹۵)-

۵) (انظرصحيح البخارى (ج۱ص٤۰۳) كتاب الجهاد باب غزوة المراة فى البحر رقم (۲۸۷۷-۲۸۷۸)-

① علامه ابن التين رحمه الله فرمائى كيديشى چه حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه اود هغې سره نكاح كړې وى، روستو طلاق واقع شوې وى، بيا ام حرام رضي الله عنها عمرو بن قيس رضي الله عنه سره نكاح كړې وى، اود هغوى د غزوه احد د شهادت نه پس دوباره حضرت عباده رضي الله عنه سره نكاح شوې وى.(۱)

② علامه نووى او قاضى عياض رحمهما الله د دې تعارض جواب دا وركړيدې چه د كومو رواياتونه دا معلوميږى چه هغه د حضرت عباده رضي الله عنه په نكاح كښې اول راغله . په دې كښې اخبار عما يؤول دې يعنى چه كومه واقعه روستو اوشوه د هغې خبر وركړيشويدې.(۲)

③ علامه مزى رحمه الله ليكلى دى چه ام حرام رضي الله عنها اول د عمرو بن قيس رضي الله عنه په نكاح كښې وه، هغې نه پس ئې بيا حضرت عباده رضي الله عنه سره نكاح اوشوه. (۳)

د دې آخرى جواب تائيد حافظ ابن حجر رحمه الله هم كړيدې. هغوى فرمائى :

((والذى يظهر لى ان الامر بعكس ما وقع فى الطبقات وان عمرو بن قيس تزوجها اولا فولدت له، ثم استشهد هو وولده قيس منها، وتزوجت بعده بعبادة)) (۴)

قوله: وجعلت تفلي راسه: او حضرت ام حرام رضي الله عنها د نبى كريم صلى الله عليه وسلم په سركښې سپګې لټولې. تفلي: دا د باب ضرب نه د فعل مضارع معروف صيغه ده ((فليا)) د دې مصدر دې او ((فلى)) د سر نه سپګې راويستلو اولټولو ته وائى.(۵)

اشكال: د حديث په مذكوره ټكړه كښې دا بيان شويدې چه حضرت ام حرام رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مبارك سر نه سپګې راويستلې نو په دې كښې دا اشكال كيږى چه سپګې خو د خولې وغيره د بدبوئې او خيرى نه پيدا كيږى او د حضور صلى الله عليه وسلم خوله خو ډيره خوشبوداره وه نود هغوى په سركښې د سپګو موجودګئى څه مطلب دې؟

د مذكوره اشكال جوابونه: ① د دې جواب دا دې چه كيديشى د هغوى صلى الله عليه وسلم په سرمبارك كښې د ګردوغبار په وجه سپګې پيدا شوى وى او هغه حضور صلى الله عليه وسلم ته څه تكليف نه رسوى. (۶)

② اودا هم كيديشى چه د نورو خلقو د كپړونه ورختلې وى.(۷)

③ او دا هم كيديشى چه په سركښې سپګې وغيره نه وى او هسې حضرت ام حرام رضي الله عنها د هغوى صلى الله عليه وسلم د سر وينبته مبارك د آرام رسولو د پاره اخواديخوا كول.(۸)

---

۱) (فتح البارى (ج۶ص۷۶)-
۲) (انظرشرح مسلم للنووى (ج۲ص۱۴۲) وفتح البارى (ج۱۱ص۷۳)-
۳) (تهذيب الكمال (ج۳۵ص۳۳۹)-
۴) (انظر فتح البارى(ج۱۱ص۷۳) وكذاانظر الطبقات لابن سعد(ج۸ص ۴۳۴)-
۵) (انظرعمدة القارى (ج ۱۴ص۸۶) ومجمع الانوار(۴ص۱۷۷) مادة "فلى"-
۶) (قال محمدطاهر الفتنى: "... ولم يكن القمل يؤذيه تكريمًا له" مجمع بحارالانوار (ج ۴ص۱۷۷)-
۷) (الكوب الدرى (ج۲ص۴۳۱) وتعليقات بذل المجهود(ج۱۱ص ۳۹۴)-
۸) (حواله بالا وبذل المجهود (ج۱۱ص ۳۹۴) وايضًا انظر اوجز المسالک (ج۸ص۳۷۴) وشرح المناوى على الشمائل المحمدية (ج۲ص۱۸۶)-

قوله: فنام رسول الله صلى الله عليه وسلم ثم استيقظ وهو يضحك، قالت: فقلت: وما يضحكك يا رسول الله؟ قال: "ناس من امتي عرضوا علي غزاة في سبيل الله،يركبون ثبج(۱) هذاالبحر ملوكا على الاسرة، اومثل الملوك على الاسرة:

بيا حضور ﷺ اوده شو او لږ ساعت پس په خندا راويښ شو.ام حرام رضي الله عنها فرمائي چه ما عرض اوکړو يا رسول الله! څه څيز تاسو اوخندولئ؟ هغوى ﷺ اوفرمائيل چه زما دَ امت څه خلق ماته پيش کړيشو چه دَ الله تعالى په لارکښې جهاد کولو سره دَ هغه سمندر په شا باندې دَ بادشاهانو په شان به په تخت سواره وى.

دَمذکوره عبارت مطلب: حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائي چه حضور ﷺ ته دَ هغه مجاهدينو په خوب کښې چه څوك به سمندرى جهاد کوى دَ مثالى صورت اوخودلې شو چه هغوى به په جنت کښې په تختونو دَ بادشاهانو په شان ناست وى. الله تعالى دَ جنتيانو په صفت کښې بيان کړى دى. ﴿عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَٰبِلِينَ﴾ (۲) چه هغوى به په تختونو يو بل ته مخامخ ناست وى. اوونى فرمائيل ﴿عَلَى الْأَرَائِكِ مُتَّكِئُونَ﴾ (۳) چه په پالنګونو به ئى تکياګانې لګولې وى او همدغه قول دَ ابن بطال رحمه الله دې.(۴)

قاضى عياض (۵) او علامه قرطبى رحمه الله (۶) فرمائي چه په دې کښې دَ هغه مجاهدينو دنياوى صلاح او فلاح اودَ رزق دَ زياتى او فراخئى طرف ته اشاره ده. حافظ ابن حجر رحمه الله دَ حافظ ابن عبدالبر رحمه الله دَ قول دَ تائيد او قاضى عياض رحمه الله باندې دَ رد دَ پاره فرمائي

((قلت وفي هذا الاحتمال بعد، والاول اظهر)) (۷)

ابن حجر رحمه الله فرمائي قاضى عياض او علامه قرطبى خبره دَ ظاهر نه خلاف ده اودَ ابن عبدالبر خبره ډيره بهتره ده.

قوله: شك اسحاق :شك دَ اسحاق دَ طرف نه دې.

مطلب دا دې چه په حديث کښې ((ملوكا على الاسرة اومثل الملوك على الاسرة))

کوم چه شك سره بيان شوې دې نودا شك دَ حضرت انس رضي الله عنه شاګرد اسحاق بن عبدالله ته شويدې.

---

۱) (قوله: ثبج بفتح الثاء والباء الموحدة بعدها جيم. قال الخطابى فى اعلام الحديث (ج۲ص۱۳۵۶) ثبج الجحر ومعظمه وثبج كل شئ: وسطه. وانظر عمدة القارى(ج ۱٤ص۸۶)-

۲) (الصافات: ٤٤)-

۳) (المطففين:۲۲)-

٤) (التمهيد (ج۱ص۲۳۲) وفتح البارى (ج۱۱ص ۷٤) وشرح ابن بطال (ج۵ص۱۰)-

۵) (فتح البارى (ج۱۱ص ۸٤)-

۶) (انظر عمدة القارى (ج ۱٤ص۸۶)-

۷) (فتح البارى (ج۱۱ص ۷٤)-

ليكن دغه روايت ((ابوطوالة عن انس)) طريق نه هم مروى دى. په دې كښې بغير د شك "مثل الملوك على الاسرة" دي. (١)

قوله: قالت فقلت: يارسول الله ادع الله ان يجعلني منهم فدعا لها رسول الله صلى الله عليه وسلم: حضرت ام حرام رضي الله عنها فرمائى چه ما اووئيل اې د الله رسوله! تاسو زما د پاره دعا اوكړئى چه زه هم په هغه خلقو كښې شامله شم. نو رسول الله ﷺ د هغې د پاره دعا اوفرمائيل.

قوله: ثم وضع راسه ثم استيقظ وهو يضحك فقلت وما يضحكك يا رسول الله؟ قال ناس من امتي عرضوا على غزاة في سبيل الله كما قال في الاول: بيا دوباره هغوى ﷺ خپل سركيخودو (يعنى اوده شو) بيا په خندا سره راپاڅيدو نو ما اوئيل يارسول الله! تاسو ولې اوخندل؟ هغوى ﷺ د اولنى قول په شان اوفرمائيل چه زما د امت څه خلق زما په وړاندې پيش كړيشو. چه د الله تعالى په لار كښې جهاد كوى.

قوله: قالت فقلت يارسول الله ادع الله ان يجعلني منهم، قال انت من الاولين: حضرت ام حرام رضي الله عنها فرمائى چه ما اووئيل يارسول الله! د الله تعالى نه ماله دعا اوغواړه چه زه هم په دوى كښې شامله شم. هغوى ﷺ ارشاد اوفرمائيلو نه. ته به د اولنى ډلې سره ئې.

قوله: فركبت البحر في زمن معاوية بن ابي سفيان فصرعت عن دابتها حين خرجت من البحر فهلكت: هغه د حضرت معاويه بن ابى سفيان رضي الله عنهما په زمانه كښې د هغه سره په سمندرى سفرباندې اووتله او د سمندر نه واپس راتلوباندې د خپل ښاروى نه پريوتله او شهيده شوه.

په پورتنى عبارت كښې دا اوخودلې شوچه د حضرت معاويه رضي الله عنه په زمانه كښې چه هغه د شام گورنر وو د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت زمانه وه، هغه وخت د حضرت ام حرام رضي الله عنها د سمندرى سفر واقعه پيښه شوې وه او هغې ته الله تعالى شهادت نصيب كړو.

د حديث د ظاهر سياق نه دا معلوميږى چه دا واقعه د حضرت معاويه د خلافت د زمانې ده ليكن د عام اهل سير رائې دا ده چه دا واقعه هغه وخت پيښه شوې چه څه وخت حضرت معاويه رضي الله عنه د حضرت عثمان رضي الله عنه د طرف نه د شام گورنر وو. (٢)

د قاضى عياض او بعض نورو حضراتو ميلان دې طرف ته دې چه د حضرت معاويه رضي الله عنه په دور خلافت كښې دا واقعه پيښه شويده. (٣)

---

١) (انظر فتح البارى (ج١١ص٧٤) وايضاً الصحيح للبخارى (ج١ص٤٠٣) كتاب الجهاد باب غزو المرأة فى البحر رقم (٢٨٧٧-٢٨٧٨)-

٢) (فتح البارى (ج١١ص٧٥) وعمدة القارى (ج١٤ص٧٥)-

٣) (فتح البارى (ج١١ص٧٥)-

خو په تاریخی حیثیت سره دا خبره صحیح نه معلومیږی ځکه چه تاریخ دانانو د دې واقعې متعلق درې تاریخونه لیکلی دی:

① ابن الکلبی، خلیفه بن خیاط او ابن ابی حاتم وغیره وائی چه دا واقعه دَ کال ۲۸هجری ده. (۱) ② یعقوب بن سفیان او ابن زید وغیره وائی چه دا واقعه دَ کال ۲۷هجری ده. (۲)

③ ابن جریر طبری دَ واقدی، ابن لهیعه او ابومعشر المدنی السندهی نه نقل کړی دی چه دا واقعه دَ حضرت عثمان رضی الله عنه دَ خلافت په زمانه کښې په کال ۳۳هجری کښې وه.(۳)

بهرحال دَ کومې زمانې چه هم دا واقعه وی هم دَ حضرت عثمان رضی الله عنه دَ خلافت په زمانه کښې پیښه شویده ځکه چه دَ هغوی شهادت په کال ۳۵هجری ذی الحجه کښې شویدې.

او حافظ صاحب رومبنې قول راجح ګرځولې دې.هغه دَ دریواړو تاریخونو لیکلو نه پس لیکی: ((والاول اصح، وکلها فی خلافة عثمان ایضًا لانه قتل فی اخر سنة خمس وثلاثین)) (۴)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: علامه ابن التین رحمه الله دَ حدیث باب په ترجمه باندې اعتراض کولو سره فرمائی چه په حدیث او دَ باب په ترجمه کښې مناسبت نشته، ځکه چه په ترجمه کښې دَ شهادت خواهش او په حدیث کښې دَ غزوې دَ خواهش ذکر دې. (۵)

دَ دې اعتراض جواب دا ورکړیشویدې چه دَ غزوې دَ خواهش ثمره عظمی هم شهادت دې ځکه چه په جهاد کښې دَ شرکت کولو مقصد دَالله تعالی په لارکښې دَشهادت حصول دې.(۶)

۴-بَاب: دَرَجَاتِ الْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُقَالُ هَذِهِ سَبِيلِي وَهَذَا سَبِيلِي

دَماقبل باب سره ربط او مناسبت: په ماقبل باب کښې دَ شهادت دَ دعا ذکر وو اوس په دې باب کښې دَ شهادت په نتیجه کښې چه مجاهد ته کوم درجات او انعامات حاصلیږی دَ هغې ذکردې.

دَ ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله دَ دې باب دَ ترجمه نه دا خودل غواړی چه هغه مجاهد چه خاص دَ الله تعالی دَ پاره جنګ او جهاد کوی اودَ دنیا دَ شهرت وغیره طرف ته دَ هغه نظر نه وی دَ هغهٔ دَپاره الله تعالی په جنت کښې اوچتې درجې تیارې ساتلی دی. (۷)

---

۱) (حواله بالا وشرح ابن بطال(ج۹ص۱۱)-

۲) (فتح الباری (ج۱ص ۷۵) وعمدة القاری (ج ۱٤ص۷۸)-

۳) (فتح الباری (ج۱۱ص۷۶)-

٤) (حواله بالا: والیه مال اعلماة الابی المالکی انظراکمال اکمال المعلم (ج۵ص ۲۶۰) وایضًا انظر هذاالبحث فی الکامللابن الاثیر(ج۳ص٤۸) ذکر فتح قبرس-

۵) (فتح الباری (ج۶ص۱۱)-

۶) (انظر عمدة القاری(ج ۱٤ص۷۵) وفتح الباری (ج۶ص۱۱)-

۷) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۸۸)-

قوله: یقال: هذه سبیلی، وهذا سبیلی: وئیلی شی هذه سبیلی (تانیث سره) او هذا سبیلی (تذکیرسره).

دَ دې عبارت دَ ذکر کولومقصد: دَ امام بخاری رحمه الله دَ دې عبارت نه دا غرض دې چه لفظ "سبیل" مذکر او مونث دواړه شان لوستلې شی او همدغه دَ امام فراء مذهب دې، فراء دَ قرآن کریم آیت ﴿ یَآیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَکُوْنُوْا کَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا وَقَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ اِذَا ضَرَبُوْا فِی الْاَرْضِ اَوْ کَانُوْا غُزًّی..الخ﴾ (۱) باره کښې فرمائی چه ((یتخذها)) ضمیر دَ قرآن دَ آیت طرف ته واپس کیږی او که تاسوغواړئی نوداد سبیل طرف ته هم واپس کولې شی ځکه چه هغه کله کله مونث کیږی.(۲)

قوله: قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ غُزًّا [آل عمران:۱۵۶] وَاحِدُهَا غَازٍ هُمْ دَرَجَاتٌ [آل عمران:۱۶۳] لَهُمْ دَرَجَاتٌ: ابوعبدالله البخاری رحمه الله فرمائی چه "غزا" جمع ده او دَ دې واحد "غاز" دې.

دَ امام بخاری رحمه الله دَ دې قول مطلب دا دې چه دَ قرآن کریم آیت ﴿ یَآیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَکُوْنُوْا کَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا وَقَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ اِذَا ضَرَبُوْا فِی الْاَرْضِ اَوْ کَانُوْا غُزًّی...الخ﴾(۳) کښې "غزی" کوم لفظ راغلې دې هغه دَ غاز جمع ده.

قوله: هم درجات، لهم درجات: چونکه دَ "درجات" حمل "هم" باندې صحیح نه دې دَ دې دپاره امام ابوعبیدالله رحمه الله دَ دې تقدیر "لهم درجات" بیان کړیدې. خو بعض نورو حضراتو ((هم ذوو درجات)) تقدیر راویستې دې. (۴)

[۲۶۳۷] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ عَنْ هِلَالِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (۵) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَبِرَسُولِهِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ جَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ جَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا نُبَشِّرُ النَّاسَ قَالَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللَّهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ

---

۱) (لقمان:۶)-

۲) (عمدة القاری (ج۱٤ص۸۹) وفتح القاری (ج۶ص۱۱) وانظرالنهایة لابن الاثیر(ج۲ص۳۳۸)قال ابن الاثیر رحمه الله: فالسبیل فی الاصل: الطریق ویذکر ویؤنث. والتانیث فیها اغلب-

۳) (ال عمران:۱۵۶)-

٤) (فتح الباری (ج۶ص۱۱)-

٥) (قوله: عن ابی هریرة رضی الله عنه: الحدیث اخرجه البخاری ایضًا (ج۲ص۱۱۰۳) کتاب التوحید باب ﴿وکان عرشه علی الماء﴾ رقم (۷٤۲۳) والحدیث من افراده-

السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللَّهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَى الْجَنَّةِ أُرَاهُ فَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ

قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ عَنْ أَبِيهِ وَفَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ [۲۹۸۷]

تراجم رجال

۱- یحیی بن صالح: دا یحیی بن صالح وحاظی شامی رحمه الله دې.(۱)

۲- فلیح: دا ابویحیی فیح عبدالملک بن سلیمان رحمه الله دې.

۳- هلال بن علی: داهلال بن علی بن اسامه قرشی رحمه الله دې. دَ دې دوارو حضراتو تفصیلی تذکره ((کتاب العلم باب من سئل علمًا وهومشتغل فی حدیثه....)) لاندې راغلی دی. (۲)

۴- عطاء بن یسار: دا ابومحمدعطاء بن یسار هلالی مدنی رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب الایمان باب کفران العشیرو کفر دون کفر)) په ذیل کښې تیرشوی دی.(۳)

۵- ابوهریره رضی الله عنه: دا مشهورصحابی حضرت ابوهریره رضی الله عنه دې. دَ دوی تفصیلی حالات ((کتاب الایمان باب امور الایمان)) کښې راغلی دی.(۴)

قوله: قال النبی صلی الله علیه وسلم: من امن بالله ورسوله، واقام الصلاة وصام رمضان کان حقا علی الله ان یدخله الجنة: نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائیلې چه کوم سړې په الله تعالی باندې اوهغه په رسول باندې ایمان راوړلو، مونځ ئې اوکړو او دَ رمضان روژې ئې وساتلې نو په الله تعالی باندې واجب دی چه هغه جنت ته داخل کړی.

یواشکال اودَ هغې جوابونه: دلته په حدیث کښې دَ صلاة او صوم ذکر خو شته لیکن دَ حج او زکوة ذکر نشته، سره دَ دې چه څنګه مونځ او روژه دَ اسلام بنیادی ارکانونه دی دغه شان زکوة او حج هم بنیادی ارکان دی.

علامه کرمانی رحمه الله او ابن بطال رحمه الله دا توجیه بیان کړیده چه دَ باب په حدیث کښې زکوة او حج نه ذکرکیدو وجه دَ دې دوارو دَ هغه وخت پورې نه فرض کیدل دی. (۵)

حافظ صاحب جواب ورکړیدې چه دلته دَ زکوة او حج ذکر دَ یو راوی نه حذف شویدې څکه

۱) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګوریْ کتاب الصلاة باب اذاکان الثوب ضیقا-
۲) (کشف الباری (ج۳ص۶۳)-
۳) (کشف الباری(ج۲ص ۲۰٤)-
٤) (کشف الباری (ج۱ص۶۵۹)-
۵) (انظر شرح الکرمانی (ج۱۲ص۹۸-۹۹)وشرح ابن بطال (ج۵ص۱۳)-

چه د ترمذی په روایت کوم چه حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه نه مروی دې په هغې کښې د حج ذکر موجود دې (۱) او هم په دې کښې حضرت معاذ رضی الله عنه فرمائی «لاادری اذکر الزکاة امرلا؟» (۲) او حافظ صاحب دوئم جواب دا ورکړیدې چه د حدیث مقصد د ارکان اسلام استیعاب نه دې په دې وجه په مونځ او روژه اکتفاء اوکړیشوه. (۳)

«کان حقا علی الله ان یدخله الجنة» کښې حق په طریقه د فضل وکرم دې، دا مطلب نه دې چه الله تعالی باندې د هغه سړې جنت کښې داخلول واجب دی، بلکه مطلب دا دې چه الله تعالی به په خپل فضل او کرم سره هغه په جنت کښې داخل کړی. (۴)

قوله: جاهد فی سبیل الله اوجلس فی ارضه التی فیها: که د الله تعالی په لارکښې جهاد اوکړی یا هغه ځائ کښې کینی چرته چه پیدا شویدې.

په دې عبارت کښې حضور صلی الله علیه وسلم هغه سړی ته چه څوك جهاد نشی کولې تسلی ورکوی چه هغه هم د اجرنه محروم نه دې ځکه چه په ایمان باندې استقامت او نور فرائضو ادا کولو التزام به هغه جنت ته رسوی، خیر دې که د هغه درجه د مجاهدینو د درجې نه کمه وی. (۵)

د فی سبیل الله مطلب: اوس په دې ځان پوهه کړئی چه د سبیل الله لفظ په دوو معنوکښې استعمالیږی:

① یوه معنی د دې عام ده، د خیر هغه کار دکوم مقصد چه د الله تعالی رضا او تقرب الی الله وی په هغې د سبیل الله اطلاق کیږی لکه د فرائضو ادا کول، نوافل او د نورو عباداتو او طاعاتو اهتمام وغیره، دا اطلاق فی سبیل الله عام دې. امام بخاری رحمه الله هم په (کتاب الجمعة) کښې «عبایة بن رفاعة» په طریق یو حدیث نقل کوی، په دې کښې دی:

«ادرکنی ابوعبس وانا اذهب الی الجمعة فقال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: من اغبرت قدماه فی سبیل الله حرمه الله علی النار» (۶)

حضرت عبایه بن رفاعة فرمائی چه زه د جمعه د ادا کولودپاره جمات ته روان ووم، ماته حضرت ابوعبس رضی الله عنه ملاو شو او وئی فرمائیل ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه د کوم سړی قدمونه چه د الله تعالی په لارکښې په دوړوککړ شی نو الله تعالی به په هغه باندې د دوزخ اور حرام کړی، یعنی د دوزخ اور به هغه ته نه رسی.

دلته ذهاب الی الجمعة باندې حضرت ابوعبس رضی الله عنه د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم حدیث واورولو او هغه

---

۱) (انظر الجامع للترمذی (ج۲ص۷۹) ابواب صفة الجنة باب ماجاء فی صفة درجات الجنة رقم(۲۵۳۰)-
۲) (انظرفتح الباری (ج۶ص۱۲)-
۳) (انظرفتح الباری (ج۶ص۱۲)-
٤) (حواله بالا -
۵) (انظر فتح الباری(ج۶ص۱۲) وشرح ابن بطال (ج۵ص۱۳)-
۶) (انظرصحیح البخاری(ج۱ص۱۲٤)کتاب الجمعة باب المشی الی الجمعة رقم(۹۰۷)-

ذهاب الى الجمعة سبيل الله سره تعبير کړه، دا اطلاق عام دې.

② دوئمه معنى دَ فى سبيل الله خاص ده، هغه جهاد او قتال دې، نو چه كله فى سبيل الله مطلق ذكر شي نو دينه مراد قتال وى. (۱)

قوله: فقالوا: يارسول الله افلا نبشر الناس؟: صحابه كرامو رضي الله عنهم عرض اوکړو يارسول الله! آيا مونږ خلقو ته ددې زيرې ورکړو. حضور ﷺ ته مخاطب کونکې صحابى حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه وو. لکه چه دَ ترمذى په روايت کښې دى «قال معاذ: الا اخبر بهذا الناس؟» (۲) يا حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه وو لکه چه دَ طبرانى په روايت کښې دى. (۳)

قوله: قال: ان فى الجنة مائة درجة اعدها الله للمجاهدين فى سبيل الله، مابين الدرجتين كما بين السماء والارض: حضور ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه په جنت کښې سل منازل دى کوم چه الله تعالى دَ هغه په لارکښې دَ جهاد کونکود پاره تيار کړى دى. دَ دوو منزلونو په مينځ کښې فاصله دومره ده لکه دَ زمکې او آسمان په مينځ کښې فاصله.

دَ جنت څومره درجې دى دَ جنت څومره درجې دى په دې کښې اختلاف دې، دَ حديث باب نه خو دا معلوميږى چه دَ جنت ټولې درجې سل دى ، دَ عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په روايت کښې فرمائيلې شوى دى «يقال يعنى لصاحب القران: اقرأ وارق ورتل كما كنت ترتل فى الدنيا، فان منزلتك عند اخر اية تقرؤبها» (۴)

ملاعلى قارى رحمه الله فرمائى چه په حديث کښې راغلى دى چه دَ جنت درجې دَ قرآن کريم دَ آياتونو برابر دى. دَ پورتنى حديث نه هم دې طرف ته اشاره کيږى چه دَ جنت درجې دَ قرآن کريم دَ آياتونو دَ شمير مطابق دى او دَ قرآن مجيد آياتونه (۶۶۶۶) خو معروف دى، نو صرف سل درجات په جنت کښې کيدل څنګه قبول کړيشى؟ دَ دې اشکال جواب حضرت شيخ الحديث صاحب دا ورکړيدې چه «ان فى الجنة مائة درجة» روايت نه لوئ درجات مراد دى او دَ درجات صغائر تذکره دلته نه ده شوې.اودَ جنت ټول منازل دَ قرآن پاك دَ آياتونو برابر دى. (۵)

حافظ ابن حجر فرمائى چه دَ حديث دَ سياق نه دا معنى نه لازميږى چه دَ جنت درجې هم

---

۱) (انظر النهاية لابن الاثير الجزرى (ج۲ص۳۳۸-۳۳۹) مادة سبل وشرح القسطلانى (ج۵ص۴۹)-

۲) (انظر الجامع للترمذى (ج۲ص۷۹)ابواب صفة الجنة باب ماجاء فى صفة درجات الجنة رقم (۲۵۳۰)-

۳) (فتح البارى (ج۲ص۱۰۲)-

۴) (انظر الجامع للترمذى (ج۲ص۱۱۹) ابواب فضائل القران باب (ان الذى ليس فى جوفه من القران كالبيت الخرب) رقم (۲۹۱۴) وسنن ابى داؤد (ج۱ص۲۰۶) كتاب الصلاة باب استحباب الترتيل فى القراءة رقم (۱۴۶۴)-

۵) (تعليقات الشيخ الكاندهلى على الكوكب الدرى (ج۳ص۳۱۰)-

سل دی بلکه نوري هم دی لیکن ذکر د مجاهدینو کیږی نو صرف هم د دوی د درجو تعیین شوی دی. (١)

دَ جنت دَ دوو درجومینځ کښې څومره فاصله ده؟ دَباب په حدیث کښې راغلی دی ((**مابین الدرجتین کما بین السماء والارض**)) چه دَ جنت دَ دوو درجو په مینځ کښې به څومره فاصله وی څومره چه دَ آسمان او زمکې په منیځ کښې ده.

اوس د زمکې او آسمان په مینځ کښې څومره فاصله ده؟ په دې سلسله کښې مختلف روایات دی. دَ ترمذی شریف په روایت کښې دی چه دَ زمکې او آسمان په مینځ کښې دَ پنځوسوو کالو فاصله ده.

((... ثم قال: هل تدرون کم بینکم وبینها؟ قالوا: الله ورسوله اعلم، قال: بینکم وبینها (مسیرة) خمس مائة سنة))(٢)

دَ ابن ماجه، سنن ابی داؤد او هم ترمذی یو روایت کوم چه حضرت عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه نه مروی دې:

((قال: فان بعد ما بینهما اما واحدة واما اثنتان اوثلاث وسبعون سنة...))(٣) دَ زمکې او آسمان په مینځ کښې ۷۱، ۷۲ یا ۷۳ کالو فاصله ده.

دَتعارض جوابونه: علامه انورشاه کشمیری رحمه الله دَ حضرت عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه دَ روایت باره کښې فرمائی چه دا روایت وهم دې، چه یو راوی دَ روایت نه ۴۲۰ نه زیات کالونه ساقط کړی دی. صحیح دا دی چه دَ دې دواړو په مینځ کښې دَ پنځو سوو کالو فاصله ده. (۴)

لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله په دواړو روایتونوکښې جمع او تطبیق لار اختیارولوسره فرمائی چه په کوم روایت کښې ۷۱، ۷۲ یا ۷۳ کالوذکر دې هلته سرعت سیر مراد دې او چه کوم ځائ کښې پنځه سووکالوذکر دې هلته بطوء سیر مراد دې، یعنی دَ سرعت سیر په اعتبار سره ۷۱، ۷۲ یا ۷۳ کالوفاصله جوړیږی او دَ بطوء سیر په اعتبار سره پنځه سوو کالو فاصله جوړیږی. (۵)

علامه خلیل احمدسهارنپوری رحمه الله دا جواب ورکړیدې چه دَ روایتونو په مینځ کښې دا تفاوت دَ سائر(تلونکې) په اعتبار سره دې. ځکه چه دَ انسان او اس په چال کښې خو ښکاره

---

١) (فتح الباری (ج۶ص۱۲)-
٢) (انظر الجامع للترمذی (ج۶ص ۱۶۵) ابواب تفسیرالقران (باب ومن) سورة الحدید رقم (۳۲۹۸)-
٣) (انظر سنن ابن ماجه باب فی الجهمیة رقم (٤٧٢٣) والجامع للترمذی (ج۲ص۱۶۹) ابواب تفسیرالقران (باب) ومن سورة الحاقة رقم (۳۳۲۰)-
٤) (انظر فیض الباری (ج۳ص۴۲۰)-
٥) (انظر فتح الباری (ج۱۳ص٤١٣-٤١٤)-

خبره ده چه فرق دې.(۱)

بیا دَ ترمذی یو روایت کوم چه ((محمدبن جحادة عن عطاء عن ابی هریرة)) په طرق سره مروی دې. کښې وارد شوی دی چه دَ جنت دَ هرو دوو درجو په مینځ کښې دَ سلوکالو فاصله ده. ((قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: فی الجنة مائة درجة، مابین کل درجة مائة عام))(۲) اودَ طبرانی په یوروایت کښې دی چه دَ پنځوسوو کالو فاصله ده. (۳)

دا دَ پنځو سوو کالو روایت دَ دې روایت تائید کوی کوم کښې چه دَ زمکې او آسمان په مینځ کښې پنځو سوو کالو فاصله بیان شویده. لیکن دَ سلو کالو روایت مشکل جوړیږی. اوس به یا دا په تکثیر باندې عمل کولې شی یعنی دا به وئیلی شی چه سل کاله دَ تحدید دَ پاره نه دی بلکه کثرت بیانول مقصد دې، نو اشکال به ختم شی. یا بیا هم هغه دَ حافظ صاحب جواب اختیار کړیشی کوم چه مونږ اوس پورته ذکر کړو.

قوله: فاذا سألتم الله فاسألوه الفردوس: او چه کله تاسو دَ الله تعالی نه غواړئی نو فردوس غواړئی.

فردوس: هغه باغ ته وائی په کوم کښې چه هر څیز وی. ګلونه او میوې په دې کښې وی. دَ خوارك څښاك سامان هم په دې کښې وی او نهرونه هم په دې کښې وی.(۴)

دَ دې جمع فرادیس راځی. (۵)

قوله: فانه اوسط الجنة واعلی الجنة: بې شکه فردوس دَ جنت غوره او اعلی حصه ده. علامه ابن بطال فرمائی چه اوسط نه مراد متوسط وی یعنی فردوس دَ جنت په مینځ کښې واقع دې او جنت دا دَ څلورو واړو طرفونونه راګیر کړیدې. (۶)

قوله: اراه قال: وفوقه عرش الرحمن: دا دَ امام بخاری رحمه الله شیخ یحیی بن صالح قول دې، هغه فرمائی چه زما په دې کښې شك دې چه زما استاذ فلیح کیدیشی داسې وئیلي ((وفوقه عرش الرحمن)) لیکن دا روایت دَ یحیی بن صالح نه علاوه دَ فلیح نورو شاګردانو بغیر دَ شك نه نقل کړیدې لکه چه اسماعیلی په نسخه کښې یونس بن محمد وغیره روایت دې.(۷)

قوله: ومنه تفجر انهار الجنة: او هم دَ فردوس نه دَ جنت نهرونه جاری شوی دی.

---

۱) (بذل المجهود (ج۱۸ص۲۵۷)-
۲) (انظر الجامع للترمذی (ج۲ص) ابواب صفة الجنة باب ماجاء فی صفة درجات الجنة رقم (۲۵۲۹)-
۳) (انظر مجمع الزوائد للهیثمی (ج۱۰ص۴۱۹) کتاب اهل الجنة باب فی درجات الجنة -
۴) (عمدة القاری (ج۱۴ص۹۰)-
۵) (مجمع بحار الانوار (ج۴ص۱۱۵) ((مادة فردس-
۶) (انظر شرح ابن بطال (ج۵ص۱۲)-
۷) (انظر عمدة القاری (ج۱۴ص۹۱)-

بعضې حضراتو "منه" ضمير عرش ته راګرځولې دې. په دې صورت کښې به مطلب دا وي چه د عرش نه د جنت نهرونه راوځي. (۱)

ليکن ابن حجر رحمه الله فرمائي چه "منه" ضمير د عرش طرف ته ګرځول وهم دې بلکه دا ضمير د فردوس طرف ته راګرځي او په دې صورت کښې به معنى وي چه د فردوس نه د جنت نهرونه راوځي. (۲)

"تفجر" په اصل کښې "تتفجر" وو، د دې نه يوه تاء حذف کړېشويده. او التفجر معنى راوتل يعنى راخوټکيدل. (۳)

قوله: قال محمد بن فليح عن ابيه: وفوقه عرش الرحمن: محمد بن فليح د خپل پلار نه نقل کړيدي چه هغوى وئيلي دى چه د فردوس دپاسه د الله تعالى عرش دې.

د تعليق ذکر کولو مقصد او تخريج: د امام بخارى رحمه الله مقصد د دې تعليق نه دا بيان کول دى چه دا روايت کله د فليح خوئ روايت کړو نو هغه بغيرد شك نه په جزم سره ((**وفوقه عرش الرحمن**)) اوفرمائيلو. او يحيى بن صالح په شان شك سره ئې بيان نه کړو. (۴)

دا تعليق امام بخارى رحمه الله کتاب التوحيد کښې ((**عن ابراهيم عن محمد بن فليح عن ابيه**)) په طريق سره موصولاً نقل کړيدى، دينه علاوه امام اسماعيلى رحمه الله هم دا حديث ((**يونس بن محمد عن فليح**)) په طريق باندې بغيرشك نه روايت کړيدې. (۵)

قوله: وفوقه عرش الرحمن: د اکثرو راويانو په روايت کښې "**فوقه**" د ظرفيت په بناء باندې نصب سره دې. (۶)

البته په مشارق کښې دى چه ابومحمد اصيلى رحمه الله دا لفظ مرفوع نقل کړيدې. ليکن حافظ ابن حجر رحمه الله دا مرجوح ګرځولې دې. (۷)

که د نصب سره دې نو د مذکوره جملې مطلب به داوى چه د فردوس د پاسه د الله تعالى عرش دې. او که رفع سره دې نو هغه وخت به دا معنى وى چه د فردوس چت عرش الرحمن دې. په دې صورت کښې "**فوقه**" معنى به چت وى.

---

۱) (انظرفتح البارى (ج۶ص۱۳)-
۲) (انظر فتح البارى(ج۶ص۱۳)-
۳) (انظر عمدة القارى(ج ۱۴ص۹۱)-
۴) (حواله بالا-
۵) (تغليق التعليق (ج۳ص۴۳۱) واخرجه البخارى(۲ص ۱۱۰۴) فى كتاب التوحيد باب ﴿وكان عرشه على الماء﴾ رقم ۷۴۲۳)-
۶) (انظرفتح البارى(ج۱۳ص ۴۱۴)-
۷) (انظرفتح البارى (ج۱۳ص ۴۱۴)-

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د باب د ترجمه د حدیث سره مناسبت د رسول الله ﷺ ارشاد ((ان فی الجنة مائة درجة)) نه واخله ((مابین الدرجتین کمابین السماء والارض)) پورې کښې دې. او مناسبت بالکل واضح دې.

[۲۶۳۸] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا جَرِيرٌ حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاءٍ عَنْ سَمُرَةَ(۱) قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي فَصَعِدَا بِي الشَّجَرَةَ فَأَدْخَلَانِي دَارًا هِيَ أَحْسَنُ وَأَفْضَلُ لَمْ أَرَ قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهَا قَالَا أَمَّا هَذِهِ الدَّارُ فَدَارُ الشُّهَدَاءِ [ر:۸۰۹]

تراجم رجال

۱-**موسی:** دا موسی بن اسماعیل تبوذکی بصری رحمه الله دې. د هغوی حالات ((بدء الوحی)) خلورم حدیث لاندې نقل شویدی. (۲)

۲-**جریر:** دا جریر بن حازم رحمه الله دې. (۳)

۳-**ابورجاء:** دا ابورجاء عمران بن ملحان عطاردی بصری رحمه الله دې (۴)

۴-**سمرة:** دا مشهور صحابی حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه دې. (۵)

قوله: اما هذه الدار فدار الشهداء: دا جمله په دې خبره دلالت کوی چه د شهداؤ منزلونه د جنت ارفع واعلی منازل دی.(۶) دا حدیث بعینه هم په دې سند سره کتاب الجنائز کښې تیرشویدې اود دې نور تشریحات هم. (۷)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث مناسبت ترجمه سره د رسول الله ﷺ ارشاد ((هی احسن وافضل الخ)) سره دې. (۸)

۵-بَاب: الْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَابِ قَوْسِ أَحَدِكُمْ مِنْ الْجَنَّةِ

وړاندینی باب سره مناسبت: په مخکینی باب کښې د مجاهدینو د پاره الله تعالی چه کومې درجې اومنازل تیارکړی دی د هغې بیان وو. اوس په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله دا ونیل

---

۱) (قوله: عن سمرة رضی الله عنه: الحدیث مرتخریجه فی کتاب الاذان باب یستقبل الامام الناس اذا سلم رقم (۸٤٥)-
۲) (کشف الباری (ج۱ص۴۳۳)-
۳) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الصلاة باب الخوخة والممر فی المسجد-
٤) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب التیمم باب الصعیدالطیب وضوء المسلم.....-
۵) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الحیض باب الصلاة علی النفساء وسنتها-
۶) (شرح القسطلانی (ج۵ص۳۸)-
۷) (کتاب الجنائزباب بلاترجمة بعد باب ماقیل فی اولادالمشرکین رقم (۱۳۸۶)-
۸) (عمدة القاری (ج١٤ص۹۱)-

غواړی چه مجاهدين دا درجې صرف سحر يا صرف مابنام وخت د الله تعالى په لاركښې وركولو سره حاصلولې شى.

دَ ترجمة الباب مقصد دلته امام بخارى رحمه الله دَ سحر او مابنام په وختونوكښې دَ الله تعالى په لاركښې دَ وتلو فضيلت بيانوى(۱)

او بله دا چه په جنت كښې دَ يوذراع برابر ځائ څه فضيلت دې؟ (۲)

[۲۶۳۹] حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ (۳) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْرَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا [۲۶۴۳]

تراجم رجال

۱-معلى بن اسد: دا معلى بن اسد البصرى رحمه الله دې. (۴)

۲-وهيب: دا وهيب بن خالدبن عجلان باهلى رحمه الله دې. دَ دوى حالات ((كتاب الايمان باب تفاضل اهل الايمان فى الاعمال)) لاندې تيرشوى دى. (۵)

۳-حميد: دا ابوعبيده حميدبن ابى حميدالطويل خزاعى رحمه الله دې. دَ دوى تذكره ((كتاب الايمان، باب خوف المؤمن من ان يحبط عمله....)) په ذيل كښې راغلى دى. (۶)

۴-انس بن مالك: حضرت انس بن مالك رضى الله عنه حالات ((كتاب الايمان باب الايمان ان يحب لاخيه مايحب لنفسه)) لاندې راغلى دى. (۷)

قوله: عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: لغدوة فى سبيل الله اوروحة، خير من الدنيا ومافيها: حضرت انس بن مالك رضى الله عنه دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نه نقل كوى چه هغوى صلى الله عليه وسلم ارشاد فرمائيلې. دَ الله تعالى په لاركښې يو سحر يا يو مابنام لګول دَ دنيا نه او څه چه په دې

---

۱) (عمدة القارى (ج۱۴ص۹۱)-

۲) (فتح البارى (ج۶ص۱۴)-

۳) (قوله: عن انس بن مالک رضى الله عنه: الحديث اخرجه البخارى ايضاً (ج۱ص۳۹۲) كتاب الجهاد والسير باب الحور العين وصفتهن رقم (۲۷۹۶)ت وكتاب الرقاق (ج۲ص۹۷۲) باب صفة الجنة والنار رقم ۶۵۶۸) ومسلم (ج۲ص۱۳۴) كتاب الامارة باب فضل اغدوة والروحة فى سبيل الله رقم (۴۸۷۳) والترمذى (ج۱ص۲۹۴) ابواب الفضائل الجهاد باب ماجاء فى الغدو والرواح فى سبيل الله رقم (۱۶۵۱)-

۴) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الحيض باب المراة تحيض بعد الافاضة-

۵) (كشف البارى (ج۲ص۱۱۸)-

۶) (كشف البارى (ج۲ص۵۷۱)-

۷) (كشف البارى(ج۲يص۴)-

کښې دی د ټولونه بهتردی.

دَ حدیث لغوی تشریح "غدوة" –بالفتح– معنی ده، دَ سحر وخت یوځل راوتل او "غدو" لفظ دَ سحر نه تر زوال پورې وخت شامل دې.(۱)

"روحة" –بالفتح– معنی ده یو ځل مابنام راوتل او "رواح" لفظ دَ زوال نه پس تر شپې پورې وخت شامل دې.(۲)

دَ حدیث مطلب ابن المهلب رحمه الله فرمائی چه ((خیرمن الدنیا)) مطلب دا دې چه دَ دې لږې غوندې زمانې ثواب او بدله په جنت کښې دَ دنیا دَ ټولوزمانونه بهتر ده. (۳)

ابن دقیق العید رحمه الله فرمائی چه دَ حدیث مطلب دا دې چه "غدوة" او "روحة" په ذریعه به کوم ثواب حاصلیږی هغه بهتر دې دَ هغه ثواب نه کوم چه دنیا او مافیها دَ الله تعالی دَ طاعت دَ پاره خرچ کولوسره حاصلیږی(۴)

حافظ رحمه الله دَ ابن دقیق العید رحمه الله قول ذکر کولونه پس فرمائی چه دَ دې قول تائید دَ دې حدیث نه هم کیږی کوم چه عبدالله بن المبارک رحمه الله کتاب الجهاد کښې دَ حضرت حسن بصری رحمه الله نه مرسلاً نقل کړیدې.

((قال: بعث رسول الله صلی الله علیه وسلم جیشًا فیهم عبدالله بن رواحة، فتاخر لیشهد الصلاة مع النبی صلی الله علیه وسلم، فقال له النبی صلی الله علیه وسلم: والذی نفسی بیده لو انفقت مافی الارض ما درکت فضل غدوتهم)) (۵)

نبی کریم صلی الله علیه وسلم یو لښکر اولیګلو، په دې کښې عبدالله بن رواحه رضی الله عنه هم وو، هغه روستو دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په مانځه کښې دَ شریکیدو دَ پاره حصار شو (کله چه هغوی صلی الله علیه وسلم ته معلومه شوه) نووئی فرمائیل، دَ الله قسم! ته چه څه په زمکه کښې دی هغه صدقه کړې نو بیا هم دَ هغوی دَ غدوې فضیلت نشې حاصلولې.

دَ سحراومابنام دَتخصیص وجه: دلته دَ سحر اومابنام ذکر غالبًا صرف دَ دې دَپاره شویدې چه هم دَسحراومابنام په سفرباندې دَ تلو رواج وو، ګنې که سرې دَ ورځې په مینځینئی حصه کښې دَ دین دَخدمت په سلسله کښې لاړشی نو یقینًا دَ هغه دَ تګ هم هغه فضیلت دې.(۶)

دَ حدیث دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث دَ باب ترجمه مناسبت بالکل واضح او ښکاره دې. (۷)

---

۱) (مجمع بحارالانوار(ج۲ص۳۸۸) مادة روح وعمدة القاری (ج ۱٤ص۹۱)-
۲) (مجمع بحارالانوار(ج ٤ص۱۳) مادة غدا وعمدة القاری (ج ۱٤ص۹۱)-
۳) (شرح ابن بطال (ج۵ص۱۳)-
٤) (انظر فتح الباری(ج۶ص ۱٤)-
۵) (انظر فتح الباری(ج۶ص ۱٤)-
۶) (معارف الحدیث (ج ۱ص ۱۶۱)-
۷) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۹۱)-

[۲۶۴۰] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ هِلَالِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(۱) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَقَابُ قَوْسٍ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِمَّا تَطْلُعُ عَلَيْهِ الشَّمْسُ وَتَغْرُبُ وَقَالَ لَغَدْوَةٌ أَوْ رَوْحَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ خَيْرٌ مِمَّا تَطْلُعُ عَلَيْهِ الشَّمْسُ وَتَغْرُبُ

تراجم رجال

۱- ابراهیم بن المنذر: دا ابواسحاق ابراهیم بن المنذر بن عبدالله قرشی اسدی رحمه الله دی.

۲- محمد بن فلیح: دا ابوعبدالله محمدبن فلیح بن سلیمان رحمه الله دی.

۳- ابی: "اب" نه فلیح عبدالملک بن سلیمان خزاعی اسلمی رحمه الله مراد دی.

۴- هلال بن علی: دا هلال بن علی بن اسامه قرشی مدنی رحمه الله دی. دَ دې څلورو وارو حضراتو تذکره ((کتاب العلم باب من سئل علما وهو مشتغل فی حدیثه....)) لاندې تیره شویده. (۲)

۵- عبدالرحمن بن ابی عمرة: دا عبدالرحمن بن ابی عمرة عمرو بن محصن انصاری رحمه الله دی. (۳)

۶- ابوهریرة رضی الله عنه: دَ ابوهریره رضی الله عنه حالات ((کتاب الایمان باب امور الایمان)) په ذیل کښې راغلی دی. (۴)

قوله: قال: لقاب قوس فی الجنة خیر مما تطلع علیه الشمس وتغرب: حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائیلې دی په جنت کښې دَ یوکمان برابر ځائ هم دَ دې ټول کائنات نه بهتر دې په کوم چه نمر راخیژی او ډوبیږی. ((**قاب: بتخفیف القاف واخره موحدة**)) مقدار ته وائی. (۵)

او علامه خطابی رحمه الله فرمائی: ((**قاب القوس: مابین السیة والمقبض**)) (۶) یعنی دَ کمان قبضې او دَ کوټ په مینځ کښې فاصله ته "قاب" وائی.

---

۱) (قوله: عن ابی هریرة رضی الله عنه: الحدیث اخرجه البخاری ایضًا (ج۱ص۴۶۱) کتاب بدء الخلق باب ماجاء فی صفة الجنة وانها مخلوقه رقم (۳۲۵۳) و (ج۲ص۹۷۲) کتاب الرقاق باب صفة الجنة والنار رقم(۶۵۶۸) والترمذی فی جامعه (ج۱ص۲۹٤) ابواب فضائل الجهاد باب ماجاء فی الغدوة والروحة فی سبیل الله رقم (۱۶٤۹)

۲) (کشف الباری (ج۳ص۶۲)-

۳) (دَ دوی حالاتودپاره اوګورئ کتاب المساقاة باب حلب الابل علی الماء-

٤) (کشف الباری (ج۱ص۶۵۹)-

۵) (انظرفتح الباری (ج۶ص ۱٤)-

۶) (اعلام الحدیث (ج۲ص۱۳۵۷)-

اودَ امام مجاهد نه دَ دې معنى "قدرذراع" مروى دې، په دې صورت كښې "قوس" معنى ذراع به وى. دَ قبيله ازدشنوءة په لغت كښې "قوس" ذراع ته وائى په څه چه ناپ كولې شى. (١)

دَ وړاندينى باب په روايت كښې يو لفظ قيد-بكسر القاف وبعدها تحتانية هم راغلې دې. دَ دې معنى هم مقدار دې. (٢)

اودَ حديث دَ دې جمله مطلب دا ددې چه جنت دومره بهترين او پاكيزه ځائ دې چه دَ هغه ځائ يو لاس هومره يا دَ يوكمان برابر ځائ هم دَ دنيااو مافيها نه بهتردې. (٣)

او ((خيرمماتطلع الشمس وتغرب)) نه مراد هم ((خيرمن الدنيا ومافيها)) دې.(۴)

قوله: وقال: لغدوة او روحة فى سبيل الله خير مما تطلع عليه الشمس وتغرب: اوونى فرمائيل، دَ الله تعالى په لاركښې يو سحر يا ماښام دَ پاره وتل بهتردى دَ دې ټول كائنات نه په كوم چه نمر راخيژى او ډوبيږى. دَ دې جملې تشريح اوس دَ ماقبل دَ باب اولنى حديث كښې تيره شوه.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث دَ ترجمې دَ اولنى جزء سره مطابقت ((لغدوة او روحة فى سبيل الله)) كښې دې اودَدوئم جزء سره مناسبت ((لقاب قوس فى الجنة..الخ)) كښې دې. (۵)

[٢٦٣] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ(٦) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الرَّوْحَةُ وَالْغَدْوَةُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَفْضَلُ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا [٢٧٣٥، ٣٠٧٨، ٦٠٥٢]

تراجم رجال

١-قبيصه: دا ابوعامر قبيصه بن عقبه بن محمد كوفى رحمه الله دې.

---

١) (انظرعمدة القارى (ج١٤ص٩١)-
٢) (فتح البارى(ج٦ص١٤)-
٣) (الابواب والترجم للكاندهلوى (ج١ص١٩٤)-
٤) (انظرعمدة القارى(ج١٤ص٩١)-
٥) (حواله سابقه-
٦) (قوله: عن سهل بن سعد رضى الله عنه: الحديث اخرجه البخارى ايضًا (ج١ص٤٠٥) كتاب الجهاد والسير باب فضل رباط يوم فى سبيل الله رقم (٢٨٩٢) و (ج٢ص٩٤١٢) كتاب الرقاق باب مثل الدنيا فى الاخرة رقم (٦٤١٥) ومسلم فى صحيحه (ج٢ص١٣٤) كتاب الامارة باب فضل الغدوة والروحة فى سبيل الله رقم (٤٨٧٣، ٤٨٧٥) والترمذى فى جامعه (ج١ص٢٩٤) فى فضائل الجهاد باب ماجاء فى الغدووالرواح فى سبيل الله رقم (١٦٤٨) وباب ماجاء فى فضلالمرابط رقم (١٦٦٤) والنسائى فى الصغرى (ج٢ص55) فى كتاب الجهاد باب فضل غدوة فى سبيل الله رقم (٣١٢٠)-

۲- سفیان: دامشهور امام محدث حضرت سفیان بن سعیدثوری رحمه الله دي. دَ دې دواړو حضراتو حالات ((کتاب الایمان باب علامة المنافق)) په ذیل کښې راغلی دی. (۱)

۳- ابوحازم: دا ابوحازم سلمة بن دینار مدنی رحمه الله دې.

۴- سهل بن سعد: دا صحابی رسول ﷺ حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه دې.(۲) دَ حدیث تشریح په ماقبل کښې تیره شوه.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث مطابقت ترجمه سره بالکل واضح او ښکاره دی. په دې کښې هم دَ غدوة او روحة ذکر او په دې دواړو وختونوکښې دَ الله تعالی په لارکښې دَ وتلو فضیلت بیان شویدې. (۳)

۶- بَاب: الْحُورِ الْعِينِ وَصِفَتِهِنَّ يُحَارُ فِيهَا الطَّرْفُ شَدِيدَةُ سَوَادِ الْعَيْنِ شَدِيدَةُ بَيَاضِ الْعَيْنِ وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ أَنْكَحْنَاهُمْ

ماقبل سره ربط او مناسبت: په سابقه باب کښې ((درجات المجاهد)) ذکر وو او دا خودلې شوی ووچه الله تعالی دَ مجاهد دَپاره په خاص توګه سل درجې او منازل تیار ساتلې دی.
اوس په دې باب کښې ضمنًا دا خودل غواړی چه په دې منازلوکښې به حورې هم وی او دَ هغې صفت دا دې چه په دې کښې که یوه هم دنیاته اوګوری نو ټوله دنیا به روښانه شی او کائنات به دَ خوشبونه ډك شی.(۴)

دَ باب دَ ترجمې مقصد: دَامام بخاری رحمه الله مقصد دَ دې باب دَ ترجمې نه دا بیان کول دی چه الله تعالی دَ شهیدانو دَپاره قسم قسم انعامونه تیارساتلی دی په هغې کښې حورې هم شاملې دی بیا دَ دې حورو مختلف صفتونه بیان کړیشوی دی.

قوله: يُحَارُ فِيهَا الطَّرْفُ: سترګې (چه هغې ته اوګوری) نو حیرانې به پاتې شی.
امام بخاری رحمه الله د حورې دَ تسمیه وجه بیانوی چه حورې ته حوره په دې وجه وائی چه سترګې دَ هغې په کتوحیرانیږی (۵) لکه چه حور ((حیرة)) نه مشتق ده. خو په دې باندې علامه ابن التین رحمه الله اعتراض کړیدې او وئیلی دی چه دا صحیح نه دی ځکه چه ((حیرة)) خو اجوف یائی دې او حور اجوف واوی دې نو اجوف یائی دَ اجوف واوی نه مشتق ګرځول به څنګه صحیح وی؟ (۶)

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص۲۷۵-۲۸۰)-
۲) (دَ دې دواړو حضراتو دَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب غسل المراة اباها الدم عن وجهه-
۳) (عمدة القاری (ج۱٤ص۹۲)-
٤) (انظرعمدةالقاری(ج۱٤ص۹۳)-
۵) (ارشاد الساری(ج۵ص۳۹)-
۶) (انظرفتح الباری(ج۶ص۱۵)-

د دې اعتراض جواب حافظ صاحب دا ورکړیدې چه دلته اشتقاق اکبرمراد دې او په دې کښې اکثرو حروفوکښې د مشتق او مشتق منه اتحاد کافی کیږی او د ټولو حروفو په مینځ کښې اتحاد ضروری کیږی نه او اشتقاق صغیرمراد نه دې. (١)

قوله: شديدة سواد العين، شديدة بياض العين: د سترګو ډیر توروالی اوډیر سپینوالی والا. دا د ((عين)) تفسیر دې او دا د امام بخاری رحمه الله استاذ ابوعبیده رحمه الله کلام دې.(٢)

د حورالعين لغوى تحقيق لفظ ((حور)) د ((حوراء)) جمع ده. امام ابن سیده رحمه الله فرمائی چه حوراء هغه ده د کومو د سترګو سپینوالې چه ډیر زیات وی اود هغوی د سترګو تور والې هم ډیر زیات وی،د سترګوکاکئی ئې ګول وی، ورخې نرئی وی اود ورخو ګیرچاپیره سپینوالې وی.(٣) اود حوراء مغنی ((بيضاء)) هم کړیشویده یعنی هغه ښځه چه سپینه وی.(۴)

عين – بكسر العين المعجمی وسکون الیاء – دعیناء جمع ده اود عیناء معنی هغه ښځه د کومې چه غټې سترګې وی اود سترګوکومه حصه چه سپینه وی د هغې سپینوالې ډیرزیات وی او کومه حصه چه توره وی په هغې کښې ډیرزیات توروالې وی.(۵)

قوله: وزوجناهم [الدخان: ۵۴] أنكحناهم: او مونږ به د هغوی نکاح (حورو) سره اوکړو.

د مذكوره عبارت مقصد: د دې جملې نه امام بخاری رحمه الله د سورة "دخان" آيت طرف ته اشاره کړیده﴿وزوجناهم بحورعين﴾ اود دې مناسبت ترجمة الباب سره بالکل واضح دې څکه چه په دې کښې د ((حورعين))تذکره ده.(۶)

او ((وزوجناهم)) کوم تفسیر چه ((انكحناهم)) سره امام بخاری رحمه الله کړیدې، دا د هغه د استاذ ابوعبیده رحمه الله قول دې اود دې یو بل تفسیر ((وزوجناهم)):جعلنا هم أزواجًا أزواجًا یعنی مونږ هغوی جوړې جوړې پیدا کړلې، هم کړیشویدې. (٧)

[٢٦٤٢] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(٨) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ عَبْدٍ

---

١) (حواله سابقه وانظرالتفصيل أنواع الاشتقاق مراح الأررواح (ص ٤-٥)-
٢) (فتح البارى (ج٦ص١٥)-
٣) (انظرعمدةالقارى (ج ١٤ص٩٣)-
٤) (المعجم الوسيط (ج١ص ٢٠٦)-
٥) (انظرفتح البارى (ج٦ص١٥) وانظرالنهاية لابن الاثير(ج٣ص٣٣٣) مادة عين-
٦) (انظر عمدة القارى (ج ١٤ص٩٣)-
٧) (حواله بالا
٨) (قوله: أنس بن مالک رضی الله عنه: الحديث أخرجه البخارى أيضًا ...[بقيه حاشيه په رازوانه صفحه...

يَمُوتُ لَهُ عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ يَسُرُّهُ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا وَأَنَّ لَهُ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا إِلَّا الشَّهِيدَ لِمَا يَرَى مِنْ فَضْلِ الشَّهَادَةِ فَإِنَّهُ يَسُرُّهُ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا فَيُقْتَلَ مَرَّةً أُخْرَى [۲۶۶۲]

تراجم رجال

۱- عبدالله بن محمد: دا ابوجعفر عبدالله بن محمد مسندى رحمه الله دې. دَ دوى حالات ((كتاب الايمان باب أمور الإيمان)) په ذيل كښې تيرشوى دى. (۱)

۲- معاويه بن عمرو: دا معاويه بن عمروازدى رحمه الله دې. (۲)

۳- ابواسحاق: دا ابواسحاق ابراهيم بن محمد الفزارى رحمه الله دې. (۳)

۴- حميد: دا ابوعبيده حميد ابى حميد الطويل رحمه الله دې. دَ دوى تذكره ((كتاب الإيمان باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله ....)) په ذيل كښې راغلى دى. (۴)

۵- انس بن مالك رضي الله عنه: دَ حضرت انس رضي الله عنه حالات ((كتاب الإيمان باب من الأيمان أن يحب لأخيه....)) ذيل كښې تيرشوى دى. (۵)

دَ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه نقل دې چه نبى اكرم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل هريو دَ الله تعالى بند؛ چاته چه دَ مرګ نه پس دَ الله تعالى دَ دربار نه خيراو ثواب ملاؤشويدې دنيا او مافيها مونډلو نه پس به هم دلته دوباره راتلل خوښ نه کړى، که دَ هغه دَ پاره دَ دنيا او مافيها ځيزونه شى.

دَ حديث مطلب دا دې چه کله جنتى په جنت کښې داخل شى دَ الله تعالى دَ نعمتونو مشاهده به اوکړى ، دَ هغې نه خونداو مزه اوچته کړى نو هغه به دې باندې راضى نه شى چه دوباره دنياته واپس شى سره دَ دې که ده ته دَ دنيا ټول ځيزونه ورکړيشى.

قوله: ألاالشهيدلما يرى من فضل الشهادة، فإنه يسره أن يرجع إلى الدنيا، فيقتل مرة أخرى: دَ شهيدنه بغير چه هغه دَ شهادت فضيلت او مرتبه اوګورى نودَ ده

...بقيه حاشيه دتيرمخ] (ج۱ص۳۹۵) كتاب الجهاد باب تمنى المجاهد أن يرجع إلى الدنيا رقم (۲۸۱۷) ومسلم (ج۲ص۱۳٤) كتاب الإمارة باب فضل الشهادة فى سبيل الله رقم (٤۸۶۸) والترمذى (ج۱ص۲۹۳) أبواب فضائل الجهاد باب ماجاء فى ثواب الشهداء رقم (۱۶٤۳) والنسائى(ج۲ص۶۰) كتاب الجهاد باب ميتمنى أهل الجنة رقم (۳۱۶۲)-

۱) (كشف البارى (ج۱ص۵۷)-

۲) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الذان باب أقبال الإمام على الناس-

۳) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الجمعة باب القائلة بعدالجمعة-

٤) (كشف البارى (ج۲ص۵۷۱)-

۵) (كشف البارى (ج۲ص٤)-

دپاره به دا خبره د خوشحالئي وي چه دوباره دنيا ته واپس كړيشي او بيا شهيد كړيشي.

د شهيداو غيرشهيد د مرتبوفرق: په پورتني حديث كښې د شهيداو غيرشهيد د مرتبودفرق ذكر دې چه د عام جنتي نه يو شيهد په فضيلت او مرتبوكښې ډير زيات به وي، په دې وجه كله چه شهيد د الله تعالى د نعمتونو او احساناتو مشاهده اوكړي نود هغه خواهش به وي چه دوباره دنياته واپس كړيشي او بيا شهيد كړيشي.

دلته د باب په حديث كښې ((فيقتل مرة أخرى)) واردشويدې، او د هم د بخارى شريف په يو روايت كښې ((فيقتل عشر مرات)) راغلي دي (١)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: علامه مهلب رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله د حضرت انس رضي الله عنه دا روايت د ترجمه لاندې داخل كړيدې چه په دې حديث كښې د هغه سبب ذكر دې د څه د وجه چه شهيد دوباره دنيا طرف ته واپس كيدل او د شهادت آرزوكوى ځكه چه د شهيد په مشاهده كښې به د الله تعالى هغه نعمتونه راځي او الله تعالى به د هغه حوروسره نكاح كوى، په كوموكښې به چه د هرې حورې صفت دا وى كه هغه دنياته اوګورى نو ټوله دنيا به روښانه شي، همدې نعمتونو او حورو ته كتلوسره به هغه بيا دنيا ته د راتلو او شهادت خواهش كړوى، دې دپاره چه د الله تعالى اكرام، د هغه نعمتونه او فضل نور هم حاصل كړي. (٢)

[٢٦٤٣] قَالَ وَسَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ (٣) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَرَوْحَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ غَدْوَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَلَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ أَوْ مَوْضِعُ قِيدٍ يَعْنِي سَوْطَهُ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا وَلَمَلَأَتْهُ رِيحًا وَلَنَصِيفُهَا عَلَى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا [ر: ٢٦٣٩]

بعض حضراتو د ((قيد)) په لفظ اعتراض كولو سره وئيلى دى چه دا تصحيف دې، په حقيقت كښې دا لفظ ((قد)) دې او ((قد)) هغه كوړې ته وائى چه د غيرمدبوغ څرمن نه جوړه شوې وى (۴) علامه كرمانى رحمه الله د دې اعتراض جواب وركولو سره فرمائى چه د دعوائې تصحيف هډو ضرورت نشته ځكه چه د كلام معنى صحيح ده. (۵)

اودا خبره په تيرشوى باب كښې تيره شويده چه د ((قاب)) او ((قيد)) معنى مقدار هم راځي. (۶)

د قاب او سوط د تخصيص وجه او مراد: حضرت مولانا منظوراحمدنعمانى رحمه الله فرمائى :

---

١) (انظر الصحيح للبخارى (ج١ص٣٩٥) كتاب الجهاد والسير، باب تمنى المجاهد أن يرجع إلى الدنيا رقم (٢٨١٧)
٢) (شرح ابن بطال (ج۵ص١۵)-
٣) (قوله: انس بن مالک رضى الله عنه مر تخريج هذاالحديث فى الباب السابق-
۴) (شرح الكرمانى(ج١٢ص١٠١)-
۵) (حواله بالا-
۶) (فتح البارى (ج۶ص١٤)-

د عربودا رواج وو چه کله به د یو څو سورو قافله تله نو چه کوم سور به په منزل د کوزیدلو وخت کښې چرته قیام کول غوښتل هلته به ئې خپله کوړه غورزوله بیابه هغه ځائ د هغه ګټرلې شو او بل چا به په هغې قبضه نه کوله. نو په دې حدیث کښې د کوړې د ځائ نه مراد په حقیقت کښې دومره مختصر ځائ دې چه د کوړې غورزونکی د پاره د کوړې والا د سور د پاره به مخصوص کیدلو. کوم کښې چه هغه بستره خوره کړی یا خیمه اولګوی....

دغه شان یو دستور دا وو چه هلته به ئې کمان غورزولو اودغه شان به هغه ځائ د هغه دپاره مخصوص کیدلو نو په دې حدیث کښې د کمان په ځائ د سړی منزل دې......(۱)

قوله: ولوأن امرأة من أهل الجنة اطلعت إلى أهل الأرض لأضاءت ما بينهما ولملأته ريحا، ولنصيفها على رأسها خير من الدنيا وما فيها: او که د جنت یوه ښځه هم د دنیا طرف ته اوګوری نود هغې د مینځ ټولې حصې به روښانه کړی او هغه به د خوشبوئ ډك شی. اود هغې د سر لوپټه هم د دنیا او مافیهانه بهتر ده.

دلته د حورو صفت بیان کړیشو که یوه حوره هم دنیا ته اوګوری نود زمکې او اسمان مینځ به روښانه کړی(۲) دا د هغې د حسن بیان دې.

دوئم صفت ئې دا بیان کړو چه دنیا به خوشبویه کړی یعنی هغه چه کومه خوشبو استعمال کوی د هغې خاصیت دا دې چه هغه ټوله دنیا د خوشبونه ډکولې شی.

نصيف —بفتح النون وكسر الصاد المهملة— خمار یعنی لوپټې ته وائی. (۳)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت د باب ترجمه سره د حدیث انطباق ((ولوأن امرأة....)) کښې دې ځکه چه ((الحور العين وصفتهن)) راغلې دې او دلته ((امرأة)) نه مراد هم حوره ده. بیا دحورو بعض صفتونه بیان کړیشو نو یوصفت ئې دا دې ((ولوأن امرأة من أهل الجنة اطلعت إلى أهل الأرض لأضاءت)) دې اودبل صفت بیان (ولنصيفها على رأسها خير من الدنيا وما فيها) کښې دې.(۴)

۷- بَاب: تَمَنِّي الشَّهَادَةِ

سابقه باب سره ربط په مخکینوبابونوکښې قتال فی سبیل الله د فضیلت. اهمیت او مرتبې مختلف طریقوسره بیان اوکړیشو اود شهید د درجو وغیره ذکر کړیشوې وو. اوس په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله دافرمانی چه په قتال کښې شرکت او د شهادت خواهش کول پکار دی اود دې خواهش او تمنا د نبی اکرم ﷺ نه هم ثابته ده.

دترجمة الباب مقصد امام بخاری رحمه الله د دې ترجمه قائم کولو سره دا خودل غواړی چه د

---

۱) (معارف الحديث (ج۱ص۶۱، ۱۶۲) كتاب الإيمان-

۲) (ارشادالساری (ج۵ص۴۰)-

۳) (انظر عمدة القاری (۱۴ص۹۵)-

۴) (حواله بالا (ج۱۴ص۹۴)-

شهادت خواهش لرل جائزدی. (۱) نوامام بخاری دا ترجمه قائمه کړه او وئی خودل چه د شهادت د تمنا خو ترغیب ورکړشویدې په دې وجه د دې خواهش کول جائز دی او پورته ذکر شوې توهم او اشکال نی لرې کړیدې. د مرګ خواهش خو ممنوع دې کله چه د دنیوی مصیبتونو نه سړې تنګ شی او د مرګ خواهش کوی.(۲)

د پورتنی اشکال باره کښې دا هم وئیلې شی چه په اصل کښې ډیر څیزونه داسې وی چه په قصد او بالذات صحیح نه وی خو که تبعا او ضمنا اوموندلې شی نو صحیح کیږی. لکه د جهاد په وخت کښې د کافرانو بچی او ښځې قتل کول جائزنه دی او نبی کریم ﷺ د دې نه منع فرمائیلې لیکن که حملې کولو کښې پته نه وی او ضمنا ښځې هم قتل کیږی او ماشومان هم وژلې کیږی نو هیڅ مضائقه نشته. دغه شان د شهادت په خواهش کولو په ضمن کښې که د مرګ خواهش راشی نو هم څه مضائقه نشته.

[۲۶۳۳] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ(۳) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْلَا أَنَّ رِجَالًا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لَا تَطِيبُ أَنْفُسُهُمْ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنِّي وَلَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُهُمْ عَلَيْهِ مَا تَخَلَّفْتُ عَنْ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ [۲۸۱۰، ۶۷۹۹، ۶۸۰۰، وانظر: ۳۶]

تراجم رجال

۱- ابوالیمان: دا ابوالیمانی حکم بن نافع حمصی بصری رحمه الله دی.

۲- شعیب بن ابی حمزة: داابوبشر شعیب بن ابی حمزة رحمه الله دی. د دې دواړو حضراتو تذکره ((بدء الوحی)) په شپږم حدیث کښې تیره شویده.(۴)

۳- الزهری: دا محمد بن مسلم ابن شهاب زهری رحمه الله دی. د دوی مختصر حالات ((بدء الوحی)) په دریم حدیث کښې تیر شویدی.(۵)

۴- سعیدبن المسیب: دامشهور تابعی حضرت سعیدبن المسیب قرشی مخزومی رحمه الله دی. د دوی حالات ((کتاب الإیمان باب من قال إن الإیمان هو العمل)) لاندې تیرشوی دی.(۶)

---

۱) (انظرعمدة القاری (ج ۱٤ص۹۵)-
۲) (لامع لدراری(ج۷ص ۳۱۲)-
۳) (قوله: أن أباهریرة رضی الله عنه: الحدیث مرتخریجه فی کتاب الإیمان باب الجهاد من الإیمان انظر کشف الباری (ج ۲ص۳۰۵)-
٤) (کشف الباری (ج ۱ص ٤۷۹-٤۸۰)-
۵) (کشف الباری (ج ۱ص ۳۲۶)-
۶) (کشف الباری(ج ۲ص ۱۵۹)-

د- ابوهريره رضي الله عنه: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه تفصيلي حالات ((کتاب الإيمان باب أمور الإيمان)) په ذيل کښې راغلي دي. (۱)

قوله: قال: سمعت النبي ﷺ يقول: والذي نفسي بيده، لولا أن رجالا من المؤمنين.. في سبيل الله: حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائي ما درسول الله ﷺ نه اوريدلي هغوی ﷺ ارشاد فرمائيلو چه د الله قسم د چا په قبضه کښې چه زما روح دې، که چرې داخبره نه وې چه د مسلمانانونه د څه خلقو زړه زمانه په روستوپاتې کيدو نه خوشحاليږي او ماسره هم د هغه خلقو د سورولودپاره څه نه وی نو زه به د يو داسې سريه نه کوم چه د الله تعالی په لارکښې اوځی روستونه پاتې کيدم.

د حديث شريف مطلب دا دې چه د مسلمانانو نه د څه خلقو زړه د جهاد نه په پاتې کيدو باندې خوشحاله نه وی او هغه خلق د جهاد په تياری هم قدرت نه لری ياخود سورلئی نشتوالي په وجه او يا د بل څه په وجه اود سورلئی وغيره انتظام د حضور ﷺ سره هم نه وو (۲) په دې وجه به رسول الله ﷺ د هغوی د زړونود تسلئی دپاره کله کله روستوپاتې کيدلو چه د هغوی زړونه خفه نشی.

دلته په حديث شريف کښې ((لاتطيب أنفسهم)) واردشويدې، دا حديث که يوطرف نه ابوزرعه(۳) او ابوصالح (۴) نقل کړيدې نو په دې کښې ((ولولاأن أشق على أمتي)) راغلې دې. روايت باب د دې نورو دوو طرق تفسير دې يعنی مشقت نه مراد دا دې چه د دې مسلمانانو زړونه به خفه شی څکه چه د سفر آلات په غيرموجودګئی د وجه د جهاد د تياری طاقت نه لری او بله دا چه حضور ﷺ د پاره هم د هغوی انتظام کول ګران وو(۵)

د دې مضمون نور تائيد د دې طريق نه هم کيږی کوم چه همام بن منبه روايت کړيدې: ((لكن لاأجد سعة فأحملهم، ولايجدون سعة فيتبعوني، ولاتطيب أنفسهم أن يقعدوا بعدي)) (۶) يعنی ماسره دومره ګنجائش نشته چه هغوی سواره کړم، نه هغوی سره دومره ګنجائش شته چه هغوی ما سره لاړشی اود هغوی زړونه هم په دې خبره خوشحاله نه دی چه زمانه پس هغوی ناست وی.

قوله: والذي نفسي بيده، لوددت أني أقتل في سبيل الله، ثم أحيا، ثم أقتل، ثم أحيا، ثم أقتل، ثم أحيا، ثم أقتل: او قسم دی د هغه د چا په قبضه قدرت کښې چه زما ځان دې زما خواهش دې چه زه د الله تعالی په لارکښې قتل کړيشم، بيا ژوندې

---

۱) (کشف الباری (ج۱ص۶۵۹)-
۲) (فتح الباری(ج۶ص۱۶)-
۳) (صحيح البخاری(ج۱ص۱۰) کتاب الإيمان باب الجهاد من الإيمان رقم (۳۶)-
٤) (صحيح البخاری (ج۱ص٤۱۷) کتاب الجهاد باب الجعائل ولالحملان فی السبيل رقم(۲۹۷۲)-
۵) (انظرفتح الباری(ج۶ص۱۶)-
۶) (انظرالصحيح لمسلم (ج۲ص۱۳۳) کتاب الإمارة. باب فضل الجهاد والخروج فی سبيل الله رقم (٤۸۶۳)

کړیشم،بیاقتل کړیشم،بیاژوندې کړیشم،بیاقتل کړیشم،بیاژوندې کړیشم،بیاقتل کړیشم.
اشکال دلته دا اشکال پیداکیږی چه حضور اکرم ﷺ ته خو په یقین سره معلومه وه چه هغوی به قتل کیږی نه نوبیا هغوی داخواهش ولې اوکړو؟
جواب شارحینو د دې اشکال مختلف جوابونه ورکړی دی:
① رومبې جواب دادې چه دیوفضل اوخیر آرزو کول د دې واقع کیدو ته مستلزم نه وی.(١)
② دونم جواب دا دې چه په دې کښې د جهاد فضیلت اود دې په شهادت کښې مبالغه مقصود ده. لکه چه هغوی ﷺ د جهاد فضیلت د مبالغې سره بیانول غوښتل او مسلمانان ئې د دې دپاره تیارول.(٢)
آيا((والذی نفسی بیده، لوددت)) د حضرت ابوهریره رضی الله عنه مقوله ده د حافظ ابن حجر رحمه الله استاذ شیخ ابن الملقن رحمه الله فرمائی چه د بعضو خلقو دا خیال دې چه دا کلام ((**لوددت أن أقتل....الخ**)) مدرج فی الخیر دې اود کلام د حضرت ابوهریره رضی الله عنه دې. بیا شیخ ابن الملقن رحمه الله فرمائی ((**وهوبعيد**)) یعنی دا دعوی بعیدازقیاس ده. (٣)
او حافظ صاحب هم د خپل استاذ موافقت فرمائیلې دې.(۴)
زمونږ په اسلافوکښې علامه انورشاه کشمیری رحمه الله هم دا فرمائی چه دا د حضرت ابوهریره رضی الله عنه مقوله ده او امام ترمذی رحمه الله په دې باندې تنبیه هم فرمائیلې ده. (۵)
لیکن دا د حضرت کشمیری رحمه الله تسامح ده ځکه چه په ترمذی شریف کښې چرته هم د امام ترمذی رحمه الله د طرف نه په دې باندې هیڅ تنبیه موجود نه ده چه هغوی دا وئیلې وی چه دا د حضرت ابوهریره رضی الله عنه کلام دې. (۶)
هاؤ دا خبره ده چه د بعض روایاتونه معلومیږی چه دا د حضرت ابوهریره رضی الله عنه قول نشی کیدې لکه چه امام مالك رحمه الله په موطا کښې ((**عن أبي الزناد، عن الأعرج، عن أبي هريرة، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم....**)) د صراحت نه پس دا روایت نقل کړیدې.(٧)

---

١) (انظرفتح الباری(ج۶ص١٧)-
٢) (حواله بالا. وعمدة القاری (ج١٤ص٩٦) د حدیث نورتفصیل د پاره اوګورئ کشف الباری (ج٢ص٣٠١-٣١٤)-
٣) (فتح الباری (ج۶ص١٧)-
٤) (حواله بالا-
٥) (فیض الباری(ج٣ص٤٢٣)-
۶) (بلکه معلومه دې وی چه امام ترمذی رحمه الله د سرنه دا روایت په خپل سنن کښې اخستې هم نه دې نو چرته په دې تنبیه اوګورئ المعجم المفهرس لألفاظ الحدیث النبوی (ج٧ص١۶۶) وتحفة الإشراف (ج١ص٢٠)وکشف الباری(ج٢ص٣٠٥)-
٧) (انظرالمؤطاللإمام مالک بن أنس (٤۶٢-٤۶٣) کتاب الجهاد باب الترغیب فی الجهاد الحدیث الثانی من الباب)_

دَ دي نه صفا معلومیږی چه دا مدرج فی الخبر نه دي بلکه دَ حضور اکرم ﷺ ارشاد دي او «کتاب الإیمان باب الجهاد من الإیمان» کښې هم دا روایت تیرشویدي.(۱)

بهرحال په فیض الباری کښې حضرت شاه صاحب رحمه الله سره منسوب کولوسره چه دا وینا کړیشوې ده چه دا کلام مدرج فی الخبر دي صحیح نه معلومیږی.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت دَ حدیث مناسبت دَ ترجمة الباب سره «والذی نفسی بیده لوددت انی أقتل فی سبیل الله ثم أحیی ثم أقتل الخ» نه ظاهر دي.

[۲۶۴۵] حَدَّثَنَا یُوسُفُ بْنُ یَعْقُوبَ الصَّفَّارُ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِیلُ بْنُ عُلَیَّةَ عَنْ أَیُّوبَ عَنْ حُمَیْدِ بْنِ هِلَالٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ(۲) رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ خَطَبَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَخَذَ الرَّایَةَ زَیْدٌ فَأُصِیبَ ثُمَّ أَخَذَهَا جَعْفَرٌ فَأُصِیبَ ثُمَّ أَخَذَهَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ رَوَاحَةَ فَأُصِیبَ ثُمَّ أَخَذَهَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِیدِ عَنْ غَیْرِ إِمْرَةٍ فَفُتِحَ لَهُ وَقَالَ مَا یَسُرُّنَا أَنَّهُمْ عِنْدَنَا قَالَ أَیُّوبُ أَوْ قَالَ مَا یَسُرُّهُمْ أَنَّهُمْ عِنْدَنَا وَعَیْنَاهُ تَذْرِفَانِ [ر:۱۱۸۹]

تراجم رجال

۱_ یوسف بن یعقوب الصفار: دا یوسف بن یعقوب الصفار رحمه الله دي (۳) دَ دوی کنیت ابویعقوب دي (۴) د کوفې اوسیدونکې وو په دې وجه په کوفی باندې مشهور دې او دې د بنی هاشم آزاد کړیشوې غلام وو.(۵)

دې دَ ابواسحاق بن سلیمان الرازی، اسماعیل بن علیه، بکربن سلیم الصواف، حمادبن اسامه، عاصم بن علی، عبدالرحمن بن محمد المحاربی، محمد بن اسماعیل البجلی، وکیع بن الجراح، یحیی بن سعید الاموی او ابوبکر بن عیاش رحمهم الله وغیره نه دَ حدیث روایت کوی.

دَ دوی نه دَ حدیث په راویانوکښې شیخین، ابراهیم بن ابی داود البرلسی، عبدالله بن احمد بن حنبل، عبدالله بن عبدالرحمن الدارمی، ابو ابی الدنیا، ابوزرعه عبیدالله بن عبدالکریم الرازی، عثمان بن سعید الدارمی، ابوحاتم محمدبن ادریس الرازی او یعقوب بن شیبة رحمهم الله وغیره شامل دی.(۶)

ابوحاتم رحمه الله فرمائی «ثقة»(۷)

---

۱) (انظر کشف الباری (ح۲ص۲۹۹)-

۲) (قوله: عن أنس بن مالک رضی الله عنه: الحدیث مرتخریجه فی کتاب الجنائز باب الرجل ینعی إلی أهل المیت

۳) (تهذیب الکمال (ج۳۲ص ٤٨٤)-

٤) (طبقات ابن سعد (ج۶ص ٤١٤)-

٥) (تهذیب الکمال (ج۳۲ص٤٨٥)-

۶) (دَ شیوخ او تلامذه دَ تفصیل دَ پاره اوګورئ تهذیب الکمال (ج۳۲ص٤٨٥-٤٨۶)-

۷) (تهذیب الکمال (ج۳۲ص٤٨۶)-

ابوبکر بن عاصم رحمه الله فرمائی ((کان ثقة من أهل الخیر)) (۱)
آجری فرمائی چه ما دَ دوی په باره کښې دَ ابوداؤد نه تپوس اوکړو نوهغوی اوفرمائیل ((ماسمعت إلا خیرا)) (۲)

ابن قانع رحمه الله فرمائی ((صالح، ولیس له فی البخاری سوی موضع واحد فی الجهاد)) (۳)

ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړيدې او وئیلی دی ((یغرب)) (۴)

سبط ابن العجمی رحمه الله فرمائی ((ثقة)) (۵)
حافظ ابنِ حجر رحمه الله هم دَدې توثیق کړیده. (۶)
شیخینو دَ هغه نه روایتونه اخستی دی. (۷)
امام بخاری رحمه الله لکه څنګه چه اوس دَ ابن قانع په حواله سره تیرشو دَ هغه نه په کتاب الجهاد کښې صرف هم دغه روایت اخستې دې. (۸)
ابوالعباس الأحول رحمه الله او حافظ موسی بن هارون رحمه الله فرمائی چه دَ هغوی وفات په کال ۲۳۱ هـ کښې شوې. (۹) والله أعلم رحمه الله تعالی رحمة واسعة.

۲- **اسماعیل بن علیه:** دا اسماعیل بن ابراهیم بن مقسم ابن علیه بصری رحمه الله دې. دَ هغوی حالات ((کتاب الإیمان باب حب الرسول ﷺ من الإیمان)) لاندې تیرشوی دی. (۱۰)

۳- **أیوب:** دا ایوب بن ابی تمیمه کیسان سختیانی رحمه الله دې. دَ هغوی تذکره ((کتاب الإیمان باب حلاوة من الإیمان)) راغلې ده. (۱۱)

۴- **حمید:** دا حمیدبن هلال بن هبیره عدوی بصری رحمه الله دې. (۱۲)

۵- **انس بن مالك رضی الله عنه:** خادم رسول حضرت انس بن مالك رضی الله عنه حالات ((کتاب الإیمان باب

---

۱) (حواله بالا-
۲) (حواله بالا-
۳) (تهذیب الکمال (ج۱۱ص۴۳۲)-
٤) (الثقات لابن حبان (ج۹ص۲۸۱)-
۵) (حاشیة سبط ابن العجمی علی الکاشف (ج۲ص۴۰۲)-
۶) (تقریب التهذیب (ص۶۱۲) رقم الترجمة (۷۸۹۷)-
۷) (الکاشف (ج۲ص٤۰۲)رقم الترجمة (۶٤۶۱)-
۸) (نور اوګورئ خلاصة الخزرجی (ص٤٤۰) وعمدةالقاری (ج١٤ص۹۶)-
۹) (تهذیب الکمال (ج۳۲ص۴۸۶) والکاشف (ج۲ص۴۰۲)-
۱۰) (کشف الباری (ج۲ص۱۲)-
۱۱) (کشف الباری (ج۲ص۲۶)-
۱۲) (دَ دوی دَ حالات دَ پاره اوګورئ کتاب الصلاة باب یردالمصلی من مربین یدیه-

من الإيمان أن يحب لأخيه....)) لاندې تیرشوی دی. (١)

قوله: قال خطب النبي صلى الله عليه وسلم فقال: أخذ الرأية فأصيب، ثم أخذها جعفر فأصيب ثم أخذها عبدالله بن رواة فأصيب، ثم أخذها خالد بن الوليد عن غير إمرة ففتح له: حضرت انس بن مالك ﷺ فرمائی چه نبی کریم ﷺ خطبه اولولستله او وې فرمائیل جنډه زيد بن حارثه واخستله بیا هغه شهیدشو بیا جنډا جعفر بن ابی طالب واخستله ،هغه هم شهید شو بیا هغه عبدالله بن رواحه په لاس کښې واخستله هغه هم شهید شو بیا هغه خالد بن ولید په لاس کښې واخستله ددې نه بغیرچه هغه څا امیر جوړ کړې وی اوهغوی ته فتح ورکړې شوه

دا واقعه د غزوه موته ده ددې پوره تشریح او وضاحت به انشاء الله په کتاب المغازی کښې راشی (٢)

قوله: وقال ما يسرنا أنهم عندنا، ، قال أيوب: أوقال: ما يسرهم أنهم عندنا، وعيناه تذرفان: او نبی ﷺاوفرمائیل زمونږ دپاره دا خبره د خوشحالئ نه ده چه هغوی زمونږ سره وې ایوب فرمائی چه یا نبی ﷺ داسې ارشاد اوفرمائیل د هغوی دپاره دا خبره د خوشحالئ نه ده چه هغوی زمونږ سره وې او د نبی ﷺ د سترګو نه اوښکې بهیدلې

دلته په حدیث کښې د ایوب نه سختیانی مراد دې د هغوی شك دې چه نبی ﷺ څه فرمائیلی وو((مايسرنا أنهم عندنا))او که ((مايسرهم أنهم عندنا، ، وعيناه تذرفان))

په دواړو صورتونو کښې چه د حدیث کوم مهفوم راوخی هغه مونږ د ترجمة الباب لاندې واضح کړو. والله اعلم

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث مناسبت دَ ترجمة الباب سره ((مايسرهم أنهم عندنا)) کښې دې، او هغه داسې چه کله هغه خلق دَ شهادت او کرامت او فضیلت مشاهده اوکړی نودَ هغوی به دا خبره خوښه نشی چه دوباره دې دنیا ته واپس شی مګرغواړی چه دوباره شهیدان شی.(٣)

٨-بَاب: فَضْلِ مَنْ يُصْرَعُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَمَاتَ فَهُوَ مِنْهُمْ

دَسابقه باب سره ربط: په سابقه بابونوکښې بار بار دَ مجاهدینو او شهداء فی سبیل الله فضیلتونو ذکر راغلې دې. په دې باب کښې دَ هغه سړی دَ فضیلت او مرتبت بیان دې چه دَ الله تعالی په لارکښې دَ سورلئی نه پریوځی او مړ شی هغه هم شهید دې او هغه ته به هم دَ

---

١) (كشف البارى (ج٢ص ٤)-

٢) كشف البارى كتاب المغازى (ص،٤٧٧)

٣) (حواله بالاوفتح البارى (ج۶ص١٧) ولامع الدرارى(ج٧ص٢١٣)-

شهیدانو اجر ملاویږی.

دَ ترجمة الباب مقصد: دَ ترجمة الباب مقصد بالکل واضح دې او هغه دا چه کوم سړې دَ الله تعالی په لارکښې اوځی اوهغه دَ سورلئی نه پریوځی اومړشی نوهغه ته به دَ شهیدغوندې فضیلت حاصلیږی. (۱)

دَ دې نه قطع نظرچه دَ جهاد دَ پاره تلوکښې مړشوې وی او دَ جهاد موقع هم نه وی راغلې او یا په واپسئی کښې هغه سره دا واقعه پیښه شوې وی.

دَ دې تفصیل نه معلومه شوه چه شهید صرف قتل شوې نه دې بلکه هر هغه سړې چه دَ الله تعالی په لارکښې اوځی اوهغه ته مرګ راشی نوکه هغه په کومه طریقه وی دهغه اجر پوخ دې.(۲)

قوله: وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى وَمَنْ يَخْرُجْ مِنْ بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ /السناء:۱۰۰/ وَقَعَ وَجَبَ: او دَ الله تعالی جل شانه ارشاد دې چه کوم سړې د خپل کورنه په دې نیت راوځی چه د الله تعالی او دَ هغه دَ رسول په خاطر هجرت کوم، بیاهغه مرګ راګیرکړی نوبیا هم دهغه ثواب ثابت شو دَ الله تعالی په ذمه.(۳)

دَ آیت ذکرکولومقصد: امام بخاری رحمه الله دَ مذکوره آیت نه ترجمة الباب ثابتول غواړی کوم سړې چه دَ الله تعالی په لارکښې اوځی چه دَ الله تعالی اودَ هغه دَ رسول طرف ته به هجرت کوم اودَ هغه دَ دین امداد او دَ هغه دپاره به جنګیږم خو په مینځ کښې هغه ته مرګ راغلو نو بیابه هم هغه ته دَ هجرت او شهادت فضیلت حاصل وی. (۴)

ترجمة الباب سره دَ آیت مناسبت: دَ آیت مناسبت ترجمه سره ((ثم یدرکه الموت)) کښې دې چه مرګ عام دې دَ دې نه چه قتل شی یا دَ څه سورلئی نه پریوځی او یا څه نور سبب وی. (۵)

قوله: وقع: وجب: امام بخاری رحمه الله شیخ ابوعبیده رحمه الله کلام دې هغوی په پورتنې آیت کښې وارد شوی لفظ ((وقع)) تفسیر ((وجب)) سره کړیدې، یعنی الله تعالی باندې دَ هغه ثواب واجب دې. (۶)

فائده: علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه دَ حضرت انس رضی الله عنه حدیث مصداق دَ الله تعالی قول: ((ومن یخرج من بیته مهاجرا...)) کښې دی چه په دا شان موقع باندې دا آیت نازل شوې وو چه خوك دَ الله تعالی په لارکښې مړشو هغه شهید دې.

نوهغوی دَ ابن وهب.....عن عقبة عامر الجهنی نه مرفوعا (۷) نقل فرمائیلی دی چه رسول الله ﷺ

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ ص ۹۶)-
۲) (فیض الباری (ج ۳ ص ۴۲۳)-
۳) (بیان القران (ج ۱ حزء ۲ ص ۱۵۰)-
٤) (فتح الباری (ج ۶ ص ۱۸)-
۵) (عمدة القاری (ج ۱٤ ص ۹۷)-
۶) (فتح الباری (ج ۶ ص ۱۸)-
۷) (مجمع الزوائد (ج ۵ ص ۲۸۳، ۳۰۱)-

فرمائیلی دی ((من صرع عن دابته في سبيل الله فمات فهو شهيد)) (۱)
چونکه دا حدیث دَ امام بخاری رحمه الله په شرط نه پوره کیدو په دې وجه دَ دې طرف ته ئې په ترجمه کښې اشاره فرمائیلې ده. (۲)

[۲۶۳۶] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ (۳) عَنْ خَالَتِهِ أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ قَالَتْ نَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا قَرِيبًا مِنِّي ثُمَّ اسْتَيْقَظَ يَتَبَسَّمُ فَقُلْتُ مَا أَضْحَكَكَ قَالَ أُنَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ يَرْكَبُونَ هَذَا الْبَحْرَ الْأَخْضَرَ كَالْمُلُوكِ عَلَى الْأَسِرَّةِ قَالَتْ فَادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَدَعَا لَهَا ثُمَّ نَامَ الثَّانِيَةَ فَفَعَلَ مِثْلَهَا فَقَالَتْ مِثْلَ قَوْلِهَا فَأَجَابَهَا مِثْلَهَا فَقَالَتْ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَقَالَ أَنْتِ مِنْ الْأَوَّلِينَ فَخَرَجَتْ مَعَ زَوْجِهَا عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ غَازِيًا أَوَّلَ مَا رَكِبَ الْمُسْلِمُونَ الْبَحْرَ مَعَ مُعَاوِيَةَ فَلَمَّا انْصَرَفُوا مِنْ غَزْوِهِمْ قَافِلِينَ فَنَزَلُوا الشَّأْمَ فَقُرِّبَتْ إِلَيْهَا دَابَّةٌ لِتَرْكَبَهَا فَصَرَعَتْهَا فَمَاتَتْ [ر: ۲۶۳۶]

تراجم رجال

۱- عبدالله بن یوسف: داعبدالله بن یوسف تینسی رحمه الله دې. دَ دوی مختصر تذکره ((بدء الوحي)) دَ دوئم حدیث لاندې نقل کړیشوې ده. (۴)

۲- اللیث: دا امام ابوالحارث لیث بن سعدبن عبدالرحمن فهمی رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((بدء الوحي)) په دریم حدیث کښې تیرشوی دی. (۵)

۳- یحیی: دا یحیی بن سعید بن قیس انصاری مدنی رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب صوم رمضان احتسابا من الإیمان)) لاندې راغلی. (۶)

۴- محمد بن یحیی بن حبان: دا محمد یحیی بن حبان رحمه الله دې. (۷)

۵- انس بن مالک رضی الله عنه: انس بن مالک رضی الله عنه تذکره ((کتاب الإیمان باب من الإیمان أن یحب...)) په ذیل کښې تیرشوی دی. (۸)

---

۱) (شرح ابن بطال (ج۵ص۱۷-۱۸)-
۲) (فتح الباری (ج۶ص۱۸)-
۳) (قوله: عن انس بن مالک رضی الله عنه: الحدیث قدمرتخریجه آنفافی باب الدعاء بالجهاد والشهادة للرجال والنساء-
۴) (کشف الباری (ج۱ص۲۸۹)-
۵) (کشف الباری(ج۱ص ۳۲۴)-
۶) (کشف الباری (ج۲ص ۳۲۱) و کشف الباری(ج۱ص۲۳۸)-
۷) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الوضوء باب من تبرزعلی لبنتین-
۸) (کشف الباری (ج۲ص ۴)-

۲-ام حرام بنت ملحان: حضرت ام حرام بنت ملحان رضي الله عنها تفصيلي تذکره روستو ((باب الدعاء بالجهاد والشهادة...)) په ذيل کښې مونږ نقل کړيده.
اود دې حديث مکمل تشريح په ماقبل کښې تيره شوې.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حديث ترجمة الباب سره مطابقت ((فصرعتها فماتت)) کښې دې ځکه چه ام حرام رضي الله عنها هم د الله تعالى په لار کښې غورزيدلې وه.(۱)

۹-بَاب: مَنْ يُنْكَبُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

سابقه باب سره مناسبت: په وړاندينی باب کښې د هغه سړی فضيلت بيان شوې وو چه د الله تعالى په لار کښې د سورلئی وغيره نه پريوځی او وفات شی او په دې باب کښې د الله تعالى په لار کښې چه د کوم سړی څه اندام زخمی شی او په وينورنګ شی يا هغه په نيزه باندې اولګی د هغه د فضيلت ذکر دې.

د ترجمې مقصد: امام بخاري رحمه الله په دې باب کښې د هغه سړی فضيلت بيانول غواړی د چا چه يو اندام په جهاد کښې د وينو شی يا هغه په نيزه اولګی.(۲)

د ترجمة الباب لغوی تشريح: دلته په ترجمه کښې دوه لفظونه راغلی دی.

۱-ينكب ۲-يطعن. ينكب نكبة نه مشتق دې او ((نكبه)) دا ده چه اندام د يو څيز په لګيدو باندې زخمی شی او د وينو شی.(۳) ((يطعن، طعن)) نه مشتق دې او ((طعن)) وائی ((القتل بالرماح)) ته يعنی څوك په نيزه باندې وهل.(۴)

[۲۶۴۷] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ الْحَوْضِيُّ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ إِسْحَاقَ عَنْ أَنَسٍ (۵) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْوَامًا مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ إِلَى بَنِي عَامِرٍ فِي سَبْعِينَ فَلَمَّا قَدِمُوا قَالَ لَهُمْ خَالِي أَتَقَدَّمُكُمْ فَإِنْ أَمَّنُونِي حَتَّى أُبَلِّغَهُمْ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِلَّا كُنْتُمْ مِنِّي قَرِيبًا فَتَقَدَّمَ فَأَمَّنُوهُ فَبَيْنَمَا يُحَدِّثُهُمْ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أَوْمَئُوا إِلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ فَطَعَنَهُ فَأَنْفَذَهُ فَقَالَ اللَّهُ أَكْبَرُ فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ ثُمَّ مَالُوا عَلَى بَقِيَّةِ أَصْحَابِهِ فَقَتَلُوهُمْ إِلَّا رَجُلًا أَعْرَجَ صَعِدَ الْجَبَلَ قَالَ هَمَّامٌ فَأُرَاهُ آخَرَ مَعَهُ فَأَخْبَرَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُمْ قَدْ لَقُوا رَبَّهُمْ فَرَضِيَ عَنْهُمْ وَأَرْضَاهُمْ فَكُنَّا نَقْرَأُ أَنْ بَلِّغُوا قَوْمَنَا

---

۱) (عمدة القاری (ج۱٤ص۹۷)-
۲) (فتح الباری (ج۶ص۱۹)-
۳) (فتح الباری (ج۶ص۱۹) وقال ابن الأثير الجزری رحمة الله فی النهاية (ج۵ص۱۱۳): النكبة: وهی مايصيب الأنسان من الحوادث، فتكون أعم-
٤) (النهاية لابن الأثير (ج۳ص۱۲۷)-
۵) (قوله: عن أنس رضی الله عنه: الحديث مر تخريجه فی كتاب الوتر باب القنوت قبل الركوع وبعده-

أَنْ قَدْ لَقِينَا رَبَّنَا فَرَضِيَ عَنَّا وَأَرْضَانَا ثُمَّ نُسِخَ بَعْدُ فَدَعَا عَلَيْهِمْ أَرْبَعِينَ صَبَاحًا عَلَى رِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَبَنِي لَحْيَانَ وَبَنِي عُصَيَّةَ الَّذِينَ عَصَوُا اللَّهَ وَرَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۲۶۵۹، ۲۸۹۹، ۳۸۶۰-۳۸۶۵، ۳۸۶۸-۳۸۷۰، وانظر: ۹۵۷]

تراجم رجال

۱- حفص بن عمر: دا حفص بن عمر حوضی بغدادی رحمه الله دی. (۱)

۲- همام: دا همام بن یحیی بصری رحمه الله. (۲)

۳- اسحاق: دا سحاق بن عبدالله بن ابی طلحه رحمه الله دی. دَ دوی حالات ((کتاب العلم باب من قعد حیث ینتهی به المجلس....)) لاندې راغلی دی. (۳)

۴- انس رضی الله عنه: داحضرت انس بن مالك رضی الله عنه دی. دَ هغوی تذکره ((کتاب الإیمان باب من الإیمان أن یحب لأخیه...)) لاندې تیرشو. (۴)

قوله: قال: بعث النبي صلى الله عليه وسلم أقواما من بني سليم إلى بني عامر في سبعين: حضرت انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ بنی سلیم قبیلې اویا کسان بنوعامر قبیلې طرف ته اولیګل.

یووهم اودهغې ازاله: حافظ شرف الدین دمیاطی رحمه الله فرمائیلی دی چه دا وهم دې ځکه چه: چا طرف ته ئې لیګلې وو هغه بنی سلیم دی او کوم ئې چه لیګلې وو هغه قاریان دی چه انصارو سره ئې تعلق لرلو. (۵)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی تحقیقی خبره دا ده چه دَ کومو خلقو طرف ته دَ اویاو کسانو قاریانو جماعت روان کړیشوې وو هغه بنوعامر دی، پاتې شو بنو سلیم نو هغوی دې قاریانو سره غدر کړې وو او هغوی ئې شهیدان کړی وو. او چه دلته کوم وهم شویدې هغه: امام بخاری شیخ حفص بن عمر ته شویدې ځکه چه همدغه روایت امام بخاری رحمه الله کتاب المغازی کښې ((موسی بن إسماعیل عن همام)) په طریق سره نقل فرمائیلې دې په دې کښې دی ((أن النبي صلى الله عليه وسلم بعث خاله أخ لأم سليم في سبعين راكبا وكان رئيس المشركين عامر بن الطفيل...))(۶) کیدیشی چه اصل عبارت داسې وو ((بعث أقواما معهم أخو أم سليم إلى بني عامر))

---

۱) (دَ دوی دَ حالاتو دَپاره اوګورئ کتاب الوضوء باب الیمن فی الوضوء والغسل-

۲) (دَ دوی د حالاتو دَپاره اوګورئ کتاب الوضوء باب ترک النبی صلی الله علیه وسلم والناس الأعرابی....-

۳) (کشف الباری (ج۳ص۲۱۳)-

٤) (کشف الباری (ج۲ص٤)-

۵) (فتح الباری (ج۶ص۱۹)-

۶) (الحدیث أخرجه البخاری فی کتاب المغازی باب غزوة الرجیع ورعل.... رقم (٤٠٩١)-

ليكن عبارت داسې جوړ شو من بني سليم.(۱)

د دې دپاره دا وينا چه «بعث النبي صلى الله عليه وسلم أقوامًا من بني سليم إلى بني عامر» صحيح نه دې. (۲)

قوله: فلما قدموا قال لهم خالي :كله چه هغه راغلو نو زما ماما اووئيل.

«خالي» نه مراد حضرت حرام بن ملحان رضي الله عنه دې.(۳) چه د حضرت انس رضي الله عنه ماما او د حضرت ام سليم رضي الله عنها رور دې.

حضرت حرام بن ملحان: دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم جانثار صحابي حضرت حرام بن ملحان مالك بن خالدبن زيدبن حرام نجاري انصاري رضي الله عنه دې. (۴)

دا د بدر صحابي دې او خپل رور سليم بن ملحان رضي الله عنه سره دې په غزوه بدر كښې شريك وو او په غزوه احد كښې هم هغه ته د شركت شرف حاصل دې.(۵)

غزوه بئرمعونه كښې دې د نورو ملګرو سره حضرت منذربن عمر او عامر بن فهيره رضي الله عنهم سره په شهادت سرفراز شو او عامر بن طفيل هغوى قتل كړې وو. (۶)

علامه ابن عبدالبر رحمه الله يو قول دا هم نقل كړيدې چه داد بئرمعونه واقعه كښې صرف زخمي شوې وو او يو صحابي ضحاك بن سفيان كلابي.... چه خپل اسلام به ئې پټولو....د هغه د علاج معالجې د پاره د خپل قوم يوه ښځه حواله كړې وه، او هغه څه شعرونه وئيلې وو په څه سره چه د هغه حقيقت په هغې ښكاره شو او هغوى هغه قتل كړو ليكن هم ړومبې قول صحيح دې. (۷)

قوله: فقتلوهم إلا رجل أعرج صعد الجبل :نوهغه ټول قتل كړل بغيرد يو ګوډسړي نه چه غرته ختلې وو. مطلب دا دې چه دې غدارانو هغه ټول قاريان صحابه كرام رضي الله عنهم شهيدان كړل د يو ګوډصحابي نه علاوه چه غر ته ختلې وو په دې وجه بچ شو.

---

۱) (فتح الباري (ج۶ص۱۹)-
۲) (د دې واقعې د تفصيل دپاره اوګورئ كشف الباري كتاب المغازي (ص۲۶۱)-
۳) (عمدة القاري(۱٤ص۹۸)-
٤) (الاستيعاب بهامش الإصابة (ج۱ص۳۵۲) ومعرفة الصحابة (ج۲۵۷)-
۵) (الاستيعاب بهامش الإصابة (ج۱ص۳۵۲)-
۶) (حواله بالا او غزوه بئر معونه تفصيل د پاره اوګورئ كشف الباري كتاب المغازي (ص۲۶۱)-
۷) (وقيل: إن حرام بن ملحان ارتث يوم بئر معونة. فقال الضحاك بن سفيان الكلابي – وكان مسلما بكتم إسلامه –لامرأة من قومه: هل لك في رجل إن صح كان نعم الراعي؟ فضمته إليها فعالجته فسمعته يقول:

أتت عامر ترجو الهوادة بيننا ✧ وهل عامر إلا عدو مداجن
إذا مارجعنا ثم لم تك وقعة ✧ بأسيافنا في عامر أو نطاعن
فلا ترجونا أن يقاتل بعدنا ✧ عشائرنا والمقربات الصوافن

فوثبوا عليه فقتلوه . انبر الاستيعاب بهامش الإصابة (ج۱ص۳۵۳) والإصابة (ج۱ص۳۱۹)-

((رجل أعرج)) نه مراد حضرت كعب بن زيد رضي الله عنه دي او دَ بنودينار بن نجار سره دَ هغه تعلق وو. (۱)

((رجل أعرج)) منصوب هم لوستلې شويدې يعنى ((رجلا أعرج)) دلته چه كوم مرفوع نقل شويدې دَ هغې باره كښې علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه دا دَ عربو دَ قبيلې ربعى لغت دې چه هغوى مستثنى مرفوع لولى. (۲)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث ترجمه سره مطابقت ((فطعنه فأنفذه)) كښې دې چه دې غدارانو نه يو سړى حضرت حرام بن ملحان رضي الله عنه په نيزه اووهلو چه دَ هغه دَ بدن نه تيروبير شوه.

[۲۶۴۸] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ جُنْدَبِ بْنِ سُفْيَانَ (۳) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي بَعْضِ الْمَشَاهِدِ وَقَدْ دَمِيَتْ إِصْبَعُهُ فَقَالَ هَلْ أَنْتِ إِلَّا إِصْبَعٌ دَمِيتِ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ مَا لَقِيتِ [۵۷۹۴]

تراجم رجال

۱- موسى بن اسماعيل: دا ابوسلمه موسى بن اسماعيل تبوذكى بصرى رحمه الله دې.

۲- ابوعوانه: دا ابوعوانه وضاح بن عبدالله يشكرى رحمه الله دې. دَ دې دواړو حضراتو تذكره ((بدء الوحي)) څلورم حديث لاندې تيره شوې ده. (۴)

۳- اسودبن قيس: دا مشهورتابعى حضرت اسود بن قيس رحمه الله دې. (۵)

۴- جندب بن سفيان: دا صحابى رسول، حضرت جندب بن سفيان رضي الله عنه دې. (۶)

قوله: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان فى بعض المشاهد وقد دميت إصبعه: حضرت جندب بن سفيان رضي الله عنه نه روايت دې چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم په يوه غزوه

---

۱) (فتح البارى (ج۷ص۳۸۷)-

۲) (شرح الكرمانى (ج۱۲ص۱۰۵) دَ حديث باب نور تفصيل او په دې كښې ذكر شوې واقعه دَ پاره اوګورئ كشف البارى كتاب المغازى (ص۲۶۱-۲۶۸)-

۳) (قوله: عن جندب بن سفيان رضى الله عنه: الحديث أخرجه البخارى أيضًا (ج۲ص۹۰۸) كتاب الأدب باب مايجوز من الشعر والرجز والحداء ومايكره منه رقم (۱٤۶) ومسلم (ج۲ص۱۰۹) كتاب الجهاد والسير باب مالقى النبى صلى الله عليه وسلم من أذى المشركين والمنافقين رقم (٤۶٥٤) والترمذى فى جامعه (ج۲ص۱۷۲ أبواب تفسير القرآن باب ومن سورة والضحى رقم (٤۳۳-٤۳٤)-

٤) (كشف البارى(ج۱ص٤۳۳-٤۳٤)-

٥) (ذ دوى ذحالاتودَپاره اوګورئ كتاب العيدين باب كلام الإمام والناس فى خطبة العيد...-

۶) (حواله بالا-

کښې شریك ووچه د هغوی یوه ګوته د وینوشوه.

((مشاهد)) نه مراد مغازی دي اودي ته د مشاهد وئیلووجه دا ده چه غزوه د شهادت ځائ دي.(۱)

او په حدیث شریف کښې بیان شوې واقعه د غزوه احد ده په کوم کښې چه د نبی کریم ﷺ یوه ګوته زخمی شوې وه.(۲)

قوله: فقال: هل أنتِ إلا إصبع دَميت:: وفي سبيل الله ما لقيت :نو هغوی ﷺ اوفرمائیل ته خو صرف یوه ګوته ئې چه د وینوشوې او چه کوم مصیبت تاته اورسیدو هغه د الله تعالی په لار کښې اورسیدو.

یواشکال اود هغې جوابونه: دلته هغوی ﷺ یو شعر اوفرمائیلو او په قرآن کریم کښې د رسول الله ﷺ په صفت کښې راغلي دی ﴿وماعلمناه الشعروماینبغی له﴾ (۳)مونږ هغه ته نه د شعر تعلیم ورکړې او نه شعر وئیل د هغوی د پاره مناسب دی.

د دې اشکال مختلف جوابونه ورکړیشوی دی:

① علامه کرمانی رحمه الله فرمائي چه دا رجز دې او رجز شعر نه دې لکه چه امام اخفش رحمه الله مذهب دې. ځکه چه رجز ویونکی ته "راجز" خو وائی مګر شاعر نه. د دې د پاره چه په شعر کښې دا ضروری دی چه هغه بیت تام وی او د عروض مسلمه وزنونو مطابق مقفی وی. دغه شان دا هم ضروری دی چه د شعر وئیلو اراده ئې هم کړې وی. اتفاقی توګه باندې د ژبې وتلې شوی مقفی عبارت ته شعر نشی وئیلې.(۴)

② بعض حضراتوآیت شریف ﴿وماعلمناه الشعر﴾ باره کښې فرمائیلی دی چه په دې کښې د مشرکین مکه د دې قول رد دې کوم کښې چه هغوی حضور ﷺ ته شاعر ګرځولې وو، اودا ښکاره ده چه چه هغه په معروف معنی کښې شاعر وو او نه شعر وئیل د هغوی معمول وو.

③ اوکه د حضور پورته ذکر شوې کلام شعر هم اومنلې شی نو وئیلې به شی چه د هغوی په حق کښې انشاء شعر ممنوع دې انشاد شعر نه. او انشاء شعر او انشاد شعر دوه جدا جدا څیزونه دی. شاعر هغه وی چه د شعر جوړول کوی، د تشبیب اشعار وائی، مدح او ذم کوې او د فن مختلف شکلونه ښائی خو الله تعالی خپل رسول ﷺ د دې نه بری ساتلې اود هغه د مرتبې حفاظت ئې کړیدې.(۵)

په دې باره کښې نور تفصیل انشاء الله ((کتاب الأدب باب مایجوز من الشعر)) کښې راځی.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت ((وقد دمیت أصبعه))

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۹۹)-

۲) (حواله بالا وشرح الکرمانی (ج۱۲ص ۱۰۶)-

۳) (یس:۶۹-

٤) (شرح الکرمانی(ج۱۲ص۱۰۶)-

۵) (حواله بالا وشرح ابن بطال (ج۵ص۱۹-۲۰)-

كښې دى چه د هغوى ﷺ كوته مباركه د كاڼړى لګيدو په وجه زخمى شوې وه. (۱)

۱۰- بَاب: مَنْ يُجْرَحُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخارى رحمه الله د الله تعالى په لاركښې زخمى كيدونكى سړى فضيلت ښائى (۲)

د الله تعالى په لاركښې زخم راتلو لوئ د فضيلت خبره ده، د الله تعالى په نزد د دې ښكلې خوشبو وى او د دې نه چه كومه وينه وتلې وى د هغې به هم ډير عظمت وى ليكن شرط دا دې چه هغه زخم د الله تعالى په لاركښې لګيدلې وى. نو چه كوم سړې د الله تعالى په لاركښې د جهاد د پاره په خلوص سره څى د هغه دافضيلت دې اوكه د رياكارنى او ځان خودلو د پاره څى نو ښكاره خبره ده چه هغه په دې كښې شامل نه دې.

[۲۶۴۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (۳) رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُكْلَمُ أَحَدٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ وَالرِّيحُ رِيحُ الْمِسْكِ [ر: ۲۳۵]

تراجم رجال

۱- عبدالله بن يوسف: دا عبدالله بن يوسف دمشقى تنيسى رحمه الله دې.

۲- مالك: دا امام مالك بن انس اصبحى مدنى رحمه الله دې. د ددې دواړو حضراتو تذكره ((بدء الوحى)) دوئم حديث كښې راغلى دى. (۴)

۳- ابى الزناد: دا ابوالزناد عبدالله بن ذكوان رحمه الله دې.

۴- اعرج: داعبدالرحمن بن هرمزالاعرج رحمه الله دې. د دې دواړو حضراتو حالات ((كتاب الإيمان باب حب الرسول ﷺ من الإيمان)) په ذيل كښې تيرشوى دى. (۵)

۵- ابوهريرة رضى الله عنه: د حضرت ابوهريره رضى الله عنه حالات ((كتاب الإيمان باب أمور الإيمان)) لاندې به تفصيل سره تيرشوى دى. (۶)

---

۱) (عمدة القارى (ج ۱۴ ص ۹۹)-
۲) (عمدة القارى (ج ۱۴ ص ۱۰۰)-
۳) (قوله: عن أبى هريرة رضى الله عنه: الحديث مرتخريجه فى كتاب الطهارة باب ما يقع من النجاسات فى السمن والماء-
۴) (كشف البارى (ج ۱ ص ۲۸۹-۲۹۰) امام مالك د پاره نور اوګورئ كشف البارى (ج ۲ ص ۸۰)-
۵) (كشف البارى (ج ۲ ص ۱۰-۱۱)-
۶) (كشف البارى (ج ۱ ص ۶۵۹)-

د حدیث ترجمه: د حضرت ابوهریره ﷜ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلی چه د هغه ذات قسم د چا د قدرت په قبضه کښې چه زما ځان دې. یو سړې هم د الله تعالی په لار کښې نه زخمی کیږی او الله تعالی ته ښه پته ده چه د هغه د پاره څوک زخم خوری مګر دا چه د قیامت په ورځ به داسې حال کښې راځی چه رنګ خو به هم د وینې وی ولې دینه تلونکې خوشبو به د مشک وی.

په حدیث شریف کښې د الله تعالی په لار کښې د زخمی کیدونکی سړی فضیلت بیانیږی چه د الله تعالی په لار کښې زخمی کیدونکې به د قیامت په ورځ په دې داسې حال کښې د الله تعالی په دربار کښې حاضریږی چه د الله تعالی د پاره ورکړیشوې قربانی به د هغه په بدن باندې وی او هغه به د وینو رنګ بدن واخلی او د الله تعالی په دربار کښې به حاضریږی او د هغه وینې نه به د وینې بوئ نه د مشک خوشبو روانه وی.

په حدیث کښې کوم زخم مراد دې؟: ((فی سبیل الله)): نه مراد خو هم جهاد دې چه زخمی شوې خو په جهاد کښې وی لیکن لفظ هر هغه زخم ته شامل دې چه د الله تعالی د پاره لګیدلې وی او هغه ته هم کوم کښې چه سړې د خپل حق دفاع کولو سره زخمی شي.(۱)

او د دې خبرې هم احتمال دې چه د زخم نه مراد هغه زخم وی د کوم د وجه نه چه د زخم جوړیدونه وړاندې سړې مړ شی. نه هغه زخم چه په دنیا کښې جوړ شوې وی ځکه چه د زخم جوړیدونه زخم او د وینې بهیدلو اثر آخر ختم شی لیکن دا د دې خبرې نفی نه کوی چه د زخم د جوړیدو په صورت کښې هغه ته هیڅ فضیلت نه حاصلیږی خو ظاهر خو هم دغه دی چه دلته هغه سړې مراد دې چه د قیامت په ورځ په داسې حالت کښې حاضر شی چه د هغه د زخم نه وینه بهیږی او دا په هغه وخت کښې ممکن دی چه کله د دنیا نه د رخصت کیدو په وخت زخم په خپل حالت باندې وی.(۲)

د دې مضمون تائید د دې حدیث شریف نه هم کیږی کوم چه علامه هیثمی ﷫ د حضرت انس ﷜ نه روایت کړیدې. دې کښې دی: ((علیه طابع الشهداء))(۳) په دې به د شهداؤ مهر وی او مهر دا زخم دې کوم نه چه وینه بهیږی.

قوله: والله أعلم بمن یکلم فی سبیله: او هم الله تعالی ته معلومه ده چه څوک په دې لار کښې زخمی کیږی.

دا په حدیث کښې جمله معترضه ده، دینه مقصود دا دې چه د نیت اخلاص هم وی، زخمی کیدل صرف د الله تعالی د پاره وی ریاکارئی د پاره نه وی نو ده ته به داثواب ملاویږی ګنی نو نه به ملاویږی. (۴)

علماء لیکی دی چه شهید به په هم دغه حالت کښې کوم کښې چه شهید شوې وی د

---

۱) (عمدة القاری(۱٤ج۱۰۰) وشرح ابن بطال (ج۵ص۲۰)-

۲) (فتح الباری (ج۶ص۲۰)-

۳) (مجمع الزوائدللهیثمی(ج۵ص۲۹۷)-

٤) (عمدة القاری (۱٤ص۱۰۰)-

اوچتولو حکمت دا دې چه د هغه سره د خپل فضیلت گواهی او سند هم وی چه هغه خپل ځان د الله تعالی په تابعدارئی کښې قربان کړې وو. (۱)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت دَ حدیث ترجمه سره مناسبت ((**لایکلم أحد فی سبیل الله إلخ**)) کښې دې ځکه چه دَ کلم معنی هم جرح ده. (۲)

دَ باب په حدیث کښې په صراحت سره دَ الله تعالی په لارکښې زخمی کیدلو فضیلت، مرتبه او ثواب بیان کړیشویدې.

۱۱-بَاب: قَوْلِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ وَالْحَرْبُ سِجَالٌ

ماقبل سره ربط: په وړاندینوبابونوکښې امام بخاری رحمه الله په مختلفو طریقو سره دَمجاهد او شهید فضیلت او اهمیت بیانولو، په دې باب کښې امام صاحب دا خودل غواړی چه مجاهد بهر حال کامیاب دې که هغه دَ جنګ دَ میدان نه غازی راشی یا دَ الله تعالی په لارکښې شهید شی.

دَترجمة الباب مقصد دَ ترجمه مقصد دا دې چه کوم خلق جهاد ته ځی هغوی ته دوو خوبیانو کښې یوه ضرور ملاویږی که هغه کته بیامومی او کامیاب شی نو هغوی ته الله تعالی اجر ورکوی او بعض وخت غنیمت هم ملاویږی او ثواب خو بهر حال ملاویږی او که چرې هغه شهید شی نودَ شهادت اوچت او عظیم منصب هغه ته ملاویږی. (۳)

قوله: والحرب سجال :اوجنګ دَ ډولچودَ راښکلوغوندې دې.

دَ دې جملې پوره تشریح خو تیره شویده. (۴)

خودلته د دې د ذکر کولو مقصد دا بیانول دی چه جنګ د ډولونو د راښکلو پشان ده لکه څنګه چه په کوهی باندې ډول وی چه د یوې ډلې په لاس کښې وی نو بله ډله انتظار کوی دغه شان ددې په عکس .دغه شان د جنګ حال هم دې چه کله یوه ډله غالبه راشی اوکله بله .نو که مسلمانانو ته غلبه حاصله شی نو دوی ته فتح حاصله شوه اوکه مشرکانو او کافران غالب شول نومسلمانانو ته به د شهادت مرتبه ملاؤ شی مسلمانان په هرحال کښې کامیاب دی

دَمذکوره جمله آیت سره ربط آیت مبارك کښې ((الحرب سجال)) مناسبت واضح دې دَ دې دَ پاره ((حُسْنَيَيْن)) نه مراد ظفراو شهادت دې او مذکوره جمله دواړو معنوته متضمن ده. (۵)

---

۱) (فتح الباری (ج۶ ص۲۰)-
۲) (عمدةالقاری (ج۱٤ص۱۰۰)-
۳) (عمدةالقاری (ج۱٤ص۱۰۰) وشرح ابن بطال (ج۵ص۲۱)-
٤) (انظر كشف الباری (ج۱ص۵۰۰)-
۵) (عمدةالقاری (ج۱٤ص۱۰۱)-

[۲۶۵۰] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ(۱) أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ بْنَ حَرْبٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ هِرَقْلَ قَالَ لَهُ سَأَلْتُكَ كَيْفَ كَانَ قِتَالُكُمْ إِيَّاهُ فَزَعَمْتَ أَنَّ الْحَرْبَ سِجَالٌ وَدُوَلٌ فَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْتَلَى ثُمَّ تَكُونُ لَهُمُ الْعَاقِبَةُ [ر:۷]

تراجم رجال

۱- يحيى بن بكير: دا يحيى بن عبدالله بن بكيرمخزومی رحمه الله دې.

۲- الليث: داابوالحارث ليث بن سعدبن عبدالرحمن فهمی رحمه الله دې. دَ دې دواړو حضراتو حالات ((بدء الوحی)) دريم حديث کښې راغلی. (۲)

۳- يونس: دا ابويزيديونس بن يزيد ايلی قرشی رحمه الله دې. دَ دوی تذکره ((كتاب العلم باب من يرد الله به خيرا يفقهه فی الدين)) لاندې تيره شويده. (۳)

۴- ابن شهاب: دا محمد بن مسلم ابن شهاب زهری رحمه الله دې. دَ دوی حالات مختصراً ((بدء الوحی)) دَ دريم حديث په ذيل کښې راغلی دی. (۴)

۵- عبيدالله بن عبدالله: داابوعبدالله عبيدالله بن عبدالله هذلی رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((كتاب العلم باب متى يصح سماع الصغير؟)) په ذيل کښې نقل شوی. (۵)

۶- عبدالله بن عباس: حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما حالات ((بدء الوحی))خلورم حديث او ((كتاب الإيمان باب كفران العشير...)) کښې تيرشوی دی.(۶)

۷- ابوسفيان: دا مشهور صحابی ابوسفيان صخربن حرب بن اميه رضی الله عنه دې. دَ دوی حالات ((بدء الوحی)) شپږم حديث لاندې راغلی دی.(۷)

دَ دې حديث مکمل تشريح ((بدء الوحی))شپږم حديث لاندې تيره شوې ده.(۸)

---

۱) (قوله: أن عبدالله بن عباس رضی الله عنهما: تقدم تخريجه فی أول الكتاب (بدءالوحی) انظر كشف البارى)ج۱ص۴۷۷) الحديث السادس-

۲) (كشف البارى (ج۱ص۳۲۳-۳۲۴)-

۳) (كشف البارى (ج۳) وكشف البارى (۱ص۴۶۳)-

۴) (كشف البارى (ج۱ص۳۲۶)-

۵) (كشف البارى (ج۳) و كشف البارى (ج۱ص۴۶۶)-

۶) (كشف البارى (ج۱ص۴۳۵) و (ج۲ص۲۰۵)-

۷) (كشف البارى (ج۱ص۴۸۰)-

۸) (انظر كشف البارى (ج۱ص۴۷۷) الحديث السادس-

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت دترجمة الباب نه د حديث مطابقت او مناسبت په قول د علامه عينى رحمه الله ((فزعمت أن الحرب بينكم سجال)) كښې دى اوداخبره مونږ اول ذكركړيده چه (حسنيين) كښې (الحرب سجال) معنى موندلې شي اودادواړه د يوبل معنى ته متضمن دى.(١)

د علامه ابن المنير ارشاد علامه ابن المنير رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله دا حديث دلته ((وكذلك الرسل تبتلى ثم تكون لهم العاقبة)) په وجه ذكركړيدې. هغه فرمائى چه هم په دې صورت كښې ((إحدى الحسنيين)) معنى متحقق او حاصل وى. د دې دپاره كه چرې رسولانو فتح او غلبه حاصله كړه نو دنيا او آخرت به هم د دوى وى او كه د هغوى دښمنانو ته فتح اونصرت حاصل شو نود رسولانودپاره به آخرت وى اودا خومعلومه ده چه آخرت ددنيانه بهتردې.(٢)

دحافظ صاحب توجيه حافظ صاحب رحمه الله فرمائى چه د ابن المنير رحمه الله دا قول د اولنى قول نفى كوى اونه د هغې معارض دې بلكه ظاهره همدغه ده چه ړومبنى قول ډيرمناسب او اولې دې ځكه چه په دې كښې دنبى اكرم ﷺ دحال نقل ابوسفيان رضي الله عنه كوى خود هرقل وينا خود مختلفو زړوكتابونونه اخذ شويده او هم د دغه كتابونو په اعتماد باندې مبنى ده.(٣)

فائده: علامه قزاز رحمه الله فرمائى چه د((دول)) دال مثلثه دې اوعرب ديته دُوَل، دَوَل او دِوَل لولى. ((العرب تقول: الأيام دُول ودَول ودِول: ثلاث لغات)) (٤)

١٢-بَاب: قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا [الأحزاب: ٢٣]

ماقبل سره مناسبت په تيروشوو بابونوكښې په جهاد كښې شركت اود دې د فضيلت بيان وو، په دې باب كښې په ميدان جنګ كښې د كلك اودريدو ذكردې. ځكه چه دجهاد فضيلت په ثابت قدمئ او د ثبات قلبئ په ذريعه حاصليدېشى. ګنى دا شركت د وبال صورت هم اختيارولې شى چه اوتختى، اوبيا د دنيا اوآخرت دخسارې موجب جوړ شى.

دترجمة الباب مقصد امام بخارى رحمه الله دلته په باب كښې دا خودلى دى چه سړې الله تعالى سره د دې خبرې عهد اوكړى چه زه به د جهاد د پاره ځم اود الله تعالى په لاركښې به جنګ كوم، نو هغه له په دې باندې كلك اودريدل هم پكاردى ځكه چه الله تعالى د داسې خلقو تعريف، توصيف او مدح فرمائيلې ده.

---

١) (عمدة القارى (ج ١٤ص١٠١) وفتح البارى (ج ٦ص٢١)-
٢) (المتوارى (ص١٥٠)-
٣) (فتح البارى (ج ٦ص٢١)-
٤) (حواله بالا وعمدة القارى (ج ١٤ص١٠١)-

[٢٦٥١] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَعِيدٍ الْخُزَاعِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسًا قَالَ ح و حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ زُرَارَةَ حَدَّثَنَا زِيَادٌ قَالَ حَدَّثَنِي حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ عَنْ أَنَسٍ (١) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ غَابَ عَمِّي أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ عَنْ قِتَالِ بَدْرٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ غِبْتُ عَنْ أَوَّلِ قِتَالٍ قَاتَلْتَ الْمُشْرِكِينَ لَئِنِ اللَّهُ أَشْهَدَنِي قِتَالَ الْمُشْرِكِينَ لَيَرَيَنَّ اللَّهُ مَا أَصْنَعُ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ وَانْكَشَفَ الْمُسْلِمُونَ قَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعْتَذِرُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هَؤُلَاءِ يَعْنِي أَصْحَابَهُ وَأَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هَؤُلَاءِ يَعْنِي الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ تَقَدَّمَ فَاسْتَقْبَلَهُ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ فَقَالَ يَا سَعْدُ بْنَ مُعَاذٍ الْجَنَّةَ وَرَبِّ النَّضْرِ إِنِّي أَجِدُ رِيحَهَا مِنْ دُونِ أُحُدٍ قَالَ سَعْدٌ فَمَا اسْتَطَعْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا صَنَعَ قَالَ أَنَسٌ فَوَجَدْنَا بِهِ بِضْعًا وَثَمَانِينَ ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ أَوْ طَعْنَةً بِرُمْحٍ أَوْ رَمْيَةً بِسَهْمٍ وَوَجَدْنَاهُ قَدْ قُتِلَ وَقَدْ مَثَّلَ بِهِ الْمُشْرِكُونَ فَمَا عَرَفَهُ أَحَدٌ إِلَّا أُخْتُهُ بِبَنَانِهِ قَالَ أَنَسٌ كُنَّا نُرَى أَوْ نَظُنُّ أَنَّ هَذِهِ الْآيَةَ نَزَلَتْ فِيهِ وَفِي أَشْبَاهِهِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ

تراجم رجال

١- محمد بن سعيد الخزاعي: دامحمد بن سعيد بن الوليد خزاعي رحمه الله دې . دَ دوی کنیت ابوعمرو یاابوبکر دې ،د بصرې اوسیدونکې وو (٢) او مردویه دَ هغه لقب دې. (٣)

دوی دَ عبدالاعلی بن عبدالاعلی، زیاده بن الربیع، خالد بن الحارث، زکریا بن یحیی بن عمارة، عون بن عمرو القیسی، هشام بن محمد بن کلبی او ابوتمیله رحمهم الله وغیره نه دَ حدیث روایت کوی.

دَ دوی نه روایت کونکو کښې امام بخاری، امام ابوزرعه، ابوحاتم، حرب بن اسماعیل ،یعقوب بن سفیان، محمدبن ابراهیم بن سعید البوشنجی، محمدبن غالب تمتام، محمدبن یوسف بن الترکی او احمدبن محمد الاصبهانی رحمهم الله وغیره شامل دی.(٤)

ابوحاتم رحمه الله فرمائی ((كان ثقة صدوقا)) (٥)

---

١) (قوله: عن أنس رضى الله عنه: الحديث أخرجه البخارى أيضًا (ج٢ص٥٧٩) كتاب المغازى باب غزوة أحدرقم (٤٠٤٨) وفى (ج٢ص٧٠٥) كتاب التفسير باب ﴿فمنهم من قضى نحبه ومنهم من ينتظر، وما بدلواتبديلاً﴾ رقم (٤٧٨٣) ومسلم (ج٢ص١٣٩) كتاب الإمارة باب ثبوت الجنة للشهيد رقم (٤٩١٨) والترمذى (ج٢ص١٥٥) أبواب تفسيرالقرآن باب ومن سورة الأحزاب رقم (٣٢٠٠)-

٢) (تهذيب الكمال (ج٢٥ص٢٧٧-٢٧٨)-

٣) (فتح البارى (ج٦ص٢٢)-

٤) (شيوخ وتلامذه تفصيل دَ پاره اوګورئ تهذيب الكمال (ج٢٥ص٢٧٨)-

٥) (تهذيب الكمال (٢٥ص٢٧٩)- سبط ابن العجمى رحمه الله فرمائى ((ثقة))) (حاشية سبط ابن العجمى على الكاشف (ج٢ص١٧٥)-

دارقطنى رحمه الله فرمائى ((ثقة))(۱)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى ((ثقة))(۲)
ابن حبان رحمه الله هغوى په كتاب الثقات كښې ذكر كړيدې. (۳)
په اصحاب اصول سته كښې صرف امام بخارى رحمه الله د دوى نه روايتونه اخستې دى. (۴)
او هغه هم صرف په دوو موقعوباندې، يو دلته او بل كتاب المغازى كښې. (۵)
دَ هغه انتقال په كال ۲۳۰ھ كښې شوې.(۶) رحمه الله رحمة واسعة.

۲- عبدالاعلى: داعبدالاعلى بن عبدالاعلى السامى رحمه الله دې. (۷)

۳- عمرو بن زرارة: دا عمرو بن زرارة واقد هلالى رحمه الله دې. (۸)

۴- زياد بن عبدالله العامري البكائي: دا زياد بن عبدالله بن الطفيل رحمه الله دې. (۹)
ابومحمد د هغوى كنيت دې. (۱۰) دوى د بنوعامر بن صعصعه شاخ بنوالبكاء سره تعلق لرلو په دې وجه هغوى ته العامرى او البكائى وائى. (۱۱) دكوفې اوسيدونكې وو په دې وجه كوفى به ئې ورته وئيل. (۱۲)
دوىَ د عبدالملك بن عمير، حميدالطويل، عاصم الاحوال، اعمش، منصور، حصين، محمد بن اسحاق، يزيد بن ابى زياد اوحجاج بن ارطاة رحمهم الله وغيره نه روايت حديث كوى.
اودَ هغه نه روايت كونكوكښې امام احمد بن حنبل، احمدبن عبدة الضبى، ابوغسان النهدى، اسماعيل بن توبه، سهل بن عثمان، يوسف بن حماد، عمروبن زرارة، عبدالملك بن هشام السدوسى النحوى، عبدالله بن سعيد بن ابان الاموى رحمهم الله وغيره شامل دى.(۱۳)
امام وكيع بن الجراح رحمه الله فرمائى ((هو أشرف من أن يكذب فى الحديث)) (۱۴)

---

۱) (حاشية تهذيب الكمال (ج۲۵ص۲۷۹)-
۲) (تقريب التهذيب (ص۴۸۰)-
۳) (الثقات لابن حبان (ج۹ص۶۴)-
۴) (تهذيب التهذيب (ج۹ص۱۶۰)-
۵) (فتح البارى(ج۶ص۲۲)-
۶) (تهذيب التهذيب (ج۹ص۱۹۰)-
۷) (دَ دوى دَحالاتودَپاره اوګورئ كتاب الغسل باب إذاذكر فى المسجد أنه جنب....-
۸) (دَ دوى دَحالاتودَپاره اوګورئ كتاب الصلاة أبواب سترة المصلى باب قدركم ينبغى أن يكون...-
۹) (تهذيب الكمال (ج۹ص۴۸۵)-
۱۰) (طبقات ابن سعد(ج۶ص۳۹۶)-
۱۱) (الأنساب للسمعانى (ج۱ص۳۸۲)-
۱۲) (سير أعلام النبلاء (ج۹ص۵)-
۱۳) (شيوخ او تلامذه تفصيل دَپاره اوګورئ تهذيب الكمال (ج۹ص۴۸۶-۴۸۷)-
۱۴) (تهذيب الكمال (ج۹ص۴۸۷) وحاشية سبط ابن العجمى على الكاشف (ج۱ص۴۱۱)-

امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى ((ليس به بأس حديثه حديث أهل الصدق)) (۱)
دغه شان امام ابوداود رحمه الله امام احمدبن حنبل رحمه الله دَ هغوى باره کښې نقل کوى: ((ما أرى كان به بأس كان ابن إدريس حسن الرأى فيه....كان صدوقا)) (۲)
ابوزرعه رحمه الله فرمائى((صدوق)) (۳)
ابن عدى رحمه الله فرمائى ((ولزياد بن عبدالله.... أحاديث صالحة وقد روى عنه الثقات من الناس وما أرى برواياته بأسا)) (۴)
ابن حبان رحمه الله فرمائى ((كان فاحش الخطأ كثير الوهم، لايجوز الاحتجاج بخبره إذا انفرد وأما فيما وافق الثقات فى الروايات فان اعتبربها معتبرفلاضير... وكان يحيى بن معين سئ الرأى فيه))(۵) ابوحاتم رحمه الله فرمائى ((يكتب حديثه ولايحتج به)) (۶)
امام نسائى رحمه الله فرمائى ((ضعيف)) دغه شان يو بل ځائ کښې فرمائيلى ((ليس بالقوى)) (۷)
ابن سعد رحمه الله فرمائى ((....وكان عندهم ضعيفا، وقد حدثوا عنه))(۸)
عبدالله بن على ابن المدينى رحمه الله فرمائى ((سألت أبى عنه فضعفه)) (۹)
دغه شان على ابن المدينى رحمه الله فرمائى ((كتبت عنه شيئا كثيرا، وتركته))(۱۰)
امام ترمذى رحمه الله فرمائى ((كثير المناكير))(۱۱)
امام عقيلى رحمه الله هغه ((الضعفاء الكبير)) کښې ذکر کړيدې.(۱۲)
تاسو دَ زيادبن عبدالله متعلق اقوال جرح او تعديل اوکتل چه بعضو محدثينو دَ هغوى توثيق او تعديل کړيدې نو بعضو تضعيف او تجريح، تردې چه ابن حبان رحمه الله چه په خپل

---

۱) (تهذيب الكمال(ج۹ص۴۸۷)-
۲) (حواله بالا-
۳) (سيرأعلام النبلاء (ج۹ص۶۱)-
۴) (الكامل لابن عدى (ج۳ص۱۹۳)-
۵) (تعليقات تهذيب الكمال (ج۹ص۴۸۹)-
۶) (تهذيب الكمال (ج۹ص۴۸۸)-
۷) (حواله بالا-
۸) (طبقات ابن سعد(ج۶ص۳۹۶)-
۹) (تهذيب الكمال(ج۹ص۴۸۸)-
۱۰) (حواله سابقه-
۱۱) (سيرأعلام النبلاء (ج۹ص۶)-
۱۲) (الضعفاء الكبير(ج۲ص۷۹-۸۰)-

تساهل كښې معروف دې هغه هم دَ دوى باره كښې ((فاحش الخطأ)) او ((كثير الوهم)) غوندې الفاظ استعمال كړى دى خو دلته دَ پوهې خبره دا ده چه:

① زيادبن عبدالله مطلقا ضعيف نه دې، بعض حضراتو دَ هغوى توثيق هم فرمائيلې.

② امام بخارى رحمه الله دَ هغوى دا حديث دَ مغازى او جهاد په باب كښې ذكر كړې او زياد بن عبدالله مغازى كښې ثقه دې. نو حافظ صالح بن محمد رحمه الله فرمائى:

((ليس كتاب المغازى عند أحد أصح منه عند زياد البكائى، وزياد فى نفسه ضعيف، ولكن هو من أثبت الناس فى هذا الكتاب، وذلك أنه باع داره وخرج يدور مع ابن إسحاق حتى سمع منه الكتاب)) (١)

يعنى دَ زياد بكائى نه زيات صحيح كتاب المغازى بل چا سره نشته. هغه اګرچه فى نفسه ضعيف دې ليكن دې كتاب (المغازى) كښې هغه دَ ټولونه زيات دَ اعتماد قابل دې. دَ دې وجه دا ده چه هغه خپل كور خرخ كړو او محمدبن اسحاق سره سره اوسيدو، تر دې چه دَ هغه نه ئې ټول كتاب واوريدو.

امام ابوداؤد رحمه الله فرمائى: ((سمعت يحيى بن معين يقول: زياد البكائى فى ابن إسحاق ثقة، كأنه يضعفه فى غيره)) (٢)

دغه شان عثمان بن سعيد رحمه الله فرمائى ((سألته عن البكائى؟ فقال: لا بأس به فى المغازى وأما فى غيره فلا)) (٣) نور فرمائى ((سألت يحيى قلت: عمن أكتب المغازى ممن يروى عن يونس أو غيره؟ قال: اكتبه عن أصحاب البكائى))

او يحيى بن آدم رحمه الله ابن ادريس رحمه الله نه نقل كوى چه هغوى فرمائيلى دى ((ما أحد أثبت فى ابن إسحاق منه، لأنه أملى عليه إملاءً مرتين)) (۴)

او صالح جزرى رحمه الله فرمائى: ((هو على ضعفه أثبتهم فى المغازى)) (۵)

دَ دې ټولو اقوالونه دا معلومه شوه چه زياد بن عبدالله البكائى اګرچه ضعيف دې ليكن ((مغازى)) كښې ثقه دې.

③ امام بخارى رحمه الله اګرچه دَ هغه روايت نقل كړيدې ليكن متابعةً او دَ عبدالاعلى بن عبدالاعلى روايت سره (مقروناً) ذكر كړيدې او بيا په بخارى كښې همدغه يو روايت دې. (۶)

---

١) (تهذيب الكمال (ج٩ص٤٨٩)-
٢) (تاريخ عثمانى بن سعيدالدارمى (ص ١١٤)-
٣) تاريخ عثمان بن سعيد الدارمى (ص.١١٤)
٤) (تهذيب الكمال (ج٣ص٣٧۶)-
٥) (الكاشف (١ج٤١١)-
۶) (هدى السارى (٤٠٤)-

هغه د بخاری نه علاوه د مسلم، ترمذی او ابن ماجه هم راوی دی. (۱)
دهارون الرشيد په زمانه كښې په كال ۱۸۳ھ كښې دهغوى انتقال اشو (۲) رحمه الله رحمة واسعة.

۵- حميد الطويل: دا ابوعبيده حميد بن ابى حميد خزاعى بصرى رحمه الله دې. د هغوى حالات ((كتاب الإيمان، باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله....)) لاندې تير شوى دى. (۳)

۶-انس رضي الله عنه: دا مشهورصحابى حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دې. د دوى حالات ((كتاب الإيمان، باب من الإيمان أن يحب لأخيه....)) په ذيل كښې راغلى دى. (۴)

قوله: قال: غاب عمي أنس بن النضر عن قتال بدر: حضرت انس رضي الله عنه فرمائى چه زما تره انس بن النضر د بدر د ميدان نه غائب وو، دلته غيبوبت نه مراد تخلف دې يعنى روستو پاتې شوې وو، دا مطلب نه دې چه هغه بدر كښې شريك شوې وو او غائب شوې وو. (۵)

حضرت انس بن النضر رضي الله عنه: دا حضرت انس بن مالك رضي الله عنه تره حضرت انس بن النضر بن ضمضم بن زيد بن حرام بن جندب انصارى خزرجى رضي الله عنه دې. (۶)
د ده نه حضرت سعد بن معاذ او حضرت انس رضي الله عنهما د حديث روايت كوى. (۷)
دې په غزوه احد كښې شهيد شو او د شهادت په وخت كښې د هغوى په بدن باندې د اتياؤ (۸۰) نه زيات زخمونه وو او مشركانو د هغه مثله هم جوړه كړې وه. كما فى حديث الباب.

قوله: فقال: يارسول الله غبت عن أول قتال قاتلت المشركين لئن الله أشهدني قتال المشركين ليرين الله ما أصنع: ابن النضر رسول الله صلى الله عليه وسلم ته اووئيل يا رسول الله! زه د دې اول جنګ نه كوم چه تاسو مشركانو سره قتال اوكړو غائب پاتې ووم، اوس كه الله تعالى د مشركانو خلاف قتال كښې ماته د حاضرئى موقع راكړه نو الله تعالى به اوګورى چه زه څه كوم؟

((أول قتال)) نه مراد غزوه بدر ده ځكه چه دا رومبنى غزوه وه په كوم كښې نبى كريم صلى الله عليه وسلم بنفس نفيس شركت فرمائيلې وو. (۸)

---

۱) (الكاشف (۱ص۴۱۱)-
۲) (طبقات ابن سعد(۶ص۳۹۶)-
۳) (كشف البارى (ج۲ ص۵۷۱)-
۴) (كشف البارى(ج۲ص۴)-
۵) (فيض البارى(ج۳ص۴۲۴)-
۶) (الأصابة (ج۱ص۷۴) والإستيعاب بهامش الإصابة (ج۱ص۷۱) ومعرفة النصحابة (ج۱ص۲۲۴)-
۷) (معرفة الصحابة (ج۱ص۲۲۳)-
۸) (عمدة القارى (ج۱۴ص۱۰۳)-

قوله: فلما كان يوم أحد وانكشف المسلمون، قال: اللهم إني اعتذر إليك مما صنع هؤلاء، يعني أصحابه، وأبرأ إليك مما صنع هؤلاء، يعني المشركين، ثم تقدم، فاستقبله سعد بن معاذ: نو چه كله جنگ احد اوشو مسلمانان اخوا شو نو هغوی اوفرمائيل اې الله! زه د خپلو ملگروذ طرف نه څه چه هغوی اوکړه په هغې باندې ستا په وړاندې معذرت کوم او زه دَ برات اظهارکوم دَ دې مشرکانوذ حرکاتونه، بيا هغه وړاندې شو نود حضرت سعدبن معاذ رضي الله عنه سره دَ هغه مخامختيا اوشوه.

((انكشف المسلمون)) کښې دَ عبارت حسن اوګورئی ((انكشف)) ئی اوفرمائيلو يعنی اخوا شو او ((انهزم)) ئی اونه وئيل چه مسلمانانو شکست اخوړلو.(۱)

قوله: فقال: ياسعد بن معاذ، الجنة ورب النضر، إني أجد ريحها من دون أحد: وئی فرمائيل اې سعد بن معاذ! چرته؟ دَنضردَرب قسم! جنت خو زما مطلوب دې زه خود احد دَ خوانه دَ جنت خوشبو محسوسوم.

((الجنة)) يا خو منصوب دې نودَ عبارت تقديربه داسې وی ((أريد الجنة)) يا مرفوع او دَ مرفوع كيدو په صورت کښې تقدير عبارت ((مطلوبي الجنة)) به وی.(۲)

((نضر)) نه مراد يا خودَ هغه پلار دې او داهم احتمال دې چه نضر دَ هغه ځوئ وی نودَ هغه يو ځوئ هم وو چه دَ هغه نضر نوم وو. (۳)

ابن بطال رحمه الله فرمائی چه حضرت انس بن النضر رضي الله عنه قول ((إني أجد ريحها من دون أحد)) کښې دوه احتماله دی:

① چه دَ هغوی داقول په حقيقت باندې محمول وی چه دَ جنت خوشبو واقعی هغه له راتله ځکه چه دَ جنت خوشبوخودَپنځوسوو کالودَ مسافت نه محسوس کيږی.

② كه دَ هغه دا قول په مجاز باندې محمول وی په هغه صورت کښې به مطلب وی چه ماته دامعلومه ده چه جنت هم په دغه ځائ دې كوم ځائ چه جنګ كيدو، ځکه چه دَ جنت حاصلول هم په دغه ځايونوکښې کيږی.(۴)

قوله: قال سعد: فما استطعت يارسول الله ما صنع: حضرت سعد رضي الله عنه فرمائی: يارسول الله! هغه چه څه اوکړه هغه ما اونه کړيشو. مطلب دا دې چه حضرت انس بن النضر رضي الله عنه چه كوم قسم كار اوكړو په دې اقدام کښې هغه ته كوم خطرناكو سختو سره مخامخ والې وشو او هغه ته دَ هغې نه ډير زخمونه راغله نو داسې اقدام مانه اونه شو او هغه چه

۱) (شرح الكرمانی (ج۱۲ص۱۰۸)-
۲) (حواله بالا-
۳) (فتح البارى (ج۶ص۲۳)-
٤) (شرح ابن بطال (ج۵ص۲۳)-

ځنګه په میدان جنګ کښې ثابت قدمی خودلې وه هغه ما اونه خودلې شوه.(۱)

قوله: قال أنس: فوجدنا به بضعا وثمانين ضربة بالسيف أو طعنة برمح أو رمية بسهم ووجدناه قد قتل وقد مثل به المشركون فما عرفه أحد إلا أخته ببنانه:

حضرت انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی چه مونږ د هغه په بدن توري نيزې او غشو د اتياو نه زيات زخمونه وو او مونږ هغه په داسې حالت کښې اوکتلو چه مشرکانو د هغه مثله کړې وه نوهغه د هغه خور (ربيع بنت النضر رضی الله عنها) نه سوا بل هيڅ چا اونه پيژندلو، او هغې هم هغه د ګوتې د بند نه اوپيژندلو.

((بنان)) د ګوتې بند ته وائی. (۲)

دلته په روايت کښې ((بنان)) لفظ راغلې دې او د کتاب المغازی په روايت کښې شك سره ((بشامة أو ببنانه)) وارد شويدې.(۳)

علامه عينی او حافظ صاحب فرمائی چه اکثر رواة هم بنان روايت کړيدې. (۴)

قوله: قال أنس: كنا نرى أونظن أن هذه الآية نزلت فيه وفي أشباهه ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ﴾ إلى اخر الآية: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه زمونږ خيال وو د هغوی او د هغوی په شان د خلقو باره کښې چه دا آيت نازل شو: ﴿من المؤمنين...﴾ چه په مسلمانانو کښې داسې ځوانان سړی شته چه هغوی الله تعالی سره کړې وعده رښتونې کړه او وئی خودله، په دې ځوانانو سړوکښې څو څوکسانو خپل نذر پوره کړو او بعض د دې (ساعت سعيد) په انتظار کښې دی.(د جنګ ويرونکی خطرو باوجود) د هغوی په رويو کښې لږ شان بدلون هم اونه شو.

((قضى نحبه)) علامه زمخشری د ((نحب)) معنی بيانولوسره ليکی: ((... عبارة عن الموت، لأن كل حي لابدله من أن يموت، فكأنه نذر لازم في رقبته فإذا مات فقد قضى نحبه أي: نذره)) (۵)

يعنی ((قضاء النحب)) د مرګ نه کنايه ده، ځکه چه هر يو ژوندې ځيز به مړ کيږی لکه چه دا د هغه په سټ باندې لازم نذر دې او چه کله هغه مړشو نو هغه خپل نذر پوره کړو.

وَقَالَ (۶) إِنَّ أُخْتَهُ وَهِيَ تُسَمَّى الرُّبَيِّعَ كَسَرَتْ ثَنِيَّةَ امْرَأَةٍ فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْقِصَاصِ فَقَالَ أَنَسٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا تُكْسَرُ ثَنِيَّتُهَا فَرَضُوا بِالْأَرْشِ

---

۱) (فتح الباری (۲ج۲۳)-

۲) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۰۹)-

۳) (انظر الصحيح للبخاری (ج۲ص۵۷۹) کتاب المغازی باب غزوة أحد رقم (۳۸۲۲)-

۴) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۰۳) فتح الباری (ج۶ص۲۳)-

۵) (الکشاف (ج۳ص۵۳۲)-

۶) (الحديث مرتخريجه فی کتاب الصلح باب الصلح فی الدية-

وَتَرَكُوا الْقِصَاصَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ مَنْ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللَّهِ لَأَبَرَّهُ [۳۸۲۲، ۴۵۰۵، وانظر: ۲۵۵۶]

دَ حديث ترجمه حضرت انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی: دَ دوی (انس بن النضر) خور دَ یوې ښځې غاښ مات كړو، نو رسول الله ﷺ دَ قصاص حكم وركړو (قصاصا دَ هغه دَ خور هم يو غاښ مات كړئي) نو حضرت انس بن النضر رضی الله عنه اوونيل يارسول الله! قسم دې دَ هغه ذات چا چه ته په حقه سره راليګلې ئې دَ هغې غاښ به نشي ماتولې نو دَ هغه ښځې وارثان په ديت باندې راضي شو او قصاص ئې پرېخودلو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل په تحقيق سره دَ الله تعالی ځه بنديګان داسې وی كه هغوی په الله باندې قسم اخوری نو الله تعالی دَ هغوی قسم پوره كوی.

دَپورتنی حديث تشريح مكمل تفصيل سره (كتاب الصلح باب الصلح فی الدية) كښې تيرشويدې.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره دَ حديث شريف مناسبت په پورته ذكر شوی آيت كښې دې ځكه چه مذكوره آيت هم دَ دې حضراتو باره كښې نازل شوې وو چا چه وعده پوره كړې وه او دَ ثابت قدمئ او ثابت قلبئ مظاهره ئې كړې وه او چه څوك دَ وعدې پوره كولو په انتظار كښې وو. (۱)

[۲۶۵۲] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ وحَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي أَخِي عَنْ سُلَيْمَانَ أُرَاهُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي عَتِيقٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۲) قَالَ نَسَخْتُ الصُّحُفَ فِي الْمَصَاحِفِ فَفَقَدْتُ آيَةً مِنْ سُورَةِ الْأَحْزَابِ كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهَا فَلَمْ أَجِدْهَا إِلَّا مَعَ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ الَّذِي جَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهَادَتَهُ شَهَادَةَ رَجُلَيْنِ وَهُوَ قَوْلُهُ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ [۳۸۲۳، ۴۵۰۶، وانظر: ۴۴۰۲، ۴۷۰۲]

تراجم رجال

۱- ابواليمان: دا ابواليمان حكم بن نافع حمصی رحمه الله دې.

۲- شعيب: دا ابوبشرشعيب بن ابی حمزه رحمه الله دې دَ دې دواړو حالات ((بدء الوحی)) دَ شپږم حديث لاندې تيرشوی دی. (۳)

---

۱) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۰۲)-

۲) (قوله: زيدبن ثابت رضی الله عنه: الحديث أخرجه البخاری أيضًا (ج۲ص۵۸۰) كتاب المغازی باب غزوة أحد رقم (۴۰۴۹) و(ج۲ص۷۰۵) كتاب التفسير باب ﴿فمنهم من قضى نحبه ومنهم من ينتظر...﴾ رقم (۴۷۸۴) و(ج۲ص۷۴۶) كتاب فضائل القرآن باب جمع القرآن رقم (۴۹۸۸) والترمذی فی جامعه (ج۲ص۱۴۲) أبواب تفسير القرآن باب ومن سورة التوبة رقم (۳۱۰۴)-

۳) (كشف البارى (ج۱ص۴۸۹-۴۸۰)-

۳-اسماعیل: دا اسماعیل بن ابی اویس رحمه الله دې دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب تفاضل أهل الإیمان فی الأعمال)) په ذیل کښې تیرشوی دی.(۱)

۴-اخی: ((أخی)) نه مراد ابوبکر عبدالحمیدبن عبدالله ابی اویس رحمه الله دې.(۲)

۵- سلیمان: دا ابومحمدسلیمان بن بلال قرشی رحمه الله دې دَ دوی مختصر تذکره ((کتاب الإیمان باب أمور الإیمان)) لاندې تیره شویده.(۳)

۶- محمدبن ابی عتیق: دا محمدبن عبدالله بن ابی عتیق رحمه الله دې.(۴)

۷-ابن شهاب: دا محمدبن مسلم ابن شهاب زهری رحمه الله دې. دَ دوی مختصر تذکره ((بدء الوحی)) په دریم حدیث کښې تیره شوه.(۵)

۸-خارجه بن زید: دامشهور تابعی حضرت خارجه بن زیدبن ثابت انصاری رحمه الله دې.(۶)

۹-زیدبن ثابت: دا مشهور صحابی کاتب وحی حضرت زیدبن ثابت رضی الله عنه دې. (۷)

قوله: قال: نسختُ الصحف فی المصاحف، ففقدتُ آیة من سورة الأحزاب کنتُ أسمع رسول الله صلی الله علیه وسلم یقرأبها :حضرت زیدبن ثابت رضی الله عنه فرمائی چه صحیفې ما په مصاحف کښې لیکلې چه د سورة الاحزاب یو آیت کوم چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه تلاوت کولو کښې ماواریدلې وو اونه موندلو. دلته دَ (جمع قرآن) سره متعلق مشهورې واقعې طرف ته اشاره ده دَ کوم تفصیل چه به وړاندې راځی. (۸)

قوله: فلم أجدها إلامع خزیمة بن ثابت الأنصاری :خو هغه آیت ماته حضرت خزیمه بن ثابت الانصاری رضی الله عنه سره ملاؤشو.

حضرت خزیمه بن ثابت الانصاری رضی الله عنه: دا مشهورانصاری صحابی حضرت خزیمه بن ثابت بن الفاکه بن ثعلبه بن ساعدة الخطمی رضی الله عنه دې. (۹)
ابوعماره دَ هغه کنیت دې.(۱۰)

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص۱۱۳)-
۲) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب العلم باب حفظالعلم-
۳) (کشف الباری (ج۱ص۶۵۸)-
٤) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الأذان باب مکث الإمام فی مصلاه بعد السلام-
۵) (کشف الباری (ج۱ص۳۲۶)-
۶) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الجنائز باب الدخول علی المیت بعدالموت......-
۷) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الصلاة باب مایذکر فی الفخذ-
۸) (انظر کشف الباری کتاب فضائل القرآن باب جمع القرآن (ص٤۱)-
۹) (تهذیب الکمال(ج۸ص۲٤۳)-
۱۰) (الثقات لابن حبان (ج۳ص۱۰۸)-

او په ذوالشهادين باندې مشهور دې. (۱)
دَ هغه مور كبشة بنت اوس الساعدية ده. (۲)
دَ هغه يوه بى بى جميله بنت زيد بن خالد ده، دَ كومې نه چه دَ حضرت خزيمه ﷺ دوه
خامن عبدالله او عبدالرحمن دى او دوئمه بى بى صفيه بنت عامر بن طعمه ده، دَ هغې نه دَ
حضرت خزيمه ﷺ خوئ عماره دې. (۳)
دې دَ سابقين اولين نه دې. (۴) او دَ رسول الله ﷺ سره په ټولو غزواتوكښې شريك شوې
وو (۵) ليكن دَ دهٔ په بدرى كيدوكښې اختلاف دې.
امام ترمذى، ابن عبدالبر او لالكانى ﷫ فرمائى چه هغه بدرى دې. (۶).
خو اصحاب المغازى دې بدريينو نه نهٔ دې شميركړې. ابن البرقى ﷫ هغه دَ غير بدريين
نه شميرلې دې اوعلامه ذهبى ﷫ فرمائى (قيل: إنه بدرى، والصواب: أنه شهد أحدا ومابعدها) (۷)
او عسكرى وغيره خو هغه په اهل احد كښې هم نه دې شميرلې. (۸)
دَذوالشهادتين لقب وجه: هغه ته دَ ذوالشهادتين ويلو وجه دا ده چه يو ځل رسول الله ﷺ
يو اعرابى نه اس واخستلو اودَ قيمت ادا كولودَپاره ئې اعرابى ته خان سره دَ تلو اوفرمائيل.
په دې دوران كښې څه نورو خلقو دَ اعرابى نه هغه اس په زياتو پيسو باندې دَ اخستلو دپاره
اووئيل، كله چه حضور ﷺ هغه ته قيمت ادا كولو نو هغه دَ اس په بيع باندې ګواه
اوغوښتلو، حضرت خزيمه هلته موجود وو. هغه ګواهى وركړه چه رسول الله ﷺ دا اس
اخستې دې. حضور ﷺ حضرت خزيمه ﷺ ته اوفرمائيل چه ته خو دَ بيع په وخت كښې
موجودنه وې نو تاځنګه ګواهى وركړه؟ هغه عرض اوكړو چه دَ آسمان خبرې خوتاسو له
راځى په هغې كښې مونږ ستاسو تصديق كوو نو دا واقعه خو دَ زمكې ده په دې كښې به
مونږ ستاسو تصديق ځنګه نه كوو. هغه وخت حضور ﷺ دَ حضرت خزيمه ﷺ ګواهى دَ
دوو سړو برابر او قائمقام اوګرځوله. (۹) او دا دَ هغوى خصوصيت دې.
دَ فتح مكه په ورځ دَ بنى خطمه جهنډا دَ هغوى په لاس كښې وه. او په جنګ جمل او صفين
كښې هغه دَ حضرت على ﷺ سره وو ليكن په قتال كښې شريك نه وو كله چه حضرت

---

۱) (عمدة القارى (ج ١٤ص ١٠٤)-
۲) (الإصابة (ج ١ص ٤٢٥)-
۳) (الطبقات لابن سعد(ج ٤ص ٣٧٨)-
٤) (الإصابة (ج ١ص ٤٢٥)-
۵) (تهذيب الأسماء واللغات (ج ١ص ١٧٥)-
۶) (تهذيب التهذيب (ج ٣ص ١٤١)-
۷) (سير أعلام النبلاء (ج ٢ص ٤٨٥) وتهذيب التهذيب (ج ٣ص ١٤١)-
۸) (تهذيب التهذيب (ج ٣ص ١٤١)-
۹) (انظر سنن أبى داؤد (ج ٢ ص ١٥٢) كتاب القضاء باب إذا علم الحاكم صدق الشاهد الواحد يجوزله أن يحكم به رقم (٣٦٠٧) وسنن النسائى (ج ٢ص ٢٢٨) كتاب البيوع باب التسهيل فى ترك الإشهاد على البيع رقم (٤٦٥١)

عمار بن ياسر ﷺ شهيد شونو هغه په جنګ کښې شريك شو.(۱)
حافظ ابن حجر ﷺ د واقدى په طريق روايت نقل کړيدې چه عماره بن خزيمه بن ثابت فرمائى چه حضرت خزيمه بن ثابت ﷺ په جنګ جمل کښې شريك خو شو ولې هغه دَ تيکى نه توره راونه ويستله او په جنګ صفين کښې هم شامل شو او وئى فرمائيل چه زه دَ عمار (ابن ياسر) قتل کيدو پورې به توره نه راوباسم دې دَ پاره چه اوګورم چه هغه څوك قتل کوى خکه چه ما دَ رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى هغوى فرمائيل((تقتله الفئة الباغية)) نو چه کله حضرت عمار ﷺ شهيد کړيشو نو هغوى اوفرمائيل ((قدبانت لى الضلالة)) چه دَ چا غلطى ده دا خبره ماته ښکاره شوه بيامیدان جنګ ته داخل شو او قتال ئى اوکړو تر دې چه شهيد شو. (۲) دَ هغوى دَ شهادت دا واقعه ۳۷ھ ده.(۳)
دَمسنداحمد روايت دې چه حضرت خزيمه بن ثابت ﷺ خوب اوليدو چه هغه دَ نبى اکرم ﷺ په تندى مبارك باندې سجده کوى. دَ دې ذکر هغه نبى کريم ﷺ ته اوکړو نو هغوى سملاستل او وئى فرمائيل ((صَدِّقْ بذلك رؤياك)) چه خپل خوب رښتونې کړه. نو هغه دَ نبى کريم ﷺ په مبارك تندى باندې سجده اوکړه.(۴) يعنى خپل تندې ئې دَ هغوى ﷺ په تندى مبارك باندې کيخودو. لکه چه دَ (طبقات) په يو بل روايت کښې راغلى دى. (۵)
هغه دَ نبى کريم ﷺ نه روايت کوى.
دَ دوى نه روايت کونکوکښې دَ هغوى خوئ عماره، حضرت جابر بن عبدالله الانصارى ﷺ عماره بن عثمان بن حنيف، عمرو بن ميمون الاودى،ابرهيم بن سعد بن ابى وقاص، ابوعبدالله الجدلى، عبدالله بن يزيد الخطمى، عبدالرحمن بن ابى ليلى، او عطاء بن يسار ﷺ وغيره شامل دى.(۶)
علامه واقدى ﷺ هغه په طبقه ثالثه کښې ذکرکړيدې. (۷)
هغوى دَ نبى کريم ﷺ نه ۳۸ احاديث روايت کړى دى. (۸)
او په اصحاب اصول سته کښې دَ امام بخارى نه علاوه باقى ائمه حضراتو دَ دوى نه روايات اخستې دى. (۹) رضى الله عنه وأرضاه.

---

۱) (تهذيب الأسماء واللغات (ج ۱ص ۱۷۶)-
۲) (الإصابة (ج ۱ص ۴۲۶) وأيضا انظر مسندالإمام أحمد (ج۵ص ۲۱٤)-
۳) (سيرأعلام النبلاء (ج ۲ص ٤۸۵)-
٤) (مسندأحمد (ج۵ص ۲۱۵) وكذا أخرجه ابن سعد بسنده انظر الطبقات (ج ٤ص ۳۸۰)-
۵) (طبقات ابن سعد (ج ٤ص ۳۸۱)-
۶) (دَ شيوخو او تلامذه دَ تفصيل دَ پاره اوګورئ تهذيب الكمال (ج۸ص ٤ ۲٤)-
۷) (حواله بالا-
۸) (تهذيب الأسماء واللغات (ج ۱ص ۱۷۶)-
۹) (تهذيب الكمال (ج۸ ص۲٤۵)-

قوله: الذي جعل رسول الله صلى الله عليه وسلم شهادته شهادة رجلين.
وهوقوله: ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ﴾: دَ چا گواهي چه رسول الله ﷺ د دوو سړو د گواهئ برابر گرځولې وه. (هغه ايت چه حضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه ته مصاحف کښې نه وومِلاو ليکن د حضور اکرم ﷺ نه هغه اوريدلې وو) د الله تعالى قول: ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ﴾ دې.
دَ گواهئ دَ کومې واقعې حواله چه په حديث باب کښې ورکړېشويده هغه اوس په ماقبل کښې تيره شويده.
د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره دَ حديث مطابقت بالکل واضح او ظاهردې چه په دې حديث کښې هم دَدې آيت ذکردې په کوم چه ترجمه قائم کړې شويده.(۱)

۱۳- بَاب عَمَلٌ صَالِحٌ قَبْلَ الْقِتَالِ

ماقبل سره مناسبت: په تيروشوو بابونوکښې په مختلفو عنواناتوسره دَ جهاد او قتال اهميت، فضيلت او په دې باندې مرتب اجر ذکر دې اوس په دې باب کښې دَ دې عمل قتال دَ قبليدو طريقه خودلې کيږی چه دَ قتال نه وړاندې څه نيک کار هم کول پکار دی دې دَ پاره چه برکت وی.
دَ ترجمه مقصد: حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی چه دَ امام بخاری رحمه الله مقصد دَ دې ترجمه نه دا دې چه صالح او ديندار سړی ته چه دَ هغه په اعمالو کوم اجر ورکولې شی هغه فاسق او گناهگارته نشی ورکولې. په دې وجه عمل صالح وړاندې کول پکار دی دې دَ پاره چه: نورو نه دَ زيات اجر حقدار شی. نودَ حديث باب دلالت په دې بالکل ښکاره دې ځکه چه اسلام عمل صالح دې او په حديث کښې دَ دې دِ تقديم حکم ورکړېشويدې.(۲)
قوله: وَقَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ إِنَّمَا تُقَاتِلُونَ بِأَعْمَالِكُمْ: اوحضرت ابودرداء رضي الله عنه فرمائی تاسو دَ خپلو عملونو په وجه قتال کوئی.
مطلب دا چه الله تعالى تاسو ته دَ خو او نيکو اعمالو توفيق درکوی اودَ دې په وجه په جنگ کښې کاميابيږئی او په دې کښې برکت وی. په خلاف دَ هغې چه که دَ قتال کونکو اعمال خراب وی نو بيا هغه ناکامه کيږی.(۳)
دا تعليق امام عبدالله بن مبارک رحمه الله ((سعيد بن عبدالعزيز عن ربيعة بن يزيد عن ابن حلبس عن أبي الدرداء)) په طريق په (کتاب الجهاد) کښې موصولاً نقل کړی دی. (۴)
په اصل کښې دَ حضرت ابودرداء رضي الله عنه دَ ارشاد دوه حصې دی يوه حصه خو هغه ده کومه چه

---
۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص ۱۰٤)-
۲) (لامع الدراری (ج۷ص۲۱۷)-
۳) (فيض الباری (ج۳ص ٤۲٤)-
٤) (تغليق التعليق (ج۳ص ٤۳۱)-

حضرت عبدالله ابن مبارك خپل (كتاب الجهاد) كښې نقل كړيده. دونمه هغه ده چه امام بخاري رحمه الله ترجمه جوړه كړيده. نو حافظ ابن حجر رحمه الله (تغليق التعليق) كښې په خپل سند سره نقل كوى ((...عن سعيد بن عبدالعزيز عن ربيعة بن يزيد، أن أباالدرداء قال: أيها الناس، عمل صالح قبل الغزو، فإنما تقاتلون بأعمالكم))(۱)

اوس دَ مذكوره اثر رومبئى حصه خو امام بخاري رحمه الله ترجمه جوړه كړه او دونمه حصه ئى دَ تعليق په صورت كښې نقل كړه. دَ دې وجه دا ده چه ((عن سعيد بن عبدالعزيز عن ربيعة بن يزيد عن أبي الدرداء)) طريق كښې انقطاع ده، ځكه ربيعة بن يزيد سماع حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه نه ثابت نه دى. دَ عبدالله بن مبارك رحمه الله په طريق كښې ربيعة بن يزيد او حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه په مينځ كښې (ابن حلبس) په واسطه دى او په دې كښې صرف ((إنما تقاتلون بأعمالكم)) ذكر دې.

نو امام بخاري رحمه الله داحصه چه متصل ده دَ حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه طرف ته منسوب كړيده او كومه حصه چه سندمنقطع سره وه هغه ئى ترجمه ذكر كړه، دَ دې خبرې طرف ته اشاره كولو سره هغه دَ دې نه غافل نه وو.(۲)

((وَقَوْلُهُ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَرْصُوصٌ))[الصف:۲-۴]

اودَ الله تعالى عزوجل ارشاد دې، اې دَ ايمان خاوندانو! داسې خبره ولې كوئى چه هغه كار نه كوئى، دَ الله تعالى په نزد دا خبره ډيره دَ خفګان ده چه داسې خبره كوئى چه هغه كار نه كوئى. الله تعالى خو هغه خلق خوښوى چه دَ هغه په لاركښې داسې يوځائ جنګيږى لكه چه هغوى يو عمارت وى په كوم كښې چه سيسه اچولې شوى وى. (۳)

دَ آيت مبارك تعلق دعوې سره دې نه چه دعوت سره: دَ اكثرو خلقو دَ بې عمله عالم په وعظ او نصيحت كولو باندې دا اعتراض وى چه كله هغه پخپله عمل نه كوى نو نصيحت نه دى كول پكار. دا دَ ﴿لم تقولون مالا تفعلون﴾ خلاف دى.

نودَ دې جواب دا دې چه دَ آيت تعلق دعوې سره دې دعوت سره نه دې. نو دَ څه داسې كار دعوى كول جائز نه دى په كوم چه عمل نه وى، ليكن دعوت وركول او وعظ او نصيحت كول جائز دى هغه په دې كښې داخل نه دى. **فافهم ولا تغفل.**

دَ ترجمة الباب سره دَ آيت مناسبت: علامه ابن المنير رحمه الله فرمائى چه آيت او ترجمه سره مناسبت داسې دې چه الله تعالى په اولنودوو آياتونوكښې په هغه سړى باندې غندنه كړيده چه دا وائى چه زه به ښه كار كوم بيا ئى نه كوى. اودَ دې نه پس آيت ﴿إن الله يحب الذين...﴾

---

۱) (حواله بالا-

۲) (فتح البارى (ج۶ص ۲۴)-

۳) (ترجمه ازبيان القرآن (ج۲ سورة الصف)-

کښې د هغه سړی تعریف دې چه په میدان جنګ کښې ثابت قدمی اوښائی او بیا قتال اوکړی. په مذکوره آیت کښې د هغه سړی مدح ده، چه وائی هم او کوی هم . او د هغه قول د جهاد د تیاری په سلسله کښې قتال نه مخکښې عمل صالح دې کوم چه هغه په قتال باندې مقدم کړیدې.(۱)

او علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه په مقصود آیات کښې د ((صَفًّا)) لفظ دې چه هغوی صفونه جوړوی او د هغوی د قتال نه وړاندې صف جوړول عمل صالح قبل القتال دې. (۲)

[۲۶۵۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ حَدَّثَنَا شَبَابَةُ بْنُ سَوَّارٍ الْفَزَارِيُّ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(۳) يَقُولُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ مُقَنَّعٌ بِالْحَدِيدِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أُقَاتِلُ أَوْ أُسْلِمُ قَالَ أَسْلِمْ ثُمَّ قَاتِلْ فَأَسْلَمَ ثُمَّ قَاتَلَ فَقُتِلَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَمِلَ قَلِيلًا وَأُجِرَ كَثِيرًا

تراجم رجال

۱- محمد بن عبدالرحیم: دا ابویحیی محمد بن عبدالرحیم بن ابی زهیر العدوی البزاز رحمه الله دې.(۴)

۲- شبابه بن سوار الفزاري: دا ابو عمرو شبابة بن سوار الزاری المدائنی رحمه الله دې.(۵)

۳- اسرائیل: دا ابویوسف اسرائیل بن یونس بن ابی اسحاق کوفی رحمه الله دې. (۶)

۴- ابواسحاق: دا ابو اسحاق عمروبن عبدالله سبیعی رحمه الله دې.

۵- البراء: دا مشهور صحابی حضرت براء بن عازب انصاری رضی الله عنه دې. د دې دواړو حضراتو حالات ((کتاب الإیمان باب الصلاة من الإیمان)) لاندې تیرشو.(۷)

قوله: يقول: أتى النبي صلى الله عليه وسلم رجلٌ مقنعٌ بالحديد: حضرت براء بن عازب رضی الله عنه فرمائی، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره د اوسپنې یو خود اچولې سړې راغلو. علامه کرمانی رحمه الله د دې سړی نوم اصرم عمروبن ثابت الاشهلی خودلې.(۸)

---

۱) (المتواری (ص۱۵۱)-
۲) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۱۰)-
۳) (قوله: البراء: الحدیث أخرجه مسلم (ج۲ص۱۳۸) کتاب الإمارة باب ثبوت الجنة للشهید رقم (٤٩١٤)-
٤) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب غسل الوجه بالیدین من غرفة واحدة-
۵) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الحیض باب الصلاة علی النفساء وسنتها-
۶) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب العلم باب من ترک بعض الاختیار...-
۷) (کشف الباری (ج۲ص۳۷۰-۳۷۶)-
۸) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۱۱)-

حضرت عمروبن ثابت اشهلي رضي الله عنه: داعمرو بن ثابت بن وقيش بن زغبة بن زعوراء بن عبدالاشهل رضي الله عنه دې. كله كله به د نيكه طرف ته منسوب كيدو نو عمروبن وقيش به بللې شو د حضرت حذيفه بن يمان رضي الله عنه خورد هغه مور ده. اصرم يا اصيرم د هغه لقب دې. (۱)
ابن اسحاق په مغازى كښې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه په صحيح سند سره د حضرت عمرو بن ثابت واقعه نقل كړيده چه حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائيل ((أخبرني عن رجل دخل الجنة، ولم يصل صلاة؟)) چه ماته د داسې سړى باره كښې اوښايه چه جنت ته داخل شوى او هغه يو مونځ هم نه وى كړې بيا هم پخپله فرمائى ((هوعمروبن ثابت))(۲)
دغه شان ابن اسحاق د حصين بن محمد نه او هغه د محمودبن لبيدنه روايت كوى چه حضرت عمرو بن ثابت رضي الله عنه د اسلام نه منكر وو، د جنګ احد په ورځ د اسلام حقانيت په هغه باندې ښكاره شونو هغه خپله توره راوچته كړه او قوم ته راغلو او په خلقو كښې ورننوتلو او ښه جنګ ئى اوكړو ترديې چه زخمى شو او پريوتلو. د هغه قوم چه كله هغه په زخمى حالت كښې په ميدان جنګ اوكتلو نو تپوس ئى اوكړو چه ته دلته څنګه؟ تا په خپل قوم باندې شفقت خوړلې راغلې يا په اسلام كښې د رغبت د وجه؟ نو حضرت عمرو بن ثابت رضي الله عنه اوفرمائيل په اسلام كښې د رغبت په وجه راغلې يم او ما د رسول الله ﷺ په ملګرتيا كښې جنګ كړې او چه د څه زخم وغيره لګيدل وو هغه اولګيدل. رسول الله ﷺ چه ټول احوال واوريدل نو وئى فرمائيل((إنه من أهل الجنة))(۳)
د((مقنع بالحديد)) معنى دا ده چه هغه پخپله اغوستې وه. (۴) دا د قناع نه دې او قناع هغه لوئ څادر ته وائى په كوم باندې چه ښځې خپل سر پټوى.(۵) خكه چه پخپله سر پټولې شى نو چه څوك ئى پخپله واغوندى هغه ته ((مقنع)) وائى.(۶)
اود دې معنى ((المتغطى بالسلاح)) هم ده. يعنى چه ټولو خپل ځانونه د وسلې په ذريعه پټ كړې وى.(۷)
او حافظ صاحب فرمائى چه دا د دې خبرې نه كنايه ده چه هغه خپل مخ په جنګى آلاتو باندې پټ كړې وو.(۸)

---

۱) (الإصابة (ج۲ص۵۲۶)-
۲) (حواله بالا وفتح البارى (ج۶ص۲۵)-
۳) (حواله بالا-
٤) (النهاية لابن الأثير (ج٤ص ١١٤) مادة قنع-
۵) (مختارالصحاح ص۵۵۳) مادة قنع-
۶) (النهاية (ج ٤ص ١١٤)-
۷) (حواله بالا-
۸) (فتح البارى (ج۶ص۲۵)-

((فقال: یارسول الله، أقاتل أو أسلم؟)): نو هغه اوونیل یا رسول الله! جنګ اوکړم که اسلام قبول کړم؟

قوله: قال: أسلم ثم قاتل: فأسلم ثم قاتل فقتل: رسول الله ﷺ اوفرمائیل اسلام قبول کړه بیا جنګ کوه. نو هغه سړی اسلام قبول کړو بیا ئې جنګ اوکړو او شهید شو.
نبی کریم ﷺ اول هغه سړی ته د اسلام قبلولو اوونیل ځکه چه د اعمالو قبلیدودارومدار په ایمان باندې دې. نو هغه اسلام قبول کړو او جهاد کښې شریك شو، تردې چه شهید شو. په مخ قبل کښې د ابن اسحاق رحمه الله په حواله سره دا خبره راغلې ده چه دا د غزوه احد واقعه ده.

قوله: فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: عمل قلیلاً وأجر کثیرا: رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هغه خو عمل لږ اوکړو خو هغه ته پرې اجر ډیر ملاؤشو. علامه مهلب رحمه الله فرمائی چه په حدیث شریف کښې د دې خبرې دلیل دې چه الله تعالی په لږ شان عمل باندې هم ډیر اجرورکوی اوداالله تعالی په خپلو بندیګانو باندې احسان او مهربانی ده. (۱)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت ((أسلم، ثم قاتل، فأسلم ثم قاتل)) کښې دې. هغه غزوه کښې د شرکت نه اول نیك عمل اوکړو بلکه افضل الاعمال یعنی اسلام ئې اختیارکړو اود اسلام قبولولو نه پس ئې جهاد اوکړو. (۲)

تنبیه علامه عینی (۳) او علامه عبدالغنی نابلسی رحمه الله (۴) په حدیث باب کښې د امام بخاری رحمه الله د افرادو نه شمیرکړیدې. علامه عینی فرمائی ((والحدیث من إفراده)) چه د دې روایت تخریج کښې امام بخاری متفرد دې لیکن څنګه چه په تخریج کښې تیرشو دا حدیث صحیح مسلم (کتاب الامارة باب ثبوت الجنة) کښې هم موجود دې(۵)
دغه شان علامه نووی رحمه الله په ریاض الصالحین کښې حدیث باب ذکر کړیدې اوفرمائیلی دی((متفق علیه وهذا لفظ البخاری))(۶) نود حدیث باب متعلق دا وینا چه دې د بخاری د افرادو نه دې صحیح نه معلومیږی.

۱۳- باب: مَنْ أَتَاهُ سَهْمٌ غَرْبٌ فَقَتَلَهُ

د ترجمة الباب مقصد د ترجمة الباب مقصد دا وهم لرې کول دی چه که چرې په میدان جنګ کښې د جنګ په دوران کښې مړشی او دا معلومه نشی چه د چا په غشی لګیدلې دې، د مسلمان په غشی یا د کافر، نو امام بخاری رحمه الله دا مذکوره ترجمه او حدیث باب ذکر

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۰۶)-
۲) (شرح ابن بطال (ج۵ص ۲٤)-
۳) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۰۶)-
٤) (ذخائر المواریث فی الدلالة علی مواضع الحدیث (ج۱ص۱۲۲)-
۵) (صحیح مسلم (ج۲ص۱۳۸) رقم (۳۹۱۳-۳۹۱٤)-
۶) (ریاض الصالحین (ص ۳۹٤) کتاب الجهاد رقم (۱۳۱۰)-

کولوسره د دې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چه د جنګ مړشوې شهید دې سره د دې چه قاتل نامعلوم وی.(۱)

[۲۶۵۴] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَبُو أَحْمَدَ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ(۲) أَنَّ أُمَّ الرُّبَيِّعِ بِنْتَ الْبَرَاءِ وَهِيَ أُمُّ حَارِثَةَ بْنِ سُرَاقَةَ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ أَلَا تُحَدِّثُنِي عَنْ حَارِثَةَ وَكَانَ قُتِلَ يَوْمَ بَدْرٍ أَصَابَهُ سَهْمٌ غَرْبٌ فَإِنْ كَانَ فِي الْجَنَّةِ صَبَرْتُ وَإِنْ كَانَ غَيْرَ ذَلِكَ اجْتَهَدْتُ عَلَيْهِ فِي الْبُكَاءِ قَالَ يَا أُمَّ حَارِثَةَ إِنَّهَا جِنَانٌ فِي الْجَنَّةِ وَإِنَّ ابْنَكِ أَصَابَ الْفِرْدَوْسَ الْأَعْلَى [۶۱۹۹، ۶۱۸۳، ۳۷۶۱]

تراجم رجال

۱- محمد بن عبدالله: په دې کښې د بخاری شریف د شارحینو اختلاف دې چه دلته په سندکښې محمدبن عبدالله نه څوک مراد دې. علامه کرمانی رحمه الله خودا فرمائیلی چه دا محمدبن یحیی بن عبدالله الذهلی رحمه الله او امام بخاری رحمه الله هغه دلته نیکه طرف ته منسوب کړیدې.یعنی محمدبن عبدالله. او هغه محمدبن یحیی بن عبدالله دې.(۳)
اوکلاباذی هم په دې جزم کړیدې.(۴)

اود ابوعلی بن السکن په روایت کښې دی: ((حدثنا محمدبن عبدالله بن المبارک المخرمی))
دینه معلومیږی چه دا بل څوک راوی دې. اوس که چرې ابن السکن د خپل طرف نه دا نسبت بیان کړی دې نو د دې هیڅ اعتبار نشته ګنی نو معتبر دې. هم دا روایت ابن خزیمه په خپل صحیح کښې (کتاب التوحید) کښې ((محمد بن یحیی الذهلی عن حسین بن محمد وهو المروزی)) په طریق سره نقل کړی دی.
نوکه مراد چرته محمدبن یحیی بن عبدالله الذهلی دې نو د ده حالات ((کتاب العیدین باب التکبیرأیام منی وإذا غدا إلی عرفة)) لاندې تیرشوی دی.
اوکه مراد ترینه محمد بن عبدالله بن المبارک المخرمی دې نو په ذیل کښې د هغه مختصر تذکره نقل کولې شی. دا حافظ محمد بن عبدالله بن المبارک القرشی المخرمی رحمه الله دې، ابو جعفرد هغه کنیت دې او د حلوان قاضی وو(۵)

---

۱) (الأبواب والتراجم للکاندهلوی (ص۱۹۵)-
۲) (قوله: أنس بن مالک رضی الله عنه: الحدیث أخرجه البخاری أیضاً (ج۲ص۵۶۷) کتاب المغازی باب فضل من شهد بدرا رقم (۳۹۸۲) و(ج۲ص۹۷۰و۹۷۲) کتاب الرقاق باب صفة الجنة والنار رقم (۶۵۵۰) و(۶۵۶۷) والترمذی(ج۲ص۱۵۱) أبواب تفسیر القرآن باب ومن سورة المؤمنون رقم (۳۱۷٤)-
۳) (شرح الکرمانی(ج۱۲ص۱۱۱)-
٤) (عمدة القاری ج ١٤ص۱۰۶)-
۵) (تهذیب الکمال (۲۵ص۵۳٤)-

د ۱۷۰ھ نه پس د هغوی ولادت شویدې. (۱)
دوی د ابومعاویه الضریری، یحیی القطان، ابن مهدی، ابوعامر العقدی، ابواسامه، اسحاق بن یوسف الازرق، حسن بن موسی الاشیب، شبابة بن سوار ، اسود بن عامرشاذان، زکریا بن عدی، صفوان بن عیسی، معلی بن منصور الرازی، حجیین بن المثنی، ابونوح عبدالرحمن بن غزوان، یحیی بن سوسف، یزیدبن هارون، حسین بن محمدبن بهرام او یعقوب بن ابراهیم بن سعد رحمهم الله واغیره نه روایت کوی.
او د هغوی نه د حدیث روایت کونکوکښې امام بخاری، ابوداؤد، نسائی، ابوحاتم، ابراهیم الحربی، یعقوب بن سفیان، ابن خزیمه، ابن بجیر، ابن ابی الدنیا، عبدالله بن محمد الفرهیانی، محمد بن محمدبن سلیمان باغندی، یحیی بن محمدصاعد او حسین بن اسماعیل محاملی رحمهم الله وغیره شامل دی.(۲)
عبدالله بن احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه ماته زما والدصاحب اوونیل آیا تا د ((عبیدالله عن نافع عن ابن عمر رضی الله عنهما)) دا حدیث ((کنا نغسل المیت منا یغتسل، ومنا من لایغتسل)) مونږ مړی ته غسل ورکولو نو په مونږ کښې به چاروستو غسل کولو او چا به نه کولو) لیکلې دې؟ ما ونیل چه نه. هغوی اوفرمائیل چه د مخرم طرف ته یو خوان دې چاته چه محمد بن عبدالله ونیلې شی او هغه دا حدیث د ((ابوهشام المخزومی عن وهیب)) په طریق سره نقل کړیدې، د هغه نه هغه حدیث اولیکه.(۳)
ابوبکر الباغندی رحمه الله فرمائی ((کان حافظا متقنا))(۴)
نصربن احمدبن نصر رحمه الله فرمائی ((کان محمدبن عبدالله المخرمی من الحفاظ المتقنین المأمونین))(۵)
عبدالرحمن بن ابوحاتم رحمه الله فرمائی ((کتب أبی عنه، وهو صدوق ثقة، سئل أبی عنه، فقال: ثقة ثقة))(۶)
امام دارقطنی رحمه الله فرمائی ((ثقة کان حافظا))(۷)
یو ځل امام علی بن المدینی رحمه الله بغداد ته تشریف راوړو نو خلق د هغه نه ګیرچاپیره راجمع شو. بیا چه کله یول لاړل نو علی بن المدینی تپوس اوکړو ((من وجدت أکیس القوم؟ فقال: هذا الغلام المخرمی))(۸)

---

۱) (سیر أعلام النبلاء (ج۱۲ص۲۶۵)-
۲) (د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ تهذیب الکمال (۲۵ص ۵۳۴-۵۳۶)-
۳) (تهذیب الکمال (ج۲۵ص۵۳۶)-
٤) (حواله بالا-
۵) (حواله بالا-
۶) (تهذیب التهذیب (ج۹ص ۱۲۱)-
۷) (حواله بالا وقال أیضا: ثقة مأمون. تعلیقات تهذیب الکمال (ج۲۵ص۵۳۷)-
۸) (سیر أعلام النبلاء (ج۱۲ص۲۶۷)-

ابن حبان رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كړيدې.(۱)

امام نسائى رحمه الله فرمائى ((ثقة)) (۲)

نور فرمائى ((كان أحد الثقات ما رأينا بالعراق مثله))(۳)

ابن عدى رحمه الله فرمائى ((كان حافظا))(۴)

مسلمه بن قاسم رحمه الله فرمائى ((كان أحد الثقات جليل القدر))(۵)

ابن ماكولا رحمه الله فرمائى ((كان ثبتا عالما))(۶)

امام ذهبى رحمه الله فرمائى((من أئمة الأثر))(۷)

دا د صحيح بخارى ابوداود او نسائى راوى دې. (۸)

د دوى په كال ۲۵۳ھ كښې انتقال شوې دې.(۹) رحمه الله رحمة واسعة.

۲- حسين بن محمد بن بهرام تميمى: دا حسين بن محمدبن بهرام تميمى مروزى مؤدب رحمه الله دې.(۱۰)

ابواحمد د هغه كنيت دې.[11] لكه چه په سندكښې هم ذكر دى، د بغداداوسيدونكې وو.[12] هغه د اسرائيل، جرير بن حازم، ابوغسان محمد بن مطرف، شيبان النحوى، ابن ابى ذئب، مبارك بن فضالة، ايوب بن عتبه، خلف بن خليفه، شريك النخعى او ابواويس المدنى رحمهم الله وغيره نه د حديث روايت كوى. اود هغه نه روايت كونكو كښې امام احمدبن حنبل، احمدبن منيع، ابراهيم سعيد الجوهرى، عبدالرحمن بن مهدى، چه دهغه نه ډير وړاندې وفات شوې وو، ابوخيثمه، محمد بن رافع، يحيى ،ابن ابى شيبة، ذهلى ابراهيم حربى، اسحاق حربى، محمد بن عبدالله بن مبارك او عباس الدورى رحمهم الله وغيره شامل دى. (۱۳)

---

۱) (الثقات لابن حبان(ج۹ص۱۲۱)-
۲) (تهذيب الكمال (ج۲۵ص۵۳۷)-
۳) (تهذيب التهذيب (ج۹ص۲۷۳)-
٤) (تهذيب التهذيب (ج۹ص۲۷۳)-
۵) (تهذيب التهذيب (ج۹ص۲۷۳)-
۶) (حواله بالا (ص۲۷٤)-
۷) (الكاشف (ج۲ص۱۸۹)-
۸) (حواله بالا-
۹) (حواله بالا، وسير أعلام النبلاء (ج۱۲ص۲۶۷)-
۱۰) (تهذيب الكمال(ج۶ص٤۷۱)-
۱۱) (طبقات ابن سعد(ج۷ص۳۳۸)-
۱۲) (تهذيب الكمال (ج۶ص٤۷۱)-
۱۳) (شيوخ او تلامذه د پاره اوګورئ تهذيب الكمال (ج۶ص٤۷۱-٤۷۲)-

ابن سعد رحمه الله فرمائی: ((کان ثقة))(۱)
امام نسائی رحمه الله فرمائی ((لیس به بأس)) (۲)
معاویه بن صالح الدمشقی رحمه الله فرمائی ((قال لی أحمد بن حنبل: اکتبوا عنه، جاء معی إلیه، وسأله أن یحدثنی))(۳)
ذهبی رحمه الله فرمائی ((وکان یحفظ)) (۴)
سبط بن العجمی رحمه الله فرمائی ((ثقة))(۵)
ابن قانع رحمه الله فرمائی ((وهو ثقة))(۶)
ابن وضاح رحمه الله فرمائی ((سمعت محمد بن مسعود یقول: حسین بن محمد ثقة وسمعت ابن نمیر یقول: حسین بن محمد بن بهرام صدوق))(۷)
خو ابوحاتم رحمه الله او دَ هغوی په تقلیدکښې ابن الجوزی رحمه الله حسین بن محمد بن بهرام مجهول ګرځولې.حافظ ذهبی رحمه الله (میزان الاعتدال)کښې فرمائی((مجهول، کذا قاله أبوحاتم))(۸)
دَ دې وجه دا شوه چه ابن ابی حاتم (الجرح والتعدیل) کښې یوطرف ته حسین بن محمد ذکر کړې نو بل طرف ته حسین بن محمد المروزی البغدادي التمیمی المعلم او حسین بن محمد بن بهرام په مینځ کښې فرق کړیدې او دَ اول باره کښې لیکلی دی ((سمعت أبي یقول: أتیته مرارًا بعد فراغه من تفسیر شیبان وسألته أن یعید علیّ بعض المجلس فقال: بکر، بکر، ولم أسمع منه شیئا)) یعنی ماد خپل پلار نه اوریدلی دی چه څوځل دَ هغوی تفسیر شیبان نه اوزګاریدونه پس هغوی له لاړم، هغوی ته مې درخواست اوکړو چه مجالسِ تفسیر نه بعض ماته دوباره شروع کړه نو (هغوی هرځل همدغه)اوونیل چه سحر راشه او دَ هغوی نه ما هیڅ واونریده.
او دَ دوئم باره کښې لیکلی دی(وسمعته یقول: هو مجهول))لیکن واقعه داده چه دا دواړه حضرات هم یودی لیکن ابوحاتم هغوی اونه پیژندلې شوپه دې وجه نی مجهول اوګرځول.(۹)
دې دَ اصول سته راوی دې. (۱۰)

---

۱) (طبقات ابن سعد(ج۷ص۳۳۸)-
۲) (تهذیب الکمال (ج۶ص۴۷۳)-
۳) (حواله بالا-
٤) (الکاشف (ج۱ص۳۳۵)-
۵) (حواله بالا (حاشیةسبط ابن العجمی علی الکاشف)-
۶) (تهذیب الکمال (ج۲ص۳۶۷)-
۷) (حواله بالا-
۸) (میزان الاعتدال (ج۱ص۵٤۷) وتعلیقات تهذیب الکمال (ج۶ص ٤۷٤)-
۹) (تعلیقات تهذیب الکمال (ج۶ص۴۷۳-٤۷٤) وتهذیب التهذیب ی(ج۲ص۳۶۷)-
۱۰) (الکاشف (ج۱ص۳۳۵)-

په کال ۲۱۳ھ یا ۲۱۴ باندې وفات شو. (۱)

۳- شیبان: دا ابومعاویه شیبان بن عبدالرحمن رحمه الله دې. (۲)

۴- قتاده: دا قتاده بن دعامه سدوسی رحمه الله دې

۵- انس بن مالک رضی الله عنه: دا مشهورصحابی حضرت انس بن مالک رضی الله عنه دې. دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب من الإیمان أن یحب....)) لاندې راغلی دی. (۳)

قوله: أن أم الربیع بنت البراء وهی أم حارثة بن سراقة أتت النبی صلی الله علیه وسلم: حضرت انس بن مالک فرمانی چه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت اقدس کښې ام الربیع بنت البراء چه دَ حارثه بن سراقه مور وه تشریف راوړو.

یواهمه تنبیه: دبخاری شریف په ټولونسخوکښې ((ام الربیع بنت البراء)) راغلی دی لیکن دا وهم دې په دې باندې حافظ شرف الدین دمیاطی رحمه الله وغیره تنبیه کړیده او فرمائیلی دی چه صحیح ((ام حارثة بن سراقة بن الحارث بن عدی...)) ده. او ام حارثه ربیع بنت النضر ده کومه چه دَ حضرت انس رضی الله عنه ترور وه، دَ دې دَپاره ربیع نه اول ((ام)) لفظ صحیح نه دی. (۴)

دونم وهم په روایت کښې ربیع بنت البراء وینا ده. او صحیح بنت النضر دې ځکه چه ربیع بنت النضر رضی الله عنها په نسب کښې یوهم براء نومې سړې نشته دې. کیدیشی دا لفظ ((ربیع عمة البراء)) دې او براء بن مالک حضرت انس بن مالک رضی الله عنه رور دې او دا دواړه دَ حضرت ربیع بنت النضر رضی الله عنها اوریرونه دی. (۵)

همدغه روایت امام ترمذی رحمه الله هم دَ سعید بن ابی عروبة عن قتادة په طریق سره نقل کړیدې. فرمائی ((عن أنس أن الربیع بنت النضر أتت النبی صلی الله علیه وسلم وکان ابنها حارثة بن سراقة أصیب یوم بدر....))(۶)

دَ مذکوره روایت نه معلومه شوه چه صحیح ربیع بنت النضر دې نه چه ام الربیع بنت البراء. دې نه علاوه ابن الاثیر الجزری رحمه الله هم فرمائی چه انساب، مغازی او اسماء الصحابة کتابونه هم په دې دلالت کوی چه ام حارثه ربیع بنت النضر عمة انس رضی الله عنها ده. (۷)

---

۱) (حواله بالا. والکامل لابن الأثیر (ج۵ص۲۱۹)-
۲) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب العلم باب کتابة العلم-
۳) (کشف الباری (ج۲ص۳-۴)-
٤) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٠٧ وفتح الباری (ج۶ص۲۶)-
۵) (فتح الباری (ج۶ص۲۶)-
۶) (الجامع للترمذی (ج۲ص۱۵۱) أبواب تفسیر القرآن باب ومن سورة المؤمنون رقم(۳۱۷٤)-
۷) (أسد الغابة (ج۷ص۱۰۹) اودَ هغوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الصلح باب الصلح فی الدیة-

قوله: حارثه بن سراقه رضي الله عنه: دا حارثه بن سراقه بن الحارث بن عدى الانصارى النجارى رضي الله عنه دې. د هغه مور د حضرت انس رضي الله عنه ترور ربيع بنت النضر رضي الله عنها ده. (۱)

دې د بدر په ورځ شهيد شوې وو، امام احمد، طبراني، بخارى، نسائي، ترمذى رحمهم الله د ټولو اتفاق په دې دې چه دې په بدر کښې شهيد شوې. او ابن اسحاق موسى بن عقبه او ابوالاسود هم دې په صحابه کرامو کښې شميرلې چه کوم په بدر کښې شريك شوى او هم هلته شهيدان شوى هم دى، او د اهل مغازى په دې کښې اختلاف نشته. (۲)

ليکن د ابن منده رحمه الله قول دا دې چه دې په احد کښې شهيد شوې. (۳)

او د هغه په دې قول باندې ابونعيم اصفهانى رحمه الله د خپل عادت موافق سخت رد کړيدې.(۴)

بهرحال رومبې قول صحيح دې لکه چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى ((والمعتمد الأول (۵)

قوله: فقالت: يانبى الله، ألاتحدثنى عن حارثة وكان قتل يوم بدر أصابه سهم غرب فإن كان فى الجنة صبرت: نو حضرت ربيع بنت النضر رضي الله عنها اووئيل اې د الله نبى! ايا تاسو به ماته د حارثه باره کښې نه ښايئى؟ او حارثه د بدر په ورځ شهيد شوې وو چه هغه د ځا نامعلومه سرې په غشى لګيدلې ووکه هغه په جنت کښې وى نوزه به صبر اوکړم.

((سهم غرب)) کښې غرب يا خو د سهم صفت دې يا د دې مضاف اليه دې. (۶)

او د دې معنى ابن بطال رحمه الله د ابوعبيده رحمه الله نه دا نقل کړيده. ((يقال: سهم غرب: إذاكان لايعلم من رماه)) چه کله د غشى ويشتونکى علم نه وى چه چاويشتلې دې نوونيلې شى سهم غرب.(۷)

او د ابوزيد رحمه الله نه روايت دې ((قال: سهم غرب —ساكنة الراء— إذا أتاه من حيث لايدرى وسهم غرب —بفتح الراء— إذا رماه فأصاب غيره)).(۸)

يعنى چه ((غرب)) د راء په سکون سره وى نو معنى به دا وى چه کله څوك په نامعلومه غشى اولګى اوکه د راء په فتح سره وى نومعنى به داوى چه غشى د يود پاره اولى اولګى بل چاته.

قوله: وإن كان غير ذلك اجتهدت عليه فى البكاء: او که د دې نه علاوه بله څه خبره وى نو زه به په دې باندې ښه اوژاړم.

---

۱) (الإصابة (ج۱ص۲۹۷)-
۲) (الإصابة (ج۱ص۲۹۷)-
۳) (حواله بالا-
۴) (حواله بالا-
۵) (الإصابة (ج۱ص۲۹۷)-
۶) (شرح الكرمانى(ج۱۲ص۱۱۱)-
۷) (شرح ابن بطال (ج۵ص۲۵)-
۸) (شرح ابن بطال (ج۵ص۲۵)-

امام ترمذی رحمه الله همدغه روايت نقل كړيدې. او په دې كښې ((اجتهدت عليه في الدعاء))(۱) واقع شويدى. ليكن دا غلطه ده او صحيح روايت هم دَ باب دې يعنى ((في البكاء)) (۲)

حديث باب نه دَ علامه خطابى دَ ژړا په جواز باندې استدلال اودَ هغې جواب علامه خطابى رحمه الله دَ حديث باب نه دَ نوحه(ژړا) په جواز باندې استدلال كړيدې. هغوى فرمائى :((وفيه أنه لم يعنفها على قولها: اجتهدت عليه في البكاء)) (۳)

حافظ ابن حجر او علامه عينى رحمهما الله په هغوى باندې رد كولو سره ليكى چه دا تحريم دَ نوحه نه وړاندې واقعه ده ځكه چه نوحې حرمت دَ غزوه احد نه پس دې او دا دَ غزوهٔ بدر واقعه ده نو په دې وجه دا مذكوره استدلال صحيح نه دې. (۴)

ليكن علامه قسطلانى رحمه الله دَ دې دواړو حضراتو اعتراض او جواب ردكولو سره وائى چه دَ دوى په دې خبره كښې نظردې چه مخفى نه دې ځكه چه حارثه رضي الله عنها ((اجتهدت عليه في النوح)) نه دى وئيلى بلكه ((اجتهدت عليه في البكاء)) وئيلى او اجتهاد فى البكاء نه نوحه لازم نه دهٔ. په نوحه او بكاء كښې لوئ فرق دې، دَ نوحې مطلب خو دا دې چه وينا كوى او ژاړى. اودَ بكاء وجه خودا وى چه سرې خفه شى نو دَ ده دَ خُلې نه آواز اوځى. چغه هم اوځى او دا ناجائز نه دى، او دا بكاء ده نوحه نه ده. علامه قسطلانى رحمه الله نورفرمائى چه دَ علامه خطابى رحمه الله مذكوره قول نه دې دواړو حضراتو چه كوم استدلال كړې او دَ هغې چه كوم مفهوم بيان كړيدې، هغه هم صحيح نه دې ځكه چه هغوى ((لم يعنفها على قولها)) په ذريعه په حديث كښې ذكرشوې بكاء طرف ته اشاره كړيده او په دې خبره كښې هيڅ شك نشته چه په مړى باندې دَ خبنولو نه وړاندې اودَ هغې نه پس په دواړو وختونوكښې ژړا په اتفاق سره جائز ده. (۵)

قوله: قال: يا أم حارثة إنها جنان في الجنة وإن ابنك أصاب الفردوس الأعلى: رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل اې ام حارثه په جنت كښې ډير باغونه دى او ستاځوئ خو د فردوس اعلى ته رسيدلې دې.

"انها" **ضميركښې احتمالات:** ((إنها)) كښې چه كوم ضمير دې هغه ضمير مبهم دې او دَ دې تفسير دَ مابعد په قول كښې دى لكه چه عرب وائى ((هي العرب تقول ماتشاء))(۶) نو په دې مثال كښې((هي)) ضمير مبهم دې،دَدې تفسيردَ مابعد په كلمه يعنى((العرب)) كوى چه ((هي))

---

۱) (الجامع للترمذى (ج۲ص۱٥۱) أبواب تفسير القرآن باب ومن سورة المؤمنون رقم (۳۱۷٤)-
۲) (عمدة القارى (ج١٤ص۱۰۷)-
۳) (اعلام الحديث (ج۲ص۱۳۶۲)-
٤) (فتح البارى (ج۶ص۲۷)-
٥) (شرح الكرمانى (ج۱۲ص۱۱۲) وأيضًا انظر موسوعة النحووالصرف والأعراب (٤۲۹)بحث الضمير-
۶) (شرح القسطلانى (ج٥ص٤۸)-

نه مراد ((العرب)) دي دغه شان ((إنها)) چه کوم ضمير دې د هغې تفسير د مابعد په کلمه يعنى ((جنان)) کوى

اودا هم کيدېشي چه ضميرشان وى او جنان مبتداء وى او د دې تنکير تعظيم د پاره وى.(۱)

علامه عينى رحمه الله نقل کړى دى چه کله رسول الله ﷺ ام حارثه رضي الله عنها ته دا خوشخبرى واورولو نو حضرت ام حارثه رضي الله عنها په دې حالت کښې د هغه ځائ نه واپس شوه چه خندل نى او فرمائيل ني ((بخ بخ لك ياحارثه))(۲)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حديث باب ترجمة الباب سره مناسبت بالکل واضح دې چه ترجمه کښې ((سهم غرب)) ذکر دې او په حديث باب کښې هم د ((سهم غرب)) ذکر موجود دې.

۱۵- بَاب: مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا

اختلاف نسخ: دلته کښې د صحيح بخارى په ټولو نسخوکښې د باب نه اول بسمله هم ذکر ده او د ابوذر په نسخه کښې بسمله ساقط ده. (۳)

ماقبل سره مناسبت: په تيروشوو بابونوکښې په مختلفو طريقوسره د شهيد فضيلت او مرتبې بيان کړى شوى دى او په دې باب کښې د حقيقى شهيد نښې بيانولې شى چه حقيقى شهيد هغه دې د چا قتال چه د کلمة الله د اعلاء د پاره وى نو هله به هغه مرتبې او فضيلتونه حاصل کړيشى د کوم چه شهيد سره وعده کړيشويده گنى نو هيڅ نه.

د ترجمة الباب مقصد: د ترجمة الباب مقصد د اعلاء کلمة الله د پاره قتال کونکى فضيلت بيانول دى او د شرط جزاء محذوف ده يعنى ((فهوالمعتبر)) که قتال د الله تعالى د کلمې د اعلاء د پاره وى نو معتبر به وى. (۴)

[۲۶۵۵] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(۵) قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلذِّكْرِ وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ فَمَنْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ قَالَ مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ [ر: ۱۲۳]

---

۱) (عمدة القارى (ج۱٤ص۱۰۷)-

۲) (حواله بالا-

۳) (شرح القسطلانى (ج۵ص٤۸)-

٤) (فتح البارى (ج۶ص۲۸)-

۵) قوله: عن أبى موسى رضى الله عنه: الحديث مرتخريجه فى كتاب العلم باب من سأل وهو قائم عالماجالسا

تراجم رجال

۱- سلیمان بن حرب: دا ابوایوب سلیمان بن حرب رحمه الله دې. دَ دوی تذکره ((کتاب الإیمان باب من کره أن یعود فی الکفر.....)) لاندې راغلی ده. (۱)

۲- شعبه: دا امیرالمؤمنین فی الحدیث شعبه بن حجاج عتکی بصری رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب المسلم من سلم المسلمون.....)) لاندې تیر شو. (۲)

۳- عمرو: دا عمرو بن مره بن عبدالله بن طارق همدانی رحمه الله دې. (۳)

۴- ابووائل: دا ابووائل شقیق بن سلمه رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب خوف المؤمن من أن یحبط.....)) ذیل کښې راغلی دی. (۴)

۵- ابوموسی: دا مشهور صحابی حضرت ابوموسی عبدالله بن قیس اشعری رضی الله عنه دې. دَ دوی تذکره ((کتاب الإیمان باب أی الإسلام أفضل؟)) لاندې تیره شویده. (۵)

قوله: قال: جاء رجل إلی النبی صلی الله علیه وسلم فقال: الرجل یقاتل للمغنم والرجل یقاتل للذکر والرجل یقاتل لیری مکانه فمن فی سبیل الله؟: حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه فرمائی چه نبی علیه السلام سره یو سړی راغلو نووئی وئیل سړې دَ غنیمت دَ پاره قتال کوی او سړې دَ مشهورتیا دَ پاره قتال کوی او سړې دَ خان خودلو دَ پاره جنګیږی نو دَ دوی نه فی سبیل الله څوک دې؟

رجل نه څوک مراد دې؟: دلته دَ باب په روایت کښې رجل راغلې دې او همدغه روایت ((غندر عن شعبة)) په طریق هم امام بخاری نقل کړی دی، په هغې کښې ((قال أعرابی)) دې (۶) اودا دَ اعرابی لاحق بن ضمیره په نوم یادولې شی. دَهغه حدیث ابوموسی المدینی (الصحابة) کښې عفیر بن معدان په طریق نقل کړیدې. او په دې کښې ((سمعت لاحق بن ضمیرة الباهلی قال: وفدت علی النبی صلی الله علیه وسلم، فسألته عن الرجل یلتمس الأجر والذکر، فقال: "لاشیء له"، وفی إسناده ضعف)) (۷)

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص۱۰۵)-
۲) (کشف البار(ج۱ص۶۷۸)-
۳) (دَ دوی حالاتو دَپاره اوګورئ کتاب الأذان باب تسویة الصفوف عند الإقامة وبعدها-
۴) (کشف الباری (ج۲ص۵۵۹)-
۵) (کشف الباری (ج۱ص۶۹۰)-
۶) (انظر الصحیح للبخاری (ج۱ص۴۴۰) کتاب فرض الخمس باب من قاتل للمغنم هل ینقص من أجره؟ رقم (۳۱۲۶)-
۷) (فتح الباری (ج۶ص۲۸)-

داسې روايت دَ حضرت معاذ بن جبل ﷺ نه هم نقل دې: ((عن معاذ بن جبل أنه قال: يارسول الله، كل بني سلمة يقاتل، فمنهم من يقاتل رياء....)) که چرته دا حديث صحيح وى نو دَ دې خبرې احتمال دې چه حضرت معاذ بن جبل ﷺ به همدغه سوال کړې وى کوم چه دې اعرابى اوکړو ځکه چه دَ حضرت معاذبن جبل ﷺ سوال خاص دې، يعنى په دې کښې دَ سوال تعلق بنوسلمه سره دې خودَ اعرابى سوال عام دې. او دا خوکيدې نشى چه حضرت معاذ بن جبل ﷺ ته اعرابى اووئيلې شى، په دې وجه مذکوره روايات په مختلفو قصو باندې محمول کولې شى.(۱)

رياء او سمعه دواړه مذموم دى: دَ باب په روايت کښې ((والرجل يقاتل ليرى مكانه)) واردشويدې اودَ اعمش عن ابى وائل په طريق کښې ((ويقاتل رياء)) راغلې دې. (۲) دَ باب روايت خو سمعه (شهرت) دې او دوئم روايت رياء سره متعلق دې ليکن بهر حال دواړه مذموم دى. (۳)

قوله: قال: من قاتل لتكون كلمة الله هى العليا فهو فى سبيل الله: نبى اکرم ﷺ فرمائيلى چا چه دَ دې دَ پاره قتال اوکړوچه دَ الله تعالى کلمه دې اوچته شى نو هغه في سبيل الله دې. ((كلمة الله)) نه مراد کلمه توحيد ده، نو چه کوم سړې دَ توحيد کلمې دَ سرلوړئى دَپاره جنګ کوى هغه مقاتل في سبيل الله دې نه چه دَ غنيمت. شهرت، بهادرئى او مراني غوښتونکې دې. (۴)

دَحديث باب دَ طرق مختلفه وَ حاصل: دَ حديث باب مختلف طرق وړاندې کيخودو سره دا خبره حاصليږى چه دَ قتال پنځه اسباب کيديشى.① دَ غنيمت طلب ② دَ بهادرئى ځرګندونه ③ ځان خودل ④ حميت ⑤ غضب. او په دې کښې هر يو سبب دَ مدح او ذم اړخ لرى. دَ دې دَ پاره نبى کريم ﷺ دَ سوال کونکى دَ سوال جواب په او يا نه کښې ورنه کړو بلکه دا ئې اوفرمائيل ((من قاتل لتكون كلمة الله هى العليا فهو فى سبيل الله)) (۵): چا جنګ چه دَ الله تعالى دَ کلمې دَ سرلوړئى دَ پاره وى هم هغه قتال في سبيل الله دې.

دَحضور ﷺ جواب جوامع الكلم نه دې: دَ حضور ﷺ پورته ذکر شوې جواب دَ بلاغت او ايجاز دَ اعلى پيمانې حامل دې او دا جمله دَ جوامع الكلم نه ده. ځکه چه که هغوى ﷺ دَ سوال کونکى دَ ذکر شوى امورو جواب ورکولو چه هغه په في سبيل الله کښې داخل نه دى نودَ دې خبرې احتمال وو چه دَ هغوى نه علاوه قتال که دَ څه بل څه دَ سبب نه وى نو هغه

---

۱) (حواله بالا-
۲) (انظر الصحيح للبخارى(ج۲ص۱۱۱۱) كتاب التوحيد باب قوله تعالى:﴿ولقد سبقت كلمتنا لعبادنا المرسلين﴾رقم (۷۴۵۸)-
۳) (فتح البارى(ج۶ص۲۸)-
۴) (شرح الكرمانى(ج۱۲ص۱۱۳)-
۵) (فتح البارى (ج۶ص۲۸)-

في سبيل الله دې خو داسې څه خبره نشته. د دې دپاره هغوی ﷺ جامع او مانع جمله اختيار اوفرمائيله او په جواب کښې ئې د ماهيت قتال نه د مقاتل د حال طرف ته عدول اوکړو.(۱)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره د حديث باب مناسبت بالکل واضح اوظاهر دې.اودا مناسبت دحضور ﷺ دې قول((من قاتل لتکون کلمة الله هي العليا))کښې دې.(۲)

۱۶-بَاب: مَنْ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

ماقبل سره مناسبت: تيرشوی باب کښې د هغه سړی د فضيلت ذکر وو چه خالص د اعلاء کلمة الله د پاره جهاد اوکړی او په دې باب کښې د الله تعالی په لارکښې د قدمونو په خاورو ککړيدو فضيلت ذکر دې.

دترجمة الباب مقصد: دترجمة الباب مقصد واضح دې چه په دې کښې امام بخاری رحمه الله قتال في سبيل الله کښې د قدمونو په خاورو ککړيدو فضيلت بيانوی.

اود قدمونو په خاورو د ککړيدو مطلب د کافرانو سره په جنګ ورخنيدل دی او په دې خبره کښې هيڅ شك شبه نشته چه د خلقو په خپل مينځ کښې جنګ کولو سره خاورې الوزی او دا دوړې سره د دې چه په ټولو اندامونو پريوځی خود قدمونو د خاص کولو وجه دا ده چه په ټولو حرکتونوکښې هم قدم اصل. ښکلې او عمده وی.(۳)

قوله: وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ إِلَى قَوْلِهِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ: [التوبة:۱۲۰]

د آيت ترجمه: د الله تعالی قول دې د مدينې خلقو ته او کوم چه د هغوی خاوښا اوسيږی د هغوی دپاره دا ښه نه وو چه د رسول الله ﷺ ملګرتيا اونه کړی او نه دا ښه وو چه خپل ځان د هغوی د ځان نه خوښ اوګنړی، دا د دې سبب نه دی چه هغوی ته د الله تعالی په لار يعنی جهاد کښې کومه تنده اولګيده او کومه کمزوری اورسيده او چه کومه اولږه اوشوه او چه کوم تګ ئې اوکړو اود کافرانو د پاره د غصې سبب شو او د دښمنانو ئې چه کوم خبر واخستو په هغه ټولو باندې د هغوی په نوم يوه

يوه نيکی اوليکلې شوه يقيناً الله تعالی د نيکوکارو اجر نه ضائع کوی. (۴)

د آيت ترجمة الباب سره مطابقت: علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه د آيت ترجمة الباب سره مطابقت د آيت په دې جز کښې دې ﴿ولايطئون موطئا يغيظ الکفار ولاينالون من عدو نيلا إلا کتب لهم به عمل صالح﴾ نو حضور ﷺ د عمل صالح دا تفسير بيان کړلو چه د کوم سړی قدمونه د الله

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص۲۹)-
۲) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۰۸)-
۳) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۰۸) وشرح القسطلانی (ج۵ص۴۸)-
۴) (بيان القرآن (ج۱سورة التوبة. الآية:۱۲۰)-

تعالی په لاره کښې په دوزو ګرځی هغه به د دوزخ په اور نه لګی او دا د حضور ﷺ وعده ده او بشکاره خبره ده چه د هغوی وعده پخه ده. (۱)

او ابن المنیر رحمه الله فرمائی چه د آیت مطابقت ترجمه سره داسې دې چه الله تعالی د هغه په لاره کښې اوچتیدونکی قدمونوباندې هم د ثواب وعده کړیده سره د دې چه هغه قتال اونه کړی. (۲)

[۲۶۵۶] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُبَارَكِ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمْزَةَ قَالَ حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا عَبَايَةُ بْنُ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو عَبْسٍ (۳) هُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ جَبْرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا اغْبَرَّتْ قَدَمَا عَبْدٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ [ر: ۸۶۵]

تراجم رجال

۱- **اسحاق**: دا اسحاق بن منصور بن بهرام کوسج رحمه الله دې. د دوی تذکره ((کتاب الایمان باب حسن اسلام المرء)) لاندې تیرشو. (۴)

۲- **محمد بن المبارك**: دا ابوعبدالله محمد بن المبارك بن یعلی قرشی صوری قلانسی رحمه الله دې. ددمشق اوسیدونکې وو(۵)

په کال ۱۵۳ هـ کښې پیدا شوې وو. (۶)

هغه د معاویه بن سلام، عطاء بن مسلم الخصاف، صدقة بن خالد، یحیی بن حمزة الحضرمی، هشیم بن حمید الغسانی، اسمعیل بن عیاش، مالك، دراوردی، مغیرة بن عبدالرحمن الحزامی، عمرو بن واقد، عیسی بن یونس او ابن عیینه رحمهم الله وغیره نه د حدیث روایت کوی.

د هغوی نه د حدیث روایت کونکوکښې د هغوی ځوئ محمد، اسحاق بن منصور کوسج، عبدالله بن عبدالرحمن الدارمی، عبدالسلام بن عتیق، عمران بن بکار، محمد بن یحیی الذهلی، عبید الله بن فضاله، محمد بن عوف، محمدبن محمدبن مصعب الصوری، وحشی، محمدبن مصفی، علی بن عثمان نفیلی، احمد بن یوسف سلمی، عباس بن محمد ترقفی، ابوزرعه دمشقی، موسی بن عیسی بن المنذر رحمهم الله او نور حضرات هم شامل دی. (۷)

---

۱) (شرح ابن بطال (ج۵ص۲۶)-

۲) (التواری (ص۱۵۲)-

۳) (قوله: أبوعبس رضی الله عنه: الحدیث مر تخرجه فی کتاب صلاة الجمعة باب المشی إلی الجمعة-

۴) (کشف الباری (ج۲ص۴۲۰)-

۵) (تهذیب الکمال(ج۲۶ص۳۵۲)-

۶) (الثقات لابن حبان (ج۹ص۷۱)-

۷) (شیوخ او تلامذه د پاره اوګورئ تهذیب الکمال (ج۲۶ص۳۵۲-۳۵۴)-

ابوزرعه دَ وليد بن عقبه نه نقل كړى دى هغوى فرمائى: ((سمعت مروان بن محمد يقول: ليس فينا مثله، يعنى محمد بن المبارك)) (۱)

حضرت ابوزرعه رحمه الله فرمائى: ((شهدت جنازته فى شوال سنة خمس عشرة ومئتين، وصلى عليه أبو مسهر بباب الجابية، فلما فرغ أثنى عليه، وقال: يرحمه الله، فإنه..... فذكر جميلا)) (۲)

يحيى بن معين رحمه الله فرمائى: ((محمد بن المبارك شيخ الشام بعد أبي مسهر)) (۳)

امام ابوداوٗد رحمه الله فرمائى ((هذا رجل الشام بعد أبي مُسهر)) (۴)

عجلى او ابوحاتم رحمه الله ((ثقة)) (۵)

دارقطنى رحمه الله هم هغه ته ثقه وئيلى. (۶)

ابن شاهين رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كړيدې.(۷)

ابن حبان رحمه الله هم هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كړيدې او فرمائيلى: ((وكان من العُبّاد))(۸)

ابونعيم اصفهانى رحمه الله فرمائى ((ذو العقل الوافى، والورع الصافى، والبيان الشافى)) (۹)

علامه ذهبى رحمه الله هغه په دې جليل القدر الفاظو سره ياد كړيدې. ((الإمام، العابد، الحافظ، الحجة، الفقيه، مفتى دمشق)) (۱۰)

خليلى رحمه الله فرمائى ((ثقة))(۱۱)

ذهلى رحمه الله فرمائى ((كان أفضل من رأيت بالشام))(۱۲)

حافظ ذهبى رحمه الله نور فرمائى ((وثقه جماعة)) (۱۳)

دا دَ اصول سته راوى دې.(۱۴)

---

۱) (تهذيب الكمال (ج۲۶ص ۳۵۴)-
۲) (حواله بالا-
۳) (حواله بالا-
٤) (حواله بالا-
۵) (حواله بالا-
۶) (سنن الدار قطنى (ج۱ص ۳۲۰ وج۲ص ۱۸٤)-
۷) (تهذيب التهذيب (ج۹ص ٤۲٤)-
۸) (الثقات لابن حبان (ج۹ص ۸۱)-
۹) (حلية الأولياء (ج۹ص۲۹۸)-
۱۰) (سير أعلاالنبلاء (ج۱۰ص ۳۹۰)-
۱۱) (تهذيب التهذيب (ج۹ص ٤۲٤)-
۱۲) (حواله بالا-
۱۳) (تذكره الحفاظ (ج۱ص۳۸۷)-
۱٤) (الكاشف (ج۲ص ۲۱٤)-

او امام بخاری رحمه الله د ده نه صرف یو روایت اخستې دې.(١)
لکه چه نن د ابوزرعه رحمه الله په حواله سره اوس تیرشو. د هغه وفات کال ٢١٥ھ کښې شوې

رحمه الله تعالی رحمة واسعة.
تنبیه حافظ ابن حجر رحمه الله د هغوی باره کښې دحافظ ذهبی رحمه الله دا قول نقل کړیدې

((وأحادیثه تستنکر)) (٢)
لیکن دا غلط دی ځکه چه حافظ ذهبی د هغوی رحمه الله ترجمه (میزان الاعتدال) کښې اصلا هډو نقل کړي نه ده او په اصل کښې د هغه پورته ذکرشوې قول د محمد بن المتوکل العسقلانی باره کښې دې او حافظ صاحب ته دلته تسامح شویده.(٣)

فائده عبدالله بن محمد الدمشقی رحمه الله فرمائی: ((سمعت محمد بن المبارك یقول: ما آمن بالله من رجا مخلوقا فیما ضمن الله له)) (٤)یعنی د کوم څیز ضمانت چه الله تعالی ورکړیدې په هغې باندې چه چا د مخلوق نه امید اوساتلو نو هغه په الله تعالی باندې ایمان نه دې راوړې.
مطلب دا چه د انسان جمله ضروریاتو او حاجاتو ذمه الله تعالی اخستې ده. اوس که یو سړې د مخلوق نه د ضرورتونو د حاصلولو خواهش مند وی نو د هغه ایمان په الله تعالی باندې هډو دې نه. ځکه چه که د هغه په الله تعالی ایمان وې نو مخلوق نه به نې څېل امیدونه نه تړل.

٣- یحیی بن حمزة: دا ابوعبدالرحمن یحیی بن حمزه بن واقد حضرمی بلتهی رحمه الله دې.(٥)

٤- یزید بن ابی مریم: دا ابوعبدالرحمن یزید بن ابی مریم انصاری رحمه الله دې.

٥- عبایه بن رافع بن خدیج: دا عبایة بن رفاعة بن رافع بن خدیج انصاری رحمه الله دې.

٦- ابوعبس: دا ابوعبس عبدالرحمن بن جبر بن عمرو بن زید رضی الله عنه دې. (٦)

قوله: أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: ما اغبرتا قدما عبد فی سبیل الله فتمسه النار: حضرت ابوعبس عبدالرحمن بن جبر رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی چه د کوم یو سړی قدمونه د الله تعالی په لار کښې د دوړو شی نو د دوزخ اُور به په هغه نه لګی.

---

١) (سیر أعلام النبلاء (ج ١٠ص ٣٩١)-
٢) (تهذیب التهذیب (ج٩ص ٤٢٤)-
٣) (تعلیقات تهذیب الکمال (ج٢٦ص٣٥٥)-
٤) (حلیة الأولیاء (ج٩ص ٢٩٩)-
٥) (د هغوی د حالاتو دپاره اوګورئ کتاب الجنائز باب ماینهی من الحلق عندالمصیبة-
٦) (د دې دریواړو حضراتو د حالاتو دپاره اوګورئ کتاب الجمعة باب المشی إلی الجمعة-

حموی او مستملی په روایت کښې ((اغبرتا)) تثنیه سره دې. دا یو لغت دې اود نورو په نزد ((اغبرت)) دې او همدغه فصیح دی. (۱)

د الله تعالی په لارکښې د حرکاتو اوتصرفاتو عظمت د حدیث مطلب دا دې چه د دوړو په موجودګئی سره به نی د دوزخ اور نه سوزوی او په دې کښې د الله تعالی په لارکښې تصرفاتو او حرکاتو ته اشاره ده. لړه شان اندازه اولګونی چه صرف په قدمونو باندې د دوړو لګیدو په وجه د دوزخ اور حرامیږی نو د هغه سړی به څه مرتبه او فضیلت وی چا چه خپل پوره طاقت، قوت او کوشش د الله تعالی په لارکښې لګولې وی.(۲)

د حدیث باب هم معنی نوراحادیث ابن حبان رحمه الله د حضرت جابر رضی الله عنه نه د روایت باب د معنی په شان روایت نقل کړیدې. چه حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چه هغه په غزوه کښې وو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: ((من اغبرت قدماه فی سبیل الله حرمه الله علی النار)). حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چه کله خلقو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک واوریدو نو هغوی د خپلو خپلو سورلونه راکوزانګل او د دغه ورځ نه وړاندې مونږ خلق دومره پیدل تلونکی نه دی لیدلی. (۳)

دغه شان علامه طبرانی رحمه الله هم د حضرت ابوالدرداء رضی الله عنه نه مرفوعاً نقل کړی دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو((من اغبرت قدمه فی سبیل الله باعدالله منه النار مسیرة ألف عام للراکب المستعجل))(۴)

یعنی د چا قدم چه د الله تعالی په لار کښې د دوړو شو نو الله تعالی به د هغه نه د دوزخ اور دومره لرې کړی څومره چه د یو تیز سور د زرو کالو مسافت وی.

مطلب دا چه یو تیز رفتار سور به زرکاله کښې څومره فاصله کوی د هغې په اندازه به الله تعالی د دغه سړی نه د دوزخ اور لرې کړی د چا قدمونه چه د الله تعالی په لارکښې د دوړوشوې وی.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث شریف ترجمة الباب سره مناسبت ظاهر دې او هغه ((مااغبرتاقدماعبد....)) کښې دې.(۵)

۱۷- بَاب: مَسْحِ الْغُبَارِ عَنْ الرَّأْسِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

ماقبل سره ربط: په تیرشوی باب کښې د الله تعالی په لارکښې د قدمونو د دوړوکیدو د فضیلت ذکر وو. په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله دا خودل غواړی چه قدمونه کوم چه په دوړو ککړ شوی وی، د فضیلت څیز دې خود دې صفاکول جائز او مباح دی.

۱) (فتح الباری (ج۶ص۳۰) وشرح القسطلانی (ج۵ص۴۹)-
۲) (فتح الباری (ج۶ص۳۰)-
۳) (الإحسان بترتیب صحیح ابن حبان (ج۸ص۶۲)-
۴) (مجمع الزوائد للهیثمی (ج۵ص۲۸۵)-
۵) (عمدة القاری(ج۱۴ص۱۰۹)-

د ترجمة الباب مقصد علامه عینی رحمه الله فرمائی چه د امام بخاری رحمه الله مقصد دې ترجمې نه د سر نه د جهاد دوړو د مسح عدم کراهیت بیان دې. یعنې د الله تعالی په لارکښې په سر وغیره لګیدلې دوړې صفا کولو عدم کراهیت بیانول غواړي. (۱)

ابن المنير رحمه الله فرمائی چه په اسلام کښې بعضو حضراتو د اودس نه پس مسح بالمندیل مکروه او ناخوښه ګڼړله، د دې د پاره متبادرالی الذهن دا کیږی چه د جهاد آثار یعنې دوړې وغیره مسح هم ناخوښه اومکروه به وی نود دې وهم لرې کولو د پاره امام بخاری رحمه الله دا ترجمة الباب قائم کړو.(۲)

حافظ صاحب د ابن المنير رحمه الله د قول نور وضاحت کولو سره لیکی چه د جهاد آثارو او اودس آثارو کښې فرق په دې اعتبار سره دې چه نظافت مطلوب شرعی دې، غبار د آثار جهاد نه دی، نو چه کله جهاد ختم شونود هغې د آثار باقی ساتلو هیڅ معنی نشته. او د اودس نه مقصد مونځ دې نو دا مستحب پاتې شو چه د مقصود د حصول پورې آثار هم باقی پاتې کړیشی. دغه شان په دواړو مسحوکښې واضح فرق دې.(۳)

[۲۶۵۷] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ (۴) أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ لَهُ وَلِعَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ ائْتِيَا أَبَا سَعِيدٍ فَاسْمَعَا مِنْ حَدِيثِهِ فَأَتَيْنَاهُ وَهُوَ وَأَخُوهُ فِي حَائِطٍ لَهُمَا يَسْقِيَانِهِ فَلَمَّا رَآنَا جَاءَ فَاحْتَبَى وَجَلَسَ فَقَالَ كُنَّا نَنْقُلُ لَبِنَ الْمَسْجِدِ لَبِنَةً لَبِنَةً وَكَانَ عَمَّارٌ يَنْقُلُ لَبِنَتَيْنِ لَبِنَتَيْنِ فَمَرَّ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَسَحَ عَنْ رَأْسِهِ الْغُبَارَ وَقَالَ وَيْحَ عَمَّارٍ تَقْتُلُهُ الْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ عَمَّارٌ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللَّهِ وَيَدْعُونَهُ إِلَى النَّارِ [ر:۴۳۶]

تراجم رجال

۱- ابراهيم بن موسى: داابواسحاق ابراهیم بن یزید الفراء رازی تمیمی رحمه الله دې. (۵)

۲- عبدالوهاب: داعبدالوهاب بن عبدالمجید ثقفی رحمه الله دې. د دوی تذکره ((کتاب الإيمان باب حلاوة الإيمان)) لاندې راغلې ده.(۶)

۳- خالد: داخالدبن مهران حذاء رحمه الله دې.

۴- عکرمه: دا مشهورمفسر حضرت عکرمه مولی ابن عباس رحمه الله دې. د دې دواړو حضراتو تذکره ((کتاب العلم باب قول النبی صلی الله علیه وسلم....)) لاندې تیره شوه. (۷)

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱۴ص ۱۰۹)-
۲) (المتواری (ص ۱۵۳)-
۳) (فتح الباری (ج ۶ص ۳۰)-
۴) (قوله: عن عکرمة رحمه الله: الحدیث مر تخریجه فی کتاب الصلاة باب التعاون فی بناء المسجد-
۵) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الحیض باب غسل الحائض رأس زوجها-
۶) (کشف الباری (ج ۲ص ۲۶)-
۷) (کشف الباری (ج ۳ص ۳۶۱-۳۷۰)-

د- ابن عباس: دَ حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما حالات ((بدء الوحى)) څلورم حديث او ((كتاب الإيمان باب كفران العشير....)) لاندې راغلى دى.(۱)

دَ حديث ترجمه: حضرت عكرمه رحمه الله فرمائى ماته او حضرت على بن عبدالله ته حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوونيل چه حضرت ابوسعيدالخدرى رضي الله عنه له لاړشئ او دَ هغوى نه دَ هغوى حديث واورئ. نومونږ هغوى له راغلو هغه اودَ هغه رور په خپل باغ كښې وو او باغ ئې اوبه كولو. كله چه هغوى مونږ اوليدو نو دَ احتباء په صورت كيناستل او وئى فرمائيل چه دَ مسجد نبوى دَ تعمير په وخت مونږ به يوه يوه خښته اوچتوله او عمار به دوه دوه خښتې اوچتولې. نبى كريم ﷺ دَ هغه خواكې تيرشو او دَ هغه دَ سر نه ئى دوړې صفا كړې او وئې فرمائيل دَ عمار بې كسى دَ افسوس قابله ده، دې به يو باغى ډله قتل كوى، دې به هغوى دَ الله تعالى طرف ته راغواړى او هغوى به دې دوزخ طرف ته راغواړى.

دَ روايت باب دَ بعض اجزاء توضيح: په روايت كښې دَ على بن عبدالله نه مراد دَ حضرت ابن عباس خوئ على دې. (۲)

((فاحتبى)) دا دَ باب افتعال نه دى او احتباء معنى دا ده چه په سرين يعنى دَ كوناټو په سر كيناسته او زنګونونه ئى اودرول اودَ هغې نه چاپيره سهارا اخستلو دَ پاره دواړه لاسونه تړل يا دَ ملا او زنګونو نه چاپيره كپړه تړل. (۳)

((ويح)) كلمه دَ ترحم ده او فعل محذوف مفعول مطلق كيدو په بناء باندې منصوب دى. (۴)

دَ حضرت ابوسعيدالخدرى رضى الله عنه دا رور څوک دې؟: حافظ شرف الدين دمياطى رحمه الله دَ حديث باب په الفاظو اشكال كولوسره فرمائى چه دَ حديث الفاظ صحيح نه دى (وهوواخوه) ځكه چه دَ حضرت ابوسعيد الخدرى رضي الله عنه صرف هم يو نسبى رور قتاده بن النعمان الظفرى رضي الله عنه وو چه دَ دوى دَ شريكې مور نه پيدا شوې رور وو. خودَ هغوى وفات دَ حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دخلافت په زمانه كښې شوې وو، هغه وخت دَ على بن عبدالله بن عباس پيدائش هم نه وو شوې. ځكه چه هغه دَ حضرت على رضي الله عنه دَ دورخلافت په آخرى ورځوكښې پيداشوې وو.نو دَ على بن عبدالله ملاقات قتاده بن النعمان الظفرى رضي الله عنه سره څنګه صحيح كيدېشى؟ (۵)

دغه شان دَ حضرت، عكرمه رحمه الله ملاقات هم دَ حضرت قتاده بن النعمان الظفرى رضي الله عنه نه ثابت نه دې ځكه چه هغه هم عهدفاروقى نه پس پيدا شوې دې.(۶)

---

۱) (كشف البارى (ج۱ص۴۳۵و۲۰۵)-
۲) (فتح البارى (ج۱ص۵٤۱) اودَعلى بن عبدالله دَپاره اوګورئ كتاب الصلاة باب التعاون فى بناء المسجد
۳) (عمدة القارى (۱٤ص۱۰۹) والقاموس الوحيد (ص۳۰۹) مادة حبى-س
٤) (عمدة القارى (ج۱٤ص۱۰۹) وموسوعة النحو ومالصرف والإعراب (ص۷۱۷)-
۵) (حواله بالا وعمدة القارى (ج۱٤ص۱۰۹) وإرشاد السارى (ج۵ص٤۹)-
۶) (شرح الكرمانى (ج۱۲ص۱۱٤)-

د دې اشكال جواب علامه كرمانى يو خودا وركړې دې چه كيديشى چه دا د هغه خول رضاعى رور وى. هم دا جواب حافظ صاحب هم اختيار كړيدې.(١)

اودونم جواب علامه كرمانى دا وركړې چه مراد ((أخ فى الإسلام))هم كيدې شى.(٢) د الله تعالى ارشاد دې: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾.(٣)

"الفئة الباغية" نه كومه ډله مراد ده؟ په حديث باب كښې راغلى دى چه حضرت عمار به باغى جماعت قتل كوى چه دې به هغوى د الله تعالى طرف ته راوغواړى او هغوى به دې د دوزخ د أور طرف ته. اوس سوال دا دې ((الفئة الباغية)) نه كوم باغى جماعت مراد دې؟ ① علامه ابن بطال رحمه الله فرمائى ((الفئة الباغية))نه اهل مكه مرادى چا چه حضرت عماربن ياسر رضى الله عنهما دَمكې نه بهر اوويستلو او سخت تكليف ئې وركړو.

پاتې شو دا سوال چه په حديث كښې فعل مضارع استعمال كړيشوې دې يعنى ((تقتله. يدعوهم)) او ((يدعونه)) چه په مستقبل كښې د دې ټولو حالاتو په وقوع كيدو باندې دلالت كوى نو د دې جواب دا دې چه فعل مضارع دلته د ماضى په معنى كښې مستعمل دې او دا استعمال د اهل عرب په نزد شائع او ذائع دې.(۴)

② علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه په حديث كښې په مستقبل كښې واقع كيدونكې يو واقعې طرف ته اشاره كړيشويده. اوهغه واقعه په جنګ صفين كښې پيښه شوه كومه چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم معجزه وه. په هغه جنګ كښې يو طرف ته حضرت على رضى الله عنه او بل طرف ته حضرت معاويه رضى الله عنه اود هغه ملګرى وو. د دې وجه ((الفئة الباغية)) معنى ((الجماعة المخطئة)) به وى، چه حضرت على رضى الله عنه په حقه وو او حضرت معاويه رضى الله عنه نه اجتهادى غلطى شوې وه. هم په دې جنګ كښې حضرت عمار رضى الله عنه شهيدشو چه دحضرت على رضى الله عنه د ملګرونه وو.(۵)

③ اوبعضو حضراتو وئيلى دى ((الفئة الباغية)) نه خوارج مراد دى ليكن دا توجيه په هر لحاظ سره بديهى البطلان ده ځكه چه د خوارجو د حضرت على رضى الله عنه خلاف خروج بالاتفاق د حضرت عمار رضى الله عنه د شهادت نه پس شوې دى. علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى:

((ولايصح أن يقال أن مراده ، ، الخوارج،، الذين بعث على عمارا يدعوهم إلى الجماعة لأن الخوارج إنما خرجوا على على بعد قتل عمار بلا خلاف، فإن ابتداء أمر الخوارج كان عقب التحكيم، وكان التحكيم عقب انتهاء القتال بصفين، وكان قتل عمار قبل ذلك قطعا)) (۶)

---

١) (حواله بالا وفتح البارى (ص١١ ٥٤)-
٢) (شرح الكرمانى (ج١٢ص١١٤)-
٣) (الحجرات:١٠)-
٤) (شرح ابن بطال (ج٥ص٢٧)-
٥) (شرح الكرمانى (ج١٢ص١١٣) وعمدة القارى (ج١٤ص١٠٩-١١١)-
٦) (إرشاد السارى (ج٥ص٥٠)-

بیا علامه عیني او علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه دلته راجح جواب دَ علامه کرمانی رحمه الله دي. ځکه چه دَ حدیث ظاهرِ سیاق دَ هغې موافقت کوی، خو دَ علامه ابن بطال رحمه الله قول مبنی برادب دي چه هغوی دَ ادب په توګه دَ اهل صفین طرف ته دَ بغاوت دَ نسبت نه احتراز کړیدې.(۱)

دَ حدیث باقی تشریحات ((کتاب الصلاة باب التعاون فی بناء المسجد)) لاندې تیرشوی دی.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث مناسبت ترجمة الباب سره په دې جمله کښې دې. ((ومسح عن رأسه الغبار)) (۲)

۱۸-بَاب: الْغَسْلِ بَعْدَ الْحَرْبِ وَالْغُبَارِ

ماقبل سره مناسبت: په تیرشوې باب کښې دَ دوړو وغیره دَ مسح دَ عدم کراهیت بیان وو او په دې باب کښې دَ دغه دوړو دَ غسل او وینځلو دَ عدم کراهیت بیان دې.

دَ ترجمې مقصد: علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دَ جنګ نه پس دَ دوړو دَ وینځلو جواز بیانول غواړی. (۳) بلکه دا دَ فعل نظافت په نقطه نظر سره هم بهتر او اولی دې لکه چه وړاندینی باب کښې چه تیرشو.خو علامه عینی رحمه الله فرمائی چه پورتنئی ترجمه په دوو څیزونوباندې مشتمل ده. یو غسل او دوئم دوړې. نو یو امر خو دا دې چه نبی کریم ﷺ دَ جنګ نه پس غسل فرمائیلې وو، دوئم دَ دې امر بیان دې چه دَ جبرائیل امین سر په دې جنګ کښې دَ دوړو شوې وو.(۴)

[۲۶۵۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ(۵) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا رَجَعَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ وَوَضَعَ السِّلَاحَ وَاغْتَسَلَ فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ وَقَدْ عَصَبَ رَأْسَهُ الْغُبَارُ فَقَالَ وَضَعْتَ السِّلَاحَ فَوَاللَّهِ مَا وَضَعْتُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَيْنَ قَالَ هَا هُنَا وَأَوْمَأَ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ قَالَتْ فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۳۸۹۱]

تراجم رجال

۱-محمد: دا ابوعبدالله محمدبن سلام بیکندی رحمه الله دې.

۲-عبدة: دا عبده بن سلیمان بن حاجب کلابی رحمه الله دې. دَ دې دواړو حضراتو تذکره ((کتاب

---

۱) (عمدة القاری (۱٤ج ۱۱۰) وشرح القسطلانی (ج۵ص۵۰)-

۲) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۰۹)-

۳) (شرح القسطلانی (ج۵ص ۵۰)-

٤) (عمدة القاری (ج ۱٤ص ۱۱۰)-

۵) (قوله: عن عائشة رضی الله عنها: الحدیث مرتخریجه فی کتاب الصلاة باب الخیمة فی المسجد للمرضی وغیرهم

الإيمان باب قول النبى صلى الله عليه وسلم أنا أعلمكم بالله....)) لاندې راغلى ده.(١)

٣-هشام: دا ابوالمنذر هشام بن عروه رحمه الله دې.

٤-عروة: دا حضرت عروه بن زبير بن عوام رحمه الله دې.

٥- عائشه: دا ام المؤمنين حضرت عائشه بنت ابى بكر صديق رضي الله عنهما ده. دَ دې دريواړو حالات ((بدء الوحى)) دَ دونم حديث لاندې راغلى.(٢)

قوله: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم لما رجع يوم الخندق ووضع السلاح واغتسل فأتاه جبريل وقد عصب رأسه الغبار: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه كله رسول الله ﷺ دَ غزوه خندق نه واپس راغلو نو وسله ئې كيخوده او غسل ئې اوفرمائيلو. په دې دوران كښې حضرت جبرائيل عليه السلام راغلو اودَ هغه په سر باندې دوړې جمع شوې وې.

((قد عصب رأسه)) دا جمله حاليه ده او مطلب دا دې چه څنګه په سر باندې پټنى تړلې وى او دې پټنى ټول سر راګير كړې وى،دغه شان دوړو دحضرت جبرائيل عليه السلام سر راګير كړې وو.(٣) او حديث باب سره متعلق نورتفصيلات به مغازى كښې راځي. (٤)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره دَ حديث باب مناسبت په دې الفاظو كښې دې. ((واغتسل، فأتاه جبريل وقد عصب رأسه الغبار)) (٥)

١٩-بَاب: فَضْلِ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ فَرِحِينَ

بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ [آل عمران:١٦٩-١٧١]

ماقبل سره مناسبت: په وړاندينو بابونوكښې دَ الله تعالى په لاركښې دَشهيد كيدو مختلفو فضيلتونو ذكر وو، په دې باب كښې هم دَ شهيد فى سبيل الله دَ يو خالص فضيلت ذكر دې، هغه دا چه شهيد مړ نه دې بلكه ژوندې وى، او دَ هغه دَ رب دَ طرف نه هغه ته رزق وركولې شى.

---

١) (كشف البارى (ج٢ص٩٣-٩٤)-
٢) (كشف البارى (ج١ص٢٩)-
٣) (عمدة القارى (ج١٤ص١١٠) وقال العلامة الخطابى رحمه الله فى أعلام الحديث (ج٢ص١٣٦٣) قوله: عصب رأسه الغبار، معناه: ركب رأسه الغبار وعَلِقَ به. يقال: عصب الريق بفمي: إذا جف، فبقيت منه لزوجة تمسك الفم
٤) (كشف البارى كتاب المغازى (ص٢٩٩و ٣٠٩-٣٠٣)-
٥) (عمدة القارى (ج١٤ص١١٠)-

دَ ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دَ هغه حضراتو فضیلت ذکر کول غواړی، دَ چا باره کښې چه آیات ﴿ولاتحسبن الذين قتلوا....﴾(۱)

او دَ ترجمة الباب تقدیری عبارت داسې دې.((باب فضل من ورد فيه قول الله تعالى......)) ځکه چه دَ ترجمة الباب ظاهری الفاظ دلته مراد نه دی، په دې وجه اسماعیلی دَ ترجمې نه دَ فضل لفظ حذف کړې دې. (۲)

په ترجمة الباب کښې دَ مذکوره آيات خلاصه: په پورته ذکر شوی آیت کښې دَ دې امر ذکر دې چه کوم خلق دَ الله تعالی په لارکښې دَ شهادت اوچته مرتبه مومی نو هغوی ته نه مړه وئیلې پکاردی نه دا گنړل پکار دی ځکه چه هغه احیاء او ژوندی دی او هغوی ته دَ هغوی دَ رب دَ خوانه رزق هم ورکولې کیږی او الله تعالی چه کوم فضل او کرم هغوی سره کړیدې هغوی په دې خوشحاله او راضی دی او دا چه الله تعالی دَ محسنینو اجر نه ضائع کوی.

دَ حیات الشهداء حقیقت: په ترجمة الباب کښې ذکرکړیشوې آیاتونو کښې عامو مسلمانانو ته خطاب کولو سره اوفرمائیل چه تاسو خلق دَ الله تعالی په لارکښې قتل کړیشوو خلقو ته مړه مه وائې، همدغه ممانعت سورة البقرة کښې هم راغلې دې دَ الله تعالی ارشاد دې

﴿ولاتقولوا لمن يقتل في سبيل الله أموات بل أحياء ولكن لاتشعرون﴾ (۳)

دَ شهید متعلق دا وئیل چه هغه مړشو صحیح او جائز دی خودَ هغه مرګ دَ نورو مړو په شان گنړلو ممانعت کړیشویدې. دَ دې وجه دا ده چه دَمرګ نه پس لکه دَ برزخ ژوند دَ هرسړی روح ته حاصل دې. اوهم دَ دې نه دَ سزا او جزا ادراك کیږی لیکن شهید ته په دې حیات کښې دَ نورو مړو نه یو قسم امتیاز حاصل دې او هغه امتیازدا دې چه دَ حیات آثار هغه کښې دَ نورو نه قوی دې. لکه څنګه چه په انمله کښې دَ ذکاء حس کوم چه دَ آثار حیات نه دې په نسبت دَ پوندې طبًا او حسًا قوی دې. تردې پورې چه دَ شهید دَ دې حیات دَ قوت یو اثر په خلاف دَ معمولی مړو دَ هغه جوسه ظاهری پورې هم رسیدلې چه دَ هغه بدن سره دَ دې چه دَ غوښې نه جوړدې زمکه ئې نه متاثر کوی او په مثال دَ ژوندئی جوسې صحیح او سالم پاتې کیږی. لکه څنګه چه احادیث او مشاهدات ګواه دی نو دَ دې امتیاز او خصوصیت دَ وجه شهداوَ ته احیاء اوونیلې شو او هغوی ته دَ مړو وئیلو ممانعت کړې شویدې او همدغه هغه ژوند دې کوم کښې چه انبیاء علیهم السلام دَ شهداوَ نه هم زیات امتیازی قوت لری. تردې چه دَ ظاهر مرګ نه پس دَ صحیح بدن سره یو اثر دَ دې حیات دَ دې عالم په احکامو کښې دا هم ظاهریږی چه په مثال دَ ژوندو خاوندانو دَ هغوی بیبیانوسره نکاح کول جائز نه دی او دَ هغوی مال په میراث کښې نه تقسیږی، نو په دې حیات کښې دَ ټولو نه زیات قوی انبیاء علیهم السلام دی بیا شهداء دی او بیا نور مړی. (۴)

---

۱) (آل عمران:۷۹-۸۱)-
۲) (عمدة القاری(ج ۱٤ص ۱۱۰)-
۳) (البقرة: ۱٥٤)-
٤) (بیان القرآن(ج۱ص۸۷-۸۸)-

شهداو ته د رزق ملاويدلو مطلب شهداء ته د رزق ملاويدلو كيفيت په احاديث صحيحه كښې راغلې دې چه د دوى ارواح د عرش په قناديلو كښې اوسيږى او د جنت د نهرونو اوبه څكى. او د هغې ميوې خورى. مسند احمد، ابوداؤد، ترمذى او ابن ماجه كښې د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه روايت دې

((قال رسول الله صلى الله عليه: لما أصيب إخوانكم بأحد جعل الله عزوجل أرواحهم فى أجواف طير خضر، ترد أنهار الجنة، تأكل من أثمارها، وتأوى إلى قناديل من ذهب فى ظل العرش....))(١)

يواشكال اودَ هغې جواب: اودا اشكال چه كله هغه په جنت كښې وى نو دَ حشر په ورځ به څنګه راويستلې شى؟ نو دَ دې جواب دا دې چه هغه به په جنت كښې نه وى بلكه هم په خپلو قبرونوكښې به وى ليكن دا حصه دَ نهرونو او ميوو به دَ يوداسې مقام نه ملاويږى چه جنت سره به متعلق وى لكه څنګه چه به كافران هم په قبرونوكښې وى ليكن هغوى ته به عذاب دَ دوزخ وركړې كيديشى.(٢)

[٢٦٥٩] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (٣) قَالَ دَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الَّذِينَ قَتَلُوا أَصْحَابَ بِئْرِ مَعُونَةَ ثَلَاثِينَ غَدَاةً عَلَى رِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَعُصَيَّةَ عَصَتْ اللَّهَ وَرَسُولَهُ قَالَ أَنَسٌ أُنْزِلَ فِي الَّذِينَ قُتِلُوا بِبِئْرِ مَعُونَةَ قُرْآنٌ قَرَأْنَاهُ ثُمَّ نُسِخَ بَعْدُ بَلِّغُوا قَوْمَنَا أَنْ قَدْ لَقِينَا رَبَّنَا فَرَضِيَ عَنَّا وَرَضِينَا عَنْهُ [ر:٢٦٤٧]

تراجم رجال

۱- اسماعيل بن عبدالله: دا ابوعبدالله اسماعيل بن ابى اويس عبدالله بن عبدالله بن اويس بن مالك بن ابى عامر اصبحى رحمه الله دې. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب تفاضل أهل الإيمان فى الأعمال)) لاندې راغلى دى.(۴)

۲- مالك: دا امام مالك بن انس بن مالك بن ابى عامر الاصبحى المدنى رحمه الله دې. دَ ده

---

١) (مسندالإمام أحمد (ج١ص٢٦٦) ومسلم ٩ج٢ص١٣٥) كتاب الإمارة، باب بيان أن أرواح الشهداء فى الجنة. وأنهم أحياء عندربهم يرزقون رقم(٤٨٨٥) وسنن أبى داؤد (ج١ص٣٤١) كتاب الجهاد باب فى فضل الشهادة رقم (٢٥٢٠) والجامع للترمذى (ج٢ص١٣٠) أبواب تفسير القرآن باب ومن سورة آل عمران رقم (٣٠١١) وابن ماجه (ص٢٠١) أبواب الجهاد باب فضل الشهادة فى سبيل الله رقم (٢٨٠١)-

٢) (بيان القرآن (ج١سورة آل عمران) والجامع لأحكام القرآن للقرطبى (ج٤ص٢٦٩)-

٣) (قوله: عن أنس بن مالک رضى الله عنه: الحديث مرتخريجه فى كتاب الوتر باب القنوت قبل الركوع وبعده رقم (١٠٠١)-

٤) (كشف البارى (ج٢ص١١٣)-

حالات ((بدءالوحی)) دَ دوئم حديث په ذيل کښې راغلی. (۱) -

۳- اسحاق بن عبدالله بن ابی طلحه: دا اسحاق بن عبدالله بن ابی طلحه انصاری رحمه الله دې. دَ ده حالات ((کتاب العلم باب من قعد حيث ينتهی به المجلس.....)) (۲)

۴- حضرت انس بن مالک رضی الله عنه: دا مشهورصحابی خادم رسول ﷺ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه دې. دَ ده حالات ((کتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه)) لاندې راغلی دی. (۳)

دَ حديث ترجمه: حضرت انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی چه رسول ﷺ دَ دې خلقو دَ پاره دَ ديرشو ورځو(يوې مياشت پورې) بددعا اوفرمائيله چا چه اصحاب بئر معونه قتل کړې وو. قبيله رعل، ذکوان او عصيه باندې چا چه دَ الله تعالی او دَ هغه دَ رسول نافرمانی کړې وه. حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه کوم اصحاب بئرمعونه کښې قتل کړيشوې وو دَ هغوی باره کښې دَ قرآن کريم آيت نازل شوی وو، کوم چه مونږ هم لوستلې وو خو بيا ځووږځې پس منسوخ شو. هغه آيت مبارک دا وو. ﴿بلغوا قومنا أن قد لقينا ربنا، فرضی عنا ورضينا عنه﴾.

په حديث کښې دَ ذکر شوې واقعې تفصيل په کتاب المغازی کښې غزوه بئرمعونه لاندې راغلې دې. (۴)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث ترجمة الباب سره مطابقت داسې دې چه په ترجمة الباب کښې مذکوره آيت هم دَ هغه صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين په حق کښې نازل شويدې کوم چه په بئر معونه کښې شهيدان شوې وو. (۵)

فائده: ابن بطال رحمه الله فرمائی چه په ترجمة الباب کښې مذکوره آيت دَ دې خبرې دليل دې چه کوم سړې په دهوکه سره قتل شی هغه شهيددې، ځکه چه اصحاب بئرمعونه هم په دهوکه سره قتل شوې وو. (۶)

[۲۶٦۰] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا (۷) يَقُولُ اصْطَبَحَ نَاسٌ الْخَمْرَ يَوْمَ أُحُدٍ ثُمَّ قُتِلُوا شُهَدَاءَ فَقِيلَ لِسُفْيَانَ مِنْ آخِرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ قَالَ لَيْسَ هَذَا فِيهِ [۲۸۱۸، ۴۰۴۴]

---

۱) (كشف البارى (ج۱ص۲۹۰) و كشف البارى (ج۲ص۸۰)-
۲) (كشف البارى (ج۲ص۲۱۳)-
۳) (كشف البارى (ج۲ص٤)-
٤) (كشف البارى كتاب المغازى (ص۲۶۱)-
۵) (عمدة القارى (ج١٤ص۱۱۱)-
۶) (شرح ابن بطال (ج۵ص۲۹)-
۷) (قوله: جابربن عبدالله رضى الله عنهما: الحديث أخرجه البخارى أيضًا (ج۲ص۵۷۹) كتاب المغازى باب غزوة أحد. رقم (٤٠٤٤) و (ج۲ص۶۶۶) تاب التفسير سورة المائدة باب ﴿إنما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان﴾ رقم (٤٦١٨) والحديث من إفراده-

تراجم رجال

۱- علی بن عبدالله: داامیر المؤمنین فی الحدیث امام علی بن عبدالله ابن المدینی رحمه الله دي. دَ هغوی حالات ((کتاب العلم باب الفهم فی العلم)) لاندې راغلی دی. (۱)

۲- سفیان: دا مشهورمحدث سفیان بن عُیَینه بن ابی عمران کوفی رحمه الله دې. دَ ده ځ حالات ((بدء الوحی)) دَ اول حدیث لاندې (۲) او تفصیلی حالات ((کتاب العلم باب قول المحدث: حدثنا أو أخبرنا وأنبانا)) په ذیل کښې راغلی دی. (۳)

۳- عمرو بن دینار المکی: دا عمرو بن دینار جمحی ابومحمدالمکی الاثرم رحمه الله دې.(۴)

۴- حضرت جابر بن عبدالله الانصاري رضی الله عنهما: دَامشهور صحابی، حضرت جابر بن عبدالله الانصاری رضی الله عنهما دې. (۵)

قوله: یقول: اصطبح ناس الخمر یوم أحد، ثم قتلوا شهداء: عمرو بن دینار نه روایت دې چه هغوی دَ حضرت جابر بن عبدالله الانصاری رضی الله عنهما نه اوریدلی دی چه هغه فرمائیل: احد په ورځ ډیرو مسلمانانو شراب څکلې وو بیا هم په هغه ورځ شهیدان شول.

((اصطبح أی شرب الخمر صبوحا)) یعنی هغوی دَ سحر په وخت کښې شراب څکلې وو.(۶)

((صبوح)) وائی دَسحر وخت کښې شراب څکلوته او((غبوق))دَماښام شراب څکلوته وائی.(۷) دَحدیث مطلب دا دې چه دَ احد په ورځ کوم مسلمانان شهیدان شو هغوی کښې ډیرو حضراتو دَ سحر په وخت کښې شراب څکلې وو او هم په هغه ورځ هغوی شهیدان شو ځکه چه په هغه وخت کښې دَ شرابو دَ حرمت حکم نه وو راغلې. دَ دې تصریح په کتاب التفسیر کښې موجود ده. حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی ((صبح أناس غداة أحد الخمر، فقتلوا من یومهم جمیعا شهداء، وذلك قبل تحریمها))(۸)

حدیث باب دَ دې خبرې هم دلیل دې چه شراب دَ غزوه احد نه پس حرام کړې شوی دی. (۹)

---

۱) (کشف الباری (ج۳ص۲۹۷)-
۲) (کشف الباری (ج۱ص۲۳۸)-
۳) (کشف الباری (ج۳ص۱۰۲)-
٤) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب العلم باب العلم والعظة باللیل-
۵) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره ګورئی کتاب الوضوء باب صب النبی صلی الله علیه وسلم وضوءه علی المغمی علیه
۶) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۱۶)-
۷) (عمدة القاری(ج۱٤صض۱۱۳)-
۸) (صحیح البخاری (ج۲ص۶۶۶) کتاب التفسیر باب قوله ﴿إنما الخمر والمیسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشیطان﴾ رقم (۴۶۱۸) وشرح ابن بطال)ج۵ص۲۹)-
۹) (فتح الباری (ج۷ص۳۵۳)-

قوله: فقيل لسفيان: من آخر ذلك اليوم؟ قال: ليس هذا فيه: حضرت سفيان بن عينيه رحمه الله ته اووئيلې شو چه په حديث كښې ((من آخر ذلك اليوم)) الفاظ هم شته؟ نو هغه اووئيل چه په روايت كښې دا الفاظ نشته. په اصل كښې دلته د حضرت سفيان رحمه الله نه سهو شوې ده. ګنې نو اسماعيلي ((قواريرى عن سفيان)) په طريق سره همدغه روايت نقل كړيدې او په هغې كښې دا الفاظ موجود دى. ((وقتلوا آخر النهار شهداء)) (١)
دغه شان د كتاب التفسير په روايت كښې هم دا الفاظ موجود دى. (٢)
نولكه چه حضرت سفيان رحمه الله نه اول سهو شوې بيا ورته ياد شو. (٣)
د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: علامه ابن المنير اسكندرانى رحمه الله او د هغه په اتباع كښې علامه عينى رحمه الله فرمائى چه د حديث ترجمة الباب سره مناسبت په لفظ ((شهداء)) كښې دې. ځكه چه هغه شراب كوم چه هغوى په هغه ورځ سحر څكلې وو هغې دوى ته هيڅ نقصان اونه رسولو، سره د شرابو څكلو هغوى شهداء بللې شو ځكه چه هغه وخت مباح وو. د دې وجه نه الله تعالى د هغوى د شهادت نه پس د هغوى مدح او تعريف اوكړلو، ويره او پريشانى ئې د هغوى نه لرې كړه. (۴)
اوحافظ رحمه الله فرمائى چه كيديشى امام بخارى رحمه الله دا روايت د هغه آياتونو د نازليدلو د اسبابو نه يو طرف ته د اشارې د پاره ذكر كړې وى. امام ترمذى رحمه الله فرمائى(۵) د حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت كړيدې:
((قال: ماكلم الله أحدا قط إلا من وراء حجابه، وأحيى أباك فكلمه كفاحا، فقال: ياعبدى، تمن على أعطيك. قال: يارب، تحيينى فأقتل فيك ثانية، قال الرب: إنه قد سبق منى ﴿أنهم لايرجعون﴾ وأنزلت هذه الآية: ﴿ولاتحسبن الذين قتلوا فى سبيل الله أمواتا﴾))(۶)
حضرت جابر رضي الله عنه فرمائى چه الله تعالى چاسره هم خبرې فرمائى د پردې نه اخوا ئې فرمائى، ليكن الله تعالى زما پلار ژوندې كړو او هغه سره ئې مخامخ خبرې اوكړې، وئې فرمائيل اې زما بنده اوغواړه چه څه ته غواړې دربه كړم. عبدالله وئيل اې ربه ته ما ژوندې كړې (او دنياته مې اوليګه) دې د پاره چه ستا په لاركښې بيا شهيد شم. الله تعالى اوفرمائيل (دا خو نشى كيدې) ځكه چه مانه دا خبره اول صادر شوې ده چه (د دنيانه واپس راغلې) به نه واپس كيږى او دا آيت نازل شو. ﴿ولاتحسبن الذين قتلوا فى سبيل الله أمواتا﴾

---

١) (فتح البارى (ج۶ص٣١-٣٢) وعمدة القارى (ج١٤ص١١٣)-
٢) (صحيح البخارى (ج٢ص۶۶۶) كتاب التفسير باب قوله ﴿إنما الخمر والميسر...﴾ رقم (۴۶١٨)-
٣) (فتح البارى (ج۶ص٣٢)-
٤) (حواله بالا وعمدة القارى (ج١٤ص١١٣)-
٥) (الجامع للترمذى (ج٢ص١٣٠) أبواب تفسير القرآن، باب ومن سورة آل عمران رقم (٣٠١٠)-
۶) (فتح البارى(ج۵ص٣١)-

او د وهب بن کیسان رحمه الله په روایت کښې دی چه حضرت جابر رضی الله عنه د هغه شهیدانو نومونه هم شمیرلي وو او په هغې کښې د حضرت جابر رضی الله عنه پلار عبدالله هم وو. چا چه د غزوه احد په ورځ شراب څکلي وو.(۱)

علامه ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه د حدیث جابر رضی الله عنه او ترجمة الباب کښې ذکر شوې آیت ﴿وأن الله لایضیع أجرالمؤمنین﴾ په مینځ کښې مناسبت ظاهر دې. او هغه داسې چه که د دې حضراتو په شرابو څکلوباندې نیول شوې وې نو د مؤمنانو د فعل اضاعت به شوې وو ځکه چه هغوی د څه حرام څیز ارتکاب نه وو کړې. چه په هغې ئی نیولې وې. (۲)

۲۰-بَاب: ظِلِّ الْمَلَائِكَةِ عَلَى الشَّهِيدِ

ماقبل سره مناسبت په تیرشوی باب کښې د دې ذکر وو چه شهیدان ژوندی دی اوهغوی ته د هغوی د رب د طرف نه رزق هم ملاویږی او په دې باب کښې د دې خبرې ذکر دې چه: شهید د تعظیم او تکریم د پاره فرښتې د هغوی د پاسه په خپلو وزرو سره سورې کوی.

د ترجمة الباب مقصد دلته امام بخاری دا فرمائی چه د شهداؤ مقام دومره اوچت دې چه ملائکې هم د هغوی خادمانې جوړیږی او د هغوی د پاسه سورې کوی. د دوی په سورې کولوکښې د شهید اجلال او تعظیم دې. (۳)

[۲۶۶۱] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ قَالَ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ قَالَ سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ الْمُنْكَدِرِ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا (۴) يَقُولُ جِيءَ بِأَبِي إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ مُثِّلَ بِهِ وَوُضِعَ بَيْنَ يَدَيْهِ فَذَهَبْتُ أَكْشِفُ عَنْ وَجْهِهِ فَنَهَانِي قَوْمِي فَسَمِعَ صَوْتَ صَائِحَةٍ فَقِيلَ ابْنَةُ عَمْرٍو أَوْ أُخْتُ عَمْرٍو فَقَالَ لِمَ تَبْكِي أَوْلَا تَبْكِي مَا زَالَتِ الْمَلَائِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا قُلْتُ لِصَدَقَةَ أَفِيهِ حَتَّى رُفِعَ قَالَ رُبَّمَا قَالَهُ [ر: ۱۱۸۷]

تراجم رجال

۱- <u>صدقه بن الفضل</u>: داحافظ حدیث ابوالفضل صدقة بن الفضل مروزی رحمه الله دي. (۵)

۲- <u>ابن عینیه</u>: دا مشهور محدث سفیان بن عُیینه بن ابی عمران کوفی رحمه الله دي. د دوی څه حالات ((بدء الوحی)) د اولنی حدیث لاندې (۶)

---

۱) (فتح الباری (ج۷ص۳۵۳)-

۲) (لامع الدراری (ج۷ص۲۱۹)-

۳) (فیض الباری (ج۳ص۴۲۶)-

۴) (قوله: جابرا رضی الله عنه: الحدیث مرتخریجه فی کتاب الجنائز. باب الدخول علی المیت بعدالموت إذا أدرج فی أکفانه-

۵) (د دوی حالات د پاره اوګورئ کتاب العلم باب العلم والعظة باللیل-

۶) (کشف الباری (ج۱ص۲۳۸)-

اومفصل حالات (كتاب العلم باب قول المحدث: حدثنا أو أخبرنا وأنبأنا) په ذيل كښې راغلى دى.(١)
٣- محمد بن المنكدر: دا محدث شهير محمد المنكدر بن عبدالله المدنى رحمه الله. (٢)
٤- جابر بن عبدالله الانصارى رضى الله عنهما: دامشهورصحابى حضرت جابر بن عبدالله الانصارى رضي الله عنهما دى. (٣)

قوله: قلت لصدقة: أفيه حتى رفع؟ قال: ربما قاله: ما صدقه ته اوونيل چه حديث كښې ((حتى رفع)) هم شته؟ نو هغوى اوفرمائيل او. كله كله به سفيان هم دا وئيل.
دلته قائل امام بخارى رحمه الله دى.هغه دخپل استاذ صدقة بن الفضل نه معلومول چه آيا حديث كښې ((حتى رفع)) الفاظ هم شته؟ نوجوابًا صدقة بن الفضل اوونيل او.سفيان به دا هم وئيل. (۴) ليكن همدغه روايت په (كتاب الجنائز) كښې ((على بن عبدالله وهوابن المديني عن سفيان)) طريق سره هم مروى دى او د دې په آخر كښې ((حتى رفعتموه)) الفاظ موجود دى.(۵)
دغه شان حميدى او نورو حضراتو هم د سفيان نه دغه شان نقل كړى دى. (۶) د (كتاب المغازى) په روايت كښې هم ((أبوالوليد عن شعبة عن ابن المنكدر)) په طريق سره ((حتى رفع)) الفاظ نقل كړيشوى دى. (۷)
نومعلومه شوه چه عدم جزم سره دا روايت صرف صدقة بن الفضل روايت كړيدى. (۸)
د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دحديث ترجمة الباب سره مناسبت د حديث په جمله ((مازالت الملائكة تظله بأجنحتها)) كښې دې. (۹)

٢١- بَاب: تَمَنِّى الْمُجَاهِدِ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا

ماقبل سره ربط او مناسبت: په وړاندينوبابونوكښې دا بيان شوې وو چه مجاهدته به د هغه د شهادت نه پس د الله تعالى د طرف نه رزق وركولې شى او هغوى ژوندى وى. نور دا چه

١) (كشف البارى (ج٣ص١٠٢)-
٢) ددوى د حالاتودپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب صب النبى صلى الله عليه وسلم وضوءه على المغمى عليه
٣) (حواله بالا-
٤) (عمدة القارى (ج ١٤ص١١٣)-
٥) (الصحيح البخارى (ج١ص١٦۶) كتاب الجنائز باب الدخول على الميت بعد الموت إذا أدرج فى أكفانه رقم (١٢٤٤)-
٦) (فتح البارى (ج ١٤ص١١٣)-
٧) (صحيح البخارى (ج٢ص ٥٨٤) كتاب المغازى باب من قتل من المسلمين يوم أحد رقم (٤٠٨٠)-
٨) د حديث باب د ټولو تشريحاتودپاره اوګورئ كتاب الجنائز باب الدخول على الميت بعد الموت إذا أدرج فى اكفانه و كشف البارى كتاب المغازى (ص٢٥٠-٢٥١)-
٩) (عمدة القارى (ج ١٤ص١١٣)-

ملائكي د هغوی د تکریم او تعظیم د پاره په خپلو وزرو باندې په هغوی سورې وی. د دې تولو انعاماتو او فضیلتونو ته په کتوباندې مجاهد دا تمنا کوی چه هغه دې بیا په دونیا کې او دریم ځل شهید شی او نور ډیر فضیلتونه اوکرامتونه دې حاصل کړی لکه چه د حدیث باب نه واضح دی.

دترجمة الباب مقصد: دترجمة الباب مقصددادې چه کله شهید په خپل ځان باندې د الله تعالی نعمتونه او مهربانئی اووینی نو د هغه خواهش به دا وی چه هغه دنیا ته واپس شی جهاد اوکړی او شهید شی، اودا د دې د پاره چه هغه ته نور ډیر نعمتونه حاصل شی. (۱)

[۲۶۶۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۲) عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَحَدٌ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا وَلَهُ مَا عَلَى الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا الشَّهِيدُ يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ لِمَا يَرَى مِنْ الْكَرَامَةِ [ر: ۲٦٤٢]

تراجم رجال

۱- محمد بن بشار: دا د حدیث مشهور امام ابوبکر محمدبن بشار عبدی بصری رحمه الله دې بُندار د دوی لقب دې. د دوی حالات ((کتاب العلم باب ماکان النبی صلی الله علیه وسلم ویتخولهم.....)) لاندې راغلی دی. (۳)

۲- غندر: دا ابوعبدالله محمد بن جعفر هذلی رحمه الله دې. د غندر په لقب مشهور دې. د دوی حالات ((کتاب الإیمان باب ظلم دون ظلم)) لاندې راغلی دی. (۴)

۳- شعبه: دا امیرالمؤمنین فی الحدیث، شعبه بن الحجاج بن الورد عتکی بصری رحمه الله دې د دوی حالات ((کتاب الإیمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده)) لاندې راغلی دی. (۵)

۴- قتاده: دا قتاده بن دعامه بن قتاده بن عزیز سدوسی بصری رحمه الله دې. (۶)

۵- انس: دا مشهورصحابی رسول صلی الله علیه وسلم حضرت انس بن مالک رضی الله عنه دې. د دې دواړو حضراتو حالات ((کتاب الإیمان باب من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه)) په ذیل کښې راغلی دی. (۷)

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۱۳)-
۲) (قوله: أنس بن مالک رضی الله عنه: الحدیث مر تخریجه آنفافی باب الحور العین وصفتهن-
۳) (کشف الباری (ج ۳ص ۲۲۱)-
٤) (کشف الباری ج ۲ص ۲۵۰)-
۵) (کشف الباری (ج ۱ص ۶۷۸)-
۶) (کشف الباری(ج ۲ص ۳)-
۷) (حواله بالا(ص ٤)-

تنبیه. دَ حدیث باب تشریحات ((باب الحور العین وصفتهن)) لاندې تیرشوی دی.

دَ حدیث دَ ترجمة الباب سره مطابقت. دَ حدیث ترجمة الباب سره مطابقت کښې دا اشکال دې چه ترجمه خو دَ مجاهد دَ تمنا اوخواهش ده لیکن امام بخاری چه کوم روایت نقل کړیدې په هغې کښې دَ ((حب)) لفظ وارد شویدې؟

دَ دې جواب دا دې چه همدغه روایت امام نسائي او امام حاکم رحمهما الله هم روایت کړیدې او هلته دَ تمنی لفظ واردشویدې، نو حضرت انس رضی الله عنه فرمائی:

((قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: یؤتی بالرجل من أهل الجنة فیقول الله عزوجل یا ابن آدم، کیف وجدت منزلك؟ فیقول: أی رب خیر منزل، فیقول: سل وتمنَّ، فیقول: أسألك أن تردنی إلی الدنیا فأقتل فی سبیلك عشر مرات لمایری من فضل بالشهادة)) (۱)

رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل دَ جنتیانو نه به یو سړې راوستلې شی او الله تعالی به هغه ته اوفرمائی اې دَ آدم خویه تا خپل دَ اوسیدو ځائ څنګه بیاموندلو؟ هغه به وائی اې ربه ډیر ښکلې ځائ دې. الله تعالی به اوفرمائی سوال اوکړه او تمنااوکړه، نو هغه سړې به وائی زما خو ستانه هم دغه غوښتنه ده چه ته ما دنیا ته واپس کړه چه ستا په لارکښې لس ځل قتل کړې شم (هغه به دا درخواست په دې وجه کوی) ځکه چه هغه دَ الله تعالی په لارکښې دَ قتل کیدو فضیلتونه لیدلی دی. اوس دَ نسائی او مستدرك دَ روایت نه دا معلومه شوه چه دَ حب نه مراد هم تمنا ده.(۲)

۲۲- بَاب: الْجَنَّةُ تَحْتَ بَارِقَةِ السُّيُوفِ

ماقبل سره مناسبت: په مخکینوبابونوکښې دَ جنت او دَ هغه ځائ دَ مختلفو نعمتونو او منازلو وغیره بیان شویدې او په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله دَ جنت او دَ هغه ځائ دَ نعمتونو دَ حاصلولو طریقه ښائی چه جنت دَ تورو دَ سوری لاندې دې.

دَ ترجمة الباب مقصد: دَ ترجمة الباب مقصد واضح دې او هغه دا جنت چه ملاویږی نو هم دَ تورو دَ سوری لاندې ملاویږی.

دَترجمة الباب لغوی تحلیل: امام بخاری رحمه الله دلته ترجمة الباب قائم کړیدې فرمائی چه ((باب الجنة تحت بارقة السیوف)) دَ بارقه اضافت دَ سیوف طرف ته ((إضافة الصفة إلی الموصوف)) دَ قبیل نه دې. او دا دَ ((السیوف البارقة)) په معنی کښې دې.(۳)

او ((بارقة)) دَ ((بروق)) نه مشتق دې. وئیلی شی ((برق السیف بروقا إذا تلألأ)) اوس دَ ((بارقة))

---

۱) (سنن النسائی (ج۲ص۶۰) کتاب الجهاد باب مایتمنی أهل الجنة رقم (۳۱۶۲) والحاکم فی مستدرکه (ج۲ص۷۵) کتاب الجهاد باب مقام الشهداء-

۲) (فتح الباری (ج۶ص۳۲)-

۳) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۱۷)-

معنى پړقيدونكې شوه.(۱)
او كله كله بارقه وئيلى شى اودَ دې نه هم توره مراد وى، نو په دې صورت كښې به اضافت بيانيه وى لكه ((شجرالإراك)) چه وئيلې شى.
ابن بطال رحمه الله فرمائى چه دا دَ ((بريق)) نه ماخوذ دې او دَ دې معنى دَ بجلئى پړق دې.(۲)
او علامه خطابى رحمه الله فرمائى چه دا دَ ((إبريق)) نه دې. وئيلى كيږى ((أبرق الرجل بسيفه إذا لمع به)) او تورې ته هم ابريق وائى.(۳)
حافظ ابن حجر فرمائى چه شايد دَ امام بخارى رحمه الله دا ترجمه دَ دې روايت نه ماخوذ وى كومه چه طبرانى په صحيح سندسره دَ حضرت عمار بن ياسر رضي الله عنهما نه روايت كړيده: چه حضرت عمار رضي الله عنه دَ جنګ صفين په ورځ فرمائيلى ((الجنة تحت الأبارقة)) او علامه خطابى رحمه الله فرمائيلى چه ((الأبارقة)) دا دَ ((الإبريق)) جمع ده.(۴)

قوله: وَقَالَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ أَخْبَرَنَا نَبِيُّنَا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ رِسَالَةِ رَبِّنَا مَنْ قُتِلَ مِنَّا صَارَ إِلَى الْجَنَّةِ: [ر: ۲۹۸۹] او حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه فرمائيلى دى چه مونږ ته زمونږ نبى صلى الله عليه وسلم زمونږ دَ رب په ذريعه خبر راكړې دې چه په مونږ كښې څوك قتل كيږى هغه به جنت ته ځى.

((عن رسالة ربنا)) الفاظ صرف دَ كشميهنى په روايت كښې موندلې شى او نورو رُواتو د صحيح بخارى هغه حذف كړى دى كيديشى چه مقصد ئې اختصار وى ځكه چه په موصول طريقه كښې هم دا الفاظ موجود دى.

دَ پورتنى تعليق تخريج پورته بيان شوې تعليق دَ اورد حديث شريف حصه ده. كوم چه امام بخارى رحمه الله موصولاً (كتاب الجزية والموادعة) كښې (۵) او (كتاب التوحيد) (۶) كښې نقل كړى دى

دمذكوره تعليق ترجمة الباب سره مناسبت دَ مذكوره تعليق مناسبت ترجمة الباب سره دا دې چه دَ مسلمانانو نه كوم يو كس هم شهيد او مقتول شو نو جنت كښې به داخليږى نښكاره خبره ده چه هغه به دَ تورې دَ پړق لاندې راځى.(۷)

---

۱) (حواله بالا ومختار الصحاح مادة برق-
۲) (شرح ابن بطال (ج۵ص۳)-
۳) (شرح ابن بطال (ج۵ص۳۱)-
٤) (فتح البارى (ج۶ص۳۳)-
۵) (صحيح البخارى(ج۱ص٤٤۷)كتاب الجزية والموادعة باب الجزية والموادعة مع أهل الذمة رقم (۳۱۵۹)
۶) (صحيح البخارى (ج۲ص۱۱۲۳) كتاب التوحيد باب قول الله تعالى ﴿ياأيهاالرسل بلغ ماأنزل إليک من ربک ....إلخ﴾ رقم(۷۵۳۰)-
۷) (عمدة القارى(ج١٤ص١١٤)-

قوله وَقَالَ عُمَرُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَيْسَ قَتْلَانَا فِي الْجَنَّةِ وَقَتْلَاهُمْ فِي النَّارِ قَالَ بَلَىٰ: از ۳۰۱۱ او حضرت عمر ﷛ نبی کریم ﷺ ته عرض اوکړو آیا زمونږ مقتولین جنت کښې او د هغوی مقتولین په دوزخ کښې نه دی؟ هغوی ﷺ اوفرمائیل ولې نه

دَمذکوره تعلیق تخریج دا تعلیق هم امام بخاری ﷫ په خپل صحیح کښې په مختلفو مقاماتو موصولاً نقل کړیدې. (۱)

ترجمة الباب سره دَتعلیق مناسبت دَ پورته ذکر شوی تعلیق ترجمة الباب سره مناسبت دَ تیرشوی تعلیق لاندې راغلې دې. (۲)

[۲۶۶۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ سَالِمٍ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ وَكَانَ كَاتِبَهُ قَالَ كَتَبَ إِلَيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ (۳) وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ تَابَعَهُ الْأُوَيْسِيُّ عَنِ ابْنِ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ
[۲۶۷۸: ۲۸۰۴، ۲۸۶۱، ۲۸۶۲: ۲۸۱۰، وانظر ۲۷۷۵]

تراجم رجال

۱- عبدالله بن محمد: دا ابوجعفر عبدالله بن محمد بن عبدالله جعفی بخاری مسندی ﷫ دې. دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب أمور الإیمان)) لاندې نقل کړیشوی دی. (۴)

۲- معاویه بن عمرو: دا معاویه بن عمرو بن المهلب الازدی الکوفی ﷫ دې. (۵) دَ ده نه امام بخاری بغیر د واسطې نه هم روایت نقل کړی دی. (۶)

---

۱) (صحیح البخاری (ج۱ص۴۵۱) کتاب الجزیة والموادعة بابٌ رقم (۳۱۸۱-۳۱۸۲) و(ج۲ص۶۰۲) کتاب المغازی باب غزوة الحدیبیة رقم (۴۱۸۹) و(ج۲ص۷۱۷) کتاب التفسیر باب قوله ﴿إذ یبایعونک تحت الشجرة﴾ رقم (۴۸٤٤) و(ج۲ص۱۰۸۷) کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة باب مایذکر من ذم الرأی وتکلف القیاس رقم(۷۳۰۸)-
۲) (عمدة القاری (ج۱٤ص۱۱٤)-
۳) (قوله: عبدالله بن أوفی رضی الله عنه: الحدیث،أخرجه البخاری أیضًا (ج۱ص۳۹۷) کتاب الجهاد باب الصبر عندالقتال رقم (۲۸۳۳) و(ص۴۱۶) باب کان النبی صلی الله علیه وسلم إذا لم یقاتل أول النهار أخر القتال حتی نزول الشمس رقم (۲۹۶۶)و (ص٤۲٤) باب لاتتمنوا لقاء العدو رقم (۳۰۲٤) و (ج۲ص۱۰۷۵) کتاب التمنی باب کراهیة تمنی لقاء العدو رقم (۷۲۳۷) ومسلم فی صحیحه (ج۲ص۸٤) کتاب الجهاد باب کراهة تمنی لقاء العدو والأمر بالصبر عنداللقاء رقم (۴۵۴۲) وأبوداؤد فی سننه (ج۱ص۳۵٤) کتاب الجهاد باب کراهیة تمنی لقاء العدو رقم (۲۶۳۱)-
٤) (کشف الباری (ج۱ص۶۵۷)-
۵) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب الأذان باب إقبال الإمام علی الناس عند تسویة الصفوف-
۶) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۱۸) وکتاب الجمعة باب إذا نفر الناس عن صلاة الجمعة-

۳-ابواسحاق: دا ابواسحاق ابراهيم بن محمد بن حارث الفزاري رحمه الله دے.(١)

۴-موسى بن عقبه: داموسى بن عقبه الاسدى المدنى رحمه الله دے (٢)

۵- سالم ابوالنضر ابن ابى اميه: داسالم بن ابى اميه ابوالنضرالمدنى القرشى مولى عمرو بن عبيدالله رحمه الله دے. (٣)

۶- عبدالله بن ابى اوفى رضي الله عنه: دامشهورصحابى رسول صلى الله عليه وسلم حضرت عبدالله بن ابى اوفى علقمه الاسلمى رضي الله عنه. (۴)

قوله: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: واعلموا أن الجنة تحت ظلال السيوف: حضرت عبدالله بن ابي اوفي رضي الله عنه فرمائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد فرمائيلې دې (اې خلقو) پوهه شئى چه جنت د تورو د سورى لاندې دې.

دَ حديث مطلب: دا ((ظلال)) دا دَ ظل جمع ده اودَ سورى په معنى كښې دې اودَ رسول الله صلى الله عليه وسلم دا پورتنې ارشاد دَ كنايه او استعاره دَ قبيل نه دې او په دې كښې دَ جهاد طرف ته ترغيب دې. ځكه چه دَ انسان فطرت دې چه دَ راحت او آرام حاصلولو دَ پاره دَ سورى په لټون كښې وى او دَ هميشه والى سورې دَ جنت سورې دې نو كه دَ دې طلب وى نو جهاد كول پكار دى.(۵)

او علامه ابن الجوزى رحمه الله فرمائي چه دَ حديث شريف مراد دا دې چه دَ جنت دَ داخليدو ذريعه او سبب جهاد دې. كله چه دَ جنګ ميدان كښې يو سړې دَ بل په مقابله كښې راځى نو په هغې كښې هريو دَ بل دَ تورې دَ سورى لاندې راځى كه په دې حالت كښې قتل كړيشو نو هغه ته به جنت ملاويږى. (۶)

او علامه ابن المهلب رحمه الله فرمائى چه دَ حديث مطلب دا دې چه دَ الله تعالى دَ كلمې دَ اعلاء دَ پاره جنګيږى كه هغه قاتل وى كه مقتول جنتى دې. (٧)

قوله: تابعه الأويسي عن ابن أبي الزناد عن موسى بن عقبة: اويسى دَ معاويه بن عمرو په دې روايت كښې متابعت كړيدې. ((ابن أبي الزناد عن موسى بن عقبة)) په طريق سره. دَ اويسى نه مراددحضرت امام بخارى رحمه الله شيخ عبدالعزيزبن عبدالله العامرى رحمه الله دې.(٨)

---

١) (دَ دوى دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ كتاب الجمعة باب القائلة بعدالجمة-
٢) (دَ دوى دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ كتاب الوضوء باب إسباغ الوضوء-
٣) (دَ دوى دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ كتاب الوضوء باب المسح على الخفين-
٤) (دَ دوى دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ كتاب الوضوء باب من لم يرالوضوء إلا من المخرجين....-
٥) (جامع الأصول (ج٢ص٥۶٨)-
۶) (عمدة القارى (ج ١٤ص١١٥)-
٧) (شرح ابن بطال (ج٥ص٣١)-
٨) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب العلم باب الحرص على الحديث-

او مراد دا دې چه د حدیث باب راوی معاویه بن عمرو بن مهلب متابعت په دې روایت کښې اویسی کړیدې.

دَ مذکوره متابعت تخریج: دا متابعت امام بخاری رحمه الله صحیح بخاری نه علاوه چرته بل ځائ کښې موصولاً ذکرکړیدې. او ابن ابی عاصم دا په (کتاب الجهاد) کښې نقل کړیدې. (۱)

دغه شان عمر بن شبه هم دا متابعت دَ اویسی نه خپل (کتاب اخبار المدینة) کښې روایت کړیدې. په هغې کښې دَ دې امر اضافه هم ده چه حضور ﷺ په حدیث کښې خودلې شوې خبره دَ غزوه خندق په موقع ارشاد فرمائیلې وه. (۲)

دَمسلمانانو ټول مقتولین جنتیان دی: ابن المهلب رحمه الله فرمائی چه دَ حضرت عمر رضی الله عنه قول دې ((ألیس قتلانا فی الجنة وقتلاهم فی النار)) نه دا خبره معلومه شوه چه دَ مسلمانانو ټول مقتولان جنتی دی لیکن دا په اجمالی توګه باندې دی او دا ناممکن ده چه په هغې کښې چرته دَ یو تعین اوکړیشی او اووئیلې شی چه فلانکې جنتی دې. ځکه چه دَ حضور ﷺ فرمان دې ((والله أعلم بمن یجاهد فی سبیله)) نو مونږ په اجمالی توګه باندې دا ونیلې شو چه دَ مسلمانانو ټول مقتولین جنتیان دی خودَ تفصیل او تعین او نیتونو حال دَ الله تعالی په حواله دې.(۳)

دَ دې مسئلې نور تفصیل ((باب لایقول فلان شهید)) لاندې به انشاء الله راځی.

تنبیه: دَ حدیث باب په سند کښې دا الفاظ راغلی دی ((وکان کاتبه)) دې کښې ((کان)) ضمیر ابوالنضر طرف ته واپس کیږی او((کاتبه)) ضمیر عمربن عبیدالله طرف ته راجع دې او مطلب دا دې چه سالم ابوالنضر، عمر بن عبیدالله کاتب وو. (۴) هم (کتاب الجهاد) کښې دَ دې خبرې تصریح موجود ده. موسی بن عقبه فرمائی ((حدثنی سالم أبوالنضر مولی عمربن عبدالله کنتُ کاتباله))(۵)

دلته حافظ ابن حجراوعلامه عینی رحمهما الله (۶) دا لیکلی دی چه سالم عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنهما کاتب وو دا وهم دې.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: علامه ابن المنیر رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دلته ترجمة الباب دَ حدیث دَ الفاظونه ده اخذ کړې، دَ دې وجه یا خودا ده چه کله دَ تورې پړق او رڼا وی هم دَ هغې په حساب سره به دَ هغې سورې هم وی. دغه شان به مطابقت حاصل شی. یا که دا اووئیلې شی چه امام بخاری رحمه الله دا ترجمه دَ یو بل حدیث نه اخذ کړیده لیکن

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص ۳٤)و هدی الساری (ص۳۶)-
۲) (فتح الباری (ج۶ص ۳٤) وتغلیق العلیق(ج۳ص۴۳۲)-
۳) (شرح ابن بطال (ج۵ص۳۱)-
٤) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۱۸) وشرح القسطلانی (ج۵ص۵۳)-
۵) (صحیح البخاری (ج۱ص ٤۲٤) کتاب الجهاد باب لاتتمنوالقاء العدو رقم(۳۰۳٤)-
۶) (فتح الباری (ج۶ص۳۲) وعمدة القاری(ج ١٤ص ١١٤)-

هغه حديث د هغه په شرط موافق نه وو يه دې وجه په دې ترجمه كښې ئې تنبيه اوكړه او د ترجمه لاندې ئې نقل نه كړو. (١)

٢٣- باب: مَنْ طَلَبَ الْوَلَدَ لِلْجِهَادِ

د ترجمة الباب مقصد امام بخاری دې ترجمة الباب قائمولوسره دا خبره ښائی چه يو سړي خپلې ښځې سره د کوروالی په وخت کښې د جهاد د پاره د اولاد خواهش او تمنا اوکړی نو هغه ته به ثواب ملاويږی که اولاد پيدا شی اوکه نه. او د اولاد پيدا کيدونه پس که هغه جهاد اوکړی او که نه. بهرحال د نيت ثواب به خامخا ملاويږی. (٢)

[٢٦٦٣] وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي جَعْفَرُ بْنُ رَبِيعَةَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ هُرْمُزَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ (٣) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ عَلَيْهِمَا السَّلَامُ لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى مِائَةِ امْرَأَةٍ أَوْ تِسْعٍ وَتِسْعِينَ كُلُّهُنَّ يَأْتِي بِفَارِسٍ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ فَلَمْ يَقُلْ إِنْ شَاءَ اللَّهُ فَلَمْ يَحْمِلْ مِنْهُنَّ إِلَّا امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ جَاءَتْ بِشِقِّ رَجُلٍ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ قَالَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فُرْسَانًا أَجْمَعُونَ [ر: ٣٢٤٢]

تراجم رجال

١- **ليث:** دا امام ابوالحارث ليث بن سعد بن عبدالرحمن فهمی رحمه الله دې. د ده حالات ((بدء الوحی)) د دريم حديث په ذيل کښې راغلی دی. (۴)

---

١) (المتوارى (ص١٥٣) قال الحافظ ابن حجر رحمه الله كأنه أشار بالترجمة إلى حديث عمار بن ياسر.فأخرج الطبرانى بإسناد صحيح عن عمار بن ياسر أنه قال يوم صفين: الجنة تحت الأبارقة (فتح البارى ج٦ص٣٣) وجمع الزوائد للهيثمى (ج٧ص٢٤١)-

٢) (عمدة القارى (ج١٤ص١١٥)-

٣) (قوله: أباهريرة رضى الله عنه: الحديث أخرجه البخارى أيضًا (ج١ص٤٨٧) كتاب أحاديث الأنبياء باب ﴿ووهبنا لداؤد سليمن نعم العبد إنه أواب﴾ رقم (٣٤٢٤) و(ج٢ص٧٨٨) كتاب النكاح باب قول الرجل لأطوفن الليلة على نسائى رقم (٥٢٤٢) و (ج٢ص٩٩٤) كتاب الإيمان والنذور باب كيف كان يمين النبى صلى الله عليه وسلم؟ رقم (٦٦٣٩) و(ج٢ص٩٩٤) كتاب كفارات الإيمان باب الاستثناء فى الإيمان رقم (٦٧٢٠) و (ج٢ص١١١٣) كتاب التوحيد باب فى المشيئة والإرادة رقم (٧٤٦٩) ومسلم (ج٢ص٤٩) كتاب الإيمان باب الاستثناء فى اليمين وغيرها رقم (٤٢٨٥) والترمذى (ج١ص١٨٥) أبواب النذور والإيمان باب ماجاء فى الاستثناء فى اليمين رقم (١٥٣٢) والنسائى (ج٢ص١٤٨) كتاب الإيمان والنذور باب إذا حلف فقال له رجل: إن شاءالله هل له استثناء؟ رقم (٣٨٦٢) والاستثناء رقم (٣٨٨٧)-

٤) (كشف البارى (ج١ص٣٢٤)-

۲- جعفر بن ربيعه: دا امام جعفر بن ربيعة بن شرجيل رحمه الله دي (۱).

۳- عبدالرحمن بن هرمز: دا ابوداؤد عبدالرحمن بن هرمز مدني قرشي رحمه الله دي. د دوی مختصر حالات ((كتاب الإيمان باب حب الرسول من الإيمان)) لاندې تېرشوی (۲).

۴- ابوهريره رضي الله عنه: دا مشهورصحابی رسول ﷺ حضرت ابوهريره رضي الله عنه دی. د دوی حالات ((كتاب الإيمان باب أمور الإيمان)) لاندې تيرشوی دی. (۳)

قوله: عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: قال سليمان بن داود عليهما السلام لأطوفن الليلة على مائة امرأة أو تسع وتسعين كلهن يأتي بفارس يجاهد في سبيل الله: حضرت ابوهريره رضي الله عنه د حضور ﷺ نه روايت کوی چه هغوی فرمائيلی دی چه يو ځل حضرت سليمان عليه السلام اوفرمائيل د الله قسم! زه به په يوه شپه کښې سلو يا يوکم سل ښځو له ځم. په هغوی کښې به د هرې يوې نه يو يو په اس سوارلی کونکې پيدا کيږی چه د الله تعالى په لار کښې به جهاد کوی.

((لأطوفن)) کښې لام جواب قسم دې او قسم محذوف دې او تقدير عبارت داسې دې ((والله لأطوفن)) دَ دې تائيد دَ دې قول نه کيږی کوم چه دَ (کتاب النکاح) په روايت کښې راغلې دې.

((لم يحنث)) (۴) ځکه چه سړې هم په قسم حانث کيږی او دَ قسم دَ پاره ضروری دی چه د دې مقسم به هم وی. (۵)

او ((أطوفن)) مشتق دَ طواف نه دې دَ څه معنى چه ((ألدوران حول الشئ)) ده او دلته دَ جماع نه کنايه ده. (۶)

قوله: مائة امرأة أو تسع وتسعين:

دَ حضرت سليمان عليه السلام دَ بيبيانو په تعداد کښې دَ رواياتو اختلاف. دَ حضرت سليمان عليه السلام دَ بيبيانو دَ شمير په رواياتو کښې سخت اختلافات دی. دلته دَ باب په روايت کښې سل يا يوکم سل شك سره راغلى دی. په يو روايت کښې ((ستين)) (۷) او په يو روايت کښې ((سبعين)) (۸)

---

۱) (دَ ده دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ كتاب التيمم باب التيمم فى الحضر إذا لم يجد الماء.....-

۲) (كشف البارى (ج۲ص۱۱)-

۳) (كشف البارى (ج۱ص۶۵۹)-

۴) (انظر الصحيح للبخارى كتاب النكاح باب قول الرجل: لأطوفن الليلة على نسائى رقم (۵۲۴۲)-

۵) (فتح البارى (ج۶ص۴۶۰)-

۶) (عمدة القارى (ج۱۴ص۱۱۵)-

۷) (صحيح البخارى (ج۲ص۱۱۳) كتاب التوحيد باب فى المشيئة والإرادة رقم (۷۴۶۹)-

۸) (انظرصحيح البخارى(ج۲ص۴۸۷) كتاب أحاديث الأنبياء باب ﴿ووهبنا لداؤد سليمن نعم العبد إنه أواب﴾ رقم (۳۴۲۴)

او په یو کښې ((تسعين))(۱) او په یوبل روایت کښې بغیرد شك نه ((مائة))(۲) دی.
اوس په دې ټولو روایتونوکښې د جمع یو صورت دا دې که دا اووئیلې شی چه په دې ښځوکښې شپیته(۶۰) خو آزادې وې او نورې وینځې او بالعکس او سبعين په مبالغه باندې محمول کړیشی. نو پاتې شوې مائة او تسعون نو چونکه هغه د سلونه کمې او لس کم سلو نه زیاتې وې چه د کسور اعتبار ئی نه دې کړې نو هغه خو تسعون اووئیل او چا چه اعتبار اوکړواو کسور ئی پوره کړل او سل ئی اووئیل ((هذا ماقاله الحافظ رحمه الله في ((الفتح))) (۳)
خو د حافظ دا جواب د تکلف نه خالی نه دې او په دې کښې په دې اعتبار هم لریوالې دې چه حدیث یو دې اود روایت د ټولو طرقو راوی هم یو یعنی حضرت ابوهریره رضی الله عنه دې. ځکه چه د روایاتو په مینځ کښې د جمع او تطبیق صورت په هغه وخت کښې اختیارولې شی چه کله دا معلومه وی چه دا ټول اعداد نبی علیه السلام په مختلفو موقعو کښې ارشاد فرمائیلې وی او داسې هیڅ خبره نشته.
نو راجح جواب دا معلومیږی چه د روایاتو په مینځ چه د اعدادو کوم اختلاف دې د رُواتو د خپل تصرف نتیجه ده، کیدیشی نبی علیه السلام یو داسې عدد ذکر کړې ووچه په کثرت باندې دال وې نو بعضو رُواتو د دې تعبیر ستون سره اوکړوه او نورو سبعون یا تسعون سره. اود ډیرو رواة حدیث دا عادت دې چه هغوی د اصل حدیث اود هغې د مغز یادولو اهتمام خو کوی لیکن د هغې حواشی او تفصیلاتو کښې نه بختیږی د کوم چه په اصل حدیث کښې څه اثر نه وی. نو دلته هم دغه شوی دی چه رواة خو اصل قصه یاده کړیده لیکن د تعداد نسوء په معامله کښې هغوی هغه حیثیت ورنه کړو کوم ئی چه اصل قصې ته ورکړې. هم دې ځائ نه دلته اختلافات پیدا شو او دا اختلاف د اصل حدیث د صحت د پاره نقصانی نه دې. ځکه چه د محدثینو په نزد دا قاعده مسلمه ده چه د حدیث په یوه حصه کښې د راوی وهم د اصل حدیث ضعف ته مستلزم نه دې او حافظ ابن حجر رحمه الله هم دا قاعده په خپله فتح الباری کښې په مختلفو موقعو استعمال کړیده.(۴)
یو بل صورت دا دې چه داسې اووئیلې شی چه د قلیل په ذکر سره د کثیر نفی نه لازمیږی او دا مفهوم د عدد د قبیل نه دې چه د جمهورو په نزد حجت نه دې. (۵)

قوله: فقال له صاحبه: قل: إن شاء الله: نوهغه ته د هغه صاحب اووئیل إن شاء الله اووایه.

---

۱) (انظر صحیح البخاری (ج۱ص۹۸۲) کتاب الإیمان والنذور باب کیف کان یمین النبی صلی الله علیه وسلم؟ رقم (۶۶۳۹)-
۲) (انظر الصحیح للبخاری کتاب النکاح باب قول الرجل: لأطوفن اللیلة علی نسائی رقم (۵۲۴۲)-
۳) (فتح الباری (ج۶ص۴۶۰)-
۴) (فتح الباری (ج۹ص۲۸۶) وتکملة فتح الملهم (ج۲ص۲۰۷)-
۵) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۱۵)-

دَ صاحب نه څوک مراددي؟ علامه عینی حافظ ابن حجر او علامه نووی ﷭ فرمائی چه دَ صاحب نه مراد فرشته ده لکه چه په هغه باندې دَ (کتاب النکاح) روایت هم دلالت کوی. ((فقال له الملك)) (۱) او هم دا قول دې حضراتو صحیح ګرځولې دې. (۲)

او دَ بعضو نورو حضراتو وینا دا ده چه دلته دَ صاحب نه مراد آصف بن برخیا دې چا سره چه دَ کتاب علم وو، لیکن حافظ صاحب دا قول مردود ګرځولې دې.(۳)

علامه قرطبی فرمائی چه دَ صاحب نه مراد دَ حضرت سلیمان علیه السلام وزیر دې، که انسان وی که پیرې او که مراد ترینه فرښته وی نو دا هم هغه فرښته ده چه هغه له به نبی وحی راوړله او چا چه دَ صاحب نه مراد خاطر قلب ګرځولې دې دَ هغوی قول دَ حقیقت نه لرې دې. (۴)

بهرحال قول همدغه دې چه دَ صاحب نه مراد دلته ملك (فرښته) ده کما مرالان.

قوله: فلم یقل: إن شاء الله :نو هغه انشاء الله اونه وئیل.

مطلب دا چه حضرت سلیمان علیه السلام په ژبه سره انشاء الله اونه وئیل دا مطلب بالکل نه دې چه هغوی علیه السلام دَ زړه نه هم دَ الله تعالی طرف ته دَ تفویض نه غافل شوې وو.ځکه چه دا دَ نبوت دَ منصب نه خلاف ده. ممکن دی چه څه بل څه امر پیښ شوې وی. (۵)

دغه شان معامله زمونږ نبی علیه السلام ته هم پیښه شوې وه چه کله دَ مکې مشرکانو دَ حضور ﷺ نه دَ روح، خضر او ذوالقرنین باره کښې سوال اوکړونو هغوی ﷺ په جواب کښې اوفرمائیل چه زه به صبا تاسو ته جواب درکوم. ځکه چه دَ هغوی الله تعالی سره په تعلق دا یقین وو چه څنګه هغه فرمائی همدغه شان به وی. لیکن دَ هغوی دَ ژبې مبارکې نه انشاء الله ذهول شو، دا مطلب نه دې چه دَ زړه نه هم غافل او ذاهل شوې وو. (۶)

قوله: فلم یحمل منهن إلا امرأة واحدة جاءت بشق رجل :نو دَ هغه ښځونه صرف یوه ښځه حامله شوه او هغې یو نامکمل بچې راوړلو. مطلب دا چه دَ سلیمان علیه السلام انشاء الله نه وئیلو په وجه صرف دَ یوې ښځې حمل شو او هغه حمل هم ناقص وو.

قوله: والذی نفس محمد بیده، لوقال: إن شاء الله لجاهدوا فی سبیل الله فرسانا أجمعون: او هغه الله قسم! دَ چا په قبضه قدرت کښې چه دَ محمد ځان دې که چرې هغه (سلیمان علیه السلام) انشاء الله وئیلې وو نو هغه ټولو به دَ الله تعالی په لار کښې جهاد کولو.

مطلب دا چه که سلیمان علیه السلام دَ ژبې مبارکې نه ان شاء الله وئیلې وو نو هغه مراد به پوره

۱) (صحیح البخاری کتاب النکاح باب قول الرجل: لأطوفن اللیلة علی نسائی رقم (۵۲٤۲)-

۲) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۱۵) وفتح الباری (ج۶ص٤۶۱) وشرح مسلم للنووی(ج۲ص٤۹)-

۳) (فتح الباری (ج۶ص٤۶۱)-

٤) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۱۵)-

۵) (فتح الباری (ج۶ص٤۶۱)-

۶) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۱۵)-

شوې وو او هغه ټولو ښځو به يو يو فارس راوړلې وې چه د الله تعالى په لاركښې به ئې جهاد كولو.(١)
دَ دې مطلب تائيد دَ صحيح بخارى (كتاب النكاح) دَ يو روايت نه هم كيږى كوم كښې چه ((وكان أرجى لحاجته)) الفاظ راغلى دى(٢)
دَ نبى كريم ﷺ دَ دې ارشاد نه هم دا معلومه شوه چه دا ضرورى نه ده چه دَ هرانسان خواهش دې پوره شى سره دَ دې چه هغه انشاء الله وئيلې وى بلكه دَ استثناء حاصل خو دا دې چه هغه څنګه هم خواهش كړې دې دَ هغې دَ واقع كيدلو توقع او اميد ساتى او په ترك استثناء كښې دَ وقوع كيدلو اميد نه وى. (٣)
فائده: علامه مهلب رحمه الله فرمائى چه په حديث باب كښې دَ جهاد په نيت دَ اولاد غوښتلو ترغيب دې كله داسې هم كيږى چه ماشوم دَ اميد په خلاف مجاهد نه وى او كافر وى ليكن ده ته په خپل نيت او عمل ثواب ملاويږى. (۴)

دَ بچې دَ ناقص كيدو وجه: علامه رشيداحمد ګنګوهى رحمه الله دَحديث دَالفاظو((إلا امرأة واحدة جاءت بشق....)) تشريح كولو سره فرمائى چه كيديشى دَ دې ښځې دَ ناقص ماشوم پيدا كيدو وجه دَ حضرت سليمان عليه السلام په اراده باندې وى چه هغوى عليه السلام اراده خو كړې وه دَ ان شاء الله وئيلو ليكن دا چه هغه نه عزم پوره كيدل ممكن نه شو نو دا عزم ناقص شو نو دغه شان دَ هغه بچې هم ناقص او نامكمل شو پوره نشو.(۵)

مودودى صاحب.... او حديث باب: مودودى صاحب خپل تفسير (تفهيم القرآن) كښې ﴿ولقد فتنا سليمان وألقينا على كرسيه جسدًا ثم أناب....إنك أنت الوهاب﴾ تفسيركولو سره دَ حضرت ابوهريره رضى الله عنه حديث باب دَ عقل نه خلاف ګرځولې او دَ دې قول دَ رسول ﷺ نه دَ تسليم كولونه ئې انكار كړيدې، هغه ليكى چه :
دريم ټولې وائى چه حضرت سليمان عليه السلام يوه ورځ قسم اوخوړلو چه نن شپه به زه خپلو اويا بيبيانوله ورځم او دَ هرې يوې نه به يو دَ الله تعالى دَ لارې مجاهد پيداكيږى خو دې خبرې سره هغه انشاء الله اونه وئيل، دَ دې نتيجه دا شوه چه صرف يوه بى بى اميدواره شوه او د هغې نه هم يو نيمګړې ماشوم پيدا شو، كوم چه دائې راوړلو او دَ حضرت سليمان عليه السلام په كرسئ ئى كيخودو.دا حديث حضرت ابوهريره رضى الله عنه دَ حضور ﷺ نه روايت كړيدې او دا بخارى، مسلم او نورو ډير محدثينو په مختلفو طريقو سره نقل كړيدې. پخپله په بخارى شريف كښې دا په مختلفومقاماتوكښې چه په كومو طريقوسره نقل كړيشوې دې په هغې

---

١) (فتح البارى (ج۶ص۴۶۱)-
٢) (صحيح البخارى تاب النكاح باب قول الرجل: لأطوفن الليلة على نسائى رقم (۵۲۴۲)-
٣) (فتح البارى (ج۶ص۴۶۱)-
٤) (شرح ابن بطال (ج۵ص۳۲)-
٥) (لامع الدرارى (ج۷ص۲۲۰)-

كنبي چا كنبي د بيبيانو تعداد (۶۰) دي او چا كنبي (۷۰) چا كنبي (۹۰) چا كنبي (۹۹) او په چا كنبي (۱۰۰). تركومي چه د سند تعلق دې په دې كنبي د اكثرروايتو سند قوى دې او په اعتبار د روايت د دي په صحت كنبي كلام نشى كيدلې ليكن د حديث مضمون صريح د عقل خلاف دي او په چغو چغو وائي چه دا خبره به رسول الله ﷺ هيڅ كله هم داسې نه وى فرمائيلى څنګه چه نقل شويده. بلكه هغوى ﷺ به د غالبا د يهوديانو د فضول وينا ذكر كولو سره په يوه موقع دا د مثال په توګه بيان كړې وى او اوريدونكى ته دا غلط فهمى شويده چه دا خبره حضور ﷺ پخپله د واقع په توګه بيانوى. داسې روايات صرف د سند د صحت په زور د خلقو د حلق نه تيرولو كوشش كول دين توقې مسخرې جوړول دى. هر سړې پخپله حساب لګولې شى چه د ژمې په اوږده شپه كنبي هم د ماسخوتن او سحر په مينځ كنبي لس يولس ګينټو نه زيات وخت نه وى، كه د بيبيانو د كم نه كم تعداد (۶۰) اومنلې شى نو دې معنى دا شوه چه حضرت سليمان ﷺ په هغه شپه بغير د سا اخستلوفى ګينټه دشپږوبيبيانوپه حساب سره مسلسل لس يايولس ګينټې كوروالې كولو. آيا دا عملاً ممكن دى؟ او آيا دا توقع كولې شى چه حضور ﷺ به دا خبره د واقع په توګه بيان كړې وى. (۱)

په دې حديث باندې د هغه كلام او په احاديث صحيحه باندې غير اصولى تنقيد كولو چه كومه دروازه هغه پرانستې ده هغې ته په كتلو په الله تعالى قسم چه د زمونږ غونې زيږ شو او بدن مو اورپيدو. په دې خبره كنبي هيڅ شك نشته چه په احاديثوباندې په ماضى كنبي سليمانه علمى نقدو بحث كيږى او بيا به هم كيږى ليكن د دې بحث او تمحيص څه اصول او قواعد هم دى د څه تفصيل محدثينو حضراتود اصول په كتابونوكنبي كړيدي.

كه هر سړى ته د دې خبرې اجازت وركړيشي چه احاديث صحيحه د سند، صحت او رجال ثقاهت باوصف هغه رد كړى، صرف د دې د پاره چه د هغې معنې د هغه د عقل موافق نه دى نو د دين بنيادونه به په رقيدو شى او هر كس او ناكس د وړوكى او لونې د پاره به د تحريف دروازه يك دم كولاوشى. لاحول ولاقوة الابالله العظيم.

او دا مودوى صاحب چه د شپې د وختونو كوم حساب ذكر كړيدې او دا چه په ذومره لږ وخت كنبي شپيتو ښځو سره جماع كول ممكن نه دى نو دا د لانديني وجوهاتو په بناء باندې مدفوع (مسترد) دى:

رومبئى وجه. روستودا خبره راغلې ده چه د حضرت سليمان ﷺ د بيبيانو يومقرر شمير د حديث نه ثابت نه دې، ښكاره همدغه ده چه نبى اكرم ﷺ يوداسې عدد ذكر كړې وو چه په كثرت باندې دال وو. بعض رواتو د دې تعبير شپيتوسره اوكړو. چا لس كم سلو سره يا د دې نه زياتو سره اوكړو، ځكه چه رواة خو د اصل حديث يادولو اهتمام كوى او د حديث د دې اجزاو او تفاصيلوسره زيات كار نه لرى او د كوم چه په اصل حديث كنبي څه اثر نه وى،

۱) (تفهيم القرآن (ج۳ص۳۳۷) -

نو مونږ ته دا حق څنګه حاصل دې چه يو عدد مقرر کړو بيا د دې په حساب د شپې اوقات مقرر او متعين کړو؟

دوئمه وجه که د شپيتو دا شمير فرض کړه مونږ صحيح اوګڼړو نو شپږو ښځو سره يو ګينټه کښې جماع کول څرنګ محال دې؟ اوکه شپه په دولس ګينټو باندې هم مشتمل شی نو صحيح حساب په يوه ګينټه کښې ينځه ښځې شوې نو دا څنګه عقلاً محال شو چه د دې په وجه صحيح حديث رد کړيشی؟ که د انبياء عليهم السلام قصص او د هغوی په حکايانو کښې مونږ داقسم قياسونه شروع کړل نونه به د يونبی معجزه ثابته شی نه د هغوی نه علاوه د چا کرامت. انبياء عليهم السلام خو څه بلکه بعض اولياؤ نه خومره داسې امور ثابت دی چه هغوی په ډير لږ وخت کښې ډير کارونه کړی دی او نور خلق د هغې نه په دو چند وخت کښې هم هغه کارونه نشی پوره کولې. بعض فلاسفه... د چا سرخيل چه حضرت شيخ الاسلام مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمه الله دې ثابت کړی چه د وخت د پاره طول او عرض دواړه وی. د کومو څيزونو چه مونږ په عامو احوالوکښې مشاهده کوو هغه د وخت طول دې او د ډيرو کارونو په لږ وخت کښې پوره کولو چه کوم ذکر کولې شی هغه د وختونو په عرض کښې واقع کيږی.

د بحث خلاصه حاصل دا دې چه صرف د عقل بعضې امور واقع کيدل مستبعد ګنړل د صحيح احاديثو د رد د پاره کافی نه دی. معجزات او کرامات داسې امور دی کوم چه عقل مستبعد ګنړی ليکن دا بې شك او شبهې ثابت دی.

او ترکومې چه د بعضو اصوليينو د دې خبرې تعلق دې چه د حديث د صحت دپاره دا ضروری دی چه هغه دې د عقل خلاف نه وی نو د دې نه د هغوی مطلب دا وی چه د عقل نه خلاف په دې معنی وی چه د هغې نه محال عقلی لازم راځی، دا مطلب نه دې چه هغه صرف عقل مستبعد اوګنړی. د دې دلائلونه علاوه کوم چه د معجزاتو په ثبوت دلالت کوی.علامه سيوطی رحمه الله (تدريب الراوی) کښې فرمائی:

«إن من جملة دلائل الوضع أن يكون مخالفا للعقل بحيث لايقبل التأويل، ويلتحق به مايدفعه الحس والمشاهدة، أويكون منافيا لدلالة الكتاب القطعية أو السنة المتواترة أو الإجماع القطعي، أما المعارضة مع إمكان الجمع فلا» (۱)

يعنی د حديث د وضع په ادله کښې دا هم دی چه هغه به د عقل مخالف وی، په دې حيثيت سره چه بالکل تاويل قبول نه کړی، دې سره هغه هم شامل دې کوم ته چه حس يا مشاهده رد کړی. يا دا چه هغه د کتاب الله د قطعی دلالت يا سنت متواتره يا اجماع قطعی منافی کيږی. هغه تعارض کوم کښې چه د جمع بين الروايات امکان وی،نو هغه د وضع حديث د دليلونو نه نه دې.

علامه سخاوی رحمه الله (فتح المغيث) کښې ليکی:

---

۱) (انظر تدريب الراوی (ج۱ص۲۷۶)-

((وكأن يكون مخالفا للعقل ضرورة أو استدلالا، ولا يقبل تأويلا بحال، نحو: الإخبار عن الجمع بين الضدين، وعن نفي الصانع، وقدم الأجسام، وما أشبه ذلك لأنه لايجوز أن يرد الشرع بما ينافي مقتضى العقل)) (۱)
لکه څنګه چه ضرورة او استدلالاً دَ عقل مخالف وی او په هیڅ قسم تاویل نه قبلوی لکه جمع بین الضدین او نفی صانع او قدم اجسام او دَ هغې مشابه دَ یوڅیز خبر چه ورکړیشوی وی څکه چه داخبره هډو صحیح نه ده چه حکم شرعی په یوداسې څیز کښې راشی چه دَ عقل دَ مقتضی منافی وی. (۲)
د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث شریف ترجمة الباب سره مناسبت بالکل واضح او ښکاره دې چه په دې کښې دَ حضرت سلیمان علیه السلام دَ جهاد دَ پاره دَ بچی غوښتلو ذکر دې. (۳)

۲۴- بَاب: الشَّجَاعَةِ فِي الْحَرْبِ وَالْجُبْنِ

دَترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې په جنګ کښې بهادری اختیارولو تعریف او په بزدلئی کښې خرابې بیانول غواړی. (۴)
[۲۶۶۵] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ وَاقِدٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ (۵) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ وَأَشْجَعَ النَّاسِ وَأَجْوَدَ النَّاسِ وَلَقَدْ فَزِعَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ فَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبَقَهُمْ عَلَى فَرَسٍ وَقَالَ وَجَدْنَاهُ بَحْرًا [ر: ۲۴۸۴]

تراجم رجال

۱- احمد بن عبدالملک بن واقد: دا مشهور محدث احمدبن عبدالملک بن واقد الاسدی رحمه الله دې. (۶)
۲- حماد بن زید: دا ابواسماعیل حماد بن زیدبن درهم بصری رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب ﴿وإن طائفتان من المؤمنین......﴾)) لاندې ذکر شوی دی. (۷)
۳- ثابت بُنانی: دا مشهور تابعی بزرګ ابومحمد ثابت بن اسلم بنانی رحمه الله دې. دَ دوی

---

۱) (فتح المغیث شرح ألفیة الحدیث (ج۱ص۲۹٤) والناقد الحدیث فی علوم الحدیث (ص۴۸)-
۲) (تکملة فتح الملهم (ج۲ص۲۱۲-۲۱۳) وأیضًا انظر الاستاذ المودودی من حیاته وأفکاره للبنوری-
۳) (عمدة القاری(ج ١٤ص١١٥)-
٤) (عمدة القاری (ج ١٤ص١١٧)-
۵) (قوله: عن أنس رضی الله عنه: الحدیث مرتخریجه فی کتاب الهبة باب من استعاز من الناس الفرس-
۶) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الصلاة باب الخدم للمسجد-
۷) (کشف الباری (ج۲ص۲۱۹)-

حالات ((کتاب العلم باب القرءة والعرض علی المحدث)) لاندې تیرشوی دی.(۱)

۴-انس رضی الله عنه: دَ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه حالات ((کتاب الایمان باب من الایمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه)) لاندې تیرشوی دی. (۲)

قوله: کان النبی صلی الله علیه وسلم أحسن الناس وأشجع الناس وأجود الناس: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه نبی کریم ﷺ په خلقو کښې د ټولونه زیات ښکلې د ټولو نه زیات بهادر او ټولونه زیات سخی وو.

دَ نبی علیه السلام درې صفتونه: په دې حدیث کښې دَ نبی علیه السلام درې صفتونه ذکر کړیشو.

① احسن ② اشجع ③ اجود(۳)

دَحکماء اسلام وینا ده چه دَ انسان درې قُوٰی دی. عقلیه، غضبیه او شهویه. دَ قوت غضبیه دَ کمال ننداره شجاعت او بهادری ده. دَ قوت شهویه دَ کمال مظهر جود او سخاوت دې او دَ قوت عقلیه کمال او مظهر حکمت دې. او په لفظ احسن کښې هم د دې قوت عقلیه کمال ته اشاره ده ځکه چه حسن صورت تابع دې دَ مزاج دَ اعتدال او د مزاج اعتدال د نفس صفائې او پاکیزګئی ته او جودت طبع نه ماخوذ دې او دغه دریواړه صفات دَ امهات الاخلاق نه دی. (۴)

قوله: ولقد فزع أهل المدینة فکان النبی صلی الله علیه وسلم سبقهم علی فرس: او دَ مدینې خلق اوویریدل نو نبی کریم ﷺ په یو اس باندې سور شو او دَ ټولونه وړاندې اورسیدو. ((فزع)) بکسر الزاء ((الفزع)) نه مشتق دې او دَ دې معنی دَ ویریدلو ده.(۵)

قوله: وقال: وجدناه بحرا: اوحضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو مونږ دا اس دَ سمندر په شان اوموندلو. دَ (کتاب الهبة) په روایت کښې راغلی چه پورته ذکر شوې اس دَ حضرت ابوطلحه رضی الله عنه وو کوم چه نبی علیه السلام دَ هغه نه دَعاریت په توګه اخستې وو او هم په دې روایت کښې دَ هغه اس نوم (مندوب) وو. (۶)

علامه مهلب رحمه الله فرمائی چه حضور ﷺ دَ هغه اس دَ تیزوالی تشبیه سمندر سره ورکړه او وئی فرمائیل چه مونږ دا اس په سرعت سیر کښې دَ سمندر په شان اوموندلو. لکه ځنګه چه

---

۱) (کشف الباری (ج۳ص۱۸۳)-
۲) (کشف الباری (ج۲ص٤)-
۳) (عمدة القاری (ج١٤ص١١٧)-
٤) (شرح الکرمانی (۱۲ص۱۱۹)-
٥) (مختار الصحاح (ص۵۰۲) مادة فزع-
۶) (صحیح بخاری (ج۱ص۳۵۸) کتاب الهبة باب من استعار من الناس الفرس رقم (۲۶۲۷)-

د سمندر اوبه یو شان په تیزئی سره رواني وی دغه شان دا اس هم په یو رفتار منډې وهلې بالکل ستړې نشو.(۱)

علامه مهلب نور فرمائی چه د ټولونه اول اس ته د سمندر تشبیه رسول الله ﷺ ورکړه. (۲)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث ترجمة الباب سره مناسبت د حضرت انس ﷛ دې ارشاد کښې دې ((وأشجع الناس))(۳)

[۲۶۶۶] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ جُبَيْرٍ قَالَ أَخْبَرَنِي جُبَيْرُ بْنُ مُطْعِمٍ(۴) أَنَّهُ بَيْنَمَا هُوَ يَسِيرُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ النَّاسُ مَقْفَلَهُ مِنْ حُنَيْنٍ فَعَلِقَهُ النَّاسُ يَسْأَلُونَهُ حَتَّى اضْطَرُّوهُ إِلَى سَمُرَةٍ فَخَطِفَتْ رِدَاءَهُ فَوَقَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَعْطُونِي رِدَائِي لَوْ كَانَ لِي عَدَدُ هَذِهِ الْعِضَاهِ نَعَمًا لَقَسَمْتُهُ بَيْنَكُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُونِي بَخِيلًا وَلَا كَذُوبًا وَلَا جَبَانًا [۲۹۷۹]

تراجم رجال

۱- <u>ابوالیمان:</u> داابوالیمان حکم بن نافع بصری ﷫ دې. د ده حالات ((بدء الوحی)) الحدیث السادس لاندې تیر شوی. (۵)

۲- <u>شعیب:</u> دا ابوبشر شعیب بن ابی حمزه القرشی الاموی ﷫ دې. د ده حالات ((بدءالوحی)) د شپږم حدیث لاندې راغلی دی. (۶)

۳- <u>زهري:</u> دا امام محمدبن مسلم ابن شهاب زهری ﷫ دې. د ده مختصر حالات ((بدء الوحی)) دریم حدیث په ذیل کښې راغلی دی. (۷)

۴- <u>عمربن محمدبن جبیر:</u> دا د رسول الله ﷺ مشهور صحابی حضرت جبیر بن مطعم ﷛ نمسي عمر بن محمد بن جبیر بن مطعم بن عدی القرشی النوفلی المدنی ﷫ دې.(۸) دوی د خپل والدصاحب محمدبن جبیر نه روایت کوی. د هغوی نه د حدیث روایت کونکې

---

۱) (شرح ابن بطال(ج۵ص ۳٤)-

۲) (شرح ابن بطال (ج۵ص ۳٤)-

۳) (عمدة القاری (ج ١٤ص١١٧)-

٤) (قوله: جبیر بن مطعم: الحدیث أخرجه البخاری (ج١ص٤٤۶) کتاب فرض الخمس باب ماکان النبی صلی الله علیه وسلم یعطی المؤلفة قلوبهم وغیرهم من الخمس ونحوه رقم (۳١٤۸) والحدیث من إفراده-

۵) (کشف الباری (ج ١ص٤٧٩)-

۶) (کشف الباری (ج ١ص ٤٨٠)-

۷) (کشف الباری (ج ١ص۳۲۶)-

۸) (تهذیب الکمال (ج۲١ص٤٩۵) وقال الذهبی فی المیزان (ج۳ص ۲۲۰) ماروی فی علمی سوی الزهری-

صرف امام زهری رحمه الله دي. (۱)

امام نسائی فرمائی ((ثقة)) (۲)

ابن حجر رحمه الله فرمائی ((ثقة)) (۳)

ابن حبان رحمه الله د هغه ذکر په (کتاب الثقات) کښې کړیدې. (۴)
دې په امهات سته کښې صرف د صحیح بخاری راوی دې او امام بخاری رحمه الله هم د ده نه صرف یو حدیث (مذکور فی الباب) اخستې دې. (۵)

د- **محمد جبیر:** دا ابوسعید محمدبن جبیر بن مطعم المدنی رحمه الله دې. (۶)

۶- **جبیر بن مطعم رضی الله عنه:** دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم مشهور صحابی حضرت جبیر بن مطعم بن عدی رضی الله عنه دې. (۷)

قوله: أنه بینما هو یسیر مع رسول الله صلی الله علیه وسلم ومعه الناس مقفله من حنین: حضرت جبیر بن مطعم فرمائی چه کله هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم سره روان وو او په دې وخت کښې هغوی سره نور خلق هم وو د غزوه حنین د واپسئ په وخت کښې. دلته په حدیث باب کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه واقعه بیان کړې شوې ده چه د غزوه حنین نه په واپسئ کښې پیښه شوې وه. داسې اوشوه چه کله حضور صلی الله علیه وسلم په غزوه حنین کښې د فتح او نصرت نه پس د اهل حنین قیدیان د هغوی د کورونو والا ته واپس کولو نه فارغ شو نو حضور صلی الله علیه وسلم سور شو او روان شو، نور خلق هم هغوی پسې شاشا ته روان شو او د هغوی صلی الله علیه وسلم نه نی د غنمیت د مال غوښتنه شروع کړه.
په دې موقع باندې هغوی صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو ((أعطونی ردائی....)) (۸)
((مقفله)) مصدرمیمی دې یا ظرف زمان او د ((قفول)) معنی ((رجوع)) ده. (۹) او هم د بخاری شریف په یو روایت کښې ((مقفلا من حنین)) (۱۰) الفاظ راغلی دی یعنی دغه وخت کښې حضور صلی الله علیه وسلم د حنین نه واپس کیدلو، په دې روایت کښې دا حال واقع شوې دې. (۱۱)

---

۱) (حواله بالا-

۲) (حواله بالا-

۳) (تقریب التهذیب (۴۱۶) رقم (۴۹۶۳)-

۴) (الثقات لابن حبان (ج۷ص۱۶۶)-

۵) (تهذیب الکمال (ج۲۱ص۴۹۶)-

۶) (د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ کتاب الأذان باب الجهر فی المغرب-

۷) (د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ کتاب الغسل باب من أفاض علی رأسه ثلاثا-

۸) (شیرة ابن هشام (ج۳-۴ص۴۹۲)-

۹) (شرح الطیبی (ج۱۱ص۳۱) وعمدة القاری (ج۱۴ص۱۱۸)وجامع الأصول (ج۵ص۱۰)-

۱۰) (صحیح بخاری (ج۱ص۴۴۶) کتاب فرض الخمس باب ماکان النبی صلی الله علیه وسلم یعطی المؤلفة قلوبهم وغیرهم من الخمس ونحوه رقم (۳۱۴۸)-

۱۱) (فتح الباری (ج۶ص۲۵۴)-

((فعلقه الناس يسألونه حتى اضطروه إلى سمرة، فخطفت ردائه
خلق حضور ﷺ پورې اونختل او د هغوی نه ئې غوښتنه کوله. تردې چه حضور ﷺ د کیکر اونې پورې په پناه اخستلو مجبورشو نو کیکر د هغوی څادر مبارک رانیکلو.

((علق)) دادباب ((سمع)) نه دې او((تعلق)) په معنی کښې دې یعنی اینختل او لازم نیول.(۱)

او د ((الناس)) نه مراد ((الأعراب)) یعنی کلی وال دی. لکه چه (کتاب فرض الخمس) په روایت کښې ((الأعراب)) راغلې دی. (۲)

او ((يسألون)) الناس نه حال واقع کیږی. (۳)

او د((خطف)) معنی ناڅاپی اوچتولو ده. (۴)

او دلته مطلب دا دې چه د حضور څادر د کیکر په ازغوکښې ګډوډ شو او په هغه ازغو کښې اونختلو. (۵)

قوله: فوقف النبی صلی الله علیه وسلم فقال: أعطونی ردائی، لوکان عددهذه العضاه نعما لقسمته بینکم: نو نبی کریم ﷺ توقف اختیارکړو او وئی فرمائیل چه زما څادر ماته راکړئی، که زما د دې ازغو او ونو برابر څاروی وې نو ټول به ما په تاسو خلقو کښې تقسیم کړې وې.

علامه قسطلانی د دې جملې مطلب دا بیان کړیدې چه زه خپل مال تاسو خلقو ته درکولوله تیاریم نو تاسو خلقو چه دا کوم غنیمت حاصل کړیدې هغه خو زه په طریق اولی درکوم. (۶)

((عضاه)) دا د عضاهة وعضهة وعضة جمع ده. (۷) او عضاه هرهغه ونې ته وائی چه ازغیژنه وی لکه کیکر وغیره.(۸)

ابن التین رحمه الله فرمائی دا کلمه حالت وصل او وقف دواړو کښې د باء سره لوستلې شی.(۹)

د کلمه "نعم" لغوی تحقیق: د ((نعم)) تحقیق کولو سره علامه ابوجعفر النحاس رحمه الله فرمائی

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ ص۱۱۸)-
۲) (صحیح بخاری (ج۱ص٤٤٥٦) کتاب فرض الخمس باب ماکان النبی صلی الله علیه وسلم یعطی المؤلفة قلوبهم وغیرهم من الخمس ونحوه رقم (۳۱٤۸)-
۳) (عمدة القاری (ج ۱٤ ص۱۱۸)-
٤) (مختار الصحاح (ص۱۱۸) مادة خطف-
۵) (شرح الطیبی (ج۱۱ص۳۱)-
۶) (شرح القسطلانی (ج۵ص٥٤)-
۷) (عمدة القاری (ج ۱٤ ص۱۱۸)-
۸) (جامع الأصول (ج۵ص۱۰)-
۹) (عمدة القاری(ج ۱٤ ص۱۱۸)-

چه دَ نعم اطلاق ابل، بقر او غنم باندې کيږي صرف اوښ ته نعم نشي وئيلې. دغه شان په غوا او بکرئ باندې هم دَ دې استعمال شائع نه دې.(۱)

او علامه فراء نحوی رحمه الله فرمائی ((هوذکرلایوٴنث، یقولون: هذا نعم وارد، وجمعة نعمان کحمل وحملان)) (۲)

دَ نعم اعراب: دلته ((نعما)) منصوب واقع شويدې. او دَ ابوذر په روايت کښې دالفظ مرفوع دې. (۳)

نوکه دا کلمه مرفوع ده نودا دَ کان اسم موٴخر دې او ((عددهذالعضاه)) خبر مقدم او که منصوب دې نو نعما بنا برتمييزمنصوب دې او کان تامه دې.

يا دا چه کان ناقصه دې او نعما دَ کان خبر او عددُ دَ کان اسم دې.

قوله: ثم لاتجدونی بخیلاً ولا کذوباً ولا جبانا: بيا به نه تاسو ما بخيل اوموملئ او نه دروغژن او نه بزدل.

مطلب دا چه که تاسو ما په مشکل او سخت وخت کښې هم ازمينبت کړئ نوصفات رذيله مثلاً بخل، کذب اوبزدلي وغيره سره به مې متصف اونه موملئ (۴)

نفی مطلق دَ وصف ده دَ مبالغې نه ده: دلته نبی کريم ﷺ دَ دريو صفات رذيلو دَ خپل ذات مبارك نه نفي فرمائيلې ده او چه کوم الفاظ ئې فرمائيلي دی په هغې کښې کذب دَ مبالغه. جبان صفت دَ مشبهه صيغه دې،او بخيل دَ دواړو احتمال لرى خودلته دَ مبالغې نفی مراد نه ده بلکه مطلقاً دَ وصف نفی ده گنې نو مشهور اشکال به پيښ شی چه په کذوب کښې نفی مطلقاً دَ کذب نه بلکه زياتوالی دَ کذب دې، دغه شان په نورو الفاظو کښې هم دغه اشکال دی او مطلب به داسې شی چه کاذب خو ډې ليکن کذوب نه دې وهلم جرا-

دَ دې دَ پاره دلته مطلقًا نفی دَ اوصاف ثلاثه ده نه چه دَمبالغې. دا داسې ده لکه چه دَ الله تعالى په ارشاد کښې دی ﴿وما ربك بظلام للعبيد﴾ (۵) په دې آيت کښې هم نفی مطلق دَ ظلم ده گنې نو الله تعالى به نعوذبالله ظالم کيدل لازم راشی او دا بديهی البطلان دې. (۶)

علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه دا کلمه((ثم)) تراخی فی الرتبه دَ پاره دې.اودَ نبی کريم ﷺ دَ ارشاد مطلب دادې چه زه په دې عطاء کښې مجبور نه يم بلکه پوره شوق او رغبت سره به

---

۱) (حواله بالا-
۲) (مختارالصحاح (ص۶۶۹)-
۳) (فتح البارى (ج۶ص۳۵)-
۴) (شرح الطيبى (ج۱۱ص۳۲)-
۵) (فصلت:۴۶)-
۶) (عمدة القارى (ج۱۴ص۱۱۸) وشرح القسطلانى (ج۵ص۵۴)-

تاسوته درکوم او زه دروغژن هم نه یم چه اوس تاسو سره وعده اوکړم او تاسونه خان خلاص کړم،بیا روستو منکر شم او تاسو ته مال درنکړم او نه زه بزدل یم چه د چانه اوویریږم، نو لکه چه دا دواړه جملې ((ولاکذوبا ولاجبانا)) د کلام سابقه تتمه ده. علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ د عدم کذب نه د قوت عقلیه کمال یعنی حکمت طرف ته، عدم جبن نه د قوت غضبیه کمال یعنی بهادرئی طرف ته او عدم بخل نه د قوت شهویه کمال یعنی سخاوت طرف ته اشاره اوفرمائیله. یعنی حضور ﷺ قوت عقلیه، قوت غضبیه او قوت شهویه کښې کامل وو او همدغه دریواړه د قوی اخلاق فاضله اصل دي، رومبي صدیقین دوئم شهداء او دریم صلحاء مرتبه ده . اللهم اجعلنا منهم. (۱)

د حدیث فوائد: علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه د جبیر په حدیث کښې یوڅو فائدې دی مثلاً: ① که جاهلان د یو صاحب علم او فضل سړی باره کښې بدګمانئی ښکاروی نو هغه سړی له پکار دی چه هغه سړې دې د خپلو ښو عاداتو او ښکلې خصلتونو سرعام ذکر اوکړی، دې د پاره چه بدګمانی ختمه شی.

② د حدیث نه دا هم معلومه شوه چه یو سړې چا کښې چه بخل، کذب او بزدلئی په شان صفات رذیله وی نو هغه د خلقو مقتداء او پیشوا نشی جوړیدې. او خلقو ته هم پکار دی چه په چا کښې د دې نه یو صفت هم وی نو امام او خلیفه دې نه جوړوی. (۲)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت د رسول الله ﷺ په دې مبارك ارشاد کښې دې. ((ثم لاتجدونی بخیلا، ولاکذوبا، ولاجبانا))(۳)

۲۵-بَاب: مَا يُتَعَوَّذُ مِنَ الْجُبْنِ

ماقبل سره ربط او مناسبت: په وړاندینی باب کښې د بزدلئی مذموم او قبیح کیدو بیان وو او په دې باب کښې د دې خبرې ذکر دې چه هرکله بزدلی مذموم او قبیح دی نو دینه پناه غوښتل پکار دی.

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دا خودل غواړی چه د بزدلئی نه پناه غوښتل پکار دی لکه څنګه چه رسول الله ﷺ دې نه پناه غوښتې وه. (۴)

[۲۶۶۷] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عُمَيْرٍ سَمِعْتُ عَمْرَو بْنَ مَيْمُونٍ الْأَوْدِيَّ قَالَ كَانَ سَعْدٌ(۵) يُعَلِّمُ بَنِيهِ هَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ كَمَا يُعَلِّمُ الْمُعَلِّمُ الْغِلْمَانَ

---

۱) (شرح الکرمانی (۱۲ص ۱۲۰)-

۲) (شرح ابن بطال (ج۵ص ۳۴)-

۳) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۱۷)-

٤) (عمدةالقاری(ج ١٤ص۱۱۹)-

۵) (قوله: سعد: الحدیث أخرجه البخاری أیضًا (جص۲ ۹٤۲) کتاب الدعوات باب التعوذ من عذاب القبر رقم(۶۳۶۵) و(ص۲ ۹٤۲) باب التعوذ من البخل رقم (۶۳۰) ...... [بقیه حاشیه په راروانه صحفه.....

الْكِتَابَةَ وَيَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَعَوَّذُ مِنْهُنَّ دُبُرَ الصَّلَاةِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَأَعُوذُبِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ وَأَعُوذُبِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَأَعُوذُبِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ فَحَدَّثْتُ بِهِ مُصْعَبًا فَصَدَّقَهُ [٦٠٠٣، ٦٠٠٩، ٦٠٢٣، ٦٠٤٢]

تراجم رجال

۱- موسى بن اسمعيل: دا ابوسلمه موسى بن اسماعيل تبوذکی بصری رحمه الله دی. دَ دوی حالات ((بدء الوحی)) څلورم حدیث په ذیل کښې راغلی دی. (۱)

۲- ابوعوانه: دَدوی نوم وضاح بن عبدالله یشکری رحمه الله دې.دَدوی حالات هم ((بدء الوحی)) څلورم حدیث په ذیل کښې راغلی دی.(۲)

۳- عبدالملك بن عمير: دا ابوعمر عبدالملك بن عمیر بن سوید الکوفی رحمه الله دې. (۳)

۴- عمرو بن ميمون الاودي: دا ابویحیی عمرو بن میمون الاودی الخضرمی الکوفی رحمه الله دې. (۴)

۵- سعد: دا دَ رسول الله ﷺ مشهور صحابی حضرت سعد بن ابی وقاص اللیثی المدنی رضی الله عنه دې. دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب إذا لم یکن الإسلام علی الحقیقة....)) لاندې راغلی دی.(۵)

قوله: قال: كان سعد يعلم بنيه هؤلاء الكلمات كما يعلم المعلم الغلمان الكتابة: عمرو بن میمون لاودی رحمه الله فرمائی چه حضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه خپلو ځامنوته دا کلمې داسې خودلې لکه څنګه چه معلم شاګردانوته کتابت ښائی.

دلته دَ تمهید په توګه راتلونکې دعائیه کلماتو دَ اهمیت خودلو دَ پاره دابیان کړیشوچه حضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه ددې کلماتو خپلوبچوته دَ زده کولو بې حده اهتمام کولو او راوی عمرو بن میمون دَ دې ماشومانوته تحریر خودلو سره تشبیه ورکړه لکه چه څنګه

.....دتیرمخ بقیه] و(ص٩٤٢) باب الاستعاذة من أرذل العمر، ومن فتنة الدنيا ومن فتنة النار رقم (٦٣٧٤) و (ص٩٤٥) باب التعوذ من فتنة الدنيا رقم (٦٣٩٠) والترمذى فى سننه (ج٢ص١٩٦) أبواب الدعوات باب فى دعاء النبى صلى الله عليه وسلم وتعوذه فى دبر كل صلوة رقم (٣٥٦٧) والنسائى (ج٢ص٣١٥) تاب الاستعاذة باب الاستعاذة من فتنة الدنيا رقم (٥٤٨٠-٥٤٨١) وباب الاستعاذة من البخل رقم (٥٤٤٩)-

۱) (كشف البارى (ج١ص٤٣٣)-

۲) (حواله بالا (ص٤٣٤)-

۳) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الأذان باب اهل العلم والفضل أحق بالإمامة-

٤) دَ دوی دَحالاتودَپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب إذا ألقى على ظهر المصلى قذر أوجيفة لم تفسد عليه صلاته-

٥) (كشف البارى (ج٢ص١٧٣)-

ماشومانوته د تحریر اوکتابت خودل د ډیر محنت او اهمیت متقاضی وی دغه شان دا کلمات هم خودلو کښې محنت او اهتمام کول پکار دی.

قوله: ويقول: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يدعو منهن دبر الصلاة:او حضرت سعد رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ به د دې کلماتوسره د هرمانځه نه پس دعا فرمائیله. او هغه کلمات دا دی:

قوله: اللهم إني أعوذبك من الجبن، وأعوذبك أن أردإلى أرذل العمر، وأعوذ بك من فتنة الدنيا، واعوذبك من عذاب القبر: اې الله! زه ستا پناه غواړم د بزدلئی نه، ستا پناه غواړم چه راوګرځولې شم خراب عمر ته او پناه غواړم د دنیا د فتنې نه او پناه غواړم د قبرد عذاب نه.

((أرذل العمر)) نه د ژوند هغه دور مراد دې کله چه د بوډاوالی د وجې نه د عقل او پوهې قوتونه کار پريږدی، د غور او فکر صلاحیتونه ختم شی او سړې د عقل د خفت او فهم د کموالی نه د ماشومانو په شان حرکتونه کوی. (۱)

په نتیجه کښې د ده نه د فرائضو په ادا کولوکښې کوتاهی کیږی او د خپل بدن پاکئی او صفائې نه عاجز شی او د خپل کور او خاندان د پاره مصیبت او بوج جوړشی او هغوی د ده د مرګ ارزوګانې کوی اوکه خاندان وغیره نه وی نو بیا خو مصیبت او مصیبت دې نو سړی له د داسې وخت نه پناه غوښتل پکار دی. (۲)

((فتنة الدنيا)) نه مراد دا دې چه د دنیا په بدله کښې آخرت خرڅ کړی، د دنیا فانی ژوند ته د آخرت په ابدی ژوند باندې فوقیت ورکړی. (۳)

د کتاب الدعوات په روایت کښې ((فتنة الدنيا)) تفسیر د راوی حدیث عبدالملك بن عمیر په ((فتنة الدجال)) سره کړیدې.(۴)

اوپه دې خبره کښې هم څه شك نشته چه د دجال فتنه به د ټولو نورو فتنونه خطرناکه وی(۵)

قوله: فحدثت به مصعبا فصدقه:نو ما دا حدیث مصعب ته واورولو او هغوی د حدیث تصدیق اوکړو.

د دې قول قائل راوی حدیث عبدالملك بن عمیر رحمه الله او مصعب نه مراد مصعب بن سعد بن ابی وقاص رحمه الله دې.

---

۱) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۲۱)-
۲) (عمدة القاری (۱٤ص۱۱۹)-
۳) (حواله بالا-
٤) (صحیح البخاری(ج۲ص۹٤۲) کتاب الدعوات، باب التعوذمن عذاب القبر رقم (۶۳۶۵)-
۵) (شرح القسطلانی (ج۵ص۵۵)-

اوس مطلب دا شو چه راوی حدیث عبدالملك بن عمیر وائی چه ما دا حدیث د تصدیق په غرض حضرت مصعب ته واورولو نو هغوی د حدیث د صحت تصدیق اوکړو.(۱)
فائده: ابن سعد رحمه الله ((طبقات)) کښې د حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه د اولاد شمیر ۳۱ خودلې دې په دې کښې ۱۴ خامن او ۱۷ لونړه وې.(۲)
او په دې کښې پنځه محدثین وو او د خپل والد صاحب نه به ئې روایت کولو د هغوی نومونه دادی: عمر، عامر، محمد، مصعب اوعائشه. (۳)
تنبیه: حافظ مزی رحمه الله په اطراف کښې فرمائیلی دی چه امام بخاری د صحیح بخاری په روایت کښې مصعب بن سعدبن ابی وقاص نه دې ذکر کړې او نسائی ذکر کړیدې. (۴)
لیکن حافظ مزی رحمه الله ته دلته تسامح شویده ځکه چه د بخاری شریف په ټولو روایاتو کښې د مصعب تذکره موجود ده. (۵)

[۲۶۶۸] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ(۶) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْهَرَمِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ
[۴۴۳۰، ۶۰۰۶، ۶۰۰۸، ۶۰۱۰]

تراجم رجال

۱- __مسدد__: دا مسدد بن مسرهد رحمه الله دې، د ده حالات ((کتاب الإیمان باب من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه)) لاندې تیرشویدې. (۷)
۲- __معتمر__: دا معتمر بن سلیمان تیمی بصری رحمه الله دې. (۸)

---

۱) (عمدة القاری (۱۴ص۱۱۹)-
۲) (طبقات ابن سعد (۳ص۱۳۷)-
۳) (فتح الباری (ج۶ص۳۶)-
۴) (تحفة الأشراف (ج۳ص۳۰۷)-
۵) (فتح الباری (ج۶ص۳۶)-
۶) (قوله: أنس بن مالک رضی الله عنه: احدیث أخرجه البخاری أیضًا (ج۲ص۶۸۳) کتاب التفسیر باب قوله تعالی:﴿ومنکم من یرد إلی أرذل عمر﴾ رقم (۴۷۰۷) کتاب الدعوات، باب التعوذمن فتنة المحیا والممات رقم (۶۳۶۷) وباب الاستعاذة من الجبن والکسل رقم (۶۳۶۹) وباب التعوذ من أرذل العمر رقم (۶۳۷۱) ومسلم (ج۲ص۳۴۷) کتاب الذکر والدعاء باب التعوذ من العجز والکسل وغیره رقم (۶۷۷۳) وأبوداؤد (ج۱ص۲۱۵) تاب الصلاة
۷) (کشف الباری (ج۲ص۲)-
۸) (د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ کتاب العلم باب من خص بالعلم قوما دون کراهیة أن لایفهموا-

۳-ابي: ((أب)) نه مراد ابوالمعتمر سليمان بن طرخان تيمي بصري رحمه الله دي. (۱)

۴-انس بن مالك رضي الله عنه: دا مشهور صحابي حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دي، دَ دوى حالات ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه)) لاندې تيرشوى دى.(۲)

قوله: كان النبي صلى الله عليه وسلم يقول: اللهم إني أعوذبك من العجز والكسل والجبن والهرم، وأعوذبك من فتنة المحيا والممات، وأعوذ بك من عذاب القبر: حضرت انس بن مالك رضي الله عنه فرمائي چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دى يا الله زه ستا دَ پناه غوښتلو طلبګار يم، دَ عاجزه كيدلو، سستئي، بزدلئي او بوډاولي دَ انتهاء نه او زه ستادَ پناه غوښتونكې يم دَ ژوندا و مرګ دَ فتنې نه او زه ستا دَ پناه غوښتونكې يم دَ قبر دَ عذاب نه.

دَ حديث شريف دَ ګرانو الفاظووضاحت: ((عجز)) دَ قدرت ضد دې په يوكار باندې قدرت او طاقت نه لرونكى ته عاجز وئيلى شي.(۳)

او((كسل)) وائي ضعيف الهمتئي او سستئي ته، دَ دې نه پناه غوښتلووجه دا دې چه دا صفت دَ اعمال صالحوُ نه لرې كوي. (۴)

اوس دَ عجز اوكسل په مينځ كښې فرق دا شو چه كسل په يوكار باندې قدرت لرلوسره هغه پريخودل دى اوپه عجزكښې قدرت مفقود دې.نبي كريم صلى الله عليه وسلم دَ دواړو نه پناه غوښتې ده.(۵)

دَ ((هرم)) باره كښې علامه كرماني رحمه الله فرمائي ((ضدالشباب))(۶) چه دَ ځوانئي ضد دې. او امام راغب اصفهاني رحمه الله فرمائي چه ((هرم)) هغه بوډا ته وئيلې شي دَ چا عمر چه ډير زيات شوې وي، دَ څه په وجه چه دَ هغه اندامونه دَ كمزورئي او ضعف ښكارشي. (۷)

دَ ((هرم)) نه پناه غوښتلو وجه دا ده چه دا دَ هغه بيمارونه دې دَ كوم چه څه علاج نه وي.(۸)

((فتنة المحيا ومحياوممات)) دواړه مصدر ميمي دى او دَ مرګ او ژوند په معنى كښې دى. ((فتنة المحيا)) دا ده چه سړي دَ دنيا په فتنه كښې اخته شي او په دې مشغول او غرقاب شي او آخرت شاته اوغورزوي.(۹)

---

۱) (حواله بالا-

۲) (كشف البارى (ج۲ص ٤)-

۳) (شرح الكرمانى(ج۱۲ص۱۲۱)-

٤) (عمدة القارى(ج١٤ص١١٩)-

۵) (فتح البارى (ج۶ص۳۶)-

۶) (شرح الكرمانى(ج۱۲ص۱۲۱)-

۷) (المغرب (ج۲ص۳۸۳) وعمدة القارى (ج ١٤ص١١٩)-

۸) (عمدة القارى (ج ١٤ص١١٩)-

۹) (عمدة القارى(ج ١٤ص١١٩-١٢٠)-

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت د حديث په دې لفظ ((والجبن)) كښې دې.(۱)

۲۶-باب: مَنْ حَدَّثَ بِمَشَاهِدِهِ فِي الْحَرْبِ

ماقبل سره مناسبت: اول امام بخارى رحمه الله باب قائم كړې وو د ((باب الشجاعة فى الحرب والجبن)) او په دې كښې شجاعت وبسالت فى الحرب تعريف وو او په دې باب كښې د دې خبرې بيان دې كه يو سړې د خپلې بهادرئى او جانبازئى واقعات خلقو ته اوروى نو جائز دى خو په دې شرط چه رياء او ځان ښودنه نه وى.

د ترجمة الباب مقصد: د ترجمة الباب مقصد دا دې چه د اعلاء كلمة الله د پاره كه چا څه تكليف اوچت كړو او څه مشقت ئى برداشت كړو نو د هغې خلقو ته بيانول جائز دى. د دې د پاره چه خلقو ته د دې ترغيب وى او هغوى د دې په اقتداء كښې فخر محسوس كړى خو كه مقصد د بهادرئى او رياء كارئى وى نو ناجائز دې. (۲)

قوله: قَالَهُ أَبُو عُثْمَانَ عَنْ سَعْدٍ: [ر:۳۵۱۷،۳۰۷۱] دا (خبره) ابوعثمان د سعدنه نقل كړيده. دلته د ابوعثمان نه النهدى مراد دې، او د سعدنه حضرت سعدبن ابى وقاص رضى الله عنه مراد دې.(۳) او دا تعليق امام بخارى رحمه الله موصولاً ((كتاب فضائل أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم و كتاب المغازى)) (۴) كښې نقل كړيدې. (۵)

او د دې تعليق مقصد دا دې چه حضرت سعد رضى الله عنه د خپلې بهادرئى واقعات بيانول. (۶)

[۲۶۶۹] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يُوسُفَ عَنْ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ (۷) قَالَ صَحِبْتُ طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللَّهِ وَسَعْدًا وَالْمِقْدَادَ بْنَ الْأَسْوَدِ وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ فَمَا سَمِعْتُ أَحَدًا مِنْهُمْ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا أَنِّي سَمِعْتُ طَلْحَةَ يُحَدِّثُ عَنْ يَوْمِ أُحُدٍ [۳۸۳۵]

---

۱) (عمدة القارى (ج ۱۴ص ۱۱۹-

۲) (عمدة القارى (ج ۱۴ص ۱۲۰)-

۳) (حواله بالا-

۴) (صحيح البخارى(ج ۱ص ۵۲۷) كتاب فضائل أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم باب ذر طلحة بن عبدالله رقم ۲۷۲۲-۲۷۲۳) و (ج ۲ص ۵۸۱) كتاب المغازى باب ﴿إذا همت طائفتان منكم أن تفشلا﴾ رقم (۴۰۶۰-۴۰۶۱)-

۵) (تغليق التعليق (ج ۳ص ۴۳۳)-

۶) (فتح البارى (ج ۶ص ۳۶)-

۷) (قوله: عن السائب بن يزيد: الحديث أخرجه البخارى أيضًا (ج ۲ص ۵۸۱) كتاب المغازى باب ﴿إذهب طائفتان منكم أن تفشلا﴾ رقم (۴۰۶۰) والحديث أخرجه البخارى فقط كما فى جامع الأصول (ج ۸ص ۲۵۳)

تراجم رجال

۱- قتيبه بن سعيد: دا شيخ الاسلام، روايۀ الاسلام ابورجاء قتيبه بن سعيد بن ثقفی رحمه الله دی. د دوی حالات ((کتاب الإيمان باب افشاء السلام من الإسلام)) لاندې راغلی. (۱)

۲- حاتم: دا ابواسماعيل المدنی الکوفی رحمه الله دی. (۲)

۳- محمد بن يوسف: دا محمد بن يوسف بن عبدالله الکندی ابن اخت النمر المدنی رحمه الله دی. (۳)

۴- السائب بن يزيد: دا سائب بن يزيدبن الکندی رحمه الله دی. دا د اصاغر صحابه نه وو. (۴)

قوله: قال: صحبت طلحة بن عبيدالله وسعدا والمقداد بن الأسود وعبدالرحمن بن عوف رضی الله عنهم، فما سمعت أحداً منهم يحدث عن رسول الله صلی الله عليه وسلم: حضرت سائب بن يزيد رضی الله عنه فرمائی چه زه د حضرت طلحه بن عبيدالله، حضرت سعدبن ابی وقاص، حضرت مقداد بن الاسود او حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنهم په صحبت کښې پاتې وم خو په دوی کښې يو کس نه مې هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د حديث روايت کول نه دی اوريدلی.

د صحابه کرامو په روايت حديث کښې د احتياط وجه علامه ابن بطال فرمائی چه دې حضراتو د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د حديث روايت په دې وجه نه کولو چه چرته د هغوی نه په حديث کښې کمې زياتې اونه شی. او هغوی د رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې وعيد کښې داخل نشی. ((من يقل علی مالم أقل فليبوأ معقده من النار)) (۵)

دا حضرات د حديث په روايت کښې د حضرت عمر رضی الله عنه ارشاد ((فأقلوا الرواية عن الرسول، ثم أناشريککم)) (۶) تاسو د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه کم روايت کوئی او بيا زه هم تاسو سره په دې معامله کښې شريک يم. په دې وجه به هغوی محتاط اوسيدل. (۷)

هم د راوی حديث حضرت سائب بن يزيد رضی الله عنه په ابن ماجه کښې روايت دې ((صحبت سعدبن

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص۱۸۹)-

۲) (ددوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب (بلاترجمة) بعد باب استعمال فضل وضوء الناس

۳) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب جزاء الصيد، باب حج الصبيان -

۴) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الضوء باب (بلاترجمة) بعد باب استعمال فضل وضوء الناس

۵) (الحديث أخرجه البخاری (ج۱ص۲۱) کتاب العلم باب إثم من کذب علی النبی صلی الله عليه وسلم رقم (۱۰۹)-

۶) (سنن ابن ماجه (ص ٤) المقدمة باب التوقی فی الحديث عن رسول الله صلی الله عليه وسلم رقم (۲۸)-

۷) (شرح ابن بطال (ج۵ص۳۶)-

مالك من المدينة إلى مكة، فما سمعته يحدث عن النبي صلى الله عليه وسلم بحديث واحد)) (۱) زه حضرت سعدبن مالك رضی الله عنه سره د مدینې نه ترمکې پورې په سفرکښې وم. خو ما د هغوی نه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم یو حدیث هم روایت کولو سره واونه ریده.

ډیرو صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین به د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه د حدیث په روایت کولوکښې احتیاط کولو. (۲)

قوله: إلا أني سمعت طلحة يحدث عن يوم أحد: مګردا چه ما د حضرت طلحه رضی الله عنه نه د أحد د ورځې واقعات بیانول اوریدلې.

مطلب دا چه حضرت طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه که څه بیان هم کولو نو د غزوه احد په موقع باندې چه هغوی کوم کارنامې کړې وې هغه ئې بیانولې ځکه چه هغه د جنګ احد په ورځ د ګربړ په وخت کښې د هغه صحابه کرامو نه وو کوم چه ثابت قدم وو اود هغوی قدمونه ګډوډ شوې نه وو. لیکن د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه ئې روایت نه کولو. خشیة الزیادة والنقصان. (۳)

هم امام بخاری رحمه الله په (کتاب المغازی) کښې د قیس نه روایت نقل کړیدې. ((رأیت ید طلحة شلاء وقی بها الرسول صلی الله علیه وسلم یوم أحد)) ماد حضرت طلحه رضی الله عنه لاس شل شوې اولیدلو د کوم په ذریعه چه هغه د احد په ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم حفاظت کولو. (۴)

دغه شان یو بل روایت چه د ابوعثمان النهدی نه مروی دې په دې کښې دی ((لم یبق مع النبی صلی الله علیه وسلم فی تلك الأیام الذی یقاتل فیهم غیر طلحة وسعد)) (۵)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث شریف ترجمة الباب سره مناسبت د حدیث په دې جمله کښې دې: ((سمعت طلحة یحدث عن یوم أحد)) ما حضرت طلحه رضی الله عنه د خپلو جنګی کارنامو بیانولو سره اوریدلې دې کومې چه هغه په جنګ احد کښې سرته رسولې وې. (۶)

۲۷- باب: وُجُوبِ النَّفِيرِ وَمَا يَجِبُ مِنَ الْجِهَادِ وَالنِّيَّةِ

ماقبل سره ربط او مناسبت: امام بخاری رحمه الله په ماقبل کښې د مختلفو عنواناتو لاندې د جهاد او قتال في سبیل الله فضائل نقل کړې وو، اوس د څه احکامات جهاد ذکرئې هم کړې وو. او د جهاد د وجوب متعلق نور احکامات بیانول غواړی.

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله د دې ترجمة الباب نه نفیرعام په وخت کښې د جهاد

---

۱) (ابن ماجه (ص ٤) المقدمة باب التوقی الحدیث عن رسول الله صلی الله علیه وسلم رقم (۲۹)-

۲) (مرهذاالبحث مفصلا فی کتاب باب إثم من کذب علی النبی صلی الله علیه وسلم فراجعه إن شئت-

۳) (عمدة القاری (ج ١٤ص ١٢٠)-

٤) (صحیح البخاری کتاب المغازی باب ﴿إذهمت طائفتان منکم أن تفشلا. والله ولیهما﴾ رقم (٤٠٦٣)-

۵) (حواله بالا رقم (٤٠٦٠-٤٠٦١)-

۶) (عمدة القاری (١٤ص ١٢٠)-

د وتلو وجوب، د جهاد مشروع مقدار او د نیت مشروعیت بیانول غواړی. (۱)
او دا هم کیدیشی چه د مصنف مقصد دا وی چه جهادپه هرحال کښې فرض عین دې او همدغه قول د حضرت سعیدبن المسیب رحمه الله هم دې. (۲) لکه چه مونږ د (کتاب الجهاد) په شروع کښې بیان کړی دی.
اود دې خبرې تفصیل هم چه جهاد د نفیرعام په وخت کښې فرض عین ګنی فرض کفایه دې او دا چه د جهاد د نیت مشروعیت اوس هم باقی دې او دا مونږ د (کتاب الجهاد) په شروع کښې بیان کړې دې.
د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې د جهاد څه حکم وو؟: باقی دا چه د نبی کریم ﷺ په مبارکه زمانه کښې څه حکم وو په دې کښې اختلاف دې. په دې کښې د جمهورو اتفاق دې چه جهاد د نبی کریم ﷺ د مدینې منورې د هجرت نه پس مشروع شو خو د دې نه پس آیا دا فرض عین وو که فرض کفایه؟
علامه ماوردی رحمه الله فرمائی چه د مهاجرینو په حق کښې فرض عین وو او د انصارو په ذمه فرض کفایه وو. په دې باندې دلیل د فتح مکه نه وړاندې په هر نوی مسلمان باندې مدینې منورې ته هجرت کول واجب وو دې د پاره چه د اسلام نصرت او معاونت اوکړیشی. (۳)
لیکن علامه سهیلی رحمه الله فرمائې چه په انصارو فرض عین وو او په مهاجرینو فرض کفایه.
د دې قول تائید د لیلة العقبه د بیعت نه کیږی چه په دې موقع د انصارو نه نبی علیه السلام د دې خبرې بیعت اخستې ووچه هغوی به ده ته پناه ورکوی او د هغه نصرت به کوی. (۴)
اوس د دواړو د اقوالو حاصل دا شوچه په انصارو او مهاجرینو دواړو باندې فرض عین هم وو او فرض کفایه هم خو د دې باوجود دا حکم په خپل عموم باندې نه دې بلکه دلته دوه صورتونه دی:
① د مدینې نه باهر اوځی او جنګ اوکړی.
② په مدینه کښې پاتې شی او جنګ اوکړی.
نو په دواړو اقوالوکښې داسې تطبیق ممکن دې که د مدینې نه بهر وتل او د جنګ صورت وی نو په مهاجرینو باندې فرض عین وو او په انصارو باندې فرض کفایه.
اوکه جنګ هم په مدینه منوره کښې دننه وی نو په انصارو باندې فرض عین او مهاجرینو باندې فرض کفایه. (۵)
غالباًهم د دې د پاره حضور ﷺ د غزوه بدر په موقع روئې سخن د انصارو طرف ته کړې وو ځکه چه هغوی سره معاهده شوې وه چه هغوی به په مدینه کښې پاتې وی حفاظت او

۱) (عمدةالقاری (ج ۱٤ص ۱۲۰) وفتح الباری (ج ۶ص ۳۷)-
۲) (الأبواب والتراجم للکاندهلوی (ج ۱ص ۱۹۵)-
۳) (فتح الباری (ج ۶ص ۳۷)-
٤) (حواله بالا-
۵) (فتح الباری (ج ۶ص ۳۷)-

معاونت به كوى. (۱)
بعض حضراتو خو دا ونيلى چه په كومه غزوه كښې حضور ﷺ پخپله بنفس نفيس شريك وى په هغې كښې د ټولو شركت د فرض عين په توګه دى ګنى فرض كفايه. (۲)
حافظ ابن حجر رحمه الله ترجيح دې خبرې له وركړې چه نبى كريم ﷺ به څوك معين كول د هغه په حق كښې فرض عين وو سره د دې چه هغه ونه وتلو. (۳)

وَقَوْلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَاتَّبَعُوكَ وَلَكِنْ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ وَسَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ الْآيَةَ [التوبة:۴۱-۴۲]
وَقَوْلِهِ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ إِلَى قَوْلِهِ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ [التوبة:۳۸-۳۹]

د ړومبى ايت ترجمه او تشريح: اود الله تعالى ارشاد دې چه د جهاد د پاره اوځئ اګر كه لږسامان سره وى او كه د ډيرسامان سره وى اود الله تعالى په لاركښې په خپل ځان او مال سره جهاد اوكړئ، همدغه ستاسو د پاره بهتر دى كه چرې تاسو يقين لرئ اوكه څه په لاس لګيدلې ملاويدل او معمولى شان سفر هم وې نو دا منافقان به خامخا تاسره وو ليكن دوئ ته خو دا مسافت لرې معلوم شو (په دې وجه منع شو او چه كله تاسو واپس د جهاد نه راشئ) نود الله تعالى قسمونه به خورى.(۴)

((خفافا وثقالا)) معنى خو يا ((متأهبين أوغيرمتأهبين)) ده. يعنى كه د تيارى حالت وى يا: ((نشاطاأوغيرنشاط)) چه زړه ئى كوى اوكه نه ئې كوى يا د ((رجالاأو ركبانا)) دې يعنى كه پياده وى او كه سور په هرحالت كښې اوځئ.

اودا دواړه كلمې د(انفروا) ضمير د جمع نه حال واقع شوى دى په دې وجه منصوب دې.(۵)

حضرت سفيان ثورى رحمه الله فرمائى چه پورته ذكر شوى آيت ((انفروا خفافا وثقالا)) د سورة التوبه د ټولونه اول نازل شوې آيت دې. د ابومالك الغفارى او ابن الضحاك همدغه قول دې او بله دا چه نور آياتونه روستونازل شوى دى. (۶)

---

۱) (سيرة ابن هشام مع الروض الأنف للسهيلى (ج۲ص۶۴) قال ابن اسحق:..... ثم قال رسول الله ﷺ أشيروا على يا أيها الناس ...وإنما يريد الأنصار، وذلك أنهم عددالناس، وأنهم حين بايعوه بالعقبة قالوا: يارسول الله ﷺ إنا براء من ذماماك حتى تصل إلى دورنا، فإذا وصلت إلينا فأنت فى ذمتنا نمنعك مما نمنع منه أبناءنا ونساءنا. ولمزيد من التفصيل انظر كشف البارى كتاب المغازى (ص۵۳)-
۲) (فتح البارى (ج۶ص۳۷)-
۳) (فتح البای (ج۶ص۳۷)-
۴) (بيان القرآن سورة التوبة(ج۱ص۱۱۳)-
۵) (عمدة القارى (ج۱۴ص۱۲۱) وتفسير الطبرى (ج۶جزء ۱ص۹۸)-
۶) (عمدة القارى (ج۱۴ص۱۲۰) وتفسير الطبرى (ج۶جزء ۱ص۹۸)-

بعضو صحابه كرامو لكه حضرت ابوايوب انصارى او مقداد بن اسود ﷜ د دې ايت مبارك د نزول نه پس د يوجنګ نه هم تخلف نه كولو يعنى روستو پاتې كيدل ئې ناخوښولو او پورته ذكر شوى آيت مبارك به ئې په عموم باندې محمول كولو، تردې چه د دې حضراتو انتقال هم د جهاد په ميدان كښې اوشو.(۱)

قوله: وقوله: يأأيها الذين مالكم إذا قيل لكم انفروا في سبيل الله اثاقلتم إلى الأرض؟ أرضيتم بالحياة الدنيا من الآخرة....قدير:

د دوئم ايت ترجمه او تشريح: د الله تعالى ارشاد مبارك دې: اې د ايمان خاوندانو! په تاسو څه شوى دى چه كله تاسو ته وئيلې كيږى چه د الله تعالى په لاركښې اوځئ نو تاسو په زمكه پورې اينخلئ؟ آيا تاسو د آخرت په عوض د دنيا په ژوند قناعت كړيدې، نود دنياوى ژوند تمتع خو هيڅ هم نه دى، ډير قليل دې. كه تاسو د جهاد د پاره اونه ځئ نو الله تعالى به تاسو ته سخته سزا دركړى او ستاسو په بدله كښې به بل قوم پيدا كړى(اود هغوى نه به خپل كارواخلى) او تاسو به الله تعالى ته هيڅ نقصان اونه رسوئى او د الله تعالى په هرڅيز باندې پوره قدرت دې.(۲)

په دې آياتونوكښې په هغه خلقو عتاب نازل كړيشويدې كوم چه په غزوه تبوك كښې روستو پاتې شوي وو.(۳)

يو سوال او د هغې جوابونه: اوس دلته سوال داپيداكيږى چه امام بخارى ﷫ د قرآن كريم د ترتيب نه خلاف ﴿انفروا خفافا وثقالا﴾ مقدم او ﴿ياأيها الذين آمنوا إذا قيل....﴾ ولې موخر كړو او په قرآن كښې خود دې عكس دې.؟

د دې اشكال څو جوابونه دى:

① يوجواب دا وركولې شى چه امام بخارى ﷫ اصل ترتيب د نزول په اعتبار سره كړيدې او دا خبره اوس د طبرى په حواله سره تيره شوې ده. چه د سورة البراءة آياتونوكښې د ټولونه اول آيت ﴿انفروا خفافا وثقالا﴾ نازل شوې دې.(۴)

② شيخ الحديث مولانا زكريا ﷫ دا جواب وركړيدې چه كيديشى امام بخارى ﷫ د دوو حالتونو طرف ته اشاره كول غواړى كوم چه حافظ صاحب (فتح البارى) ښې ذكر كړيدى. (يعنى د نبى ﷺ په مباركه زمانه كښې د جهاد حكم او د هغوى نه پس د جهاد حكم) (۵)

نوامام بخارى ﷫ رومبنې آيت د دې د پاره مقدم كړو چه په دې كښې مطلقًا دلالت على فرض الخروج موندلې شى، د دې نه ئى دا اشاره اوكړه چه د نبى كريم ﷺ په زمانه كښې

---

۱) (فتح البارى (ج۶ص۳۸)-
۲) (بيان القرآن سورة التوبة(ج۱ص۱۱۲)-
۳) ((عمدة القارى (ج ۱۴ص۱۲۱)-
۴) (جامع البيان فى تفسير القرآن (ج۶جزء۱۰ ص۹۸)-
۵) (فتح البارى (ج۶ص۳۷)-

جهاد مطلقا فرض عين وو خو دونم ايت ني د مقدم كيدو باوجوځكه موخر كړو چه هغه مقيد ((يإذا قيل لكم انفروا)) دې، نو په دونم صورت كښې دَ جهاد فرضيت دَ نفيرعام سره مقيد دې فتامل (١)

قوله: يُذْكَرُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ انْفِرُوا ثُبَاتٍ [النساء:٧١] سَرَايَا مُتَفَرِّقِينَ يُقَالُ أَحَدُ الثُّبَاتِ ثُبَةٌ: حضرت عبدالله بن عباس ﷺ نه نقل دى چه هغوى ﴿انفروا اثبات﴾ كښې ((ثبات)) معنى ((سرايا متفرقين)) بيان كړيده.

دَ مذكوره تعليق تخريج: دَ حضرت عبدالله بن عباس ﷺ دا تعليق امام ابن جرير طبرى ﷺ موصولاً په خپل تفسيركښې ذكر كړيدې. (٢)

دَمذكوره تعليق مطلب: دَ حضرت عبدالله بن عباس ﷺ دَ دې تعليق مطلب دا دې چه دقرآن كريم آيت ﴿يأايها الذين آمنوا خذوا حذركم فانفروا ثبات أو انفروا جميعا﴾ (٣) كښې دا كوم دَ ((ثبات)) لفظ وارد شويدې دَ دې معنى ((سرايا متفرقين))ده. اوس دَ آيت معنى دا شوه چه په مختلفو او جدا جدا ډلو كښې دَ جهاد دَ پاره اوځئى يا ټول په ټول هم په يو جماعت كښې دَ نبى كريم ﷺ سره اوځئى خو ځان سره وسله خامخا يوسئى دَ دې دَ پاره چه تاسو خپل حفاظت اوكړيشئى.(۴)

بعض حضراتو دا دعوى كړيده چه دَ سورة النساء دا ذكر شوې آيت دَ سورة البراءة آيت ﴿انفروا خفافا وثقالا﴾ دَ پاره ناسخ دې. ليكن حافظ ﷺ فرمائى چه په تحقيق سره خبره دا ده چه دلته نسخ نشته دې بلكه دلته معامله دَ امام وخت حواله ده چه كوم صورت اختيارول اجازت دې او په حالاتوباندې موقوف دى چه دَ حالاتوكومه تقاضا وى هم په هغې باندې به عمل هم وى. (۵)

قوله: يُقَالُ وَاحِدُ الثُّبَاتِ: ثُبَةٌ: ونيلې شى چه دَ ((ثبات)) مفرد ((ثبة)) دې.

دا قول دَ امام بخارى ﷺ دَ استاذ ابوعبيده ﷺ دې كوم كښې چه هغوى دَ ((ثبات)) لغوى تحقيق بيان كړې دې چه دا ثبة –بضم المثلثة وتخفيف الهاء الموحدة بعدها هاء تانيث– جمع ده اودَ ((ثبة)) جمع ((ثبتين)) هم راځى اودَ دې معنى جماعت ده. (۶)

---

١) (الأبواب والتراجم (ج۶ص٣٧)-

٢) (قال الإمام ابن جرير الطبرى: حدثنى المثنى قال: ثنا عبدالله بن صالح قال:حدثنى معاويةعن على بن أبى طلحه عن ابن عباس قوله:﴿خذوا حذركم فانفروا ثبات﴾ يقولك عصبايعنى: سرايا متفرقين.... جامع البيان (ج٤جزء ۵ص ١٠٤-١٠۵)-

٣) (النساء:٧١)-

٤) (جامع البيان (ج٤جزء ۵ ص ١٠٤)-

۵) (فتح البارى (ج۶ص٣٨)-

۶) (حواله بالا-

اودَ ((ثبة)) دا کلمه ((ثبة یثبو ثبوا)) نه مشتق ده او ونیلی شی ((ثبیت الرجل: إذا أثنیت علیه فی حیاته)) کله چه ته دَ چا تعریف دَ هغه په ژوندکښې اوکړې لکه چه تادَ هغه ټول محاسن راجمع کړی دی. (۱)

امام نحاس رحمه الله فرمائی چه دَ ((ثبة)) یوه بله معنی هم راځی ((ثبة الحوض)) معنی دَ حوض مینځ او دا دَ ((ثاب یثوب)) نه راځی دَ څه معنی چه رجوع ده. چونکه دَ حوض ټولې اوبه دَ هغې مینځ کښې واپس کیږی او راجمع کیږی په دې وجه دې ته ((ثبة)) وائی اودَ دې تصغیر ((ثویبة)) دې او ((ثبة)) په معنی دَ ((الجماعة)) تصغیر ((ثبیة)) راځی. (۲) والله اعلم.

[۲۶۷۰] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنِي مَنْصُورٌ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا (۳) أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا [ر: ۱۵۱۰]

تراجم رجال

۱- عمروبن علی: دا ابوحفص عمرو بن علی بن بحربن یحیی بن کثیر الباهلی البصری رحمه الله دې. (۴)

۲- یحیی: دا ابوسعید یحیی بن سعید بن فروخ القطان تمیمي رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه)) لاندې تیرشوی. (۵)

۳- سفیان: دا مشهور امام حدیث ابوعبیدالله سفیان بن سعیدبن مسروق ثوری کوفی رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب ظلم دون ظلم)) لاندې بیان کړېشوی دی. (۶)

۴- منصور: دا مشهور محدث ابوعتاب منصوربن المعتمر السلمی الکوفی رحمه الله دې دَ دوی حالات ((کتاب العلم باب من جعل لأهل العلم أیاما معلومة)) لاندې تیرشوی. (۷)

۵- مجاهد: دا شیخ القراء والمفسرین ابوالحجاج مجاهد بن جبرمکی قرشی رحمه الله دې.

---

۱) (عمدة القاری (ج۶ص۳۸)-

۲) (فتح الباری (ج۶ص۳۸)-

۳) (قوله: عن ابن عباس رضی الله عنهما: الحدیث مرتجریجه فی کتاب الحج باب لایحل القتال بمکة-

۴) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګوریٔ کتاب الوضوء باب الرجل یوضیٔ صاحبه-

۵) (کشف الباری (ج۲ص۲)-

۶) (کشف الباری (ج۲ص۲۷۸)-

۷) (کشف الباری (ج۳ص۲۷۰)-

دَ دوی حالات ((كتاب العلم باب الفهم في العلم)) لاندې بیان کړیشوی دی. (۱)

۶- طاؤس: دا طاؤس بن کیسان الیمانی الجُندی الحمیری رحمه الله دې. (۲)

۷- ابن عباس: دا مشهور صحابی حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دې. دَ ده حالات ((بدء الوحی)) دَ څلورم حدیث په ذیل کښې تیرشوی دی. (۳)

قوله: أن النبی صلی الله علیه وسلم قال یوم الفتح: لاهجرة بعد الفتح، ولکن جهاد ونیة: حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ مکې دَ فتح په ورځ ارشاد اوفرمائیلو چه دَ فتح مکه نه پس هجرت فرض نه دې لیکن دَ جهاد او نیت حکم باقی دې.

دَ حدیث شریف دَ دې تکړې تشریحات (کتاب الجهاد) په شروع کښې ((باب فضل الجهاد والسیر)) په ذیل کښې بیان شوې دې.

قوله: وإذا استنفرتم فانفروا: او چه کله تاسو ته دَ وتلو حکم درکړیشی نو اوځئی. علامه نووی رحمه الله دَ دې جملې په تشریح کښې فرمائی چه مطلب دا دې چه دَ وخت امام تاسو ته دَ جهاد او نورو نیکو اعمالوحکم درکړی نو تاسو دَ هغه خبره منئی اواوځئی. (۴)

قوله: لاهجرة بعد الفتح، ولکن جهاد ونیة: ترکیبی حیثیت نه دَ عبارت تقدیر داسې جوړیږی ((لاهجرة باقیة بعد الفتح، ولکن جهاد ونیة باقیان)) یعنی دَ وطن نه هجرت کول یا دَ کفارو دَ تسلط نه دَ بچ کیدو دَ پاره کیږی یا دَ جهاد دَپاره یا دَ علم دَ طلب دَپاره. نو اول صورت خو منقطع شو او نور دواړه صورتونه اوس هم باقی دی. نو دا غنیمت اوګنړئی او په کور کښې مه کینئی، بلکه چه کله تاسو دَ جهاد دَپاره راوبلی نودَ امام په آواز باندې لبیک وایئی. (۵)

اودَ حدیث شریف دَ پورته ذکر شوې جملې نه دا هم معلومه شوه چه امام وخت کوم سړې مقرر کړی چه هغه دې دَ جهاد دَ پاره اوځی نو دَ هغه دَ پاره وتل واجب او ضروری دی اوس روستو پاتیکیدو اجازت نشته. (۶)

فائده: په حدیث کښې دَ دې خبرې زیرې دې چه مکه مکرمه ((زادها الله شرفا وکرامة)) همیشه به دارالاسلام وی. (۷)

---

۱) (کشف الباری (ج۳ص۳۰۷)-
۲) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب (بلاترجمة) رقم الحدیث(۲۱۸)-
۳) (کشف الباری (ج۱ص۴۳۵)-
٤) (شرح النووی علی مسلم (ج۲ص۱۳۰)-
۵)(قال العلامة الطیبی. انظرشرح الطیبی علی مشکوة المصابیح(ج۷ص۲۸۷) وفتح الباری (ج۶ص۳۹)-
۶) (فتح الباری (ج۶ص۳۹)-
۷) (فتح الباری (ج۶ص۳۹)-

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث ترجمة الباب سره مطابقت ((ولکن جهاد ونیة وإذا استنفرتم فانفروا)) په جمله کښې دې. (۱)

۲۸-بَاب: الْكَافِرِ يَقْتُلُ الْمُسْلِمَ ثُمَّ يُسْلِمُ فَيُسَدِّدُ بَعْدُ وَيُقْتَلُ

ماقبل سره ربط په تیرشوی باب کښې امام بخاری دَ نفیرعام په وخت کښې دَ جهاد فرض او واجب حکم بیان کړې وو او په دې باب کښې امام بخاری دَ هغه کافر حکم بیانوی چا چه یو مسلمان قتل کړې وی بیا الله تعالی هغه دَ ایمان په توفیق او نعمت سرفراز کړو، بیا هغه پخپله هم دَ الله تعالی په لارکښې جنګ کولوکښې شهید شو نو هغه به هم جنت ته ځی.

دَ ترجمة الباب مقصد: دَ ترجمة الباب مقصد دَ هغه کافر سړی دَ حکم بیانول دی چه یو مسلمان قتل کړی بیا اسلام قبول کړی اودَ هغې نه پس هغه پخپله هم شهید شی، نودَ هغه کافر حکم هم ظاهر دې چه هغه هم جنتي دې چه دَ حدیث باب نه مفهوم کیږی په دې وجه امام بخاری دَ هغې جواب ذکر نه کړو. (۲)

اختلاف نسخ: دَ صحیح بخاری په تولونسخوکښې ترجمة الباب داسې دې لکه چه مونږ ذکر کړیدې. خودَ علامه کرمانی رحمه الله په روایت کښې داسې دی: ((باب الکافر یقتل المسلم فیسلم، فیسدد دینه بعدالقتل أوثم یصیرمقتولا)) (۳)

دغه شان دَنسفی په روایت کښې((بعدُ))نه پس واو نشته بلکه ((أو)) دې او هم په دې باندې علامه ابن بطال رحمه الله (۴)او اسماعیلی رحمه الله جزم کړیدې.(۵)

او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه همدغه روایت دَ نسفی، دَ امام بخاری رحمه الله دَ مراد سره ډیر مناسب معلومیږی. (۶)

[۲۶۷۱] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(۷) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَضْحَكُ اللَّهُ إِلَى رَجُلَيْنِ يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ يَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُ هَذَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيُقْتَلُ ثُمَّ يَتُوبُ اللَّهُ عَلَى الْقَاتِلِ فَيُسْتَشْهَدُ

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۲۲)-
۲) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۲۲) وشرح القسطلانی (ج۵ص۵۷)-
۳) (شرح الکرمانی(۱۲ج۱۲۲)-
٤) (ابن بطال (ج۵ص۳۸)-
۵) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۲۲)-
۶) (فتح الباری (ج۶ص٤۰)-
۷) (قوله: عن أبی هریرة رضی الله عنه: الحدیث أخرجه مسلم کتاب الإمارة باب بیان الرجلین یقتل أحدهما الآخر یدخلان الجنة رقم (٤۸۹٤) والنسائی فی سننه، کتاب الجهاد، باب اجتماع القاتل والمقتول فی سبیل الله فی الجنة، وتفسیر ذلک رقم (۳۱۶۷-۳۱۶۸) وابن ماجه فی سننه المقدمة باب فیما أنکرت الجهمیة رقم(۱۹۱)-

تراجم رجال

۱- عبدالله بن یوسف: دا عبدالله بن یوسف تنیسی دمشقی رحمه الله دې. دَ ده حالات ((بدءالوحی)) دوئم حدیث په ذیل کښې تیرشوی دی.(۱)

۲- مـالك: دا مشهورامام مالك بن انس بن مالك الاصبحی رحمه الله دې.دَ دوی حالات هم ((بدءالوحی)) دوئم حدیث په ذیل کښې تیرشوی دی.(۲)

۳- ابوالزناد: دا ابوالزنادعبدالله بن ذکوان رحمه الله دې.دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب حب الرسول صلی الله علیه من الإیمان))(۳)

۴- الاعرج: دا ابوداودعبدالرحمن بن هرمز رحمه الله دې. دَدوی حالات هم دَ مذکوره باب لاندې تیرشوې دې. (۴)

۵- ابوهریره: دا مشهور صحابی رسول ﷺ، حضرت ابوهریره عبدالرحمن بن صخر رضی الله عنه دې، دَدوی حالات ((کتاب الإیمان باب أمور الإیمان)) لاندې راغلی دی. (۵)

قوله: أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: یضحك الله إلی رجلین: دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی الله تعالی دَ دوو سړو نه راضی کیږی.

دَ الله تعالی دَ طرف نه دَ ضحک دَ نسبت توضیح: دلته په حدیث باب کښې دَ الله تعالی دَ طرف دَ ضحك نسبت کړیشویدې او ضحك دَ مخلوق صفت دې. نودَ دې نه دَ خالق مخلوق سره تشبیه لازم راځی؟ علامه کرمانی فرمائي چه ضحك او دا قسم نور مثالونو اطلاق که په الله تعالی باندې وی نو دَ دې نه مجازاً دَ دې لوازم مراد کیږی او لازم الضحك دَ الله تعالی رضا ده. دلته به دَ ضحك نه مراد دَ الله تعالی رضاوی. (۶)

علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه هغه ضحك کوم چه دَ انسانی صفاتو نه دی اودَ سړی دَ څه خوشحالئی او فرحت دَ اظهار دَ پاره کیږی.دَ دې اطلاق الله تعالی دَ پاره ناجائز دې. دَ دې ذکرکولو وجه دلته دا ده چه دا دَ بشر په تعجب باندې دلالت کوی، دَ څه تعجب وغیره دَ وجه او دَ الله تعالی په صفت کښې که چرې دا لفظ اوونیلې شی نو دا دَ رومبنی سړی په حق کښې اخبار عن الرضااودَ دوئم سړی په حق کښې اخبار عن القبول دې. یعنی الله تعالی دَ

---

۱) (کشف الباری (ج۱ص۲۸۹)-
۲) (کشف الباری (ج۱ص۲۹۰) وکشف الباری (ج۲ص۸۰)-
۳) (کشف الباری(۲ص۱۰)-
۴) (حواله بالا(ص۱۱)-
۵) (کشف الباری (ج۱ص۶۵۹)-
۶) (شرح الکرمانی (۱۲ص۱۲۳)-

رومبې په فعل راضی شو اود دوئم فعل ئی قبول کړلو اود دې دواړو حضراتو بدله جنت دې سره د دې چه د دواړو حالتونه مختلف او مقاصد جدا جدا دی.(۱)

امام بخاری رحمه الله (کتاب التفسیر)(۲) په روایت کښې د ضحک تفسیر ((الرحمة)) سره کړیدې.
نو علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه دا تفسیر قریب دې خو ضحک د رضا په معنی محمول کول اقرب واشبه دې. (۳)

امام خطابی رحمه الله نور فرمائی چه د دې جملې معنی داهم کیدیشی چه الله تعالی فرښتې د دې دواړو حضراتو په فعل باندې په تعجب کښې اچوی او هغوی خندوی.(۴)

او ابن فورک رحمه الله فرمائی مطلب دا دې چه الله تعالی د خپل فضل اظهار فرمائی لکه چه اهل عرب وائی ((ضحك الأرض من النبات)) کله چه زمکه خپل شینکې(بوټي) ښکاره کړی.(۵)

علامه ابن الجوزی رحمه الله فرمائی چه په دې قسم جملوکښې د اکثرو سلفو صالحینو عمل دا پاتې شویدې چه هغه په خپل ظاهرباندې پریخودې شی اوعقیده صرف د دې خبرې اوساتلې شی چه الله تعالی د مخلوق د صفاتونه بری دې او په ظاهر باندې د پریخودلو مطلب دا دې مونږ ته د دې باره کښې څه علم نشته او الله تعالی د مخلوق د صفاتونه منزه دې.(۶)

علامه عینی او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د ضحک نه مراد دلته رضا ده او په دې باندې د ضحک متعدی بإلی کیدل دلالت کوی. نوونیلې کیږی ((ضحك فلان إلی فلان))کله چه سړې بل چاته په خنده رویه مخ سره متوجه شی نو ښکاره خبره ده چه داسې متوجه کیدل په رضا او قبولیت سره دلالت کوی. (۷)

قوله: يقتل أحدهما الآخر يدخلان الجنة: په دوی کښې یوبل قتل کوی اودواړه به جنت کښې داخلیږی.

جمله ((يدخلان الجنة))محل جرکښې ده څکه چه دا د رجلین صفت واقع کیږی. (۸)

قوله: يقاتل هذا في سبيل الله فيقتل: دې اول د الله تعالی په لارکښې جنګ کوی او شهید کیږی.

دصحیح مسلم په روایت کښې د دې نه وړاندې داهم مذکوردی چه صحابه کرامورضوان الله

۱) (أعلام الحدیث للخطابی (ج۲ص۱۳۲۵) وأیضًا انظر شرح ابن بطال (ج۵ص۳۸)-
۲) (هذاکما قال العلامة اخطابی فی أعلام الحدیث (ج۲ص۱۳۶۷) فی روایة الفربری ولیس عن ابن معقل. قال الحافظ فی الفتح: لم أرذلک فی النسخ التی وقعت لنا من البخاری انظر فتح الباری (ج۸ص۶۳۲)-
۳) (أعلام الحدیث للخطابی (ج۲ص۱۳۶۷)-
٤) (أعلام الحدیث للخطابی (ج۲ص۱۳۶۷)-
۵) (عمدة القاری (ج ٤ ١ص١٢٣)-
۶) (فتح الباری (ج۶ص٤٠)-
۷) (حواله بالا وعمدة القاری (١٤ج١٢٣)-
۸) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٢٣)-

عليهم اجمعين په حيرانتيا سره سوال اوكړو ((قالوا: كيف يارسول الله؟))(۱) چه يا رسول الله دا به څنګه وى چه مقتول به هم جنت ته ځى او ورسره قاتل هم.

دَ قاتل نه مراد مسلمان يا كافر؟ علامه ابن عبدالبر او ابن بطال رحمهما الله فرمائى چه دَ اهل علم په نزد دَ دې حديث مطلب دادې چه اول قاتل كافر وو يعنى مسلمان دَ كافر دَلاسه مړشوې وو(۲) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه هم دا امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې بيان كړى دى.

ليكن دَ دې نه هم څه مانع نه دى چه دَ اول قاتل نه مراد مسلمان وى ځكه چه په حديث كښې دَ قاتل لفظ عام دې. ((ثم يتوب الله على القاتل)) كه چرې يو مسلمان بل مسلمان عمداً او بلاشبهه قتل كړى بيا توبه اوكړى اودَ الله تعالى په لار كښې جنګ كولو سره شهيد شى نو بنكاره خبره ده چه دې هم قاتل دې ليكن جنت ته به ځى.

ليكن دا دوئم مطلب به دَ دې حضراتو په نزد صحيح او درست كيدې شى څوك چه دَ قاتل دَ توبې قبليدو قائل دى، لكه حضرت ابن عباس، زيدبن ثابت، ابن عمر او حضرت ابوهريرة رضي الله عنهم. خو چه كوم حضرات دَ قاتل دَ توبې دَ قبوليت قائل نه دى دَ هغوى په نزد هم رومبنى معنى صحيح ده. (۳)

دَ ابن عبدالبر او ابن بطال رحمهما الله دَ قول تائيد دَ صحيح مسلم او مسند احمد دَ روايت نه هم كيږى، په صحيح مسلم كښې په صراحت سره دا الفاظ ذكر دى: ((ثم يتوب الله على الآخر فيهديه إلى الإسلام))(۴) دې نه صفا معلوميږى چه دَ قاتل نه مراد دلته كافر دې.

اودَ مسنداحمد دَ روايت الفاظ دا دى: ((قيل: كيف يارسول الله؟ قال: يكون أحدهما كافرا، فيقتل الآخر، ثم يسلم، فيغزو فيقتل))(۵) په دې حديث كښې خودَ صراحت سره دَ كافر لفظ ذكر دې(۶)

قوله: ثم يتوب الله على القاتل فيستشهد: بيا الله تعالى دَ دې دوئم توبه قبلوى، او هغه دَ شهادت په مرتبه باندې سرفراز كيږى. دَ ((تاب الله على)) معنى داده چه الله تعالى دَ توبې توفيق وركوى او قبلوى (۷)

علامه ابن بطال او علامه عينى رحمهما الله فرمائى چه دَ توبې نه مراد دلته اسلام دې. يعنى الله تعالى هغه ته دَ اسلام قبلولو توفيق وركوى.(۸)

---

۱) (صحيح مسلم كتاب الإمارة باب بيان الرجلين يقتل أحدهما الآخر يدخلان الجنة رقم (۴۸۹۴)-

۲) (عمدة القارى (ج ۱۴ص ۱۲۳) وشرح ابن بطال (ج۲ص۳۸)-

۳) (فتح البارى (ج۶ص ۴۰) وانظر لمزيد من التفصيل فى قبولية توبة القاتل عمدا وعدمها كشف البارى كتاب التفسير (ص۱۵۸)-

۴) (صحيح مسلم كتاب الإمارة باب الرجلين يقتل أحدهما الآخر يدخلان الجنة رقم (۴۸۹۴)-

۵) (مسند أحمد بن حنبل (ج۲ص ۲۴۴، ۵۱۱)-

۶) (فتح البارى (ج۶ص ۴۰)-

۷) (مختار الصحاح مادة توب-

۸) (شرح ابن بطال (ج۵ص۳۸) وعمدة القارى (ج ۱۴ص۱۲۳)-

دَ دې دليل دَ مسلم شريف دَ روايت داالفاظ دی:((فيهديه إلى الإسلام))(۱)
فائده: علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی چه دَ حديث باب نه دا خبره مستفاد شوه چه هر هغه سړې کوم چه دَ الله تعالی په لارکښې اووژلې شی هغه شهيد دې. (۲)

دَ حديث دَ ترجمة الباب سره مطابقت: علامه ابن المنيراسکندرانی رحمه الله فرمائی چه ترجمة الباب کښې ((فيسدد)) دې او په حديث کښې ((يستشهد)) راغلې دې. نو لکه چه امام بخاری رحمه الله په دې خبره تنبيه ورکول غواړی چه شهادت علی وجه التسديد وی. په صحيح طريقه او اخلاص سره وی نو دې به هم جنت کښې داخليږی او هر هغه علم چه علی وجه التسديد وی دَ هغې هم دغه حکم دې سره دَ دې چه شهادت افضل دې. ليکن دَ جنت داخليدل شهيد سره خاص نه دی او مصنف رحمه الله ترجمة الباب دَ حديث شرح ګرځولې ده. (۳)

[۲۶۷۳] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ قَالَ أَخْبَرَنِي عَنْبَسَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۴) قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِخَيْبَرَ بَعْدَ مَا افْتَتَحُوهَا فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَسْهِمْ لِي فَقَالَ بَعْضُ بَنِي سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ لَا تُسْهِمْ لَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ هَذَا قَاتِلُ ابْنِ قَوْقَلٍ فَقَالَ ابْنُ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ وَاعَجَبًا لِوَبْرٍ تَدَلَّى عَلَيْنَا مِنْ قَدُومِ ضَأْنٍ يَنْعَى عَلَيَّ قَتْلَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ أَكْرَمَهُ اللَّهُ عَلَى يَدَيَّ وَلَمْ يُهِنِّي عَلَى يَدَيْهِ قَالَ فَلَا أَدْرِي أَسْهَمَ لَهُ أَمْ لَمْ يُسْهِمْ لَهُ
قَالَ سُفْيَانُ وَحَدَّثَنِيهِ السَّعِيدِيُّ عَنْ جَدِّهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ السَّعِيدِيُّ هُوَ عَمْرُو بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ [۳۹۹۷،۳۹۹۶]

تراجم رجال

۱- حميدي: دا مشهور امام حديث ابوبکر عبدالله بن الزبيرعيسی القرشی الحميدی رحمه الله دې. دَ دوی مختصر حالات ((بدء الوحی)) اولنی حديث لاندې او تفصيلی حالات ((کتاب العلم باب قول المحدث: حدثنا أو أخبرنا وأنبأنا)) لاندې راغلی دی. (۵)

۲- سفيان: دا ابومحمدسفيان بن عُيينه بن ميمون الکوفی رحمه الله دې. دَ دوی مختصر حالات((بدء الوحی)) اولنی حديث لاندې او تفصيلی حالات ((کتاب العلم باب قول المحدث: حدثنا

---

۱) (صحيح مسلم کتاب الإمارة باب الرجلين يقتل أحدهما الآخر يدخلان الجنة رقم(۴۸۹۴)-
۲) (فتح الباری (ج۶ص۴۱) وعمدة القاری (ج۱۴ص۱۲۳)-
۳) (فتح الباری (ج۶ص۴۰) والمتواری-
۴) (قوله: عن أبی هريرة رضی الله عنه: الحديث أخرجه البخاری أيضًا (ج۲ص۶۰۸) کتاب المغازی باب غزوة خيبر. رقم (۴۲۳۷) وأبوداؤد فی سننه کتاب الجهاد باب فيمن جاء بعدالغنيمة لاسهم له رقم (۲۷۲۳-۲۷۲۴)
۵) (کشف الباری (ج۱ص۲۳۷) و(ج۳ص۹۹)-

او اعبرنا وانهلنا)) لاندې راغلې دی. (۱)

۲- الزهري: دا ابوبکر محمدبن مسلم بن عبیدالله بن عبدالله ابن شهاب الزهری رحمه الله دې. د دوی حالات ((بدء الوحی)) د دریم حدیث لاندې تیرشوی دی. (۲)

۳- عنبسة بن سعید: دا عنبسة بن سعید بن العاص بن سعید بن العاص بن امیة القرشی الاموی رحمه الله دې. ابوایوب او ابوخالد د هغه کنیت دې. (۳)

د هغه مور ام ولد وه. (۴) دې

د حضرت انس بن مالك، حضرت ابوهریره او حضرت عمر بن عبدالعزیز رضی الله عنهم وغیره نه د حدیث روایت کوی.

اود هغه نه د حدیث روایت کونکوکښې اسماء بن عبید الضبعي، حبیب بن ضمرة، محمدبن عمرو بن علقمه، امام زهری او ابوقلابه الجرمی رحمهم الله وغیره شامل دی. (۵)

امام یحیی بن معین، امام ابوداود او امام نسائی رحمهم الله فرمائی ((ثقة)) (۶)

امام دارقطنی رحمه الله فرمائی ((ثقة: وهوجلیس للحجاج بن یوسف)) (۷)

ابوحاتم رحمه الله فرمائی ((لابأس به)) (۸)

یعقوب بن سفیان رحمه الله هم د ده توثیق فرمائیلې دې. (۹)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی ((ثقة، تابعی، کان أحد الأشراف)) (۱۰)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی ((ثقة)) (۱۱)

ابن حبان رحمه الله هغه په (کتاب الثقات) کښې ذکر کړیدې. (۱۲)

دې د صحیحین او سنن ابوداوٗد راوی دې. (۱۳)

---

۱) (کشف الباری (ج۱ص۱۳۷) و(ج۳ص۱۰۲)-
۲) (کشف الباری (ج۱ص۳۲۶)-
۳) (تهذیب الکمال (ج۲۲ص۴۰۸) الثقات لابن حبان (ج۵ص۲۶۸)-
۴) (طبقات ابن سعد (ج۵ص۲۳۹)-
۵) (د شیوخ او تلامذه د پاره اوګورئ تهذیب الکمال (ج۲۲ص۴۰۹)-
۶) (حواله بالا-
۷) (حواله بالا-
۸) (حواله بالا والجرح والتعدیل (ج۵ص۵۲۴) رقم (۱۱۷۹، ۲۲۲۹)-
۹) (تهذیب التهذیب (ج۸ص۱۵۶)-
۱۰) (میزان الاعتدال (ج۳ص۳۰۱)-
۱۱) (تقریب التهذیب (ص۴۳۲)-
۱۲) (الثقات لابن حبان (ج۵ص۲۶۸)-
۱۳) (الکاشف للذهبی)ج۲ص۹۹)-

په کال ۱۰۰ھ کښې دَ هغه انتقال اوشو. (۱) رحمه الله رحمةً واسعةً.

۵- ابوهریره: دا دَ رسول الله ﷺ مشهور صحابی حضرت عبدالرحمن بن صخر رضی الله عنه دې، دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب أمور الإیمان)) لاندې تیرشوی دی. (۲)

قوله: قال: أتیت رسول الله صلی الله علیه وسلم وهو بخیبر بعد ما افتتحوها، فقلت: یارسول الله، أسهم لی: حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمانی چه زه دَ فتح خیبر نه پس حضور ﷺ هم په خیبر کښې وو د هغوی په خدمت کښې حاضر شوم نو عرض می اوکړو چه په مال غنیمت کښې ماله هم حصه راکړئی.

یو تعارض اودَ هغې جواب: دلته حدیث باب کښې دا راغلی دی چه سائل حضرت ابوهریره رضی الله عنه وو او منع کونکې حضرت ابان بن سعید رضی الله عنه وو. بخاری کتاب المغازی (۳) ابوداوٗد (۴) کښې دا ذکر دی چه سائل ابان بن سعید بن العاص رضی الله عنه وو، او منع کونکې حضرت ابوهریره رضی الله عنه وو په دې کښې دی:

((فقال أبان: اقسم لنا یا رسول الله، قال أبوهریرة: فقلت: لاتقسیم له یا رسول الله))

نودَ تعارض لرې کولو دَ پاره محمدبن یحیی ذهلی رحمه الله خو دا جواب ورکړو چه راجح حضرت ابوهریره رضی الله عنه مانع کیدل دی او ابان بن سعید وو. (۵)

او خطیب بغدادی رحمه الله وائی چه دَ بخاری حدیث باب راجح دې په کوم کښې چه دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه سائل کیدل مذکور دی. (۶)

دَ حافظ ابن حجر او علامه عینی رحمهما الله رائې داده که دَ سنن ابوداود روایت صحیح اودَ بخاری شریف دَ روایت سره برابر اوګرځولې شی نودَ دې خبرې احتمال شته چه دواړو دَ یوبل دَ پاره منع کړې وی. دَ حضرت ابان رضی الله عنه دَ پاره حضرت ابوهریره رضی الله عنه په دې دلیل باندې منع اوکړه چه داد ابن قوقل قاتل دې اودَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه دَ پاره دَ حضرت ابان رضی الله عنه دا دلیل پیش کړو چه دې دَ جنګ او جهاد قابل نه دې چه ده له حصه ورکړیشی. (۷)

نو اوس په دې روایاتو کښې هیڅ تعارض پاتې نشو.

اوس یوه بله خبره باندې پوهه شئی چه امام ابوداوٗد رحمه الله (۸) چه کوم روایت نقل کړو په دې

---

۱) (تقریب التهذیب)ص۴۳۲)-
۲) (کشف الباری (ج۲ص۶۵۹)-
۳) (صحیح البخاری کتاب المغازی باب غزوة خیبر رقم (۴۲۳۸)-
۴) (سنن أبی داوٗد کتاب الجهاد باب فیمن جاء بعد الغنیمة لاسهم له رقم (۲۷۲۳)-
۵) (فتح الباری (ج۷ص۴۹۲)-
۶) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۲۴)-
۷) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۲۴) وفتح الباری (ج۷ص۴۹۲)-
۸) (سنن أبی داوٗد کتاب الجهاد باب فیمن جاء بعد الغنیمة لاسهم له رقم (۲۷۲۴)-

کښې دَ ((أبان)) په ځائ سعيدبن العاص ذکر دې حالانکه صحيح ابن سعيد دې. خطيب بغدادی رحمه الله فرمائی ((وأنما هوابن سعيد، واسمه أبان)) (۱)

قوله: فقال بعض بني سعيد بن العاص: لاتسهم له يارسول الله: نودَ سعيد بن العاص يو خوئ اوونيل يارسول الله! دَ مال غنيمت نه ده ته حصه مه ورکوه. ((بعض بني سعيدبن العاص)) نه مراد حضرت ابان بن سعيد رضي الله عنه دې.(۲)

قوله: ابان بن سعيد: دا ابوالوليد ابان بن سعيد بن العاص بن اميه بن عبدشمس بن عبدمناف الاموی القرشی رضي الله عنه دې.(۳) دَ هغه مور صفيه يا هندبنت المغيرة ده چه دَ خالدبن وليد ترور وه. (۴) دَ دوی سلسله نسب نبی کريم ﷺ سره په شپږم پشت کښې ملاويږی.(۵)

دَ هغوئ والد ابواُحيحه سعيد بن العاص دَ جاهليت دَ سردارانو نه وو اودَ ډير شان اوشوکت مالك وو. دَ هغه اته ځامن وو په کومو کښې چه پنځه په اسلام باندې مشرف شوې، حضرت ابان رضي الله عنه نه وړاندې دَ هغه دوه رونړه خالد او عمر اسلام راوړلې وو. (۶)

دَ علامه ابن عبدالبر رحمه الله مطابق دوی دَ حديبيه او خيبر دَ جنګ په مينځ کښې ايمان راوړلې دې.(۷) اوابونعيم فرمائی چه دَ غزوه خيبر نه اول هغوی اسلام قبول کړواو ابن الاثير جزری رحمه الله هم دې دوئم قول ته ترجيح ورکړيده. (۸)

دَ اسلام قبلولوسبب: دَ هغوی دَ اسلام راوړلو سبب دا جوړشو چه دَ تجارت په غرض دَ شام طرف ته اووتلو، هلته دَ هغه ملاقات يو راهب سره اوشو، دَ راهب نه ئی دَ رسول الله ﷺ باره کښې معلومات اوکړل او وئی وئيل چه زه دَ قريشو يو فرد يم او په مونږ کښې يو سړې راپيدا شوې دې چه دَ چاګمان او خيال دا دې چه هغه الله تعالی مبعوث کړيدې لکه څنګه چه ئی حضرت موسی عليه السلام مبعوث کړې وو. نودې راهب تپوس اوکړو ستاسو دَ دغه سړی نوم څه دې؟ هغه وئيل محمد. راهب وئيل زه دَ هغه اوصاف بيانوم. بيا هغه راهب دَ رسول الله ﷺ اوصاف حميده، دَ هغوی عمرمبارك او نسب وغيره ئی بيان کړل. نو حضرت ابان رضي الله عنه په دې باندې صاد اوکړو او وئی وئيل هغه هم دغه شان دې لکه څنګه چه تا بيان

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص ۱۲٤)-
۲) (حواله بالا (ص۱۲۳)-
۳) (سير أعلام النبلاء (ج ۱ص ۲۶۱) وتهذيب تاريخ دمشق الکبير لابن عساکر (ج ۲ص ۱۲۷)-
٤) (أسدالغابة فی معرفة الصحابة (ج ۱ص ۱٤۸)-
۵) (حواله بالا-
۶) (الاستيعاب فی أسماء الأصحاب (ج ۱ص ٤۶)-
۷) (سير أعلام النبلاء (ج ۱ص ۲۶۰) الاستيعاب فی أسماء الأصحاب (ج ۱ص ٤۶)-
۸) (أسدالغابة (ج ۱ص ۱٤۸)-

اوکړو. راهب وئیل ((والله، لیظهرنّ علی العرب، ثم لیظهرنّ علی الأرض)) په الله چه هغه به په عربو غالب راځی بیا به په پوره دنیا غالب راځی،
بیا ئې حضرت ابان رضی الله عنه ته اووئیل چه رجل صالح یعنی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته زما سلام اورسوه. حضرت ابان رضی الله عنه کله مکې مکرمې ته واپس شو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خلقو نه خیرو عافیت معلوم کړواود اول نه د هغه عادت وو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو بدګونی به ئې کوله، هغه ئې پریخودل، دا د حدیبیه نه وړاندې واقعه ده.
بیا چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیبیه طرف ته لاړل او واپس شونو حضرت ابان رضی الله عنه هم د هغه اتباع اوکړه او اسلام ئې قبول کړو. (۱)
کله چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه ته د حدیبیه په ورځ د قریش مکه طرف ته لیګلې وو نو هم حضرت ابان رضی الله عنه هغه ته پناه ورکړې وه. حضرت ابان رضی الله عنه حضرت عثمان رضی الله عنه په اس سورکړو تردې چه هغه په مکه مکرمه کښې داخل شو اوعثمان رضی الله عنه اووئیل:
قوله: أسبل وأقبل ولاتخف أحداً بنو سعید أعزة الحرم: یعنی بهادری ښایئی او وړاندې تیریږئی او د چا نه مه ویریږئی ځکه چه بنوسعید د حرم د معززینونه دي.(۲) هغه نبی کریم صلی الله علیه وسلم په بعض سرایا کښې د لښکر امیر هم مقرر کړې وو په هغې کښې یو د نجد طرف ته لیګلې شوې سریه هم شامل ده. (۳)
او بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت علاء بن الحضرمی رضی الله عنه معزول کړو چه د بحرین والي وو حضرت ابان رضی الله عنه ئې په ۹هجری کښې والی مقرر کړو او هغه په دې منصب باندې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د وفات پورې وو. د نبی علیه السلام د وفات نه پس هغه مدینې منورې ته واپس راغلو نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه اراده اوکړه چه دې بیا بحرین ته اولیګی نو هغه اوفرمائیل ((لاأعمل لأحد بعد رسول الله صلی الله علیه وسلم)). د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس به زه د چا د پاره هم د عامل فرائض نه پوره کوم. او دا هم روایت دې چه هغه په یمن کښې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د طرف نه والی مقرر کیدل قبول کړې وو. (۴)
د هغه د وفات په وخت کښې مختلف اقوال دی:
ابن اسحاق رحمه الله فرمائی ((قتل أبان وعمرو ابنا سعید یوم الیرموک)) خود ابن اسحاق د دې قول چا هم مطابقت نه دې کړې. او غزوه یرموک ۱۵هجری د حضرت عمر رضی الله عنه په دورخلافت کښې پیښه شوې وه.(۵)
اودا هم اووئیلې شو چه دې د (مرج الصفر) په ورځ شهید شوې. د مرج الصفر واقعه ۱۴هجری

۱) (أسد الغابة (ج۱ص۱۴۹) وتهذیب تاریخ دمشق الکبیر (ج۲ص۱۲۸)-
۲) (الاصابة (ج۱ص۱۳) والاستیعاب (ج۱ص۴۶)-
۳) (الاستیعاب (ج۱ص۴۷)-
۴) (سیرأعلام النبلاء (ج۱ص۲۶۱) أسد الغابة (ج۱ص۱۴۹)-
۵) (أسدالغابة (ج۱ص۱۵)-

كښې دور خلافت عمري كښې پېښه شوې وه. (١)
دريم او صحيح قول د موسى بن عقبه دې د كوم تائيدچه مصعب، زبير او اكثراهل نسبو هم كړيدې چه حضرت ابان رضي الله عنه خپل رور خالدبن سعيد سره په (جنګ اجنادين) كښې شهيد شوې .(٢) هم دا قول امام ذهبي هم صحيح ګرځولې دې، هغوى ليكي:

((ثم إنه استشهد هو وأخوه يوم أجنادين على الصحيح))(٣)
د صحيح قول مطابق هغه اود هغه رور جنګ اجنادين كښې شهيدان شوى. هغه د نبى كريم ﷺ نه صرف يو روايت نقل كړيدې او هغه دا دې: ((وضع الله عزوجل كل دم في الجاهلية، أوقال: كل دم كان في الجاهلية، فهو موضوع))(۴) يعنى هره هغه وينه چه د جاهليت په زمانه كښې بهيولې شويده، هغه الله تعالى معاف كړيده، يا ئې دا اوفرمائيل چه هره هغه ناحق وينه كومه چه په جاهليت كښې بهيولې شوې وه هغه معاف ده.

قوله: فقال أبوهريرة: هذا قاتل ابن قوقل: حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائى دې (يعنى ابان رضي الله عنه) د ابن قوقل قاتل دې.
د حضرت ابوهريره رضي الله عنه د دې قول مقصددادې چه ابان رضي الله عنه په حالت كفركښې قوقل رضي الله عنه قتل كړې وو په دې وجه هغه ته د غنيمت نه حصه نه دى ملاويدل پكار. اود ابن قوقل نه مراد حضرت نعمان بن مالك بن ثعلبه رضي الله عنه دې. (۵)

---

١) (حواله بالا-
٢) (أسدالغابة (ج١ص١٥٠) الاستيعاب (ج١ص٤٧) "د جنګ اجنادين مختصر پيژندګلو" اجنادين د فلسطين په علاقو رمله او بيت حبرون په مينځ كښې د يو مشهور ځاى نوم دې.(معجم البلدان (ج١ص١٠٣)- په دې مقام د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د دور خلافت په آخرى ورځو كښې د مسلمانانو او روميانو په مينځ كښې يو خونړې جنګ اوشو.د روميانود فوځ مشر د هرقل رور تهيودورس وو اود هغه لاندې يو لاكه رومى فوځ وو. د مسلمانانو لښكر په هغه دريو جدا جدا ټولو باندې مشتمل ووچه فلسطين او اردن سره خواوشا جنګى كاروايانو كښې مصروف وو. د دې دريوارو لښكر مشرى په ترتيب سره حضرت عمرو بن العاص، شرجيل بن حسنه او يزيد بن ابى سفيان رضى الله عنهم كوله. د روميانو او مسلمانانو په مينځ كښې ځو سرحدى جهړپونه شوې وو په كومو كښې چه څوځل روميان غالب راغلي وو، او آخر دا دريواړه ډلې د حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه په قيادت كښې راجمع شوې او د دواړو لښكرو په مينځ كښې جمادى الاولى ١٣هجرى كښې فيصله كن جنګ اوشو. كوم كښې چه د مسلمانانو متحده فوځ د دښمن فوځ ته د اجنادين په مقام ماتې وركړه او اجنادين د هميشه د پاره د مسلمانانو د اثرلاندې راغلو.(دائره معارف اسلاميه تحت ابى بكر: (ج١ص٧٥٥ وتحت اجنادين (ج١ص١٠١٢)- په دې جنګ كښې د مسلمانانوهم يو خاص تعداد شهيدان شو. په كوم كښې چه حضرت عبدالله بن زبير بن عبدالمطلب، عكرمه بن ابى جهل او حارث بن هشام رضى الله عنهم غوندې صحابه شامل وو. (معجم البلدان (ج١ص١٠٣)-
٣) (سيرأعلام النبلاء (ج١ص٢٦١)-
٤) (الاستيعاب (ج١ص٤٨) و الإصابة (ج١ص١٤)-
٥) (عمدة القارى (ج١٤ص١٢٣)-

قوله: حضرت نعمان بن قوقل رضی الله عنه: دا نعمان بن مالك بن ثعلبه بن اصرام بن فهد بن ثعلبه بن قوقل رضی الله عنه دې. دې د خپل جدامجد طرف ت منسوب کیدوسره د ابن قوقل په نوم یادیږی. (۱)

او بعض حضراتو دا وئیلی چه قوقل د ثعلبه یا مالك لقب دې د چا نوم نه دې. (۲)

دې د بدرین نه دې. (۳)

دې د رسول الله ﷺ نه د حدیث روایت کوی او د ده نه حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه د حدیث روایت کوی. ابوصالح هم د ده نه د حدیث روایت کړیدې. خود ده سماع د حضرت نعمان نه ثابت نه ده، په دې وجه به روایت مرسل وی. (۴)

د مسلم شریف په یو روایت کښې د هغه ذکر راغلې دې، حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی «أتى النبيَّ صلى الله عليه وسلم النعمانُ بنُ قوقل، فقال: يا رسول الله، أرأيت إذا صليتُ المكتوبة... إلخ» (۵)

دې په غزوه احد کښې شهیدشوې او قاتل حضرت ابان بن سعید رضی الله عنه وو لکه چه په حدیث باب کښې ذکر دی. او بعض اهل مغازی قاتل صفوان بن امیه گرځولې دې خو دا قول مرجوح دې او دا هم کیدیشی چه دې شهید کونکوکښې دواړه شریك وی. (۶)

قوله: فقال ابن سعيد بن العاص: واعجباً لوبر تدلى علينا من قدوم ضأن ينعى عليَّ قتل رجل مسلم، أكرمه الله على يديَّ ولم يهني على يديه: نو حضرت ابان بن سعید رضی الله عنه وائی حیرانیتا ده په دې پیشوګی باندې چه د ضان غر د څوکې نه راکوزشو راغلو، دې په ماباندې د یو داسې سړی متعلق عیب لګوی چاته چه الله تعالی زما په لاس عزت یعنی شهادت سره سرفراز کړو او هغه نې منع کړو چه هغه به زه په خپل لاس ذلیل کولم.

د حضرت ابان بن سعید رضی الله عنه مطلب د دې قول نه دا دې که ما نعمان بن قوقل رضی الله عنه په خپله زمانه د کفر کښې شهیدکړو نو هغه د ده د وجه نه د شهادت په اوچته درجه باندې فائز شو او ورسره په ما باندې د الله تعالی فضل او احسان اوشو چه الله تعالی زه د هغه د لاس نه د مړ کولو نه بچ کړم. که هغه زه په هغه وخت کښې قتل کړې ووم نو په آخرت کښې به زه ذلیل او خوار وم. لیکن الله تعالی زه د غه ذلت نه بچ کړم. نو په دې کښې د پیغور وغیره څه خبره ده؟ (۷)

---

۱) (أسدالغابة (ج۵ص۳۲) وفتح البارى(ج۶ص۴۱)-
۲) (الإصابة (ج۳ص۵۶۴)-
۳) (أسد الغابة (ج۵ص۳۲۰)-
۴) (حواله بالا-
۵) (صحيح مسلم (ج۱ص۳۲) كتاب الإيمان باب بيان الإيمان الذى يدخل به الجنة.... رقم (۱۶-۱۷)-
۶) (فتح البارى (ج۶ص۴۱) وأسدالغابة (ج۵ص۳۲۰)-
۷) (عمدة القارى (ج۱۴ص۱۲۵) وانظر لمزيد من التفصيل: كشف البارى كتاب المغازى (ص۴۵۲-۴۵۴)

قوله: قال: فلاأدري أسهم له أم لم يسهم له: وئى فرمائيل ماته نه ده معلومه چه رسول الله ﷺ هغه ته (د غنيمت نه) حصه ورکړه اوکه نه. علامه ابن التين رحمه الله فرمائى چه د دې قول قائل ابن عينيه يا د هغه نه لاندې د امام بخارى رحمه الله خوك شيخ دې.(۱)

د حديث باب لاندې يوه مسئله ذكر كولې شى چه په غنيمت كښې جهاد ته د روستو راتلونكى حصه شته كه نه؟ د دې تفصيل چونكه مونږ مغازى كښې ذكر كړېدې نو په دې وجه دې هم هلته اوكتلې شى. (۲)

قوله: قال سفيان: وحدثنيه السعيدى عن جده عن أبى هريرة: د دې عبارت مقصد دا دې چه حديث باب د حضرت سفيان ابن عينيه رحمه الله نه په دوو سندونو سره مروى دې يو خو هم هغه سند دې چه په ماقبل كښې تيرشو يعنى ((حدثنا الحميدى، حدثنا سفيان، حدثنا الزهرى قال: أخبرنا عنبسة بن سعيد عن أبى هريرة)) او په دوئم سند كښې الزهرى او عنبسه بن سعيد په خائې ((السعيدى عن جده)) او دا دوئم طريق امام حميدى په خپل سند كښې ذكر كړېدې.(۳).

قوله: قال أبو عبدالله: السعيدى: عمرو بن يحيى .....: د ابو عبدالله نه مراد امام بخارى رحمه الله دې او دلته هغوى د السعيدى نوم او نسب خودلې دې چه د سعيدى نوم عمرو بن يحيى بن سعيد بن عمرو بن سعيد بن العاص دې. (۴)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حديث ترجمة الباب سره مطابقت د حضرت ابان بن سعيد رضى الله عنه په دې قول كښې دې. ((اكرمه الله بيدى)) يعنى نعمان بن قوقل رضى الله عنه د حضرت ابان رضى الله عنه د لاسه شهيد شو او الله تعالى هغه د شهادت په اوچته مرتبه باندې سربلند كړو. خو حضرت ابان رضى الله عنه د كفر په حالت كښې نه دې وژلې شوې بلكه هغه د غزوه احد نه پس هم ژوندې وو او هغه ته د توبې توفيق اوشو او اسلام ئى قبول كړو او همدغه د ترجمه مقصد هم دې. (۵)

۲۹- باب: مَنْ اخْتَارَ الْغَزْوَ عَلَى الصَّوْمِ

د ترجمة الباب مقصد: د ترجمة الباب مقصد دا دې چه يو سړې جهاد له په روژه باندې ترجيح وركړې دې د پاره چه د روژې د وجه د هغه بدن د ضعف او كمزورئى ښكار نشى نو

---

۱) (عمدة القارى (ج ۱۴ص۱۲۵)-
۲) (كشف البارى كتاب المغازى (ص۴۴۷)-
۳) (عمدة القارى (ج ۱۴ص۱۲۵) وفتح البارى (ج۶ص۴۱)-
۴) (السعيدي اود هغه د نيكه حالات "كتاب الوضوء، باب الاستنجاء بالحجارة" لاندې بيان كړې شوى دى-
۵) (عمدة القارى (ج ۱۴ص۱۲۳)-

د هغه دا فعل صحيح دې او په سنت کښې د دې اصل موجود دې.
د ونمه خبره دا ده که د مجاهد روژه نه هم وی نو بيا هم د هغه د پاره د روژه دار او د شپې د قيام کونکو برابر ثواب ليکلې کيږی. څکه چه نبی عليه السلام مجاهد ته د داسې روژه دار سره تشبيه ورکړيده چه کوم صائم الدهر وی او په داسې عبادت ګذار سره ئې تشبيه ورکړيده چه ستړې کيږی نه. (۱)

[۲۶۷۳] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۲) قَالَ كَانَ أَبُو طَلْحَةَ لَا يَصُومُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَجْلِ الْغَزْوِ فَلَمَّا قُبِضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ أَرَهُ مُفْطِرًا إِلَّا يَوْمَ فِطْرٍ أَوْ أَضْحَى

تراجم رجال

۱- آدم: دا ابوالحسن آدم بن ابی ایاس عبدالرحمن العسقلانی رحمه الله دې. د ده حالات ((كتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده)) لاندې راغلی دی. (۳)

۲- شعبه: دا امیرالمؤمنین فی الحدیث شعبه بن الحجاج عتکی بصری رحمه الله د هغه حالات هم د مذکوره باب لاندې راغلی دی. (۴)

۳- ثابت البنانی: دا مشهور تابعی بزرګ ابومحمد ثابت بن اسلم بنانی بصری رحمه الله دې د ده حالات ((كتاب العلم باب القرءة والعرض على المحدث)) په ذیل کښې راغلی دی. (۵)

۴- انس بن مالك: دا مشهورصحابی حضرت انس بن مالك رضی الله عنه دې. د ده حالات ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه)) په ذیل کښې تیرشوی دی. (۶)

قوله: قال كان أبوطلحة لايصوم على عهد النبي صلى الله عليه وسلم من أجل الغزو: حضرت انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی چه حضرت ابوطلحه رضی الله عنه به د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې په جهاد کښې د شرکت په غرض روژې نه ساتلې.

دلته ((أبوطلحة)) نه مراد حضرت زیدبن سهل الانصاری رضی الله عنه دې چه د حضرت انس ناسکه پلار وو. (۷)

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱۴ص۱۲۵) وشرح ابن بطال (ج۵ص۴۲)-
۲) (قوله: أنس بن مالک رضی الله عنه: الحديث أخرجه البخاری فقط فی هذاالباب. قال العلامة العينی: والحديث من أفراده. عمدة القاری (ج ۱۴ص۱۲۶) وجامع الأصول (ج ۶ص۳۴۵)-
۳) (کشف الباری (ج ۱ص۶۷۸)-
۴) (حواله بالا-
۵) (کشف الباری (ج ۳ص۱۸۳)-
۶) (کشف الباری (ج ۲ص ۴)-
۷) (عمدة القاری (ج ۱۴ص۱۲۶)-

او په حديث باب كښې د هغوى عمل دا اوخودلې شو چه هغه به د نبى كريم ﷺ په زمانه كښې روژو له په جهاد باندې ترجيح وركوله، د دې د پاره چه د كمزورئى ښكارنشى او روژې به ئې نه ساتلې.
ليكن د روژو نه ساتلو چه كومه نفى شويده هغه على الاطلاق نه ده چه بالكل روژې به ئې نه ساتلې بلكه دا په اكثرو اوقاتومحمول ده، د دې وجه دا ده چه همدغه روايت اسماعيلى د ابوالوليد او عاصم بن على عن شعبه په طريق سره نقل كړيدې په يو كښې ((لايكاديصوم)) او په بل كښې ((كان قلما يصوم)) نو معلومه شوه چه نفى الصوم على الاطلاق نه ده بلكه فى اكثر الاوقات ده. (۱)

قوله: فلما قبض النبى صلى الله عليه وسلم لم أره مفطراً إلا يوم فطر أو أضحى:
حضرت انس رضى الله عنه فرمائى چه نبى ﷺ د دنيا نه رخصت شو نو ما هغه بغير د روژو نه نه دې ليدلې مګردا چه د وړوكى اختر او لوئى اختر په ورځ.
يعنى د نبى كريم ﷺ د وفات نه پس حضرت ابوطلحه رضى الله عنه به هميشه په روژه سره وو مګر د وړوكى اختر او لوئى اختر په ورځ به ئې روژه نه وه. ځكه چه په دې ورځوكښې د روژو ساتلو نه منع راغلې نو په دې وجه به هغه په دې ورځوكښې روژه نه وو او په حديث كښې ذكر شوې ((يوم اضحى)) نه مراد همدغه ورځې دى كوموكښې چه روژه ساتل منع دى د دې د پاره چه ايام تشريق ته لفظ ضحى شامل شى او څه اشكال پيش نه شى. (۲)
پورتنې حديث كښې دې طرف ته اشاره شويده چه حضرت ابوطلحه رضى الله عنه به د نبى كريم ﷺ د وفات نه پس په غزواتو كښې شركت نه كولو، اود حضور ﷺ په عهدمبارك كښې هغه نفلى روژې ځكه پريخې وې چه په ميدان جهاد كښې چرته كمزورى ښكاره نشى. ليكن د حضور ﷺ د وفات نه پس هم هغه په غزوات كښې شركت كړيدې لكه حاكم رحمه الله (۳) او ابن سعد (۴) وغيره ((حماد بن سلمة عن ثابت عن أنس)) په طريق نقل كړى دى:
((أن أبا طلحة قرأ هذه الآية ﴿انفروا خفافا وثقالا﴾، فقال: استنفرنا الله وأمرنا الله، واستنفرنا شيوخا وشبانا، جهزونى، فقال بنوه: يرحمك الله، إنك قد غزوت على عهد النبى صلى الله عليه وسلم وأبى بكر وعمر، ونحن نغزو عنك الآن فغزا البحر، فمات، فطلبوا جزيرة يدفنونه فيها، فلم يقدروا عليه إلا بعد سبعة أيام وما تغير))
يعنى حضرت ابوطلحه رضى الله عنه دا آيت تلاوت كړو ﴿انفروا خفافا وثقالا﴾ نو هغه اوفرمائيل چه الله تعالى مونږ ته د جنګ د وتلو د پاره حكم راكړې دې اوكه مونږ بوډاګان يو كه ځوانان د وتلوحكم دې. نو زما د پاره د سفر سامان تياركړئى، د هغه ځامنو اووئيل الله تعالى دې په

۱) (فتح البارى (ج۶ص۴۲)-
۲) (فتح البارى (ج۶ص۴۲) و(عمدة القارى (ج۱۴ص۱۲۶)-
۳) (المستدرک للحاكم (ج۳ص۲۵۳)-
۴) (الطبقات الكبرى (ج۳ص۵۰۷)-

تاسو باندې رحم اوکړی. په تحقیق سره تاسو د نبی کریم ﷺ حضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې په غزواتوکښې شرکت کړیدې(په دې وجه ته تکلیف مه اوچته وه) مونږ به ستاد طرف نه په غزواتوکښې شرکت کوو(خو هغه اونه منل) په سمندری جنګ کښې شریك شو، هلته هغه وفات شو نو د سفر ملګرو یوه جزیره لټوله چه په هغې کښې هغه خښ کړی لیکن د اوو ورځو پورې هغوی په خپل مقصد کښې کامیاب نشو(د دې نه پس ئې هغه خښ کړو) اود هغه مړې جوسه بالکل خرابه شوې نه وو.

دحضرت ابوطلحه د مذکوره عمل وجه: علامه مهلب فرمائی چه نبی کریم ﷺ مجاهد ته ((الصائم القائم)) سره تشبیه ورکړې ده ((کما مرفی أوائل الجهاد)) په دې وجه حضرت ابوطلحه رضی الله عنه جهاد په روژه مقدم کړو. خو د نبی کریم ﷺ د وفات نه پس کله چه اسلام ښه خور شو د هغه جرړې مضبوطې شوې او هغه اوکتل چه اوس د هغه خاص ضرورت پاتې نشو نوغوښتل ئې چه دَروژو هم هغه سره ذخیره وی او د قیامت په ورځ جنت کښې ((باب الریان)) نه داخل شی.(۱)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث باب ترجمة الباب سره مناسبت بالکل واضح دې(۲) لکه چه ((کان أبوطلحة لایصوم علی عهد النبی صلی الله علیه وسلم من أجل الغزو)) نه معلومیږی.

۳۰-بَاب: الشَّهَادَةُ سَبْعٌ سِوَى الْقَتْلِ

دَ ترجمة الباب مقصد: علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دَ امام بخاری رحمه الله دَ دې ترجمة الباب نه مقصد دا دی چه دَ مقتول في سبیل الله نه علاوه هم نور ډیر شهیدان دی دَ کوم ذکر چه به امام بخاری رحمه الله په دې حدیث باب کښې کوی.(۳)

[۲۶۷۴] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ سُمَيٍّ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۴) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ الْمَطْعُونُ وَالْمَبْطُونُ وَالْغَرِقُ وَصَاحِبُ الْهَدْمِ وَالشَّهِيدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ [ر: ۶۲۴]

تراجم رجال

۱-عبدالله بن یوسف: دا عبدالله بن یوسف تنیسی دمشقی رحمه الله دې. دَ ده حالات ((بدء الوحی)) دَ دونم حدیث په ذیل کښې راغلی دی. (۵)

---

۱) (شرح ابن بطال (ج۵ص۴۲)-
۲) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۲۶)-
۳) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۲۶)-
۴) (قوله عن أبی هریرة رضی الله عنه: الحدیث مرتخریجه فی کتاب الأذان با پفضل التجهیز إلی الظهر-
۵) (کشف الباری (ج۱ص۲۸۹)-

۲- مالك: دا مالك بن انس بن ابى عامر الاصبحى المدنى رحمه الله دې. دَ ده حالات هم د مذكوره حديث لاندې راغلى دى. (۱)

۳- سمي: دا ابوعبدالله سمى مولى ابوبكربن عبدالرحمن رحمه الله دې. (۲)

۴- ابوصالح: دا ابو صالح ذكوان زيات رحمه الله دې. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب أمور الإيمان)) په ذيل كښې راغلى دى. (۳)

۵- ابوهريره رضي الله عنه: دا دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم مشهورصحابى حضرت عبدالرحمن بن صخر رضي الله عنه دې، دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب أمور الإيمان)) لاندې راغلى. (۴)

قوله: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: الشهداء خمسة: المطعون، والمبطون، والغريق، وصاحب الهدم، والشهيد في سبيل الله: دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى چه شهيدان پنځه دى: يو هغه سړې چه دَ طاعون په وباكښې هلاك شى، دوئم چه دَ خېټې دَ بيمارئى نه مړشى، دريم چه څوك ډوب شى مړشى، څلورم چه دَ ديوال راغورزيدو سره مړ شى او پنځم شهيدفي سبيل الله.

دَ شهداوُ په تعدادكښې اختلاف: دلته په حديث باب كښې ((الشهداء خمسة)) راغلې دې. او په موطاكښې دَ حضرت جابر بن عتيك رضي الله عنه په روايت كښې ((الشهداء سبعة سوى القتل))(۵) او په ترمذى كښې دَ حضرت فضاله بن عبيد روايت دې هغه فرمائى ((سمعت عمربن الخطاب رضي الله عنه يقول: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: الشهداء اربعة....)) (۶) اودَ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه په روايت كښې دى ((الشهداء ثلاثة)) ذكر دې.(۷)

دَ دې احاديثونه علاوه نور هم ډير صحيح احاديث مبارك دى (۸) په كوم كښې چه دَ مقتول في سبيل الله نه علاوه مختلف كسان او اشخاص شهيدان ګرځولې دى. علامه زرقانى رحمه الله دَ هغوى تعداد اووه ويشت(۲۷) (۹)

---

۱) (كشف البارى (ج۱ص۲۹۰) و كشف البارى (ج۲ص۸۰)-
۲) (دَ دوى دَ حالاتودَ پاره اوګورئ كتاب الأذان باب الستهام فى الأذان-
۳) (كشف البارى (ج۱ص۶۵۸)-
٤) (كشف البارى (ج۱ص۶۵۹)-
۵) (المؤطا للإم مالک (ص۲۱۵) كتاب الجنائز باب النهى عن البكاء على الميت رقم (۳۶) وأيضًا أخرجه أبوداؤد فى سننه كتاب الجنائز باب فضل من مات فى الطاعون رقم (۳۱۱۱) والنسائى فى الصغرى كتاب الجنائز باب النهى عن البكاء على الميت رقم (۱۸٤۷)-
۶) (جامع الترمذى أبواب فضائل الجهاد باب ماجاء فى فضل الشهداء عندالله رقم (۱۶٤٤)-
۷) (مجمع الزوائد (ج۵ص۲۹۱) وكنزالعمال (ج٤ص۵۹۳) رقم (۱۱۷۳٤)-
۸) (انظر التفصيل تلک الأحاديث: عمدةالقارى (ج۱٤ص۱۲۶-۱۲۷) والأوجز (ج٤ص۲۶۷-۲۶۹)-
۹) (شرح الزرقانى على المؤطأ (ج۲ص۷۳) كتاب الجنائز باب النهى عن البكاء...-

علامه عینی رحمه الله خلوېښت (۳۰) (۱) علامه سیوطی رحمه الله په خپل کتاب (أبواب السعادة فی أسباب الشهادة) کښې دیرش (۳۰) (۲) او شیخ الحدیث (مولانا زکریا رحمه الله شپیته (۶۰) ذکر کړی دی (۳) او حافظ ابن حجر رحمه الله شل (۲۰) ذکر کړی دی. (۴)

دَ روایاتوپه مینځ کښې تطبیق: اوس سوال دا پیدا کیږی چه دَ دې مختلفو روایاتو په مینځ کښې په بعضو کښې تعداد هم صراحتاً ذکر دې، دَ تطبیق به څه صورت وی؟

علامه کرمانی رحمه الله دَ دې سوال جواب دا ورکړیدې چه تخصیص بالعدد دَ دې نه دَ زیاتو په نفی دلالت نه کوی. (۵)

حافظ ابن حجر او علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دَ مختلفو اعدادو ذکر علی وجه التحدید والحصر نه دې بلکه دا دَ مختلفو احوالو او سوالونو په بنا باندې دې. یعنی په بعض حالات مخصوصه کښې نبی کریم ﷺ دَ سائل احوال په خیال کښې ساتلو سره جواب ورکړې او هغه دغه روایت کړې.

یا حضور ﷺ ته اول دَ دریو علم ورکړیشوې وو بیا دَ علم دَ زیاتوالی سره سره دَ شهیدانو تعداد هم زیات شو. (۶)

دَ شهیدتعریف او حدیث باب: اوس دلته دوئم سوال دا پیداکیږی چه شهید خو دَ فقهاؤ په اصطلاح کښې هغه دې چه چرته په یوجنګ کښې قتل کړیشی او په هغه باندې نښې هم وی، یا هغه اهل حرب یا اهل البغی یا ډاکوانو قتل کړې وی یا مسلمانانو هغه په ظلم سره وژلې وی اودا تعریف مبطون، مطعون وغیره باندې نه صادق کیږی نوداڅنګه شهیدان شو؟

دَ دې جواب دا دې چه قتیل فی سبیل الله نه علاوه چه دَ کومو حضراتو باره کښې په احادیثوکښې واردشوی دی چه هغوی شهیدان دی نودَ هغوی شهادت دَ اجر په اعتبار سره دې یعنی دې حضراتو ته به هم دَ حقیقی شهید په شان برابر اجر ورکولې شی. (۷) علماؤ حضراتو لیکلی دی چه دَ شهید درې قسمونه دی:

① شهید فی الدنیاوالآخرة هغه دې چه دَ الله تعالی دَ کلمې دَ اوچتوالی دَ پاره دَ جهاد دَ پاره لاړ شی او شهید شی.

② شهید فی الدنیافقط، او هغه دا دې چه سړې میدان جنګ کښې خو قتل کړې شی خو هغه دَ اعلاء کلمة الله دَپاره نه وی تلې دَ نامې او خان خودنې دَ پاره تلې وی اوهلته قتل شی یادا چه شاکړې تښتیدو اومړشو اویا دَ غنیمت په مال کښې ئې خیانت کولو او مړ کړیشو.

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱۴ ص ۱۲۳)-
۲) (أوجز المسالک (۴ ص ۲۵۷)-
۳) (أوجز المسالک (۴ ص ۲۶۹)-
۴) (فتح الباری (ج ۶ ص ۴۳)-
۵) (شرح الکرمانی (ج ۵ ص ۴۲)-
۶) (عمدة القاری (ج ۱۴ ص ۱۲۷) وفتح الباری (ج ۶ ص ۴۳)-
۷) (شرح الکرمانی (ج ۵ ص ۴۲) وعمدة القاری (ج ۴ ص ۱۲۷)-

③ شهیدفی الآخرة چه یوسړې دَ دیوال راپریوتلو سره مړشی یا اوسوزی یا دَ خیټې دَ بیمارئی ښکارشی اومړشی وغیره وغیره، چه کوم صورتونه په جدیث باب کښې بیان کړیشوی دی.

په دې دریم قسم به په دنیاکښې دَ شهید احکام نه جاری کیږیِیعنی دَ حقیقی شهید برخلاف په هغه ته کفن هم ورکولې شی او غسل هم. لیکن په آخرت کښې به هغه سره دَ شهید معامله کولې شی او هغه ته به دَ شهید په شان اجر ورکولې شی. (۱)

اودا دَ الله تبارك وتعالی په امت محمدیه علی صاحبها الصلوٰة والسلام باندې خاص فضل او کرم دې چه دَ قتیل فی سبیل الله نه علاوه کوم کسان دَ شهادت دَ درجې حامل گرځولې دی په هغې کښې هغه تکلیفونه اوپه دغه تکلیفونو باندې صبر په خیال کښې ساتلې دې اود دې په وجه ئې دَ هغوی گناهونه معاف کړل اودَهغوی په اجراو ثواب کښې ئې زیاتوالی اوکړو.(۲)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: ابن بطال رحمه الله په ترجمة الباب باندې اعتراض کولو سره فرمائی چه دَ حدیث باب نه دا ترجمه دَسرنه هډو مستنبط کیږی نه، ځکه چه ترجمه دَ اوو(۷) ده او په حدیث کښې سوی القتل شهداء څلوردی. دا دَ دې خبرې دلیل دې چه امام بخاری رحمه الله ته دَ دې خبرې هډو موقع ملاؤ نشوه چه هغه دَ دې خپل کتاب تهذیب او تنقیح کړې وې.(۳)

دَ دې اعتراض جواب ورکولو سره علامه ابن المنیر اسکندرانی فرمائی چه دَ ابن بطال رحمه الله قول په ظاهره دَ دې خبرې دلالت کوی چه امام بخاری رحمه الله دَ دې ترجمة الباب لاندې حضرت جابر بن عتیك رضی الله عنه داخلول غوښتل لیکن قضا هغه ته مهلت ورنه کړو خودَ ابن بطال دا وینا دَ نظر نه خالی نه ده.

اوداخبره ده چه امام بخاری رحمه الله په دې خبره تنبیه ورکول غوښتل چه شهادت هم په قتل کښې منحصر نه دې بلکه دَ شهادت اسباب نورهم دی. نوپه دې اسبابو کښې په احادیثوکښې په عدد باندې اختلاف دې چه په بعض کښې پنځه دی بعض اووه، نو چه کوم حدیث په دې شرائطو باندې پوره کیدو هغه خو ئې په باب کښې ذکر کړو او په ترجمه کښې دَ اووه عدد ذکر کړو او په دې خبره ئې تنبیه اوکړه چه په احادیثو کښې مذکوره اعداد علی معنی التحدید نه دی. (۴)

او علامه کرمانی دا جواب ورکړیدې چه دلته دَ یو راوی نه په حدیث باب کښې عدد بیانولو کښې هیره شوې ده چه اصل عدد خو هم دَ اووه وولیکن دَ نسیان په وجه ئې پنځه ذکر کړل. (۵)

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ ص ۱۲۷) شرح الکرمانی (ج۵ص ٤۲)-
۲) (عمدة القاری (ج ۱٤ ص ۱۲۸)-
۳) (شرح ابن بطال) ج۵ص ٤۳)-
٤) (المتواری (ج ۱۵٤) ورجحه العینی انظر العمدة (ج ۱٤ ص ۱۲۸)-
۵) (شرح الکرمانی (ج ۱۲ ص ۱۲۵)-

حافظ ابن حجر او علامه عينى رحمه الله دا احتمال بعيد ګرځولې دی.(۱) خود علامه کرمانی رحمه الله د دې جواب تائيد د صحيح مسلم او مسنداحمد د روايت نه کيږی چه په دې رواياتو کښې د نورو څه خصلتونو او عادتونوذکر هم شته. نو په صحيح مسلم (۲) کښې هم د ابوهريره رضی الله عنه په روايت کښې ((ومن مات فی سبيل الله فهو شهيد)) اضافه وارد شويده. او د مسنداحمد په روايت کښې د دې الفاظو هم اضافه شويده ((والخار عن دابته فی سبيل الله شهيد، والمجنوب فی سبيل الله شهيد)) (۳) يعنی د الله تعالى په لار کښې د خپلې سورلئی نه غورزيدونکې شهيد دې او د الله تعالى په لار کښې ذات الجنب بيمارئی سره مړکيدونکې شهيد دې.

حافظ صاحب د دې مذکوره بالا اشکال جواب دا ورکړې دې چه دا ترجمه موطا (۴) د يو روايت نه اخذ شويده چه د حضرت جابر بن عتيك رضی الله عنه نه مروی دې. او په دې کښې شهداء سوی القتل فی سبيل الله هم اووه قسمه بيان کړيشوی دی. (۵)

او شيخ الحديث مولانا محمدزکريا کاندهلوی رحمه الله دا فرمائيلی دی چه زما په نزد خبره دا ده چه لفظ ((سبع)) کله مطلقًا ذکر کړيشی نود دې نه مراد کثرت وی، نود ترجمة الباب مطلب به اوس داشی چه((قتل فی سبيل الله)) نه علاوه هم د شهادت اسباب ډير دی او د ((سبع)) لفظ به په خپله حقيقی معنی پاتې نشی بلکه په معنی مجازی (کثرت) به محمول کيږی.(۶)

[۲۶۷۵] حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا عَاصِمٌ عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۷) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الطَّاعُونُ شَهَادَةٌ لِكُلِّ مُسْلِمٍ [۵۴۰۰]

---

۱) (فتح البارى (ج۶ص۴۳) وعمدة القارى (ج۱۴ص۱۲۸)-

۲) (الصحيح لمسلم كتاب الإمارة باب بيان الشهداء رم (۴۹۴۱)-

۳) (مسندالإمام أحمد(ج۲ص۴۴۱)-

۴) (روى الإمام مالک مسند بسنده أن أخبر جابر بن عتيک رضى الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم.... قال: وما تعدون الشهيد؟ قالوا: القتل فى سبيل الله. فقال: رسول الله صلى الله عليه وسلم: الشهداء سبعة سوى القتل فى سبيل الله المطعون، شهيد، والغرق شهيد، وصاحب ذات الجنب شهيد، والمبطون شهيد، والحرق شهيد. والذى يموت تحت الهدم شهيد والمرأة تموت بجمع شهيدة. انظر المؤطأ للإمام مالک بن أنس، كتاب الجنائز باب النهى عن البكاء على الميت (ص۲۱۵-۲۱۶) رقم (۳۶)-

۵) (فتح البارى (ج۶ص۴۳)-

۶) (الأبواب والتراجم للشيخ الكاندهلوى (ج۱ص۱۹۵)-

۷) (قولها: عن أنس بن مالک رضى الله عنه : الحديث أخرجه البخارى أيضًا (ج۲ص۸۵۳) كتاب الطب باب مايذكر فى الطاعون رقم (۵۷۳۲) ومسلم كتاب الإمارة باب بيان الشهداء رقم (۴۹۴۴)-

تراجم رجال

۱- بشر بن محمد: دا ابو محمد بشر بن محمد السختيانى المروزى رحمه الله دي. دَ ده حالات ,,بدء الوحى،، دَ پنځم حديث په ذيل كښې راغلى دى. (۱)

۲- عبد الله: دا ابو عبد الرحمن عبد الله بن المبارك بن واضح الحنظلى المروزى رحمه الله دې دَ ده حالات هم دَ مذكوره باب لاندې تيرشوى. (۲)

۳- عاصم: دا ابو عبد الرحمن عاصم بن سليمان التميمى الاحول رحمه الله دې. (۳)

۴- حفصه بنت سيرين: دا ام الهذيل حفصه بنت سيرين الانصاريه رحمها الله ده. (۴)

۵- انس بن مالك: دا دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابى حضرت انس بن مالك رضى الله عنه دې. دَ ده حالات ,,كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه،، لاندې تيرشويدې. (۵)

قوله: عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: الطاعون شهادة لكل مسلم:
حضرت انس رضى الله عنه فرمائى چه دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارك دې طاعون دَ هر مسلمان دَ پاره شهادت دې.

دَ حديث پاك مطلب دا دې چه كوم مسلمان دَ طاعون دَ وجه مړشو هغه به دَ شهادت اوچتې مرتبې ته رسى اودَ هغه مرګ ته به دَ شهادت مرګ وئيلې شى.

طاعون يوه مشهوره بيمارى ده كومه چه په وبائى شكل كښې خوريږى او په لاكهونو خلق هلاكوى. (۶)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث ترجمة الباب سره مناسبت په دې معنى دې چه دلته دَ طاعون ذكر دې او په ترجمه كښې دَ اوو ذكر دې او په دې اووكښې يو طاعون هم دې. (۷)

---

۱) (كشف البارى (ج۱ص۴۶۵)-
۲) (حواله بالا (ص۴۶۲)-
۳) دَ ده دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب الماء الذى يغسل به شعر الإنسان-
۴) (دَ دې دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب التيمن فى الوضوء والغسل-
۵) (كشف البارى(ج۲ص۴)-
۶) انظر الفصيل فى كشف البارى كتاب الطب (ص۴۰). قال جماعة الأطباء منهم أبوعلى سينا: الطاعون مادة سمية تحدث ورما قتالا يحدث فى المواضع الرخوة والمغابن من البدن وأغلب ماتكون تحت الإبط، أو خلف الأذن أوعندالأرنبة قال:وسببه دم ردى مائل إلى العفونة والفساد. يستحيل إلى جوهر سمى يفسد العفووبغير مايليه ويؤدى إلى القلب كيفية ردئة. فيحدث القى والخفقان..... قاله الحافظ فى الفتح (ج۱۴ص۱۸۰)
۷) (عمدة القارى (۱۴ص۱۲۸)-

۳۱- باب: قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ

فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَى وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ إِلَى قَوْلِهِ غَفُورًا رَحِيمًا [النساء: ۹۵-۹۶]

دَ ترجمة الباب مقصد: علامه عينى او شيخ الحديث صحاب ﷺ فرمائى چه امام بخارى ﷺ دلته په ترجمة الباب كښې دَ پورته ذكر شوى آيت دَ نزول سبب بيانول غواړى. (۱)

[۲۶۷۶] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۲) يَقُولُ لَمَّا نَزَلَتْ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ دَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْدًا فَجَاءَ بِكَتِفٍ فَكَتَبَهَا وَشَكَا ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ ضَرَارَتَهُ فَنَزَلَتْ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ [۴۳۱۷، ۴۳۱۸، ۴۷۰۴]

تراجم رجال

۱- ابوالوليد: دا ابوالوليد هشام بن عبدالملك طيالسى باهلى بصرى ﷺ دې. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب علامة الإيمان حب الأنصار)) لاندې راغلى دى. (۳)

۲- شعبه: دا اميرالمؤمنين فى الحديث شعبه بن الحجاج عتكى بصرى ﷺ دې. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده)) په ذيل كښې تيرشو. (۴)

۳- ابواسحاق: دا ابواسحاق عمرو بن عبدالله بن عبيد سبيعى كوفى ﷺ دې. دَ ده حالات هم ((كتاب الإيمان باب الصلاة من الأيمان)) لاندې تيرشوى دى. (۵)

۴- البراء: دا مشهور صحابى حضرت براء بن عازب ﷺ دې. دَ ده حالات هم دَ مذكوره

---

۱) (عمدة القارى (ج ۱۴ ص ۱۲۹)-

۲) (قوله: البراء رضى الله عنه: الحديث أخرجه البخارى أيضًا (ج ۲ ص ۶۶۰) كتاب التفسير باب ﴿لايستوى القاعدون من المؤمنين﴾ رقم (۴۵۹۳-۴۵۹۴) و(ج ۲ ص ۷۴۶) كتاب فضائل القرآن باب كاتب النبى صلى الله عليه وسلم رقم (۴۹۹۰) ومسلم كتاب الإمارة باب سقوط فرض الجهاد عن المعذورين رقم (۴۹۱۱) والترمذى أبواب الجهاد باب ماجاء فى أهل العذر فى القعود رقم (۱۶۷۰) وأبواب التفسير باب ومن سورة النساء رقم (۳۰۳۱) والنسائى كتاب الجهاد باب فضل المجاهدين على القاعدين-

۳) (كشف البارى (ج ۲ ص ۳۸)-

۴) (كشف البارى (ج ۱ ص ۲۷۸)-

۵) (كشف البارى (ج ۲ ص ۳۸۰)-

باب لاندې تیرشوی دی.(۱)

قوله: يقول: لما نزلت: ﴿لايستوي القاعدون من المؤمنين﴾ دعا رسول الله صلى الله عليه وسلم زيدا: ابو اسحاق السبيعی رحمه الله وائی چه ما د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه نه دا اوریدلی چه کله ﴿لايستوى القاعدون من المؤمنين﴾ نازل شو نوحضور ﷺ حضرت زید راوغوښتو.

دلته د زید نه حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه مراد دی چه د حضور ﷺ د وحی کاتب وو.(۲)

قوله: فجاء بكتف فكتبها: حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه د اوږې یو هډوکې راوړو اودا آیت نې اولیکلو.

په هغه زمانه کښې د کاغذ کمې وو د دې د پاره به خلقو د ډېر ضرورت لیك د ښاورو په لویولویو هډوکو لیکل کول.

کتف – بفتح الكاف وكسر التاء – د اوږې هغه هډوکې کوم چه پلن او خور وی که د انسان وی او که د ښاور.(۳)

قوله: وشكا ابن ام مكتوم ضرارته، فنزلت: ﴿لايستوي القاعدون من المؤمنين غير أولي الضرر﴾: او ابن ام مکتوم رضي الله عنه د ډېر نابیناتوب ګیله اوکړه نو ﴿لايستوى القاعدون من المؤمنين غير أولى الضرر﴾ نازل شو. د حضرت ابن ام مکتوم رضي الله عنه نوم عمرو بن قیس دی، نابینا صحابی وولکه څنګه چه په وړاندې حدیث کښې راځی چه کله نبی کریم ﷺ دا مذکوره آیت حضرت زید رضي الله عنه ته املاء کولو نو دې په موقع باندې راورسیدلو او عرض نې اوکړو که چرې زما طاقت وې نو خامخابه جهاد کښې شریکدم نو الله تعالی دا استثناء نازل کړه ﴿غير أولى الضرر﴾.

[۲۶۷۷] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ الزُّهْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي صَالِحُ بْنُ كَيْسَانَ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّهُ قَالَ رَأَيْتُ مَرْوَانَ بْنَ الْحَكَمِ جَالِسًا فِي الْمَسْجِدِ فَأَقْبَلْتُ حَتَّى جَلَسْتُ إِلَى جَنْبِهِ فَأَخْبَرَنَا أَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ(۴) أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْلَى عَلَيْهِ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنْ الْمُؤْمِنِينَ

---

۱) (حواله بالا (ص۳۷۵)-

۲) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۲۹)-

۳) (حواله بالا-

٤) (قوله: أن زيدبن ثابت رضي الله عنه: الحديث أخرجه البخاري أيضًا (ج۲ص۶۶۰) كتاب التفسير ﴿لايستوى القاعدون من المؤمنين﴾ رقم (٤٥٩٢) وأبوداؤد كتاب الجهاد باب الرخصة في القعود من العذر رقم ۲۵۰۷) والترمذي أبواب التفسير باب ومن سورة النساء رقم (۳۰۳۳) والنسائي كتاب الجهاد باب فضل المجاهدين على القاعدين رقم (۳۱۰۱)-

وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ قَالَ فَجَاءَهُ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ وَهُوَ يُمِلُّهَا عَلَيَّ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَوْ أَسْتَطِيعُ الْجِهَادَ لَجَاهَدْتُ وَكَانَ رَجُلًا أَعْمَى فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى عَلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفَخِذُهُ عَلَى فَخِذِي فَثَقُلَتْ عَلَيَّ حَتَّى خِفْتُ أَنْ تَرُضَّ فَخِذِي ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ [۴۳۱۶]

تراجم رجال

۱- عبدالعزیز بن عبدالله: دا عبدالعزیز بن عبدالله بن یحیی بن عمرو بن الاویس اویسی رحمه الله دي. (۱)

۲- ابراهیم بن سعد بن الزهری: دا ابراهیم بن سعد بن ابراهیم بن عبدالرحمن الزهری القرشی المدنی رحمه الله دي. دَ دوی تذکره مختصراً ((کتاب الإیمان باب تفاضل أهل الإیمان فی الاعمال)) لاندې(۲) او تفصیلی تذکره ((کتاب العلم باب ماذکر فی ذهاب موسی ....)) لاندې تیره شویده. (۳)

۳- صالح بن کیسان: دا ابومحمدیا ابوالحارث صالح بن کیسان مدنی رحمه الله دي. دَ ده حالات ((کتاب الإیمان باب تفاضل أهل الإیمان فی الأعمال)) لاندې تیرشوی دی.(۴)

۴- ابن شهاب: دا ابوبکر محمد بن مسلم بن عبیدالله بن عبدالله ابن شهاب زهری رحمه الله دي. دَ ده حالات ((بدء الوحی)) دَ دریم حدیث په ذیل کښې تیرشوی. (۵)

۵- سهل بن سعدالساعدي: دا مشهور صحابی دَ رسول الله ﷺ حضرت سهل بن سعدبن مالك ابوالعباس الساعدی رضی الله عنه دي. (۶)

۶- مروان بن الحکم: دا مشهور اموی خلیفه ابوعبدالملك مروان بن الحکم الاموی دي.(۷)

۷- زیدبن ثابت: دامشهورصحابی رسول ﷺ اوکاتب وحی حضرت زیدبن ثابت رضی الله عنه دي.(۸)

قوله: أنه قال: رأیت مروان بن الحکم جالسا في المسجد، فأقبلت حتی

۱) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب العلم باب الحرص علی الحدیث-
۲) (کشف الباری (ج۲ص ۱۲۰)-
۳) (کشف الباری (ج۳ص۳۳۳)-
٤) (کشف الباری (ج۲ص۱۲۱)-
۵) (کشف الباری (ج۱ص۳۲۶)-
۶) (دَ دوی حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب غسل المرأة أباها الدم عن وجهه-
۷) (دَ دوی حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب البُصاق والمخاط ونحوه فی الثوب-
۸) (دَ دوی د حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الصلاة باب مایذکر فی الفخذ-

جلست إلى جنبه، فأخبرنا أن زيد بن ثابت أخبره: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم أملى علي ﴿لايستوي القاعدون من المؤمنين والمجاهدون في سبيل الله﴾: د حضرت سهل بن سعد الساعدی رضی الله عنه نه مروی دی هغوی فرمائی چه ما مروان بن حکم جمات کښې ناست اوليدو، زه وروراندې شوم او د هغه په اړخ کښې کناستم نو هغه مونږ ته اوخودل چه حضرت زيد بن ثابت رضی الله عنه هغه ته خودلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته دا آيت املا کړو ﴿لايستوى القاعدون من المؤمنين والمجاهدون في سبيل الله﴾

دلته په سند کښې يوه لطيفه دا ده چه حضرت سهل رضی الله عنه صحابی دې او مروان تابعی. او صحابی دلته د تابعی نه د حديث روايت كوى نو دا ((رواية الصحابي من التابعي)) دې.(۱)

او دوئمه لطيفه دا ده چه ابن شهاب شيخ دې او صالح بن كيسان شاګرد او شاګرد د شيخ نه په عمر کښې زيات دې، نو دا ((رواية الأكابر عن الأصاغر)) دې.(۲)

قوله: قال: فجاءه ابن أم مكتوم وهو يملها علي، فقال: يارسول الله، لواستطعت الجهاد لجاهدت: حضرت زيد بن ثابت رضی الله عنه فرمائی په دغه وخت کښې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته د ذکرشوی آيت املا کوله، هغوی له ابن ام مکتوم رضی الله عنه راغلو او وئی وئيل، يارسول الله! که چرې ما جهاد کولې شو نو خامخا به مې کړې وې.

((يملها)) په اصل کښې ((يمليها)) وو، ظاهرهمدغه دی چه د ،دې دوئمه ياء په لام سره بدله کړيشويده بيا دواړه لامونه مدغم کړيشو. (۳)

قوله: وكان رجلا أعمى، فأنزل الله تعالى على رسوله صلى الله عليه وسلم وفخذه على فخذي، فثقلت علي حتى خفت أن ترض فخذي، ثم سري عنه، فأنزل الله عزوجل ﴿غير أولي الضرر﴾: او ابن ام مكتوم نابينا سړې وو، نوالله تعالى خپل رسول صلی الله علیه وسلم ته وحی راوليگله، په دې حال کښې چه د حضور پنډئی زما په پنډئی باندې پرته وه، نو د حضور پنډئی په ماباندې درنه شوه، تردې چه زما دا ويره پيدا شوه چه زما پنډئی تکړې تکړې نشی، بيا د وحی آثار د هغوی نه زائل شو نو الله تعالى عزوجل دا وحی نازله کړه. ﴿غير أولي الضرر﴾

د حديث باب نه معلومه شوه چه اول خو په دې مذکوره آيت کښې څه قسم استثناء نه وه، هم دوه ډلې وې، يوه د مجاهدينو او دوئمه د قاعدين عن الجهاد، خو د ابن ام مکتوم په ګيله باندې د الله تعالى د طرف نه استثناء نازل کړيشوه چه د دې تفريق نه هغه خلق مستثنی

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱۴ص ۱۳۰)-
۲) (عمدة القاری (ج۱۸ص۱۸۶)-
۳) (شرح ابن بطال (ج۵ص ۴۴)-

دي چه معذوره وي. علامه مهلب رحمه الله فرمائی: ((فيه دليل على أن من حبسه العذر عن الجهاد وغيره من أعمال البر مع نيته فيه فله أجر المجاهد والعامل، لأن نص الآية على المفاضلة بين المجاهد والقاعد، ثم استثنى من المفضولين أولي الضرر، وإذا استثناهم من المفضولين فقد ألحقهم بالفاضلين)) (١)

يعنى حديث باب دَ دې خبرې دليل دې چه كه يو سړې دَ شرعى عذر په وجه دَ جهاد يا بل نيك اعمالوپوره كولونه پاتې شي نو ده ته به دَ مجاهد اود خير عمل كونكى برابر ثواب وركولې شى.ځكه چه په مذكوره آيت كښې تصريح ده چه مجاهد ته په قاعد باندې فضيلت او ترجيح حاصله ده، بيا دَ مفضولينو نه دَ اولي الضرر استثناء اوكړېشوه. نو چه كله هغوى دَ مفضولينو نه مستثنى او جدا اوګرځولې شو نو هغوى په فاضلينو كښې شامل شو.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث باب ترجمة الباب سره مناسبت بالكل واضح او ښكاره دې، دَ تشريح محتاج نه دې. (٢) دَ آيت دَ نزول سبب بيانول وو، دَ حضرت ابن ام مكتوم رضي الله عنه دَ قصې نه هغه بيان كړېشو.

حل كلمات مشكله: ((ترض)) دا دَ ,,رض،، نه مشتق دې دَ څه معنى چه دَ ذره ذره كيدو ده. (٣)

((سرى)) دَ راء په تشديد او تخفيف سره، دا دواړه قسمه لوستلې شى دَ دې معنى دَ زائل كيدو او اخوا كيدو ده.(۴)

٣٢- بَاب: الصَّبْرِ عِنْدَ الْقِتَالِ

دَ ترجمة الباب مقصد: امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې دَ كفارو سره دَ قتال او جهاد په وخت كښې دَ صبر فضيلت بيانوى. (۵)

[٢٦٧٨] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ سَالِمٍ أَبِي النَّضْرِ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى (٦) كَتَبَ فَقَرَأْتُهُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا [ر: ٢٦٦٣]

تراجم رجال

١- عبدالله بن محمد: دا ابوجعفر عبدالله بن محمد بن عبدالله جُعفى بخارى مسند رحمه الله

---

١) (عمدة القارى (ج ١٤ص ١٣٠)-
٢) (عمدة القارى (ج ١٤ص ١٣٠)-
٣) (مختار الصحاح مادة ر،ض،ض-
٤) (عمدة القارى (ج ١٤ص ١٣٠) ومختار الصحاح مادة س،ر،ى، دَ احاديث باب دَ نورې تشريح دَپاره اوګورئ كشف البارى كتاب التفسير(ص ١۶٠) -
۵) (عمدة القارى (ج ١٤ص ١٣٠)-
۶) (قوله:أن عبدالله بن أبي اوفى رضى الله عنه: الحديث مر تخريجه آنفا-

دي. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب أمور الإيمان)) لاندې تيرشوى دى.(۱)

۲- معاويه بن عمرو: دا معاويه بن عمروبن مهلب الازدى الكوفى رحمه الله دې. (۲)

۳- ابواسحاق: دا ابواسحاق ابراهيم بن محمدبن الحارث الفزارى رحمه الله دې. (۳)

۴- موسى بن عقبه: داموسى بن عقبه اسدى مدنى رحمه الله دې. (۴)

۵- سالم ابوالنضر: دا ابوالنضر سالم بن ابى اميه مولى عمربن عبيدالله قرشى مدنى رحمه الله دې.(۵)

۶- عبدالله بن ابي اوفى رضي الله عنه: دا مشهور صحابى حضرت عبدالله بن ابى اوفى علقمه الاسلمى رضي الله عنه دې. (۶)

قوله: أن عبدالله بن أبي أوفى كتب فقرأته: إن رسول الله ﷺ قال: إذا القيتموهم فاصبروا: حضرت سالم ابوالنضر فرمائى چه عبدالله بن ابى اوفى رضي الله عنه خط اوليكلو نوما هغه اولوستلو(په هغې كښې وو چه) رسول الله ﷺ فرمائيلى چه كله ستاسو دښمن سره مقابله وى نو كلك اوسيږئى. دَ ((فاصبروا)) دوه مطلبه كيدیشى:

① كله چه دَ قتال اوجهاد اراده اوكړئى نودَ هغې په شروع كولو كښې صبر كوئى چه دَ نه روستوكيدوَ عزم مصمم اوكړئى او دَ استقامت څرګندونه اوكړئى.

② دَ جنګ شروع كولو نه پس كله چه ميدان دَ جنګ ښه ګرم شى نو كلك اوسيږئى او مه تښتئى. (۷)

صبردَ الله تعالى دَ بركت دَ حصول ذريعه ده: علامه مهلب رحمه الله فرمائى چه صبر دَ ټولوكارونو دَ خير سبب او ذريعه ده. الله تعالى په قرآن كريم كښې دا حقيقت په ډيرو ځايونوكښې بيان كړيدې او خپل عزتمند حبيب ﷺ ته ئې هم دَ دې خبرې حكم وركړيدې چه كله دښمن سره مقابله وى نو صبر مه پريږدئى، دَ دې دَ پاره چه دَ الله تعالى بركتونه حاصل شى او خلق دَ سستئى او نارستئى عادت نشى. ځكه چه دا دواړه صفتونه په دنياكښې دَ حرمان او تاوان سبب دى اودَ صبر اختيارول دَ دنيا او آخرت دَ مطلوب امورو دَ حصول ضمانت دې.(۸)

---

۱) (كشف البارى (ج۱ص۶۵۷)-
۲) (دَ دوى دَ حالاتودَ پاره اوګورئ كتاب الأذان باب إقبال الإمام على الناس عند تسوية الصفوف-
۳) (دَ دوى دَ حالاتودَ پاره اوګورئ كتاب الجمعة باب القائلة بعدالجمعة-
٤) (دَ دوى دَ حالاتودَ پاره اوګورئ كتاب الوضوء باب إسباغ الوضوء-
۵) (دَ دوى دَ حالاتودَ پاره اوګورئ كتاب الوضوء باب المسح على الخفين-
۶) (دَ دوى دَ حالاتودَ پاره اوګورئ كتاب الزكاة. باب الصلاة الإمام. ودعائه لصاحب الصدقة....-
۷) (عمدة القارى (ج١٤ص١٣٠) وشرح الكرمانى (ج١٢ص١٢٧)-
۸) (شرح ابن بطال (ج۵ص۴۵)-

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت ترجمة الباب سره د حديث مطابقت د رسول الله ﷺ په دې قول كښې دې:

((فاصبروا)) چه كله كافرانو سره مقابله وى نو صبر او استقامت اختيار كړئ. (۱)

۳۳-بَاب: التَّحْرِيضِ عَلَى الْقِتَالِ

وَقَوْلِهِ تَعَالَى حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ [الأنفال: ٦٥]

ترجمة الباب مقصد: امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې دا ښائى چه خلقو ته د جهاد ترغيب وركول پكار دى، راوپارول ئې پكار دى او د دې دپاره خلق تيارول پكار دى. (۲)

دآيت مبارك د ذكر كولو وجه: د مذكوره آيت په ذريعه امام بخارى رحمه الله لكه څنګه چه د هغه عادت دې په ترجمة الباب باندې استشهاد پيش کړيدې چه دا تحريض او ترغيب على القتال د قرآن كريم نه هم ثابت دې.

امام شعبى رحمه الله نه روايت دې چه كله دامذكوره آيت نازل شوچه اې نبى! مسلمانانو ته د جهاد او قتال ترغيب وركړه نو نبى كريم ﷺ به مجاهدين د جهاد د پاره او د دښمن په مقابله كښې د بهادرئ او استقامت كولو د پاره راوپارول. په غزوه بدركښې چه كله د مكې مشركانو خپل لښكر اوسامانونو سره د نبى كريم ﷺ او صحابه كرام رضى الله عنهم د مقابلې د پاره راغلل نو نبى كريم ﷺ صحابه كراموته ترغيب وركولو سره ارشاد اوفرمائيلو: ((قوموا إلى جنة عرضها السموات والأرض)) (۳)

[۲۶۷۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا (۴) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْخَنْدَقِ فَإِذَا الْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنْصَارُ يَحْفِرُونَ فِي غَدَاةٍ بَارِدَةٍ فَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ عَبِيدٌ يَعْمَلُونَ ذَلِكَ لَهُمْ فَلَمَّا رَأَى مَا بِهِمْ مِنَ النَّصَبِ وَالْجُوعِ قَالَ اللَّهُمَّ إِنَّ الْعَيْشَ عَيْشُ الْآخِرَةْ فَاغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَةْ

---

۱) (عمدة القارى (ج ۱٤ص ۱۳۰)-

۲) (عمدة القارى (۱٤ص ۱۳۰)-

۳) (حواله بالا-

٤) (قوله: سمعت أنسا رضى الله عنه: الحديث أخرجه البخارى أيضاً (ج۱ص۳۹۸) كتاب الجهاد باب حفر الخندق رقم (۲۸۲۵) (ج۱ص٤۱۵) باب البيعة فى الحرب على أن لايفروا رقم (۲۹۶۱) و(ج۱ص۵۳۵) كتاب مناقب الأنصار باب دعاء النبى صلى الله عليه وسلم: أصلح الأنصار والمهاجرة رقم (۳۸۹۵-۳۸۹۶) و(ج۱ص۵۸۸) كتاب المغازى باب غزوة الخندق وهى الأحزاب رقم ٤۰۹۹-٤۱۰۰) و(ج۲ص۹۳۹) كتاب الرقاق باب الصحة والفراغ ولاعيش إلا عيش الآخرة رقم (٦٤۱۳) و (ج۲ص۱۰٦۹) كتاب الأحكام باب كيف يبايع الإمام الناس؟ (۷۲۰۱) ومسلم كتاب الجهاد باب غزوة الأحزاب وهى الخندق رقم (٤٦۷۳-٤٦۷٤) والترمذى كتاب المناقب باب مناقب جابر بن عبدالله رضى الله عنه رقم (۳۸۵۷)-

فقالوا مجيبين له: نحن الذين بايعوا محمدا على الجهاد ما بقينا أبدا

[٢٦٨٠، ٢٨٠١، ٣٥٨٤، ٣٨٧٣، ٣٨٧٤، ٦٠٥٠، ٦٧٧٥]

تراجم رجال

١- عبدالله بن محمد: دا ابوجعفرعبدالله بن محمدبن عبدالله جُعفي بخاری مسندی رحمه الله دي. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب أمور الإيمان)) لاندې تيرشوی. (١)

٢- معاويه بن عمرو: دا معاويه بن عمرو بن مهلب الازدی الکوفی رحمه الله دې. (٢)

٣- ابواسحاق: دا ابواسحاق ابراهيم بن محمدبن الحارث الفزاری رحمه الله دې. (٣)

٤- حميد: داابوعبيدحميد بن ابی حميدالطويل الخزاعی البصری رحمه الله دې. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهولايشعر))لاندې تيرشوی دی. (۴)

٥- انس بن مالك: دا دَ رسول الله ﷺ مشهور صحابی حضرت انس بن مالك رضی الله عنه دې. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه)) لاندې تيرشوی دی. (٥)

قوله: يقول: خرج رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى الخندق: حضرت حميد الطويل رحمه الله فرمائی چه ما حضرت انس رضی الله عنه په دې ويناکولو سره چه نبی کريم ﷺ دَ خندق طرف ته اووتلو واوريدو. په حديث کښې بيان کړيشوې واقعه دَ غزوه احزاب (خندق) ده. په دې غزوه کښې نبی کريم ﷺ دَ حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه مشوره قبوله کړه او صحابه کرامو ته ئې دَ مدينې نه ګير چاپيره خندق کنستلو حکم ورکړې وو چه دَ مدينې منورې حفاظت اوکړيشی. امام طبری او امام سهيلی رحمه الله فرمائی دَ ټولونه اول دَ جنګ دپاره خندق کنستونکې منوجهر بن ايرج بن افريدون دې چه فارسی النسل وو اودا دَ موسی عليه السلام دَ زمانې واقعه ده. (۶)

قوله: فإذالمهاجرون والأنصار يحفرون في غداة باردة، فلم يكن لهم عبيد يعملون ذلك لهم: نوحضور ﷺ اوکتل چه صحابه کرام دَ سختې يخنئی په سحر باندې خندق کنی. ځکه چه هغوی سره داسې غلامان نه ووچه دَ هغوی دَ پاره ئې کارکولو.

---

١) (كشف البارى (ج١ص٦٥٧)-
٢) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګورئ كتاب الأذان باب الإمام على الناس عند نسوية الصفوف-
٣) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګورئ كتاب الجمعة باب القائلة بعد الجمعة-
٤) (كشف البارى(ج٢ص٥٧١)-
٥) (كشف البارى (ج٢ص٤)-
۶) (عمدةالقارى (ج١٤ص١٣١) دَ مذکوره غزوه دَ تفصيل دَ پاره اوګورئ كشف البارى كتاب المغازى (ص٢٧٥)-

كلمه "إذا" دلته مفاجاتيه د ه. فلما رأى مابهم من النصب والجوع، قال:

اللهم إن العيش عيش الآخرة فاغفر الأنصار والمهاجرة

فقالوا مجيبين له:

نحن الذين بايعوا محمدا على الجهاد مابقينا أبدا

كله چه حضور دَ دوى مشقت او ولږه اوكتله نو وئى فرمائيل اي الله! اصل ژوند خو دَ آخرت ژوندون دې ته دَ انصارو او مهاجرينو مغفرت اوكړې.
صحابه كرامو به دَ دې جواب كښې وئيل:
مونږ هغه خلق يو چه مونږ دَ محمد ﷺ نه بيعت كړيدې چه تركومې مونږ باقى او ژوندى يو هميشه به جهاد كوو.

داپورته ذكر شوى اشعار په رجزيه اندازكښې دَ لوستلوحكمت: علامه انور شاه كشمير رحمه الله فرمائى چه صحابه كرامو رضوان الله عليهم اجمعين به دَ خندق كنستلو په وخت كښې دا پورته ذكر شوى شعر ((نحن الذين....)) به دَ رجز په انداز كښې لوستلو. دَ دې وجه دا وه چه په مونږ كله هم يو سړې يو عمل كوى نو په خله ځان سره ګونګرارې كوى. دَ دې دپاره چه ستړې والې او بيزارى شروع نشى. ځكه چه انسان كله څه دَ مشقت والا كار كوى نو په دې وخت كښې ګونګرارې كوى، دَ ده دا ګونګرارې دَ هغه كار مشقت غير محسوس جوړوى. (۱)

فائده: دَ حديث باب نه دا فائده ولاړيږى چه دَ خلقو پټ صلاحيتونه او جنګى جذبات رابنكاره كولودَپاره اشعار او رجز وغيره استعمالول پكار دى. (۲)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره دَ حديث مناسبت ((اللهم إن العيش عيش الآخرة)) كښې دې چه دَ دې په ذريعه صحابه چه په كوم كاركښې مشغول وو(يعنى حفر خندق) په هغې ئې نور هم راؤچت كړى ځكه چه هغه هم دَ جهاد يوه حصه ده. (۳)

۳۴-بَاب: حَفْرِ الْخَنْدَقِ

دَ ترجمة الباب مقصد: دَ علامه عينى رحمه الله وينا ده چه امام بخارى رحمه الله دَ دې ترجمة الباب لاندې دا بيانوى چه صحابه كرامو رضي الله عنهم دَ مدينې نه ګيرچاپيره خندق كنستې وو دَ دې دَ پاره چه دَ دې حفاظت او دفاع اوكړيشى. (۴)

نو بنكاره خبره ده چه دا دَ اهل فارس طريقه وه او حضرت سلمان فارسى رضي الله عنه دَ دې مشوره وركړې وه،نو دَدې دَ پاره چه كله ضرورت پيښ شى نو خندق كنستلې شى اودَ نورو قومونو

۱) (فيض البارى (ج۳ص۴۲۷)-
۲) (شرح ابن بطال (ج۵ص۴۶)-
۳) (عمدة القارى (ج۱٤ص۱۳۱)-
٤) (عمدة القارى (ج۱٤ص۱۳۲)-

دَ جنګ طریقې نه فائده حاصلولو کښې هیڅ بدیت نشته.

[۲۶۸۰] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ عَنْ أَنَسٍ (۱) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ جَعَلَ الْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنْصَارُ يَحْفِرُونَ الْخَنْدَقَ حَوْلَ الْمَدِينَةِ وَيَنْقُلُونَ التُّرَابَ عَلَى مُتُونِهِمْ وَيَقُولُونَ:

نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدَا عَلَى الْإِسْلَامِ مَا بَقِينَا أَبَدَا

وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُجِيبُهُمْ وَيَقُولُ اللَّهُمَّ إِنَّهُ لَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُ الْآخِرَهْ فَبَارِكْ فِي الْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَهْ [ر: ۲۶۷۹]

تراجم رجال

۱- <u>ابومعمر:</u> دا عبدالله بن عمرو بن ابی الحجاج منقری بصری رحمه الله دې او دَ مقعد په لقب باندې مشهور دې. دَ ده حالات ((کتاب العلم باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: اللهم علمه الکتاب)) لاندې تیرشوی دی.(۲)

۲- <u>عبدالوارث:</u> دا عبدالوارث بن سعیدبن ذکوان تمیمی عنبری بصری رحمه الله دې. دَ ده حالات هم په ((کتاب العلم)) کښې دَ مذکوره باب لاندې تیرشو. (۳)

۳- <u>عبدالعزیز:</u> دا عبدالعزیز بن صهیب بنانی بصری رحمه الله دې. دَ ده مختصر حالات ((کتاب الإیمان باب حب الرسول من الإیمان)) لاندې تیرشوی دی. (۴)

۴- <u>انس:</u> دا دَ رسول الله ﷺ صحابی حضرت انس بن مالک رضی الله عنه دې. دَ ده حالات ((کتاب الإیمان باب من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه)) لاندې تیرشوی دی.(۵)

قوله: <u>جعل المهاجرون والأنصار يحفرون الخندق حول المدينة، وينقلون التراب على متونهم:</u> حضرت انس رضی الله عنه نه مروی دی هغوی فرمائی مهاجرینو او انصارو دَ مدینې منورې نه ګیر چاپیره خندق کنستلو او په خپلو شاګانوئې خاوره اوړله.

حول المدينة' نه څه مراد دې؟: دلته دَ باب په روایت کښې ((حول المدینة)) دَ الفاظو نه په ظاهره باندې متبادر داکیږی چه خندق دَ مدینې دَ څلورو واړو طرفونو نه کنستلې ود

---

۱) (قوله: عن أنس رضی الله عنه: الحدیث مر تخریجه فی الباب السابق-
۲) (کشف الباری (ج۳ص۳۵۶)-
۳) (کشف الباری (ج۳ص۳۵۸)-
۴) (کشف الباری (ج۲ص۹)-
۵) (کشف الباری (ج۲ص۴)-

حالانكه حقيقت دَدې نه برعكس دي. علامه گنگوهي رحمه الله فرمائي چه ((حول المدينة)) نه دَ دې يوه حصه مراد ده، ځكه چه خندق دَ مديني منورې نه گيرچاپيره نه وو تيار كړې شوې بلكه دَ اسلام دَ لښكر نه چاپيره تيار كړې شوې وو. او لښكرد مديني منورې نه درې ميله فاصله باندې وو ليكن دا فاصله كمه ده په دې وجه دَ حديث راوى قرب په خيال كښې ساتلو سره دا ((حول المدينة)) سره تعبير كړې دې.(۱)

شيخ الحديث محمدزكريا كاندهلوى رحمه الله دَ حضرت گنگوهي رحمه الله دَ ارشاد نوره تشريح كولوسره فرمائي چه دَحضرت گنگوهي رحمه الله قول واضح او ظاهر دې، ځكه چه خندق دَ اسلام دَ لښكر او دَ كفارو دَ لښكر په مينځ كښې تيار كړې شوې وو. صاحب الخميس دَ خلاصة الوفاء په حواله سره ليكي:

((كان أحد جانبي المدينة عورة، وسائر جوانبها مشتبكة بالبنيان والنخيل، لايتمكن العدو منها، فاختار ذلك الجانب المكشوف للخندق، وجعل معسكره تحت جبل سلع، والخندق بينه وبين المشركين))

يعنى دَمديني منورې يوه حصه خالى اوكولاؤ وه، دَدې نه علاوه باقي ټولو طرفونوته آباداني او دَ كهجورو باغونه وو، دَ هغه ځائ نه دَ دښمن حمله او غلبه حاصلول ممكن نه وو، په دې وجه نبي كريم صلى الله عليه وسلم دَ خندق دَ تيارى دَ پاره دَ كولاؤ حصې انتخاب اوكړو او خپل لښكرئې دَ جبل سلع په لمن كښې اودرولو اوخندق دَ هغوى او دَ مشركانو ترمينځه وو.(۲)

((على متونهم)) دا دَ متن جمع ده، دَ دې معنى شا ده، اودَ زمكې سخت او اوچتې حصې ته هم متن وائي. (۳)

ويقولون: نحن الذين بايعوا محمداً على الإسلام ما بقينا أبداً

او هغوى به وئيل هم موږ يو هغه خلق چا چه دَ محمد صلى الله عليه وسلم نه بيعت كړې دې چه تركومې موږ ژوندى او باقي يو مدام به په اسلام باندې كلك يو.

دلته دَ باب په روايت كښې ((على الإسلام)) وارد شوې دې او دَ تيرشوى باب په روايت كښې ((على الجهاد)) وو. علامه عيني رحمه الله فرمائي چه موزون ((على الجهاد)) دې او ((على الإسلام)) سره په شعرى وزن كښې خرابى راځي. (۴)

قوله: <u>والنبي صلى الله عليه وسلم يجيبهم ويقول:</u>

اللهم إنه لاخير إلا خير الآخرة فبارك في الأنصار والمهاجرة

اونبي كريم صلى الله عليه وسلم هغوى ته جواب وركولو سره فرمائيل: اې الله خيګړه خو هم دَ آخرت خيګړه ده، ته په انصارو او مهاجرينو كښې بركت واچوه.

---

۱) (لامع الدرارى (ج۷ص۲۲۲)-
۲) (تعليقات لامع الدرارى(ج۷ص۲۲۲)-
۳) (عمدة القارى (ج۱٤ص۱۳۲)-
٤) (عمدة القارى (ج۱٤ص۱۳۲)-.

يواشكال اوهغې جواب دلته يو وړوكې غوندې اشكال پيدا كيږي چه په سابقه باب كښې خوداوو چه جواب وركونكي خو صحابه كرام وو اودلته دا دي چه نبي كريم ﷺ جواب وركوي؟ نو دې جواب دا دې چه دا اختلاف په اوقاتوباندې محمول دې يعني كله به شروع صحابه كرامو كوله او نبي كريم ﷺ به جواب وركولو او كله به شروع حضور ﷺ كوله او صحابه كرامو به جواب وركولو.(۱)

[۲۶۸۱-۲۶۸۲] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ (۲) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْقُلُ وَيَقُولُ لَوْلَا أَنْتَ مَا اهْتَدَيْنَا

تراجم رجال

۱- ابوالوليد: دا ابوالوليد هشام بن عبدالملك طيالسي باهلي بصري رحمه الله دې. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب علامة الإيمان حب الأنصار)) لاندې نقل شوي دي. (۳)

۲- شعبه: دا اميرالمؤمنين في الحديث شعبه بن الحجاج عتكي بصري رحمه الله دې.دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده)) لاندې نقل شوي دي. (۴)

۳- ابواسحاق: دا ابواسحاق عمرو بن عبدالله بن عبيد سبيعي كوفي رحمه الله دې.دَ دوي حالات هم ((كتاب الإيمان باب الصلاة من الإيمان)) لاندې راغلي دي.(۵)

۴- البراء: دا مشهور صحابي حضرت براء بن عازب رضي الله عنه دې. دَ دوي حالات هم دَ دغه پورتني مذكوره باب لاندې تيرشوي دي.

قوله: كان النبي صلى الله عليه وسلم ينقل ويقول: لولاأنت ما اهتدينا:
حضرت براء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دې چه نبي كريم ﷺ به خاوره اوړله او وئيل به ئې (يا الله) كه ستا رحمت نه وې نو مونږ به هدايت نه وې بياموندې.

---

۱) (حواله بالا وشرح الكرماني (ج۱۲ص۱۲۸)-
۲) (قوله: سمعت البراء رضي الله عنه: الحديث أخرجه البخاري أيضًا (ج۱ص۳۹۸) كتاب الهجاد باب حفر الخندق رقم (۲۸۳۷)و (ج۱ص۴۲۵) باب الرجز في الحرب ورفع الصوت في حفرالخندق رقم (۳۰۳۴) و (ج۲ص۵۸۹) كتاب المغازي باب غزوة الخندق وهي الأحزاب رقم (۴۱۰۴-۴۱۰۶) و(ج۲ص۹۷۹) كتاب القدر باب ﴿وماكنالنهتدي لولاأن هدانالله﴾ رقم (۶۶۲۰) و(ج۲ص۱۰۷۴) كتاب التمني باب قول الرجل: لولاالله مااهتدينا رقم (۷۲۳۶) ومسلم كتاب الجهاد باب غزوةالأحزاب وهي الخندق رقم (۴۶۷۰)-
۳) (كشف الباري (ج۲ص۳۸)-
۴) (كشف الباري (ج۱ص۶۷۸)-
۵) (كشف الباري (ج۲ص۲۷۰)-

[۲٦٨٢] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ (۱) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْأَحْزَابِ يَنْقُلُ التُّرَابَ وَقَدْ وَارَى التُّرَابُ بَيَاضَ بَطْنِهِ وَهُوَ يَقُولُ لَوْلَا أَنْتَ مَا اهْتَدَيْنَا وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا فَأَنْزِلَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا إِنَّ الْأُلَى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا إِذَا أَرَادُوا فِتْنَةً أَبَيْنَا [۲۸۳۷، ۳۸۸۰، ۳۸۷۸، ٦۲۳٦، ٦۸۰٩]

تراجم رجال

۱- حفص بن عمر: دا حفص بن عمربن حارث رحمه الله دي. (۲) دَ دوی نه علاوه دَ نورو رجالو حوالې اوس په تیرشوی حدیث کښې نقل کړیشوی دی.

قوله: قال: رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم الأحزاب ينقل التراب، وقد وارى التراب بياض بطنه: دَ حضرت براء بن عازب نه مروي دی چه ما رسول الله ﷺ په غزوه احزاب اوکتلو چه هغوی خاوره اوړله تردې چه هغې دَ حضور ﷺ دَ خیټې مبارکې سپین والې پټ کړې وو.

علامه مهلب رحمه الله فرمائی دَ حدیث نه دا خبره معلومه شوه چه امام المسلمین له دَ مسلمانانو دَ حفاظت دَ پاره که ځېل حرمت او وقار هم ختمول وی نو پرواه نه دی کول پکار. دَ دې فائده به دا وی چه عام مسلمانان به هم دَهغه اقتداء کوی.(۳)

وهويقول: لولا أنت ما اهتدينا ولا تصدقنا ولا صلينا

فأنزل السكينة علينا وثبت الأقدام إن لاقينا

إن الأولى قد بغوا علينا إذا أرادوا فتنة أبينا

حضور ﷺ دا اشعار لوستل:

① که دَ الله تعالی رحمت نه وو نو مونږ به هدایت نه وو موندلې او نه به مونږ صدقه ورکوله او نه به مونږ مونځ کولو.

② یا الله په مونږباندې سکینه نازله کړې او دَ جنګ په وخت کښې مونږ له ثابت قدمی راکړې.

③ دې خلقو په مونږ باندې ظلم اوکړوکله چه دا خلق مونږ په فتنه کښې دَ اچولو اراده کوی نو مونږ به انکار کوو.

دا اشعار دَ حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه دی لکه چه په کتاب المغازی په روایت کښې دَدې صراحت دې. (۴)

---

۱) (قوله: عن البراء رضى الله عنه: الحديث مرتخريجه آنفا فى الحديث السابق-

۲) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب التيمن فى الوضوء والغسل-

۳) (شرح ابن بطال(ج۵ص۴۷)-

٤) (انظر صحيح البخارى كتاب المغازى باب غزوة الخندق وهى الأحزاب رقم (٤١٠٦)-

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت ترجمة الباب سره د دریوارو احادیثو مناسبت او مطابقت واضح دې، په اولنی او دریم کښې د حفرخندق اود هغې د خاورې اوړلو ذکر دې او دوئم حدیث د دریم اختصار دې او په دې کښې هم د خاورې منتقل کولو ذکر دې، چه د خندق د کنستلو لازمی حصه ده.

۳۵-بَاب: مَنْ حَبَسَهُ الْعُذْرُ عَنْ الْغَزْوِ

دَ ترجمة الباب مقصد امام بخاری رحمه الله دَ دې ترجمة الباب لاندې دا ذکر کول غواړی که یو سړې معذوره دې او دَ هغه نیت صحیح او صادق دې خو هغه دَ دې عذر په وجه په جهاد کښې شرکت نشی کولې نو دې به نشی ملامت کولې اوده ته به د صادق نیت په وجه دَ غازی اجر او ثواب ملاویږی. (۱)

دَعذر تعریف: دَ بخاری شریف شارحینو دَ عذر تعریف دا لیکلې دې:

((هوالوصف الطارئ علی المکلف المناسب للتسهیل علیه)) (۲)

یعنی عذرمکلف ته پیښیدونکې هغه صف دې دَ څه په وجه چه په شرعی احکامو کښې هغه سره دَ آسانتیا معامله کولې شی.

[۲۶۸۳-۲۶۸۴] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ أَنَّ أَنَسًا (۳) حَدَّثَهُمْ قَالَ رَجَعْنَا مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

تراجم رجال

۱- احمد بن یونس: دا احمد بن عبدالله بن یونس تمیمی یربوعی کوفی رحمه الله دې. دَ ده حالات ((کتاب الإیمان باب من قال: إن الإیمان هوالعمل)) لاندې تیرشوی. (۴)

۲-زهیر: دا زهیر بن معاویه بن حُدیج بن زحیل بن زهیر رحمه الله دې. دَ ده حالات ((کتاب الإیمان باب الصلاة من الإیمان)) په ذیل کښې بیان شوی.(۵)

۳- حمید: داابوعبیده حمیدبن ابی حمید الطویل الخزاعی البصری رحمه الله دې. دَ دوی حالات هم ((کتاب الإیمان باب خوف المؤمن من أن یحبط عمله وهولایشعر)) لاندې تیرشو.(۶)

---

۱) (عمدة القاری (۱٤ص۱۳۳)-
۲) (حواله بالاو شرح الکرمانی (ج۱۲ص ۱۲۹)-
۳) (قوله: أن أنساً حدثهم: الحدیث أخرجه البخاری أیضًا (ج۱ص۳۹۸) کتاب الجهاد باب من حبسه العذر عن الغزو رقم (۲۸۳۹) و (ج۲ص۶۳۷) کتاب المغازی باب بعد باب نزول النبی صلی الله علیه وسلم الحجر رقم (٤٤۲۳) وأبوداود کتاب الجهاد باب الرخصة فی القعود من العذر رقم ۲۵۰۸)-
٤) (کشف الباری (ج۲ص۱۵۹)-
۵) (کشف الباری (ج۲ص۳۶۷)-
۶) (کشف الباری (ج۲ص۵۷۱)-

۴- انس: دامشهور صحابى حضرت انس بن مالك ﷺ دې. دَ دهٔ حالات ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه)) په ذيل كښې راغلى دى. (۱)

قوله: قال: رجعنا من غزوة تبوك مع النبى صلى الله عليه وسلم: حضرت انس ﷺ فرمائى چه مونږ د غزوه تبوك نه نبى كريم ﷺ سره واپس راغلو. د صحيح بخارى په بعضو نسخوكښې دلته دَ سند تحويل دې او په نورو نسخو كښې تحويل دَ سند نشته.(۲)

[۲۶۸۳] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ هُوَابْنُ زَيْدٍ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۳) أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي غَزَاةٍ فَقَالَ إِنَّ أَقْوَامًا بِالْمَدِينَةِ خَلْفَنَا مَا سَلَكْنَا شِعْبًا وَلَا وَادِيًا إِلَّا وَهُمْ مَعَنَا فِيهِ حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ

وَقَالَ مُوسَى حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ الْأَوَّلُ أَصَحُّ [۳۶۶۱]

تراجم رجال

۱- سليمان بن حرب: دا ابوايوب سليمان بن حرب بن بجيل ازدى بصرى ﷫ دې. دَ دوى حالات ((كتاب الإيمان باب من كره أن يعود فى الكفر...)) لاندې تيرشوى دى.(۴)

۲- حماد: دا ابواسماعيل حماد بن زيدبن درهم ازدى بصرى ﷫ دې. دَ دوى حالات هم ((كتاب الإيمان باب ﴿وإن طائفتان من المؤمنين﴾ په ذيل كښې تيرشوى. (۵)

۳- حميد ۴- انس: دَ دې دواړو حضراتو دَ پاره وړانديني سند اوګورئى.

قوله: أن النبى صلى الله عليه وسلم كان فى غزاة، فقال: أن أقواما بالمدينة خلفنا ما سلكنا شعبا ولا واديا إلا وهم معنا فيه: حضرت انس ﷺ نه روايت دې چه نبى عليه السلام په يوغزوه كښې وو نو وئى فرمائيل چه څه خلق زمونږ نه روستو په مدينه منوره كښې پاتې شوهغه داسې دى لكه چه مونږ په كومه دره يا كوم ميدان كښې ځو هغوى به خامخا زمونږ سره وى.

دَ ((غزاة)) نه مراد غزوه تبوك ده لكه چه دَ زهير په روايت كښې دى. (۶)

---

۱) (كشف البارى (ج۲ص؟)-
۲) (شرح القسطلانى (ج۵ص۶۳) وعمدة القارى (ج۱٤ص۱۳۳)-
۳) (قوله: أنس رضى الله عنه: الحديث مر تخريجه فى الحديث السابق من الباب-
٤) (كشف البارى (۲ص۱۰۵)-
۵) (حواله بالا (ص۲۱۹)-
۶) (شرح القسطلانى (ج۵ص۶۳)-

((خلفنا)) نې په دوه قسمه ضبط کړې دي دَ لام په سکون يا لام په تشديد او فاء په سکون سره. په اولنی صورت کښې به دَ دې معنی ((وراءنا)) وی يعنې زمونږ شاته. په دوئم صورت کښې دا دَ باب تفعيل نه دَ جمع متکلم ماضی صيغه وی اود دې معنی مونږ روستو پريخی دی، به وی.(١)

قوله: إلا وهم معنا فيه: جملې هم دوه مطلبه دی:

① کوم چه مونږ په ترجمه حديث کښې اختيارکړيدې چه مونږ خلق دَ جهاد دَ پاره چرته هم لاړشو نودا روستو پاتې شوی به خامخا مونږسره په جهاد. کښې شريکيدل که چرې دَ هغوی څه عذر يا مجبوری منع کونکې نه وې.

② دوی مونږ سره دَ جهاد په ثواب کښې شريك دی، سره دَ دې چه دا خلق دَ عذر دَ وجه په جهاد کښې خو شريك نه شول خو که مونږ کومې درې يا ميدان ته لاړو هغوی ته به ثواب خامخا ملاويږی ځکه چه دې حضراتو هم دَ جهاد دَ شرکت نيت لرلو. دَ دې معنې تائيد دَ اسماعيلی دَ طريق نه کيږی دَ کوم په الفاظوکښې چه دَ نيت صراحت دې.

((إلا وهم معكم فيه بالنية)) دغه شان ابن حبان (٢) ابوعوانه او امام مسلم ﷺ (٣) په روايت کښې ((إلا كانوا معكم)) په ځائ ((إلا شركوكم في الأجر)) دې. دينه هم دَ دوئمې معنې تائيد کيږی چه يوځائيوالې او شرکت په اجرکښې مراد دې نه چه يوځائيوالې په جهاد او قتال کښې.(۴)

قوله: حبسهم العذر: عذر هغوی بند کړی.

عذرنه مراد دلته مرض اوسفر باندې طاقت نه لرل دی.مسلم شريف (۵) روايت کښې عذر په ځائ ((حبسهم العذر)) راغلې. نو هغه په غالب او اکثر حالاتو باندې محمول دې. دا مطلب نه دې چه عذر صرف هم په مرض او بيمارئی کښې منحصر دې. (۶)

قوله: وقال موسى: حدثنا حماد عن حميد عن موسى بن أنس عن أبيه قال النبي صلى الله عليه وسلم:

دَ تعليق تخريج: دا تعليق امام ابوداود (٧) هم په دې سند سره خپل سنن کښې موصولاً نقل کړيدې او اسماعيلی هم دَ دې تخريج

---

١) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٣٣) وفتح الباری)ج۶ص٤٧)-
٢) (الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان (ج٨ص١١٢) كتاب السير ذكر تفضل الله على القاعد المعذور ..... رقم (٤٧١١)-
٣) (الصحيح لمسلم كتاب الإمارة باب ثواب من حبسه العذر عن الغزو رقم (٤٩٣٢)-
٤) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٣٣) وفتح الباری (ج۶ص٤٧)-
٥) (الصحيح لمسلم كتاب الإمارة باب ثواب من حبسه العذر عن الغزو رقم (٤٩٣٢)-
۶) (شرح القسطلانی (ج۵ص۶۳)-
٧) (سنن أبي داود كتاب الجهاد باب الرخصة فی القعود من العذر رقم (٢٥٠٨)-

((اخبرنا ابويعلى حدثنا ابوخيثمة حدثنا عفان حدثنا حماد بن سلمة أخبرنا حميد عن موسى بن أنس عن أبيه))
طريق نه كړيدي.(۱)

قوله: (قال أبوعبدالله: الأول أصح: امام بخاري رحمه الله فرمائي رومبي سند زما په نزد زيات صحيح دي.

دَ مذكوره تعليق مقصد: امام بخاري رحمه الله دلته دوه سندونه ذكر كړي دي اوس دا فرمائي اولني سند زما په نزد ډير صحيح دي په نسبت دَ دوئم،اولنى نه مراد هغه سند دي كوم كښي چه موسى بن انس نشته.

او دَ صحت وجه دا ده لكه څنګه چه تاسو ګورئى چه دَ موسى بن انس كوم روايت دي هغه معنعن دي او رومبي سند دَ تحديث الفاظوسره دي لكه چه دَ زهير په روايت كښي دي.

په دي معامله كښي اسماعيلى دَ حضرت امام مخالفت اوكړو او وئى فرمائيل حماد دَ حميد دَ احاديثو عالم دي او په دي سلسله كښي هغه ته په نورو ترجيح حاصله ده.

دا هم كيديشى چه حميد دا روايت دوه ځل اوريدلي وى يو ځل دَ حضرت انس رضي الله عنه نه او په دوئم ځل دَ هغه دَ ځوئ موسى نه، په دي وجه دلته داسي څه خبره نشته چه اولنى ته په دوئم باندي ترجيح وركړيشى.(۲)

فائده: دلته لكه څنګه چه تاسوګورئى امام صاحب حديث باب په دوو طرقوسره نقل كړي دي. اولنئى طريق دَ احمد بن يونس دي او دوئم دَ سليمان بن حرب.

نو امام بخارى رحمه الله دَ زهير روايت دَ حماد بن زيد روايت سره مقرون كړيدي. اودَ امام صاحب غرض دَ دي دوو فائدو طرف ته اشاره كول دى. هغه دا چه دَ زهير په روايت كښي دَ غزوي تصريح ده او دَ حماد په روايت كښي دَ غزوي تصريح نشته.

دوئم دا چه دَ زهير په روايت كښي دَ حضرت انس رضي الله عنه طرف ته دَ تحديث صراحت دي او دَ حماد په روايت كښي عنعنه ده.(۳)

يوه بله فائده: دَ حديث باب نه دا معلومه شوه كه يو سړي دَ څه نيك عمل نيت ساتلو باوجود دَ څه شرعى عذر په وجه دَ هغي پوره كولو نه پاتي شى نو بيا به هم ده ته دَ عمل كونكى اجر وركولي شى. لكه چه حضور صلى الله عليه وسلم نه مروى دى كه يو سړي دَ شپي مونځ يعنى تهجد نه پاتي شى او په هغه دَ خوب غلبه شوي وى نو بيا به هم هغه ته دَ تهجد ثواب ملاويږى اودَ هغه خوب به دَ هغه دَ پاره صدقه شميرلي كيږى. (۴)

ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث باب ترجمة الباب سره مطابقت دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارك ((حبسهم العذر)) كښي دي.(۵)

---

۱) (عمدة القارى (ج ١٤ص١٣٣) وتغليق التعليق (ج٣ص ٤٣٤)-
۲) (فتح البارى (ج۶ص٤٧) وعمدة القارى (ج ١٤ص١٣٣)-
۳) (حواله بالا-
٤) (عمدة القارى (ج ١٤ص١٣٣) وشرح ابن بطال (ج٥ص٤٨)-
۵) (عمدة القارى(ج ١٤ص١٣٣)-

٣٦- بَاب: فَضْلِ الصَّوْمِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

دَترجمة الباب مقصد: امام بخارى رحمه الله دَ دې ترجمې لاندې په جهاد كښې دَ روژې ساتلو فضيلت بيانول غواړى. (١)

يوتعارض اودهغې جواب: دلته دا يو اشكال پيدا كيږى چه امام بخارى وړاندې باب قائم كړې وو ((باب من اختار الغزو على الصوم)) اوهلته ئى دَ روژې نه ساتلو اوليت بيان كړې وو ځكه چه په روژه سره دَ دښمن مقابله كولو كښې كمزورئى اندېښنه پيدا كيږى. اودَ دې ترجمة الباب لاندې مصنف رحمه الله په جهادكښې دَ روژې ساتلو فضيلت بيانوى؟ خودَ دې تعارض جواب واضح دې هغه دا چه وړاندې كوم باب قائم كړې وو هغه دَ هغه سړى په حق كښې دې چاته چه دَ ضعف او كمزورئى خطره وى بيا په هغه صورت كښې روژې نه دى ساتل پكار. خو كه يو سړې په جهاد كښې دې او دَ روژې ساتلو طاقت لرى او په دې پوهيږى چه زما په روژه ساتلو سره دَ جهاد په مشاغلو كښې څه خلل نه واقع كيږى ، كمزورې كيږى نه، نو بيا خو يقيناً دَ ده دَپاره لوئ اجر دې. ځكه چه په دې كښې اجتماع الفضيلتين ده چه هغه دوه فضيلتونه راجمع كوى، دَ روژې او دَ جهاد فضيلت.(٢)

[٢٦٨٥] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ وَسُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ أَنَّهُمَا سَمِعَا النُّعْمَانَ بْنَ أَبِي عَيَّاشٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ (٣) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بَعَّدَ اللَّهُ وَجْهَهُ عَنْ النَّارِ سَبْعِينَ خَرِيفًا

تراجم رجال

١- اسحاق بن نصر: دا اسحاق بن ابراهيم بن نصرالسعدى المنجدى رحمه الله دې.(۴)

٢- عبدالرزاق: داابوبكر عبدالرزاق بن همام بن نافع صنعانى يمانى رحمه الله دې. دَ دوى حالات ((كتاب الإيمان باب حسن إسلام المرء)) لاندې تير شوى.(۵)

---

١) (عمدة القارى (ج١٤ص١٣٣)-

٢) (فتح البارى (ج٦ ص٤٨) دَ دې مضمون تفصيلى تشريح كتاب الصيام باب الصوم فى السفر لاندې تيره شوې. فليراجع ثمه-

٣) (قوله: عن أبى سعيد الخذرى رضى الله عنه: الحديث أخرجه مسلم كتاب الصيام باب فضل الصيام فى سبيل الله لمن يطيقه رقم (٢٨١١) والترمذى غفى فضائل الجهاد باب ماجاء فى فضل الصوم فى سبيل الله رقم (١٦٢٣) والنسائى فى كتاب الصيام باب ثواب من صام يومًا فى سبيل الله عزوجل.... رقم (٢٢٣٧) وابن ماجه أبواب الصيام باب فى صيام يوم فى سبيل الله رقم ١٧١٧)-

٤) (دَ دوى دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ كتاب الغسل باب من اغتسل عريانا وحده فى الخلوة-

٥) (كشف البارى (ج٢ص٣٢١)-

۳-ابن جريج: دا عبدالملك بن عبدالعزيز بن جريج رحمه الله دې. (۱)

۴-يحيى بن سعيد: دامشهور تابعى محدث يحيى بن سعيد بن قيس انصارى رحمه الله دې. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب صوم رمضان احتسابا)) لاندې تيرشوى دى.(۲)

۵-سهيل بن ابى صالح: دا ابويزيد سهيل بن ذكوان السمان ابى صالح مولى جويرية بنت الاحمس المدنى رحمه الله دې. دَ ده نور دري رونړه هم محدثين وو. (۳) دې دَ خپل پلار ذكوان ، سعيد بن المسيب، حارث بن مخلد انصارى، ابوالحباب سعيد بن يسار، عبدالله بن دينار، عطاء بن يزيد الليثى، نعمان بن عياش. ابن المنكدر، ابوعبيدصاحب سليمان. عبيدالله بن مقسم، قعقاع بن حكيم، سمى مولى ابى بكر، اعمش او ربيعة الرائي رحمهم الله وغيره نه دَ حديث روايت كوى. دَ ده نه په روايت كونكوكښې ربيعة الرائي اعمش، يحيى بن سعيدالانصارى، موسى بن عقبه، يزيدبن الهاد، امام مالك، زهيربن معاويه، زهيربن محمد، سعيد بن عبدالرحمن الجمحى، وهيب، سليمان بن بلال، عبدالله بن ادريس، دراوردى. علاء بن المسيب، ابوعوانه، يعقوب بن عبدالرحمن اسكندرانى رحمهم الله وغيره شامل دى.(۴)

امام ترمذى رحمه الله فرمائى ((عن سفيان بن عيينه قال: كنا نعد سهل بن أبى صالح ثبتا فى الحديث))(۵)

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى ((ما أصلح حديثه))(۶)

ابوطالب رحمه الله فرمائى: ((سألت أحمد بن حنبل عن سهيل بن أبى صالح، ومحمد بن عمرو، فقال: قال يحيى بن سعيد: محمد أحبهما إلينا، وما صنع شيئا سهيل أثبت عندهم))(۷)

ماد امام احمد بن حنبل رحمه الله نه دَ سهيل بن ابى صالح او محمدبن عمرو باره كښې تپوس اوكړو نو هغه اوفرمائيل چه يحيى بن سعيد رحمه الله فرمائيلي ووچه په دې دواړو كښې مونږ ته زيات خوښ محمد دې. او يحيى بن سعيد هيڅ هم اونه ونيل. سهيلى دَ هغوى په نزد اثبت دې. احمد بن عبدالله عجلى رحمه الله فرمائى ((سهيل ثقة))(۸)

امام نسائى رحمه الله فرمائى ((ليس به بأس))(۹)

---

۱) (دَ دوى دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ كتاب الحيض باب غسل الحائض رأس زوجها وترجيله -
۲) (كشف البارى (ج۲ص۳۲۱)-
۳) (تهذيب الكمال (ج۱۲ص۲۲۳)-
۴) (شيوخ وتلامذه دَ پاره اوګورئ تهذيب الكمال (ج۱۲ص۲۲۳-۲۲۵)-
۵) (الجامع للترمذى أبواب الجمعة باب ما جاء فى الصلاة قبل الجمعة وبعدها رقم (۵۲۳)-
۶) (تهذيب الكمال (ج۱۲ص۲۲۶)-
۷) (حواله بالا-
۸) (تهذيب الكمال (ج۱۲ص۲۲۷)-
۹) (سير أعلام النبلاء (ج۵ص۴۵۹)-

ابن سعید رحمه الله فرمائی ((کان ثقة، کثیر الحدیث)) (۱)

ابن حبان رحمه الله هغه په (کتاب الثقات) کښې ذکر کړیدې او فرمائی ((کان یخطیء)) (۲)

ابن شاهین رحمه الله هم دَ ده ذکر په خپل کتاب (الثقات) کښې کړې او فرمائی ((من المتقنین، إنما توقی فی غلط حدیثه ممن یأخذ عنه)) دې دَ اصحاب ضبط او اتقان نه دې دَ هغه دَ غلط احادیثونه چه کوم پرهیز کړیشوې دې دَ هغې وجه هغه خلق دی دَ
چانه چه دې روایت اخذ کوی.(۳)

یحیی بن معین رحمه الله فرمائی ((ثقة)) (۴)

علامه ذهبی رحمه الله دَ هغوی تذکره په دې الفاظو کښې شروع کړیده. ((الإمام المحدث الکبیر الصادق.....)) (۵)

مزید فرمائی ((سهیل بن أبی صالح فی عداد الحفاظ)) (۶)
لکه څنګه چه تاسو اوکتل چه سهیل بن ابی صالح ډیرو محدثینو او نقاد ثقة او معتبر ګرځولې دې خو داسې هم ډیر محدثین دی کومو چه دې ضعیف او غیرمعتبر اوګرځولو او په هغه باندې ئې کلام کړیدې. امام بخاری رحمه الله دَ هغوی باره کښې فرمائی ((کان لسهیل أخ، فمات فوجد علیه فنسی کثیرا من الحدیث)) (۷)
دَ سهیل یو رور وو نودَ هغه وفات اوشو، په دې باندې سهیل ته سخته صدمه اورسیده؛ دَ څه په وجه چه هغه ډیر احادیث هیر کړل. ابوحاتم رحمه الله فرمائی ((یکتب حدیثه ولا یحتج به)) (۸)
یحیی بن معین هم دَ یو ضعیف قول مروی دې. (۹) دغه شان امام عقیلی (۱۰) ابوزرعه (۱۱) اورازدی (۱۲) رحمهم الله وغیره هم په دوی کلام کړیدې. اوس دا دواړه قسمه اقوال دَ تعدیل او جرح په وړاندې کیخودو باندې دا خبره معلومیږی چه دا راوی معتبر دې او په هغه

---

۱) (طبقات ابن سعد (ج۶ص۲۲۷)-
۲) (تعلیقات تهذیب الکمال (ج۱۲ص۲۲۷)-
۳) (حواله بالا-
٤) (سیرأعلام النبلاء (ج۵ص٤۵۹)-
۵) (حواله بالا (ص٤۵۸)-
۶) (تذکرة الحفاظ (ج۱ص۱۳۷)-
۷) (تعلیقات تهذیب الکمال (ج۱۲ص۲۲۸) وهدی الساری (ص٤۰۸)-
۸) (الجرح والتعدیل (ج٤یص۲۳۰) رقم (۶۱۸۲)-
۹) (سیرأعلام النبلاء (ج۵ص٤۵۹)-
۱۰) (الضعفاء للعقیلی (ج۲ص۱۵۵) الجرح والتعدیل (ج٤ص۲۳۰) رقم (۶۱۸۲)-
۱۱) (تهذیب الکمال (ج۱۲ص۲۲۳۷)-
۱۲) (تعلیقات تهذیب الکمال (ج۱۲ص۲۲۸)-

باندې د ائمه جرح وتعديل كلام د هغه درجې نه دې د كوم په وجه چه دوى مجروح، متكلم فيه او غير معتبر اوګرځولې شى. د امام بخارى رحمه الله نه علاوه نور اصحاب خمسه د هغوى اصالة روايات نقل كړى دى چه په دې خبره باندې دال دى چه دا معتبر راوى دې.

امام ابن عدى رحمه الله فرمائى: ((ولسهيل أحاديث كثيرة .... وله نسخ، وروى عنه الأئمة مثل الثورى وشعبة ومالك وغيرهم من الأئمة وحدث سهيل عن جماعة عن أبيه، وهذا يدل على ثقة الرجل، حدث سهيل عن سمى، عن أبى صالح، وحدث سهيل عن الأعمش عن أبى صالح.... وهذا يدلك على تمييز الرجل وتمييزبين ماسمع من أبيه، ليس بينه وبين أبيه أحد، وبين ماسمع من سمى والأعمش وغيرهما من الأئمة، وسهيل عندى مقبول الأخبار، ثبت، لابأس به....))(۱)

او د سهيل نه مروى احاديث ډير دى... د هغه ډيرې نسخې هم دى. امام ثورى، شعبه او مال غوندې ائمه د هغوى نه روايت كوى. او سهيل د يو جماعت نه د خپل والد په واسطه روايت بيان كړيدې او دا فعل دې سړى (يعنى سهيل) په ثقاهت باندې دال دې. او سهيل د عن سمى عن أبى صالح په طريق باندې تحديث كړې او هغوى عن الأعمش عن أبى صالح په طريق هم تحديث كړيدې او هم دا تميز د دې خبرې طرف ته د هغه لارخودنه كوى چه دا سړې د رواياتو په مينځ كښې د ښه تمييز نه كار اخلى، هغه روايات كوم چه د خپل والد نه روايت كوى مستقل نقل كوى او كوم روايات چه هغه ((سمى عن الأعمش)) په طريق يا د نورو ائمو نه نقل كوى هغه هم واضح نقل كوى، سهيل زما په نزد ثبت دې د هغه احاديث مقبول دى او لابأس به دى.

بيا د پوهې خبره دا هم ده چه امام بخارى رحمه الله د هغه نه كوم روايات اخستې دى هغه نى مقرونا بالغير اخستې دى او په هغې كښې ده سره يحيى بن سعيد انصارى هم شامل دې، د دې د پاره په امام صاحب باندې هيڅ اعتراض نه واردېږى چه هغوى د يو متكلم فيه راوى روايت څنګه نقل كړلو؟(۲) امام بخارى رحمه الله د (كتاب الجهاد) نه علاوه په (كتاب الدعوات) كښې هم د هغه نه دوه روايتونه اخستې دى، مقرونا وتبعا للغير-(۳) د ابن قانع رحمه الله مطابق هغه ۱۳۸ھ كښې انتقال شوې (۴) رحمه الله رحمة واسعة-

۶- نعمان بن ابى عياش: دا ابوسلمه نعمان بن ابى عياش زرقى انصارى مدنى رحمه الله دې. د هغوى والد مشهور صحابى حضرت زيد بن صامت رضى الله عنه دې (۵)

---

۱) (الكامل لابن عدى (ج۳ص۴٤۹)-
۲) (هدى السارى (ص۴۰۸)-
۳) (حواله بالا وعمدة القارى (ج ۱٤ص ۱۳٤)-
٤) (تهذيب التهذيب (ج ٤ص ۲۶٤)-
۵) (تهذيب الكمال (ج۲۹ص ٤۵٤-٤۵۵)-

دَ هغوی والده ام ولد وه.(۱) دې دَ حضرت جابر بن عبدالله، عبدالله بن عمربن خطاب، حضرت ابوسعيد الخدری او حضرت خوله بنت عامر رضی الله عنهم نه دَ حديث روايت کوی. دَ ده نه دَ حديث روايت کونکوکښې يحيى بن سعيدانصاری، سهيل بن ابی صالح، ابوحازم سلمة بن دينار، ابوالاسود، محمد بن عبدالرحمن بن نوفل، محمد عجلان، سمی مولی ابی بکر او عبدالله بن سلمة الماجشون وغيره شامل دی. (۲)

امام ابن معين رحمه الله فرمائی ((ثقة)) (۳)

علامه ذهبی رحمه الله فرمائی ((ثقة، من أبناء کبار الصحابة)) (۴)

ابن حبان رحمه الله هغه په (کتاب الثقات) کښې ذکر کړيدې.(۵)

امام بخاری او امام ابوبکر بن مجويه رحمهما الله فرمائی ((کان سخيا، کبيرا، من أفاضل أبناء أصحاب رسول الله صلی الله عليه وسلم، وکان أبوه فارس النبی صلی الله عليه وسلم)) (۶)

دَ امام ابوداود رحمه الله نه علاوه باقی اصحاب اصول ستة دَ هغه نه روايت اخستې دی. (۷) رحمه الله ورحمة واسعة۔

۷- ابوسعيد الخدري: دامشهور صحابی ابوسعيد سعد بن مالك بن سنان رضی الله عنه دې، دَ دوی حالات ((کتاب الإيمان باب من الدين الفرار من الفتن)) لاندې تيرشوی دی. (۸)

قوله: قال: سمعت النبی صلی الله عليه وسلم يقول: من صام يوما فی سبيل الله بعّد الله وجهه عن النار سبعين خريفا: حضرت ابوسعيد رضی الله عنه فرمائی چه ما دَ نبی کريم صلی الله عليه وسلم نه اوريدلی دی هغوی فرمائيل چه چا دَ الله تعالی په لارکښې يوه ورځ روژه اوساتله، الله تعالی به دَ هغه مخ دَ دوزخ دَ أور نه اويا کاله لرې کړی.

دَ مباعده نه څه مراد دې؟: امام نووی رحمه الله په حديث باب کښې تاويل کولو سره فرمائی چه دَ مباعده نه مراددلته معافات دې يعنی دَ دوزخ نه به هغه ته خلاصې اومعافی ورکړې شی.(۹) او علامه عينی رحمه الله فرمائی که حديث شريف دَ هغې په خپله حقيقی معنی باندې محمول

---

۱) (طبقات الکمال (ج۲۹ص۲۷۷)-
۲) (شيوخ او تلامذه دَ تفصيل دَ پاره اوګورئ تهذيب الکمال (ج۲۹ص٤۵۵)-
۳) (تهذيب الکمال (ج۲۹ص٤۵۵)-
٤) (الکاشف للذهبی(ج۲ص۳۲۳)-
۵) (الثقات لابن حبان (ج۵ص٤۷۲)-
۶) (التاريخ الکبير (ج۸ ص۷۷) رقم (۲۲۲۹) وتهذيب الکمال (ج۲۹ص٤۵۶)-
۷) (الکاشف للذهبی(ج۲ص۳۲۳)-
۸) (کشف الباری (ج۲ص۸۲)-
۹) (شرح النووی علی مسلم(ج۱ص۳۶٤)-

کړیشی نو بیا هم څه بدی نشته، که حقیقة د اویاؤ کالو مسافت مراد واخستې شی او دا اوونیلې شی چه د دې سرې مخ به واقعةً د دوزخ نه اویا کاله لرې کولې شی. (۱)

دَ دوزخ نه به رژوه دار لرې کولې شی که دَ هغه مخ: بیا په حدیث شریف کښې دا راغلی دی چه د روژه دار مخ به د دوزخ نه دَ اویاؤ کالو برابر په مسافت باندې لرې وی، بعض نورو طرق(۲) کښې دَ روژه دار دَ لرې کولو ذکر دې؟ دَ دې ظاهری تعارض دوه جوابونه دی:

① ((وجه)) نه مراد ذات دې لکه چه په قرآن کریم کښې ارشاد دې ﴿كل شيئ هالك إلا وجهه﴾(۳) او دلته په اتفاق سره ((وجه)) نه ذات مراد دې په دې صورت کښې به معنی هم یوه شی.

② ((وجه))نه دَ دې حقیقی معنی مراد ده او مطلب دا دې چه صرف مخ به دَ دوزخ نه لرې کولې شی، خود دې مطلب دا هم نه دې چه دَ هغه په بدن پورې به دَ دوزخ اُور لګی بلکه ((وجه)) تخصیص بالذکر دَ وجه نه دا دې چهٔ دَ روژې دَ وجه نه سرې ته تنده لګی او دَ تندې خایٔ مخ دې څکه چه دَ تندې نه خروبوالې دَ مخ په ذریعه کیږی. (۴) ((خریف)) په اردو کښې موسم خزان ته وائی لیکن مراد دلته کال دې، څکه چه کال بغیردَ خزان نه نه وی او دا دَ کنایه دَ قبیل نه دې. (۵)

او دَ خریف تخصیص بالذکر په وجه حافظ صاحب دا بیان فرمائی چه په دې موسم کښې دَ میوو راغونډونه کولې شی او هغه دَ ونونه راکوزولې شی نو په دې وجه دا دَ کال دَ یولونه بهترین موسم دې. (۶)

په روایاتوکښې اختلاف او په هغې کښې تطبیق او ترجیح: په روایاتوکښې دَ دوزخ نه لریوالې او ابعاد په موده کښې اختلاف موندلې شی. په روایت باب کښې دَ اویاؤ کالو ذکر دې او په نسائی شریف(۷) کښې حضرت عقبه بن عامر اوطبرانی کښې حضرت عمروبن عبسه(۸) او عبدالله بن سفیان رضی الله عنهم (۹) په روایاتوکښې دَ سلو کالو ذکر دې. ابن عدی (الکامل) کښې دَ حضرت انس رضی الله عنه حدیث نقل کړیدې په هغې کښې دَ پنځو سوو کالو عدد دې (۱۰)

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص ۱۳٤)-
۲) (سنن النسائی کتاب الصیام باب ثواب من صام یوما فی سبیل الله عزوجل..... رقم (۲۲٤۷، ۲۲۵۱)-
۳) (القصص:۸۸)-
٤) (عمدة القاری (ج ۱٤ص ۱۳٤)-
۵) (حواله بالا-
۶) (فتح الباری (ج۶ص٤۸)-
۷) (سنن النسائی کتاب الصیام باب ثواب من صام یوما فی سبیل الله عزوجل وذکر الاختلاف فیه علی سفیان الثوری رقم (۱۱۵۶)-
۸) (مجمع الزوائد للهیثمی (ج۳ص ۱۹٤)-
۹) (حواله بالا-
۱۰) (الکامل لابن عدی (ج۲)-

دغه شان طبرانی (المعجم الصغیر) کښې دَ حضرت ابوالدرداء (۱) او حضرت جابر(۲) نه او امام ترمذی دَ حضرت ابوامامه رضی الله عنه نه یو حدیث روایت کړیدې دَ هغې الفاظ دا دی: ((جعل الله بینه وبین النار خندقًا کما بین السماء والأرض)) (۳) ابن عساکر دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت کړیدې په هغې کښې دَ اووسوو کالوذکر دې(۴) او هم ابن عساکر دَ حضرت ابوالدرداء رضی الله عنه نه ((ألف سنة)) الفاظ هم نقل کړی دی. (۵)

اوس لکه څنګه چه تاسو اوکتل چه په دې روایاتوکښې سخت اختلاف موندلې شی او شارحینو دَ دې اختلاف دَ لرې کولودَپاره مختلف قسم جوابونه ارشاد فرمائیلې دی:

① علامه عینی فرمائی اصل دا دې چه دا اوکتلې شی چه دَ چا طریق دَ تولونه زیات صحیح دې نو په هغې کښې اصح روایت دَ اویاؤ کالووالا دې کوم چه امام بخاری په حدیث باب کښې ذکر کړې او دا ځکه چه دا مُتفق علیه حدیث دې.

② دا جواب هم ورکولې شی چه الله تعالی خپل حبیب ﷺ ته اول اقل المسافاة علم ورکړو او بیا درجه په درجه په دې علم کښې زیاتوالې اوکړو.

③ دَ دې خبرې هم احتمال دې چه دَ دې اختلاف بناء دَ روژه دارو په اختلاف باندې مبنی وی، دَ روژې دَ کمال صحت او نقصان په اعتبار سره چه دَ څه کسانو روژه په هر اعتبار سره کامله وی او دَ بعضو ناقصه وی. (۶)

④ امام قرطبی رحمه الله فرمائی چه دلته په حدیث باب کښې دَ سبعین لفظ دَ تکثیر دَ پاره راغلې دې یعنی عدد که هرڅه وی خو مراد ترې کثرت دې، هم دا حافظ ابن حجر هم راجح ګرځولې دې. (۷)

تنبیه: حدیث باب دَ سهیل بن ابی صالح نه نقل کولوکښې دَ تلامذؤ اختلاف دې ځکه چه اکثررواة حدیث باب دَ((سهیل بن أبی صالح، نعمان بن أبی عیاش عن أبی سعید الخدری)) په طریق سره نقل کړیدې. لکه چه زمونږ په وړاندې حدیث کښې دی، لیکن امام شعبه دا ((سهیل بن أبی صالح عن صفوان بن یزید عن أبی سعید)) په طریق سره نقل کړیدې. لکه چه په نسائی شریف (۸) کښې راغلی دی، دَ دې دَ پاره ممکن دی چه دَ سهیل بن ابی صالح په دې حدیث کښې دوه

---

۱) (مجمع الزوائد للهیثمی (ج۳ص ۱۹٤)-
۲) حواله بالا-
۳) (الجامع للترمذی أبواب الجهاد باب ماجاء فی فضل الصوم فی سبیل الله رقم (۱۶۲٤)-
٤) (عمدة القاری (ج۳ص ۱۳٤)-
۵) (تهذیب دمشق الکبیر لابن عساکر (ج۲ص ٤۵۰)-
۶) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۳۵)-
۷) (فتح الباری (ج۵ص٤۸)-
۸) (سنن النسائی کتاب الصیام باب ثواب من صام یوما فی سبیل الله عزوجل رقم ۲۲٤۹)-

شیخان وی، نعمان بن ابی عیاش او صفوان بن یزید. (۱)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب نه د حدیث مناسبت بالکل واضح دی.(۲) په ترجمه کښې د صوم فی سبیل الله ذکر دې او په حدیث کښې هم همدغه ذکر دی.

۳۷- بَاب: فَضْلِ النَّفَقَةِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله د دې ترجمة الباب لاندې د الله تعالی په لار کښې د خرچ کولو فضیلت بیانوی. او ((سبیل الله)) نه مراد جهاد دې. لیکن علامه عینی رحمه الله فرمایی چه مناسب همدغه ده چه دا عام اوګرولی شی که هغه جهاد وی که بل څه عبادت ځکه چه لفظ ((سبیل الله)) عام دې. (۳)

[۲۶۸۶] حَدَّثَنِي سَعْدُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(۴) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ دَعَاهُ خَزَنَةُ الْجَنَّةِ كُلُّ خَزَنَةِ بَابٍ أَيْ فُلُ هَلُمَّ قَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ ذَاكَ الَّذِي لَا تَوَى عَلَيْهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ [۳۰۴۴]

تراجم رجال

۱- سعد بن حفص: دا ابومحمد سعد بن حفص الطلحی الکوفی رحمه الله دې. (۵)

۲- شیبان: دا ابومعاویه شیبان بن عبدالرحمن النحوی رحمه الله دې.

۳- یحیی: دا ابوالنضر یحیی بن ابی کثیر الطائی الیمانی رحمه الله دې. (۶)

۴- ابوسلمه: دا د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ځوئ، ابوسلمه عبدالله رحمه الله دې. د ده حالات ((کتاب الإیمان باب صوم رمضان احتسابا من الإیمان)) لاندې راغلی دی.(۷)

۵- ابوهریره رضی الله عنه: داجلیل القدرحافظ وفقیه ومکثرصحابی حضرت ابوهریره رضی الله عنه دې، د دوی حالات هم ((کتاب الإیمان باب أمور الإیمان)) په ذیل کښې بیان کړیشوی دی. (۸)

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص ۴۸) وعمدة القاری (ج ۱۴ص ۱۳۴)-

۲) (عمدةالقاری (ج ۱۴ص ۱۳۴)-

۳) (عمدةالقاری (ج ۱۴ص۱۳۵)-

۴) (قوله: ابوهریرة رضی الله عنه: الحدیث مر تخریجه فی کتاب الصوم باب الریان للصائمین-

۵) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب من لم یرالوضوء إلا من المخرجین.....-

۶) (د شیبان او یحیی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب العلم باب کتابة العلم-

۷) (کشف الباری (ج۲ص۳۲۳)-

۸) (کشف الباری (ج۱ص۶۵۹)-

قوله: عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: من أنفق زوجين في سبيل الله دعاه خزنة الجنة، كل خزنة باب: أي فل، هلم: حضرت ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت كوي چه هغوى فرمائى كوم سړي چه جوړه څيزونه د الله تعالى په لاركښې خرچ كوى هغه به د جنت د هرې دروازې دربان راغواړى چه اې فلانكى راشه.

د ((زوج)) اطلاق په يو هم كيږى او په دوو هم،خو دلته په متعين توگه باندې هم يو مراد دې.(۱)

او دلته ئې دا خودلې دى كه يوسړې هر قسم دوه څيزونه يا د دوو مختلفو قسمونو دوه مختلف څيزونه د الله تعالى په لاركښې خرچ كوى د جنت د هرې دروازې دربان به هغه راغواړى چه راشه.

علامه خطابى رحمه الله فرمائى چه د انفاق زوجين نه مراد دا دې كه چرې هغه سره د يو قسم نه يو څيز دې او هغې سره دوئم هم ملاوكړى او هغه جوړه كړى، مثلاً كه هغه سره يو درهم دې او يو ئې ورسره بل ملاوكړو اوخرچ ئې كړل، دغه شان يوه وسله ده او جوړه ئې جوړه كړى او خرچ ئې كړى. (۲)

((كل خزنة باب)) كښې قلب شويدې دا په اصل كښې ((خزنة كل باب)) دې.(۳)

د "اى فل" تحقيق نحوى: ((أى فل)) كښې ((أى)) حرف نداء دې او((فل)) په اصل كښې ((فلان)) دې بغير د ترخيم دينه الف او نون حذف كړيشويدې. د منادى كيدلو په صورت كښې به دا ((يافل)) لوستلې شى. (۴)

او علامه خطابى رحمه الله فرمائى چه ((فل)) ((فلان)) نه مرخم دې لكه چه ((حارث)) نه ((ياحارِ)) دې. (۵)

خو علامه عينى رحمه الله په دې باندې رد كولو سره فرمائى چه دا مرخم نه دې بلكه يو بل لغت دې كوم كښې چه فلان ته د آواز په وخت فل وائى گنى كه د ترخيم قاعده په دې كښې جارى شوې وې نو دا به فُلاَ وو، والأمربعكس ذلك. (۶)

قوله: قال أبوبكر: يارسول الله، ذلك الذي لاتوي عليه: حضرت ابوبكر رضي الله عنه اووئيل يا رسول الله! كوم ته چه څه خساره او ضياع نشته.

مطلب دا چه هغه ته خو به د هيڅ قسم خسارې او هلاكت انديښنه نه وى ځوك چه به د هرې

---

۱) (فتح البارى (ج۶ص۳۹)-
۲) (أعلام الحديث (ج۲ص۱۳۷۳)-
۳) (فتح البارى (ج۶ص۴۹)-
۴) (عمدة القارى (ج۱۴ص۱۳۵)-
۵) (أعلام الحديث (ج۲ص۱۳۷۲)-
۶) (عمدة القارى (۱۴ص۱۳۵)-

دروازې نه راغوښتې شی که په یوه داخل نشی نو په بله به داخل شی. (۱)

توی یتوی توی: معنی دَ هلاك او ضائع کیدلو ده اودَ دې باب ضرب دې. نو که چرې مال ضائع شی نو وئیلی شی ((توی المال)) (۲)

قوله: فقال النبي صلى الله عليه وسلم: أني لأرجو أن تكون منهم: نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل زما امید دې چه هم ته به دَ هغوی نه نې (خوك چه به دَ جنت دَ هرې دروازې نه راغوښتې شی)

په دې کښې دَ ابوبکر صدیق رضی الله عنه دَ فضیلت ذکر دې او دَ دې تفصیل به (کتاب المناقب) کښې راشی.

دَ روایاتو په مینځ کښې تعارض اودَ هغې حل: دا حدیث په (کتاب الصوم) کښې هم تیرشو، هلته دا دی چه دَ هر عمل خاوند به دَ هغې دَ خپلې خپلې دروازې نه راغوښتلې شی، اصحاب الصلاة به دَ صلاة والا دروازې نه، اصحاب الجهاد دَ جهاد دَ دروازې نه، اصحاب الصوم دَ صوم دَ دروازې (باب الريان) نه اواصحاب النفقات به دَصدقې والا دروازې نه راغوښتلې شی(۳) خود باب په روایت کښې دا راغلی دی چه انفاق في سبيل الله کونکی به دَ جنت دَ هرې دروازې نه رابللې شی نو په دواړو روایتونو کښې ښکاره تعارض دې.
علامه سندهی رحمه الله دَ دې تعارض دَ پاره درې حله بیان کړی دی:

① دَ باب روایت وهم دې، دَ یوراوی نه سهوه شویده او دَ دې قسم روایاتوکښې هم دغه ظاهر ده.

② انفاق في سبيل الله کونکې خو به جنت کښې داخلیږی دَ ((باب الصدقة)) نه ځکه چه دې هم دَ دې دَ اهل نه دی، کمافی روایة کتاب الصوم خو دَ دې سره به دَ هغه دَ اعزاز او تکریم دَ پاره دَ جنت دَ هرې دروازې دربان هم هغه رابلی او دَ هغه خواهش به همدغه وی چه دا سړې دې دَ هغه په دروازه جنت کښې ورداخل شی کمافی روایة الباب-

③ دواړه احادیث په دوو مختلف وختونوکښې نبی کریم ﷺ ارشاد فرمائیلی دی. اول حضور ﷺ دَ (کتاب الصوم) حدیث بیان کړو لیکن دَ هغې نه پس حضور ﷺ ته دَ وحی په ذریعه دَ دوئم حدیث په سلسله کښې اوخودلې شو نو هغوی علیه السلام هغه هم بیان کړه، په دې وجه اوس څه تعارض پاتې نشو. (۴)

دَ حدیث دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث مطابقت ترجمة الباب سره واضح دې او دَ

---

۱) (أعلام الحديث (ج۲ص۱۳۷۲)-
۲) (أعلام الحديث (ج۲ص۱۳۷۲)-
۳) (صحيح البخاري(ج۱ص ۲۵٤) كتاب الصوم باب الريان للصائمين رقم (۱۸۹۷)-
٤) (صحيح البخاري بحاشية السندي (ج۲ص ۱٤٤) دارالمعرفة، بيروت-

بیانولو محتاج نه دې (۱) د انفاق فی سبیل الله ترجمه ده او حدیث باب کښې د دې فضیلت بیان شویدې.

[۲۶۸۷] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ حَدَّثَنَا هِلَالٌ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ (۲) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ إِنَّمَا أَخْشَى عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَرَكَاتِ الْأَرْضِ ثُمَّ ذَكَرَ زَهْرَةَ الدُّنْيَا فَبَدَأَ بِإِحْدَاهُمَا وَثَنَّى بِالْأُخْرَى فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَوَيَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ فَسَكَتَ عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَا يُوحَى إِلَيْهِ وَسَكَتَ النَّاسُ كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِهِمُ الطَّيْرَ ثُمَّ إِنَّهُ مَسَحَ عَنْ وَجْهِهِ الرُّحَضَاءَ فَقَالَ أَيْنَ السَّائِلُ آنِفًا أَوَخَيْرٌ هُوَ ثَلَاثًا إِنَّ الْخَيْرَ لَا يَأْتِي إِلَّا بِالْخَيْرِ وَإِنَّهُ كُلَّمَا يُنْبِتُ الرَّبِيعُ مَا يَقْتُلُ حَبَطًا أَوْ يُلِمُّ إِلَّا آكِلَةَ الْخَضِرِ كُلَّمَا أَكَلَتْ حَتَّى إِذَا امْتَلَأَتْ خَاصِرَتَاهَا اسْتَقْبَلَتِ الشَّمْسَ فَثَلَطَتْ وَبَالَتْ ثُمَّ رَتَعَتْ وَإِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ وَنِعْمَ صَاحِبُ الْمُسْلِمِ لِمَنْ أَخَذَهُ بِحَقِّهِ فَجَعَلَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَنْ لَمْ يَأْخُذْهُ بِحَقِّهِ فَهُوَ كَالْآكِلِ الَّذِي لَا يَشْبَعُ وَيَكُونُ عَلَيْهِ شَهِيدًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ [ر: ۸۷۹]

تراجم رجال

۱- محمد بن سنان: دا ابوبکر محمد بن سنان باهلی بصری عوقی رحمه الله دې. دَده حالات ((کتاب العلم باب من سئل علما وهو مشتغل فی....)) لاندې تیرشوی دی. (۳)

۲- فلیح: دا فلیح بن سلیمان بن ابی المغیره رحمه الله دې.

۳- هلال: دا هلال بن علی بن اسامه قرشی مدنی رحمه الله دې. دَ دواړو حالات هم دَ ((کتاب العلم)) په مذکوره باب کښې بالترتیب تیرشوی دی. (۴)

۴- عطاء بن یسار: دا ابومحمد عطاء بن یسار هلالی مدنی رحمه الله دې. دَ ده حالات ((کتاب الإیمان باب کفران العشیر وکفر دون کفر)) لاندې بیان کړیشوی دی. (۵)

۵- ابوسعید الخدری رضی الله عنه: دا مشهور صحابی حضرت ابوسعید سعد بن مالک بن سنان خدری رضی الله عنه دې. دَ ده حالات ((کتاب الإیمان باب من الدین الفرار من الفتن)) لاندې تیرشوی دی.

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص ۱۳۵)-

۲) قوله: عن أبی سعید الخدری رضی الله عنه: الحدیث مر تخریجه فی کتاب الجمعة باب استقبال الناس الإمام إذا خطب-

۳) (کشف الباری (ج۳ص ۵۳)-

٤) (کشف الباری (ج۲ص ۲۰٤)-

۵) (کشف الباری (ج۲ص ۲۰٤)-

تنبيه: دَ حديث مكمل تشريح ((كتاب الزكاة باب الصدقة على اليتامى)) لاندې تيره شويده.
دَ حديث د ترجمة الباب سره مطابقت دَ حديث ترجمة الباب سره مناسبت دَ حديث په دې جمله كښې دې. ((فجعله في سبيل الله))(١)

٣٨-بَاب: فَضْلِ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا أَوْ خَلَفَهُ بِخَيْرٍ

دَترجمة الباب مقصد دلته دَ ترجمة الباب امام بخارى رحمه الله دوه اجزاء ذكر كړى دى (١) من جهز غازيا (٢) خلفه بخير-
دَ اول جز وضاحت دا دې چه يو سړې بل سړى ته دَ جهاد سامان وركوى. دَ وسلې انتظام كوى، دَ لارې توښه وغيره وركوى.
اودَ دونم جز وضاحت دا دې چه دَ مجاهد شاته دَ هغه دَ كور دَخلقو دَ خيريت معلومات كوى، دَ هغوى خبر وغيره اخلى، دَ هغوى دَ ضرورتونو انتظام كوى. نو دې دواړو سړو ته هم دَ مجاهد او مقاتل فى سبيل الله غوندې ثواب ملاويږى. هم دغه دَ ترجمې مقصد دې چه امام بخارى رحمه الله دَ دې دواړو فضيلت بيانوى. (٢)

[٢٦٨٨] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ قَالَ حَدَّثَنِي يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ قَالَ حَدَّثَنِي بُسْرُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ خَالِدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (٣) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَدْ غَزَا وَمَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا

تراجم رجال

١- ابومعمر: دا عبدالله بن عمر بن ابى الحجاج منقرى رحمه الله دې، دَ "مقعد" په لقب باندې مشهور دې، دَ ده حالات ((كتاب العلم باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: اللهم علمه الكتاب)) په ذيل كښې راغلى دى. (۴)
٢- عبدالوارث: دا عبدالوارث بن سعيدبن ذكوان تميمى عنبرى رحمه الله دې. دَ ده حالات هم په مذكوره باب كښې بيان شوى دى. (۵)

١) (عمدة القارى (ج ١٤ص١٣٦) وفتح البارى (ج٦ص٤٩)-
٢) (عمدة القارى (ج ١٤ ص١٣٦)-
٣) (قوله: زيد بن خالد رضى الله عنه: الحديث أخرجه مسلم كتاب الإمارة باب فضل إعانة الغازى فى سبيل الله بمركوب وغيره، وخلافته فى أهله بخير رقم (٤٩٠٢) وأبوداؤد كتاب الجهاد باب مايجزى من الغزو رقم (٢٥٠٩) والترمذى فضائل الجهاد باب ما جاء فيمن جهز غازيًا رقم (١٦٢٨-١٦٣١) والنسائى كتاب الجهاد باب فضل من جهز غازيًا رقم (٣١٨٢-٣١٨٣) وابن ماجه أبواب الجهاد باب من جهز غازيًا رقم (٢٧٥٩)
٤) (كشف البارى (ج٣ص٣٥٦)-
٥) (كشف البارى (ج٣ص٣٥٨)-

۳- حسين: دا حسين بن ذكوان المعلم بصرى رحمه الله دې. دَ دوى مختصر حالات ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه)) لاندې تيرشوى دى.(۱)

۴- يحيى: دا ابوالنضر يحيى بن ابى كثير الطائى اليمامى رحمه الله دې. (۲)

۵- ابوسلمه: دا ابوسلمه عبدالله بن عبدالرحمن بن عوف رحمه الله دې. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب صوم رمضان إيمانا واحتسابا من الإيمان)) لاندې نقل كړېشوى دى.(۳)

٦- بسربن سعيد: دابسربن سعيد المدنى مولى ابن الحضرمى رحمه الله دې. (۴)

۷- زيد بن خالد: دا مشهور صحابى حضرت زيدبن خالدجهنى رضي الله عنه دې. دَ ده حالات ((كتاب العلم باب الغضب فى الموعظة والتعليم إذا رأى مايكره)) لاندې تيرشوى.(۵)

قوله: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من جهز غازيا فى سبيل الله فقد غزا، ومن خلف غازيا فى سبيل الله فقد غزا: حضرت زيدبن خالد جهنى رضي الله عنه فرمائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد فرمائيلې چه كوم سړې مجاهد فى سبيل الله ته دَ جهاد سامان وركړى نو داسې ده لكه چه ده پخپله جهاد اوكړو او څوك چه دَ مجاهدفى سبيل الله شاته دَ هغه دَ كور بنه خيال اوساتى نو لكه چه هغه پخپله جهاد اوكړو.

دَ تجهيز نه څه مراد دې؟: دَ تجهيز معنى چاته دَ سفر اسباب او سامان وركولو ده.كه زيات وى اوكه كم، تر دې چه چاته تار او ستن وركول هم په دې كښې داخل دى. طبرانى (٦) دَ حضرت واثله بن اسقع رضي الله عنه نه روايت نقل كړيدې،

((قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: مامن أهل بيت لايغزو منهم غاز أو يجهز غازيا بسلك أو إبرة أو ما يعدلها من الورق أو يخلفه فى أهل بخير إلا أصابهم الله بقارعة قبل يوم القيامة)) (۷)

كه دَ يوې كورنئى نه يو كس هم غزوه كښې شركت اونكړى يا دَ يوغازى دَ ستنې تار يا دَ دې برابر چاندئى سره تيارى اونكړى يا دَ هغه دَ بال بچ تپوس پوښتنه اونكړى نو دَ قيامت نه وړاندې وړاندې به الله تعالى هغه په څه مصيبت كښې اخته كړى.

يواشكال اودَ هغې جواب: ليكن دلته يو اشكال پيدا كيږى او هغه دا چه امام بن ماجه رحمه الله دَ

---

۱) (كشف البارى (ج۲ص ٤)-
۲) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب العلم باب كتابة العلم-
۳) (كشف البارى (ج۳ص ۳۲۳)-
٤) (دَ دوى حالات كتاب الصلوة باب الخوخة والممر فى المسجد لاندې تيرشوى-
٥) (كشف البارى (ج۳ص ٥٤٤)-
٦) (مجمع الزوائد (ج٥ص ۲۸٤) وقال العينى (ج ۱٤ص۱۳۷) وإسناده ضعيف-
۷) (عمدة القارى (۱٤ص۱۳۷)-

حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه نه يو روايت نقل كړيدې د هغې الفاظ دا دى ((سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: من جهز غازيا حتى يستقل كان له مثل أجره حتى يموت أو يرجع)) (۱) ماد رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى كه چا يو غازى ته د سفر مكمل سامان او اسباب وركړل نو د هغه دپاره به هم د دغه غازى په شان ثواب وى تر دې چه هغه غازى به يا شهيدشى يا به واپس راشى.

په حديث شريف كښې د ((يستقل)) الفاظ دى او د استقلال معنى خو پوره تيارى كول دى، د دې د پاره دا ونيل چه صرف ستن او تار وركول هم تجهيز دې صحيح نه دى.

علامه عينى رحمه الله د دې دوه جوابونه ارشاد فرمائيلى:

① حديث واثله بن الاسقع ضعيف دې په دې وجه د احتجاج قابل نه دې.

② اوكه د دې صحت اومنلې شى نو بيا هم د هغه سړى په حق كښې وعيد دې چه د سره د هيڅ قسمه سامان د مجاهد سره امداد اونكړى په دې وجه هيڅ تعارض نشته. (۲)

قوله: فقد غزا: په تحقيق سره هغه هم جهاد اوكړو.

ابوحاتم ابن حبان رحمه الله فرمائى چه مطلب دا دې چه ده ته به هم د غازى اجر وركولې شى، سره د دې چه هغه په جهاد كښې شركت نه دې كړې.(۳) بيا د يو بل طريق نه بسرين سعيد رحمه الله نه دا روايت نقل كړې: ((...كتب له مثل أجره، غير أنه لاينقص من أجره شئ...))(۴)

علامه كشميرى صاحب رحمه الله فرمائى چه يوكارخو يا يو سړې پوره كوى يا د هغې د پوره كولو د پاره د يوپوره ډلې ضرورت وى، اوس كه هغه كار د يو ډلې په كار كولوسره پوره كيږى نو په هغې كښې به هر يو كس ته د فاعل اجر حاصل وى كه هغه په دې كار كښې بخپله شريك وى يا په څه طريقه ئې هم په دې كښې معاونت كړى لكه جهادچه دې. دا يو داسې امر دې د څه دپاره چه د مجاهدينو د جماعت هم ضرورت دې چه اوجنګيږى، دغه شان د هغوى دپاره د داسې سړو هم ضرورت وى چه د دې مجاهدينو معاونت اوكړى او د هغوى شاته د هغوى په غيرموجودګئ كښې د هغوى د كور مال حال خبرواخلى او د هغوى د پالنې خيال اوساتى. په دې وجه معاونت كونكې اود مجاهدينو شاته د هغوى د كور مال حال خبراخستونكې هم د الله تعالىٰ په لاركښې د جهاد كونكى په شان دې.

خلاصه دا شوه چه چا په جنګ كښې بخپله حصه واخستله او چا چه په څه طريقه سره هم د هغه مجاهد معاونت اوكړو دا ټول په جهاد كښې مشترك دى، دا صحيح ده چه د اخلاص، سخاوت نفس، مال د خرچ كولو او ځان قربانى كولو په وجه به د هغه په اجركښې كمى زياتى اعتباركښې به اختلاف وى.(۵)

---

۱) (أخرجه امام ماجه أبواب الجهادباب من جهز غازيا رقم (۱۸۵۸)-

۲) (عمدةالقارى (ج۱۴ص۱۳۷) وقد وردت أحاديث كثيرة فى تجهيز الغازى وخلفه بخير. فمن أراد الاطلاع عليهافلينظر عمدةالقارى (ج۱۴ص۱۳۷)-

۳) (الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان(ج۸ص۷۱)-

۴) (حواله سابقه (ج۸ص۷۲) كتاب السير ذكرالبيان بأن المجهز إنما يأخذ كحسنات الغازى... رقم (۴۶۱۴)

۵) (فيض البارى (ج۳ص۴۲۷)-

فائده امام طبری رحمه الله فرمائی: ((وفیه من الفقه أن کل من أعان مؤمنًا علی عمل بر فللمُعین علیه أجر مثل العامل، وإذا أخبر الرسول أن من جهز غزیا فقد غاز، فکذلك من فطر صائما أو قواه علی صومه، وکذلك من أعان حاجا(۱) أو معتمرا بما یتقوّی به علی حجه أو عمرته حتی یأتی ذلك علی تمامه فله مثل أجره))(۲)

یعنی دَ مذکوره حدیث نه دا فائده مستنبط شوه چه یو سړې دَ یو مؤمن په نیك کار کښې امداد اوکړي نو هغه معاون او ناصر ته به هم دَ هغې په شان اجر حاصل وی. او چه کله نبی کریم ﷺ دَ دې خبرې خبر ورکړوکه چا مجاهد له دَ جهاد سامان ورکړو نو لکه چه هغه پخپله هم جهاد اوکړو، دغه شان که چا په یو روژه دار باندې روژې ماتې اوکړو یا دَ روژې په سلسله کښې ئې هغه له تقویت ورکړو، دغه شان چا چه دَ یو حاجی معتمر په څه داسې څیز سره امداد اوکړو چه هغه دَ حج یا عمرې سر ته رسولو دَ پاره په هغې قادر شو نو دې امداد کونکی ته به دَ جهاد، روژې، حج او یا عمرې برابر اجر ورکولې شی.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث ترجمة الباب سره مناسبت واضح دې. ((من جهز غازیا)) دَترجمة الباب دَ اول جزء مطابق او(ومن خلف غازیا) دَدې دَدوئم جزء مطابق دې.(۳)

[۲۶۸۹] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَنَسٍ(۴) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَدْخُلُ بَيْتًا بِالْمَدِينَةِ غَيْرَ بَيْتِ أُمِّ سُلَيْمٍ إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِ فَقِيلَ لَهُ فَقَالَ إِنِّي أَرْحَمُهَا قُتِلَ أَخُوهَا مَعِي

تراجم رجال

۱- **موسی بن اسماعیل:** دا ابوسلمه موسی بن اسماعیل تبوذکی بصری رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((بدء الوحی)) دَ څلورم حدیث په ذیل کښې تیر شوی دی. (۵)

۲- **همام:** دا همام بن یحیی الشیبانی رحمه الله دې.(۶)

۳- **اسحاق بن عبدالله:** دا اسحاق بن عبدالله بن ابی طلحه انصاری رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب العلم باب من قعد حیث ینتهی به المجلس، ومن رأی فرجة الحلقة فجلس فیها)) لاندې تیر شوی دی.(۷)

---

۱) (إشارة إلی ماروه الرافعی، انظر تلخیص الجبیر(ج ٤ ص ۱۰۱)-

۲) (شرح ابن بطال(ج۵ص۵۱)-

۳) (عمدة القاري (ج ١٤ص١٣۶)-

٤) (قوله: أن أنس رضی الله عنه: الحدیث أخرجه مسلم کتاب فضائل الصحابة باب من فضائل أم سُلیم رضی الله عنها.....رقم(۶۳۱۹)-

۵) (کشف الباری(ج۱ص٤۳۳)-

۶) (ددوی دَحالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب ترک النبی صلی الله علیه وسلم والناس الأعرابی

۷) (کشف الباری (ج۳)-

۴- انس: دا مشهور صحابی حضرت انس بن مالک رضی الله عنه دی. دَ ده حالات ((کتاب الإیمان باب من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه)) په ذیل کښې راغلی.(۱)

قوله: أن النبي صلى الله عليه وسلم لم يكن يدخل بيتا بالمدينة غير بيت أم سليم إلا على أزواجه: حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی علیه السلام په مدینه منوره کښې به دَ حضرت ام سلیم رضی الله عنها دَ کورنه علاوه او دَ خپلو بیبیانو دَ کور نه علاوه به یو کورکښې هم نه داخلیدلو.

مطلب دا دې چه که حضور صلی الله علیه وسلم به دَ خپلو ازواج مطهرات دَ کورونو نه علاوه دَ چا کور ته تلو، نو هغه هم صرف دَ ام سلیم رضی الله عنها کره دَ بل چا کورته به نه تلو.

دخول نه مراد څه دی؟: ابن التین او امام حمیدی رحمه الله فرمائی دَ دخول نه مراد علی الدوام دخول دې یعنی اکثر به دَ حضرت ام سلیم رضی الله عنها کره تلو، ګنی نو مخکښې دا خبره راغلې ده چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به دَ ام حرام رضی الله عنها کره هم تشریف اوړلو. (۲)

دکثرت دخول علت او وجه: ابن التین رحمه الله فرمائی چه دَ دې کثرت دخول وجه یا خو دا ده چه شهید دَ هغې سکه رور وو یا دا چه دَ ام حرام رضی الله عنها په نسبت هغوی ته زیات غم رسیدلې وو.(۳)

لیکن حافظ صاحب فرمائی دَ دې تاویل هډو ضرورت نشته چه ام سلیم رضی الله عنها ته دَ ام حرام رضی الله عنها په مقابله کښې دَ رور دَ شهادت غم زیات وو ځکه چه دا دواړه په یو کور کښې اوسیدلې او په دې کښې هیڅ منع نشته چه دوه خوئیندې په یوکور کښې اوسیږی او کور هم لوئ وی. دَ دخول نسبت کله دَ ام سلیم رضی الله عنها طرف ته وکړیشو او کله دَ ام حرام رضی الله عنها طرف ته. (۴)

حضرت ام سلیم رضی الله عنها: حضرت ام سلیم – بضم السین وفتح اللام – دَ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه مور ده اودَ هغې په نومونوکښې مختلف اقوال دی. سهلی، رمیلی، رمیثی، ملیکه، غمیضاء او رمضاء دَ هغې نومونه شمیرلې شوی دی. (۵)

((فقیل له)): نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته اووئیلې شو.

حافظ رحمه الله فرمائی ((لم أقف علی اسم القائل)) (۶) ماته دَ هغه قائل نوم معلوم نشو. او مطلب دا دې چه حضور صلی الله علیه وسلم به ام سلیم کره ولې په کثرت سره تشریف اوړی؟(۷)

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص ٤)-
۲) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٣٨) وفتح الباری (ج۶ص ۵۱)-
۳) (حواله بالا-
٤) (فتح الباری (ج۶ص۵۱)-
۵) (عمدة القاری (ج ٤ ١ص١٣٨) دَهغې دَ نورو حالاتو دَپاره اوګورئ کتاب العلم باب الحیاء فی العلم
۶) (فتح الملهم (ج۶ص ۵۱)-
۷) (شرح القسطلانی(ج۵ص۶۶)-

قوله: فقال: إني أرحمها قتل أخوها معي: نو حضور ﷺ اوفرمائيل زه په هغې باندې ترس خورم چه د هغې رور زما سره قتل شويدې.
دا د سائل د سوال جواب اوام سليم ﷞ کره په کثرت سره د تللوعلت دې چه زه ام سليم ﷞ کره په دې وجه په کثرت سره ځم چه د هغې رور ماسره قتل شويدې او زه په هغې ترس خورم او د هغې د غم کمولو کوشش کوم.
يواشکال اود هغې جواب: علامه کرمانی ﷫ دلته يو اشکال پيش کړيدې چه يو پردئی ښځې کره د تللو د پاره چه د هغې رور قتل شوې ځنګه سبب او علت جوړيدې شي؟
ددې اشکال جواب ورکولو سره علامه کرمانی ﷫ اوفرمائيل چه د حضور ﷺ په حق کښې دا پردئی ښځه نه وه بلکه د هغوی رضاعی يا نسبی ترور وه، په دې وجه به حضور ﷺ هغې کره په کثرت سره تشريف اوړلو. (۱)
حافظ ابن حجر ﷫ فرمائی مناسب همدغه ده چه په حديث کښې داذکر شوې علت راجح اوګرځولې شی چه زه په دې ترس خورم. (۲)
او پاتې شوه پردئی ښځې کره د تلو خبره نو ((باب الدعاء بالجهاد والشهادة....))
په ذيل کښې تيره شويده. چه دا د حضور ﷺ خصوصيت ووچه د هغوی د پاره خلوة بالاجنبيه جائز وو.(۳)
او ((أخ)) نه مراد حرام بن ملحان ﷛ دې، او دې په بئر معونه کښې شهيد شوې وو.(۴)
يوسوال اود هغې جواب: اوس دلته يو سوال دا پيداکيږی چه حرام بن ملحان ﷛ خو په بئر معونه کښې شهيد شوې ووا بئر معونه کښې حضور ﷺ پخپله شريك نه وو نو بيا حضور ﷺ دا ځنګه اوفرمائيل ((قتل أخوها معي؟))
د دې جواب دا دې چه ما کومه سريه د بئر معونه طرف ته ليګلې وه په هغې کښې هغه شريك وو او هم په دغه دوران کښې شهيد شو نو ((معي: أي مع عسكري أوعلى أمري وفي طاعتي))
په معنی کښې دی ((كما قال الحافظ ابن حجر، والعيني، والكرماني رحمة الله عليهم)) (۵)
د علامه قرطبی ﷫ يو تسامح: دلته علامه قرطبی ﷫ نه يو تسامح شويدې، هغوی فرمائی ((قتل أخوها معه في بعض حروبه، وأظنه يوم أحد)) يعنی د حضرت ام سليم ﷞ رور حضرت حرام بن ملحان ﷛ او رسول الله ﷺ سره په يو جنګ کښې قتل شوې دې او زما خيال دا دې چه دا غزوه "غزوه احد" وو. حافظ ابن حجر ﷫ په دې ردکولو سره فرمائی ((ولم يصب في ظنه))

---

۱) (شرح الكرمانی (ج۱۲ص۱۳۳)-
۲) (فتح الباری (ج۶ص۵۱)-
۳) (شرح للقسطلانی (ج۵ص۶۶) وانظر أيضًا باب الدعاء بالجهاد والشهادة للرجال والنساء.... من هذاالكتاب
٤) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٣٨)-
۵) (فتح الباری (ج۶ص۵۱) وعمدة القاری (ج ١٤ص١٣٨) وشرح الكرمانی (ج١٢ص١٣٣)-

يعني د قرطبي رحمه الله دا گمان صحيح نه دې. (۱)
دهغه دشهادت واقعه به ان شاء الله (كتاب المغازى) كښې دغزوه بئرمعونه لاندې راځي. (۲)
د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: ابن المنير اسكندراني رحمه الله فرمائي:

چه د حديث ترجمة الباب سره مناسبت په دې قول كښې دې. ((أوخلقه لى أهله)) هغه داسې چه د مجاهد د كور د خيال ساتلو فضيلت دلته عام دې، كه د هغه په ژوند كښې وى ياكه د هغه د شهادت نه پس وى، نو نبى كريم ﷺ به د ام سليم رضي الله عنها زيارت او خيال ساتنه د هغې د زړه د تسلئ دپاره كوله او د دې تسلئ علت حضور ﷺ په دې الفاظو كښې بيان كړو چه د هغې رور ماسره قتل شويدې. د حضور ﷺ په دې فعل كښې د مجاهد د شهادت نه پس د هغه د كور او بال بچ خيال ساتل دى او دا د حضور ﷺ د حسن اخلاق نه دى. (۳)

خو علامه عيني رحمه الله د علامه اسكندراني دا قول "قيل" سره تعبير كړيدې او فرمائي

((لايخلوهذا، عن بعض التكلف، ولكن له وجه أقرب من هذا...)) (۴)
او هغه چه څه اقرب گرځولى دى د هغې خلاصه دا ده چه يو غازى ته د جهاد اسباب وركول او د هغه نه پس د هغه د كور بال بچ خيال ساتل د غازى غايت اكرام دې او نبى عليه السلام د دې ترغيب هم وركړې.
نو د ام سليم رضي الله عنها د رور په شهادت د هغې د تسلئ د پاره په كثرت سره هغې كره تلل د دې خبرې طرف ته اشاره كوى چه كله د غازى د مړى او د كور د خلقو اكرام ښه او د اجر خبره ده نو د ژوندى غازى د كور بال بچ اكرام په طريقه اولى ډيره ښه او د اجر خبره ده. (۵)
د علامه گنگوهي رحمه الله يو لطيفه توجيه: علامه گنگوهي رحمه الله حديث شريف ترجمة الباب سره منطبق كولو د پاره بالكل يو ځان له توجيه ذكر كړيده.
هغه فرمائي چه ممكن دې چه د حضرت ام سليم رضي الله عنها د رور په غير موجودگئ چه هغه جهاد له تلې وى اود هغه د كورد خلقو خبر اخستل ئې كولو، او په دې وجه امام بخارى دا روايت دلته ذكر كړې وى. (۶)

۳۹- بَاب: التَّحَنُّطِ عِنْدَ الْقِتَالِ

د تحنط معنى: تحنط د باب تفعيل نه مصدر دې د دې معنى د حنوط كولو ده، او حنوط د يو مركب خوشبو نوم دې چه د مړى د پاره استعمالولې شى. (۷)

---

۱) (فتح البارى (ج۶ص۵۱)-
۲) (كشف البارى كتاب المغازى (ص۲۶۵)-
۳) (عمدة القارى (ج ۱٤ص۱۳۸)-
٤) (عمدة القارى (ج ۱٤ص۱۳۸)-
۵) (عمدة القارى (ج ۱٤ص۱۳۸)-
۶) (لامع الدرارى (ج۷ص۲۲۲)-
۷) (عمدة القارى (ج ۱٤ص۱۳۸)-

بيا زهرى رحمه الله فرمائى ((يدخل فيه الكافور وذريرة القصب والصندل والأحمر والأبيض)) په دې كښې : كافور خوشبودار پوډر او سره او سپين صندل هم داخل دى. (۱)
اودبعض نوروحضراتو وينا ده حنوط مرو سره خاص دى دَ ژوندو دَ استعمال خوشبو نه حنوط نشى وئيلې. (۲)

دَ ترجمة الباب مقصد امام بخارى رحمه الله دلته دا خودل غوارى چه سرې دَ جنګ ميدان ته ځى نو حنوط وغيره دې استعمالوى نو ځى دې.(۳)

دَ حنوط په استعمال كښې حكمتونه علامه ګنګوهى رحمه الله فرمائى چه سړې كله دَ جنګ دَ ميدان طرف ته رخ اوكړى نو خوشبووغيره دې استعمال كړى ځكه چه كيديشى الله تعالى هغه دَ شهادت په اوچته مرتبه باندې سرفراز كړى نو هغه به خوشبو سره خښولې شى او چه كله دَ هغه دَ الله جل جلاله سره ملاقات وى نو دې به پاك صفا او خوشبودار وى. (۴)
اوعلامه انور شاه كشميرى رحمه الله فرمائى دَ سلف صالحينو عادت او طريقه دا وه چه كله به هغوى دَ جنګ تيارى كوله نو حنوط به ئى هم استعمالول دَ دې ويرې چه دَ قتل كيدو نه پس دَ هغه بدن متغير نشى ځكه چه دَ جنګ وخت وى او په جنګونوكښې اكثر خښولو كښې تاخير هم كيږى.
په پخوانى زمانه كښې به اهل مصر دَ خپلو مړو په بدنونوباندې دوايانې مږلې دې دَ پاره چه دَ هغوى بدنونه خراب نشى..... بيا دا داروګان نه ملاويدل او دَ حنوط استعمال په خلقو كښې باقى پاتې شو.(۵)
اويله دا هم چه دا دَخوشحالئى موقع ده اودَ خوشحالئى په موقعوباندې خوشبو استعمالولې شى نودې دَ پاره دَجنګ په موقع خوشبو استعمالول پكار دى.
په دې كښې يو حكمت دا هم دې كه سرې په بدن باندې تيل وغيره اولګوى اولاړشى نو سستى به نه وى سرې تازه وى، كه كافر ئى اونيسى هم نو دَ هغه نيول به په آسانئى سره مضبوط نه وى.

[۲۶۹۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسٍ قَالَ وَذَكَرَ يَوْمَ الْيَمَامَةِ قَالَ أَتَى أَنَسٌ (۶) ثَابِتَ بْنَ قَيْسٍ وَقَدْ حَسَرَ عَنْ فَخِذَيْهِ وَهُوَ يَتَحَنَّطُ فَقَالَ يَا عَمِّ مَا يَحْبِسُكَ أَنْ لَا تَجِيءَ قَالَ الْآنَ يَا ابْنَ أَخِي وَجَعَلَ يَتَحَنَّطُ يَعْنِي مِنْ الْحَنُوطِ ثُمَّ جَاءَ فَجَلَسَ فَذَكَرَ فِي الْحَدِيثِ انْكِشَافًا مِنْ النَّاسِ فَقَالَ هَكَذَا

---

۱) (شرح القسطلانى (ج۲ص۳۸۹)-
۲) (حواله بالا-
۳) (عمدةالقارى (ج ۱٤ص۱۳۸) والفتح (ج۶ص۵۱)-
٤) (لامع الدرارى)ج۷ص ۲۲٤)-
۵) (فيض البارى(ج۳ص٤۲۹)-
۶) (قوله: أنس: الحديث انفرد به البخارى انظر تحفة الأشراف (ج۱ص۱۲۲)-

عَنْ وُجُوهِنَا حَتَّى نُضَارِبَ الْقَوْمَ مَا هٰكَذَا كُنَّا نَفْعَلُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِئْسَ مَا عَوَّدْتُمْ أَقْرَانَكُمْ رَوَاهُ حَمَّادٌ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ

تراجم رجال

۱- عبدالله بن عبدالوهاب: دا ابومحمد عبدالله بن عبدالوهاب حجبى بصرى رحمه الله دي.(۱)

۲- خالد بن حارث: دا ابوعثمان خالد بن حارث بن سليم بصرى رحمه الله دي. (۲)

۳- ابن عون: دا عبدالله بن عون بن ارطبان مزنى بصرى رحمه الله دي. د دوى حالات ((كتاب العلم باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: رب مبلغ أوعى من سامع)) لاندې تيرشوى. (۳)

۴- موسى بن انس: دا د حضرت انس رضي الله عنه خوئې. د بصرې قاضى موسى بن انس رحمه الله دي.(۴)

۵- انس: دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم خادم حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دي. د دوى حالات ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه)) لاندې تيرشوى دى. (۵)

۶- ثابت بن قيس: دا خطيب الانصار حضرت ثابت بن قيس بن شماس بن مالك بن امرئ القيس المدنى رضي الله عنه دي. ابومحمد او ابوعبدالرحمن د ده كنيت دي.(۶)

د هغوى د مورېي نوم هند الطائيه ده. (۷) او عبدالله بن رواحه او عمره بنت رواحه رضي الله عنهما د هغه د مور شريك خور او رور دى. (۸)

دې د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه د حديث روايت كوى. او د هغه نه د هغه خامن محمد، قيس، اسماعيل، حضرت انس بن مالك او ابن ابى ليلى رحمه الله وغيره د حديث روايت كوى. (۹)

فضائل او مناقب: د هغوى بې شميره فضائل اومناقب دى. هغوى په ((خطيب الرسول صلى الله عليه وسلم)) سره يادولې شى لكه څنګه چه حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه ته ((شاعر الرسول صلى الله عليه وسلم)) ونيلې شى.(۱۰)

---

۱) (د دوى د حالاتو د پاره اوګورئ كتاب العلم باب ليبلغ العلم الشاهد الغائب-
۲) (د دوى د حالاتو د پاره اوګورئ كتاب الصلاة باب فضل استقبال القبلة-
۳) (كشف البارى (ج۳ص ۲۲٤)-
٤) (د دوى د حالاتو د پاره اوګورئ كتاب المكاتب باب المكاتب ونجومه وفى كل سنة نجم....-
۵) (كشف البارى (ج۲ص ٤)-
۶) (تهذيب الكمال (ج ٤ص ۳۶۸) والثقات لابن حبان (ج۳ص ٤۳)-
۷) (سير أعلام النبلاء (ج۱ص ۳۰۹)-
۸) (حواله بالا-
۹) (د شيوخ او تلامذه د پاره اوګورئ تهذيب الكمال (ج ٤ص ۳۶۹)-
۱۰) (أسد الغابة (ج۱ص ٤۵۱)-

امام زهري رحمه الله (١) نه روايت دي چه د بنو تميم يو وفد د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضرشو: د هغوی خطيب اودريدو او د خپل قوم بعض خيزونه ئې د فخر په انداز كښې پيش كړل نو حضور ﷺ حضرت ثابت بن قيس رضي الله عنه ته اوفرمائيل ((قم فأجب خطيبهم)) دې اودريدو او ډير په بلاغت او فصاحت ئې د الله تعالى حمد او ثنا بيان كړه، په دې سره رسول الله ﷺ او نور مسلمانان ډير خوشحاله شو.

دې سره د غزوه احد اود دې نه پس په ټولو غزواتو كښې شريك شوې وو. (٢)

حافظ ابن حجر رحمه الله ته په دې كښې وهم شوې چه اول خو حافظ صاحب په (تهذيب التهذيب) كښې دااوفرمائيل ((شهد بدرا والمشاهد كلها)) (٣) ليكن په (اصابه) كښې ئې د دې ترديد اوكړو. ليكي ((لم يذكره أصحاب المغازي في البدريين، وقالوا: أول مشاهده أحد، وشهد مابعدها)) (٤) اوراجح دا دى چه دا بدرى صحابى نه دې. (٥) نبى كريم ﷺ هغه ته د جنت زيرې وركړې وو. د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دې:

((قال كان ثابت بن قيس بن شماس خطيب الأنصار، فلما نزلت هذه الآية: ﴿يأيها الذين آمنوا لاترفعوا أصواتكم فوق صوت النبي﴾ قال: أنا الذي كنت أرفع صوتي فوق صوت رسول الله صلى الله عليه وسلم، فأنا من أهل النار، فذُكِر ذلك لرسول الله صلى الله عليه وسلم، فقال: بل هو من أهل الجنة)) (٦)

حضرت انس رضي الله عنه فرمائي چه حضرت ثابت بن قيس بن شماس د انصارو خطيب وو كله چه دا آيت مبارك نازل شو ﴿يأيها الذين آمنوا لاترفعوا أصواتكم فوق صوت النبي﴾ نو وئې وئيل چه هم زه هغه يم چه خپل آواز د نبى كريم ﷺ په آواز باندې اوچتوم، نو هم زه د دوزخيانو نه يم، د دې خبرې ذكر خلقورسول الله ﷺ ته اوكړو هغوی اوفرمائيل هغه د اهل جنت نه دې.

دغه شان يو ځل نبى كريم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو:

((نعم الرجل أبوبكر، نعم الرجل عمر، نعم الرجل أبوعبيدة بن الجراح، نعم الرجل أسيد بن حضير، نعم الرجل ثابت بن قيس بن شماس، نعم الرجل معاذ بن جبل، نعم الرجل معاذ بن عمرو بن الجموح))

بهترين سړې ابوبكر دې، بهترين سړې عمر دې، بهترين سړې ابوعبيده بن جراح دې، بهترين سړې اسيد بن حضيردې. بهترين سړې ثابت بن قيس بن شماس دې، بهترين سړې

---

١) السيرة النبوية لابن هشام (ج٢ص٥٦٢) وسير أعلام النبلاء (ج١ص٣١٢) والطبقات الكبيرى (ج١ص٢٩٤)
٢) (أسد الغابة (ج١ص٤٥١) والإستيعاب (ج١ص١٢٥)-
٣) (تهذيب التهذيب (ج٢ص١٢)-
٤) (الإصابة (ج١ص١٩٥)-
٥) (تهذيب الكمال (ج٤ص٣٧١)-
٦) (رواه البخاري كتاب المناقب باب علامات النبوة في الاسلام رقم (٣٦١٣) وكتاب التفسير باب ﴿يأيهاالذين آمنوا لا ترفعواأصواتكم فوق صوت النبي﴾ رقم(٤٨٤٦) ورواه مسلم كتاب الإيمان باب مخافة المؤمن أن يحبط عمله رقم (٣١٤-٣١٧)-

معاذبن جبل دي، بهترین سړي معاذ بن عمرو بن جموح دي. (رضی الله عنهم أجمعين)
يوخل نبی کریم ﷺ هغوی ته اوفرمائيل:

((ياثابت، أما ترضى أن تعيش حميداً، وتقتل شهيداً، وتدخل الجنة)) (١)

په دې کښې حضور ﷺ حضرت ثابت رضی الله عنه ته د دريو څيزونو زيرې ورکړو: ① د هغه ژوندبه ښه تيرېږي ② هغه به د شهادت په اوچته مرتبه سرفراز کيږي ③ او په جنت کښې به داخليږي، او هم داسې اوشو کوم چه نبی کريم ﷺ فرمائيلې وو، راوی وائی ((فعاش حميداً، وقتل شهيداً يوم مسيلمة الكذاب)) (٢)

شهادت: حضرت ثابت بن قيس د حضور اکرم ﷺ د پيشنګوئې مطابق شهادت اوموندلو، جنګ يمامه کوم چه د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه په زمانه کښې د مسيلمه کذاب خلاف شوې وو په هغې کښې دوی د انصارو امير وو او هم په دې جنګ کښې هغه ښه په بهادرئ سره د جنګيدلو نه پس شهيد شو (٣) او هم دا واقعه په حديث باب کښې ذکر کړېشويده.

يوه عجيبه واقعه: امام حاکم په مستدرك(٤) کښې، امام طبرانی په معجم الکبير (٥) کښې، علامه ابن عبدالبر الاستيعاب (٦) اوعلامه الاثيرالجزری په اسدالغابه(٧) کښې د هغوی سره متعلق يوه عجيبه واقعه ذکر کړيده.

په جنګ يمامه کښې د مسيلمه کذاب او بنو حنفيه خلاف چه کوم لښکر حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه ترتيب کړې وو په هغې کښې حضرت ثابت هم شامل وو. کله چه د دواړو لښکروخپل مينځ کښې مقابله اوشوه نو په دې کښې مسلمانان روستو شو،اوداسې درې خل اوشو. چه کله حضرت ثابت او حضرت سالم مولی ابوحذيفه رضی الله عنهما دا صورت حال اوکتلو نو د هغوی نه برداشت نه شوه او وئې فرمائيل ((ماهكذا كنا نقاتل مع رسول الله صلى الله عليه وسلم)) او هغه حضراتو په زمکه کښې يوه کنده اوکنستله او په هغې کښې ئې خپل ځان قيد کړو او جنګيدل تردې چه دواړه شهيدان شول.

د حضرت ثابت د شهادت نه پس حضرت بلال رضی الله عنه (٨) هغه په خوب کښې اوليدو چه فرمائيلې. زه هغه بله ورځ شهيدشوې وم نود مسلمانانو يو سړې زما خواکې تيريدو او هغه

---

١) (رواه الحاكم في مستدركه وصححه الذهبي (ج٣ص١٣٤) وإسناده قوي. لكنه مرسل كما قاله الحافظ في الفتح (ج٦ص٦٢١)-

٢) (المستدرک للحاكم (ج٣ص ٢٣٤)-

٣) (أسدالغابة (ج١ص٤٥١)والإستيعاب (ج١ص١٢٥) والمستدرک (ج٣ص٢٣٣)-

٤) (المستدرک للحاكم (ج٣ص ٢٣٤)-

٥) (المنجم الكبير للطبرانى (ج٢ص ٧٠) رقم (١٣٢٠)-

٦) (الإستيعاب (ج١ص١٢٥)-

٧) (أسدالغابة (ج١ص ٤٥٢)-

٨) (وأفادالواقدى أن رائى المنام هو:بلال المؤذن. فتح البارى (ج٦ص٥٢)-

زما زغره راویستله او لاړو، هغه د لښکر په آخره کښې دې او د هغه سړی اس په رسئ تړلی څرن کوی، هغه د زغرې د پاسه د پټولودپاره څه کانړی اچولی دی او په هغه کانړو ئی کجاوه ایخودې ده. بیائې هم په خوب کښې حضرت بلال رضی الله عنه ته اوفرمائیل چه د لښکر امیر حضرت خالدبن ولید رضی الله عنه له لاړشه او هغه ته اووایه چه زما زغره راپیداکړی.

بیائې اوفرمائیل چه کله مدینې منورې ته تاسو واپس شئې نود رسول الله ﷺ خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه له لاړشه او هغه ته اوښایه چه د فلانکی په ما باندې دومره قرض دې او په فلانکی باندې زما دومره پیسې دی او زما فلانکې غلام آزاد دې(۱) بیائې اوفرمائیل چه ته دا د دروغو خوب مه ګڼړه چه بیا زما دا ټولې خبرې ضائع شی.

حضرت بلال رضی الله عنه زر راپاسیدو او خالدبن ولید رضی الله عنه ته ئی خوب بیان کړو. هغه چه د زغرې باره کښې کوم ځائ خودلې وو هم هلته پرته وه او صورت حال بالکل هم هغه وو کوم چه حضرت ثابت رضی الله عنه په خوب کښې ذکر کړې وو. بیا چه کله مدینې ته واپس شو نو د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه متعلق د امورو ذکر ئی اوکړو نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه د وفات نه پس د هغه وصیت نافذ کړو.

او دا دهغه خصوصیت دې. راوی فرمائی ((فلانعلم أحداً بعد ما مات أنفذ وصیته غیر ثابت بن قیس بن شماس رضی الله عنه)) (۲)

د حره په جنګ کښې د هغه درې خامن شهیدان شوې وو. (۳)

د امام بخاری نه علاوه امام ابوداود او امام نسائی رحمه الله (الیوم واللیلة) کښې د هغه نه احادیث اخستې دی.(۴)

او په بخاری شریف کښې د هغه صرف یو روایت دې. (۵)

قوله: قال: وذکر یوم الیمامة: فرمائی چه د یمامه د جنګ د ورځې ذکر ئی اوکړو.

د بخاری شریف په اکثرو نسخوکښې د واو سره ((وذکر)) او واوحالیه دې او د حموی په نسخه کښې بغیر د واو ((ذکر)) دې. (۶)

قوله: یمامه: یمامه د یمن یو ښاردې چه د طائف نه د دوو مرحلو په فاصله واقع دې. په دې مقام د تاریخ اسلام مشهور جنګ (حرب الیمامه) شوې وو. دا د ربیع الاول دولسم هجری واقعه ده. یو طرف ته مسلمانان ووچه د نبی کریم ﷺ د ختم نبوت د حفاظت کولو د پاره راغلی وو او بل طرف ته مسیلمه کذاب او د بنو حنفیه خلق ووچه د مسیلمه کذاب د

---

۱) (قال الحافظ: وسمی الواقدی فی کتاب الردة من وجه آخرمن أوصی بعتقه وهم: سعد وسالم. حواله بالا-
۲) (وانظر أیضاً لهذه القصة مجمع الزوائد)ج۹ص۳۲۲) والإصابة (ج۱ص۱۹۵)-
۳) (سیرأعلام النبلاء (ج۱ص۳۱۳)-
٤) (تهذیب الکمال (ج ٤ ص۳۷۱)-
۵) (خلاصة الخزرجی(ص۵۷)-
۶) (عمدة القاری (ج ١٤ ص۱۳۹)وفتح الباری (ج۶ص ۵۱)-

دروغو په نبوت نې ایمان راوړې وو. حضرت ابوبکر رضی الله عنه د هغوی د سرېکتنه کولو د پاره د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه په مشرئ کښې یو لښکر اولیګلو. د یمامه په مقام باندې د دې دواړو لښکرو مقابله اوشوه. د سخت جنګ نه پس د حضرت وحشی بن حرب رضی الله عنه او ابو دجانه سماك بن حرب رضی الله عنه په لاسونو مسیلمه کذاب دوزخ ته اورسیدو او د هغه ۲۱ زره سړی قتل کړیشو او د مسلمانانو د طرف نه تقریباً پنځه سوه کسان شهیدان شو. (۱) په کوموکښې چه اویا انصاری صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین وو. (۲)

قوله: قال: أتى أنس ثابت بن قيس، وقد حسر عن فخذيه: حضرت موسی بن انس رحمه الله فرمائی چه حضرت انس رضی الله عنه حضرت ثابت رضی الله عنه کره راغلو او په دې وخت کښې هغه خپلې دواړه پنډئ کولاؤکړې وې.

انس فاعل کیدو په وجه مرفوع او ثابت مفعولیت په وجه منصوب دې. (۳)

او ((وقد حسر...)) جمله حالیه ده، واو د حال دپاره دې. (۴) او د حسر معنی کشف ده اودا د باب ضرب نه دې. (۵)

ران ستر دې که نه؟: د حدیث په جمله کښې ((وقد حسر عن فخذیه)) نه په ظاهره دا معلومیږی چه فخذ سترنه دې ګنی که فخذ ستر کښې داخل وې نو حضرت ثابت رضی الله عنه به د هغې نه کپړه نه اخواکوله.

ظاهریه او امام بخاری رحمه الله چه د فخذ ستر کیدلو قائل نه دې هغه د حدیث باب سره په خپل مذهب باندې استدلال کړیدې. (۶)

اوس که د حضرت ثابت رضی الله عنه مسلك همدغه وی چه د ظاهریه دې یعنی فخذ (پنډئ) ستر کښې داخل نه دی نود حدیث باب د توجیه هډو ضرورت نشته (۷)

اوکه د هغه مذهب هغه نه وی چه د ظاهریه دې نو علامه ګنګوهی رحمه الله د حدیث باب توجیه دا فرمائیلې ((وقد علم ذلك بإخباره، لأنه رآه حاسراً فخذیه)) یعنی حضرت انس رضی الله عنه ته د هغه د پنډئ د کولاویدلو علم د هغه د خودلونه پس حاصل شو، نه چه هغه په ستر کولاویدلو سره اولیده.(۸)

مولانا حسین علی رحمه الله د حضرت ګنګوهی رحمه الله نه د حدیث باب توجیه دا نقل کړیده چه

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۳۹) وانظر أیضًا البدایة والنهایة (ج۶ص۳۲۳-۳۲۷)-

۲) (عمدة القاری (ج ۱٤ ص۱٤۱)-

۳) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۳۹)-

٤) (حواله بالا-

۵) (حواله بالا-

۶) (فتح الباری (ج۶ص۵۲) ولامع الدراری (ج۷ص ۲۲٤)-

۷) (تعلیقات لامع الدراری (ج۷ص ۲۲٤)-

۸) (لامع الدراری (ج۷ص ۲۲٤)-

حضرت انس رضي الله عنه د ثابت بن قيس په خدمت كښې حاضر شو او په دروازه كښې اودريدو ونى ونيل ((ياعم، مايحبسك أن لاتجيء؟)) بيا حضرت ثابت رضي الله عنه دروازې له راغلو او حضرت انس رضي الله عنه سره ئې څه وخت ناسته اوكړه او بيا د جهاد د پاره لاړل. (۱)
مطلب دا شو چه حضرت انس دننه داخل شوې نه وو بلكه هم په دروازه كښې ئې په ولاړه خبرې اوكړې. اوس دا لازم نه راځى چه حضرت انس رضي الله عنه د حضرت ثابت رضي الله عنه كولاوشوې پندئى ليدلې وې.
حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائى چه په دې كښې د فخذ د عورت او ستر نه كيدو څه دليل نشته، ځكه چه د صحابى فعل په مختلف فيه مسئله كښې حجت نه دې. (۲)

قوله: وهو يتحنط، فقال: ياعم، مايحبسك أن لاتجيء؟: دې وخت كښې هغه په حنوط لګولو كښې مشغول وو نو حضرت انس رضي الله عنه اوونيل اې تره تاڅه څيز رابندوى چه ته نه راځې؟

((هويتحنط)) جمله هم حاليه ده او ثابت بن قيس رضي الله عنه د حضرت انس رضي الله عنه نه مشر وودغه شان دهغوى تعلق د قبيله خزرج سره وو، په دې وجه حضرت انس رضي الله عنه هغه د تره سره مخاطب كړو. (۳)

علامه ابن الاثير مبارك الجزرى رحمه الله د ((وهويتحنط)) په تشريح كښې فرمائى ((أى يستعمل الحنوط فى ثيابه عند خروجه إلى القتال كأنه أراد بذلك الاستعداد للموت، وتوطين النفس عليه بالصبر على القتال)) (۴) يعنى هغه د جنګ د پاره راوتلو كښې په خپلو كپړو حنوط(خوشبو) لګوله، لكه چه د هغه مقصد د دې نه د مرګ تيارى اود جنګ په وخت كښې نفس په صبر باندې ثابت قدم ساتل وو.

د"ان لاتجيء" د اعراب تحقيق: په دې كښې دوه اعراب دى يو نصب، دوئم رفع.
د نصب په صورت كښې((ألا))مشدد دې او((لا)) زائده دې د دې د پاره ((تجيء)) به منصوبوى.
د رفع په صورت كښې ((ألا)) كښې ((لام)) مخففه دې په دې وجه به مرفوع وى (۵)

قوله: قال: الآن يا ابن أخى، وجعل يتحنط. يعنى من الحنوط: حضرت ثابت رضي الله عنه اوفرمائيل وراره! اوس دراوځم او بيا په حنوط لګولوكښې مشغول شو.((يعنى من الحنوط)) الفاظ تفسيريه دى چه په حديث كښې كوم ((يتحط)) واردشويدې هغه د حنوط نه مشتق دې.

---

۱) (تقرير الجنجچوهى على الصحيحين (ص۷۱)-
۲) (فيض البارى(ج۳ص۴۲۹) وانظر أيضًا التعليقات على فيض البارى المسمى البدر السارى-
۳) (فتح البارى (ج۶ص۵۱) وعمدة القارى (ج ۱۴ص۱۳۹)-
٤) (النهاية فى غريب الحديث والأثر(ج۱ص۴۵۰)-
۵) (شرح الكرمانى (ج۱۲ص۱۲۴) وعمدة القارى(ج۱۴ص۱۳۹)-

اوډ دي تفسیر وجه دا ده چه چاته دا وهم اونشي چه دا د ((حنطة)) نه مشتق دي. (۱)
علامه کرمانی رحمه الله د دې تفسیری جملې وجه دا بیانوی چه څوك په دې لفظ کښې تصحیف کولو سره د حناطي سره مشتق اونه ګرځوی. (۲) د کوم معنی چه د غنمو خرخولو ده. (۳)
بیا حضرت ثابت رضی الله عنه راغلو او کیناستو نو حضرت انس رضی الله عنه په خبروکښې د خلقو د تښتیدو ذکر اوکړو. یعنی حضرت ثابت بن قیس رضی الله عنه حضرت انس رضی الله عنه له راغلو اوکیناستو نو حضرت انس رضی الله عنه د هغه خلقو د خپل ځائ پریخودو ذکر اوکړو او دا چه په مسلمانانو کښې د شکست آثار پیدا کیږی. (۴)

قوله: فقال: هكذا عن وجوهنا حتى نضارب القوم: نو حضرت ثابت رضی الله عنه اوفرمائیل چه زمونږ د مخې نه اخوا شه چه مونږ په دښمن باندې حمله اوکړیشو.

((هكذا عن وجوهنا)) معنی ده ((افسحوا لی)) یعنی ماته لار راکړه او زما د مخې نه اخواشه. (۵)
علامه کرمانی اوعلامه عینی رحمهما الله دا جمله دحضرت انس رضی الله عنه قول ګرځولې دې او معنی ئی دا بیان کړیده چه زمونږ او د دښمن خلق یو بل سره یوځائ شو او مونږ دښمن بغیرد څه منع کونکې نه د وژلو قابل شو. (۶)

قوله: ماهكذا كنا نفعل مع رسول الله صلى الله عليه وسلم: مونږ چه به کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو نو داسې به مو نه کول
مقصد دا چه کله به مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په غزواتوکښې وو نو اولنی صف به خپل ځائ نه پریخودلو بلکه په خپل ځائ به کلك ولاړوو او دوئم صف به د هغوی امداد کولو. (۷)

((بئسما عودتم أقرانكم)): تاسو خپل حریف ته خراب عادت اچولې دې.

د اکثرو په روایت کښې هم داسې دی خو دمستملی په روایت کښې ((عودكم أقرانكم)) راغلې دې.
په اول صورت کښې ((أقرانكم)) به منصوب وی اودمستملی د روایت مطابق به مرفوع وی. (۸)
((أقران)) د قرن جمع ده او قِرن - بكسر القاف وسكون الراء - معنی مقابل یا بهادرنی کښې بې مثاله دې. او بفتح القاف وسكون الراء چه وی نو معنی یوشان عمر دې. (۹)

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص۵۲)-
۲) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۳٤)-
۳) (القاموس الوحید (ص۳۸۳) مادة حنطا-
٤) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۳٤) وشرح القسطلانی (ج۵ص۶۷)-
۵) (فتح الباری (ج۶ص۵۲)-
۶) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۳٤) وعمدة القاری (ج۱٤ص۱٤۰-
۷) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۳٤)-
۸) (فتح الباری (ج۶ص۵۲) وعمدة القاری (ج۱٤ص۱٤۰) شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۳٤)-
۹) (حواله بالا ومختار الصحاح (ص۵۳۲) مادة قرب-

او دَ حضرت ثابت رضي الله عنه مقصد دَ دې قول نه دَ شکست خوړونکو توبيخ کول دی چه تاسو خپل مقابل ته خراب عادت ورکړو تاسو اوتښتيدئې دَ څه په وجه چه دښمن په تاسو دلچسپی اخلی. (۱) يا ستاسو ملګرو تاسو ته دَ روستو کيدو خراب عادت درکړو چه ستاسو دَ پاره نقصانی او دَ دښمن دَ پاره فائده مند دې.

فقه الحديث دَ حديث باب نه يو څو فائدې مستنبط کيږی.

① په دې کښې دَ دې خبرې دليل دې چه دَ الله تعالی دَ پاره خپل ځان په هلاکت کښې اچول صحيح او جائز دی. او په دې معامله کښې سختوالې هم کولې شی او که په رخصت باندې قادر وی نو په دې باندې عمل نه کول هم صحيح دی.(۲)

② مړی دَ پاره خوشبولګول سنت دی ځکه چه دَ مرګ نه پس به دَ مړی واسطه دَ فرښتوسره وی.(۳)

③ په حديث باب کښې دَ جنګ نه تښتيدونکو دَ پاره سخت توبيخ بيان کړې شويدې. (۴)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث باب ترجمة الباب سره مطابقت ((**وهويتحنط**)) او ((**وجعل يتحنط يعنی من الحنوط**)) کښې دې. (۵)

قوله: رواه حماد عن ثابت عن أنس: حماد دا حديث ((**عن ثابت عن أنس**)) په طريق سره روايت کړيدې.

دَ مذکوره تعليق تخريج: امام بخاری رحمه الله چه دا کوم تعليق ذکر کړيدې دا ابن سعد(۶)، طرانی (۷)، حاکم (۸)، او برقانی رحمه الله په خپل مستخرج کښې موصولاً ذکر کړيدې.(۹)

دَ مذکوره تعليق مقصد: حافظ صاحب فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دَ دې تعليق په ذريعه اصل حديث طرف ته اشاره کړيده خو سره دَ حماد دَ روايت چه دَ موسی بن انس روايت نه اتم اواکمل دې خو هغوی دَ موسی بن انس مختصر حديث ذکرکړو او دَ اصل حديث طرف ته ئی تعليقاً اشاره اوکړه. (۱۰)

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص۵۲) وعمدة القاری (ج ۱٤ص۱٤۰)-
۲) (شرح ابن بطال (ج۵ص۵۲)-
۳) (حواله بالا (ص۵۳)-
٤) (حواله بالا-
۵) (عمدة القاری (ج ۱٤ ص۱۳۹)-
۶) (كذاقاله الحافظ فی افتح (ج۶ص۵۱) ولكن لم أجده مع تتبعی الشديد عند ابن سعد-
۷) (المعجم الكبير للطبرانی(ج۲ص۶۵) رقم (۱۳۰۷)-
۸) (المستدرک للحاكم (ج۳ص۲۳۵) كتاب معرفة الصحابة ذكر مناقب ثابت بن قيس....-
۹) (عمدة القاری(ج ۱٤ص۱۳۹) وفتح الباری (۶ص۵۲) وتغليق التعليق (ج۳ص٤۳۶)-
۱۰) (فتح الباری (ج۶ص۵۲)-

۴۰- باب: فَضْلِ الطَّلِيعَةِ

دَ طليعة مطلب: "طليعة" دَ لښكر هغه حصې ته وائى چه دَ انتظاماتو او دَ حال احوال دَ تحقيق دَ پاره دَ لښكر نه وړاندې ليګلې شى، دا اسم جنس دې او دا حصه مختصر هم كيديشى او لويه هم، په يو سړى باندې هم مشتمل كيديشى او په دوو هم. (۱)

دَ ترجمة الباب مقصد: امام بخارى رحمه الله دلته دَ طليعة فضيلت بيانوى چه دَ دې عمل ډير فضيلت دې نو كه چاته دا ذمه وارى وركړيشى نو هغه له شاته كيدل نه دى پكار. (۲)

[۲۶۹۱] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرٍ (۳) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَأْتِينِي بِخَبَرِ الْقَوْمِ يَوْمَ الْأَحْزَابِ قَالَ الزُّبَيْرُ أَنَا ثُمَّ قَالَ مَنْ يَأْتِينِي بِخَبَرِ الْقَوْمِ قَالَ الزُّبَيْرُ أَنَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيًّا وَحَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ [۲۶۹۲، ۲۸۳۵، ۳۸۸۷، ۶۸۳۳]

تراجم رجال

۱- ابونعيم: دا مشهور محديث ابونعيم الفضل بن دَ كين كوفى رحمه الله دې. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب فضل من استبرأ لدينه)) لاندې تيرشوى. (۴)

۲- سفيان: دا امام حديث، تبع تابعى ابوعبدالله سفيان بن سعيد الثورى رحمه الله دې دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب علامة المنافق)) لاندې راغلى دى. (۵)

۳- محمد بن منكدر: دا محمدبن منكدر بن عبدالله المدنى رحمه الله دې. (۶)

---

۱) (فتح البارى (ج۶ص۵۲) وعمدة القارى (۱۴ص۱۴۱) والنهاية فى غريب الحديث (ج۳ص۱۳۳)-

۲) (وعمدة القارى (۱۴ص۱۴۱)-

۳) (قوله: عن جابر رضى الله عنه: الحديث أخرجه البخارى أيضًا (ج۱ص۳۹۹) كتاب الجهاد والسير باب هل يبعث الطليعة وحده؟ رقم (۲۸۴۷) و(ج۱ص۴۲۰) باب السير وحده، رقم (۲۹۹۷) و(ج۱ص۵۲۷) كتاب فضائل أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم باب مناقب الزبير بن العوام رضى الله عنه رقم (۳۷۱۹) و(ج۲ص۵۹۰) كتاب المغازى باب غزوة الخندق وهى الأحراب رقم (۴۱۱۳) و(ج۲ص۱۰۷۸) كتاب أخبار الأحاد باب بعث النبى صلى الله عليه وسلم رقم (۷۲۶۱) ومسلم كتاب فضائل الصحابة باب نمن فضائل طلحة والزبير رضى الله عنهما رقم ۲۴۲ ۶) والترمذى كتاب المناقب باب ماجاء فى مناقب الزبير بن العوام رضى الله عنه باب قوله صلى الله عليه وسلم كالذى قبل مع قصة فيه رقم ۳۷۴۵) وابن ماجه كتاب السنة باب فصل الزبير رضى الله عنه رقم (۱۲۲)-

۴) (كشف البارى (ج۲ص۶۶۹)-

۵) (حواله بالا (ص۲۷۸)-

۶) دَ دوى دَ حالاتو دَپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب صب النبى صلى الله عليه وسلم وضوءه على المغمى عليه-

۴- جابر: دا مشهور صحابی حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه دې. (۱)

قوله: قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: من يأتيني بخبر القوم؟ يوم الأحزاب: حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ غزوه احزاب په ورځ اوفرمائیل چه ماله به دَ قوم خبر څوك راوړی؟

دَ قوم نه مراد دلته دَ بنوقریظه یهودیان دی اودَ یوم الاحزاب نه جنګ خندق مراد دې. په دې جنګ کښې دَ قریشو نه علاوه نور قبائل هم مسلمانانو سره دَ جنګ دَ پاره راغلی وو او دَ مدینې یهودیانو دا معاهده ماته کړې وه کومه چه دَ هغوی اودَ نبی علیه السلام په مینځ کښې شوې وه او دَ قریشو سره دَ مسلمانانو خلاف یوځائ شوی وو. (۲)

قوله: قال الزبير: أنا، ثم قال: من يأتيني بخبر القوم؟ قال الزبير: أنا: حضرت زبیر بن عوام رضی الله عنه اوفرمائیل چه زه، بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دَ قوم خبر به ماله څوك راوړی؟نو حضرت زبیر رضی الله عنه اووئیل زه.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم څو ځل ترغیب ورکړو؟ دَ حدیث باب نه معلومیږی چه دَ نبی علیه السلام او صحابه کرامو رضوان الله اجمعین په مینځ کښې سوال او جواب دوه ځل اوشو او دواړه ځل حضرت زبیر رضی الله عنه خپل نوم پیش کړو. خوامام نسائی رحمه الله یوروایت نقل کړیدې. فرمائی چه:

((قال وهب بن كيسان: أشهد لسمعت جابربن عبدالله رضی الله عنه يقول: لما اشتد الأمر يوم بني قريظه، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من يأتينا بخبرهم؟ فلم يذهب أحد، فذهب الزبير، فجاء بخبرهم، ثم اشتد الأمر أيضا، فقال النبي صلى الله عليه وسلم: من يأتينا بخبرهم؟ فلم يذهب أحد، فذهب الزبير، ثم اشتد الأمر أيضا، فقال النبي صلى الله عليه وسلم: من يأتينا بخبرهم؟ فلم يذهب أحد، فذهب الزبير، فجاء بخبرهم، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أن لكل نبي حواريا، وإن الزبير حواري))- (۳)

حضرت وهب بن کیسان رحمه الله فرمائی چه زه ګواهی ورکوم چه ما دَ حضرت جابر بن عبدالله صلی الله علیه وسلم نه داسې اوریدلی چه دَ بنوقریظه په جنګ کښې کله معامله سخته شوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل مونږ له به دَ هغوی خبر څوك راوړی؟ خو څوك هم لاړنه شو، نو حضرت زبیر لاړو، دَ هغوی خبرئې راوړلو، بیا معامله نوره سخته شوه نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو مونږ له به دَ هغوی خبرڅوك راوړی؟ خوڅوك هم لاړنه شو هم حضرت زبیر لاړو، بیا معامله په دریم ځل شدت اختیارکړو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل مونږ له به دَ هغوی خبرڅوك راوړی؟ نو هیڅ څوك لاړنشو هم حضرت زبیرلاړودهغوی خبرئې راوړو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل تحقیق دَ هر نبی یو حواری وی او زما حواری زبیر رضی الله عنه دې.

---

۱) (دَ دوی دَ حالاتودپاره اوګورئ کتاب الوضوء باب باب من لم یرالوضوء إلامن الخرجین.....-

۲) (عمدة القاری (ج ۱۴ص ۱۴۱)-

۳) (سنن النسائی الکبیر (ج۵ص ۲۶۴) کتاب السیر باب ذهاب الطلیعة وحده، رقم (ج۳ص ۸۸۴۳)-

نو په دې روايت كښې دا ذكر شو چه دا سوال جواب درې ځل شويدې او د بخارى شريف په روايت كښې اختصار دې. علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى ((وفيه أن الزبير توجه إليهم ثلاث مرات)) (۱)

ترغيب ئې په يوځائ وركړو كه مختلفو ځايونوكښې؟: دغه شان د حديث باب نه دا هم معلوميږى چه د حضور او صحابه كرامو رضى الله عنهم د ترغيب وركولو عمل هم په يومقام باندې شويدې، چه هغوى صلى الله عليه وسلم په يومقام باندې تشريف فرماوو او د صحابو نه ئې تپوس كولو چه ((من يأتينى بخبرالقوم؟))

ليكن دا صحيح نه دى بلكه په دريو ځايونوكښې داسې شويدى چه نبى عليه السلام په دريو مختلفو مقاماتوكښې تپوس كړيدې او دريواړه ځل حضرت زبير رضى الله عنه وروړاندې شويدې او خپل ځان ئې پيش كړيدې. نو هم د سنن نسائى هغه روايت كوم چه مونږ اوس ذكر كړوبه دې دلالت كوى. (۲)

د بنوقريظه دخبر راوړلودپاره كوم صحابى تلې وو؟: علامه سراج الدين بن الملقن رحمه الله په (التوضيح) كښې د خپل استاذ حافظ فتح الدين يعمرى رحمه الله نه دلته يو اشكال نقل كړيدې چه په اهل مغازى كښې خودا مشهوره ده چه د خبر راوړلو د پاره كوم سړې ليګلې شوې وو هغه حضرت حذيفه بن اليمان رضى الله عنه وو او دلته د بخارى په روايت كښې ذكر دى د حضرت زبير رضى الله عنه ؟

① په دواړو روايتونوكښې د تطبيق د پاره دا خبره كولې شى چه دا واقعه د يو وخت وى او بله واقعه د بل وخت وى په دې وجه هيڅ تعارض نشته.

② حافظ ابن حجرعسقلانى رحمه الله دا جواب ارشاد فرمائيلې دې چه په اصل كښې دا جدا جدا واقعات دى، حضرت زبير رضى الله عنه هم نبى عليه السلام ليګلې وو او حضرت حذيفه بن يمان رضى الله عنه هم. ليكن حضرت زبير رضى الله عنه خو ئې د دې خبرې د تحقيق د پاره روان كړې وو چه آيا بنوقريظه نقض عهد كړې دې كه نه؟ او قريشو سره هغوى سازباز كړيدې اوكه نه؟ او هغوى د مسلمانانو سره د جنګ كولو د پاره تيار دى كه نه؟ نو دا كارحضرت زبير رضى الله عنه ته سپارلې شوې وو.

تركومې چه د حضرت حذيفه رضى الله عنه د واقعې تعلق دې نو د هغه قصه داسې ده چه كله د كفارو ګيره په غزوه خندق كښې په مسلمانانو راتنګه كړيشوه او مختلف قومونه په هغوى راپريوتل. بيا روستو په دې قومونوكښې بې اتفاقى راغله او هريو قوم د بل قوم نه ويريدلو او الله تعالى په هغوى باندې سخته سيلئى راوستله اوحالات خراب شو نو هغه وخت حضور صلى الله عليه وسلم حضرت حذيفه رضى الله عنه اوليګلو چه د مشركانو حالت معلوم كړه راشه.

په صحيح مسلم كښې د حضرت حذيفه رضى الله عنه قصه ذكر ده هغه فرمائى، سخته سيلئى او يخنى وه او د شپې وخت وو، نبى كريم صلى الله عليه وسلم مونږ صحابه كرامو ته اوفرمائيل ((ألارجل يأتينى

۱) (شرح القسطلانى (ج۵ص۶۷)-

۲) (لامع الدرارى (ج۷ص۲۲۷)-

بخبر القوم، جعله الله معی یوم القیامة؟)) داحضور ﷺ درې ځل اوفرمائیل خو چا هم جواب ورنکړو نو رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل ((قم یاحذیفه، فأتنا بخبرالقوم)) ورسره هغوی ﷺ فرمائیلی وو چه څوك به وژنې نه. دې وانې چه دومره سخته یخنی وه چه تک ډېر ګران ووخو چه کله د حضور ﷺ په حکم باندې زه لاړم نو داسې معلومیدله لکه چه زه په ګرم حمام کښې یم او د یخنئی څه نوم او نښه باقی نه وه. دې نه پس زه هغه مذکوره مقام ته اورسیدلم نو اومی کتل چه ابوسفیان(رضی الله عنه) خپله ملاګرموی، ما خیال راغلو چه ډېره ښه موقع ده چه دې خو ختم کړم لیکن د حضور ﷺ خبره رایاده شوه چه څوك اونه وژنې نو ما هغه پرېخودو. کله چه زه د هغه ځائ نه واپس راغلم او هغه کار چه ماته سپارلې شوې وو پوره شو نو دومره یخنی می اوشوه چه د هغې انتها نه وه. نو حضور ﷺ خپل څادر په ما باندې واچولو او زه اوده شوم بیا چه کله د سحر د مانځه وخت شو نو حضور ﷺ او وفرمائیل ((قم یانومان)) اې ډېر خوب کوتکیه پاسه. (۱)

نو چه کله دا دواړه جدا جدا واقعات دی نو د تعارض هډو څه سوال نه پیداکیږی. (۲)

د نبی کریم ﷺ ترغیب اود نوروصحابه کرامو سکوت: دلته یو سوال دا پیدا کیږی چه کله نبی علیه السلام ((من یأتینی بخبرالقوم؟)) اوفرمائیل نود حضرت زبیر رضی الله عنه نه علاوه نورو صحابه کرامو ولې لبیك اونه وئیل او چپ پاتې شو سره د دې چه هغوی خو د حضور ﷺ د پاره ځان هم قربانی کولو؟

حضرت ګنګوهی رحمه الله د دې سوال مختلف جوابونه ذکر کړی دی:

① سره د دې چه د طلیعه فضیلت په خپل ځائ دې لیکن صحابه کرامو د حضور صحبت نه پرېخودلوممکن دی چه د حالاتو دنزاکت د وجه د حضور ﷺ نه جدا کیدل ئې نه وی خوښ کړی.

② دا هم ممکن دی چه د حاضرینو نه هر یو جواب او لبیك وئیل غوښتل خو چه کله هغوی اوکتل چه حضرت زبیر رضی الله عنه په جواب کښې رومبې والې اوکړو نو هغه حضرات چپ شو.

③ بیا دا خبره هم ده چه په دې دریو موقعوکښې ټول صحابه د حضور ﷺ سره حاضر نه وو بلکه څه لږ شان وو نو په دې وجه ممکن دی چه د دې خطاب مخاطب لږ شان خلق وی ټول نه وی. (۳)

قوله: فقال النبي صلى الله عليه وسلم: إن لكل نبي حوارياً، وحواري الزبير:

نو حضور ﷺ اوفرمائیل د هر یو نبی د پاره یو (خاص) حواری (امدادی) وی او زما حواری زبیر دې.

د حواری معنی: د حواری معنی خاص امدادی او ناصر ده. د حضرت عیسی علیه السلام ملګروته په

---

۱) (الحديث أخرجه مسلم كتاب الجهاد والسير باب غزوة الأحزاب رقم (٤٦٤)-

۲) (فتح الباری (ج۷ص٤٠٧)-

۳) (لامع الدراری ج۱ ص ۲۲۸-۲۳۰)-

قرآن كريم كښې ﴿الحواريون﴾(۱) سره تعبيركړېشوي دي. ځكه چه هغوی د حضرت عيسى عليه السلام خاص سړي او امدادي ملګري وو. د دې اصل ((تحوير)) دې. د كوم معنى چه ((تبييض)) ده، يو قوم دا هم دې چه د حضرت عيسى عليه السلام دا دوستان يا شاګردان دوبيان ووپه دې وجه هغوی ته ﴿الحواريون﴾ اووئيلې شو. (۲)

علامه ابن منظور افريقى رحمه الله ليكى : ((التحوير التبييض، والحواريون: القصارون لأنهم كانوا قصارين، ثم غلب حتى صار كل ناصر وكل حميم حواريا))(۳)

حضرت زبير رضي الله عنه ته د حوارى وئيلووجه: علامه مهلب رحمه الله فرمائى چه د حديث باب نه معلومه شوه كوم سړې چه د دښمن حال معلومولوډپاره لاړشى هغه ته ناصر وئيلې كيديشى، ځكه چه حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت زبير رضي الله عنه ته حوارى وئيلې دې. د دې تسميه مطلب دا دې چه كله حضرت عيسى عليه السلام دا اوفرمائيل ﴿من أنصاري إلى الله قال الحواريون نحن أنصار الله﴾ نو د حوارييڼو نه علاوه بل چا لبيك اونه وئيل. دغه شان چه كله نبى عليه السلام د صحابه كرامو نه دا معلوم كړل ((من يأتيني بخبرهم؟)) نو د حضرت زبير رضي الله عنه نه علاوه بل چا لبيك اونه وئيل. په دې وجه حضور صلى الله عليه وسلم حضرت زبير ته د حضرت عيسى عليه السلام د حوارييڼو سره تشبيه وركړه او د هغوى په نوم ئې ياد كړو. (۴)

نو بيا چه داخبره ثابته او واضحه شوه چه طليعه ته ناصر وئيلې كيديشى نود دې ثواب هم هغه دې چه د مقاتل مدافع دې. (۵)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حديث ترجمة الباب سره مناسبت بالكل واضح دې. (۶) چه په باب كښې د طليعه ذكر دې او په حديث كښې هم د دې بيان دې.

۴۱- بَاب: هَلْ يُبْعَثُ الطَّلِيعَةُ وَحْدَهُ

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخارى رحمه الله داخودلى دي چه د طليعه په توګه يو سړې ليګل هم صحيح دى. لكه چه حضور صلى الله عليه وسلم حضرت زبير رضي الله عنه ليګلې وو او جواب د استفهام محذوف دې يعنى ((يجوز بعثه وحده))(۷)

---

۱) (الصف: ۱۴)-
۲) (عمدة القارى (ج ۱۴ص ۱۴۱)-
۳) (لسان العرب(ج ۴ص ۲۱۹-۲۲۰)-
۴) (شرح ابن بطال (ج۵ص۵۳)-
۵) (حواله بالا(۵۴)-
۶) (عمدة القارى (ج ۱۴ص ۱۴۱)-
۷) (عمدة القارى (ج ۱۴ص ۱۴۲)-

[۲۶۹۳] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُنْكَدِرِ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا(۱) قَالَ نَدَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ قَالَ صَدَقَةُ أَظُنُّهُ يَوْمَ الْخَنْدَقِ فَانْتَدَبَ الزُّبَيْرُ ثُمَّ نَدَبَ النَّاسَ فَانْتَدَبَ الزُّبَيْرُ ثُمَّ نَدَبَ النَّاسَ فَانْتَدَبَ الزُّبَيْرُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيًّا وَإِنَّ حَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ [ر: ۲۶۹۱]

تراجم رجال

۱- صدقه: دا ابوالفضل صدقه بن الفضل المروزى رحمه الله دې.(۲)

۲- ابن عُيَينه: دا مشهور محدث سفيان بن عُيَينه بن ابى عمران كوفى رحمه الله دې. دَ دۀ مختصر حالات ((بدء الوحی)) رومبی حدیث کښې (۳) او تفصیلی حالات ((کتاب العلم باب قول المحدث حدثنا أو أخبرنا وأنبأنا)) لاندې تیرشوی دی. (۴)

۳- ابن المنکدر: دا محمدبن منکدر بن عبدالله مدنی رحمه الله دې. (۵)

۴- جابر بن عبدالله: دا مشهور صحابی حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه دې. (۶)

قوله: قال: ندب النبی صلی الله علیه وسلم الناس: حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه فرمائی چه نبی علیه السلام خلقو ته آواز ورکړو. ندب دَ باب ضرب نه دې دَ دې مصدر ندبا دې اودَ دې معنی خوك راغوښتل او متوجه كول دی.

قوله: قال صدقة: أظنه یوم الخندق: صدقه راوی وائی چه زما خیال دې دَ جنګ خندق ورځ وه. یعنی صدقه بن الفضل چه په دې حدیث کښې دَ بخاری رحمه الله شیخ دې هغه فرمائی چه زما خیال دا دې چه دا راغوښتل دَ جنګ خندق په ورځ وو، هغه ته دلته شك كیږی خو دغه روایت امام حمیدی په خپل مسند کښې دَ ابن عُیَینه رحمه الله نه روایت کړیدې په دې کښې بغیردَ شك نه یوم الخندق دې. (۷)

قوله: فانتدب الزبیر: نو حضرت زبیر رضی الله عنه جواب ورکړو. مطلب دا دې چه کله حضور صلی الله علیه وسلم خلقوته آواز ورکړو او خبردار ئې کړل نودَ هغه آواز جواب صرف حضرت زبیر رضی الله عنه ورکړو.

---

۱) (قوله: جابر بن عبدالله رضی الله عنهما: الحدیث مرتخریجه فی الباب السابق-
۲) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګوریْ کتاب العلم باب العلم والعظة باللیل-
۳) (کشف الباری (ج۱ص۲۳۸)-
٤) (کشف الباری (ج۳ص۱۰۲)-
۵) دَدوی دَ حالاتودَ پاره اوګوریْ کتاب الوضوء باب صب النبی صلی الله علیه وسلم وضوءه علی المغمی علیه-
۶) (دَدوی دَحالاتودَپاره اوګوریْ کتاب الضوء باب من لم یر الوضوء إلامن المخرجین من القبل والدبر
۷) (عمدة القاری (ج١٤ص١٤٢) ومصباح اللغات (ص٨٦٣) مادة ندب-

((انتدبه الأمر)) معنى دَ چا په راغوښتوباندې جواب ورکولو ته وائى. (۱)
دَ حديث باب نه دا فائده مستنبط شوه چه يوازې سړى له خان له سفركول جائز دى او په دې باره كښې چه څه هم وارد شوى دى هغه دَ څه ضرورت يا حاجت دَ نه كيدو په صورت كښې دى.(۲) دَ دې سلسلې نور تفصيلات به ان شاء الله ((باب السيروحده)) لاندې راځى.
او په حديث باب سره متعلق نور بحثونه په تيرو شوو بابونوكښې مونږ ذكر كړى دى.
دَ حديث دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث ترجمة الباب سره مناسبت واضح دې. چه حضور ﷺ حضرت زبير رضی الله عنه يواځې دَ دښمن جاسوسئ دَ پاره روان كړې وو. دَ څه نه چه معلومه شوه چه په طليعه كښې يو سړې ليګل هم جائز دى.

۴۲-بَاب: سَفَرِ الاِثْنَيْن

دَ ترجمة الباب مقصد: امام بخارى رحمه الله دلته دا ښائى چه دَ دوو سړو په يوځائ سفر كولو جائز او صحيح دى.(۳) حافظ صاحب فرمائى چه په دې باب كښې امام بخارى رحمه الله دَ دې حديث دَ ضعف طرف ته اشاره كوى كوم چه امام ابوداود(۴) ترمذى(۵) او نورو حضراتو (۶) روايت كړيدې. عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده په طريق سره مرفوع منقول دى چه ((قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الراكب شيطان، والراكبان شيطانان، والثلاثة ركب)) خو دا روايت دَ امام بخارى رحمه الله په نزد دَ استدلال قابل نه دې. په دې وجه هغه وائى چه كه دوه كسان هم سفر كوى نو هيڅ بدييت نشته او په دليل كښې دَ ترجمة الباب لاندې دَ حضرت مالك بن الحويرث رضی الله عنه روايت نقل كوى. (۷)
پاتې شو هغه دَ سنن حديث نو حافظ ابن حجر فرمائى چه هغه حديث شريف هم صحيح الاسناد دې. ابن خزيمه او حاكم رحمهما الله (۸) هم دا صحيح ګرځولې دې. او امام حاكم دا دَ حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه هم روايت كړيدې. (۹)

---

(۱) (عمدة القارى (ج ۱٤ص ۱٤۲) ومصباح اللغات (ص ۸۶۳) مادة ندب-
۲) (فتح البارى (ج ۶ص ۵۳)-
۳) (عمدة القارى (ج ۱٤ص ۱٤۲) وفتح البارى (ج ۶ص ۵۳)-
٤) (سنن أبى داؤد كتاب الجهادباب فى الرجل يسافر وحده رقم (۲۶۰۷)-
۵) (سنن الترمذى أبواب الجهاد باب ماجاء فى كراهية أن يسافر الرجل وحده رقم (۱۶۷٤)-
۶) (رواه الإمام مالك بن أنس أيضاً فى المؤطأ (ج ۲ص ۹۷۸)فى الاستئذان باب ماجاء فى الوحدة فى السفر رقم (۳۵)
۷) (فتح البارى (ج ۶ص ۵۳)-
۸) (المستدرك للحاكم (ج ۳ص ۱۰۲) كتاب الجهاد باب التشديد فى السفر بدون الثلاثة-
۹) (الحديث أخرجه الحاكم وصححه (ج ۲ص ۱۰۲) كتاب الجهاد باب التشديد فى السفر بدون الثلاثة-

په دې وجه دَ دې روايت خو دَ سره ردکولې نشي خو دَ دې متعلق به دا اووئيلى شى چه دا په خاص حالاتو محمول دې. امام طبري رحمه الله فرمائى چه ((الراكب شيطان والراكبان شيطانان .....)) كښې يوازې يا دَ دوو سړو په يو ځائ دَ سفر كولو كومه نهى او زجر وارد شويدې هغه دَ ادب په توګه دې. ځکه چه يوازې سړې دَ ويرې او ځان له والى ښکار کيږى. په دې وجه دا نهى تحريمي نه ده چه دا سفر به حرام وى. ځکه که يوازې سړې په ځنګل تيريږى يا داسې که په ځان له ځائ كښې په يوخالى کور کښې شپه تيروى نو هغه دَ ويرې نه په امن کښې كيدې نشى خاص كر كه دَ هغه زړه كمزورې وى او خيالات ئى خراب وى.

او دَ دې باره کښې دَ ټولونه ښه دا دى چه خلق په دې باره کښې مختلف دى څوك ويريږى او څوك بالكل نه ويريږى نو دا به ونيلى شى چه كومه نهى وارد شويده هغه ((حسماللمادة)) ده او دا نهى دې صورت ته شامل نه ده چه واقعى څه حاجت يا ضرورت پيش شى.(١)

په دې مسئله كښې نور تفصيل به ان شاء الله ((باب السير وحده)) لاندې راځى.

[۲۹۹۳] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا أَبُو شِهَابٍ عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ (۲) قَالَ انْصَرَفْتُ مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَنَا أَنَا وَصَاحِبٍ لِي أَذِّنَا وَأَقِيمَا وَلْيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا [ر: ۶۰۲]

تراجم رجال

۱- احمد بن يونس: دا احمدبن عبدالله بن يونس تميمى كوفى رحمه الله دې. ليكن دَ نيكه په نسبت يعنى احمدبن يونس سره مشهور دې. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب من قال: أن الإيمان هو العمل)) لاندې تيرشوى دى. (٣)

۲- ابو شهاب: دا ابوشهاب موسى بن نافع الحناط رحمه الله دې. (۴)

۳- خالد الحذاء: دا مشهور محدث ابوالمنازل خالدبن مهران حذاء بصرى رحمه الله دې. دَ ده حالات ((كتاب العلم باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: اللهم علمه الكتاب)) لاندې تيرشوې دى.(٥)

۴- ابوقلابه: دامشهور تابعى عبدالله بن زيدجرمى رحمه الله دې. دَ دوى مختصر حالات ((كتاب

١) (فتح البارى (ج۶ص۵۳-٥٤) وعمدة القارى (ج ١٤ص١٤٢)-
٢) قوله: عن مالک بن الحويرث: الحديث مر تخريجه فى كتاب الأذان باب من قال: ليؤذن فى السفر مؤذن واحد
٣) (كشف البارى (ج٢ص١٥٩)-
٤) (دَ دوى حالاتودَ پاره اوګورئ كتاب الحج باب التمتع والقران...)-
٥) (كشف البارى (ج٣ص٣٦١)-

الإیمان باب حلاوة الإیمان)) په ذیل کښې راغلی دی. (۱)

۵- **مالك بن حویرث:** دا دَ رسول الله ﷺ صحابی حضرت مالك بن الحویرث ابوسلیمان رضي الله عنه دي. دَ ده حالات ((کتاب العلم باب تحریض النبی صلی الله علیه وسلم وفد عبد القیس علی أن یحفظوا الإیمان)) لاندې تیرشو. (۲)

تنبیه: دا حدیث سره دَ تشریحاتو ((کتاب الأذان)) کښې تیرشو.

دا حدیث دَ ترجمة الباب په ذیل کښې دَ ذکرکولو مقصد: ابن التین رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دلته دَ حضرت مالك بن الحویرث رضي الله عنه حدیث ذکر کولو سره دا اشاره فرمائی چه دَ دې حدیث په بعض طرق کښې دا صراحت موجود دې چه حضور علیه السلام هغه ته او دَ هغه ملګری ته دا پورته ذکر شوې ارشاد هغه وخت فرمائیلی وو کوم وخت چه دې حضراتو دَ خپل قوم طرف ته دَ تلو اراده اوکړه نو دَ هغوی ﷺ دې اجازت سره دَ دوو سړو دَ سفر په جواز باندې په استدلال کولې شی. (۳)

دَ امام داودی غلط فهمی او دَ هغې وضاحت: ابن التین رحمه الله فرمائی چه امام داودی دَ ترجمة الباب دَ الفاظونه داګنړلی چه امام بخاری رحمه الله دلته سفریوم الإثنین (یعنی دَ پیرَ ورځ سفر) بیانوی. بیائې په امام صاحب باندې اعتراض اوکړو چه دلته خو په حدیث کښې دَ یوم الإثنین دَ سفر هیڅ تذکره نشته.

علامه عینی رحمه الله دَ دې اعتراض جواب ورکولو سره فرمائی: ((وهذا لیس بشیء لأنه لم یرد به إلا سفر الرجلین لأنه تقدم ذکر سفر الرجل وحده، ثم أتبعه ببیان سفر الرجلین، ولو نظر متن الحدیث لوضح له بخلاف قوله، وسفر یوم الإثنین إنما هو مذکور فی الحدیث الثلاثة الذین تخلفوا عن تبوك، قال کعب: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یحب أن یسافر یوم الإثنین ویوم الخمیس)) (۴)

یعنی دَ هغه دا اعتراض بالکل دَ توجه قابل نه دې ځکه چه دَ امام بخاری مقصد دَ دې نه صرف دَ دوو سړو دَ سفر بیان دې. دَ دې دَ پاره دَ دې نه وړاندې دَ یو سړی دَ سفر بیان اوشو بیائې دَ دې نه پس دَ دوو سړو دَ سفر ذکر اوکړو. که چرې داودی دَ حدیث متن ته کتلې وې نو هغه ته به دَ خپل اعتراض خلاف معلوم شوې وو.

پاتې شو سفر دَ یوم الإثنین نو دَ دې دریو صحابه کرامو په حدیث کښې ذکر دی کوم چه دَ غزوه تبوك نه پاتې شوی وو. حضرت کعب بن مالك رضي الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ به دَ پیر او زیارت دَ ورځ سفر خوښولو.

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص۲۶)-

۲) (کشف الباری (ج۳ص۵۰۸)-

۳) (فتح الباری (ج۶ص۵۳)-

۴) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۴۲)-

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث مناسبت ترجمة الباب سره واضح دې (۱) چه حضرت مالك بن حویرث رضی الله عنه اود هغه ملګری ته هغوی ﷺ د سفر کولو اجازت ورکړې وو د څه نه چه د دوو سرو د سفر جواز معلومیږی.

۴۳-بَاب: الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله دلته دا خودل غواړی چه د اسونو په تندوکښې به د قیامت پورې خیر او برکت قائم وی. او دلته هغوی د خپل عادت موافق د حدیث الفاظ ترجمة الباب جوړکړی دی. (۲)

اود دې ترجمه لاندې هغوی درې احادیث ذکرکړی دی کومو کښې چه رومبې د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دې.

[۲۶۹۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا(۳) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَيْلُ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ[۳۴۴۴]

تراجم رجال

۱-عبدالله بن مسلمه: دا عبدالله بن مسلمه بن قعنب قعنبی رحمه الله دې.

۲- مالك: دا امام دارالهجرة امام مالك بن انس الاصبحی رحمه الله دې. د دې دواړو حالات ((کتاب الایمان باب من الدین الفرار من الفتن)) لاندې تیرشوی دی. (۴)

۳-نافع: دا ابوسهیل نافع بن مالك بن ابی عامر اصبحی رحمه الله دې. د امام مالك رحمه الله تره دې. د ده حالات ((کتاب الایمان باب علامة المنافق)) لاندې تیرشو.(۵)

۴-عبدالله بن عمر: دا مشهورصحابی حضرت عبدالله بن عمر بن الخطاب رضی الله عنهما دې. دده حالات(کتاب الایمان باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: بنی الإسلام علی خمس) لاندې راغلی دی(۶)

---

۱) (حواله بالا(ص۱۴۳)-

۲) (فتح الباری (ج۶ص ۵۴) وعمدةالقاری)ج ۱۴ص۱۴۳) وکشف الباری (ج۱ص۱۶۸)-

۳) (قوله: عن عبدالله بن عمر رضی الله عنهما: الحدیث أخرجه البخاری أیضاً (ج ۱یص ۵۴) کتاب المناقب باب بعد باب سؤال المشرکین أیریهم... رقم (۳۶۴۴) ومسلم کتاب الإمارة باب الخیل فی نواصیها الخیر إلی یوم القیامة، رقم (۴۸۴۵) والنسائی کتاب الخیل باب فتل ناسیة الفرس رقم (۳۶۰۳) وابن ماجه أبواب الجهاد باب ارتباط الخیل فی سبیل الله رقم (۲۷۸۷)-

۴) (کشف الباری (ج۲ص ۸۰)وأیضاً انظر لترجمة مالک بن أنس: کشف الباری (ج۱ص ۲۹۰)-

۵) (کشف الباری (ج۲ص ۲۷۱)-

۶) (کشف الباری (ج۱ص۶۳۷)-

قوله: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الخيل في نواصيها الخير إلى يوم القيامة: حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل دَ اسونو تندو سره دَ قيامته پورې خير تړلې دې.

دَ خيل نه څه مراد دې؟: دلته دَ خيل نه هغه اسونه مراد دى كوم چه دَ جهاد دَ پاره اوساتلې شى او په هغې جنګ اوکړيشى. په دليل هغه حديث شريف دې كوم چه څلور بابه پس راځى چه ((الخيل لثلاثة)). (۱)

په مسند احمد كښې دَ حضرت اسماء بنت يزيد رضي الله عنها مرفوع حديث دې:

((الخيل في نواصيها الخير معقود إلى يوم القيامة، فمن ربطها عُدّة في سبيل الله، وأنفق عليه إحتسابا كان شبعها وجوعها وريها وظمؤها وأرواثها وأبوالها فلاحا في موازينه يوم القيامة)) (۲)

يعنى دَ اسونو تندو پورې دَ قيامته پورې خير او بركت تړلې دې. چا چه دا دَ الله تعالى په لار كښې دَ جهاد دَ پاره تياركړې وى او دَ ثواب نيت لرلو سره په دې باندې خرچه كړې وى نو دَ هغه مړيدل، اوږيكيدل، دَ هغه خړوبيدل او دَ هغه تږې پاتې كيدل، دَ هغه خاشتړه او دَ هغه متيازې به دَ قيامت په ورځ په تله كښې كاميابى وى.

او خيل ئې ځكه ذكر كړو چه دا دَ جهاد سامان دې اوتخصيص بالذكر وجه دا ده چه په هغه زمانه كښې دَ دې نه لوئ دَ جهاد سامان نه وو ګنى مقصود دَ خيل تعيين نه دې بلكه دَ جهاد فضيلت بيانول دى چه په جهاد كښې دَ امت مسلمه دَ پاره خير او بركت دې. (۳)

دَ نواصى مطلب اودَ دې مراد: نواصى دَ ناصية جمع ده اودَ دې معنى تندې دې. خو دلته په حديث كښې ناصية نه هغه ويښته مراد دى چه دَ اس په تندى باندې زوړند وى. (۴)

او بعض حضراتو فرمائيلى دى چه ناصيه دَ اس دَ ټول ذات نه كنايه ده دَ عربوخلق وائى ((فلان مبارك الناصية)) او دَ دې نه پوره انسان يا ذات اخلى. (۵)

ولې حافظ ابن حجر رحمه الله داخبره بعيده ګرځولې ده چه دَ ناصيه نه پوره ذات مراد واخستلې شى نو دَ باب په دريم حديث كښې دا معنى صحيح نه ګرځى. نور فرمائى چه امام مسلم دَ حضرت جرير رضي الله عنه روايت نقل كړيدې په دې كښې: ((قال: رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم يلوى ناصية فرسه بإصبعه ويقول....)) (۶)

---

۱) (فتح البارى (ج۶ص۵۵) وعمدة القارى (ج۱۴ص۲۷۳)-
۲) (مسند أحمد (ج۶ص۴۵۵)-
۳) (فيض البارى (ج۳ص۴۳۰)-
۴) (فتح البارى (ج۶ص۵۵) وعمدة القارى (ج۱۴ص۱۴۳)-
۵) (حواله بالا وشرح الكرمانى(ج۱۲ص ۱۳۶) وابن بطال (ج۵ص۵۷)-
۶) (صحيح مسلم (ج۲ص۱۳۲)كتاب الإمارة باب فضيلة الخيل وأن الخير معقود بنواصيها رقم (۴۸۴۷)-

او پوره حديث ني ذكر كړېږه دې وجه هم ناصيه مراد دهٔ.
اود دي د تخصيص بالذكر وجه دا ده چه د اس په ذريعه اقدام على العدو اوكړېشي په خلاف د روستني حصې خكه چه په دې كښې د ادبار اشاره موندلې شي. (۱)
د الخيرنه څه مراد دي؟ د الخير نه مراداجر او غنيمت دي لكه چه د وړاندينى باب په حديث كښې پخپله حضور ﷺ اجر او غنيمت خيرګرځولې دې. ((**الخيل معقودفى نواصيها الخيرإلى يوم القيامة: الأجروالمغنم**)) (۲) او ((**الأجروالمغنم**)) الفاظ خو يا د خير سره بدل دى يا د مبتداء محذوف خبر دې. ((**أى هوالأجروالمغنم**)) (۳)
اود مسلم شريف د روايت نه هم د دې تائيد كيږى چه هلته د جرير عن حصين په روايت كښې دى ((**قالوا: بم ذاك يا رسول الله؟ قال: الأجروالمغنم**))(۴)
اوبعض حضراتو فرمائيلى دى دلته د خير نه مراد مال دې. علامه خطابى رحمه الله فرمائى چه په حديث كښې د دې خبرې خبر وركړېشويدې چه كوم مال د اسونو په تيزو زغلولو حاصل شى هغه د ټولو نه بهترين او پاك مال دې. څكه چه عرب مال ته خير وائى هم دينه د الله تعالى قول دې: ﴿**كتب عليكم إذا حضر أحدكم الموت إن ترك خيرا**﴾(۵) أى: مالاً (۶)
علامه ابن عبدالبر رحمه الله په ،،والتمهيد،، كښې فرمائى.
په دې حديث كښې د اس حاصلولو ترغيب دې او دا اسونه د ټولو څناورو نه غوره دى څكه چه د نبى كريم ﷺ نه دا قسم ارشاد د بل يو څناور د پاره سوا د اس نه نه دې نقل شوې په دې كښې د نبى كريم ﷺ د طرف نه د اس تعظيم دې. د دې په حصول باندې ترغيب دې او د دې خبرې تحريص دې چه د الله تعالى په لاركښې د جهاد د پاره دا تياره وه او ترلې شى څكه چه دا د جهاد په قوى آلاتوكښې دې. دا اس كوم چه د جهاد د پاره تياركړېشى هم هغه د كوم په تندى كښې چه خير دې. (۷)
د نسائى شريف په روايت كښې راځى چه نبى كريم ﷺ ته د ښځونه پس د ټولو نه زيات اسونه خوښ وو.(۸)
تنبيه: دلته امام بخارى رحمه الله چه كوم حديث د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ذكر كړيدې په هغې كښې د معقودلفظ نشته د موطا په روايت كښې هم داسې دې.(۹) چه په دې كښې

---

۱) (كشف البارى (ج۶ص۵۵-۵۶)-
۲) (صحيح البخارى (ج۱ص۳۹۹) كتاب الجهاد باب الجهاد ماض مع البروالفاجر. رقم (۲۸۵۲)-
۳) (فتح البارى (ج۶ص۵۵)-
٤) (صحيح مسلم (ج۲ص۱۳۶) كتاب الإمارة باب فضيلة الخيل وأن الخير معقود بنواصيها رقم (۴۸۵۰)-
۵) (البقرة:۱۸)-
۶) (أعلام الحديث للخطابى(ج۲ص ۳۷٤)-
۷) (التمهيد(ج۱٤ص۹۶)-
۸) (سنن النسائى (ج۲ص۱۲۲) كتاب الخيل باب حب الخيل رقم(۳۵۹٤)-
۹) (الموطأ للإمام مالک بن أنس كتاب الجهاد باب ماجاء فى الخيل.....رقم (٤٤)-

معقود لفظ نشته. خو اسماعيلى همدغه روايت عبدالله بن نافع عن مالك په طريق سره نقل كړو په دې كښې دا لفظ موجود دې. دغه شان هم بخارى كښې علامات النبوة لاندې دا حديث ((عن عبيدالله أخبرني نافع عن ابن عمر رضي الله عنه)) (۱) په طريق سره مروى دې. په دې كښې هم د معقود لفظ موجود دې ليكن دا صرف د كشميهنى په روايت كښې دې. (۲)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره د حديث مطابقت بالكل واضح دې.

(۳) او هغه خير د اسونو تندو سره تړلې دې هم د دې په ترجمه كښې ذكر دې او همدغه د حديث مضمون دې.

د باب دوئم حديث د حضرت عروة بن الجعدر رضي الله عنه دې.

[۲٦٩٥] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ حُصَيْنٍ وَابْنِ أَبِي السَّفَرِ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الْجَعْدِ (۴) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ قَالَ سُلَيْمَانُ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ تَابَعَهُ مُسَدَّدٌ عَنْ هُشَيْمٍ عَنْ حُصَيْنٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ [۲٦۹۷، ۲۹۵۱]

تراجم رجال

۱- حفص بن عمر: دا حفص بن عمر بن حارث رحمه الله دې. (۵)

۲- شعبه: دا اميرالمؤمنين فى الحديث ابوبسطام شعبه بن الحجاج عتكى رحمه الله دې. د دوى مختصر حالات ((كتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده)) لاندې تيرشوى دى. (۶)

۳- حصين: داحصين بن عبدالرحمن السلمى رحمه الله دې. (۷)

۴- ابن أبى السفر: دا عبدالله بن ابى السفر سعيد ثورى كوفى رحمه الله دې. د ده حالات هم

---

۱) (صحيح البخارى كتاب المناقب باب بعد سؤال المشركين أن يريهم... رقم (۳٦٤٤)-

۲) (كشف البارى (ج۶ص ۵٤)-

۳) (عمدةالقارى (ج ١٤ص١٤٣)-

٤) (قوله: عن عروة بن الجعد: الحديث أخرجه البخارى أيضًا (ج١ص٣٩٩) كتاب الجهاد باب الجهاد ماض مع البر والفاجر رقم (٢٨٥٢) و(ج١ص٤٤٠) كتاب فرض الخمس باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: أحلت لكم الغنائم رقم (٣١١٩) و(ج١ص٥١٤) كتاب المناقب باب بعد باب سؤال المشركين أن يريهم... رقم (٣٦٤٣)ومسلم كتاب الإمارة باب فضيلة الخيل.... رقم (٤٨٤٩-٤٨٥٠) والترمذى أبواب الجهاد باب ماجاء فى فضل الخيل رقم (١٦٩٤ والنسائى كتاب الخيل باب فتل ناصية الفرس رقم (٣٦٠٤-٣٦٠٧) وابن ماجه أبواب التجارات باب اتخاذ الماشية رقم (٢٣٠٥) وأبواب الجهاد باب ارتباط الخيل فى سبيل الله رقم (٢٧٨٦)

۵) (د دوى د حالاتودپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب التيمن فى الوضوء والغسل-

۶) (كشف البارى (ج١ص٦٧٨)-

۷) (د دوى د حالاتودپاره اوګورئ كتاب مواقيت الصلاة باب الأذان بعد ذهاب الوقت-

((كتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده)) لاندې تيرشوى دى. (۱)

۵-الشعبى : دا ابوعمروعامر بن شراحيل شعبى كوفى رحمه الله دې. دَ ده حالات هم دَ مذكوره باب لاندې راغلى دى. (۲)

۶-عروه بن الجعد: دا عروة بن ابى الجعد البارى الازدى رضى الله عنه دې. ده ته دَ نبى كريم ﷺ دَ صحبت شرف حاصل دې. دَ كوفې اوسيدونكې دې. (۳)

خودَ علامه شاطبى اوعلامه ابن عبدالبر رحمه الله خيال دا دې چه دا عروه بن عياض بن ابى الجعد دې او دَ خپل نيكه طرف ته دَ ده نسبت مشهور دې. (۴)

بارق قبيله دَ ازد يو ښاخ دې او بارق دَ حضرت عروة رضى الله عنه دَ جداعلى لقب دې او دَهغه نوم سعدبن عدى به حارثه دې او بارق دَ يو غر نوم دې هغې سره نزدې دَ حضرت عروه رضى الله عنه جداعلى اقامت اختيار كړې وو. دَ هغې طرف ته دَ نسبت په وجه هغه په بارق باندې يادېدلو. (۵) هغه دَ نبى كريم ﷺ، حضرت عمر رضى الله عنه او حضرت سعدبن ابى وقاص رضى الله عنه نه دَ حديث روايت كوى.

اودَ هغه نه شبيب بن غرقده، امام شعبى، غيزار بن حريث، ابولبيد لُماذه بن زبار جهضمى، قيس بن ابى حازم، ابواسحاق سبيعى، سماك بن حرب، نعيم بن ابى هند او نورډير محدثين روايت حديث كوى.(۶)

حضرت عمر رضى الله عنه هغه دَ كوفې قاضى مقرركړې وو، بياهم هلته اوسيدلواو هغه سره ئې سليمان بن ربيعه هم كړې وو، دا واقعه دَ قاضى شريح رحمه الله دَ قاضى مقرر كولونه دَ وړاندې ده. (۷)

دَ شام وغيره په فتوحاتوكښې دې هم شامل وو، بيا هم هلته اوسيدلو. روستو حضرت عثمان رضى الله عنه هغه ته دَ كوفې دَ روانيدلو هدايت اوكړو. (۸) دَ هغوى شمير په محدثينوكښې په اهل كوفه كښې كيږى.(۹)

دَ اسونوسره دَ هغه ډيره مينه وه،شبيب بن غرقده فرمائى چه هغه سره ما اويا اسونه ليدلې وو چه ټول په ټول دَ جهاد دَ پاره ئې تيار ساتلې وو. (۱۰)

---

۱) (كشف البارى (ج۱ص۶۷۸)-
۲) (كشف البارى (ج۱ص۶۷۹)-
۳) (تهذيب الكمال (ج۲۰ص۵) تهذيب الأسماء واللغات للنووى (ج۱ص۳۳۱)-
٤) (الإصابة(ج۲ص٤۶٤)والإستيعاب (ج۲ص۲۸)-
۵) (طبقات ابن سعد(ج۶ص۳٤)و تهذيب الكمال (ج۲ص۵) وتهذيب الأسماء (ج۱ص۳۳۱)-
۶) (شيوخ او تلامذه دَ پاره اوګورئ تهذيب الكمال (ج۲۰ص ۵-۶)-
۷) (تهذيب الكمال (ج۲ص۵) وتهذيب التهذيب (ج۷ص۱۷۸)-
۸) (الإصابة(ج۲ص٤۷۶)-
۹) (الإستيعاب (ج۲ص۲۸)-
۱۰) (طبقات ابن سعد(ج۶ص۳٤) وتهذيب الأسماء للنووى (ج۱ص۳۳۱) وصحيح البخاوى (ج۱ص ۵۱٤) تاب المناقب باب بعد باب سؤال المشركين أن يريهم.... رقم (۳۶٤۳)-

یو خل هغه یو اس واخستلو چه د هغې قیمت لس زره درهم وو(۱) د هغه نه ټول دیارلس احادیث مروی دی چه په هغې کښې یو متفق علیه دې. (۲)

تنبیه د حدیث عروه بن الجعد رضی الله عنه تشریح د تیرشوی حدیث د ابن عمر لاندې تیره شویده.

قوله: قـال سلیمان: عن شعبة عن عروة بن أبي الجعد:

د مذکوره تعلیق تخریج: دا تعلیق حافظ ابونعیم رحمه الله (المستخرج) کښې، امام طبرانی (المعجم الکبیر) (۳) او امام نسائی خپل (سنن) کښې (۴) موصولاً نقل کړیدې. (۵)

د مذکوره تعلیق مقصد: د دې تعلیق مقصددا دې چه سلیمان بن حرب په دې سندکښې دعروه د پلار نوم کښې اختلاف کړیدې نو حفص بن عمرخودعروه دپلارنوم جعد ګرځوی او سلیمان بن حرب د هغه د پلار نوم أبی الجعد ونیلې دې. (۶)

اسماعیلی رحمه الله فرمائی چه د شعبه نه روایت کونکی اکثر حضرات د هغه د پلار نوم (الجعد) ښائی سوا د سلیمان بن حرب او ابن عدی نه. (۷)

صحیح کوم دی؟: علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی

((قال علی بن المدینی: من قال فیه: عروة بن الجعد فقد أخطأ، وإنما هو عروة بن أبي الجعد قال: وكان غندر يهم فيه، فيقول: عروة بن الجعد)) (۸)

علی بن المدینی رحمه الله فرمائی چاچه هغه ته عروه بن جعد اووئیل هغه غلطی اوکړه، هغه خو عروه بن ابی الجعد دې. فرمائی او غندر ته به د هغه باره کښې وهم کیدلو نو هغه به د؛ ته عروه بن الجعد وئیل.

اوعلامه ابن عبدالبر (۹)حافظ ابن حجر (۱۰) حافظ جمال الدین المزی (۱۱) امام طبرانی (۱۲) او پخپله امام بخاری (۱۳) رحمهم الله واغیره د صنیع نه هم د دې خبرې تائید کیږی چه درست او صحیح ((عروة بن أبي الجعد)) دې نه چه ((عروة بن الجعد)).

---

۱) (أسدالغابة (٤ص٢۶)-
۲) (تهذیب الأسماء للنووی (ج۱ص۳۳۱)-
۳) (المعجم الکبیر (۱۷ص۱۵۵) رقم (۳۹۷)-
٤) (سنن النسائی کتاب الخیل باب فتل ناصیة الفرس رقم (۳۶۰۵ و ۳۶۰۷)-
۵) (فتح الباری (ج۶ص ٥٤)-
۶) (حواله بالا عمدة القاری (١٤ص ١٤٤)-
۷) (فتح الباری (ج۶ص ٥٤)-
۸) (الإستیعاب(ج۲ص ۲۸) وتعلیقات تهذیب الکمال)ج۲۰ص۶)-
۹) (الإستیعاب (ج۲ص۲۸)-.
۱۰) (فتح الباری (ج۲ص۵۵)-.
۱۱) (تهذیب الکمال (ج ۲۰ص۵)-.
۱۲) (المعجم الکبیر (ج۱۷ص ١٥٤)-.
۱۳) (التاریخ الکبیر (ج۷ص۳۱) رقم (۱۳۷) وانظر أیضًا للمزید فتح الباری (ج۶ص۵۵)-

يوه تنبيه دلته دَ امام بخارى رحمه الله دا عبارت ((قال سليمان: عن شعبة عن عروة بن أبي الجعد)) نه دا مغالطه او شبه نه دى كيدل پكار چه امام شعبه دَ حضرت عروه نه روايت كوى، حالانكه شعبه دَ حضرت عروه زمانه نه ده ليدلې، نو دَ دې عبارت معنى به دا وى چه شعبه په خپل روايت كښې دَ عروة بن أبي الجعد لفظ دَ "اب" اضافې سره (۱) ذكر كړيدې عروة بن الجعد ئې نه دې ونيلې.

قوله: تابعه مسدد عن هشيم عن حصين عن عروة بن أبي الجعد: مسدد ((عن هشيم عن حصين عن عروة بن أبي الجعد)) په طريق سره دَ سليمان متابعت كړيدې.

دَ مذكوره عبارت مقصد: ددې عبارت مقصد او مطلب دا دې چه دَ امام بخارى رحمه الله شيخ مسدد بن مسرهد رحمه الله هم دَ "اب" په اضافې سره دَ سليمان متابعت او ملګرتيا كړيده. (۲)

دَ باب دريم حديث دَ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دې.

[۲۶۹۶] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ (۳) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَرَكَةُ فِي نَوَاصِي الْخَيْلِ [۳۴۴۵]

تراجم رجال

۱- **مسدد:** دا مسدود بن مسرهد بن مسرهل رحمه الله دې.

۲- **يحيى:** دا يحيى بن سعيد بن فروخ القطان تميمى رحمه الله دې. دَ دې دواړو حضراتو حالات ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه)) لاندې راغلى دى. (۴)

۳- **شعبه:** دا اميرالمؤمنين فى الحديث شعبه بن الحجاج عتكى بصرى رحمه الله دې. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده)) لاندې تيرشوى دى. (۵)

۴- **ابوالتياح:** دا ابوالتياح يزيد بن حميد بصرى رحمه الله دې. دَ ده حالات ((كتاب العلم باب ما كان النبى صلى الله عليه وسلم يتخولهم بالموعظة والعلم كى لا ينفروا)) لاندې تير شوى دى. (۶)

---

۱) (عمدة القارى (ج ۱۴ ص ۱۴۴)-

۲) حواله بالا-

۳) قوله: عن أنس بن مالک رضى الله عنه: الحديث: أخرجه البخارى أيضًا (ج ۱ ص ۵۱۴) كتاب المناقب باب بعد باب سؤال المشركين أن يريهم النبى صلى الله عليه وسلم آية.... رقم (۳۶۴۵) ومسلم كتاب الإمارة باب فضيلة الخيل وأن الخير معقود بنواصيها رقم (۴۸۵۴) والنسائى كتاب الخيل باب بركة الخيل رقم (۳۶۰۱)

۴) (كشف البارى (ج ۲ ص ۲)-

۵) (كشف البارى (ج ۱ ص ۶۷۸)-

۶) (كشف البارى (ج ۳ ص ۱۶۸)-

د- انس بن مالك: دَ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه حالات ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه)) (۱)

قوله: قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: البركة في نواصي الخيل: دَ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى د اسونو په تندوكښې بركت ايخودې شوې دې.

في نواصي الخيل دَ څه څيز سره متعلق دې: دلته چه دا كوم ((فى نواصى الخيل)) جارومجرور دې دَ دې معلق حافظ ابن حجر او علامه عينى رحمهما الله ((نازلة يا تنزيل)) ګرځولې دې. ((عاصم بن على عن شعبة)) په طريق سره دا روايت نقل كړې اودَ دې الفاظ دادى ((البركة تنزل فى نواصى الخيل)) (۲)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث ترجمة الباب سره مناسبت ((البركة)) كښې دې خكه چه بركت هم عين خير دې. (۳)

فائده: دَ باب لاندې ذكر كړېشوې حديث مبارك تقريبًا دَ شلو صحابه كرامو رضوان الله عليهم اجمعين نه مروى دې. (۴)

۴۴- باب: الجهاد ماضٍ مع البرّ والفاجر

دَ ترجمة الباب مقصد: علامه عينى رحمه الله فرمائى دَ دې باب لاندې امام بخارى رحمه الله دا خودل غواړى چه جهاد به دَ قيامت پورې باقى وى. (۵)

او علامه ابن التين فرمائى چه دَ ترجمه مقصد دا دې چه په هر سړى باندې دَ قيامته پورې جهاد واجب او ضرورى دې. كه نيك وى كه ګناهګار. اودَ دې وجه داده چه دَ ابوالحسن قابسى په روايت كښې دَترجمة الباب داسې الفاظ راغلى دى: ((الجهاد ماض على البر والفاجر)) (۶) خو حافظ صاحب رحمه الله فرمائى:

((إلا أنه لم يقع فى شىء من النسخ التى وقفنا عليها، وقد وجدته فى نسخة قديمة من رواية القابسى كالجماعة، والذى يليق بلفظ الحديث ما وقع فى سائر الأصول بلفظ "مع" بدل "على" (۷)

---

۱) (كشف البارى (ج۲ص۴)-

۲) (فتح البارى (ج۶ص۵۵) وعمدة القارى (ج۱۴ص۱۴۹)-

۳) (عمدة القارى (ج۱۴ص۱۴۴)-

۴) (لامع الدرارى (ج۷ص۲۲۹) وهم: ابن عمر، وعروة، وأنس، وجرير، وسلمة بن نفيل، وأبو هريرة، وعتبة بن عبد، وجابر، وأسماء بنت يزيد، وأبوذر، والمغيرة، وابن مسعود، وأبو كبشة، وحذيفة، وسوادة بن الربيع، وأبو أمامة، غيرب المليكى، والنعمان بن بشير، وسهل ب الحنظلية، وعلى رضى الله عنهم. ذكر هم الحافظ مع تخريج رواياتهم (ج۶ص۵۶)-

۵) (عمدة القارى (ج۱۴ص۱۴۵)-

۶) (حواله بالا وفتح البارى (ج۶ص۵۶)-

۷) (وفتح البارى (ج۶ص۵۶)-

دَ كوم خلاصه چه دا ده، زمونږ چه كومو نسخو ته رسيدل شوى دى په هغې كښې په يوه نسخه كښې هم دا خبره نشته. دَ قابسى روايت شوې يوه زړه نسخه ماته ملاوشوې وه نو په هغې كښې هم دَ اكثر په شان "مع" دې نه چه "على" او دَ حديث الفاظو سره هم دغه مناسب دى كوم چه په ټولو اصلو (نسخو) كښې دى چه "مع" سره وى نه چه "على" سره.

حافظ ابن حجر نور فرمائى چه دا ترجمه دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه دَ حديث نه اخذ كړې شويده كوم چه امام ابوداود او امام ابويعلى رحمهما الله مرفوعاً او موقوفاً نقل كړيدې او دَ دې رواة هم مناسب دى خو دا چه دَ حديث په سند كښې مكحول هم دې دَ چا سماع چه دَ ابوهريره رضي الله عنه نه ثابته نه ده. (۱)او دَ امام ابوداود رحمه الله دَ روايت الفاظ دا دى: ((الجهاد واجب عليكم مع كل أمير، براكان أو فاجراً.... وإن عمل الكبائر)) (۲)

قوله: لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ: (۳) دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم دَ دې ارشاد په وجه چه دَ اسونو تندو سره دَ قيامته پورې خير تړلې دې. دا دَ امام بخارى رحمه الله ماقبل كښې دَ ذكر شوې دعوى دليل دې چه هغه په ترجمة الباب كښې دا وئيلې وو چه جهاد به دَ قيامته پورې باقى وى. بيا دا دعوى ثابتولو دَ پاره ئې دا پورته ذكر شوې حديث دَ دليل په توګه ذكر كړو.

دَ استدلال وجه دلته دَ امام بخارى رحمه الله استدلال دا دې چه نبى اكرم صلى الله عليه وسلم په دې مذكوره حديث كښې دا ذكر فرمائيلى دى چه دَ قيامته پورې دَ اسونوتندو پورې خير تړلې دې. هغوى عليه السلام ته دا خبره معلومه وه چه دَ هغوى په امت كښې به عادل او ظالم دواړه قسم بادشاهان وى نو دَ دې حديث په رو دَ هغوى سره جهاد واجب شو او په دې كښې حضور صلى الله عليه وسلم دَ دې خبرې تفريق نه دې كړې چه كه جهاد امام عادل سره وى نو بيا خو هغه خير دې ګنى نو نه دې، نو معلومه شوه چه دا فضل او مرتبه په هر صورت كښې حاصليدې شى كه امام عادل وى كه جائر.(۴)

حافظ ابن حجر فرمائى چه دَ دې حديث نه دا استدلال دَ ټولونه اول حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله كړې وو.(۵) دَ ترمذى په روايت كښې دى:

قوله: قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ: وَفِقْهُ هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّ الْجِهَادَ مَعَ كُلِّ إِمَامٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ: (۶) دَ دې دَ پاره چه جهاد دَ قيامته پورې مشروع دې نوكه امام عادل او نيك وى

---

۱) (وفتح البارى (ج۶ص۵۶)-
۲) (الحديث أخرجه الإمام أبوداود فى سننه كتاب الجهاد باب فى الغزو مع أئمة الجور رقم (۲۵۳۳)-
۳) (الحديث مر تخريجه فى الباب السابق-
٤) (شرح ابن بطال (ج۵ص۵۷) وفتح البارى (ج۶ص۵۶)-
۵) (وفتح البارى (ج۶ص۵۶)-
۶) (الجامع للترمذى أبواب الجهاد باب ماجاء فى فضل الخيل رقم (۱۶۹٤)-

نو بیا هم هغه سره یوځای کیدل او جهاد کول دی اوکه فاجر او فاسق دې نو هم د هغه سره یوځای کیدل او جهاد کول دی. ځکه که امام عادل وی که فاجر، هغه هم د جهاد د پاره راوتلې دې د هغه خرابوالی او فاجر کیدو سره هیڅ فرق نه پریوځی. د کفارو په مقابله کښې چه کوم جهاد مطلوب دې هغه په هرحال کښې کول ضروری دی.

[۲۶۹۷]حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ عَنْ عَامِرٍ حَدَّثَنَا عُرْوَةُ الْبَارِقِيُّ (۱) أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ الْأَجْرُ وَالْمَغْنَمُ [ر:۲۶۹۵]

تراجم رجال

۱-ابونعیم: دا مشهور محدث ابونعیم فضل بن دکین رحمه الله دې.

۲-زکریا: دا زکریا بن زائده کوفی رحمه الله دې، د دې دواړو حالات ((کتاب الایمان باب فضل من استبرألدینه)) لاندې تیرشوې دی.(۲)

۳-عامر: دا مشهور تابعی محدث ابوعمروعامر بن شراحیل شعبی رحمه الله دې. د دوی حالات ((کتاب الایمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده)) (۳)

۴-عروة البارقی: دا حضرت عروة بن ابی الجعد رضی الله عنه دې. د ده حالات په تیرشوی باب کښې راغلی دی. او ((البارقی)) بارق طرف ته منسوب دې چه د یمن د یو غرنوم دې.(۴)

تنبیه: د حدیث باب تشریح په تیرشوی باب کښې تیره شویده.

فائده: په حدیث باب کښې د دې خبرې زیرې او خوشخبری ده چه اسلام او مسلمان به تر قیامته پورې باقی وی ځکه چه د جهاد بقاء د مجاهدینو بقاء د پاره مستلزم ده او بنکاره خبره ده چه مجاهدین به هم مسلمانان وی. (۵)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث ترجمة الباب سره مناسبت ((فی نواصیها الخیر إلی.....)) کښې دې. (۶)

د یوجماعت ټول کسان صالح او نیک کیدل ضروری نه دی: علامه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه د باب په حدیث کښې د یو اصل عظیم طرف ته اشاره ده هغه دا چه د کومو امورو مدار جماعت یعنی ډله وی په هغوی کښې افرادو ته نشی کتلې ځکه چه په هره ډله

---

۱) (قوله: عروة البارقی الحدیث مر تخریجه فی الباب السابق-
۲) (کشف الباری (ج ۲ص ۶۶۹و ۶۷۳)-
۳) (کشف الباری (ج ۱ص ۶۷۸)-
۴) (عمدة القاری (ج ۱۴ص ۱۴۵) وفتح الباری (ج ۶ص ۵۵)-
۵) (فتح الباری(ج ۶ص ۵۴)-
۶) (عمدة القاری (ج ۱۴ص ۱۴۵)-

کښې نيك او بد هر قسم خلق وی او د داسې جماعت پيدا کيدل هم متعذر دی چه د هغې ټول کسان نيکان وی. که چرې دا شرط اولګولې شو چه د جماعت ټول خلق به نيك وی نود خير دير اعمال به معطل شی او دا مثال خو مشهور دې: ((مالايدرك كله،لايترك كله))
د دې نه پس دا اوګنړئی چه هرکله به جهاد د قيامته پورې باقی وی او دغه د جماعت کار دې زد بو خان سړی د وس طاقت کار نه دې) او دا هم معلوم دی چه ټول عمر به د خير انسه موجود نه وی، نو اوس خو به يا جهاد معطل کيږی چه نيك امير موجود نه دې او يا به هر بو نيك او فاجر سره باقی وی.
نبی کريم ﷺ په حديث باب کښې دې خبرې طرف ته تنبيه اوفرمائيله چه د امراؤ فسق او فجور ته په کتلو سره د جهاد نه مه منع کيږئی ځکه چه کله الله تعالی د دين کار د فاجرنه هم اخلی. د دې د پاره د خلقو حالاتو پسې کيدل اود فاجر د فجور دوجه نه روستو پاتې کيدو تاخر ((عن الخيرالمحض)) دې او خير محض جهاد دې او دا هم کيديشی چه د جهاد نه د امير د فسق او فجور د وجه روستو پاتې کيدو سره هم جهاد ختم شي، په دې وجه د فاجر اطاعت د خير ختمولو اود هميشه د پاره د ذلالت طوق په غاړه کښې د اچولو نه اولی دې.(۱)

۴۵-بَاب: مَنْ احْتَبَسَ فَرَسًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاری رحمه الله د جهاد فی سبيل الله د پاره د اسونو ترلو او تيار ساتلو فضيلت بيانوی. (۲)

قوله: لِقَوْلِهِ تَعَالَى وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ: [الانفال: ۶۰] د الله د دې قول د وجه نه او ترلی شوی اسونه.

دا د سورة الانفال د يوآيت حصه ده. د کوم چه رومبنی کلمات دا دې: ﴿واعدوالهم مااستطعتم من قوة ومن رباط الخيل﴾ (۳)
رباط مصدر دې اود مفعول په معنی کښې دې. يعنی هغه اسونه چه د جهاد په نيت ترلې شوی وی.(۴) اود خيل لفظ د جمهورو په نزد مذکر او مونث دواړو ته شامل دې خود حضرت عکرمه رحمه الله ميلان دې طرف ته دې چه دلته هم ((اناث الخيل)) مراد دې.(۵)
او په دې پورتنی آيت مبارك کښې الله تعالی مسلمانانوته د دښمن د مقابلې د پاره د جنګ د سامان د تياری حکم ورکړې دې او د اسونو ترلو هم ځکه چه اسونه هم د جنګ د آلاتونه دی د دې نه هم د اسونو ترلو فضيلت او اهميت ثابتيږی. (۶)

---

۱) (فيض البارى (ج۲ص۴۲۰)-
۲) (عمدة القارى (۱۴ص۴۵) وفتح البارى (ج۶ص۵۷)-
۳) (الانفال: ۶۹)-
۴) (روح المعانى (ج۶ص۶۵) تفسير قوله تعالى: ﴿ومن رباط الخيل﴾-
۵) (عمدة القارى (۱۴ص۱۴۶)-
۶) (حواله بالا (ص۱۴۵)-

[۲۶۹۸] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ أَخْبَرَنَا طَلْحَةُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدًا الْمَقْبُرِيَّ يُحَدِّثُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۱) يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ احْتَبَسَ فَرَسًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ إِيمَانًا بِاللَّهِ وَتَصْدِيقًا بِوَعْدِهِ فَإِنَّ شِبَعَهُ وَرِيَّهُ وَرَوْثَهُ وَبَوْلَهُ فِي مِيزَانِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

تراجم رجال

۱- علی بن حفص: دا ابوالحسن علی بن حفص المروزی رحمه الله دی. (۲)
دې دعبدالله بن المبارك رحمه الله نه روايت کوی اوددہ نه امام بخاری رحمه الله روايت کړې دې. او فرمائیلی دی ((لقيته بعسقلان سنة سبع عشرة ومئتين)) (۳)
امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائی ((ليس بشئ)) (۴)
اوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی ((مقبول)) (۵)
او ابوحاتم رحمه الله هم هغه ثقه ګرځولې دې او دَ هغه نه نی روايات اخستې دی. (۶)
او علامه ابن حبان هم هغه په (کتاب الثقات) کښې ذکر کړيدې. (۷)
په اصحاب سته کښې صرف امام بخاری رحمه الله دَ هغه نه روايت اخستې دې او هغوی هم دَ ده نه صرف درې احاديث نقل کړی دی. (۸)

۲- ابن المبارك: دا عبدالله بن المبارك بن واضح حنظلی رحمه الله دې، دَ دوی مختصر حالات ((بدء الوحی)) پنځم حديث لاندې راغلی دی. (۹)

۳- طلحه بن ابی سعيد: دا طلحه بن ابی سعيد مدنی مصری رحمه الله دې ابوعبدالملك دَ هغه کنيت دې، دَ قريشو مولیٰ دې. (۱۰)
دې دَ سعيد مقبری، بکير بن اشج، صخر بن عيله، خالدبن ابی عمران رحمهم الله نه دَ حديث

---

۱) (قوله: أباهريرة رضی الله عنه: الحديث أخرجه النسائی، كتاب الخيل.... رقم (۳۶۱۲)-
۲) (تهذيب الكمال (ج۲۰ص۴۱۱)-
۳) (حواله بالا وتاريخ البخاری الكبير (ج۶ص۲۷۰)-
۴) (تعليقات تهذيب الكمال(ج۲۰ص۴۱۱)-
۵) (التقريب (ص۴۰۰) رقم ۴۷۲۰)-
۶) (تعليقات تهذيب الكمال(ج۲۰ص۴۱۲)-
۷) (كتاب الثقات (ج۸ص۴۶۹)-
۸) (حاشيه سبط ابن العجمی فی الكاشف (ج۲ص۳۸) وفتح الباری (ج۶ص۵۷)-
۹) (كشف الباری (ج۱ص۴۶۲)-
۱۰) (تهذيب الكمال (ج۱۳ص۳۹۸) خلاصة الخزرجی(ص۱۷۹)-

روايت كوى. او دَ ده نه حيوة بن شريح، ليث، ابن المبارك او ابن ذهيب رحمهم الله وغيره دَ حديث روايت كوى. (۱)

امام احمد رحمه الله فرمائى ((ماأرى به بأسا))(۲)

امام على بن المدينى رحمه الله فرمائى ((معروف))(۳)

ابوزرعه رحمه الله فرمائى ((ثقة))(۴)

او امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى ((صالح))(۵)

امام ابو داود رحمه الله فرمائى ((روى عنه الليث بن سعد، وقال فيه خيرا)) (۶)

ابن حبان رحمه الله دَ دوى تذكره په (كتاب الثقات) كښې كړيده فرمائى: ((من أهل المدينة، جاء إلى مصر مرارا)) (۷)

سبط ابن العجمى رحمه الله فرمائى ((ثقة)) (۸)

امام ذهبى رحمه الله فرمائى ((وُثِّق))(۹)

امام بخارى رحمه الله دَ ده نه صرف يو روايت اخستې دې چه په مذكوره باب كښې دې. بلكه دَ ابوسعيد بن يونس وينا ده چه دَ ده نه صرف هم يو مسندحديث مروى دې. ((قال أبوسعيد بن يونس: ...لم يُسنِد غيرهذا الحديث))(۱۰)

په كال ۱۵۷ﻫ كښې دَ دوى وفات شويدې (۱۱) رحمه الله رحمة واسعة.

۳- سعيدالمقبرى: دا ابوسعد سعيد بن ابوسعيد كيسان مقبرى رحمه الله دې. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب الدين يسر)) لاندې راغلى دى. (۱۲)

---

۱) (شيوخ او تلامذه دَ پاره اوګورئ تهذيب الكمال (ج۱۳ص۳۹۸)-

۲) (حواله بالا-

۳) (حواله بالا-

۴) (حواله بالا و خلاصة الخزرجى(ص۱۷۹)-

۵) (تهذيب الكمال (۱۳ص۳۹۹)-

۶) (حواله بالا-

۷) (الثقات لابن حبان (ج۶ص۴۹۸)-

۸) (حاشيه سبط ابن العجمى فى الكاشف (ج۱ص ۵۱۴)-

۹) (الكاشف(ج۱ص ۵۱۴)-

۱۰) (تهذيب الكمال(ج۱۳ص۳۹۹)-

۱۱) (خلاصة الخزرجى (ص۱۷۹)و حواله بالا-

۱۲) (كشف البارى (ج۲ص۳۳۶)-

۵- ابوهريرة: دا دَ رسول الله ﷺ صحابی حضرت ابوهريره رضی الله عنه دي. دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب أمور الإيمان)) لاندې تيرشوی دی.(۱)

قوله: يقول: قال النبي صلى الله عليه وسلم: من احتبس فرسًا في سبيل الله.....: حضرت ابوهريره رضی الله عنه فرمائي چه نبی کريم ﷺ فرمائيلي دی کوم سړی چه په الله تعالی باندې ايمان لرلو سره اودَ هغه دَ وعدې تصديق کولو سره دَ الله تعالی په لار کښې اس تړلې اوساته نودَ هغه اس خوراك څښاك، دَ هغه خاشنړه او دَ هغه متيازې به دَ قيامت په ورځ دَ هغه دَ عمل په تله کښې وی.

دَ حديث مطلب دا دې که يو سړې صرف هم دَ الله تعالی دَ رضادَ پاره دَ جهاد په نيت اس اوتړی نو ده ته ثواب ملاويږي اودَ هغه دَ خوراك څښاك، خاشنړو او متيازو هم به الله تعالی ثواب ورکوی. غرض دا چه دَ ده به هرڅيز ثواب جوړ شي او دَ قيامت په ورځ به دَ جهاد کونکې او اس تړونکی په اعمالو کښې وزن کولې شي او دا وزن به ډير درونډ وی.

دَ "احتبس" صرفي او نحوي تحقيق: احتبس دَ باب افتعال نه دَ فعل ماضی مذکر غائب صيغه ده. دَ کوم معنی چه تړل او منع کول دی اودَ دې دَ مجرد همدغه معنی ده. کله دا پخپله متعدی شي او کله لازم.

اوس معنی دا شوه چه هغه سړې دا اس دَ خپل ځان دَپاره منع کوی او تړلې ساتی که چرې صبا په سرحدونو باندې څه خطره پيدا شی نوچه دَ ده په کار راشی. (۲)

قوله: إيمانًا بالله: ((إيمانًا)) په ترکيب کښې مفعول له واقع کيږی او مطلب دا دې چه هغه دا دَ اس تړلو کوم عمل اختيار کړيدې،هغه خالص دَالله تعالی دَ پاره اودَ هغه دَ حکم امتثال او پوره کولو دَ پاره دې.(۳)

قوله: تصديقًا بوعده: په دې احتباس باندې چه کوم ثواب مرتب کيږی دَ هغې نه عبارت دې، خلاصه دا ده چه دَ دې سړی عمل دَ احتباس دَ الله دَ حکم په ځائ راوړلو اودَ ثواب په نيت سره شوې دې. او هغه داسې چه الله تعالی دَ احتباس په عمل دَ ثواب او بدلې کومه وعده فرمائيلې ده، نو چه کوم سړې اس رامنع کړی لکه چه داسې وائی ((صدقت فيها وعدتنى)) يعنی (اې الله) تا چه دَ ثواب کومه وعده کړې ده په هغې کښې ته رښتونې يې. (۴)

بيا په دې کلموکښې اشاره دَ معاد طرف ته ده لکه چه په ايمان کښې دَ مبداء طرف ته اشاره ده، نو نبی اکرم ﷺ دا مختصر کلمات ((إيمانا بالله وتصديقا بوعده)) کښې دَ انسان مبداء او معاد دواړو طرف ته اشاره کړيده. (۵)

---

۱) (کشف الباری (ج۱ص۶۵۹)-
۲) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۴۵) وشرح طيبی(ج۷ص۳۱۷)-
۳) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۴۶) وشرح طيبی(ج۷ص۳۱۷)-
۴) (حواله بالا-
۵) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۳۸)-

((**شعه**)) دَ شين په كسره سره دې. دَ دې معنى ده په كوم څيز چه خيتبه ډكيږي، كه هغه وابه وغيره وى يا څه بل څه څيز. (۱)
((**ريّه**)) دَ راء په كسره اوياء په تشديدسره دې.يعنى هغه اوبه په كوموچه اس خړوب شي.(۲)
((**روثة**)) دَ اس خاشنړه ته روث ونيلې شي اودَ دې جمع ارواث ده. (۳)
او مقصد ترينه دلته ثواب دې دامطلب نه دې چه دَ اس خړانچه او متيازې به په تله د اعمالوكښې تلى. (۴)
په اسونو دَ خوړلو څکلو فضائل: دَ حديث باب په شان نور ډير احاديثوكښې په اسونو خوړلو څکلو اوپه هغې دَ خرچ كولو فضيلتونه وارد شوى دى.

ابن سعد په (**طبقات**) كښې دَ حضرت عريب رضي الله عنه دا حديث نقل كړيدې چه په اسونو خرچ كونكو مثال دَ هغه سړى په شان دې چاچه خپل لاس دَ صدقاتو دپاره كولاؤ كړې وى چه هغه نه بندوى اودَ هغه اس متيازې او يا خاشنړه به دَ قيامت په ورځ دَ الله تعالى په نزد دَ مشكو دَ خوشبو په شان وى.(۵)
په ابن ماجه كښې دَ حضرت تميم الدارى رضي الله عنه حديث شريف دې چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه كوم سړى دَ الله تعالى په لار كښې يو اس اوتړلو بيا ئى دَ كيا وغيره په خپلو لاسونو تياره كړه نو هغه ته به دَ هرې يوې دانې په بدله كښې الله تعالى يو نيكى وركوى.(۶)
دَ حديث فوائد: دَ حديث باب نه يو څو فائدې مستنبط شوى دى:
① دَ ضرورت او حاجت په وخت كښې دَ يو مستقذر او ګنده څيز ذكر كولوكښې هيڅ بديبت نشته لكه چه نبى كريم ﷺ دلته دَ خاشنړو او متيازو ذكر كړيدې. (۷)
② صرف په نيت او اراده سره هم اجر وركولې شي. (۸)
③ ابن ابى جمرة رحمه الله فرمائى چه دَ حديث باب نه دا خبره مستفاد كيږى چه په دې كښې ذكر كړيشوى حسنات به بهر حال مقبول وى څكه چه په دې كښې نص دَ شارع موجود دې

۱) (عمدة القارى (ج ١٤ص١٣٦) وشرح القسطلانى (ج٥ص ٧٠)-
۲) حواله بالا-
۳) (مختار الصحاح مادة روث-
٤) (عمدة القارى (ج ١٤ص١٣٦) وفتح البارى (ج٦ص٥٧)-
٥) (عزاه القسطلانى إلى ابن سعد (ج٥ص ٧٠) وأخرجه المنذرى فى الترغيب (ج٢ص٢٦٧)-
٦) (سنن ابن ماجه، أبواب الجهاد باب ارتباط الخيل فى سبيل الله رقم (٢٧٩١) وانظر أيضًا إرشاد السارى للقسطلانى (ج٥ص ٧٠-٧١)-
٧) (شرح ابن بطال (ج٥ص٥٩) وعمدة القارى (ج ١٤ص١٣٦)-
٨) (حواله بالا-

په خلاف د نورو حسناتو چه هغه کله قبليږي هم نه نو په ميزان کښې به هم د ثواب په نيت نه راځي. (۱)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت او مناسبت ښکاره دې. (۲)

دَ اس دَ تړلی ساتلو فضيلت په باب کښې ذکر دې او په حديث کښې په ده باندې دَ خوړلو څکلو او د ده په فضلاتو باندې ثواب بيان کړيشوې دې.

۴۶- بَاب: اسْمِ الْفَرَسِ وَالْحِمَارِ

دَ ترجمة الباب مقصد: امام بخاري رحمه الله په دې باب کښې داښائي چه دَ اس او خر نوم کېخودل جائز دی او مشروع دی په دې کښې هيڅ حرج او خرابي نشته.(۳)

دَ نوم ايخودلو حکمت: په اس او خر باندې دَ نوم کېخودلو حکمت دادې چه فرس او حمار اسم جنس دې په دې وجه دَ دوی نومونه کېخودل پکار دی. دې دَ پاره چه دې دَ خپلو نورو هم جنسو نه ممتاز او جدا وی، په پيژندګلوکښې څه ګران نه وی، لکه څنګه چه په انسانانوکښې افرادجنس نه ممتاز کولوډپاره نومونه کېخودلې شی.(۴)

بيا دا جوازاو مشروعيت صرف دَ فرس او حمار دَ پاره نه دې بلکه نور ځاروی په کښې هم شامل دی.

[۲۶۹۹] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ(۵) أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَخَلَّفَ أَبُو قَتَادَةَ مَعَ بَعْضِ أَصْحَابِهِ وَهُمْ مُحْرِمُونَ وَهُوَ غَيْرُ مُحْرِمٍ فَرَأَوْا حِمَارًا وَحْشِيًّا قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ فَلَمَّا رَأَوْهُ تَرَكُوهُ حَتَّى رَآهُ أَبُو قَتَادَةَ فَرَكِبَ فَرَسًا لَهُ يُقَالُ لَهُ الْجَرَادَةُ فَسَأَلَهُمْ أَنْ يُنَاوِلُوهُ سَوْطَهُ فَأَبَوْا فَتَنَاوَلَهُ فَحَمَلَ فَعَقَرَهُ ثُمَّ أَكَلَ فَأَكَلُوا فَنَدِمُوا فَلَمَّا أَدْرَكُوهُ قَالَ هَلْ مَعَكُمْ مِنْهُ شَيْءٌ قَالَ مَعَنَا رِجْلُهُ فَأَخَذَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكَلَهَا [ر:۱۷۲۵]

تراجم رجال

۱- محمد بن ابی بکر: دا محمد بن ابوبکر بن علی بن عطاء المقدمی رحمه الله دې. (۶)

---

۱) (فتح الباري (ج۶ص۵۷)-
۲) (عمدة القاري (ج ۱٤ص ۱۳۶)-
۳) (فتح الباري (ج۶ص۵۸)-
٤) (حواله بالا (عمدة القاري (ج ۱٤ص ۱۳۶)-
۵) (قوله: عن أبيه: الحديث مرتخريجه فی کتاب جزاء الصيد، باب إذا صاد الحلال فأهديللمحرم الصيدأکله-
۶) (دَ دوی حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الصلاة باب المساجد التی علی طرق المدينة....-

او همدغه صحيح دی، د ابوعلی جیانی رحمه الله وینا ده چه د ابوزید په نسخه کښې محمدبن بکر دې او هغه غلط دې ځکه چه د امام بخاری رحمه الله په شیخانو کښې د محمدبن بکر په نوم څوك شيخ نشته.(١)

٢-**فضیل بن سلیمان:** دا ابوسلیمان فضیل بن سلیمان نمیری بصری رحمه الله دې. (٢)

٣-**ابوحازم:** دا مشهور زاهدابوحازم سلمة بن دینارمولی الاسودالمدنی رحمه الله دې. (٣)

٤-**عبدالله:** دا عبدالله بن ابی قتاده السلمی رحمه الله دې.

٥-**ابوقتادہ:** دا مشهور صحابی رسول ﷺ حضرت ابوقتاده حارث بن ربعی رضی الله عنه دې.(٤)

تنبیه: دَ حضرت ابوقتاده رضی الله عنه دا حدیث خپل مکمل تشریحاتو سره دَ ((**کتاب جزاء الصید**)) په شروع کښې تیرشویدې.

په دې باب کښې حضرت امام بخاری رحمه الله دا حدیث صرف دَ دې دَ پاره ذکر کړیدې چه په دې کښې دَ حضرت ابوقتاده دَ اس نوم ذکر دې.(٥)

قوله: **فرکب فرسًا یقال لها: الجرادة:** نو هغه په یو اس سور شو، هغه اس ته به ئې "جراده" وئیل.

دَ هغه اس نوم څه وو؟: دَ حضرت قتاده رضی الله عنه دَ دې پورته ذکر شوی اس نوم څه وو په دې کښې اختلاف دې .دلته خو"الجرادة" ذکر دې خو په سیرت ابن هشام (٦)کښې راغلی دی چه دَ حضرت قتاده رضی الله عنه دَ اس نوم "الحزوة" وو.

نواوس خو به یا دا وئیلې شی چه دَ دغه اس دوه نومونه وو، جراده او حزوه. او یا دا اووئیلی شی چه په دې کښې یو غلط او تصحیف دې. دَ بخاری شریف په روایت کښې چه کوم نوم ذکر دې هم هغه معتمد او صحیح دې. (٧)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث شریف ترجمة الباب سره مناسبت او مطابقت دَ حدیث په دې جمله کښې دې: ((**فرکب فرساله، یقال لها الجرادة**)) (٨)

---

١) (فتح الباری(ج۶ص۵۹)وعمدة القاری(ج ١٤ص١٤٧)-

٢) (دَ دوی حالاتودَ پارهٔ اوګورئ کتاب الصلاة باب المساجد التی علی طرق المدینة....-

٣) (دَ دوی حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب غسل المرأة أباهاالدم عن وجهه-

٤) دَ حضرت قتاده اودَ هغه دَ څوئ دَ حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب النهی عن الاستنجاء بالیمین

٥) (فتح الباری (ج۶ص۵۸)-

٦) (سیرة ابن هشام (ج٣ص٢٩۶) غزوة ذی قرد-

٧) (فتح الباری (ج۶ص۵۹)-

٨) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٤٧)-

[۲۷۰۰] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا مَعْنُ بْنُ عِيسَى حَدَّثَنَا أُبَيُّ بْنُ عَبَّاسِ بْنِ سَهْلٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ (۱) قَالَ كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَائِطِنَا فَرَسٌ يُقَالُ لَهُ اللُّحَيْفُ قَالَ أَبُوعَبْدِاللّٰهِ وَقَالَ بَعْضُهُمُ اللُّخَيْفُ

تراجم رجال

۱- علي بن عبدالله بن جعفر: دا مشهور امام حديث امام جرح وتعديل حضرت علي بن عبدالله ابن المديني رحمه الله دي. دَ دوی حالات ((كتاب العلم باب الفهم في العلم)) لاندې راغلی.(۲)

۲- معن بن عيسى: دا ابويحيى معن بن عيسى بن يحيى القزاز المدني رحمه الله دي. (۳)

۳- أبي بن عباس: دا أبي -بضم الهمزة وفتح الباء- ابن عباس بن سهل بن سعد الانصاری الساعدي المدني رحمه الله دی. دَ عبدالمهيمن بن عباس رور دې.(۴)

دې دَ خپل والد عباس اوابوبکر بن محمد بن عمرو بن حزم رحمهم الله نه روايت کوی. اودَ دوی نه زيد بن حبا، عتيق بن يعقوب الزبيری او معن بن عيسى قزاز رحمهم الله وغيره دَ حديث روايت کوی. (۵)

امام بخاری او امام نسائی رحمهما الله فرمائی ((ليس بالقوی)) (۶)

امام احمد رحمه الله فرمائی((منكر الحديث))(۷)

امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائی ((ضعيف)) (۸)

امام عقيلي رحمه الله ((له أحاديث لايتابع على شيء منها)) (۹)

او حافظ ساجي او ابو العرب قيروانی هم ((أبي)) ضعيف ګرځولي دې. (۱۰)

البته بعض حضرات ائمه مثلاً امام دارقطني، ابن حبان او امام حاکم رحمهم الله هغه ته ثقه او قوی وئيلي دي. (۱۱)

---

۱) (قوله: أبي بن عباس بن سهل عن أبيه عن جده: الحديث هذا من إفراده عمدة القاری (ج ۱۴ ص۱۴۷)-

۲) (کشف الباری (ج۳ص۲۹۷)-

۳) (دَ دوی حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب مايقع من النجاسات في السمن والماء-

۴) (تهذيب الکمال(ج۲ص۲۵۹)-

۵) (حواله بالا-

۶) (تهذيب الکمال (ص۲۵۹)-

۷) (حواله بالا(ص۲۶۰)-

۸) پورتنۍ حواله)

۹) (کتاب الضعفاء الکبير(ج۱ص۱۶)-

۱۰) (تعليقات تهذيب الکمال (ج۲ص۲۶۰)-

۱۱) (حواله بالا-

بهرحال ابی بن عباس دَ مضبوطې درجې راوی نه دې لکه څنګه چه تاسو اوکتل چه اکثر ائمه دَ جرح او تعدیل په ده باندې جرح کړیدې.
خودلته دا خبره یاد ساتل پکار دی چه امام بخاری رحمه الله دَ دې باب صرف هم دا یو حدیث اخستې دې او هغه هم دَ احکامو متعلق نه دې.
دونمه خبره دا ده چه دَ هغه نه دَ امام بخاری رحمه الله نه علاوه امام ترمذی او امام ابن ماجه رحمه الله هم روایت نقل کړې دی. او داهم دَ یو قسم توثیق او تعدیل دې.(۱) نو که دې ثقه یا ثبت نه هم وی لیکن حسن الحدیث ضرور دې او دَ احتجاج قابل دې نو علامه ذهبی رحمه الله فرمائی
((أبي وإن لم يكن بالثبت، فهو حسن الحديث)) (۲)
او ابن عدی رحمه الله فرمائی ((وهو يكتب حديثه، وهو فرد المتون والأسانيد))(۳)
۴-عباس بن سهل: دا عباس بن سهل بن سعد الساعدی رحمه الله دې. (۴)
۵- سهل بن سعد: دا مشهو صحابی حضرت سهل بن سعدمالك الساعدی انصاری رضی الله عنه دې. (۵)

قوله: قال:كان للنبي صلى الله عليه وسلم في حائطنا فرس يقال له:اللحيف:حضرت سهل بن سعدالساعدی رضی الله عنه فرمائی دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم زمونږ په باغ کښې یو اس وو کوم ته به چه ئې "اللحيف" وئیلې.
مطلب دا دې چه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ هغه اس دَ تربیت، پالنې او تړلو ځائ زمونږ باغ وو. (۶)
((حائط)) دَ کهجورو باغ ته وائی خوچه دَ هغې دیوالونه هم وی اودَ دې جمع حوائط ده، یا مطلق دیوال او جدال ته هم حائط وئیلی شي.
دَ لحیف ضبط او معنی: دلته دَ باب په روایت کښې لحيف حاء مهمله او تصغیر سره دې.
ابن قرقول رحمه الله وائی چه دَ ابن سراج رحمه الله نه دا کلمه دَ رغیف په وزن نقل کړیشویده یعنی "لحيف"، حافظ شرف الدین دمیاطی رحمه الله هم دا راجح ګرځولې دې او دَ علامه هروی رحمه الله همدغه رائې ده او هغه وائی چه دَ هغه اس لکئی اوږده وه نو ((كأنه يحلف الأرض بذنبه))، لکه چه هغه به خپله لکئی په زمکه رانبکله او تلوبه او په خپله لکئی به ئی زمکه پټه کړې وه.(۷) په دې وجه ده ته "لحيف" وئیلې شوی دی. (۸)

۱) (هدی الساری (ص۷۸)-
۲) (میزان الاعتدال(ج۱ص۷۸)-
۳) (الکامل لابن عدی(ج۱ص۴۲۱)-
۴) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الزکوة. باب خرص التمر-
۵) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الوضوء باب غسل المرأة أباها الدم عن وجهه-
۶) (فیض الباری (ج۳ص۴۳۱)-
۷) (النهایة لابن الأثیر الجزری (ج۴ص۲۳۸) ولسان العرب (ج۹ص۳۱۵)-
۸) (فتح الباری (ج۶ص۵۹) وعمدةالقاری (ج۱۴ص۱۳۷)-

قوله: قال أبوعبدالله: وقال بعضهم: اللخيف: ابوعبدالله وائی چه بعضو لخيف ونيلي دي.

مطلب دا دې چه بعض حضراتو دا لفظ خاء معجمه سره لخيف نقل کړيدې. په دې کښې هم هغه دوه صورتونه بيان کړيشوی دی کوم چه په لحيف کښې تيرشو چه يا خو مصغر دې يا په وزن دَ رغيف سره مکبر. (۱)

او دا دَ عبدالمهيمن بن عباس بن سهل رحمه الله روايت دې چه دَ ابی بن عباس رحمه الله رور دې. ابن منده رحمه الله هم دا روايت نقل کړيدې دَ کوم الفاظ چه دا دی: ((کان لرسول الله صلی الله عليه وسلم عند سعد بن سعد والد سهل ثلاثة أفراس، فسمعت النبی صلی الله عليه وسلم يسمّيهن لِزاز، وظَرِب، واللخيف))(۲)

خو د سبط ابن الجوزی رحمه الله وينا ده چه امام بخاری رحمه الله دا په تصغير او خاء معجمه سره مقيد کړې دې اودغه شان ابن سعد رحمه الله هم د واقدی رحمه الله نه نقل کړی دی

ليکن څنګه چه پورته تيرشو چه اکثرو حضراتو دې ته ترجيح ورکړيده چه دا دَ رغيف په وزن مکبر او حاء مهمله سره دې او همدغه معروف دی. ابن الاثير رحمه الله فرمائی ((والمعروف بالحاء المهملة)) (۳) او قاضی عياض رحمه الله فرمائی ((وبالأول ضبطناعن عامة شيوخنا))(۴)

دَ دې لفظ دريم صورت ابن الاثير(۵) او صاحب (المغيث) دا بيان کړيدې چه دا جيم سره لجيف دې صاحب دَ (المغيث) بيا فرمائی چه چرې جيم سره دا لفظ صحيح وی نودَ دې معنی دَ هغه غشی ده دَ کوم مخ چه خور شوې وی نولکه دَ هغه اس دَ لجيف سره دَ هغه د تيز والی موسوم کړې شو. (۶)

او دا اس دَ امام ابن سعد رحمه الله مطابق نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته ربيعه بن ابی البراء مالك بن عامر العامری دَ هديه په توګه پيش کړې وو. (۷)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث ترجمة الباب سره مناسبت ښکاره دې. څکه چه دَ راوی دا قول ((فرس يقال له: اللحيف)) دَ امام بخاری رحمه الله دَقول ((اسم الفرس)) مطابق دې.(۸)

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص۵۹)-
۲) (حواله بالا واللخف: الضرب الشديد. لسان العرب (ج۹ص۳۱۵)-
۳) (النهاية(ج ٤ص۲۳۸)-
٤) (شرح القسطلانی(ج۵ص۷۷)-
۵) (النهاية (ج۵ص ٤ ٤ ۲)-
۶) (فتح الباری (ج۶ص۵۹)-
۷) (الطبقات الکبير لابن سعد(ج۱ص۴۹۰)-
۸) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٤٧)-

[۲۷۰۱] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ سَمِعَ يَحْيَى بْنَ آدَمَ حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ عَنْ مُعَاذٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(۱) قَالَ كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حِمَارٍ يُقَالُ لَهُ عُفَيْرٌ فَقَالَ يَا مُعَاذُ هَلْ تَدْرِي حَقَّ اللَّهِ عَلَى عِبَادِهِ وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ قُلْتُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّ حَقَّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَحَقَّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ أَنْ لَا يُعَذِّبَ مَنْ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا أُبَشِّرُ بِهِ النَّاسَ قَالَ لَا تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوا [۵۶۲۲، ۵۹۱۲، ۶۱۳۵، ۶۹۳۸]

تراجم رجال

۱- اسحاق بن ابراهیم: دا مشهور امام فقه او حدیث اسحاق بن ابراهیم بن مخلدابن راهویه رحمه الله دی. دَ ده حالات ((کتاب العلم باب فضل من علم وعلم)) لاندې تیرشوی دی. (۲)

۲- یحیی بن آدم: دامشهورامام حدیث یحیی بن آدم بن سلیمان مخزومی قریشی رحمه الله دی.(۳)

۳- ابوالأحوص: دلته په سندکښې دَ یحیی بن آدم دَ شیخ کنیت ذکر کړیشویدې، نوم ئې نه دې ذکر شوې نو اوس په شارحینوکښې دَ دې خبرې په بابت کښې اختلاف دې چه دَ ابوالاحوص نه څوک مراد دې؟

نو علامه کرمانی (۴) علامه عینی (۵) حافظ قسطلانی (۶) او حافظ جمال الدین مزي (۷) رحمهم الله رائې داده چه ابوالاحوص نه مراد سلام بن سلیم کوفی ضبعی رحمه الله دې او هم دغه دَ جمهورو رائې ده.

لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ابوالاحوص دَعمار بن رزیق کنیت دې. نور فرمائی چه ما دَ یحیی بن آدم شیخ ابوالاحوص سلام بن سلیم ګنړلو او هم په دې دَ مزی (۸) کلام هم

---

۱) (قوله: عن معاذ رضي الله عنه: الحديث أخرجه البخاری أيضًا كتاب اللباس باب إرداف الرجل خلف الرجل رقم (۵۹۶۸) وكتاب الاستئذان باب من أجاب بلبيک وسعديک رقم (۶۲۶۷) وكتاب الرقاق بن من جاهد نفسه فی طاعة الله رقم (۶۵۰۰) وكتاب التوحيد باب ماجاء فی دعاء النبی صلی الله عليه وسلم أمته إلی توحيدالله تبارک وتعالی رم (۷۳۷۳) ومسلم كتاب الإيمان باب الدليل علی أن من مات علی التوحيد دخل الجنة قطعاً رقم (۱۴۴) والترمذی أبواب الإيمان باب ماجاء فی إفتراق هذه الأمة رقم (۲۶۴۳) وأبوداؤد كتاب الجهاد باب فی يسمی دابته رقم (۲۵۵۹)-

۲) (کشف الباری (ج۳ص۴۲۸)-

۳) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الغسل باب الغسل بالصاع ونحوه-

۴) (شرح الکرمانی (ج۲ص۳۹)-

۵) (عمدةالقاری (ج۱۴ص۱۴۸)-

۶) (شرح القسطلانی (ج۵ص۷۲)-

۷) (تحفة الأشراف (ج۸ص۴۱۱)-

۸) حواله بالا-

دال دي خو هم دغه حديث امام نسائی رحمه الله (۱) ((عن محمد بن عبدالله بن المبارك المخرومی عن يحيى بن آدم)) په طريق باندې نقل کړيدې. په دې کښې د يحيى بن آدم شيخ عمار بن رزيق دې او امام بخاری رحمه الله دا روايت ((يحيى بن آدم عن أبی الأحوص عن أبی إسحاق)) په طريق سره نقل کړې دې او د عمار بن رزيق کنيت هم ابوالاحوص دې. ((ولم أر من نبه على ذلك)) (۲)
دا خو د حافظ ابن حجر رائې شوه خو همدغه روايت امام مسلم (۳) او امام ابوداؤد (۴) رحمه الله هم نقل کړيدې. د امام مسلم شيخ ابوبکر بن ابی شيبه او امام ابوداؤدهناد بن السری دی او دا دواړه ((عن أبی الأحوص عن أبی إسحاق)) په طريق سره کوی. خو دلته د مسلم او ابوداؤد په روايت کښې د عمار بن رزيق په ځائ سلام بن سليم متعين دې.
ځکه چه ابوبکر بن ابی شيبه او هناد بن السری ملاقات د سلام بن سليم نه خو ثابت دې، البته د عمار بن رزيق نه نه دې. (۵)
خوعلامه عينی رحمه الله د حافظ صاحب ترديد کولو سره فرمائی :
((أبوالأحوص: اسمه سلام بن سُليم الحنفی الكوفی، قيل: أبوالأحوص هذا عمار بن رُزيق الضبی الكوفی، قلت: لايصح هذا لأن عمارا هذا مما انفرد به مسلم، ولم يخرج له البخاری))(۶)
د علمائې رجال رحمهم الله د صنيع نه همدغه معلوميږی چه دلته سلام بن سليم مراد دې نه چه عمار بن رزيق، ځکه چه په دې کښې اکثرو حضراتو عمار بن رزيق د افراد بخاری نه نه دې شميرلې. (۷) په دې وجه دا معلوميږی چه دې د بخاری د افرادو نه نه دې.
بهر حال که مراد چرې د ابوالاحوص نه سلام بن سليم رحمه الله دې نو د هغه حالات خو تيرشو (۸) اوکه مراد ترينه عمار بن رزيق وی لکه څنګه چه د حافظ صاحب خيال دې نومونږ دلته د هغه مختصر تذکره نقل کوو.

قوله: عمار بن رزيق: دا عمار بن رزيق —بضم الراء وفتح الزای مصغرا- الضبی الكوفی التميمی رحمه الله دې. د ده کنيت ابوالاحوص دې.(۹)

---

۱) (سنن النسائی الکبری (ج۳ص۴۴۳) کتاب العلم باب الاختصاص بالعلم قوما.... رقم (۵۸۷۷)-
۲) (فتح الباری (ج۶ص۵۹)-
۳) (صحيح مسلم کتاب الإيمان باب الدليل على أن من مات على التوحيد رقم (۱۴۴)-
۴) (سنن أبی داؤد کتاب الجهاد باب فی الرجل يسمی دابته رم (۳۵۵۹)-
۵) (فتح الباری (ج۶ص۵۹)-
۶) (عمدة القاری)ج ۱۴ص۱۴۸)-
۷) (انظر تهذيب الکمال (ج۲۱ص۱۸۹) وميزان الاعتدال (ج۳ص۱۶۴) والکاشف (ج۲ص۵۰) وتهذيب التهذيب (ج۷ص۴۰۰) والتقريب (ج۱)-
۸) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الأذان باب الالتفات فی الصلاة-
۹) (تهذيب الکمال (ج۱ص۱۸۹)-

دي دابواسحاق السبیعی، اعمش، منصور، عبدالله بن عیسی، بن عبدالرحمن بن ابی لیلی، محمدبن عبدالرحمن بن ابی لیلی، عطاء بن السائب، مغیره بن مقسم، فطر بن خلیفه او نورو محدثینو رحمهم الله نه د حدیث روایت کوی.
د دوی نه روایت کونکوکښې ابوالجواب احوص بن جواب، ابوالاحوص سلام بن سلیم الکوفی، ابواحمد الزبیری، زید بن احباب، عبثر بن قاسم، یحیی بن آدم، معاویه بن هشام او نور محدثین حضرات شامل دی. (۱)

امام یحیی بن معین او امام ابوزرعه رحمهما الله فرمائی ((ثقة)) (۲)

لوین رحمه الله فرمائی چه ماته ابواحمد الزبیری اوونیل ((لواختلفتَ إلیه لکفاك أهل الدنیا)) (۳) که ته هغه له تللې راتلې نو هغه (عمار بن رزیق) به ستا د پاره د اهل دنیا د طرف نه کافی شی. یعنی بل چاله به د تلو هډو ضرورت نه وی.

امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی ((کان من الأثبات)) (۴)

امام ابن المدینی رحمه الله فرمائی ((ثقة)) (۵)

ابوبکر البزار رحمه الله فرمائی ((لیس بأس به)) (۶)

ابوحاتم رحمه الله فرمائی ((لابأس به)) (۷)

نسائی رحمه الله فرمائی ((لیس به بأس)) (۸)

او ابن حبان د هغه ذکر په (کتاب الثقات) کښې کړیدې. (۹)
سبط ابن العجمی رحمه الله هم د هغه ثقه ګرځولې دې. (۱۰)

دغه شان حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی ((ثقة)) (۱۱)

د هغوی انتقال په کال ۱۵۹ھ کښې شویدې (۱۲) رحمه الله رحمةً واسعةً.

---

۱) (د شیوخو او تلامذه د تفصیل د پاره اوګورئ تهذیب الکمال (ج ۲۱ص ۱۸۹-۱۹۰)-
۲) (تاریخ عثمان بن سعید الدارمی(ص ۱۵۹)-
۳) (الکاشف (ج ۲ص ۵۰)-
٤) (تهذیب التهذیب (ج ۷ص ٤۰۱)-
۵) (حواله بالا-
۶) (حواله بالا-
۷) (تهذیب الکمال(ج ۲۱ص ۱۹۰)-
۸) (حواله بالا-
۹) (الثقات لابن حبان (ج ۷ص ۲۸۶)-
۱۰) (حاشیة الکاشف لابن العجمی (ج ۲ص ۵۰)-
۱۱) (میزان الاعتدال (ج ۳ص ۱٦٤)-
۱۲) (الکاشف (ج ۲ص ۵۰)-

۱- ابی اسحاق: دا ابواسحاق عمرو بن عبدالله بن عبید سبیعی رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب الصلاة من الإیمان)) لاندې تیرشوی دی. (۱)

۲- عمرو بن میمون: دامشهورتابعی عمروبن میمون الاودی ابویحیی کوفی رحمه الله دې (۲)

۳- معاذ: دا ممتاز انصاری صحابی حضرت معاذبن جبل بن عمرو رضی الله عنه دې. دَ دوی مختصر حالات ((کتاب الإیمان باب الإیمان وقول النبی صلی الله علیه وسلم: بنی الإسلام علی خمس)) لاندې تیرشوی دی. (۳)

قوله: قال: کنت ردف النبی صلی الله علیه وسلم علی حمار یقال له: عفیر:

حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه فرمائی چه زه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم شاته په یو خر باندې چه هغې ته عفیر وائی سوروم. ((ردف)) دَ راء په کسراودال په سکون سره دې.

جوهری فرمائی چه ((ردف)) دَ مرتدف په معنی کښې دې یعنی هغه سړې چه سور پسې سور وی اودَ دې جمع ((أرداف)) ده. (۴)

((عفیر)) دَعین په ضمه اوفاء په فتح سره دَ((أعفر)) تصغیر دې. لکه چه دَ اسود تصغیر سُوید دې. (۵) او قاضی عیاض دا لفظ دَ عین په ځایْ غین سره ضبط کړیدې چه وهم دې ځکه چه اکثر حضراتو دا په عین سره نقل کړیدې. (۶)

او ((عفیر)) دَ ((عفرة)) نه مشتق او ماخوذ دې دَ دې معنی سُوربخن سپین رنګې دې یعنی دَ خاورې دَ رنګ په شان، دَ دې خر نوم ئې ((عفیر)) ځکه کیخودې وو چه دَ دې رنګ سربخن سپین وو. (۷)

بیادا خبره باندې پوهه شئی چه دلته دَ باب په روایت کښې دَ هغه خر نوم ((عفیر)) راغلې. دغه شان په مسلم شریف (کتاب الإیمان) (۸) اودَ ابوداؤد (کتاب الجهاد) (۹) په روایت کښې هم دَ ده نوم هم ((عفیر)) ذکر دې. لیکن علامه خطابی رحمه الله دَ امام واقدی رحمه الله (۱۰) نه علامه

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص۳۷۰)-
۲) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب إذا ألقی علی ظهر المصلی قذر أوجیفة...-
۳) (کشف الباری (ج۱ص۶۲۸)-
۴) (عمدةالقاری (ج۱٤ص۱٤۸) ولسان العرب (ج۹ص۱۱۶)-
۵) (عمدةالقاری (ج۱٤ص۱٤۸)-
۶) (عمدةالقاری (ج۱٤ص۱٤۸)وشرح النووی علی مسلم (ج۱ص٤٤)-
۷) (فتح الباری (ج۶ص۵۹)وشرح ابن بطال (ج۵ص۶۰)-
۸) (صحیح مسلم کتاب الإیمان باب الدلیل علی أن من مات علی التوحید دخل الجنة قطعا رقم(۱٤٤)-
۹) (سنن أبی داؤد کتاب الجهاد باب فی الرجل یسمی دابته رقم (۲۵۵۹)-
۱۰) (قوله ابن بطال (ج۵ص۶۰) وهو فی معالم السنن للخطابی (ج۳ص۳۹۰) ولیس فیه ذکر الواقدی. وصنیع الخطابی دال علی أنه قائل بکونهما واحداً-

طبری رحمه الله (۱)او شيخ ابومحمد لونی رحمه الله (۲) دَ دغه خر نوم ((يعفور)) نقل کړيدې.
اوس اختلاف دا پيدا شو چه آيا دا هم يو خر دې که دوه جدا جدا خرونه دی. دَ ابن عبدوس رحمه الله او ابن القيم رحمه الله خيال دا دې چه دا هم دَ يو خر دوه نومونه دی. او شرف الدين دمياطی رحمه الله فرمائی چه دا جدا جدا دوه خرونه وو. حضور ﷺ ته ((عفير)) شاه مقوقس په هديه کښې ورکړې وو او دونم يعنی ((يعفور)) فروه بن عمرو حضور ﷺ ته دَ هديه په توګه پيش کړې وو أو بالعکس.(۳)

حافظ صاحب هم دا راجح ګرځولې دې چه دا دوه خرونه وو. فرمائی ((وهو غير الحمار الذی يقال له: يعفور)) (۴)

((يعفور)) په اصل کښې دَ هوسئی دَ بچی نوم دې اودې دونم خر ته ((يعفور))دَ هغه دَ تيزوالی په وجه ونيلې شوې دې ځنګه چه دَ هوسئی بچې په منډه کښې تيز وی.(۵)

دَ امام واقدی رحمه الله وينا ده چه دا ((يعفور)) دَ نبی علیه السلام دَ حجة الوداع نه په واپسئی باندې هلاك شوې وو اوهم داعلامه نووی رحمه الله دَحافظ ابن الصلاح په حواله راجح ګرځولې دې.(۶)

خودَ سهيلی وينا ده چه په کومه ورځ دَ رسول الله ﷺ وفات اوشوهم په هغه ورځ ((يعفور)) خپل ځان په يوکوهی کښې ورګذارولو سره هلاك کړې وو. (۷)

دَ حديث باب نور تشريحات ((کتاب العلم باب من خصّ بالعلم قوما دون قوم)) لاندې تيرشوی دی.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث باب ترجمة الباب سره مناسبت واضح دې چه دَ حديث شريف په دې جمله کښې دې: ((يقال له: عفير)) (۸)

[۲۷۰۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ سَمِعْتُ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ(۹) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ فَزَعٌ بِالْمَدِينَةِ فَاسْتَعَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَسًا لَنَا يُقَالُ لَهُ مَنْدُوبٌ فَقَالَ مَا رَأَيْنَا مِنْ فَزَعٍ وَإِنْ وَجَدْنَاهُ لَبَحْرًا [ر: ۲۴۸۴]

---

۱) (شرح ابن بطال (ج۵ص۶۰)-
۲) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱٤۸)-
۳) (حواله بالا وفتح البارى (ج۶ص۵۹)-
٤) (وفتح البارى (ج۶ص۵۹)-
۵) (حواله بالا وعمدة القاری (ج ۱٤ص۱٤۸)-
۶) (حواله بالا وشرح النووى على مسلم (ج۱ص ٤٤)-
۷) (وعمدة القاری (ج ۱٤ص۱٤۸)-
۸) (حواله بالا-
۹) قوله: عن أنس بن مالک رضی الله عنه: الحديث مر تخريجه فی کتاب الهبة باب من استعار من الناس الفرس

تراجم رجال

۱- محمدبن بشار: دا مشهور امام حدیث محمدبن بشار عبدی بصری رحمه الله دي. دَ بندار په لقب باندې مشهور دي. دَ ده حالات ((کتاب العلم باب ماکان النبی صلی الله علیه وسلم یتخولهم...)) لاندې تیرشوی دی.(۱)

۲- غندر: دا ابوعبدالله محمدبن جعفر هذلی رحمه الله دي.دَ غندرپه لقب مشهور دي. دَده حالات ((کتاب الإیمان باب ظلم دون ظلم)) لاندې راغلی. (۲)

۳- شعبه: داامام شعبه بن الحجاج رحمه الله دي. دَ ده حالات هم مختصراً ((کتاب الإیمان باب المسلم من سلم المسلون من لسانه ویده)) په ذیل کښې راغلی دی.(۳)

۴- قتادہ: دا قتاده بن دعامه بن قتاده سدوسی رحمه الله دي. دَ ده حالات هم مختصراً ((کتاب الإیمان باب من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنسفه)) لاندې راغلی دی. (۴)

۵- انس بن مالك: حضرت انس بن مالك رضي الله عنه حالات هم ((کتاب الإیمان)) دَ مذکوره باب لاندې تیر شوی دی. (۵)

قوله: قال: کان فزع بالمدینة، فاستعار النبی صلی الله علیه وسلم فرسالنا یقال له المندوب: حضرت انس رضي الله عنه فرمائی چه یو ځل په مدینه کښې دننه دَ ویرې حالات پیدا شو نو حضوراکرم صلی الله علیه وسلم زمونږ اس واخستلو دَ کوم نوم چه "مندوب" وو.

دلته حضرت انس رضي الله عنه دَاس نسبت خپل طرف کړو چه ((فرسالنا)) او همدغه روایت په ماقبل کښې هم راغلې په هغې کښې ((فرسامن أبي طلحه))(۶) الفاظ وارد شوی دی. یعنی هغه اس دَ حضرت ابوطلحه رضي الله عنه وو. لیکن په دې دواړو روایتونو کښې څه تعارض او منافاة نشته ځکه چه حضرت ابوطلحه رضي الله عنه دَ حضرت انس رضي الله عنه ناسکه پلار اودَ هغه دَ مور ام سلیم رضي الله عنها دونم خاوندوو، نو اس په اصل کښې دَ حضرت ابوطلحه رضي الله عنه وومگر په دې حیثیت سره چه دَ حضرت انس رضي الله عنه دَ تربیت لاندې وو نو خپل طرف ته ئې دَ اس نسبت اوکړو. (۷)

قوله: فقال: ما رأینا من فزع، وإن وجدناه لبحرا: نو حضور صلی الله علیه وسلم واپس راغلو او

---

۱) (کشف الباری (ج۳ص۱۵۸)-
۲) (کشف الباری (ج۲ص۲۵۰)-
۳) (کشف الباری (ج۱ص۶۷۸)-
٤) (کشف الباری (ج۲ص۳)-
۵) (کشف الباری (ج۲ص ٤)-
۶) (صحیح البخاری کتاب الهبة باب من استعار من الناس الفرس رقم (۲۶۲۷)-
۷) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٤٨) و شرح القسطلانی (ج۵ص۷۲)-

ونی فرمائیل مونږ هیڅ د ویرې خبره اونه لیدله او مونږ هغه د سمندر په شان اوموندلو.
"مندوب" نومې دا اس اول بطئ السیرو د حضور اکرم ﷺ د سوریدو په برکت تیز رفتار شو او سریع السیر شو.(۱)
او د علامه مهلب رحمه الله په حواله سره دا خبره اول راغلې چه د ټولونه اول د تیز اس تشبیه د سمندر سره نبی اکرم ﷺ ورکړیده. (۲)
د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث شریف ترجمة الباب سره مناسبت په دې جمله کښې دې: ((فرسالنا يقال له: مندوب)).(۳)

۴۷- بَاب: مَا يُذْكَرُ مِنْ شُؤْمِ الْفَرَسِ

د باب د ترجمه مقصد: د امام بخاری رحمه الله د دې باب د ترجمه مقصد دا دې چه په احادیثومبارکو کښې د اسونوباره کښې چه دا کوم راغلی دی چه په دې کښې شوم او نحوست دې هغه په خپل عموم باندې دی یا د بعضو اسونو سره مخصوص دی. هغه په خپل ظاهر باندې دی یامؤول باندې دی؟ (۴)
بیا مصنف رحمه الله په دې باب کښې دوه احادیث ذکر کړی دی، حدیث عبدالله بن عمر رضی الله عنهما او حدیث سهل بن سعد الساعدی رضی الله عنه.
د سهل بن سعد رضی الله عنه حدیث عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه پس ذکر کولو سره د دې خبرې طرف ته اشاره کړیده چه حدیث عبدالله بن عمر رضی الله عنهما کښې چه کوم حصر وارد شویدې هغه په خپل ظاهر باندې نه دې. د دې باب نه پس د باب ترجمه "الخيل لثلاثة...." کښې هم د دې خبرې ذکر دی چه شوم بعض اسونو سره خاص دې، د هر یو اس حکم دا نه دې او دا ټول د امام بخاری رحمه الله د نظر لطافت او د فکر د دقت نتیجه ده.(۵)

[۲۷۰۳] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ(۶) النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّمَا الشُّؤْمُ فِي ثَلَاثَةٍ فِي الْفَرَسِ وَالْمَرْأَةِ وَالدَّارِ [ر:۱۹۹۳]

تراجم رجال

۱- <u>ابواليمان</u>: دا ابواليمان حکم بن نافع بصری رحمه الله دې.

---

۱) (شرح القسطلانی (ج۵ص۷۲) ويدل عليه قوله: فرسالأبی طلحة بطيئا فی باب السرعة والركض فی الفزع رقم (۲۹۶۹)-
۲) شرح ابن بطال (ج۵ص۳۴۵)-
۳) (عمدة القاری (ج۱٤ص۱٤۸)-
٤) (فتح الباری(ج۵ ص۷۲) وعمدة القاری (ج۱٤ص۱٤۹)-
۵) (فتح الباری(ج۶ص۶۰)-
۶) (قوله: ان عبدالله بن عمر رضی الله عنهما: احديث، مرتخريجه فی كتاب البيوع باب شراء الابل الهيم اوالاجرب-

۲-شعیب: دا ابوبشر شعیب بن ابی حمزة قرشی اموی رحمه الله دی، دَ دې دواړو مختصر حالات "بدء الوحی" دَ شپږم حدیث په زمره کښې راغلي دي. (۱)

۳-الزهری: دا امام محمدبن مسلم ابن شهاب زهری رحمه الله دې، دَ هغوی حالات هم دَ "بدء الوحی" په دریم حدیث کښې تیرشوی دی. (۲)

۴-سالم بن عبدالله: دا ابو عمر سالم بن عبدالله بن عمر بن خطاب رحمه الله دې، دَ هغه هم مختصر حالات "کتاب الایمان باب الحیاء من الایمان" لاندې تیرشویدې. (۳)

۵-عبدالله بن عمر رضی الله عنهما: دا مشهور صحابی دَ رسول الله ﷺ حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دې، دَ هغوی حالات ((کتاب الایمان، باب قول النبی ﷺ: بنی الاسلام علی خمس)) کښې تیرشویدې. (۴)

اخبرنی سالم: دغه شان شعیب دَ زهری رحمه الله نه نقل کړی دی چه سالم دَ زهری نه دا حدیث بیان کړو او ابن ابی ذئب دَ شاذ امر ارتکاب کړیدې چه دَ امام زهری او سلام په مینځ سند کښې ئې محمد بن زبید بن قنفذ داخل کړیدې: یعنی صحیح دا ده چه په دې سند کښې دَ امام زهری او سالم په مینځ کښې بل راوی نشته. (۵)

قوله: قال: سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یقول: انما الشؤم فی ثلاثة: فی الفرس، والمراة، والدار: حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی چه نبی کریم ﷺ نه ماداسې فرمائیلو سره واوریده چه نحوست په اس کښې، ښځه کښې او په کور کښې وی.

دَ "شوم" لفظ شین معجمه او همزه سره دې او کله په دې کښې تسهیل کولې شی نو په ځائ دَهمزه واؤ کیږی (۶) اودَ دې معنی نحوست او بدفالی ده. (۷)

[۲۸۰۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ أَبِي حَازِمِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۱) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنْ كَانَ فِي شَيْءٍ فَفِي الْمَرْأَةِ وَالْفَرَسِ وَالْمَسْكَنِ [۴۸۰۷]

---

۱) (کشف الباری(ت۱ص۴۷۹-۴۸۰)-
۲) (کشف الباری(ج۱ص۳۲۶)-
۳) (کشف الباری(ج۲ص۱۲۸)-
۴) (کشف الباری(ج۱ص۶۳۷)-
۵) (فتح الباری(ج۶ص۶۰) وعمدة القاری(ج۱ص۱۴۹)-
۶) (فتح الباری(ج۶ص۶۰)-
۷) (التمهید(ج۹ص۲۷۸)-

[.... بقیه حاشیه په راروانه صفحه.....

تراجم رجال

۱-عبدالله بن مسلمه: دا عبدالله بن مسلمه بن قعنب قعنبی رحمه الله دی.

۲-مالك: دا امام دارالهجرة امام مالك بن انس اصجی رحمه الله دی. د دی دواړو حضراتو حالات ((کتاب الایمان باب من الدین الفرار من الفتن)) کښې تیرشوی دی.(۲)

۳-ابوحازم: دا مشهور زاهد، ابو حازم بن دینار مولی الاسود مدنی رحمه الله دی. (۳)

۴-سهل بن سعدالساعدی: دصحابی رسول ﷺ حضرت سهل بن سعدالساعدی رضی الله عنه حالات هم تیرشوی دی. (۴)

قوله: ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: ان کان فی شیء ففی المراة والفرس والمسکن: حضرت سهل بن سعدالساعدی رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه (نحوست) که په یو څیز کښې وی نو په ښځه کښې، په اس کښې او د اوسیدو په ځائ (مسکن) کښې به وو.

یوسوال اود هغې جوابونه: په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله دوه احادیث ذکر کړی دی. په دې احادیثو باندې دا اشکال کیږی چه د حضوراکرم ﷺ په یوبل حدیث کښې چه د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې په دې کښې دی: "لاعدوی، ولاطیرة" (۵) او په دې حدیث کښې د بدفالئی نه منع کړې شوې ده، ښځه کوراو اس کښې د شوم دا تصور بدفالی او بدشګونی نه ده نو نور څه دی؟ په ظاهره دواړو قسم روایاتوکښې تعارض دې.

د دې تعارض دلرې کولودپاره مختلف حضرات او محدثین مختلف جوابونه ورکوی:

① امام مالك او ابن قتیبه رحمه الله د باب احادیث په خپله ظاهری معنی باندې محمول کړی دی اوونیلی دی چه دااحادیث په دې دوئم حدیث کښې بیان شوی عام قانون نه مستثنی دی.(۶)

...دتیرمخ حاشیه[۱) (قوله: عن سهل بن سعدالساعدی رضی الله عنه الحدیث اخرجه الخاری ایضاً (ج۲ص۷۶۳) کتاب النکاح باب یتقی من شؤم المراة..... رقم (۵۰۹۵) ومسلم کتاب السلام باب الصنرة والفال ومایکون فیه الشوم رقم (۵۸۱۰) والترمذی ابواب الادب باب ماجاء فی الشوم رقم (۲۸۲٤) وابن ماجه ابواب النکاح باب مایکون فیه الیمن والشوم رقم (۱۶۶٤)-

۲) (کشف الباری(ج۲ص ۸۰) وایضا انظر لترجمة الامام مالک بن انس کشف الباری(ج۱ص ۲۹۰)-

۳) (د هغوی د حالاتود پاره اوګورئ کتاب الوضوء، باب غسل المراة اباها الدم عن وجهه-

٤) حواله بالا-

۵) (الحدیث اخرجه البخاری کتاب الطب باب الفال رقم (۵۷۵۶) وباب لاعدوی رقم (۵۷۷۶ ومسلم کتاب السلام باب الطیرة والفال رقم (۵۸۰۰و ۵۸۰۱)و ابوداؤد ابواب الطب باب فی الطیرة رقم (۳۹۱۶) والترمذی ابواب السیر باب ماجاء فی الطیرة رقم(۱۶۱۵)-

۶) (فتح الباری(ج۶ص ۶۱)-

۲ علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی چه دا احادیث دَ قرآن کریم دَ آیت ﴿ما اصاب من مصیبة فی الارض ولا فی انفسکم الا فی کتاب﴾ (۱) سره منسوخ دی (۲) لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله په دې جواب باندې رد کړیدې او فرمائی "والنسخ لایثبت بالاحتمال" (۳)

۳ ابن العربی رحمه الله دافرمائی چه دا کلام حرف شرط سره دې، لکه څنګه چه دَ باب بل روایت حضرت سهل بن سعد کښې ((ان کان الشؤم.....)) حرف شرط سره دې او معنی دا ده چه شوم ونحوست که چرته په یو څیز کښې کیدیشی نو هغه ښځه، کور او اس کیدیشی.(۴) (لیکن شوم یعنی سپیره والې په څه څیز کښې نه وی نو دَ دې دَ پاره په دې دریو څیزونوکښې هم د دې تصور نشی کیدلې).

۴ بعض علماؤ فرمائی چه په حقیقت کښې شوم په دوه قسمه دې. یو شوم په معنی دَ عدم موافقت او دونم شوم په معنی دَ نحوست.

نو شوم په حدیث باب کښې په معنی دَعدم موافقت دې او((لاعدوی ولا طیرة)) کښې په معنی دَ نحوست دې. په دې صورت کښې به دَ کور بدفالئی مطلب دا وی چه هغه تنګ وی یا هلته ګاونډیان ښه نه وی یا دَهغه ځائ آب وهوا خرابه وی دغه شان دَ شؤم مرأة مطلب دا دې چه دَهغې اولاد نه وی، اوږد ژبې وی، دَ پاك دامنئی خیال نه ساتی او دَ شؤم فرس مطلب دا دې چه هغه په جهاد کښې په کار رانشی یاسرکش وی یا دَ هغې قیمت زیات وی.(۵) علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی:

((وقد فسر معمر فی روایته لهذا الحدیث الشؤم تفسیرا حسنا: قال معمر: سمعت من یفسر هذا الحدیث یقول: شؤم المراة اذا کانت غیر ولود، وشؤم الفرس اذا لم یغز علیه فی سبیل الله، وشؤم الدار جار السوء)). (۶)

او معمر رحمه الله دَ دې حدیث په روایت کښې دَ شوم ښه تفسیر بیان کړیدې. هغوی فرمائی چه دَ هغه نه می اوریدلې چه دَ دې حدیث تفسیر او وضاحت ئې بیانولو چه دَ ښځې شوم دا دې چه دَ هغې بچی نه کیږی، دَ اس شوم دا دې چه په دې دَ الله تعالی دَ پاره جنګ نه کوی او دَ کور شوم دا دې چه دَ هغې ګاونډی خراب وی.

دَ آخری جواب تائید دَ حضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه هغه مرفوع حدیث نه هم کیږی کوم

---

۱) (الجدید ۲۲)-

۲) (عمدة القاری (ج ۱۴ ص ۱۵۰) والتمهید (ج ۹ ص ۲۸۵)-

۳) (فتح الباری (ج ۶ ص ۶۲)-

۴) (حواله بالا. وتکملة فتح الملهم (ج ۴ ص ۳۸۱) وعمدة القاری (ج ۱۴ ص ۱۵۱) قال العینی وهنا اسم کان مقدر ان کان الشؤم فی شئ حاصلا فیکون فی المراة والفرس والمسکن فقوله ان کان فی شئی الی اخره اخبار انهلیس فیهن فاذالم یکنفی هذه الثلاثة فلایکون فی شئ-

۵) (لامع الدراری (ج ۹ ص ۲۶۷) ورجح هذا الجواب الشیخ الکاندهلوی انظر تعلیقات لامع الدراری-

۶) (التمهید لابن عبدالبر (ج ۹ ص ۲۷۸-۲۷۹) والمصنف لعبدالرزاق (ج ۱ ص ۴۱۱ رقم (۱۹۵۲۷)-

چه امام احمدرحمه الله روایت کړیدي. په دې کښې دی:

((من سعادة المرء المرأة الصالحة والمسکن الصالح والمرکب الهنیٔ ومن شقاوة المرء المرأة السؤ والمسکن السؤ والمرکب السؤ)). (۱)

یعنی د سړی په خوشبختئی کښې دا دی چه د هغه ښځه نیکه وي. دهغه د اوسیدو ځائ ښه وي او دهغه سورلی ښه وی او د سړی بدبختئی نه دا دی چه د هغه ښځه بداخلاقه وی د هغه د اوسیدو ځائ خراب وی او د هغه سورلی خرابه وی. او دا څيز د هرجنس بعض قسمونو سره مختص دې. (۲)

خاص د دې دریو څیزونو ذکر کولو وجه: دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما حدیث باب اداة حصر سره وارد شویدې چه شوم هم په دریو څیزونوکښې وی ښځه اس او کور.(۳)

بعض حضراتو مثلاً ابوالعباس قرطبی رحمه الله فرمائی چه د دې دریو څیزونو ذکر سره د خاص کولو وجه د ملازمت طول او اوږدوالي دې. یعنی د انسان هم دې څیزونو سره واسطه پریوزی ځکه چه انسان په غالب أحوالوکښې د کور نه چه په کښې اوسیږی. د ښځې نه چاسره چه د ژوندتیرولو تعلق وی او تړلې شوی اس نه کوم چه ده د جهاد د پاره تیار ساتلې وی مستغنی کیدې نشی. (۴)

آیا شوم مذکور په دې دریو څیزونوکښې محصور دې؟: بیا دا خبره یاد ساتئی چه د باب حدیث طرق هم په دې دریو څیزونو متفق دی یعنی په ټولو طرقو کښې هم د فرس، مرأة او دار ذکر دې البته مصنف عبدالرزاق (۵) کښې "معمرعن امرسلمة" په طریق((السیف)) اضافه هم موجود ده. کوم نه چه معلومیږی چه توره هم شوم او نحوست وی او علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی ((رواه جویریة عن مالك عن الزهری ان بعض اهل ام سلمة زوج النبی صلی الله علیه وسلم اخبره ان ام سلمة کانت تزید السیف)) (۶)

حافظ ابن حجررحمه الله چه د دې زیاتوالی متعلق کوم کلام ذکر کړیدې دهغې خلاصه مونږ دلته ذکر کوو: دا حدیث سره د دې زیاتوالی امام دارقطنی په "غرائب مالك" کښې نقل کړیدې او د هغه سند تر زهری رحمه الله پورې صحیح دې. بیا جویریه په دې حدیث کښې منفرد هم نه ده بلکه سعید بن داؤد د هغې متابعت کړیدې، دا متابعت هم امام دارقطنی نقل کړیدې او هغه فرمائیلی چه د جویریه په روایت کښې چه کوم مبهم راوی دی هغه ابو عبیده عبدالله بن زمعه دې. دغه شان امام ابن ماجه رحمه الله دا روایت "سیف" د زیاتوالی سره په خپل

---

۱) (المسند الامام احمدبن حنبل (ج۱ص۱۶۸)-
۲) (فتح الباری(ج۶ص۶۲) وانظر ایضا کشف الباری کتاب النکاح (ص۱۸۱)-
۳) (حواله بالا وعمدة القاری (ج۱۴ص۱۴۹) وطرح التثریب فی شرح التقریب (ج۷ص۲۱۵۳)-
٤) (وعمدة القاری (ج۱۴ص۱۴۹) وطرح التثریب فی شرح التقریب (ج۷ص۲۱۵۳)-
۵) (المصنف لعبدالرزاق (ج۱۰ص۴۱۱) رقم (۱۹۵۲۷)-
۶) (التمهید لابن عبدالبر(ج۹ص۲۷۹)-

سنن کښې موصولا ذکر کړیدې دې. د هغه په سند کښې ابوعبیده عبدالله بن زمعه صراحت دې او د هغه روایت الفاظ دا دی:

قوله: عن زینب بنت ام سلمة عن ام سلمة انها حدثت بهذه الثلاثة وزادت فیهن والسیف: (۱) زینب بنت ام سلمه دا د ابوعبیده عبدالله بن زمعه مور ده. حدیث باب امام نسائی رحمه الله (۲)هم د سند په څه اختلاف سره نقل کړیدې.دې کښې هم د "سیف" زیاتوالې موجود دې.(۳)

علامه ابن عربی رحمه الله فرمائی چه حصر په نسبت د عادت دې یعنی خلق عادةً په دې څیزونو کښې نحوست ګڼړی او دا څه خلقی یا فطری معامله نه ده چه په دې څیزونوکښې به خامخا څه نحوست وی، دا مطلب حصر نه دې چه دا درې څیزونه پیدائشی مشوم او منحوس وی، کله نحوست د دوو کسانو سره په اوسیدو سره کیږی. کله په سفرکښې کیږی او کله په هغه کپړا کښې وی کومه چه بنده نوې نوې اخلی، د دې د پاره نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی ((اذا لبس احدکم ثوبا جدیدا فلیقل: اللهم انی اسالك من خیره وخیر ما صنع له، واعوذبك من شره وشر ما صنع له)) (۴)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د باب د رومبی حدیث مناسبت ترجمة الباب د حدیث جملې ((فی الفرس)) په جمله کښې دې او د دوئم حدیث مناسبت هم ترجمه سره بالکل واضح او ظاهر دې. (۵)

تنبیه: دا د شوم مسئله (کتاب النکاح) (۶)کښې هم تیره شویده او دلته هم امام بخاری رحمه الله دا روایات نقل کړیدی، ترجمه ئی هم قائم کړیده او د جهاد په مناسبت سره شوم فرس ئی هم بیان کړیدې د کوم تفصیل چه په ما قبل کښې مونږ بیان کړیدې.

۴۸- بَاب: الْخَيْلُ لِثَلَاثَةٍ

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری دلته دا اوفرمائیل چه اسونه درې وی یعنی د اسونو پالونکو کسانو د نوعیت په اعتبار سره درې قسمونه دی. (۷)

---

۱) (سنن ابن ماجه کتاب النکاح باب مایکون فیه الیمن والشوم رقم ۱۹۹۵)-
۲) (سنن النسائی الکبری (ج۵ص۴۰۳) کتاب عشرة النساء ابواب حقوق الزوج شوم المرءة رقم (ج۵ص۹۲۸۰)-
۳) (فتح الباری(ج۶ص۶۳)-
٤) (الحدیث رواه ابوداؤد فی کتاب اللباس باب ما یقول اذا لبس ثوبا جدیا رقم (٤٠٢٠) والترمذی فی کتااللباس باب ما یقول اذا لبس ثوباجدیدارقم (۱۷۹۷) وطرح التثریب فی شرح التقریب (ج۷ص ۲۱۵۳)-
۵) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۳۹و۱۵۱)-
۶) (صحیح البخاری(ج۲ص۷۶۳) کتاب النکاح باب مایتقی من شوم المراة وکشف الباری کتاب النکاح (ص۱۸۰-۱۸۲)-
۷) (عمدة القاری(ج ۱٤ص۱۵۱)-

یو خیل خو هغه دي چه د اجر او ثواب سبب جوړیږی او دا هم هغه خیل دي چه د جهاد د پاره اوساتلي شی. دونم هغه دی چه ستر او پردي پټولو او د دوزخ د اور نه د حجاب سبب جوړیږی او هغه دا دی چه کوم سړي اس اوساتی او د هغه چه د الله تعالی د طرف نه کوم حقوق مقرر دی هغه ادا کړی. د ده ښه خیال اوساتی، او دریم اس هغه دي چه د اسلام سره د دښمنئی د پاره اوساتلي شي.
بیا امام بخاري د حدیث باب په روښنئی حصه کښې باب د ترجمه جزء جوړکړیدې. (۱)
لکه څنګه چه د هغه معروف عادت دې. (۲)

حضرت شیخ الحدیث رحمه الله د ترجمه غرض دا خودلي دي: ((ویحتمل عندی فی وجه الغرض من الترجمة: انه الاشارة الی ما سبق من شؤم الفرس من حیث الحصر الوارد فی الحدیث، فانه لم یتعرض فیه الی الشؤم)) (۳)
یعنی زما په نزد د باب د ترجمه په غرض کښې دا احتمال دې چه امام بخاری رحمه الله د دې ترجمه نه دې طرف ته اشاره کوی چه په ما سبق کښې په کومو دریوڅیزونو کښې حصر وارد شوې وو چه په دې کښې نحوست دې په دې کښې اس هم شامل وو نو هغوی په سابق کښې د بیان شوی شوم نه دلته تعرض نه دې کړې.
دکوم نه چه دا معلومه شوه چه په هریو اس کښې نحوست نه وی. کما سبق منا ذکره فی الباب السابق
آیا اسونه هم په دې دریو قسمونوکښې منحصر دی؟: دلته سوال دا پیدا کیږی چه نبی کریم ﷺ د باب په حدیث کښې د خیل درې قسمونه بیان فرمائیلی دی نو آیا د خیل صرف همدغه درې قسمونه دی که نور هم شته؟
حافظ ابن حجر رحمه الله د دې جواب کښې فرمائی چه د باب حدیث نه بعض شراح حصر مراد اخستې دې چه د اسونوهم درې قسمونه دی. هغه داسې چه اس پالل او هغه ساتل خو به مطلوب وی یا به مباح وی او یا به ممنوع، نو په مطلوب کښې واجب او مندوب دواړه داخل دی او ممنوع کښې حرام او مکروه دواړه داخل دی. (۴)
بیا بعضو حضراتو په دې باندې اعتراض اوکړو چه په حدیث کښې خو د مباح ذکر نشته، ځکه چه کوم دریم قسم د اسونودې هغه دې قید سره مقید دی "ولم ینس حق الله فیه" نودا خو مندوب سره ملحق شو نو دلته د مباح قسم کوم ځائ نه راغلو؟
ددې اعتراض جواب دا دې چه د نبی کریم ﷺ غالب عادت دا وو چه هغوی ﷺ به هم د دې څیزونو اهتمام فرمائیلو په کوم کښې چه د څه څیز ترغیب وی یا د امر نه منع کړېشوې وی. ترکومې چه د خالص مباحاتو تعلق دې نود دې بیان نه هغوی ﷺ سکوت فرمائی،

---

۱) (حواله بالا وفتح الباری(ج۶ص ۶۴)-
۲) (کشف الباری (ج۱)-
۳) (الابواب والتراجم للشیخ الکاندهلوی (ج۱ص۱۹۶)-
۴) (فتح الباری (ج۶ص ۶۴)-

ځکه چه دا خبره معلومه ده چه د دې مباحاتونه سکوت د عفواو معافئي دليل دې. (۱)
او حافظ صاحب رحمه الله د مذکوره اعتراض جواب فرمائی چه دا هم ممکن دی چه دونم قسم خالص د مباح وی مګر دا چه د نيت د خلوص په وجه هغه کله کله د ندب درجې ته اورسي په خلاف د اول قسم ځکه چه هغه خو د شروع نه مطلوب دې (۲) يعنی په اول قسم کښې د اس ترلو نيت هم د جهاد د پاره وو نو هغه خو د شروع نه مطلوب او مقصود دې. والله اعلم.

قوله: وَقَوْلِهِ تَعَالَى وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ: [النحل:۸] او د الله تعالى قول دې او(هغه)اسونه قچرې او خره پيداکړی دې د پاره چه تاسو په دې سواره شئ او زينت هم دې.

د(الخيل...) عطف د ماقبل "والانعام" باندې دې په دې وجه د مفعوليت په وجه منصوب دی(۳)
او د قرآن کريم مذکوره آيت د ترجمة الباب دونم جزء دې او دا آيت هم د باب حديث کښې په مذکوره تقسيم باندې دلالت کوی. اومطلب دا دې چه مذکوره څيزونه يعنی اس قچر اوخر الله تعالى د سورلئي او ښائست د پاره پيدا کړی. اوس که يو سړې دا په څه کار کښې استعمالوی نود ده د پاره دا مباح دی. د دې نه پس که دې کار سره د عبادت نيت هم شامل شي نو هغه مباح نه ترقی کوی او امر مندوب کښې شامليږی او که د معصيت نيت اوکړی يعنی د فخر او مباهاتو نودا په ګناه کښې شامليږی. (۴)

فائده: تاسو ګورئی چه د الله تعالى مذکوره بالاقول کښې معطوف او معطوف عليه په يوه طريقه باندې نه دې. معطوف عليه خو "لتركبوها" دې او معطوف "زينة" کلمه ده. په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چه رکوب د مخاطبينو فعل دې او زينت، د زينت ورکونکی خالق فعل دې. (۵)

[۲۷۰۵] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۶) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْخَيْلُ لِثَلَاثَةٍ لِرَجُلٍ أَجْرٌ وَلِرَجُلٍ سِتْرٌ وَعَلَى رَجُلٍ وِزْرٌ فَأَمَّا الَّذِي لَهُ أَجْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَأَطَالَ فِي مَرْجٍ أَوْ رَوْضَةٍ فَمَا أَصَابَتْ فِي طِيَلِهَا ذَلِكَ مِنَ الْمَرْجِ أَوِ الرَّوْضَةِ كَانَتْ لَهُ حَسَنَاتٍ وَلَوْ أَنَّهَا قَطَعَتْ طِيَلَهَا فَاسْتَنَّتْ شَرَفًا أَوْ شَرَفَيْنِ كَانَتْ أَرْوَاثُهَا وَآثَارُهَا حَسَنَاتٍ لَهُ وَلَوْ أَنَّهَا مَرَّتْ

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص ۶۴)-
۲) (حواله بالا-
۳) (عمدة القاری(ج ۱۴ص ۱۵۱)-
۴) (فتح الباری (ج۶ص ۶۴)-
۵) (عمدة القاری(ج ۱۴ص ۱۵۱)-
۶) (قوله: عن ابی هريرة رضی الله عنه الحديث مر تخريجه فی کتاب المساقاة باب شرب الناس وسقی الدواب من الانهار-

بِنَهرٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ وَلَمْ يُرِدْ أَنْ يَسْقِيَهَا كَانَ ذٰلِكَ حَسَنَاتٍ لَهُ وَرَجُلٌ رَبَطَهَا فَخْرًا وَرِئَاءً وَنِوَاءً لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ فَهِيَ وِزْرٌ عَلَى ذٰلِكَ وَسُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحُمُرِ فَقَالَ مَا أُنْزِلَ عَلَيَّ فِيهَا إِلَّا هٰذِهِ الْآيَةُ الْجَامِعَةُ الْفَاذَّةُ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ [ر: ٢٢٤٢]

تراجم رجال

١- عبدالله بن مسلمه: دا عبدالله بن مسلمه بن قعنب قعنبی رحمه الله دي.

٢- مالك: دا امام مالك بن انس رحمه الله دي، دَ دې دواړو حضراتو حالات ((كتاب الايمان باب من الدين الفرار من الفتن)) لاندې تيرشوی دی.(١)

٣- زيد بن اسلم: دا مولی عمرزيد بن اسلم العدوی دې. دَ دوی حالات هم په مذكوره بالا باب كښې تيرشوی دی. (٢)

٤- ابوصالح السمان: دا ابوصالح ذكوان السمان الزيات رحمه الله دې.

٥- ابوهريره رضي الله عنه: دا مكثر صحابی حضرت ابوهريره رضي الله عنه دې، دَ دې دواړو حضراتو حالات "كتاب الايمان، باب امور الايمان" كښې تيرشوی دی. (٣)

قوله: ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: الخيل لثلاثة: دَ بخاری شريف په ډيرو نسخو كښې "لثلاثة" دې، او دَ كشميهنی په روايت كښې "الخيل ثلاثة" دې بغير دَ لام نه(٤)

دَ اسونو دريو قسمونو په مينځ كښې دَ حصر وجه: دَ دې دريواړو قسمونو په مينځ كښې دَ حصر وجه دا دې چه اس به دَ سورلنی دَ پاره ساتلې شي يا دَتجارت دَ پاره، بيا په دې دواړو كښې دَ هريو قسم سره به څه عبادت مقترن وی، نودا اول قسم دې يا څه معصيت يا گناه مقترن وی نو دا دريم قسم دې. ياهر دوه قسمه دَ يو قسم نه خالی وی نو دا دونم قسم دې، او دَ دونم قسم نه مراد هغه صورت دې كله چه هغه ستر جوړ شي (٥)

دَ حديث باب ترجمه: دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه اس دَ درې قسم سړو سره كيديشي. دَ يو سړی دَپاره دَ اجر ذريعه دې، او دَ يو سړی دَ پاره ستر دې او دَ يو دَ پاره دَ جرم سبب دې. هغه سړې دَ چا دَ پاره چه اجر او ثواب دې هغه سړې دې چه هغه دَ الله تعالی په لاركښې دَ جهاد دَ پاره اوساتی او دَ څرن په ځای يا باغ كښې هغه په اوږده رسئی باندې

١) (كشف الباری(ج٢ص ٨٠) وانظر ايضًا لترجمة الامام مالک بن انس كشف الباری (ج١ص ٢٩٠)-
٢) (كشف الباری (ج٢ ص ٢٠٣)-
٣) (كشف الباری (ج١ ص٢٥٨-٢٥٩)-
٤) (عمدة القاری(ج ١٤ص ٢٥٢) وفتح الباری (ج٦ص ٦٤)-
٥) (فتح الباری ج٦ ص ٦٤)-

اوترې نو چه د هغه څرن د ځائ يا باغ كومه كومه حصه په دې رسئى كښې دننه راشى نو د هغه هومره د كويرابر نيكئى به هغه ته ملاويږى. اوكه اتفاقى هغه خپله رسئى اوشلوله او په يوه غونډئى يا دوو غونډو باندې تيرشو نود هغه د خاشنړو د وزن او د قدمونود نښوبرابر نيكئى به ورته ملاويږى. اوكه دا اس چرته په نهر باندې تيرشو اود هغې اوبه اوڅكى سره د دې چه مالك د اوبوڅكلو اراده نه وى كړې نوبيا به هم ده ته نيكئى ملاويږى. اوكوم سړې چه د خان خودنې د پاره ياد فخر په غرض اوترى اود اهل اسلام د دښمنئى د پاره ئى اوساتى نو هغه اس د ده د پاره د جرم سبب دې.كله چه د رسول الله ﷺ نه د خرو باره كښې تپوس اوكړې شو نو هغوى ﷺ اوفرمائيل د دوى باره كښې ماته څه حكم نه دې نازل شوې. مګردا آيت﴿فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ﴾ خوك چه ذرې برابر نيكى كوى هغه به وينى، او څوك چه د ذرې برابر بدى كوى هغه به وينى. دا آيت جامع او منفرد دې.

يوڅوضرورى فوائد: حديث باب خو "كتاب المساقاة" كښې تيرشوې دې په دې وجه مونږ دلته صرف د حديث په ترجمه اكتفا اوكړه، البته د يو څوضرورى فوائدو ذكر كول به د فائدې نه خالى نه وى او هغه دا دى:

① لكه څنګه چه اوس مونږ اوخودل چه دا روايت "كتاب المساقاة" كښې تيرشوې دې د دې د پاره امام بخارى رحمه الله حديث باب دلته په اختصارسره ذكر كړو او دونم قسم ئى اختصاراً حذف كړو. د دونم قسم ذكر د "كتاب المساقاة" په روايت كښې داسې ذكر دې: ((ورجل ربطها تغنيا وتعففا ثم لم ينس حق الله فى رقابها ولا ظهورها فهى لذلك ستر)) (١)

او يو سړې هغه دې چه د خلقو نه بې پرواه اوسيږى او د هغوى په وړاندې د سوال د پاره خپل لاس خورولو نه د بچ كيدلو د پاره اس ساتى او بيا د هغه د سټ او د هغه د شا په سلسله كښې د الله تعالى حق هم نه هيروى نو دا اس د خپل مالك د پاره پرده ده.

② د حديث باب د جملې ((ولم يرد ان يسقيها)) نه معلوميږى چه بنده ته به د دې جزئياتو هم ثواب او اجر ملاويږى چه د طاعت او عبادت د فعل په مينځ كښې واقع وى په دې شرط چه اصل يعنى د عبادت قصد او ارادې نيت موجود وى. دا د الله تعالى د طرف نه په خپلو مؤمنانو بنديګانو فضل او احسان دې. (٢) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى:

((وفيه ان الانسان يؤجر على التفاصيل التى تقع فى فعل الطاعة اذا قصد اصلها وان لم يقصد تلك التفاصيل))(٣)

③ د اسونو تندو سره خير او بركت تړلې وى خو چه كله د هغې ساتل د عبادت د پاره يا د

---

١) (صحيح البخارى كتاب المساقاة باب شرب الناس وسقى الدواب من الانهاررقم(٢٣٧١) وعمدة القارى (ج٢٤ص١٥٢)ولكرمانى (ج١٢ص١٤١)-

٢) (التمهيد(ج٤ص٢٠٣) وشرح ابن بطال (ج٥ص٦٣)-

٣) (فتح البارى (ج٦ص٦٤)-

څه مباح کار د پاره وي. ګنی د دې ساتل مذموم او د ګناه ذریعه ده. حافظ رحمه الله فرمائی:

((وفی هذا الحدیث بیان ان الخیل انما تکون فی نواصیها الخیر والبرکة اذا کان اتخاذها فی الطاعة اوفی الامور المباحة والافهی الجامعة مذمومة)) (۱)

قوله: فقال: ماانزل علی فیها الاهذه الایة الجامعة الفاذة: نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: د دې په بابت کښې په ما څه حکم نه دې نازل شوې. مګر دا آیت ﴿فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ۝ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ۝﴾ جامع او منفرد دې.

⊙ابن التین رحمه الله فرمائی مطلب دا دې چه دا آیت په دې خبره باندې دلالت کوی چه کوم سړې څه د عبادت او طاعت د پاره اوساتی نو د هغې ثواب به وینی او که د دې خرو په ذریعه د څه معصیت او ګناه کارکوی نو بیا به هم د هغې سزا او راګیرول وینی. (۲)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث ترجمة الباب سره مناسبت او مطابقت بالکل واضح دې او هغه ((الخیل لثلاثة)) دې. (۳)

۳۹-بَاب: مَنْ ضَرَبَ دَابَّةَ غَيْرِهِ فِي الْغَزْوِ

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاری رحمه الله دا بیان کول غواړی چه د سفرپه دوران قافله کښې که د چا سورلی د کمزورئی اولاغرئی په وجه اودریږی نو د سورلئی د مالك امداد او اعانت کولو د پاره هغه وهل پکار دی چه هغه سورلی روانه شی. (۴)

[۲۷۰۶] حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا أَبُو عَقِيلٍ حَدَّثَنَا أَبُو الْمُتَوَكِّلِ النَّاجِيُّ قَالَ أَتَيْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيَّ فَقُلْتُ لَهُ حَدِّثْنِي بِمَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَافَرْتُ مَعَهُ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ قَالَ أَبُو عَقِيلٍ لَا أَدْرِي غَزْوَةً أَوْ عُمْرَةً فَلَمَّا أَنْ أَقْبَلْنَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَتَعَجَّلَ إِلَى أَهْلِهِ فَلْيُعَجِّلْ قَالَ جَابِرٌ فَأَقْبَلْنَا وَأَنَا عَلَى جَمَلٍ لِي أَرْمَكَ لَيْسَ فِيهِ شِيَةٌ وَالنَّاسُ خَلْفِي فَبَيْنَا أَنَا كَذَلِكَ إِذْ قَامَ عَلَيَّ فَقَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا جَابِرُ اسْتَمْسِكْ فَضَرَبَهُ بِسَوْطِهِ ضَرْبَةً فَوَثَبَ الْبَعِيرُ مَكَانَهُ فَقَالَ أَتَبِيعُ الْجَمَلَ قُلْتُ نَعَمْ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ وَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْجِدَ فِي طَوَائِفِ أَصْحَابِهِ فَدَخَلْتُ إِلَيْهِ وَعَقَلْتُ الْجَمَلَ فِي نَاحِيَةِ الْبَلَاطِ فَقُلْتُ لَهُ هَذَا جَمَلُكَ فَخَرَجَ فَجَعَلَ يُطِيفُ بِالْجَمَلِ وَيَقُولُ الْجَمَلُ جَمَلُنَا فَبَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَاقٍ مِنْ ذَهَبٍ فَقَالَ أَعْطُوهَا جَابِرًا ثُمَّ قَالَ اسْتَوْفَيْتَ الثَّمَنَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ الثَّمَنُ وَالْجَمَلُ لَكَ [ر: ۴۳۲]

---

۱) (حواله بالا (ص۶۵)-

۲) (حواله بالا-

۳) (عمدة القاری (ج ۱٤ ص۵۵۲)-

٤) (عمدة القاری (ج ۱٤ ص۱۵۲) وفتح الباری (ج۶ص۶۶)-

تراجم رجال

۱- **مسلم:** دا مسلم بن ابراهيم القصاب فراهيدى رحمه الله دى. دَ دوى حالات ((كتاب الايمان باب زيادة الايمان ونقصانه)) لاندې تيرشوى دى. (۱)

۲- **ابوعقيل:** دا ابوعقيل بشيربن عقبه السامى رحمه الله دى (۲)

۳- **ابوالمتوكل الناجى:** دا ابوالمتوكل على بن داوَد الناجى رحمه الله دى (۳)

۴- **جابر بن عبدالله:** دا دَ رسول الله ﷺ مشهور صحابى حضرت جابر بن عبدالله الانصارى رضى الله عنه دى. (۴)

قوله: قال: سافرت معه فى بعض اسفاره – قال ابوعقيل: لاادرى غزوة ام عمرة: حضرت جابربن عبدالله الانصارى رضى الله عنه فرمائى چه ما دَ رسول الله ﷺ سره دَ هغوى په بعض سفرونوكښې سفراوكړو. راوى حديث ابوعقيل رحمه الله وائى چه ماته دا معلومه نه ده چه مذكوره سفر دَ كومې غزوه وو يا دَ عمرې وو.

دا پورتنې سفردَ غزوې ووكه دَ عمرې؟ دلته راوى ابوعقيل رحمه الله ته شك پيدا شوې دې چه سفردَ څه څيز دَپاره وو دَ غزوه دَپاره يا دَ عمرې دَ پاره. ليكن دَ رواياتو دَ تتبع نه هم دغه معلوميږى چه سفردَ غزوه وو. همدغه حديث امام بخارى رحمه الله په كتاب البيوع كښې هم نقل كړيدې، په دې كښې دَ "غزاة" لفظ صريح موجود دې. (۵) دينه علاوه دَ غزوه دَ سفر كيدو كښې تائيد دَ ابوعوانه عن مغيره په طريق روايت نه هم كيږى. دَ كوم په آخركښې چه دا الفاظ واردشوى دى ((فاعطانى ثمن الجمل والجمل وسهمى مع القوم)) (۶) ظاهر شان خبره ده چه سهم هم په غزوه كښې كيږى.

دا كومه غزوه وه؟ دَ غزوه په تعيين كښې دَ شراحو اختلاف دې چه دا كومه غزوه وه؟ ځكه چه امام بخارى رحمه الله دا حديث په صحيح بخارى كښې موصولاً تقريباً شپږويشت (۲۶) ځل ذكر كړيدې. په كوم كښې چه بعض كښې دَ سفر دَ غزوه كيدو تصريح خوشته لكه چه په اكثرو رواياتوكښې ابهام دې البته په يو تعليق كښې دَ غزوه تعيين شته چه غزوه تبوك وه. په كتاب الشروط كښې داوَد بن قيس عن عبيدالله بن مقسم عن جابر په طريق كښې دى

---

۱) (كشف البارى (ج۲ص۴۵۵)-
۲) (دَ هغوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب المظالم باب من عقل بعيره على البلاط اوباب المسجد-
۳) (دَ هغوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الاجارة باب مايعطى فى الرقبة على احياء العرب...-
۴) دَهغوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب من لم ير الوضوء الامن المخرجين من القبل والدبر
۵) (صحيح البخارى كتاب البيوع باب شراء الدواب والحمير رقم (۲۰۹۷)-
۶) (صحيح بخارى كتاب الاستقراض... باب الشفاعة فى وضع الدين رقم (۲۴۰۶)-

((اشتراط بطریق تبوك))(۱) اودَ داوٗد بن قیس موافقت علی بن زیدبن جُدعان کړیدې دَ هغوی په روایت کښې دی ((ان رسول الله صلی الله علیه وسلم مربجابر فی غزوة تبوك)) (۲)
لیکن ابن اسحاق په دې باندې جزم کړیدې چه مذکوره واقعه دَ "غزوه ذات الرقاع" ده (۳) اودَ واقدی رحمه الله هم دغه خیال دې چه دا "غزوه ذات الرقاع" واقعه ده. (۴)
اوحافظ ابن حجر رحمه الله هم دا راجح ګرځولې دې. حافظ رحمه الله فرمائی: ((وهی الراجحة فی نظری لان اهل المغازی اضبط لذلك من غیرهم)) (۵)
او علامه بیهقی رحمه الله هم دَ ابن اسحاق په قول باندې جزم کړیدې. (۶)
دَ غزوه ذات الرقاع په راجح کیدودلائل حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی په حدیث باب کښې غزوه نه مراد ((غزوة ذات الرقاع)) ده، په دې ئې مختلف دلائل ورکړی دی:
① دَ امام طحاوی رحمه الله په روایت کښې راغلی دی چه حضرت جابر رضی الله عنه او دَ نبی کریم ﷺ په مینځ کښې مذکوره واقعه دَ مکې او مدینې په لارکښې پیښه شوې وه. او دَ تبوك لار دَ مکې لارې سره نه ملاویږی په خلاف دَ ((غزوة ذات الرقاع)) دَ لارې نه، نو معلومه همدغه شوه چه مذکوره واقعه دَ((غزوة ذات الرقاع)) ده. (۷)
② دَحضرت جابر رضی الله عنه دَ دې حدیث ډیر طرق راځی چه نبی کریم ﷺ دَ هغه نه په دې حدیث کښې ذکر شوې واقعه کښې دا سوال هم کړې وو((هل تزوجت؟، قال: نعم، قال: ،،اتزوجت بکرا امرثیبا؟)) (۸) بیا هم په دې کښې دَ حضرت جابر رضی الله عنه دا اعتذار هم ذکر دې چه ما کونډې سره نکاح په دې وجه اوکړه چه زما پلار په غزوه احد کښې شهید شو او شاته ئې زما وړې وړې خوئیندې پریخودې نو ما کونډې سره نکاح اوکړه چه هغه زما دَ خوئیندو خیال اوساتی. دینه همدغه معلومیږی چه دَ باب په حدیث کښې ذکر شوې واقعه دَ هغوی دَ پلار عبدالله دَ شهادت سره نزدې ده. نودَ دې سفر دَ ((غزوة ذات الرقاع)) په موقع باندې کیدل ډیر ظاهریږی، نه چه دَ غزوه تبوك په موقع کیدل، ځکه چه دَصحیح قول مطابق ((غزوة ذات

---

۱) (صحیح بخاری کتاب الشروط باب اذا اشترط البائع ظهرالدابة رقم (۲۷۱۸)-
۲) (فتح الباری (ج۵ص۳۲۰)-
۳) (السیرة النبویة لابن هشام(ج۳ص۲۱۶)-
٤) (فتح الباری (ج۵ ص۳۲۰)-
۵) (حواله بالا-
۶) (دلائل النبوة للبیهقی (ج۳ص۳۸۲) وقدصرح فیه: فی عزوة ذات الرقاع من نخل-
۷) (فتح الباری (ج۵ص۳۲۱)-
۸) (انظرمثلاً الصیحی للبخاری کتاب الجهاد باب استئذان الرجل الامام رقم (۲۹۹۷) وکتاب المغازی باب "اذهمت طائفتان منکم ان تفشلا" رقم (٤۰۵۲)-

الرقاع)) وقوع دَ غزوه احد نه یو کال پس ده او عزوه تبوك اودَ عزوه احد په مینځ کښې دَ اوو کالو فاصله ده. (۱) والله اعلم.

قوله: قال جابر: فاقبلنا وانا علی جمل لی ارمك لیس فیه شیة والناس خلفی: حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چه مونږ راغلو په دې حال کښې چه خپل یو اوښ باندې چه خاکی رنګ وو سور وم په هغه کښې هیڅ عیب نه وو او نور خلق زما نه شاته وو.

دَ ارمک معنی: "ارمك" دَ احمر په وزن دې امام اصمعی رحمه الله فرمائی چه ارمك هغه اوښ ته وائی دَ کوم په سوروالی کښې چه توروالې ملاوشوې وی.(۲)

او علامه کشمیری رحمه الله دَ دې معنی په اردوکښې "خاکستر اونټ" کړیده. (۳)

دَ شیة معنی: "شیة" معنی علامت ده، اومراد ترینه دا دې چه په هغه اوښ باندې دَ هغه دَ خپل حقیقی رنګ نه علاوه بل څه ټاکې وغیره نه وو. (۴) او دا هم احتمال دې چه په هغه اوښ کښې څه عیب نه وو او دَ دې احتمال تقویت او تائید دَ روستوتنئی جملې نه هم کیږی ((والناس خلفی فبینا انا کذلك اذ قام علی)) چه خلق زمانه شاته پاتې شوې وو. زه هم په دې حال کښې ووم چه اوښ مې اودریدو. دینه هم دغه ظاهریږی چه اوښ تیزرفتاروو او دَ رفتارپه حواله سره په دې کښې څه عیب نه وو تردې چه هغه دَ نورو خلقو نه وړاندې اووتلو او بیا هغه دَ ستړیوالی په وجه اودریدو. (۵)

دغه شان امام المفسرین حضرت قتاده رحمه الله هم په قرآن کریم کښې وارد ﴿لَّا شِيَةَ فِيهَا﴾ (۶) معنی ((لاعیب فیها)) نقل کړیدې. (۷)

تنبیه: دَ حدیث باب نور جمله تشریحات ما قبل کښې په مختلف بابونوکښې تیرشوی دی.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث دَ باب ترجمه سره مناسبت دَ حدیث په دې جمله کښې دې ((ضربه بسوطه ضربة)) وهونکې نبی کریم صلی الله علیه وسلم اواوښ دَحضرت جابر رضی الله عنه وواودَ وهلو وجه دَ اوښ اودریدل وو. (۸)

فائده: علامه مهلب رحمه الله فرمائی چه دَ باب دَ حدیث نه معلومه شوه چه جهاد کښې دَ خپل ملګری سره دَ څناور په شړلوکښې امداد کول پکار دی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوکتل چه دَ یو

---

۱) (فتح الباری (ج۵ص۳۲۱)-
۲) (عمدة القاری (ج۱٤ص۱۵۳) وشرح ابن بطال (ج۵ص۶۵) وکتاب الامالی (ج۲ص۲۵۶)-
۳) (فیض الباری (ج۳ص۴۳۱)-
٤) (حواله بالا وفتح الباری (ج۶ص۶۶)-
۵) (فتح الباری (ج۶ص۶۶)-
۶) (البقره:۷۱-
۷) (عمدة القاری (ج۱٤ص۱۵۳)-
۸) (عمدة القاری (ج۱٤ص۱۵۲)-

كمزوري سرې سورلنى له بل سرې ديكه وركوى نو هغوى ﷺ اوفرمائيل ((ذهب هذا بالاجر)) يعنى المعين دغه شان چه څوك د خناور په شړلوكنبې معين وى ده ته به په دې اجر او ثواب ملاويږى. (١)

٥٠-بَاب: الرُّكُوبِ عَلَى الدَّابَّةِ الصَّعْبَةِ وَالْفُحُولَةِ مِنْ الْخَيْلِ

وَقَالَ رَاشِدُ بْنُ سَعْدٍ كَانَ السَّلَفُ يَسْتَحِبُّونَ الْفُحُولَةَ لِأَنَّهَا أَجْرَى وَأَجْسَرُ

د ترجمة الباب مقصد دلته د باب په ترجمه كنبې د شراح بخارى اختلاف دې چه د امام بخارى رحمه الله مقصد د دې ترجمه نه څه دې؟

نود ابن حجر او ابن بطال رحمه الله رائې دا ده چه د نر اس او مست خناور سورلى افضل خودلې كيږى. (٢)

حافظ صاحب رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله په ترجمه كنبې كړې شوې دعوى په دوو طريقوسره ثابته كړې ده. يود راشد بن سعد د اثرنه چه په دې كنبې دا راغلى دى چه سلفو به نر اسونه خوښول نو د دې نه امام بخارى رحمه الله د سركش خاروى په سورلئى باندې استدلال كړې دې. دوئم د حضرت انس رضي الله عنه حديث په باب كنبې ذكر شوى نه، په حديث شريف كنبې د اس د پاره د مذكر ضمير استعمال شوې دې نو معلومه شوه چه د ابوطلحه رضي الله عنه مذكوره اس فحل(نر) وو (٣)

اود علامه ابن بطال رحمه الله وينا ده چه دا خبره خو معلومه ده چه مدينه منوره د اسپونه خالى نه وه ليكن د دې وصف سره نبى كريم ﷺ او نورو صحابه كرامو رضوان الله عليهم اجمعين كنبې د چانه هم دا نقل نه دى چه هغوى د نر اس نه علاوه په بل باندې سورلى كړې وى سوا د سعد بن وقاص رضي الله عنه نه. دا د دې وجه نه چه نر اس د اسپې نه افضل وى. (۴)

مګر د علامه ابن بطال رحمه الله دا خبره د نظر نه خالى نه ده چه صحابه كرامو رضوان الله عليهم اجمعين د نر اسونونه علاوه په بل باندې سورلى نه ده كړې. ځكه چه د حضرت مقداد رضي الله عنه د اس باره كنبې د دارقطنى روايت دا دې ((غزوت مع النبى صلى الله عليه وسلم يوم بدر على فرس لى انثى)) (۵)

دغه شان علامه عينى رحمه الله د مختلف صحابه كرامو رضوان الله عليهم اجمعين باره كنبې ذكر كړى دى چه هغوى به اناث الخيل خوښول، خاص توګه باندې خالدبن وليد رضي الله عنه، چه د هغوى باره كنبې راځى ((انه كان لايقاتل الاعلى انثى، لانها لاتدفع البول، وهى اقل صهيلاً والفحل يحبسه

١) (شرح ابن بطال (ج٥ص ٦٤)-
٢) (فتح البارى(ج٦ص٦٦) وشرح ابن بطال (ج٥ص٦٦)-
٣) (فتح البارى (ج٦ص٦٦)-
٤) (شرح ابن بطال (ج٥ص٦٦)-
٥) (عمدة القارى (ج١٤ص١٥٣)-

لى جريه حق ينتفق، وتؤذى بصهيلة)) هغه به صرف په اسپه باندې جنګ کولو ځکه چه هغه متیازې نه بندوی. هغه کمه هنرېږی هم په خلاف د نراس چه هغه د منډې په وخت کښې متیازې بند ساتی تردې چه (د متیازو پوکنړنی) اوشلیږی او هغه په خپل هنراری سره تکلیف هم رسوی. (١)

دعلامه عینی او علامه ګنګوهی (رحمهما الله) رائې د علامه عینی رحمه الله رائې دا ده چه امام بخاری د باب په ترجمه کښې په سخته سورلئی باندې سورلی کولو مشروعیت او جواز بیانول غواړی که سورلی کونکې د دې اهل وی ګنی نو نه.(٢)

او علامه ګنګوهی رحمه الله هم د دې قائل معلومیږی. شیخ الحدیث محمدزکریا رحمه الله فرمائی

((ظاهر کلام الشیخ قدس سره العزیز انه حمل ترجمة البخاری علی بیان جواز الرکوب علی الصعبة)) (٣)

د حضرت شیخ الحدیث رائې د حضرت شیخ الحدیث محمد زکریا رحمه الله رائې دا ده چه امام بخاری رحمه الله دلته دا خودل غواړی چه مجاهدله په داسې سورلئی باندې عادت جوړول پکار دی چه سخت وی او نروی، دې د پاره چه په هغه کښې تکړه والې او بهادری وی او داسې اس د جهاد په میدان کښې ډیر فائده مند او په کار راځی. نو هغوی لیکی:

((والاوجه عند هذا العبد الضعیف: ان غرض الامام البخاری ترغیب الرکوب علی الدابة الصعبة والفحولة، کما یدل علیه اثر راشد بن سعد.....)) (٤)

او دلته د حضرت شیخ الحدیث صاحب رائې بهتر او مناسب معلومیږی.

قوله: وقال راشد بن سعد: کان السلف یستحبون الفحولة لانها اجری واجسر:

او راشدبن سعد رحمه الله فرمائی سلفو نراسونه خوښول ځکه چه هغه د ډیرې بهادرئی او جسارت والا وی.

راشد بن سعد: دا راشدبن سعد مرائی — بفتح المیم وسکون القاف (٥) حبرانی — بضم الحاء (٦) حمصی رحمه الله دې.

هغه د حضرت ثوبان، حضرت سعدبن ابی وقاص، ابوالدرداء، عمرو بن العاص، ذی مخبر حبشی، عبه بن عبد، عوف بن مالك، معاویه، یعلی بن مرة، مقدام بن معدی کرب، عبدالله بن بسر، ابوامامة، ابن عامر عبدالله بن لحی هوذنی او عبدالرحمن بن جبیر بن نفیر رضی الله تعالی عنهم اجمعین وغیره نه د حدیث روایت کوی.

---

١) (انظر تفصیل ذلک فی عمدة القاری (ج١٤ص١٥٣) وفتح الباری (ج٦ص٦٦) وقال العلامة القرطبی رحمه الله فی تفسیر الجامع لاحکام القران (ج٨ص٣٦) والمستحب منها الاناث قاله عکرمة وجماعة-

٢) (حواله بالا-

٣) (تعلیقات لامع الدراری (ج٧ص٢٣٢) والابواب والتراجم (ج١ص١٩٦)-

٤) (حواله بالا-

٥) (وقیل: بضم المیم والاول قول الاکثر انظر تعلیقات تهذیب الکمال (ج٩ص٨)-

٦) (تعلیقات تهذیب الکمال (ج٩ص٨)-

اودهغوی نه دَ حدیث روایت کونکوکښې حریز بن عثمان، صفوان بن عمرو، معاویه بن صالح حضرمي، علی بن ابی طلحه، ثوربن یزیداو ابوبکربن ابی مریم رحمهم الله وغیره شامل دی.(۱)
امام یحیی بن معین (۲) ابوحاتم، احمد بن عبدالله عجلی، یعقوب بن شیبة او نسائی رحمهم الله فرمائی "ثقة" (۳)
امام دارقطنی رحمه الله فرمائی ((لابأس به اذالم يحدث منه متروك)) (۴)
علی ابن المدینی رحمه الله فرمائی چه ماد یحیی بن سعیدنه تپوس اوکړو ((تروی عن راشد بن سعد؟قال: ماشانه هواحب الی من مكحول)) (۵)
مفضل رحمه الله فرمائی ((راشد بن سعد المقرائی من حمیر من اثبت اهل الشام)) (۶)
اوابن سعد رحمه الله فرمائی ((وكان ثقة)) (۷)
البته ابن حزم رحمه الله فرمائی ((هوضعيف)) (۸)
لیکن علامه ذهبی رحمه الله په ابن حزم باندې رد کولو سره فرمائی ((فهذا من اقواله المرددودة)) (۹)
دَ صفین په جنګ کښې راشد بن سعد رحمه الله دَ حضرت معاویه رضی الله عنه سره شریك وو (۱۰) او په هغه جنګ کښې دَ هغه یوه سترګه هم ضائع شوې وه. (۱۱)
امام بخاری رحمه الله دَ هغه نه په باب کښې صرف مذکوره اثر نقل کړیدې او هیڅ روایت ئی نه دی اخستې، البته امام مسلم رحمه الله نه علاوه باقی حضراتو دَ هغه روایتونه اخستې دی.(۱۲)
دَ اکثرو امامانو دَ جرح او تعدیل دا خیال دې چه دَ هغه وفات دَ خلیفه هشام بن عبدالملك په دور حکومت کښې په کال ۱۰۸ ه کښې شوې. (۱۳)
. اودَ وفات په وخت کښې دَ هغه عمر تقریباً (۹۰) کاله وو. (۱۴) رحمه الله تعالی رحمة واسعة.

---

۱) (دَ شیوخ او تلامذه دَ تفصیل دَ پاره اوګورئ تهذیب الکمال (ج۹ص۹-۱۰)-
۲) (تاریخ عثمان بن سعید الدارمی)ص۱۱۰) رقم (۳۲۸)-
۳) (تهذیب الکمال (ج۹ص۱۰)- .
٤) (حواله بالا وتهذیب تاریخ دمشق لابن عاسکر (ج۵ص۲۹۳)-
۵) (تهذیب الکمال (ج۹ص۱۰)-.
۶) (حواله بالا-
۷) (الطبقات لابن سعد(ج۷ص٤۵۶)-
۸) (سیراعلام النبلاء (ج٤ص٤۹۰)-
۹) (حواله بالا-
۱۰) (حواله بالا وشرح الکرمانی (ج۱۲ص۲۷۳)-
۱۱) (تاریخ البخاری (ج۳ص۲۹۲)- .
۱۲) (تهذیب الکمال (ج۹ص۱۱)-
۱۳) (عمدة القاری (ج۱٤ص۱۵۳) ومیزان الاعتدال (ج۲ص۳۵) وتهذیب الکمال وتعلیقات (جص۱۱)-
۱٤) (سیراعلام النبلاء (ج٤ص٤۹۰)-

د اجر او اجسر معنى: ((أجرأ)) همزه او بغيرهمزه دواړه شانه مروى دي. كه همزه سره وى نو دَ دې معنى به دَ بهادر وى او دا به دَ جراءت نه مشتق وى. او كه بغيرهمزه وى نو دَ دې معنى زيات تيزمندې وهونكى او دا به مشتق وې دَ جرى نه.(١)

او ((اجسر)) جسارة نه مشتق دې دَ دې معنى هم بهادرى ده. (٢)

دَ مفضل عليه دَ حذف وجه: اودلته مفضل عليه له په سياق باندې اكتفاء كولو سره حذف كړيشوې دې. مطلب دادې چه دا نراس داسپې اوخصى اس نه زيات بهادراوتيزرفتاره وى.(٣)

علامه كرمانى رحمه الله فرمانى چه فحولة دَ فحل جمع ده په دې كښې چه كومه تاء ده هغه دَ جمعيت دَ تاكيددپاره راوړلې شويده لكه دَ ملك جمع چه ملائكة ده. (۴)

[٢٨٠٧] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ بِالْمَدِينَةِ فَزَعٌ فَاسْتَعَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَسًا لِأَبِي طَلْحَةَ يُقَالُ لَهُ مَنْدُوبٌ فَرَكِبَهُ وَقَالَ مَا رَأَيْنَا مِنْ فَزَعٍ وَإِنْ وَجَدْنَاهُ لَبَحْرًا [ر: ٢٤٨٤]

تراجم رجال

١- احمد بن محمد: دا احمدبن محمدبن موسى ابوالعباس السمسارالمروزى رحمه الله دې، دَ هغوى لقب مردويه دې. (۵)

اودَ امام دارقطنى رحمه الله دا وينا چه دا احمدبن محمدبن ثابت بن عصمان خزاعى شبويه رحمه الله دې، صحيح نه ده، ځكه چه دا دَ بخارى دَ رجالو نه نه دى بلكه دَ مروزى و بخارى دَ رجالونه دى. (۶)

٢- عبدالله: داعبدالله بن مبارك حنظلى مروزى رحمه الله دې، دَ هغوى مختصر حالات "بدء الوحى" په پنځم حديث كښې تيرشوى دى.(٧)

٣- شعبه: دا ابوبسطام شعبه بن الحجاج رحمه الله دې دَ دوى هم مختصر حالات ((كتاب الايمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده)) لاندې تيرشوى دى. (٨)

---

١) (شرح الكرمانى (ج١٢ص١٤٣) وفتح البارى (ج۶ص۶۶)-
٢) (حواله بالا-
٣) (فتح البارى (ج۶ ص۶۶) وعمدة القارى (ج ١٤ ص١٥٣)-
٤) (شرح الكرمانى (ج١٢ص١٤٣)-
۵) (دَ هغوى دَ حالاتودپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب ماينفع من النجاسات فى السمن والماء-
۶) (عمدة القارى (ج ١٤ ص١٥٣) وفتح البارى (ج۶ص۶٧)-
٧) (كشف البارى (ج١ص۴۶٢)-
٨) (كشف البارى(ج١ص۶٧٨)-

۴- قتادة: دا قتاده بن دعامه بن قتاده سدوسى رحمه الله دى.
۵- انس بن مالك: دا حضرت انس بن مالك رضى الله عنه دى، دَ دى دواړو حضراتو حالات ((كتاب الايمان باب من الايمان ان يحب لاخيه لنفسه)) لاندې تيرشوى.(١)

تنبيه دَ حديث باب تشريحات ماقبل كښې په مختلف ابوابو كښې بيان شوى دى.(٢)

دَباب ترجمه سره دَ حديث مناسبت: په ماقبل كښې مونږ دَ باب دَ ترجمه دَ مقصد لاندې دَ شراحو اختلاف دَ ترجمه په مقصدكښې نقل كړى دى، همدغه اختلاف ترجمة الباب سره دَ حديث كښې هم مناسبت دې چه دَ حديث كوم جزء په ترجمه باندې منطبق دې؟

دَ حافظ ابن حجر رحمه الله دَ كلام نه مستفادا كيږى چه ترجمه سره دَ حديث مناسبت دَ ((فرسا)) په لفظ كښې دې او هغه داسې چه فرس دَ پاره نبى كريم صلى الله عليه وسلم كوم ضمير استعمال كړيدې نو هغه دَ مذكردې يعنى "وان وجدناه لبحرا" مونږ دا اس دَ سمندر په شان تيز رفتاره اوموندلو. نو دا معلومه شوه چه مذكوره اس مذكر يعنى نر وو، حافظ صاحب رحمه الله ليكى ((واخذ كونه كان فحلا من ذكره بضمير المذكر)) (٣)

دَ علامه گنگوهى رحمه الله ارشاد: حضرت گنگوهى رحمه الله فرمائى چه دَ روايت په ترجمة الباب باندې دلالت او انطباق په دې توگه دې چه څنگه سخت (او اړيل) څاروې په تلوكښې دَ فاصله وهلوكښې دَ خلل سبب جوړيږى دغه شان روتلونكې څاروې هم لار وهلوكښې دَ خلل ذريعه جوړيږى نو چه كله په روتلونكى څاورى باندې تلل جائز دى نو په سخت څاروى باندې به هم جائز وى (۴)

دَ شيخ الحديث صاحب رائې: حضرت شيخ الحديث محمد زكريا كاندهلوى رحمه الله فرمائى ((ودلالة الرواية عليه بما صار حال فرس ابى طلحة بعد ركوبه صلى الله عليه وسلم حتى قال: وجدناه لبحراً))(۵)

يعنى دَ روايت باب سره دلالت په دې حال كښې دې چه دَ حضرت ابوطلحه رضى الله عنه په اس باندې دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ سوريدو نه پس اوشو تردې چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل مونږ خودا دَ سمندر په شان اوموندلو. دې نه په سخت او تيزرفتاره څاروى باندې دَ سوريدلو ترغيب معلوميږى.

---

١) (كشف البارى (ج٢ص٣-٤)-
٢) (انظرباب الشجاعة فى الحرب والجبن وباب اسم الفرس والحمار من هذاالكتاب-
٣) (فتح البارى (ج٦ ص٦۶)-
٤) (لامع الدرارى (ج٧ ص٢٣٢)-
۵) (تعليقات لامع الدرارى (ج٧ص٢٣٢)-

۵۱- باب: سِهَامِ الْفَرَسِ

د ترجمة الباب مقصد په دې باب کښې امام بخارى رحمه الله د غازى اس ته د مال غنيمت نه چه کومه حصه ملاويږى د هغې مقدار اوکميت خودل غواړى.(۱)

او د سهام اضافت د فرس طرف ته په دې اعتبار سره دې چه د اس په وجه مالك د اضافى حصې حقدار کيږى.(۲)

[۲۷۰۸] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ أَبِي أُسَامَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا (۳) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ لِلْفَرَسِ سَهْمَيْنِ وَلِصَاحِبِهِ سَهْمًا [۳۹۸۸]

وَقَالَ مَالِكٌ يُسْهَمُ لِلْخَيْلِ وَالْبَرَاذِينِ مِنْهَا لِقَوْلِهِ وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَلَا يُسْهَمُ لِأَكْثَرَ مِنْ فَرَسٍ

تراجم رجال

۱- عبيد بن اسماعيل: دا ابومحمد عبيد بن اسماعيل هبارى قرى کوفى رحمه الله دې (۴)

۲- ابواسامه: دا ابواسامه خماد بن اسامه بن زيد قرشى کوفى رحمه الله دې، د دوى حالات ((کتاب العلم باب فضل من علم وعلّم)) لاندې تيرشوې دې. (۵)

۳- عبيدالله: دا عبيدالله بن عمر بن حفص بن عاصم بن عمر بن الخطاب العمرى رحمه الله دې (۶)

۴- نافع: دا ابوعبدالله نافع مولى ابن عمر رحمه الله دې مشهور تابعى دې. (۷)

۵- ابن عمر: دامشهور صحابى حضرت عبدالله بن عمر بن الخطاب رضي الله عنهما دې، د دوى حالات ((کتاب الايمان باب قول النبى صلى الله عليه وسلم بنى الاسلام على خمس)) لاندې تيرشوى دى.(۸)

---

۱) (عمدة القارى (ج ١٤ص ١٥٣)-

۲) (حواله بالا وفتح البارى (ج۶ص۶۷)-

۳) (قوله: ابن عمر رضي الله عنهما الحديث اخرجه البخارى ايضا کتاب المغازى باب غزوة خيبر رقم (٤٢٢٨) ومسلم کتاب الجهاد باب کيفيت قسمة الغنيمة بين الحاضرين رقم (٤٥٨۶) وابوداؤد کتاب الجهاد باب سهمان الخيل رقم (٢٧٣٣) والترمذى ابواب السير باب فى سهم الخيل رقم (١٥٥٤) وابن ماجه ابواب الجهادباب قسمة الغنائم رقم (٢٨٥٤)-

٤) (د دوى د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الحيض، باب نقض المراة شعرها عندغسل المحيض-

٥) (کشف البارى (ج٣ص ٤١٤)-

۶) (د دوى د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب التبرز فى البيوت-

٧) (د دوى د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب العلم باب من اجاب السائل باکثر مما ساله-

٨) (کشف البارى (ج ١ص۶٣٧)-

قوله: ان رسول الله صلی الله علیه وسلم جعل للفرس سهمین ولصاحبه سهما: حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ دَ اس دَ پاره دوه حصې او دَ هغې مالك دَ پاره يوه دَ مال غنيمت نه مقرر كړې وه.

په مال غنيمت كښې دَ اس دَ پاره څو حصې وى دوه يا يوه؟: دا يوه مشهوره اختلافى مسئله ده دَ كومې تفصيل چه (كتاب المغازى) كښې راغلې دې. (۱)

امام مالك رحمه الله (۲) امام شافعى رحمه الله (۳) امام احمد، عمر بن عبدالعزيز، حسن بصرى، ابن سيرين، حسين بن ثابت، ثورى، ليث بن سعد، اسحاق، ابوثور رحمهم الله (۴) اوزاعى رحمه الله (۵)ابن حزم ظاهرى رحمه الله (۶) او صاحبين (۷) رحمهما الله وغيره مسلك دا دې چه دَ سور به درې حصې وى يوه دَ سور او دوه دَ هغه دَ اس.

خو په صحابه كرامو كښې حضرت عمر بن الخطاب، على بن ابى طالب او ابوموسى اشعرى رضي الله عنهم (۸)اودَ امام اعظم او زفر رحمه الله وغيره مذهب دا دې چه دَ سور به دوه حصې وى يوه دَ هغه او يوه دَ اس. (۹)

خو دا خبره دې واضحه وى چه دَ راجل (پياده) په سهم كښې هيڅ اختلاف نشته ، دَ جميع ائمه په نزد هغه ته به هم يوه حصه ملاويږى.(۱۰)

دَ ائمه ثلاثه دلائل: په دې باب كښې دَ جمهورو مستدل هغه احاديث دى كوم كښې چه ((للفرس سهمان وللفارس سهم)) الفاظ وارد شوى دى.مثلاً باب كښې دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما روايت دې، همدغه روايت امام بخارى رحمه الله كتاب المغازى كښې ذكر كړيدې او دَ دې حديث لاندې دَ حضرت نافع رحمه الله دا تفسيرهم دې. ((**فقال: اذاكان مع الرجل فرس فله ثلاثة اسهم، فان لم يكن له فرس فله سهم**)) (۱۱)

اودَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په باب كښې ذكر شوې حديث دَ جمهورو صحيح ترين دليل دې.

---

۱) (كشف البارى كتاب المغازى (ص٤٤٣)-
۲) (بداية المجتهد (ج۱ص٣٩٤) والمدونة الكبير(ج۲ص۳۲)-
۳) (كتاب الام للشافعى باب كيف تفريق القسم؟ (ج٤ص١٤٤) و (ج٧ص٣٣٧)-
٤) (المغنى لابن قدامة (ج٩ص٢٠٠) رقم(٧٤٩٣)-
٥) (تكملة فتح الملهم (ج٣ص١٤١)-
۶) (المحلى بالاثار (ج٥ص٣٩٢)-
۷) (الهداية مع فتح القدير(ج٥ص٢٣٥) كتاب السيرباب الغنائم وقسمتها-
۸) (اوجزالمسالک (ج٨ص٣١٢) وروح المعانى(ج۶ص٥)-
۹) (عمدة القارى (ج١٤ص١٥٥)-
۱۰) (اوجزالمسالک (ج٨ص٣١١)-
۱۱) (الصحيح للبخارى كتاب المغازى باب غزوة خيبر رقم (٤٢٢٨)-

د هغوی یو بل دلیل هغه روایت دې کوم چه علامه طبرانی او مام دارقطنی د حضرت ابورهم رضی الله عنه نه نقل کړیدې ((شهدت انا واخی خیبر معنا فرسان فاسهم لنا ستة اسهم))(۱)

مستدلات امام اعظم رحمه الله: حضرت امام اعظم رحمه الله هم په دې مسئله کښې ډیر دلیلونه ورکړی دی کوم کښې چه احادیث دی، او آثار هم دی او د هغوی قیاس هم مؤیددې.

رومبې دلیل: د هغوی د ټولونه مشهور دلیل دحضرت مجمع بن جاریه رضی الله عنه هغه روایت دې کوم چه امام ابوداؤد رحمه الله په خپل سنن کښې نقل کړیدې، حضرت مجمع جاریه رضی الله عنه فرمائی:

((شهدنا الحديبية مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فلما انصرفنا عنها اذا الناس يهزون الاباعر.... فقسمت خيبر على اهل الحديبية فقسمها رسول الله صلى الله عليه وسلم على ثمانية عشر سهما وكان الجيش الفا وخمس مائة، فيهم ثلاث مائة فارس فاعطى الفارس سهمين وللراجل سهما)) (۲)

رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مونږ حدیبیه کښې شریك شو، کله چه مونږ دهغه ځائې نه واپس شو(اوموکتل) چه خلق اوښان زغلوی ...نواهل حدیبیه باندې دغزوه خیبرد غنیمت تقسیم اوشو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د غنیمت اتلس حصې جوړې کړې او د لښکر شمیر پنځلس سوه وو په کومو کښې چه درې سوه فارس وو، نو هغوی فارس ته دوه حصې ورکړې او پیاده ته دوه حصې ورکړې.

دوئم دلیل: حافظ ابن ابی شیبه رحمه الله خپل تصنیف کښې دې لاندینی سندسره د حضرت ابن عمر رضی الله عنه دا روایت ذکر کوی:

((حدثنا ابواسامة وابن نمير قالا: حدثنا عبيدالله عن نافع عن ابن عمر رضي الله عنهما ان رسول الله صلى الله عليه وسلم جعل للفارس سهمين وللراجل سهما)) (۳)

مذکوره بالا روایت دحضرت ابن عمر رضی الله عنه د باب روایاتو صریح معارض دې اود دې رواة هم ثقه دی په کوم چه به مونږ انشاء الله نزدې کلام کوو.

دریم دلیل: دحضرت عمربن خطاب رضی الله عنه باره کښې امام جصاص رحمه الله فرمائیلی چه د هغوی یو عامل منذربن ابی حمصه د حضرت امام اعظم د قول موافق په مجاهدینوکښې حصې تقسیم کړې چه په هغې باندې حضرت عمر رضی الله عنه راضی شو او د څه قسم نکیر ئې اونه فرمائیلو. امام جصاص لیکی:

((روى مثل قول ابي حنيفة عن المنذر بن ابي حمصة -عامل عمر رضي الله عنه - انه جعل للفارس سهمين وللراجل سهما، فرضيه عمر)) (۴)

---

۱) (عمدة القاری (ج۱۴ص ۱۵۴) ومجمع الزوائد (ج۵ص۲۴۲) د نورو دلائلودپاره فتح الباری (ج۶ص۶۸) اوګورئ-

۲) (سنن ابی داؤد کتاب الجهاد باب فی من اسهم له سهم رقم (۲۷۳۶)-

۳) (المصنف لابن ابی شیبة (ج۶ص۴۹۲) کتاب السیر فی الفارس کم یقسم له؟.... رقم (۳۳۱۵۹-

۴) (احکام لقران للجصاص (ج۳ص۵۸)-

څلورم دليل دَ قياس همدغه تقاضا ده چه فرس ته يوه حصه ورکړيشي نه چه دوه. ځکه چه په دوئم صورت کښې دَ فرس په مسلم باندې اوچتوالې ظاهريږي.حالانکه مسلمان دَ ټولونه افضل دې، دَ امام صاحب نه روايت دې چه هغوی فرمائيلی ((لايسهم للفارس الاسهم واحد وقال: اکره ان افضل بهيمة على مسلم)) (١) چه فارس له(دَهغه اس ته) به يوه حصه ملاويږي او ونی فرمائيل چه زه دا خبره نه خوښوم چه يو ځاروی له په مسلمان باندې فضيلت او اوچتوالې ورکړم.

يوه اهمه تنبيه دَ غزوه خيبر نه اول دَ غنائمو تقسيم به دَ نبی کريم ﷺ په اختيار کښې وو چه نبی کريم ﷺ دَ خپلې رائې مطابق چاله څومره ورکول غوښتل ورکول به ئې. دَ ټولو نه مخکښې دَ غنائمو تقسيم دَ مجاهدينو دَ حق په روسره په غزوه خيبرکښې اوشو په کوم کښې چه دا خبره مقرر شوې وه چه فارس ته به دومره حصې ملاويږي اوراجل ته دومره.(٢)

دَ اختلاف سبب دَ ائمو په مينځ کښې چه فارس ته ملاويدلو حصه کښې کوم اختلاف اوشو دَ هغې بنيادی سبب دَ غزوه خيبر دَ شرکاؤ دَ شمير اختلاف دې. په دې سلسله کښې په رواياتوکښې سخت تعارض موندلې شي چه دَ خيبر دَ شرکاؤ څومره تعداد وو؟ دَ شرکاء خيبر تعدادکښې تقريبًا لس اقوال دی په کوم کښې چه درې ډير مشهور دی:

① دَحضرت مجمع بن جاريه رضي الله عنه په روايت کښې (چه لږ شان وړاندې تيرشو) معلوميږی چه دَ دوی تعداد پنځلس سوه وو، درې سوه سواره او نور دولس سوه پياده وو. (٣)

② حضرت براء بن عازب رضي الله عنه (۴) او حضرت جابر رضي الله عنه (۵) دَ روايت نه معلوميږی چه څوارلس سوه تعداد وو په کوم کښې چه دوه سوه سواره او نور پياده وو.

③ امام مغازی موسی بن عقبه رحمه الله شپاړس سوه تعداد خودلې دې. (۶)

راجح شمير څه دې؟ شوافعو وغيره رحمهم الله څوارلس سوه تعداد راجح ګرځولې دې. علامه بيهقی رحمه الله دَحضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه، حضرت ابن عباس رضي الله عنه، صالح بن کيسان، بشير بن يسار اواهل مغازی قول نه استدلال کولوسره څوارلس سوه شمير ته راجح وئيلی دی.(٧) او علماء احناف دَ حضرت مجمع بن جاريه رضي الله عنه روايت راجح ګرځوی.

دَ ترجيح وجوهات دَاحنافو په مذهب دَ راجح کيدو دا لاندينی وجوهات دلالت کوی:

① دَ ثقه زياتوالې مقبول وی حضرت جابر رضي الله عنه نه چه څنګه دا مروی دی چه دَ خيبر دَ شرکاؤ تعداد څوارلس سوا وو دغه شان دا هم مروی دی چه دَ هغوی شمير پنځلس سوا

---

١) (عمدة القاری (ج١٤ص١٥٥)-

٢) (بذل المجهود (ج١٢ ص ٣٣٤) وتنظيم الاشتات (ج ٤ص١٢٠)-

٣) (سنن ابی داؤد كتاب الجهاد باب فی من اسهم له سهم رقم (٢٧٣۶)-

٤) (صحيح البخاری كتاب المغازی باب غزوه الحديبية..... رقم(٤١٥٠)-

٥) (حواله بالا رقم (٤١٥٣)-

۶) (فتح الباری(ج٧ص٤٤٠) واعلاء السنن (ج١٢ص١٥٧)-

٧) (عون المعبود شرح سنن ابی داؤد (ج٧ص٣٢٥) رقم (٢٧٣٣) واعلاء السنن (ج١٢ص١٥۶)-

و، حضرت سالم بن ابى الجعد (۱) اوحضرت سعيدبن المسيب رحمه الله (۲) د حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت كړيدي "انهم كانوا خمس عشرة مائة" (۳)

② د زيادت اثبات كونكي، دډي دنفى كونكى په مقابله كښې راجح وى. د حضرت جابر رضي الله عنه په يو روايت كښې څوارلس سوا او بل كښې پنځلس سوا شمير دې. ظاهره خبره ده چه د پنځلس سوو روايت د زيادت اثبات كوى نو په دې وجه به هم دغه راجح وى. (۴)

③ دحافظ ابن حجر رحمه الله د كلام نه هم دا مستفاده كيږى چه هغه هم د پنځلس سوو د شمير راجح كيدو قائل دې، هغوى د ابن سعد رحمه الله او د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل كړى دى چه د خيبر د شركاؤ شمير پنځلس سوا وو. (۵)

حافظ رحمه الله پخپله مقدمه كښې ذكر كړى دى چه هغه په فتح البارى كښې هم هغه احاديث اخلى چه صحيح يا حسن وى او په ضعيف باندې به سكوت نه كوى. دينه معلومه شوه چه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما مذكوره روايت د هغوى په نزد صحيح يا حسن ضرور دې ګنى په دې به ئى ضرور كلام كولو. (۶)

د دې وجوهاتو په بنا معلومه شوه چه غزوه خيبركښې رسول الله صلى الله عليه وسلم كومو لښكريانوته سهم وركړې وو د هغوى شمير پنځلس سوا وو د دې نه علاوه چه زياتى كسان وو هغه ښځې خادمان او ماشومان وواو هغوى ته سهم نه وو وركړې شوې. (۷)

دې نه دا هم متبادر كيږى چه موسى بن عقبه رحمه الله چه كوم د شپاړسو شمير خودلې دې غالبًا په دې كښې ئې ښځې خادمان او ماشومان هم شامل كړى دى.

د دې دليل دا دې چه د خيبر غنائم ئې اول شپږويشت (۲۶) حصې كړې وو په كومو كښې چه اتلس حصې د مسلمانانو د عام ضرورياتودپاره ايخودې وې او باقى اتلس حصې په مجاهدينوكښې تقسيم كړيشوې. (۸)

د سنن ابى داؤد روايت دې چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم د خيبر غنائم اتلس حصوكښې تقسيم كړې وې، په هره حصه كښې سل حصې وې نو دا اتلس سوا حصې شوې. (۹)

اوس د خيبر د غنائمو په تقسيم كښې اختيار كړيشوې صورتونه دا لاندينى كيديشى:

① كه د اسلام لښكر په څوارلس سوو باندې مشتمل وى، په كوم كښې چه دوه سوا سواره

---

۱) (صحيح البخارى كتاب المغازى باب غزوة الحديبية رقم (۴۱۵۲)-

۲) (حواله بالا رقم (۴۱۵۳)-

۳) (اعلاء السنن (ج۱۲ص۱۵۶)-

۴) (حواله بالا-

۵) (فتح البارى (ج۷ص۴۴۱)-

۶) (هدى السارى (ص ۴) واعلاء السنن (ج۱۲ص۱۵۷)-

۷) (اعلاء السنن (ج۱۲ص۱۵۷)-

۸) (زادالمعاد (ج۳ص۳۲۸)-

۹) (سنن ابى داؤد كتاب الخراج والفى والامارة باب ماجاء فى حكم ارض خيبر رقم ۳۰۱۰-۳۰۱۴)-

وى او د سورو درې حصې وى اود پياده يوه حصه يعنى
۱۸۰۰=۱۲۰۰+۶۰۰=۳×۲۰۰.

③ كه د لښكر تعداد پنځلس سوا وى په كوم كښې چه درې سوا سواره وى او د سور دوه حصې او د پياده يوه حصه وى نو ۳۰۰×۲=۶۰۰+۱۲۰۰=۱۸۰۰.

④ كه لښكر شپاړس سوا وى او دې كښې دوه سوا سواره وى اوهمدغه شان د سور دوه حصې او د پياده يوه حصه نو، ۲۰۰×۲=۴۰۰+۱۴۰۰=۱۸۰۰.

او دا خبره پورته معلومه شويده چه د لښكر په تعداد كښې راجح قول د پنځلس سوو دې نو د سور هم دوه حصې شوې نه چه درې حصې، كما قاله مجمع بن جارية رضي الله عنه (۱)

د جمهورو د دلائلو جوابونه: د جمهورو د ټولو نه صحيح او قوى دليل د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما حديث وو ليكن دا حديث په بوجوه د جمهورو مستدل نشى جوړيدې، وضاحت دا دې:

① په دې كښې د غنائمو د تقسيم چه كوم بيان دې د هغې باره كښې دا معلومه نه ده چه دا تقسيم د غزوه خيبر نه وړاندې شوې وو كه روستو، ممكن ده چه د غزوه خيبرنه وړاندې واقعه وى او منسوخ وى. (۲)

② عام قانون او ضابطه همدغه ده چه فارس ته هم د فرس په شان يو حصه ملاويدل پكار دى ليكن نبى كريم ﷺ نه مجاهدينو ته د استحقاق د نفل په توګه زياتې حصې وركول هم ثابت دى، لكه چه حضرت سلمه بن الاكوع رضي الله عنه نه مروى دى چه هغوى ته نبى كريم ﷺ غزوه ذى قرد كښې دوه حصې وركړې وې، يوه د فارس او يوه د راجل چه كله هغه راجل وو. د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه نه روايت دې چه د هغه پلار حضرت زبير بن عوام رضي الله عنه ته د غنيمت څلور حصې وركړې شوې وې او دا زياتى چه د نفل په توګه ور كړيدې كيدې د دې مقصد مجاهدينوته د جنګ او جهاد ترغيب وركول وو. (۳)

③ صاحب هدايه علامه مرغينانى رحمه الله د ارشاد حاصل دا دې چه د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه دواړه قسم اقوال مروى دى چه په څه كښې د فارس د پاره د دريو حصو ذكر دې او په څه كښې د دوو، هركله چه د هغوى په دواړو قسم روايتونوكښې تعارض دې نود حضرت ابن عباس رضي الله عنهما حديث (۴) راجح به وى. په كوم كښې چه فارس ته د دوو حصو وركولو ذكر دې.

((سهم له وسهم لفرسه)) (۵)

④ مولانا خليل احمد سهارنپورى رحمه الله "بذل" كښې فرمائى چه ډير خل عربى كتابت كښې الف حذف كولې شى، ((للفرس سهمين)) په اصل كښې ((للفارس سهمين)) وو، الف حذف كړې

---

۱) (اعلاء السنن(ج۱۲ص۱۵۷)-
۲) (بذل المجهود (ج۱۲ص۱۶۷) وتنظيم الاشتات (ج ٤ص۱۲۰)-
۳) (حواله بالا واحكام القران للجصاص الرازى (ج۳ص۵۹) واعلاء السنن (ج۱۲ص۱۷۱)-
٤) (اعلاء السنن (ج۱۲ص۱۶۷)وتنظيم الاشتات (ج ٤ص۱۲۱)-
۵) (الهداية (ج۲ص۵۷۳)-

شو د دې وجه دا ده چه دلته د راجل په مقابله کښې لفظ فرس ذکر کړېشویدې. د کوم نه چه هم دا په پوهه کښې راځی چه صحیح لفظ په اصل کښې فارس وو نه چه فرس. لیکن راوی فارس فرس گنړلې د دې د پاره ئې للفارس په لفرس سهمین روایت کړې دې او ظاهره خبره ده چه د راوی فهم حجت نه دې.
او زمونږ د دې دعوی تائید چه فرس دراصل فارس وو، مصنف ابن ابی شیبه د دې روایت نه کیږی کوم چه امام اعظم رحمه الله په دلائلو کښې ذکر کړې دې چه ((عن ابن عمر رضي الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم جعل للفارس سهمین، وللراجل سهما)) دا هم هغه روایت دې کوم چه امام بخاری وغیره د فرس په لفظ سره روایت کړې دې. دارقطنی هم د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه نقل کړی دی ((ان النبی صلی الله علیه وسلم قسم للفارس سهمین وللراجل سهما))(۱)
اود دې ټولو روایتونومطلب همدغه دې چه فارس ته به د هغه د فرس د حصې سره دوه حصې ملاویږی نه چه درې حصې.(۲)
⑤ بیا په دې خبره ځان پوهه کړئی چه په دې باب کښې په اعتبار د مجموع دوه قسمه متعارض احادیث دی، یوخو هغه دې چه په هغې کښې ((للفارس سهمین)) راغلې دې او نورو روایاتوکښې ((للفارس ثلثة)) مروی دې لیکن اولنی قسم روایات د قیاس موافق دی لیکن چه د جهاد په معامله کښې هم رجل اصل دې او فرس د جهاد سامان دې اود ده تابع دې. ځکه چه د فرس نه بغیرهم یوازې د جهاد کار کیدیشی او صرف په فرس سره نه چلیږی نو فرس تابع شواوتابع له په اصل باندې فضیلت ورکول د عقل او قیاس نه خلاف ده. چه کله په احادیثو کښې تعارض دې نو هغه حدیث به راجح وی چه د قیاس موافق وی کما تقرر فی الاصول.(۳)
دحضرت ابورهم د حدیث جواب: او ترکومې چه د حضرت ابورهم رضي الله عنه د حدیث تعلق دې دینه هم جمهورد استدلال په وجوهاتو صحیح نه دې تفصیل دا دې:
① د دې حدیث په سند کښې یوراوی قیس بن ربیع دې، بل اسحاق بن عبدالله بن ابی فروه دې اول مختلف فیه راوی دې او دوئم ضعیف دې.
② بیا دحضرت ابورهم رضي الله عنه صحبت کښې هم اختلاف دې چه آیادې صحابی دې که نه؟(۴)
③ په دې حدیث شریف کښې هم هغه د نقل احتمال موجود دې. ممکن دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته اود هغه رور ته چه کومې دوه حصې زیاتی ورکړې وې هغه د نفل په توگه وی نو په دې وجه دې نه استدلال صحیح کیدې نشی.(۵)

---

۱) (سنن الدارقطنی (ج ٤ص ٦١) کتاب السیر رقم (٤١٣٨)-
۲) (بذل المجهود (ج ۱۲ص ٢٣٤-٢٣٥) وتنریم الاشتات (ج ٤ص ١٢١)-
۳) (حواله بالا-
٤) (اعلاء السنن (ج ۱۲ص ١٦٥)-
۵) (حواله بالا-

قوله: وقال مالك: يسهم للخيل والبراذين منها، لقوله: ((وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا)): اوامام مالك رحمه الله فرمائی چه دَ غنیمت نه به خیل او براذین ته حصه ورکړې کیدې شی دَ الله تعالی دَ دې قول په بنا باندې، (او الله تعالی پیداکړی دی ستاسو دَ پاره) اسونه قچرې او خره دې دَ پاره چه تاسو په دې سورلی اوکړئ.

اختلاف نسخ: په بعض نسخوکښې دَ حضرت امام مالك رحمه الله دا پورته ذکر شوې قول دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دَ حدیث نه اول دې او دَ ابوذر په نسخه کښې حدیث مقدم دې کما فی نسختنا.(۱)

دَ مذکوره تعلیق تخریج: دا تعلیق موصولاً امام مالك رحمه الله موطا کښې نقل کړې دې.(۲)

دَ براذین او هجین معنی: براذین دَ برذون جمع ده، علامه مطرزی رحمه الله "المغرب" کښې فرمائی چه برذون ترکی اسونوته وائی دَ دې ضد عِراب –بکسر العین المهملة– دې او مؤنث ته برذونة وائی. (۳)

بعض دا وائی چه براذین هغه اسونه دی چه دَ روم نه راوستلې شو، دا اسونه به په کندو. غرونو او سختو لاروکښې په منډو کښې مضبوط وو په خلاف دَ عربی اسونو. (۴)

بیا دَ امام مالك رحمه الله هم په دې تعلیق کښې یو بل لفظ زیاتې هم مروی دې هغه دې "الهجین"(۵) او هجین هغه اس ته وائی چه دَ هغه په والدینوکښې یوعربی وی او بل غیرعربی. او بعضو وئیلی دی چه دَ کوم اس پلار عربی وی هغې ته هجین وائی او دَ چا چه مور عربی وی هغې ته مقرف وائی (۶)

البته دَ امام احمد رحمه الله نه دا روایت دې چه هجین او برذون هم یو څیز دې. (۷)

دَ آیت مبارک مقصد: حضرت امام مالك رحمه الله دَخپلې دعوی ثابتولودَ پاره دَ آیت مبارك ﴿وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا﴾ نه استدلال کوی او وجه دَ استدلال په قول دَ علامه ابن بطال رحمه الله دا ده چه الله تعالی په خپلو بندیګانو باندې دا احسان کوی چه هغه دَ بندیګانو دَ سورلئی دَ پاره اسونه پیدا کړل او رسول الله ﷺ اسونوته په غنیمت کښې حصه ورکړه، نو دَ اس اطلاق په برذون اوهجین باندې هم کیږی نوځکه به دوی ته هم حصه ورکولې شی.(۸)

دَ حضرت سعید بن المسیب رحمه الله نه یو ځل تپوس اوشو چه په براذین باندې زکوة واجب

---

۱) (عمدة القاری (ج ١٤ص ١٥٥) وشرح القسطلانی (ج٥ص٧٧)-
۲) (لموطا للامام مالک بن انس (ج٢ص٤٥٧) کتاب الجهاد باب القسم الخیل فی الغزو رقم (٢١)-
۳) (المغرب (ج١ص ٧١) وعمدة القاری (ج ١٤ص١٥٥)-
٤) (حواله بالا-
۵) (الموطا للامام مالک بن انس (ج٢ص٤٥٧) کتاب الجاهد باب القسم للخیل فی الغزو رقم (٢١)-
۶) (عمدةالقاری (ج ١٤ص١٥٥) واعلاء السنن (ج١٢ص١٧۶)-
۷) (عمدةالقاری (ج ١٤ص١٥٥) والمغنی لاب قدامة (ج٩ص٢٠١) رقم (٧٤٩٤)-
۸) (شرح ابن بطال (ج٥ص۶٧) وعمدة القاری(ج ١٤ص١٥٥)وفتح الباری (ج۶ص۶٧)-

دي؟ نو هغوى اوفرمائيل چه په اسونوباندې زكوة شته؟ مقصد همدغه وو چه په خيل باندې زكوة نشته، نو په دې وجه په براذين باندې هم زكوة نشته دا (دَ ائمه ثلاثه مذهب دې) ځكه چه براذين هم دَ خيل نه دي.(۱)

دَ مذكوره تعليق مقصد. امام بخارى رحمه الله دَ دې تعليق په ذريعه يو بلې اختلافى مسئلې طرف ته اشاره فرمائيلې ده. چه برذون په اسونو كښې داخل دې او كه نه؟ او ده ته به په غنيمت كښې حصه وركولې شى او كه نه؟ او څومره به وركولې شى؟

ائمه ثلاثه امام اعظم ابوحنيفه، امام شافعى، امام مالك، ثورى، ابوثور، خلال، عمربن عبدالعزيز رحمهم الله مسلك دا دې چه هجين برذون او عراب سهم كښې برابر شريك دى تبولوته به يو شان حصه وركولې شى. (۲)

او امام ليث بن سعد رحمه الله دَ عراب دَ فضيلت قائل دې. هغه فرمائى چه هجين او برذون ته به دَ عراب برابر حصه نه بلكه كمه وركولې شى. (۳)

اودَ امام احمد رحمه الله نه په دې مسئله كښې څلور اقوال نقل دى:

① صرف يوه حصه به وركولې شى نه چه دوه. لكه چه فرس كښې هغه دَ دوو حصو قائل دې.

② دَ جمهورو دَ قول موافق چه ده ته به هم دَ عربى نسل په شان وركولې شى.

③ كه براذين دَ عراب په شان په جنګ كښې حصه واخلى تيزى اوښائى نودَ هغه دَ پاره هم دَ عراب په شان مكمل سهم به وى او كمه حصه به نه وى.

④ براذين ته به دَ غنيمت نه حصه نه ملاويږى. راجح قول رومبې دې. (۴)

دَ جمهورو دلائل: دَ جمهورو يو دليل خو هغه آيت مبارك دې كوم چه امام بخارى رحمه الله ذكر كړيدې، بل هغه احاديث دى په كوم كښې چه دَ سهام فرس ذكر راغلې دې. په دې ټولو احاديثوكښې دا خبره ده چه هغوى صلى الله عليه وسلم فرس له حصې وركړې دى او دا احاديث مطلق دى په دې كښې دا تصريح چرته هم موجود نه ده چه هغوى دَ اس نسل او جنس ته كتلى او په سهام كښې ئې كمې يا زياتې كړيدې. (۵)

اودَ قياس تقاضا همدغه ده چه په براذين او عراب كښې هيڅ قسم فرق اونه كړيشى ځكه چه براذين هم حيوان ذوسهم دې. لكه ځنګه چه سړې دې، لكه چه په سړوكښې دَ نسل لحاظ نشى كولې دغه شان به په اسونوكښې هم دَ دې اعتبارنشى كولې او ټولوته به برابره حصه وركولې شى. (۶)

دَ امام احمد او ليث دلائل او دَ هغې جوابونه: دَ هغوى رومبې دليل هغه روايت دې كوم چه

---

۱) (الموطاللامام مالک (ج۲ص۴۵۷)-

۲) (عمدة القارى(ج ۱٤ص۱۵۵)وفتح البارى(ج۶ص۶۷)والمغنى(ج۹ص ۲۰۱)واعلاء السنن(ج۱۲ص۱۷۷)

۳) ((عمدة القارى (ج ۱٤ص۱۵۵) وفتح البارى (ج۶ص۶۷)واعلاء السنن (ج۱۲ص۱۷۷)-

٤) (المغنى(ج۹ص ۲۰۱) رقم (۷٤۹٤) واعلاء السنن (ج۱۲ص۱۷۷)-

۵) (المغنى(ج ۹ص ۲۰۱)واعلاء السنن (ج ۱۲ص۱۷۸) واحكام القران للجصاص(ج۳ص ۶۰)-

۶) (حواله بالا-

سعيد بن منصور او ابوداؤد ﷺ د مکحول نه روايت کړې دې.

((ان النبی صلی الله علیه وسلم هجّن الهجين يوم خيبر وعرّب العراب فجعل للعربي سهمين وللهجين سهما))(١)

يعنی نبی کريم ﷺ د هجين اسونو تحقير اوکړو اود اعراب تعظيم، عراب ته ئې دوه حصې ورکړې او هجين ته يوه حصه.

د دې دليل جواب حافظ ابن حجر رحمه الله دا ورکړې دې چه دا روايت منقطع دې نو په دې وجه دا د استدلال قابل نه دې.(٢)

د هغوی دونم دليل هغه اثر او حکايت دې کوم چه امام شافعی رحمه الله "کتاب الام" کښې او سعيدبن منصور خپل سنن کښې د علی بن الاقمر په طريق سره نقل کړيدې. فرمائی چه اسونو حمله اوکړه نو عربی اسونه خو خپل منزل ته اورسيدل ليکن براذين روستو پاتې شو، نو منذر بن ابی حمصه بن ابی حمصه وادعی اودريدو او وئی وئيل چه کوم خپل مقام ته اورسيدل هغوی سره به زه هغه شمير نه کړم چه کوم روستو پاتې شو، يعنی هغه عربی اسونوته فضيلت ورکړو. دا خبره حضرت عمر رضی الله عنه ته اورسيدله نو هغوی اوفرمائيل وادعی دې د هغه مور ورك کړی(يعنی هغوی د منذر د مذکوره فعل تصويب او تعريف اوکړو) نور ئې اوفرمائيل دهغه مورهغه نر راوړلې دې هغه چه کومه فيصله کړيده هغه جاری کړئی، نو دې د ټولونه ړومبې سړې وو چا چه براذين له د عراب په مقابله کښې کمه حصه ورکړه.(٣)

ليکن دا دليل هم حافظ ابن حجر رحمه الله منقطع ګرځولې دې. (۴)

امام احمد رحمه الله د دې اثر جواب ورکولو سره فرمائی چه پخپله د حضرت عمر رضی الله عنه د منذر بن ابی حمصه وادعی په مذکوره فعل باندې حيرانتيا د دې خبرې مقتضی ده چه د دې واقعې نه وړاندې براذين ته هم د عراب په شان مکمل سهم ورکولې شو. دې نه دا ثابته شوه چه عادت مستمره په براذين اوعراب کښې برابر د شروع نه راروان وو. (۵)

حضرت امام محمد رحمه الله نور فرمائی چه منذر د حضرت عمر رضی الله عنه عامل ووهغه چه کومه فيصله اوکړه مجتهدفيه کښې ئې اوکړه او حضرت عمر رضی الله عنه د هغه مذکوره فيصله په خائې اوساتله ليکن دا د دې دپاره نه وه چه پخپله د حضرت عمر رضی الله عنه رائې هم دا وه چه هغه هم د منذر هم خيال وو بلکه د دې وجه دا وه که چرې حاکم د يو مجتهدفيه څيز کښې څه فيصله اوکړی نو روستنو حکام ته دا حق حاصل نه دې چه هغه د ړومبی حاکم فيصله ختمه کړی.په دې وجه حضرت عمر رضی الله عنه د هغه فيصله برقراره اوساتله او هغه ئې باطله ونه ګرځوله. (٦)

قوله: ولايسهم لاکثرمن فرس: د يو اس نه به زياتو اسونو ته سهم نه شی ورکولې.

---

١) (عمدة القاری (ج ١٤ص ١۵۶) وفتح الباری (ج ۶ص ۶۷) واعلاء السنن (ج ١٢ص ١٧٧)-

٢) (فتح الباری(ج ۶ص ۶۷)-

٣) (حواله بالا والمغنی (ج ٩ص ٢٠٢)واعلاء السنن (ج ١٢ص ١٧۶) وکتاب الامام للشافعی (ج ٤ص ٣٣٧)-

٤) (فتح الباری (ج ۶ص ۶٧)-

۵) (اعلاء السنن (ج ١٢ص ١٧٧)-

۶) (حواله بالا-

دا د امام مالك رحمه الله د تيرشوى كلام باقي حصه ده. (۱)
دا هم اختلافي مسئله ده. طرفين، امام شافعي، امام مالك او د ظاهريه رحمهم الله مذهب دا دې چه مجاهدته به د هغه په ډيرو اسونو كښې يو اس ته حصه ملاويږي. په كوم چه هغه جنګ كړيدې. سره د دې چه هغه د جنګ ميدان ته ډير اسونه راوستي وي.
او امام ابويوسف، احمد، اسحاق، ليث بن سعد، ثوري، اوزاعي، مالكيه نه ابن وهيب او ابن جهم رحمهم الله مسلك دا دې چه دوو ته به سهم وركولې شي. (۲)

د جمهورو دلائل: ① امام مالك رحمه الله فرمائي ((بلغني ان الزبير بن العوام شهد مع رسول الله صلى الله عليه وسلم بفرسين يوم خيبر فلم يسهم له الا بسهم فرس واحد)) (۳)

② مبسوط كښې ((ابراهيم التيمي عن ابيه)) په طريق دا روايت علامه سرخسي رحمه الله نقل فرمائي ((ان النبي صلى الله عليه وسلم لم يسهم لصاحب الافراس الالفرس واحد يوم حنين)) نبي كريم صلى الله عليه وسلم په غزوه حنين كښې د ډيرو اسونو خاوندانوته هم صرف يو سهم وركړې وو.
علامه سرخسي رحمه الله د دې روايت نقل كولو نه پس فرمائي چه دينه حضرت امام اعظم او امام محمد رحمهما الله استدلال كړيدې او د مجتهد د يو روايت نه استدلال د هغه تصحيح ده. نود دې په تائيد كښې د امام مالك رحمه الله (پورته) ذكر شوي بلاغ نه هم كيږي.
دې نه علاوه سره د دې چه دا روايت مرسل دې ليكن د دې قسم مرسل روايات زمونږ او د اكثرو په نزد حجت دې، ځكه چه د ابراهيم پلار يزيد بن شريك مخضرم تابعي دې. (۴)
③ امام ابوبكر جصاص رحمه الله د فريقينو مسلك تحرير كولونه پس ليكي:
((والذي يدل على صحة القول الاول انه معلوم ان الجيش قد كانوا يغزون مع رسول الله صلى الله عليه وسلم بعد ما ظهر الاسلام بفتح خيبر ومكة وحنين وغيرها من المغازي، ولم يكن يخلو الجماعة منهم من يكون معه فرسان او اكثر ولم ينقل ان النبي صلى الله عليه وسلم ضرب لاكثر من فرس واحد وايضا فان الفرس الة، وكان القياس ان لايضرب له بسهم كسائر الالات، فلما ثبت بالسنة والاتفاق سهم الفرس الواحد اثبتناه، ولم تثبت الزيادة اذكان القياس يمنعه......)) (۵)
او چه كوم ځيز اول قول (يعنى د امام اعظم رحمه الله اونورو قول) په صحت باندې دلالت كوى

---

۱) (حواله بالا وعمدة القاري (ج۱٤ص۱۵۶) وفتح الباري (ج۶ص۶۷)-
۲) (حواله بالا المغني (ج۹ص۲۰۲) والام للشافعي (ج٤ص۳٤۳) واحكام القران للجصاص (ج۳ص ۶۰)-
۳) (المدونة الكبرى (ج۲ص۳۲) والموطا للامام مالك بن انس (ج۲ص٤۵۷)-
٤) (المبسوط (ج۱۰ص٤۶) كتاب السير باب معاملة الجيش مع الكفار واعلاء السنن (ج۱۲ص۱۸۱) وقواعد في علوم الحديث (ص۵۷) الفصل الثاني في بيان ما يتعلق بالتصحيح.....-
۵) (اعلا السنن (ج۱۲ ص۱۸۱) واحكام القران للجصاص (ج۳ص ۶۰) وقال الشافعي في "الام" له: ولكننا ذهبنا الى اهل المغازي فقلنا انهم لم يرووا انه عليه السلام اسهم لفرسين ولم يختلفوا انه حضر خيبر بثلثة افراس لنفسه: السكب والضرب والمرتجز ولم ياخذ الالفرس واحد" انظر الام (ج۷ص۳٤۳)-

هغه دا دې چه دا خبره خو معلومه ده چه اسلامي لښکر فتح مکه، خيبر، مکه او حنين په ذريعه اسلام ته غلبه حاصليدلو نه پس هم نبی کريم ﷺ سره په غزواتو کښې شرکت کولو. په دې لښکر او ډله کښې د داسې کسانو هم څه کمې نه وو چاسره چه دوه يا زيات اسونه وو اونه د نبی کريم ﷺ نه نقل دی چه هغوی د يو اس نه زياتو ته څه حصه ورکړې وی. اس يوځيز دې اود قياس تقاضا همدغه ده چه څنګه د جنګ نور سازوسامان ته سهم نه شی ورکولې دغه شان دې هغه ته هم نه ورکوی. نو چه کله د سنت او اجماع نه د يو اس سهم ثابت شو نو مونږ دا حکم برقرار اوساتلو او زياتوالې مو برقرار اونه ساتلو ځکه چه قياس دينه مانع دې.

د دوئم فريق دلائل او د هغې جوابونه: ① امام ابويوسف رحمه الله کتاب الخراج کښې د خپل قول دپاره د حضرت حسن بصری رحمه الله د ارشاد نه استدلال کړې دې. د کوم حاصل چه دا دې چه د غنيمت نه به د دوو نه زياتو اسونو ته سهم نشی ورکولې. (۱)

② هغه د امام مکحول رحمه الله د دې قول نه هم استدلال کوی چه "لايقسم لاکثر من فرسين" (۲) ليکن ظاهره خبره ده چه د تابعي قول حجت نه دې، خصوصاً چه دا ثابته شوې هم وی چه نبی کريم ﷺ غزوه حنين کښې د يو نه زيات اسونوته سهم نه وو ورکړې. (۳)

البته بعض احاديث د دوئم فريق هم تائيد کوی مثلاً

③ امام سعيد بن منصور (فرج بن فضالة، حدثنا محمد بن الوليد الزبيدی عن الزهری) په طريق نقل کړی دی چه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه حضرت ابوعبيده بن الجراح رضی الله عنه ته ليکلې وو چه يو اس ته دوه، دوه اسونوته څلور اودهغې مالك ته يوه حصه ورکوه. نوداټولې پنځه حصې شوې (۴)

ليکن د دې نه په دې لاندينی وجوهاتو استدلال کول صحيح نه دی:

① دا روايت مرسل دې او د امام زهری رحمه الله مرسل روايات د محدثينو په نزد ضعيف دی.

② زمونږ په نزد دا پورته ذکر شوې حديث يو خاص معرکه باندې محمول دې. په کوم کښې چه مسلمانانوڅوشپې او ورځې جنګ کړې وو لکه غزوه يرموك وغيره.

مسلمانانو ته د دې خبرې ضرورت شو چه هغوی دوه يا زيات اسونو باندې سورلی اوکړی، ظاهره خبره ده چه کله جنګ ترڅو ورځو پورې روان وی نو يقيناً يو اس به کافی نه وی، اوس که چرې معامله داسې وی او د دوو اسونوضرورت پريوزی نو امام ته اختيار دې چه هغه د نفل په توګه دوو اسونو ته سهم ورکړی لکه څنګه چه هغه ته دا هم اختيار دې چه نفلاً يو اس ته دوه سهم ورکړی لکه چه حضرت عمر رضی الله عنه په دې اثر کښې ارشاد فرمائيلې دې. او د هغوی پخپله مذهب دا دې چه د فارس به دوه سهم وی يو د هغه او يو د هغه د اس کما تقدم قبل. (۵)

---

۱) (کتاب الخراج للامام ابی يوسف (ص ۲۰) واعلاء السنن (ج ۱۲ ص ۱۸۱)-

۲) (حواله بالا-

۳) (اعلاء السنن (ج ۱۲ ص ۱۸۱)-

٤) (حواله بالا-

۵) اعلاء السنن (ج ۱۲ ص ۱۸۲) د نورودلائلو اود هغې د جوابونو د پاره اوګورئ حواله سابقه (ص ۱۸۲ - ۱۸۳)

۵۲-بَاب: مَنْ قَادَ دَابَّةَ غَيْرِهِ فِي الْحَرْبِ

دباب دَ ترجمې مقصد: امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دَ غازی دَ سورلئی دَ هغه دَ امداد په غرض رابنکلو فضیلت بیانوی چه په دې کار کښې دَ غازی امداد کیږی نو په دې وجه دا هم دَ ثواب کار دې. (۱)

او دا هم وینلې شی چه امام بخاری رحمه الله دلته دا خودلې وی چه څاروې رابنکل او بوتلل دا په هغه جلب منهی عنه کښې داخل نه دی دَ کوم ذکر چه دَ ابوداؤد په روایت ((لاجلب ولاجنب)) (۲) کښې راغلی دی نو شیخ الحدیث محمد زکریا رحمه الله فرمائی:

((ولك ان تقول: انه اشار بذلك الى ان النهى من الجلب لايتناول هذا)) (۳)

[۲۷۰۹] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ رَجُلٌ لِلْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا (۴) أَفَرَرْتُمْ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ قَالَ لَكِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَفِرَّ إِنَّ هَوَازِنَ كَانُوا قَوْمًا رُمَاةً وَإِنَّا لَمَّا لَقِينَاهُمْ حَمَلْنَا عَلَيْهِمْ فَانْهَزَمُوا فَأَقْبَلَ الْمُسْلِمُونَ عَلَى الْغَنَائِمِ وَاسْتَقْبَلُونَا بِالسِّهَامِ فَأَمَّا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَفِرَّ فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ وَإِنَّهُ لَعَلَى بَغْلَتِهِ الْبَيْضَاءِ وَإِنَّ أَبَا سُفْيَانَ آخِذٌ بِلِجَامِهَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ
[۲۷۱۹، ۲۸۷۷، ۲۷۷۲، ۴۰۶۱-۴۰۶۳]

تراجم رجال

۱- <u>قتیبه:</u> دا شیخ الاسلام ابورجاء قتیبه بن سعید الثقفی رحمه الله دې دَ دوی حالات ((کتاب الایمان، باب افشاء السلام من الاسلام)) کښې تیرشوی دی.(۵)

۲- <u>سهل بن یوسف:</u> دا ابوعبدالرحمن سهل بن یوسف انماطی (۶) بصری رحمه الله دې (۷)

---

۱) (الابواب والتراجم للكاندهلوى (ج۱ص۱۹۶)-
۲) (سنن ابی داوٗد ابواب زكاة باب اين تصدق الاموال رقم (۱۵۹۱-۱۵۹۲)-
۳) (الابواب والتراجم للكاندهلوى(ج۱ص۱۹۶)-
٤) (قوله: البراء بن عازب رضى الله عنهما الحديث اخرجه البخارى ايضاً كتاب الجهاد والسير باب بغلة النبى صلى الله عليه وسلم البيضاء رقم (۲۸۷٤) وباب من صف اصحابه عند الهزيمة ونزل عن دابته واستنصر رقم (۲۹۳۰) وباب من قال:خذها وانا ابن فلان رقم (۳۰٤۲) وكتاب المغازى باب قول الله تعالى﴿ويوم حنين اذا اعجبتكم كثرتكم ..... الى قول غفور رحيم﴾ رقم (٤۳۱۵-٤۳۱۷) ومسلم كتاب الجهاد باب غزوة حنين رقم (٤٦۱۵-٤٦۱۷) والترمذى ابواب الجهاد باب ماجاء فى الثبات عندالقتال رقم (۱٦۸۸)-
۵) (كشف البارى (ج۶ص۱۸۹)-
۶) (الانماطى منسوب الى المنزط هو "توب من صوف يطرح على الهودج" (المنجد فى اللغة:ماده "نمط" وكان سهل يبيع الانماط فنسب اليها تعليقات تهذيب التهذيب (ج ٤ص۲۵۹)-
۷) (تهذيب الكمال (ج۱۲ص۲۱۳)-

دي د ابن عون، عبیدالله بن عمر، عوف الاعرابی، حمید الطویل، سعید بن ابی عروبه. سلیمان التیمی، عوام بن حوشب، شعبه اومثنی بن سعید الطائی رحمهم الله غوندې اساطین علم حدیث نه روایت کوی.

اود هغه نه روایت کونکوکښې امام احمدبن حنبل، یحیی بن معین، بندار، ابوموسی. ابوبکر بن ابی شیبه، قتیبه بن سعید، نصربن علی جهضمی، عباس بن یزیدالبحرانی رحمهم الله وغیره غوندې محدثین شامل دی.(۱)

عباس الدوری، امام یحیی بن معین رحمه الله نه نقل کوی "ثقة قد سمعت منه" (۲)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی ((لابأس به)) (۳)

امام نسائی رحمه الله فرمائی ((ثقة)) (۴)

علامه ابن حبان رحمه الله هغه په (کتاب الثقات) کښې ذکر کړیدې (۵)

امام دارقطنی رحمه الله فرمائی ((ثقة)) (۶)

امام طحاوی رحمه الله دابراهیم بن ابی داؤد نه نقل کړی دی فرمائی ((بصری ثقة)) (۷)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی ((وثقوه)) (۸)

امام مسلم رحمه الله نه علاوه نورو اصحاب صحاح دَ دوی نه روایات اخستې دی (۹)

په کال ۱۹۴ھ کښې وفات شوې دې (۱۰)

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی ((سمعت منه سنة تسعين، ولم اسمع بعد منه شيئاً اراه كان قد مات)) (۱۱) رحمه الله رحمة واسعة.

۳- <u>شعبه:</u> دا په حدیث کښې امیر المؤمنین شعبه بن الحجاج رحمه الله دې، دَ دوی مختصر حالات ((کتاب الایمان، باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده)) کښې تیرشوی دی. (۱۲)

---

۱) (شیوخ وتلامذه دَ پاره اوګورئ تهذیب الکمال (ج۱۲ص۲۱۳)-
۲) (تهذیب الکمال (ج۱۲ص ۲۱٤)-
۳) (الجرح والتعدیل (ج ٤ص۱۹۳) رقم (۶۰۰۵،۸۸۵)-
٤) (تهذیب الکمال (ج۱۲ص ۲۱٤)-
۵) (حواله بالا-
۶) (تهذیب الکمال (ج۳ص ۲۶۰)-
۷) (حواله بالا-
۸) (الکاشف (ج ۱ص ٤۷۱)-
۹) (تهذیب الکمال (ج۱۲ص ۲۱٤)-
۱۰) (تعلیقات تهذیب الکمال (ج۱۲ص ۲۱٤)-
۱۱) (تهذیب الکمال (ج۱۲ص ۲۱٤)-
۱۲) (کشف الباری (ج ۱ص۶۷۸)-

۴- ابي اسحاق: دا ابو اسحاق عمرو بن عبدالله السبيعى رحمه الله دې.

۵- البراء بن عازب رضي الله عنه: دا مشهور صحابى حضرت براء بن عازب رضي الله عنه دې، دَ دې دواړو حضراتو حالات ((كتاب الايمان باب الصلاة من الايمان)) كښې تيرشوى دى. (۱)

قوله: قال رجل للبراء بن عازب رضي الله عنه: يوسړى حضرت براء بن عازب رضي الله عنه ته اوونيل "مغازى د روايت نه معلوميږى چه دا سړې د قبيله قيس نه يوكس وو، نودَ مغازى په روايت كښې داسې راغلى دى((وساله رجل من قيس)).(۲)

قوله: افررتم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم حنين؟: آيا تاسوخلقو په غزوه حنين كښې رسول الله صلى الله عليه وسلم پريخې وو او تختيدلى وې؟

په حديث باب كښې ذكر شوې سوال او جواب دَ غزوه حنين متعلق دې په كوم كښې چه دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم او صحابه كرامو په مقابله كښې هوازن او دثقيف قبيلې ۲۰زره خوانان وو اودا جنګ په حنين وادئى كښې.شوې وو. دَ دې جنګ په اول وهله كښې مسلمانان دَ مخالف قبيلودَ غشو ورولونه اوويريدل او ګډوډ شوې وو اوصرف يو څو صحابه كرام رسول الله صلى الله عليه وسلم سره پاتې شوې وو.دَدې غزوه مكمل تفصيل (كتاب المغازى) كښې تيرشوې دې.(۳)

قوله: قال لكن رسول الله صلى الله عليه وسلم لم يفر: حضرت براء رضي الله عنه فرمائى ليكن رسول الله صلى الله عليه وسلم نه وو تختيدلې.

كلمه ((لكن)) دَ استدراك دَ پاره ده اوتقديرى عبارت دلته داسې دې ((نحن فررنا ولكن رسول الله صلى الله عليه وسلم لم يفر)) مونږ خو تختيدلې وو ليكن نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه وو تختيدلې. (۴)

اودَحضرت براء رضي الله عنه مقصود دَ دې حذف دَعبارت نه دَصحابه كرامودَ تختيدو تصريح نه كول وو. (۵)

دَانبياءكرامو دَ ميدان جنګ نه تيخته ممكن نه ده: حضرت براء رضي الله عنه دا اوفرمائيل چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ حنين نه نه ووتختيدلې.دغه شان دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم په ټول ژوند باندې دليل دې، او دَ نورو انبياء كرامو همدغه شان وو چه هغوى كله هم دَ جنګ دَ ميدان نه نه دى تختيدلى. ځكه چه هغوى په اقدام كښې بې مثاله،په بهادرئى كښې بې مثاله، دَ الله تعالى په وعده او نصرت باندې دَ هغوى پوره يقين وو اودا حضرات دَ شهادت او دَ الله تعالى سره دَ ملاقات خواهش مند وو.دَ انبياء كرام عليهم السلام نه دَ يوباره كښې هم په حق كښې دَ

۱) (كشف البارى (ج۲ص ۳۷۰-۳۷۶)-

۲) (الصحيح البخارى كتاب المغازى باب قول الله تعالى ﴿ويوم حنين اذ اعجبتكم كثرتكم..﴾ رقم (۴۳۱۷)

۳) (كشف البارى كتاب المغازى (ص۵۳ى۲)

۴) (عمدة القارى (ج ۱۴ص۱۵۷)-

۵) (حواله بالا-

جنګ د میدان نه تیښته اختیارول ثابت نه دی. او چه کوم سړی د دې خبرې قائل شوهغه به قتل کولې شی او د هغه نه به د توبې مطالبه نشی کولې ځکه چه د هغه دا قول داسې دی لکه چه یو سړې داسې اووائی چه هغوی ﷺ تور او عجمی وو او د هغوی ﷺ تور او عجمی نه کیدل په قطعی دلائلو ثابت دی. او دا د کفر قول دې. علامه قرطبی رحمه الله فرمائی:

((وحکی عن بعض اصحابنا الاجماع علی قتل من اضاف الیه صلی الله علیه وسلم نقصا اوعیبا وقیل: یستتاب فان تاب والاقتل)) (۱)

یعنی زمونږ د بعض صحابه کرامو نه دا اجماع نقل کړیشوې ده چه کوم سړې د نبی کریم ﷺ طرف ته یو نقص یا عیب منسوب کړی هغه به قتل کولې شی او دا هم وئیلې شوی دی چه ده نه به د توبې مطالبه کولې شی که توبه ئی اوکړه نو ښه خبره ده او کنی هغه به قتل کولې شی.

علامه ابن بطال رحمه الله د داسې سړی (چه د حضور ﷺ د منهزم کیدو قائل وی) د قتل علت بیانولو سره فرمائی: ((لانه کافر، ان لم یتاول، ویعذر بتاویله)) (۲)

یعنی ددې د پاره چه هغه سړې کافر دې که هغه د خپل قول تاویل او نه کړی اوکه هغه د دې خبرې قائل یو نص وړاندې کیږدی اود هغې تاویل اوکړی نو په داسې تاویل کولو به هغه معذوره ګڼړلې شی او کافربه ئی نشی ګرځولې.

اودنبی کریم ﷺ په شان کښې به دا تصور څنګه کیدیشی چه هغوی به میدان پریږدی. د مسلم په روایت کښې د حضرت براء رضی الله عنه الفاظ دا دی: ((قال البراء: کنا والله، اذا احمر الباس نتقی به، وان الشجاع منا للذی یحاذی به)) یعنی النبی صلی الله علیه وسلم (۳)

حضرت براء بن عازب رضی الله عنه فرمائی چه په الله قسم! کله به مونږ د جنګ شغلې اوچتیدونکې اولیدې نو هم د حضور ﷺ په ذریعه به مو خپل ځان بچ کولو او په مونږ کښې بهادر هم هغه ګڼړلې کیدو چه د هغوی په نقش قدم به روان وو یعنی نبی کریم ﷺ.

قوله: ان هوازن کانواقوما رماة وانما لما لقیناهم حملنا علیهم فانهزموا، فاقبل المسلمون علی الغنائم، واستقبلونا بالسهام: په اصل کښې د هوازن قبیلې خلق ډیر غشی ویشتونکی وو، کله چه زمونږ د هغوی سره مقابله اوشوه نو مونږ په هغوی باندې حمله اوکړه نو هغوی ماتې اوخوړلواواوتختیدل. بیا مسلمانان غنائمو طرف ته متوجه شو نو کافرانو په غشو باندې زمونږ استقبال اوکړو.

دلته په ذکر شوی عبارت کښې حضرت براء رضی الله عنه صحابه کرام رضی الله عنهم په میدان جنګ کښې

---

۱) (حواله بالا-

۲) (شرح ابن بطال (ج۵ص۶۹) وایضًا انظر لتفصیل هذه المسالة نسیم الریاض فی شرح شفاء القاضی عیاض (ج۱ص۱۶۵) القسم الرابع فی تصریف وجوه الاحکام..... فصل فی احجة فی ایجاب قتل من سبه اوعابه صلی الله علیه وسلم-

۳) (الصحیح لمسلم کتاب الجهاد والسیر باب غزوة حنین رقم (۴۶۱۶) والجامع لاحکام القران (ج۸ ص ۱۰۱)

پريخودل اود تيښتې علت ئې اوخودلو چه د دې دا وجه شوې وه چه د هوازن خلق د غشو ويشتلو ماهروو دې سره کله چه زمونږ د هغوى سره مخامخ شو او ښه جنګ اوشو نو هغه خلق اوتختيدل. مسلمانانو دا خيال اوکړو چه فتح حاصله شوه. د دښمن د واپس راتلو امکان نشته نو د دې د پاره هغوى د غنائمو په جمع کولو کښې مشغول شو. کافرانو موقع غنيمت اوګڼړله بيائى حمله اوکړه او ښه غشى ئې اوورول، په څه سره چه د مسلمانانو پښې اوخونيدې او اوتختيدل او خپل ځايونه ئى پريخودل. کله چه حضور ﷺ مکې ته تشريف راوړو نولس زره لښکر ورسره وو، دفتح مکه نه پس کله چه حنين ته ئې تشريف يوړو نو ډير خلق چه د فتح نه پس مسلمانان شوى وو هغوى په غزوه حنين کښې شامل شو. هوازن چه کله دوباره حمله اوکړه او د غشو باران ئى اوکړو نو ناځاپى دې مصيبت سره د فتح مکه خلقو کښې ويره خوره شوه اودا خلق د زړګونو په تعداد کښې وو د دې په نتيجه کښې په صحابه کرامو کښې هم د تيختې کيفيت پيدا شو. روستو چه کله حضور ﷺ واپس راوغوښتل نو صحابه کرام حضرات واپس شول او الله تعالى فتح ورنصيب کړه. (١)

قوله: فأما رسول الله صلى الله عليه وسلم فلم يفر: پاتې شو رسول الله ﷺ نو هغه اونه تختيدو.

دلته هم عبارت مقدر دې. ((اما نحن فقد فررنا واما رسول الله صلى الله عليه وسلم فلم يفر)) (٢)

قوله: فلقد رايته، وانه لعلى بغلته البيضاء: تحقيق ما رسو ل الله ﷺ اوليدو او هغوى په خپله سپينه قچره باندې سور وو.

هغوى ﷺ په قچره باندې د سورلئى په حالت کښې وراندې شواوبيا د مشرکانو مجمع طرف ته تلل د شجاعت او بهادرئى حيرانونکې مثال دې. بيا چه کله هغوى په دې حالت کښې د سورلئى نه کوزشول نو د بهادرئى نور هم اعلى او اوچت مثال ئى قائم کړو. (٣)

د هغوى ﷺ د دې فعل نه دا خبره هم ثابتيږى چه د الله تعالى په لارکښې د خپل نفس هلاکت او شدت (سختئى) کښې اچول جائز دى. ځکه چه د غزوه حنين په موقع باندې ټول صحابه کرام سواد دولسو (٤) ټول په ټول تختيدلې وو او د مشرکانو تعداد د هغوى نه په څو چنده زيات وو ليکن د دې باوجود دا حضرات په خپلوخپلو ځايونو او صفونوکښې کلك ولاړ وو اود ضرورت په وخت کښې چه د تيختې کوم اجازت دې په هغې باندې ئې عمل اونه کړو. (٥)

قوله: وان اباسفيان اخذ بلجامها: اوحضرت ابوسفيان رضي الله عنه د قچرې واګه نيولې وه.

---

١) (کشف البارى کتاب المغازى (ص٥٣٢)-
٢) (عمدة القارى (ج ١٤ص١٥٧)-
٣) (عمدة القارى (ج ١٤ص ١٥٧)-
٤) (حواله بالا-
٥) (شرح ابن بطال (ج٥ ص٦٩)-

دَ "ابوسفیان" نه مراد ابوسفیان بن الحارث ﷺ دې اودَ دې خبرې تصریح (کتاب المغازی) په روایت کښې موجود دې.((وان اباسفیان بن الحارث اخذ بزمامها)) (۱)

حضرت ابوسفیان بن الحارث ﷺ: دا دَ حضور ﷺ رضاعی او دَ تره ځوئ حضرت ابوسفیان مغیره حارث بن عبد المطلب بن هاشم هاشمی ﷺ دې. (۲) هغه دَ حضرت حلیمه سعدیه ﷺ پنی ښکلې وو. (۳) او بعض حضراتو مغیره دَ هغه دَ رور نوم ګرځولې دې او وئیلی دی چه دَ هغه کنیت هم دَ هغه نوم مبارك دې. حضرت عبدالله بن مبارك او ابراهیم بن المنذر، علامه کلبی او زبیر ﷺ قول دا دې چه مغیره هم دَ هغه نوم دې. (۴)

دَ هغوی مور غزیة بنت قیس بن طریف بن عبدالعزی ده. (۵)

داشاعر وو او دَ صحابه کرامو اونبی کریم ﷺ بدبه ئې وئیل، دَ اسلام او مسلمانانو سخت مخالف وو. پوره شل کاله په خپله دې لار باندې قائم وو اودَ مسلمانانو خلاف چه قریشو څومره جنګونه کړی په هغه ټولوکښې دَ قریشو سره او دَ مسلمانانو خلاف شریك شوی دی.

دَ هغوی دَ مسلسل دَ اسلام سره دَ دښمنئی په وجه حضور ﷺ دَ هغوی وینه هدر یعنی مباح ګرځولې وه.

کله چه اسلام ترقی اوکړه اونبی کریم ﷺ دَ فتح دَ پاره دَ مکې مکرمې رخ اوکړو نو الله تعالی دَ هغوی په زړه کښې دَ اسلام مینه واچوله. (۶)

دَ اسلام راوړلوواقعه: دَحضرت ابوسفیان ﷺ دَ اسلام راوړلو واقعه ابن سعد ﷺ په خپل "طبقات" کښې ذکر کړېده هم پخپله دَ حضرت ابوسفیان په ژبه ئې واورئې: زه خپل ځوئ او بی بی له راغلم، هغوی ته می اووئیل چه دَ وتلو تیاری کوئې ځکه چه محمد (ﷺ) تشریف راوړونکې دې نو هغوی اووئیل مونږ په تاباندې قربان شو تاله پکار دی چه اوګورې چه دَ عرب او عجم خلقو دَ هغوی ﷺ منل کړې دی. تراوسه پورې ته دَ هغه په دښمنئی کښې یو حدپورې رسیدلې وې او دَ هغه دَ نصرت دَ پاره تاله دَ ټولونه اول تلل پکار وو.(یعنی دَ هغه بی بی او ځوئ هم دَ هغه حوصله اوچته کړه)

بیا ما خپل ځوئ ته اووئیل چه زما اوښان او اسونه زر ماله راوله، بیامونږ دَ مکې نه اووتلو، زمونږ منزل هم رسول الله ﷺ وو نو مونږ لاړو، کله چه ابواء مقام ته اورسیدو نو هلته کښې مو ډیره واچوله او دَ رسول الله ﷺ لښکر هم په ابواء کښې ډیره اچولې وه دَ چا منزل چه مکه مکرمه وه. زه دَ رسول الله ﷺ دَ مخامخ کیدو نه ویریدم، ځکه چه هغوی زما

---

۱) (الصحیح للبخاری کتاب المغازی باب قول الله تعالی: ﴿ ویوم حنین اذاعجبتکم کثرتکم فلم تغن.....﴾ رقم۴۳۱۵، ۴۳۱۷)-

۲) (سیراعلام النبلاء (ج۱ص۲۰۲) والاصابة (ج ٤ص۹۰)-

۳) (طبقات ابن سعد(ج ٤ص۹۰) والاصابة (ج ٤ص۹۰)-

٤) (الاصابة (ج ٤ص۹۰) وسیراعلام النبلاء (ج۱ص۲۰۳)-

۵) (طبقات ابن سعد (ج ٤ص۳۹)-

۶) (حواله بالا-

دَ وينې نذرمنلې وو، ما خپله شكل بدل كړو او دَ خپل خوئ جعفر لاس مى اونيولو بهر راووتلم، تقريبًا يو ميل پيدل لاړم. دا دَ هغه سحر خبره ده په كوم كښې چه رسول الله ﷺ دَ ابواء په مقام كښې تشريف ايخودې وو، زه دَ هغوى مخې ته لاړم نو هغوى ﷺ مخ مبارك بل طرف ته واړولو، زه هغه طرف ته لاړم نو بيا هغوى مخ مبارك واړولو، هغوى ﷺ زما نه ځوخل ډېره اوكړه نو زه دَ نزدې او لرې خيالا تو راګيركړم او خپل ځان ته مى اوويل چه زه به هغوى ﷺ ته دَ رسيدو نه اول قتل كړې شم، او ما دَ هغه نيكى، صله رحمى او دَ هغه سره خپلولى رايادہ كړه، نو هغوى زما دا كوشش او معذرت قبول كړو.
زما يقين وو چه رسول الله ﷺ به زما اسلام راوړلو سره خوشحاله شى نو ما اسلام قبول كړو او هم په دې حال كښې هغوى ﷺ سره اووتلم او دَ هغوى سره فتح مكه او حنين كښې شريك شوم. په غزوه حنين كښې چه كله زمونږ دښمن سره مقابله اوشوه نو زه دَ اس سره په پټو سترګو په لښكر كښې ورننوتلم او زما په لاس كښې برېنډه توره وه، هغوى ﷺ هم زما طرف ته كتل خو هغوى ته دا خبره معلومه نه وه چه دَ هغوى دَ پاره زه خپل ځان قربانى كول غواړم. نو حضرت ابن عباس رضي الله عنه نبى كريم ﷺ ته اوفرمائيل ((يا رسول الله هذا اخوك، وابن عمك ابوسفيان بن الحارث، فارض عنه)) چه يا رسول الله! دا ستاسو رور، اوستاسو دَ تره خوئ ابوسفيان بن حارث دې دَ هغه نه راضى شئى، هغوى ﷺ اوفرمائيل ما دې معاف كړو الله تعالى دې هم دَ ده هغه دښمنئى چه ده ماسره ساتلې وې معاف كړى. بيا حضور ﷺ ماته متوجه شو او وئى فرمائيل زما روره په خدائى چه ما ركاب كښې دَهغه پښه ښكل كړه.(۱)
هغه دَ نبى كريم ﷺ سره صورةً مشابه وو، هغوى به دې ډېر عزيز ساتلو هغوى ﷺ دوى ته دَ جنت خوشخبرى هم وركړه، ارشاد مبارك دې ((ابوسفيان بن الحارث سيد فتيان اهل الجنة))(۲)
او وئى فرمائيل ((ابوسفيان اخى وخير اهلى وقد اعقبنى الله من حمزة اباسفيان بن الحارث)) ابوسفيان زما رور او دَ بهتر كور دَ خلقو نه دې او تحقيق الله تعالى حضرت حمزه نه پس ماته ابوسفيان بن حارث دَ بدل په توګه راكړو. دې نه پس به ئى هغه "اسد الله" او "اسد الرسول" په وقيع الفاظوسره رابللو.(۳)
دَحضور ﷺ په وفات باندې هغوى يوډېر دَ اثر نه ډك اودَ دردنه ډكه مرثيه هم وئيلې وه.(۴)

---

۱) (طبقات ابن سعد (ج ٤ص ٥٠)-
۲) (الاصابة (ج ٤ص ٩٠)-
۳) (الاستيعاب بهامش الصابة (ج ٤ص ٨٤) وطبقات اب سعد (ج ٤ص٥٢)-
٤) (قال ابن اسحاق: ولابى سفيان يرثى النبى ﷺ:

ارقت فبات ليلى يزول	وليل اخى المصيبة فيه طول
واسعدنى البكاء و ذاک فيما	اصيب المسلمون به قليل
فقد عظمت مصيبتنا وجلت	عشية قيل قد قبض الرسول
فقدنا الوحى والتنزيل فينا	يروح به و يغدو جبرئيل
و ذاک احق ما سالت عليه	نفوس الخلق او كادت تسيل

....[بقيه حاشيه په بل صفحه...

هغه حج ته لاړو او هلته حجام د هغه سر اوخرولو، د هغوی په سر کښې يوه زخه وه چه نائی کټ کړه او د هغې د وجه نه د هغه مرګ واقع شو او خلقو به هغه شهيد ګنړلو. (۱)

په شلمه هجری کښې مدينه منوره کښې د هغوی وفات شوې دې (۲) رضی الله عنه وارضاه.

قوله: والنبي صلى الله عليه وسلم يقول: انا النبي لا كذب انا ابن عبد المطلب

او هغوی ﷺ فرمائيل چه زه نبی يم په دې کښې څه دروغ نشته او زه د عبد المطلب غوندې د سردار خوئ يم.

د حضور ﷺ دا پورتنی قول ((انا النبي لا كذب)) کښې د نبوت محمدی اثبات دې، مطلب دا دې چه زه په خپل قول کښې کاذب نه يم چه ماته ماتې اوشي، ځکه چه ماتې هم هغوی ته کيږی د چا چه د الله تعالى په امداد او نصرت يقين نه وی او د مرګ ويره ورسره وی. (۳)
او ظاهره خبره ده چه په الله تعالى باندې کامل يقين د نبی او رسول وی او چه چاته د دې درجې يقين حاصل شی هغه ماتې نشي خوړلې.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حديث د باب ترجمه سره مناسبت په دې جمله کښې دې ((وان اباسفيان بن الحارث اخذ بلجامها)) (۴)

۵۳-باب: الركاب والغرز للدابة

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاری رحمه الله دا خودلې دی چه رکاب او غرز که د څاروو د پاره استعمال کړيشی نو په دې کښې هيڅ مضائقه نشته.

علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه حضرت عمر رضی الله عنه نه چه دا روايت دې ((اقطعوا الركب وثبوا على الخيل وثبا)) (۵) که رکاب پريکړې او په اس په ټوپ ورسور شی نودې نه خوهم دامعلوميږی

د تيرمخ بقيه] نبی كان يجلو الشک عنا — بما يوحى اليه و ما يقول
و يهدينا فلا نخشى ضلالا — علينا و الرسول لنا دليل
فلم نسر مثله فى الناس حيا — و ليس له من الموتى عديل
افاطم ان جزعت فذاک عذر — و ان لم تجزعى فهو السبيل
فعودى بالعزاء فان فيه — ثواب الله و الفضل الجزيل
وقولى فى ابيک و لاتعلى — وهل يجزى بفضل ابيک قيل
فقبر ابيک سيد كل قبر — و فيه سيد الناس الرسول

(سيراعلام النبلاء (ج ۱ص ۲۰٤)-

۱) (حواله بالاوالمستدرک (ج۳ص۲۵۵)-
۲) (سيراعلاء النبلاء (ج ۱ص۲۰۵) وطبقات ابن سعد(ج ٤ص۵۳)-
۳) (شرح ابن بطال (ج۵ ص۶۹)-
٤) (عمدة القارى (ج ١٤ص۱۵۶) د حديث باب نوره تشريح د پاره اوګورئ کشف البارى، کتاب المغازى (ص۵۳۵)_
۵) (كذا عزاه ابن بطال رحمه الله الى عمر رضی الله عنه الانى لم اجده فى المصادر التى بين يدى-

چه په خاورې باندې د سوریدلو دپاره رکاب استعمالول منع دی نو امام بخاری رحمه الله د موجوده باب د ترجمه په ذریعه دا فرمائیل غواړی چه حضرت عمر رضی الله عنه د سرنه د رکاب استعمالول منع نه ګرځول بلکه د هغوی مقصد دې منع نه خلقو له په پخپله په اسونوبغیر د څه سهارې سوریدو مشق اوتمرین ورکولو ترغیب ورکول وو ځکه چه پخپله رسول الله ﷺ د رکاب استعمال کړیدې او په خاروی د سوریدلودپاره نی د هغې نه مدد اخستې دې نو حضرت عمر رضی الله عنه څنګه د هغې نه منع کولې شی؟(۱)

د رکاب او غرزمعنی: رکاب د زین هغه زوړند حصې ته وائی په کوم کښې چه سوریدونکې خپله پښه ایږدی. او غررمعنی هم رکاب دې (۲) په دې اعتبارسره دا دواړه مترادف دی.

یا بعض حضراتو په دواړوکښې فرق خودلې دې چه رکاب خو د اوسپنې یا د لرګی وی او غرز صرف د څرمنې وی.

او د بعض حضراتو په نزد غرز د اوښ د پاره او رکاب د فرس د پاره وی.(۳)

[۲۸۷۰] حَدَّثَنِي عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ أَبِي أُسَامَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا أَدْخَلَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ وَاسْتَوَتْ بِهِ نَاقَتُهُ قَائِمَةً أَهَلَّ مِنْ عِنْدِ مَسْجِدِ ذِي الْحُلَيْفَةِ [ر: ۱۴۴۳]

تراجم رجال

دا بعینه هم هغه سند دې چه اوس ((باب سهام الفرس)) کښې تیرشویدې.

تنبیه: د حدیث باب مکمل تشریح کتاب الحج کښې راغلې ده. (۴)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث د باب ترجمه سره مناسبت د حدیث په دې جمله کښې دې ((اذا ادخل رجله فی الغرز)) او رکاب هم د غرزپه معنی کښې شامل دې نو امام بخاری رحمه الله غرز سره رکاب هم یوځائ کړو یا نی دې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چه دا دواړه مترادف دی.(۵)

۵۴- بَاب: رُكُوبِ الْفَرَسِ الْعُرْيِ

د ترجمة الباب مقصد: د امام بخاری رحمه الله مقصد د دې ترجمه نه دا دې که په اس باندې زین نه وی او د هغه شا برېنډه وی او د زین نه بغیر سرې په دې سورری نو په دې کښې هیڅ مضائقه نشته، دا ضروری نه دی چه هم د زین سره به سوریږی بلکه په برېنډه شا سوریدل خود اس د سوریدونکی په مهارت دلالت کوی.

---

۱) (شرح ابن بطال (ج۵ص۷۰)-
۲) (المعجم الوسیط (ج۱ص۳۶۸) مادة "رکب"-
۳) (فتح الباری(ج۶ص۶۹) وعمدة القاری(ج۱۴ص۱۵۸)-
۴) (انظر کتاب الحجج باب قول الله تعالی ﴿یاتوک رجالا....﴾-
۵) (عمدة القاری(ج۱۴ص۱۵۸) وفتح الباری (ج۶ص۶۹)-

دَ لفظ "عري" تحقيق: "عري" دَ عين مهمله ضمه او راء په سکون سره دې، دَ دې معنی بربنډه شا او بغيرزين نه ده.

نودَ "فرس عری" معنی بربنډه شا او بغيرزين اس. ·
اودَ "عري" لفظ هم څاروو سره خاص دې څکه چه سړی ته "عري" نشی ونيلې بلکه عريان ورته وانی (۱)

دَ دې کلمې په ضبط کښې دونم احتمال ابن التين رحمه الله دا بيان کړيدې چه په حديث کښې دا لفظ دَ راء په کسره او ياء په تشديد سره دې يعنی "عُرِّی" دې.

ليکن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : ((وليس في كتب اللغة مايُساعده))(۲) دَ لغت کتابونو دَ هغه دَ قول موافقت نه کوی.

[۲۷۱] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ (۳) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اسْتَقْبَلَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى فَرَسٍ عُرْيٍ مَا عَلَيْهِ سَرْجٌ فِي عُنُقِهِ سَيْفٌ [ر:۲۴۸۴]

تراجم رجال

۱- عمرو بن عون: داعمرو بن عون بن اوس سلمی واسطی بصری رحمه الله دې.(۴)

۲- حماد: دا حماد بن زيد بن درهم ازدی بصری رحمه الله دې. دَدوی حالات ((کتاب الايمان باب ﴿وان طائفتان من المؤمنين اقتتلوا...﴾)) لاندې تيرشوی دی.(۵)

۳- ثابت: دا مشهورتابعی حضرت ابومحمدثابت بن اسلم بنانی رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب العلم باب القرءة والعرض على المحدث)) په ذيل کښې تيرشوی دی.(۶)

۴- انس: دا مشهورصحابی رسول حضرت انس بن مالك رضی الله عنه دې دَ دوی حالات ((کتاب الايمان باب من الايمان ان يحب لاخيه مايحب لنفسه)) کښې تيرشوی دی.(۷)

قوله: قال: استقبلهم النبی صلی الله عليه وسلم على فرس عری ما عليه سرج وفی عنقه سيف: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه دَ خلقو په وړاندې دَ يو بربنډاس په شا سور شو، په هغې زين نه وو اودَ هغوی رضی الله عنه په سټ کښې توره زوړنده وه.

---

۱) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٥٨)وفتح الباری(ج ۶ص ۷۰)-
۲) (فتح الباری (ج ۶ص ۷۰)-
۳) (قوله: عن انس رضی الله عنه الحديث مرتجريجه فی کتاب الهبة باب من استعار من الناس من الفرس-
٤) (دَ دوی دَ حالاتودپاره اوګورئ کتاب الصلاة باب ماجاء فی القبلة.....-
۵) (کشف الباری(ج ۲ص ۲۱۹)-
۶) (کشف الباری(ج ۳ص ۱۸۳)-
۷) (کشف الباری(ج ۲ص ٤)-

تنبیه: حدیث باب ماقبل کښې خوځل تیر شوی دی او هم هلته دَ دې متعلقه بحثونوهم ذکر شوې دې په دې وجه مونږ نورتشریحات نه کوو خودَ بعض فوائدو ذکر کول به دَ فائدې نه خالی نه وی.

دَباب دَ حدیث نه مستنبط فائدې: ① دَ حدیث نه یوه فائده دا مستنبط شوه چه هغوی ﷺ دَ حدنه زیات متواضع وو او هغوی ﷺ دَ اس دَ سوریدو یوماهر وو ځکه چه دَ برینډ اس په شا باندې سورلې هغه سړې کولې شی چه همیشه دَاس سورلی کوی او په هغې کښې مهارت لری(۱)

② دونمه فائده دا مستنبط شوه چه دَ سور دَ پاره دا مناسب او ضروری دی چه دَ اس دَ سوریدو مشق کوی دې دَ پاره که ناڅاپی څه مصیبت راشی نو چه دَ هغې دَ مقابلې دَ پاره دَ اول نه تیار وی.(۲)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث دَ باب دَ ترجمه سرد مناسبت واضح دې اوهغه دَ حدیث په دې جمله کښې دې ((استقبلهم النبی صلی الله علیه وسلم علی فرس عری)) (۳)

۵۵-بَاب: الْفَرَسِ الْقَطُوفِ

دَ ترجمة الباب مقصد: امام بخاری دلته دا فرمائیل غواړی چه په مزه تلونکی اس باندې سورلی کول جائز او مشروع ده.

دَ کلمه "قطوف" تحقیق: "قطوف" دَ باب ضرب او نصر نه دې، دَ دې معنی په روتلونکې دې. لکه چه وئیلې کیږی ((قطفت الدابة یقطف قطافا: اذا ابطات))(۴)

[۲۷۱۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ حَمَّادٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۵) أَنَّ أَهْلَ الْمَدِينَةِ فَزِعُوا مَرَّةً فَرَكِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَسًا لِأَبِي طَلْحَةَ كَانَ يَقْطِفُ أَوْ كَانَ فِيهِ قِطَافٌ فَلَمَّا رَجَعَ قَالَ وَجَدْنَا فَرَسَكُمْ هَذَا بَحْرًا فَكَانَ بَعْدَ ذَلِكَ لَا يُجَارَى [ر: ۲۴۸۴]

تراجم رجال

۱-عبدالاعلی بن حماد: دا عبدالاعلی بن حماد بن نصر باهلی ذهلی رحمه الله دې (۶)

۱) (فتح الباری(ج۶ص۷۹) وعمدة القاری(ج۱۴ص۱۵۸)-
۲) (حواله بالا وشرح ابن بطال (ج۵ص۷۰)-
۳) (عمدة القاری(ج۱۴ص۱۵۸)-
۴) (فتح الباری (ج۶ص۷۰) والمعجم الوسیط (ج۲ص۷۴۶) مادة قطف-
۵) قوله: عن انس بن مالک رضی الله عنه: الحدیث مرتخرجه فی کتاب الهبة باب من استعار من الناس الفرس
۶) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الغسل باب الجنب یخرج ویمشی فی الاسواق وغیره-

۲-یزید بن زریع: دا بومعاویه یزید بن زریع تیمی بصری دې.(۱)
۳-سعید: دا سعید بن ابی عروبه ابوالنصریشکری بصری رحمه الله دې (۲)
۴-قتاده: دا قتاده بن دعامه بن قتاده سدوسی بصری رحمه الله دې.
۵-انس: دا مشهور صحابی حضرت انس بن مالک رضی الله عنه دې، دَ دې دواړو حضراتو حالات
((کتاب الایمان باب من الایمان ان یحب....)) لاندې راغلی دی. (۳)
اودَ حدیث باب تشریحات دَ ماقبل ځوخایونوکښې تیریشوی دی.
د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ باب دَ ترجمه سره دَ حدیث مناسبت دې جمله کښې دې ((کان یقطف اوکان فیه قطاف))(۴)
او کلمه دَ "او" دلته دَ شک دَ پاره ده چه راوی ته شک کیږی چه حضرت انس رضی الله عنه **یقطف** فرمائیلی که **قطاف**.(۵)
فائده: علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه دَ حدیث شریف نه داخبره مستنبط شوه چه بادشاه په کمتر خاروی باندې سورلی اوکړی نو.په دې کښې هیڅ حرج نشته، دې دپاره چه په هغې مشق اوکړی، برابر ئې کړی اودَ هغې تادیب اوکړی اودا دَ تواضع دَ قبیل نه ده.(۶)

۵۶-بَاب: السَّبْقِ بَیْنَ الْخَیْلِ

دَ ترجمة الباب مقصد: دَ دې باب دَ ترجمه نه دَ امام بخاری رحمه الله مقصددا دې که چرې دَ جهاد دَ تیاری دَ پاره دَ اسونو دَ زغلولو مقابله اوکړیشی نو په دې کښې څه حرج نشته او دَ دې فعل مشروعیت دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه ثابت او منصوص دې.(۷)
دَ کلمه "سبق" وضاحت: دَ "سبق" سین مهمله فتحه اودَ باء په سکون سره سبق یسبق نه مصدردې دَ کوم معنی چه مقابله ده، او همدغه معنی دلته مراد ده.
اوکه چرې دا کلمه دَ باء دَ فتحه سره وی یعنی "سبَق" نودَ دې معنی دَ هغه شرط ده چه په وړاندې کیدو باندې ایخودې کیږی.(۸)

---

۱) (دَ دوی د حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب غسل المنی وفرکه.... -
۲) (دَ دوی د حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الغسل باب اذاجامع ثم عاد ومن دارعلی....-
۳) (کشف الباری (ج۲ص۳-۴)-
۴) (عمدة القاری(ج۱٤ص۱۵۹)-
۵) (حواله بالاوفتح الباری (۶ص۷۰)-
۶) (شرح ابن بطال(ج۵ص۷۱)-
۷) (عمدةالقاری(ج۱٤ص.۵۹)وفتح الباری(ج۶ص۷۱)-
۸) (حواله بالا وختارالصحاح مادة سبق-

[۲۷۳] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ (١) رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ أَجْرَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا ضُمِّرَ مِنَ الْخَيْلِ مِنَ الْحَفْيَاءِ إِلَى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ وَأَجْرَى مَا لَمْ يُضَمَّرْ مِنَ الثَّنِيَّةِ إِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ قَالَ ابْنُ عُمَرَ وَكُنْتُ فِيمَنْ أَجْرَى قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللّٰهِ قَالَ سُفْيَانُ بَيْنَ الْحَفْيَاءِ إِلَى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ خَمْسَةُ أَمْيَالٍ أَوْ سِتَّةٌ وَبَيْنَ ثَنِيَّةَ إِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ مِيلٌ [ر: ۴۱۰]

تراجم رجال

۱- قبيصه: دا ابوعامر قبيصه بن عقبه بن محمد كوفى رحمه الله دي. دَدوى حالات ((كتاب الايمان باب علامة المنافق)) كښې تيرشوى دى. (۲)

۲- سفيان: دا مشهور امام حديث حضرت سفيان بن سعيد ثورى كوفى رحمه الله دي دَ دې حالات هم "كتاب الايمان" په مذكوره باب كښې تيرشوى دى. (۳)

۳- عبيدالله: داعبيدالله بن عمرالعمرى رحمه الله دي. (۴)

۴- نافع: دا ابوعبدالله نافع مولى ابن عمر العدوى رحمه الله دي. (۵)

۵- ابن عمر: دا مشهور صحابى حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دي. دَ دوى حالات ((كتاب الايمان باب الايمان وقول النبى صلى الله عليه وسلم بنى الاسلام على خمس)) كښې تيرشوى ى. (۶)

تنبيه: دَ حديث باب بعض تشريحات (كتاب الصلاة) كښې راغلې دى. اودَ بعض فوائدو ذكر انشاء الله دَ ځوصفحونه پس مونږ ذكر كوو.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَباب دَ ترجمې دَ حديث شريف سره مناسبت دَ حديث دې دووجملوكښې دې ((اجرى النبى صلى الله عليه وسلم ماضمر...)) او ((واجرى مالم يضمر)) ځكه چه ((اجراء)) دَ مسابقت معنى ته شامل ده.

قوله: قال عبدالله: حدثنا سفيان قال: حدثني عبيدالله:

عبدالله نه مراد څوک دې؟: دلته دَ عبدالله نه مراد ابن الوليد عدنى رحمه الله دې، او بعض نسخوكښې چه كوم دلته ابوعبدالله راغلې دې هغه سهوه او غلط دې. (۷)

---

١) (قوله: عن ابن عمر رضى الله عنهما الحديث مر تخريجه فى كتاب الصلاة باب هل يقال: مسجد بنى فلان؟

٢) (كشف البارى (ج ٢ ص ٢٧٥)-

٣) (كشف البارى (ج ٢ ص ٢٧٨)-

٤) (دَ دوى دَ حالاتو دَپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب التبرز فى البيوت-

٥) (دَ دوى دَ حالاتو دَپاره اوګورئ كتاب العلم باب من اجاب السائل باكثر مما ساله-

٦) (كشف البارى (ج ١ ص ٦٣٦)-

٧) (شرح الكرمانى (ج ١٢ ص ١٤٧)-

حافظ ابن حجر فرمائي:

((فعبدالله هو: ابن الوليد العدني كذا رويناه في جامع سفيان الثوري من روايته عنه)) (۱)

يعنى دلته دَ عبدالله نه ابن الوليد عدنى مراد دې، دغه شان مونږ ته روايت شويدې، جامع سفيان کښې سفيان نه دَ عبدالله په روايت کښې.

بيا دوئمه خبره دا ده که دَ عبدالله به ځائ ابو عبدالله اووئيلې شى نو دا ممکنه نه ده ځکه چه دَ امام بخارى رحمه الله سماع دَحضرت سفيان ثورى رحمه الله نه ناممکن ده، دَ دې وجه دا ده چه دَ امام بخارى رحمه الله ولادت ۱۹۴ھ کښې دې او سفيان ثورى رحمه الله دَ هغه نه ډير وړاندې ۱۶۱ھ کښې وفات شوې وو.

دَمذکوره تعليق مقصد: دَ ذکر شوى پورتنى تعليق مقصد دا دې چه امام بخارى رحمه الله دا بيان کول غواړى چه سفيان ثورى رحمه الله په دې روايت کښې دَ خپل شيخ عبيدالله نه دَ تحديث تصريح کړيده، په خلاف دَ ړومبى روايت چه هغه عنعنه سره مروى دې، نو علامه عينى رحمه الله فرمائي: (واراد البخاري بهذا تصريح الثوري عن شيخه بالتحديث بخلاف الرواية الاولى فانها بالعنعنة)[2]

دَمذکوره تعليق تخريج: دا تعليق دَ امام ثورى رحمه الله په (جامع) کښې موصولاً نقل کړيشوې دې. لکه څنګه چه اوس دَ حافظ صاحب په کلام کښې تيرشو.(۳)

قوله: قال سفيان: بين الحفياء الى ثنية الوداع خمسة اميال......: دَحضرت سفيان ثورى رحمه الله دا قول دَ سابقه سند سره موصول دې يعنى ((سفيان عن عبيدالله عن نافع عن ابن عمر رضي الله عنه)) (۴)

۵۷- بَاب: إِضْمَارِ الْخَيْلِ لِلسَّبْقِ

دَ ترجمة الباب مقصد: حافظ ابن حجر رحمه الله خودا فرمائيلى دى چه امام بخارى رحمه الله دې خبرې طرف ته اشاره کړيده، چه سنت خودا دى چه په مقابله کښې به دوه اسونه وړاندې کړى کوم چه مانده کړې شوى دى ليکن که دَ هغو اسونومقابله اوکړيشى دَ کوموچه اضمار نه دې کړيشوې نو په دې کښې هم څه حرج نشته، فرمائي:

(اشارة الى ان السنة في المسابقة ان يتقدم اضمار الخيل وان كانت التي لا تضمر لا تمتنع المسابقة عليها)[5]

---

۱) (فتح البارى (ج ۶ ص ۷۲)-

۲) (عمدة القارى (ج ۱۴ ص ۱۵۹)-

۳) (فتح البارى (ج ۶ ص ۷۲)-

۴) (عمدة القارى (ج ۱۴ ص ۱۵۹)-

۵) (فتح البارى (ج ۶ ص ۷۱)-

خو علامه عينى رحمه الله دَ باب ترجمه مقصد دا سې بيان كړيدې. ((اى هذا باب فى بيان اضمار الخيل لاجل السبق هل هو شرط ام لا؟)) (۱)

يعنى داباب دَ مقابله په غرض دَ اسونو دَ اضمارېه بيان كښې دې(مقابله كښې شريك) دَ اس اضمار كول شرط دې كه نه.

اودَ دې جواب چه دَ باب په حديث كښې ذكر دې چه دَ مقابلې دَ اس دَ پاره اضمار شرط نه دې دَ دې نه بغير هم مقابلې كولې شى. (۲)

دَ اضمار مطلب او معنى: اضمار كه دَ باب افعال نه وى يا تفعيل نه، دَ دې معنى اس مانده كول او اوږد جوړول دى، لكه چه وئيلى شى اضمرالفرس وضمرة.(۳)

دَ اضمار طريقه: په اضمار كښې اول داوى چه څاروى باندې ښه خوراك څښاك اوكړې او چاقوى ئې، دينه پس هغه په بنده كمره كښې ساتى او په هغه باندې كپړا اچولې شى دَ دې نتيجه دا وى چه په هغه ښه خوله راشى او په مزه مزه دَ هغه اوبه او وابنه كمولې شى چه كله پرې ښه خوله شى نودَ هغه دَ بدن فالتوغوښه ختمه شى او ښه تكړه او مضبوط او تيز شى، اودَ دې اضمار موده دَ اهل عربو په نزد څلويښت ورځې وى. (۴)

په ظاهره دا كار تعذيب ښكارى ليكن دا په مسابقت كښې استعمالولودَ پاره اودَ جهاد دَ تيارى دَ پاره كول جائز دى. (۵)

[۲۷۱۳] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ (۶) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي لَمْ تُضَمَّرْ وَكَانَ أَمَدُهَا مِنَ الثَّنِيَّةِ إِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ وَأَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ سَابَقَ بِهَا قَالَ أَبُو عَبْد اللَّهِ أَمَدًا غَايَةً فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ [ر: ۴۱۰]

تراجم رجال

۱-احمد بن يونس: دا احمد بن عبدالله بن يونس تميمى يربوعى رحمه الله دې،دَ نيكه په نسبت مشهور دې دَ دوى حالات ((كتاب الايمان باب من قال: ان الايمان....)) لاندې تيرشوى دى. (۷)

۲-ليث: داامام ابوالحارث ليث بن سعد بن عبدالرحمن فهيمى رحمه الله دې، دَدوى حالات

---

۱) (عمدة القارى (ج ۱۴ص۱۵۹)-
۲) (المتوازى (ص۱۵۵)-
۳) (مصباح اللغات (ص۴۹۹) مادة ضمر والمعجم الوسيط (ج۱ص۵۴۳) مادة ضمر-
۴) (شرح ابن بطال (ج۵ص ۷۱) المعجم الوسيط (ج۱ص۵۴۳)مادة ضمر-
۵) (شرح ابن بطال (ج۵ص ۷۱) وشرح الكرمانى (ج۱۲ص۱۴۷)-
۶) (قوله: عن عبدالله رضى الله عنه: الحديث مرتخرجه فى كتاب الصلاة باب هل يقال: مسجدبنى فلان؟-
۷) (كشف البارى (ج۲ص۱۵۹)-

((بدء الوحي)) دَ دريم حديث په ذيل کښې راغلی دی. (۱)

۳- نافع: داابوعبدالله نافع مولی ابن عمر رحمه الله دې. (۲)

۴- عبدالله: دامشهورصحابی حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دې، دَ دوی حالات ((کتاب الایمان باب الایمان وقول النبی صلی الله علیه وسلم بنی الاسلام علی خمس)) لاندې تیرشوی دی.(۳)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت دلته په امام بخاری رحمه الله باندې دا اعتراض شویدې چه دَ باب دَ ترجمه سره دَ حدیث مطابقت نشته دې ځکه چه ترجمه خو هغوی دَ اضمار الخیل قائم کړیده او چه کوم حدیث شریف ئې ذکر کړیدې په هغې کښې دَ خیول مضمرة ذکر نشته. بلکه دَ خیول غیرمضمرة ذکردې.(۴)

دَ دې اعتراض شراحو مختلف جوابونه ورکړی دی:

① علامه ابن بطال رحمه الله دا جواب ورکړیدې چه امام بخاری رحمه الله خو ترجمه دَ اضمار قائم کړیده او روایت ئې دا ذکر کړیدې ((سابق بین الخیل التی لم تضمر)) دې دَ پاره چه مکمل حدیث طرف ته اشاره اوشی ځکه چه پوره حدیث داسې دې ((ان الرسول صلی الله علیه وسلم سابق بین الخیل التی ضمرت، وبین الخیل التی لم تضمر)) (۵)

په حدیث کښې دَ دواړه قسم مقابلوذکر دې په دې وجه امام بخاری رحمه الله یوه حصه ذکر کړ، ځکه چه دینه باقی حصې طرف ته هم اشاره کیږی. (۶)

② علامه کرمانی رحمه الله دا جواب فرمائیلې دې چه دَ خیول مضمرة مقابله خو عادةً معروف ده، پاتې شو خیول غیرمضمرة نو په دې کښې دااحتمال او اعتقاد کیدیشی چه دَ دې مقابله جائزنه وی ځکه چه د هغې په زغلولوکښې مشقت او خطره ده. دَ حدیث نه چه دَ دې جواز واضح شوچه په دې کښې هم څه جرح او مضائقه نشته.(۷)

قوله: قال ابو عبدالله: امدا غاية: ﴿فطال عليهم الامد﴾: دَ ابوعبدالله نه مراد امام بخاری رحمه الله دې اودا عبارت صرف دَ "مستملی" په نسخه کښې موجود دې.(۸)

امام بخاری دلته دَ حدیث لفظ ((الامد)) تفسیرفرمائی چه دَ ((امد)) معنی غایت او انتهاء ده.

---

۱) (کشف الباری (ج ۱ص ۳۲٤)-

۲) (دَ دوی حالات دَ پاره اوګورئ کتاب العلم باب من اجاب السائل باکثر مماساله-

۳) (کشف الباری (ج ۱ص ۶۳۷)-

٤) (عمدة القاری(ج ١٤ص١٥٩) وشرح ابن بطال(ج۵ص ۷۱)-

۵) (شرح ابن بطال (ج۵ص ۷۱)-

۶) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱٤۷) وفتح الباری(ج ١٤ص ١۶٠)-

(۷)(حواله بالا-

۸) (عمدة القاری(ج ١٤ص ١۶٠)-

او هغوی چه کوم تفسیر دلته ذکر کړېدې هغه دَ ابوعبدالله په (کتاب المجاز) کښې ذکر کړېشوې تفسیردې. (۱)

دَ اسونودمقابله شرعی حیثیت اوددې مختلف صورتونه: په حدیث باب کښې دَ دې خبرې صراحت دې چه دَ اسونو زغلولو مقابه جائزده. بیاپه دې کښې تفصیل داسې دې چه دا مقابلې یا خو به دَ عوض سره وی یعنی په دې کښې څه انعام وغیره هم وی یا بلاعوض، دَ امت دَ فقهاؤ په دې کښې څه اختلاف نشته که دا مقابلې بغیردَ څه عوض او انعام نه وی نو جائز دی. دَ عوض سره دَ مقابلې تفصیل وړاندې راځی. البته په دې کښې اختلاف دې چه دا مقابلې په کومو امورواو ځاروو کښې جائزدی؟

امام مالك او امام شافعی رحمهماالله مذهب خودا دې چه دامقابلې صرف "خف، حافر اونصل" کښې کیدیشی.(۲) دَ "خف" نه مراد اوښ او هاتهی "حافر"نه مراد اس خر او قچر او "نصل" نه مراد غشی ورول یعنی مقابلې په دې دریو څیزونوکښې منحصردی نور په یو څیز کښې هم مقابله جائزنه ده.(۳)

او بعض علماؤ دا مقابلې صرف دَ اسونوپورې خاص کړی دی یعنی مقابله صرف دَ اسونو جائزده نور دَ هیڅ څیز مقابله کول جائزنه دی.(۴)

او دَ امام عطاء رحمه الله مذهب دا دې چه په ټولوڅیزونو کښې مقابله جائزده. (۵)

دَ حضرت سعید بن مسیب رحمه الله نه دکاټری غورزولوباره کښې تپوس اوکړېشو نو وئې فرمائیل چه په دې کښې هیڅ حرج نشته (۶)

او که مسابقه دَ عوض سره ده لکه مراهنة هم وئیلې شی نودَ دې دا لاندینی مختلف صورتونه دې:

① چه عوض وی او دَ انعام په توګه وی او دَ مقابله کونکونه علاوه دَ بل چادَ طرف نه وی لکه بادشاه یا بل څوك سړې ، نودا صورت بالاجماع جائزدې که انعام صرف دَ ګټلو والا دَ پاره وی یادَ مقابلې دَ ټولو ګسانودپاره وی یادَ بعض دَ پاره وی.(۷)

علامه ابن التین رحمه الله فرمائی:

---

۱) (حواله بالا-

۲) (فتح الباری(ج۶ص۷۲) وعمدةالقاری (ج۱۴ص۱۶۰) واستدلوا فی ذلک بما روی عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاسبق الا فی نصل اوخف اوحافر. رواه الترمذی رقم (۱۷۰۰)و ابوداؤد رقم(۲۵۷۴) والنسائی رقم (۳۶۱۵) وایضاً انظرالاحسان بترتیب صحیح ابن خبان کتاب السیرباب السبق رقم (۳۶۷۱)-

۳) (المرقاة (ج۷ص۳۱۹)-

۴) (حواله بالا-

۵) (حواله بالا-

۶) (المرقاة لعلی القاری (ج۷ص۳۲۰)-

۷) (تکملة فتح الملهم (ج۳ص۳۸۹)-

((انه صلى الله عليه وسلم سابق بين الخيل على حلل اتته من اليمن فاعطى السابق ثلاث حلل، واعطى الثانى حلتين، والثالث حلة، والرابع دينارًا، والخامس درهما، والسادس فضة، وقال: بارك الله فيك، وفى كلكم، وفى السابق والفسكل)) (١)

نبى كريم ﷺ دَ كپړې په يوځو جوړو باندې چه دَ يمن نه دَ هغوى ﷺ دَپاره راغلې وې داسونو زغلولومقابله اوکړه. نو اول راتلونکى ته ئى درې جوړې ورکړې ،دونم ته دوه جوړې، دريم ته يوه جوړه څلورم ته يو دينار پنځم ته يو درهم او شپږم ته ئې چاندى دَ انعام په توګه ورکړل او ارشاد ئى اوفرمائيلو چه الله تعالى دې تا ته او په ټولوکښې برکت واچوى په اول راتلونکى اس کښې هم او په اخرى پاتې کيدونکى اس کښې هم.

دَ امام مالك رحمه الله باره کښې ابن قدامه رحمه الله "المغنى" کښې دا نقل کړى دى چه مقابله دې صرف دَ بادشاه دَ طرف نه وى او چه دَ نور چا دَ طرف نه دا مقابلې وى نو جائزنه دى.(٢) دَ مالکيه مشهور مذهب دا دې چه هر متبرع سړې دا مقابلې کولې شى.(٣)

②که چرې مال دَ يو طرف نه وى، مثلاً فريقين دا اووائى چه که ته زما نه وړاندې شوې نو تاته به دومره مال درکوم او که زه تانه وړاندې شوم نو زما دَپاره به هيڅ نه وى اوبالعکس. دا صورت هم دَ نورو په نزد جائز دې البته امام مالك رحمه الله دا صورت هم په جوارئى کښې شميرلوسره ناجائزګرځولې دې.(۴)

ليکن دَ مالکيه په کتابونوکښې دې صورت ته هم جائز وئيلې شويدې.(۵) صحيح خبره همدغه ده چه ائمه اربعه ددې دونم صورت په جوازباندې متفق دى.(۶)

③که چرې مال دَ دواړو طرفونه وى، مثلاً فريقين داسې اووائى "ان سبقتنى فلك علىّ كذا وان سبقتك فلى عليك كذا" که ته مانه وړاندې شوې نو ستا به په ماباندې دومره وى او که چرې زه تانه وړاندې شوم نو په تابه زما دومره وى. دا صورت په اجماع باندې حرام دې. ځکه چه دا هم هغه جوارى ده دَ کوم نه چه شريعت منع کړيده.(۷)

④ چه فريقين په مقابله کښې څوك دريم سړې داخل کړى همدغه دريم سړى ته محلل وائى اود دې صورت دا دې چه دا دوه کوم چه اصل فريقين دى هغه دَ مال يو مقدار راوباسى او دريم هيڅ مال هم ورنه کړى او هغه دواړه دې دريم سړى ته اووائى که چرې ته زمونږ دَ دواړو نه وړاندې اووتلې نو زمونږ دَ دواړو ټول مال ستا او که مونږ دواړه تانه وړاندې شو نو په

---

١) (عمدة القارى (ج ١٤ص ١٥٩)-
٢) (المغنى لابن قدامة (ج ٩ص ٣٦٩)-
٣) (تكملة فتح الملهم (٣ص ٣٩٠) واوجزالمسالک (ج ۶ص ٧٣)-
٤) (عمدة القارى (١٤ص ١۶١) وفتح البارى (ج ۶ص ٧٣)-
۵) (ردالمختار كتاب الحظر والاباحة، فصل فى البيع (ج ۵ص ٢٨۵) ومسائل شئ (ج ۵ص ۵٣)-
۶) (تكملة فتح الملهم (ج ٣ص ٣٩٠)-
٧) (حواله بالا وعمدة القارى (ج ١٤ص ١۶١)-

تاباندې زمونږ د پاره هيڅ هم لازم نه دی.
اوکه هغه دريم سرې دې دواړو نه چه اصل فريق دی وړاندې اووتلو نو د ټول مال حقدار به هغه وی اوکه هغه دواړه د دې محلل نه وړاندې شو نو دوه صورتونه شو: که هغه دواړه په يو ځائ د دې محلل نه وړاندې شو نو چاته به د دې دوئم نه هيڅ هم نه ملاويږي
او که دا دواړه د محلل نه يو بل پسې وړاندې شو نو د دې دواړونه چه په خپل ملګری باندې وړاندیوالې اوکړو هغه به د ده د مال مستحق وی او دا دونم به د اولنی د مال حقدار نه وی. (۱)
د دې څلورم صورت حکم د حنفيه په نزد هغه دې چه کوم امام محمد رحمه الله بيان کړيدې.
((ادخال الثالث انما يكون حيلة للجواز، اذا كان الثالث يتوهم منه ان يكون سابقا ومسبوقا فاما اذا كان يتيقن انه يسبقهما لامحالة، او يتيقن انه يصير مسبوقا فلايجوز)) (۲)
د فريقينو خپل ځان سره دريم کس يوځائ کول د جواز د پاره حيله په هغه صورت کښې جوړيدشی چه کله د دريم باره کښې دا ګمان وی چه هغه به د ټولونه وړاندې اوخی يا به روستوپاتې کيږی. او که د دې دريم باره کښې دا يقين وی چه هغه به د دې دواړونه لازمی توګه باندې وړاندې اوخی يا دوی ته په دې باره کښې دا يقين وی چه هغه به د دې دواړونه شاته پاتې کيږی نو جائزنه دی.
د جواز دا صورت په دې شرط سره چه دريم سړی باره کښې دا ګمان وی چه هغه به د دې دواړو نه وړاندې اوخی يابه روستو پاتې کيږی، دا د امام ابوحنيفه. احمد. شافعی. اوزاعی، اسحاق، سعيدبن مسيب او زهری رحمهم الله مذهب دې. (۳)
او د امام مالك رحمه الله (۴) اوجابر رحمه الله (۵) قول دادې چه محلل سره هم دا صورت جائزنه دې. (۶)
د جمهورو مستدل د دې څلورم صورت په جواز باندې د حضرت ابوهريره رضی الله عنه هغه حديث دې کوم چه امام ابوداؤد (۷) او امام احمد رحمه الله (۸) نقل کړی دی چه حضرت ابوهريره رضی الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه روايت کوی:

قوله: قال: من ادخل فرسا بين فرسين، يعنى هو لايأمن ان يسبق فليس بقمار، ومن ادخل فرسا بين فرسين، وقد امن ان يسبق فهو قمار: (۹)

---

۱) (عمدة القارى (۱٤ص۱۶۱) وتكملة فتح الملهم (ج۳ص۳۹۰)-
۲) (الفتاوى الهندية (ج۵ص۳۲٤)-
۳) (المغنى لابن قدامة (ج۹ص۳۷۲)-
٤) (عمدة القارى (ج۱٤ص۱۶۱) والمدونة الكبرى-
۵) (المغنى لابن قدامة (ج۹ص۳۷۲)-
۶) (تكملة فتح الملهم (ج۳ص۳۹۰)-
۷) (سنن ابى داؤد ابواب الجهاد باب فى المحلل رقم (۲۵۷۹)-
۸) (مسندالامام احمد (ج۲ص۵۰۵)-
۹) (عمدة القارى (ج۱٤ص۱۶۱) ومشكوة المصابيح (ج۲ص۱۱۳۸) رقم (۳۸۷۵)-

هغوی ﷺ فرمائیلی دی چه یو سړی د دوو اسونو په مینځ کښې خپل اس شامل کړی یعنی د چاباره کښې چه دا یقین نشته چه هغه به وړاندې شی نو دا قمار یعنی جواری نه ده، اوکه یو سړی د دوو اسونو په منیځ کښې خپل اس شامل کړی د چاباره کښې چه دا یقین وی چه هغه به وړاندې شی نو دا جواری ده.

نود دې پورتنی حدیث نه دا ثابت شو چه چرې محلل د وړاندې وتلوګمان نه وی نو دا صورت د جوارئی نه دې، البته که د محلل د وړاندې وتلویقین وی نو دا یقینا جوارګردې او جمهور د دې جواز قائل هم نه دی. والله اعلم.

۵۸-بَاب: غَايَةِ السَّبْقِ لِلْخَيْلِ الْمُضَمَّرَةِ

د ترجمة الباب مقصد: د امام بخاری رحمه الله د دې ترجمه نه مقصد دا خودل دی چه د خیل مضمره غایت اوانتهاء به د منډې او مقابلې د پاره زیات وی او د غیرمضمره په مینځ کښې چه کله مقابله کولې شی نو د هغې د پاره چه کوم غایت مقررروی هغه به کم وی. (۱)

اود دې وجه ظاهره ده څکه چه مضمره به ترډیر وختـه پورې په منډه باندې قادروی په خلاف د غیرمضمره چه هغه زر ستړې کیږی. اوکه هغه د خپل طاقت نه زیات اوزغلوې نو په هغه کښې د ده د ضرر او هلاکت پوره اندیښنه ده.

نو د باب په حدیث کښې دا راغلی دی چه د خیول مضمره غایت حضور ﷺ د مقابلې په دوران کښې تقریبا شپږ میله ایخودې دې او د غیرمضمره غایت ئې تقریبا یو میل ایخودې دې. په دې کښې همدغه حکمت دې کوم چه اوس مونږ ذکر کړو.(۲)

۲۷۰۵: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا(۳) قَالَ سَابَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي قَدْ أُضْمِرَتْ فَأَرْسَلَهَا مِنْ الْحَفْيَاءِ وَكَانَ أَمَدُهَا ثَنِيَّةَ الْوَدَاعِ فَقُلْتُ لِمُوسَى فَكَمْ كَانَ بَيْنَ ذَلِكَ قَالَ سِتَّةُ أَمْيَالٍ أَوْ سَبْعَةٌ وَسَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي لَمْ تُضَمَّرْ فَأَرْسَلَهَا مِنْ ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ وَكَانَ أَمَدُهَا مَسْجِدَ بَنِي زُرَيْقٍ قُلْتُ فَكَمْ بَيْنَ ذَلِكَ قَالَ مِيلٌ أَوْ نَحْوُهُ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ مِمَّنْ سَابَقَ فِيهَا [ر:۴۱۰]

تراجم رجال

۱- عبدالله بن محمد: دا ابوجعفر عبدالله بن محمد مسندی رحمه الله دې. د هغوی مختصر حالات ((کتاب الایمان باب امورالایمان)) کښې تیرشوی دی. (۴)

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص۷۱)-

۲) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۶۰) وشرح ابن بطال (ح۵ص۷۲)-

۳) (قوله: عن ابن عمر رضی الله عنهما: الحدیث مرتخریجه فی کتاب الصلاة باب هل یقال: مسجد بنی فلان؟

۴) (کشف الباری(ج۱ص۶۵۷)-

۲-معاويه: دا ابوعمرومعاوية بن عمروالازدي رحمه الله دي. (۱)

۳-ابواسحاق: دا ابواسحاق ابراهيم بن محمد بن الحارث الفزاري رحمه الله دي.(۲)

۴-موسى بن عقبه: دا موسى بن عقبه بن ابى عياش اسدى مدنى رحمه الله دي.(۳)

۵-نافع: دا عبدالله نافع مولى ابن عمر رحمه الله دي. (۴)

۶-ابن عمر: دا مشهورصحابى رسول، حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دي. دَ دوى حالات «كتاب الايمان باب الايمان وقول النبى صلى الله عليه وسلم: بنى السلام على خمس» لاندې تير شوى.(۵)

تنبيه: دَ حديث باب تشريح په تيرو شوو بابونوكښې راغلې ده.

فائده: دَحديث باب نه دا فائده مستنبط شوه چه كله دَ اسونوپه مينځ كښې مقابله كونى نودَ مقابلې انتهاء او غايت دې معلوم وى. نورداچه اسونه دې په رفتاراوطاقت كښې يوشان وى اوداچه دَخيول مضمره سره غيرمضمره مقابله مه كوئى،په دې دَ امت دَ علماؤ اجماع ده(۶)

۵۹-بَاب: نَاقَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دَ ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخارى رحمه الله دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم دَ اوښې قصواء ذكركول غواړى. (۷)

قوله: قَالَ ابْنُ عُمَرَ أَرْدَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُسَامَةَ عَلَى الْقَصْوَاءِ:

حضرت ابن عمر رضي الله عنهما فرمائى چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم حضرت اسامه بن زيد بن حارثه په قصواء اوښه باندې خپل شاته سور كړو.

قوله: وَقَالَ الْمِسْوَرُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا خَلَأَتْ الْقَصْوَاءُ: او

حضرت مسور رضي الله عنه فرمائى چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه قصواء پخپله نه ده ناسته.

دپورتنودواړو تعليقاتو تخريج: دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما تعليق امام بخارى رحمه الله موصولاً كتاب المغازى كښې نقل كړيدى. (۸)

اودَ حضرت مسور بن مخرمه رضي الله عنه تعليق دَ امام بخارى رحمه الله نه علاوه امام ابوداؤد رحمه الله هم

---

۱) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الاذان باب اقبال الامام على الناس عنه تسوية الصفوف-

۲) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الجمعة باب القائلة بعد الجمعة-

۳) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب اسباغ الوضوء-

۴) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب العلم باب من اجاب السائل باكثرمماساله-

۵) (كشف البارى (ج۱ص۶۳۶)-

۶) (شرح ابن بطال (ج۵ص۷۲)-

۷) (عمدة القارى(ج۱۴ص ۱۶۱)-

۸) (انظرالصحيح للبخارى كتاب المغازى باب جحة الوداع رقم (۴۴۰۰)-

موصولاً ذكر كړيدي. (١)

دپورتنو تعليقاتو ذكر كولو مقصد: امام بخاري رحمه الله دلته دَ باب په ذيل كښې دوه تعليقات ذكر كړي دي. يودَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما او دوئم دَ حضرت مسوربن مخرمه رضي الله عنه، او په دواړوكښې دَ نبى اكرم صلى الله عليه وسلم دَ ناقة "قصواء" ذكر راغلې دې. مقصد دا چه دَ هغوى صلى الله عليه وسلم يوه ناقه وه، چه دَ هغې نوم **قصواء** وو.

باب سره مناسبت: دَ دې تعليقاتومناسبت هم دَ باب دَ ترجمه سره واضح دې چه باب "**ناقة النبى صلى الله عليه وسلم**" قائم كړيشوې دې. او په دواړو تعليقاتوكښې دَ حضور صلى الله عليه وسلم دَ ناقة **قصواء** ذكر دې.

[٢٧١٦/٢٧١٧] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا(٢) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ كَانَتْ نَاقَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَالُ لَهَا الْعَضْبَاءُ

تراجم رجال

١-عبدالله بن محمد: دا ابوجعفر عبدالله بن محمدمسندى رحمه الله دې دَ دوى حالات ((كتاب الايمان باب امور الايمان)) كښې تيرشوى دى.(٣)

٢-معاويه: دا ابوعمرومعاويه بن عمروالازدى رحمه الله دې(٤)

٣-ابواسحاق: دا ابواسحاق ابراهيم بن محمدبن الحارث فزارى رحمه الله دې. (٥)

٤-حميد: دابوعبيده بن ابى حميد الطويل رحمه الله دې. دَ دوى حالات ((كتاب الايمان باب خوف المؤمن من ان يحبط عمله وهولايشعر)) كښې تيرشوى دى. (٦)

٥-انس: دا مشهورصحابى حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دې. دَ دوى حالات ((كتاب الايمان باب من الايمان ان يحب لاخيه مايحب لنفسه)) كښې تيرشوى دى.(٧)

---

١) (انظر الصحيح للبخارى كتاب الشروط باب الشروط فى الجهاد والمصالحة مع اهل الحرب رقم (٢٧٣١-٢٧٣٢) وابوداؤد فى سننه ابواب الجهاد باب فى صلح العدو رقم (٢٧٦٥-٢٧٦٦) وابواب السنة باب فى الخلفاء رقم (٤٦٥٥)-

٢) (قوله: انسارضى الله عنه:الحديث اخرجه البخارى ايضًا كتاب الجهاد باب ناقة النبى صلى الله عليه وسلم رقم (٢٨٧٢) وكتاب الرقاق باب التواضع رقم(٦٥٠١) وابوداؤد فى سننه ابواب الادب باب فى كراهية الرفعة فى الامورقم(٤٨٠٢-٤٨٠٣) والنسائى فى سننه كتاب الخيل والسبق والرمى باب السبق رقم (٣٦١٨)

٣) (كشف البارى (ج١ص٦٥٧)-

٤) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الاذان باب اقبال الامام على الناس عندتسوية الصفوف-

٥) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الجمعة باب القائلة بعدالجمعة-

٦) (كشف البارى (ج٢ص٥٧١)-

٧) كشف البارى (ج٢ص ٤)-

[۲۸۷۲] حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ (۱) رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاقَةٌ تُسَمَّى الْعَضْبَاءَ لَا تُسْبَقُ قَالَ حُمَيْدٌ أَوْ لَا تَكَادُ تُسْبَقُ فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ عَلَى قَعُودٍ فَسَبَقَهَا فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ حَتَّى عَرَفَهُ فَقَالَ حَقٌّ عَلَى اللّٰهِ أَنْ لَا يَرْتَفِعَ شَيْءٌ مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا وَضَعَهُ طَوَّلَهُ مُوسَى عَنْ حَمَّادٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۶۱۳۶]

تراجم رجال

۱- مالك بن اسماعيل: دا ابوغسان مالك بن اسماعيل بن زياد النهدی رحمه الله دي. (۲)

۲- زهير: دا زهير بن معاويه بن حديج جعفي كوفي رحمه الله دي. دَ دوی مفصل حالات ((كتاب الايمان باب الصلاة من الايمان)) لاندې تيرشوی دی اودَ سند باقی رجال په تيرشوی سند كښې راغلی دی. (۳)

قوله: قال: كان للنبي صلى الله عليه وسلم ناقة تسمى العضباء لاتسبق:
حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دې چه د نبی كريم صلى الله عليه وسلم يوه اوښه وه، هغې ته به ئې عضباء وئيله، هغې سره په مقابله كښې به يوه اوښه نه وړاندې كيده. يعنې غضباء نومې اوښه نبی كريم سره وه او هغه به هميشه دَ منډې په مقابله كښې وړاندې وه او نورو اوښويه دَ هغې مقابله نشوه كولې.

قوله: قال حميد: اولاتكاد تسبق: حميد: راوی وائی يائې دا اووئيل چه څوك دَ دې نه وړاندې نه شو تلې.
كلمه "او" دَ شك دَپاره ده، يعنی حميد الطويل ته شك شويدې چه حضرت انس رضي الله عنه ((لاتسبق)) اوفرمائيل يا ((لاتكاد تسبق)) او په نورو رواياتو كښې بغيردَ شك نه هم ((لاتسبق)) دې. (۴)

قوله: فجاء اعرابي على قعود، فسبقها: يو اعرابی په يو ځوان اوښ باندې سور راغلو او دَ هغه اوښ دَ عضباء نه وړاندې شو.
يعنی دَ اعرابی اوښ سره دَ عضباء مقابله اوشوه نودَ اعرابی اوښ اوګټله اودَ عضباء نه وړاندې شو. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ماته دَ ډير تلاش او تتبع نه باوجود دَ هغه اعرابی نوم معلوم نه شو ليكې: ((ولم اقف على اسم هذا الاعرابي بعد التتبع الشديد)) (۵)

---

۱) (قوله: عن انس رضی الله عنه: الحديث مر تخريجه انفافی الحديث السابق-
۲) (دَ دوی دَ حالاتو دَپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب الماء الذی يغسل به شعر الانسان-
۳) (كشف الباری (ج۲ص۳۶۷)-
۴) (فتح الباری (ج۶ص ۷۴)-
۵) (حواله بالا-

د "قعود" معنى: قعود-بالفتح على القاف- هغه خوان اوښ ته وائى په كوم چه سورلى كيديشى يعنى هغه سور په خپل خان باندې قابوكولې شى اود دې كم نه كم عمر دوه كاله دې او چه كله د شپږو كالو عمر ته اورسى نو هغې ته جمل وائى او قعود مذكر اوښ ته وائى او مؤنث ته قلوص وائى. (۱)

ابوعبيده رحمه الله فرمائى چه په اوښانوكښې قعود هغه ته وائى چه د خپل څرونكى په هر حاجت كښې پكار راځى. (۲)

قوله: فشق ذلك على المسلمين، حتى عرفه: نوهغه په مسلمانانوباندې سخت اولګيده كوم چه نبى كريم ﷺ معلوم كړلو. يعنى د اعرابى اوښ چه كله د نبى كريم ﷺ د اوښې نه وړاندې شو نو دا وړاندې كيدل په مسلمانانوباندې ډير سخت اولګيدل، چه د هغوى ﷺ اوښه ولې روستو پاتې شوه اود هغوى دا څيز حضور ﷺ محسوس كړو چه زما د اوښې په مقابله كښې روستوپاتې كيدل په مسلمانانو باندې ګران تيرشو (۳) او هغوى ﷺ ددې مسلمانانود مخونود آثارونه معلومه كړه، د (كتاب الرقاق) په روايت كښې دا الفاظ دى ((فلما راى مافى وجوههم)) (۴)

قوله: فقال: حق على الله ان لايرتفع شئ من الدنيا الاوضعه: نونبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه په الله باندې دا حق دې چه كوم څيز په دنياكښې اوچت وى هغه ښكته كړى.
مطلب دا چه د دنيا په هرڅيز كښې د كمال نه پس زوال دې. هغه هم د الله تعالى ذات مبارك دې چاته چه زوال نشته ګنى عادةً د الله په ټولوڅيزونوكښې دا دى چه هغه د پوره كيدلو نه پس په زوال كښې كيږى يو څيز هم همشه كامل او مكمل نشى پاتې كيدې او آخر كمزورې او نقصانى كيږى، د دې واضح مثال انسان دې چه په شروع كښې وړوكې شان وى، په مزه مزه لوئيږى، په ځوانئى كښې خپل كمال ته اورسى نو بيا چه كله د بوډاوالى طرف ته د هغه سفرشروع كيږى نو په كمال كښې نقصان راځى او آخر يوه ورځ هغه بدن كوم چه به ترو تازه اوسيدلو فناكيږى. ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۝ وَّيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ۝﴾ (۵)

قصواء او غضباء د يوې اوښې دوه نامې دى كه جدا جدا؟: په دې كښې اختلاف دې چه دا كوم د حضور ﷺ د اوښونومونه بيان كړيشوى دى دا جدا جدا وو كه هم د يوې ناقه مختلف نومونه دى.
د علامه حربى رحمه الله وينا ده چه دا هم د يوې ناقه مختلف نومونه دى، ورسره فرمائى چه

---

۱) (مختارالصحاح مادة قعد-
۲) (حواله بالا-
۳) (ارشاد السارى)ج۵ص ۸۰)-
٤) (صحيح البخارى كتاب الرقاق باب التواضع (۶۵۰۱)-
۵) (الرحمن:۲۶-۲۷-

قصواء، عضباء او جدعاء سره د حضور ﷺ اوښه یادولې شي. (۱)
د بعض نورو حضراتو وینا ده چه داد جداجدا اوښو نامې دی،عضباء جداده،قصواء جدا(۲)
د اختلاف سبب: په اصل کښې دلته د اختلاف سبب دا دې چه د سیرت په کتابونوکښې د حضور ﷺ په اوښوکښې د یوې نوم عضباء، د دونمې نوم جدعاء، دریمې نوم صلماء او د څلورمې نوم مخضرمه راغلې دې. (۳) اودا ټول د غوږ په صفاتوکښې دی، عضباء هغه اوښې ته وائي د کومې چه غوږونه شلیدلې وی. جدعاء معنی غوږ پریشوې. صلماء معنی هغه اوښه د کومې چه دواړه غوږونه پرې وی او د ناقه مخضرمه معنی هغه اوښه ده د کومې د غوږ غاړه چه پرې وی.
اوس دلته دوه احتماله دی:
① په دې کښې هر یو صفت جدا جدا دې یعنې یوه اوښه داسې وه چه د هغې غوږشلیدلې وو په دې وجه هغې ته عضباء اوونیلې شو د بلې غوږپریشوې وو نو هغې ته ئې جدعاء ونیل او د دریمې دواړه غوږونه پریشوی وو نو هغه ئې په صلماء سره یادولوله او د څلورمې د غوږ غاړه پرې وه نو هغې ته به ئې مخضرمه ونیل(۴)
②داټول صفتونه د یوې اوښې وو، اوس چه چاته څنګه ښه ښکاریده او خیال ئې راتلو هم هغه نوم سره ئې اوښه یادوله. همدغه رائې د علامه حربی رحمه الله هم ده. (۵)
د علامه حربی د رائې تائید د دې روایت نه هم کیږی کوم چه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نقل کړیدې فرمائی چه کله رسول الله ﷺ حضرت علی رضی الله عنه د یوکاردپاره اولیګلونو حضرت علی رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ په اوښه قصواء باندې سور شو ((انه رکب(ای علی)ناقة رسول الله صلی الله علیه وسلم القصواء)) همدغه روایت د حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه نه هم مروی دې په دې کښې د قصواء په ځائ عضباء مروی دې، بعض نورو حضراتو هم په دې روایت کښې جدعاء صفت ذکر کړیدې. نو دا د خبرې تصریح ده چه دا دریواړه صفتونه هم د یوې اوښې دی ځکه چه قصه هم یوه ده. نوعلامه قسطلانی رحمه الله فرمائی((فهذا یصرح ان الثلاثه صفة ناقة واحدة لان القصة واحدة)) (۶)
او امام بخاری رحمه الله رائې همدغه معلومیږی چه هغه د دې خبرې قائل دې چه دا ټول په ټول صفات هم د یوې ناقه دی ځکه په ترجمة الباب کښې هغه د ناقه مفرد لفظ سره ذکر کړیدې. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی ((افرد الناقة فی الترجمة اشارة الی ان العضباء والقصواء واحد))(۷)

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص ۷٤) وشرح القسطلانی (ج۵ص۸۱)-
۲) (فتح الباری(ج۶ص ۷٤)-
۳) (زادالمعاد فی هدی خیرالعباد (ج۱ص ۱۳٤) وشرح القسطلانی (ج۵ص۸۱)-
٤) (ارشادالساری (ج۵ص۸۱)-
۵) (حواله بالا-
۶) (حواله بالا-
۷) (فتح الباری (ج۶ص۷۳)-

تنبيه: قصواء هغه اوښې ته وائى د كومې چه غوږېږې شوى خودا خبره په ذهن كښې ياد ساتئى چه د نبى كريم ﷺ د دې مذكوره اوښې غوږ پرې نه وو بلكه دا د هغې نوم وو.(١)

قوله: طَوَّلَهُ مُوسَى عَنْ حَمَّادٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دَ نسخو اختلاف: داتعليق د "مستملى" په نسخه كښې عبدالله بن محمد مسندى رحمه الله د حديث نه پس راغلې دې يعنى د باب رومبې حديث كوم چه مسندى روايت كړيدې. د ابوذر د روايت نه علاوه په نورو نسخوكښې عبدالله بن محمد مسندى رحمه الله روايت زهير بن معاويه رحمه الله د روايت نه پس دې. (٢)

راجح كومه نسخه ده؟: اوس سوال دا پيدا كيږى چه كله دا تعليق د مستملى په نسخه كښې عبدالله بن محمد مسندى رحمه الله د روايت نه پس ذكر دې او په نورو نسخو كښې سوا د ابوزر د زهيرد روايت نه پس ذكر دې نو راجح كومه نسخه ده؟ د دې جواب دا دې چه دلته راجح مستملى نسخه ده اود دې وجه داده چه دا د موسى بن اسماعيل په طريق ابوداؤد كښې موجود ده، د دې سياق زهيربن معاويه عن حميد نه طويل نه دې،او د ابواسحاق فزارى په طريق باندې بهر حال طويل دې. (٣)

دَمذكوره تعليق تخريج: د موسى بن اسماعيل تبوذكى دا تغليق موصولاً امام ابوداؤد رحمه الله په خپل سنن كښې (ابواب الادب) كښې ذكر كړيدې.(۴)

دَمذكوره تعليق ذكركولومقصد: معلوميږى داسې چه امام بخارى اول د ابواسحاق فزارى رحمه الله په روايت كړې نو نقل كړيدې ځكه چه په دې كښې حميدالطويل د حضرت انس رضى الله عنه نه د سماع تصريح كړيده بيا موسى بن اسماعيل تعليق ذكر كولو سره د دې خبرې طرف ته اشاره اوكړه چه همدا حديث البنانى په طريق باندې مطولاً هم مروى دې، بيا چه كله هغه ته هم د حميد په طريق دا روايت مطولاً ملاؤ شو نو هغه ئى هم ذكر كړو. (۵) والله اعلم

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: د باب د ترجمه سره د حديث د باب مناسبت په دې توګه دې چه باب ((ناقة النبى صلى الله عليه وسلم)) قائم كړيشويدې، كوم كښې چه عضباء وغير هم شامل دى، د كوم ذكر چه د باب په ذيل كښې نقل كړيشوؤ په احاديثوكښې دې. (۶)

باب الغزو على الحمير

دَ نسخو اختلاف: داخبره زمونږ په پاكستانى نسخوكښې نشته (٧) صرف مستملى دا باب

---

١) (شرح الكرمانى (ج١٢ص١٤٨)-
٢) (فتح البارى (ج۶ص٧٣)وارشادالسارى (ج۵ص٨٠)-
٣) (حواله بالا-
٤) (الحديث اخرجه ابوداؤدابواب الادب باب فى كراهية الرفعة فى الامور رقم (٤٨٠٢)-
٥) (فتح البارى (ج۶ص٧٣)-
۶) (عمدة القارى (ج١٤ص۶٢)-
٧) (انظر الصحيح للبخارى (ج١ص٤٠٢)-

او هغه هم بغیرد حدیث نه خپله نسخه کښې ذکر کړیدې.
نسفی په خپل روایت کښې دا باب وړاندینی باب سره یو ځائ ذکر کړیدې ((باب الغزوة علی الحمیر وباب بغلة النبی صلی الله علیه وسلم)) اودَ بخاری شریف دَ شراحونه هم چادې طرف ته توجو نه ده ورکړې بهر حال دا باب په دواړو صورتو کښې دَ اشکال نه خالی نه دې.
البته دَ مستملی دَ نسخې په اعتبار سره خبره داسې جوړیدیشی چه ترجمه امام صاحب قائم کړه او په څه مناسبت سره ئې حدیث دَ لاندې راوړولو پاره خالی پریخودو کیدیشی چه دَ هغوی اراده همدغه وه چه دَ حضرت معاذ رضی الله عنه هغه حدیث کوم چه ((باب اسم الفرس والحمار)) لاندې تیرشو دا به ئې دَ ترجمه لاندې داخلولو یعنی ((کنت ردف النبی صلی الله علیه وسلم علی حمار یقال له: عفیر)) (۱)
خو په دې حدیث کښې دا احتمال دې چه هغوی ﷺ په خرباندې سورلی دَ حضر په حالت کښې کړې وی او دا هم احتمال دې چه دَ سفر په حالت کښې سورلی کړې وی. داسې دَ دې حضراتو په نزد ځوك چه دَ مطلق او عام په مینځ کښې فرق نه کوی نو دَ ترجمه مقصد به حاصل شی. (۲)
او که دَ نسفی نسخې ته اوکتې شی نو په هغې کښې صرف دَ بغله ذکر دې دَ خرد سره څه ذکر نشته، نو په دې وجه دا صورت هم دَ اشکال نه خالی نه دې.
اوس دَ دې دوئم اشکال خودا جواب ورکړې کیدیشی چه امام صاحب یا خو حمیر او بغله ذکرکړاود بغله حدیث ذکر کولونه پس دَ حمیردپاره ځائ پریخودو. یا دا اووایه چه دَ خر حکم به دَ قچرنه اخستې شی. (۳)

۶۰-بَاب: بَغْلَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيْضَاءِ

قَالَهُ أَنَسٌ [ر: ۳۰۸۷] وَقَالَ أَبُو حُمَيْدٍ أَهْدَى مَلِكُ أَيْلَةَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَغْلَةً بَيْضَاءَ [ر: ۳۰۱]

دَ ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاری رحمه الله دَ نبی اکرم ﷺ دَ سپین قچرذکرکول غواړی. (۴)

قوله: قاله انس رضی الله عنه:

دَ مذکوره تعلیق تخریج: په دې عبارت کښې امام بخاری رحمه الله دَ حضرت انس رضی الله عنه دې مشهور حدیث طرف ته اشاره کړیده کوم چه دَ غزوه حنین متعلق دې. دا تعلیق امام بخاری رحمه الله نه علاوه امام مسلم رحمه الله هم موصولاً نقل کړیدې. (۵)

---

۱) (انظر الصحیح للبخاری کتاب الجهاد باب اسم الفرس والخمار رقم(۲۸۵۶)-
۲) (فتح الباری (ج۶ص ۷٤)-
۳) (فتح الباری (ج۶ص ۷٤)-
٤) (عمدة القاری (ج ١٤ص١۶۲)-
۵) (انظر الصحیح للبخاری کتاب المغازی باب غزوة الطائف رقم (٤٣٣٧) والصحیح لمسلم کتاب الزکاة باب اعطاء المؤلفة قلوبهم علی الاسلام وتصبر من قوی ایمانه رقم (١٠٥٩)-

قوله: وقال ابو حميد: اهدى ملك ايلة للنبي صلى الله عليه وسلم بغلة بيضاء: او حضرت ابوحميدساعدى رضی الله عنه فرمائی چه د ايله بادشاه نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته يو سپين قچر په هديه کښې ورکړې وو.

د مذکوره تعليق تخريج: داتعليق امام بخاری رحمه الله نه علاوه امام مسلم رحمه الله او ابوداؤد رحمه الله هم موصولاً نقل کړيدې. (۱)

د مذکوره تعليقاتومقصد: ددې تعليقاتو مقصد بالکل واضح دې چه کوم باب قائم شويدې دې کښې ((بغلة النبی صلی الله عليه وسلم)) ذکر دې اوهم د دې امر اثبات دواړو تعليقاتو کښې هم دې.

[۲۷۱۸] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ عَمْرَو بْنَ الْحَارِثِ (۲) قَالَ مَا تَرَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا بَغْلَتَهُ الْبَيْضَاءَ وَسِلَاحَهُ وَأَرْضًا تَرَكَهَا صَدَقَةً [ر:۲۵۸۸]

تراجم رجال

۱- عمروبن علي: داابوحفص عمروبن علی بن بحرباهلی رحمه الله (۳)

۲- يحيى: دا امام يحيى بن سعيد القطان رحمه الله دې د ده حالات ((کتاب الايمان باب من الايمان ان يحب لاخيه مايحب لنفسه)) لاندې تيرشوی دی.(۴)

۳- سفيان: دا مشهور امام حديث ابوعبدالله سفيان بن سعيدثوری رحمه الله دې، د دوی حالات ((کتاب الايمان باب علامة المنافق)) لاندې راغلی دی (۵)

۴- ابواسحاق: داابواسحاق عمروبن عبدالله سبيعی رحمه الله دې، د دوی حالات ((کتاب الايمان باب الصلاة من الايمان)) په ذيل کښې تيرشوی دی.(۶)

۵- عمروبن الحارث: داام المؤمنين حضرت جويريه رضی الله عنها رور حضرت عمروبن الحارث رضی الله عنه دې. (۷)

---

۱) (الصحيح للبخاری کتاب الزکاة باب خرص التمر رقم (۱۴۸۱) وکتاب الجزية والوادعة باب اذا وادع الامامم مالک القرية رقم (۳۱۶۱) ومسلم کتاب الفضائل باب معجزات النبی صلی الله عليه وسلم رقم (۵۹۴۸) وابوداؤد ابواب الخراج باب احياء الموات رقم (۴۰۷۹)-

۲) (قوله: عمروبن الحارث رضی الله عنه: الحديث مرتخرجه فی کتاب الوصايا، باب الوصايا-

۳) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب الرجل يؤضئ صاحبه-

۴) (کشف الباری (ج۲ص۶)-

۵) (کشف الباری(ج۲ص۲۷۸)-

۶) (کشف الباری (ج۲ص۳۷۰)-

۷) (د دوی د حالاتودپاره اوګورئ کتاب الزکاة باب الزکاة علی الزوج والايتام فی الحجر-

تنبیه: حضرت عمروبن الحارث رضی الله عنه دَدې حدیث مکمل تشریح (کتاب الوصایا) کښې تیره شویده.
دَ حدیث د ترجمت الباب سره مطابقت: دَ حدیث دَ باب ترجمه سره مناسبت دَ حدیث شریف په دې جمله کښې دې. ((ماترك النبی صلی الله علیه وسلم الابغلته البیضاء....)).

[۲۷۰۹] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ سُفْيَانَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ الْبَرَاءِ(۱) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا أَبَا عُمَارَةَ وَلَّيْتُمْ يَوْمَ حُنَيْنٍ قَالَ لَا وَاللَّهِ مَا وَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَكِنْ وَلَّى سَرَعَانُ النَّاسِ فَلَقِيَهُمْ هَوَازِنُ بِالنَّبْلِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَغْلَتِهِ الْبَيْضَاءِ وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ آخِذٌ بِلِجَامِهَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ [ر:۲۷۰۹]

تراجم رجال

۱- محمدبن المثنی: دا ابوموسی محمدبن المثنی بن عبیدعنزی رحمه الله دې. دَ دوی مختصر حالات ((کتاب الایمان باب حلاوة الایمان)) لاندې تیرشوی دی، اودَ سند نور رجال یعنی یحیی بن سعید، سفیان او ابواسحاق دَ تذکرې حواله په پورتنی سندکښې اوس تیرشوی دی.(۲)

۵- البراء: دامشهورصحابی حضرت براء بن عازب رضی الله عنه دې، دَ دوی حالات ((کتاب الایمان باب الصلاة من الایمان)) په ذیل کښې شوی دی.(۳)

یوسوال اودَ هغې جواب: دلته یو سوال دا پیداکیږی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په جنګ حنین کښې په کوم قچر باندې سوروو، آیا دا هم هغه قچردې چه دَ ایله بادشاه هغوی صلی الله علیه وسلم ته په هدیه کښې پیش کړې وو که بل دې؟

نودَ دې جواب دا دې چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په کوم قچرباندې سور وو دا هغه قچر نه دې کوم چه دَ ایله بادشاه پیش کړې وو، ځکه چه دَ ایله بادشاه چه کوم قچر هدیه کړې وو او هغوی صلی الله علیه وسلم ته ئې پیش کړې ووهغه دَغزوه تبوك په موقع وو اودحنین واقعه ددې نه ډیره وړاندې وه(۴)

او په کوم قچرچه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په غزوه حنین کښې سوروو هغه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته فروة بن نفاثه –بضم النون، بعدها فاء خفیفة، ثم مثلثة–(۵) په هدیه کښې پیش کړې وو. دَ مسلم شریف روایت دې چه حضرت عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه فرمائی ((ورسول الله صلی الله علیه وسلم علی

۱) (قوله: عن البراء رضی الله عنه: الحدیث مرتخرجه فی باب من قاد دابة غیره فی الحرب-
۲) (کشف الباری (ج۲ص۳۷۵)-
۳) (کشف الباری (ج۲ص۳۷۵)-
٤) (فتح الباری (ج۶ص۷۵)-
۵) (شرح النووی علی مسلم (ج۲ص۹۹)-

بغلة له بيضاء اهداها له فروة بن نفاثة الجذامى)) (١) يعنى رسول الله ﷺ په خپل سپين قچرباندې سور وو كوم چه هغوى ﷺ ته فروه بن نفاثه جذامى په هديه كښې وركړې وو.
نبى اكرم ﷺ په غزوه حنين كښې په بغله بيضاء باندې سورووكه په شهباء: اوس دلته دوئم سوال دا پيدا كيږى چه نبى كريم ﷺ په غزوه حنين كښې په كوم قچر باندې سور وو د هغې رنګ څنګه وو؟ ځكه چه د بخارى شريف په رواياتو كښې د بيضاء يعنى سپين ذكر دې او د مسلم شريف په اكثرو رواياتوكښې هم بغلة بيضاء (٢) ذكر دې. البته يو روايت كوم چه حضرت سلمة بن الاكوع ﷺ نه مروى دې په هغې كښې ((البغلة الشهباء)) مروى دې. (٣)
دغه شان علامه ابن سعد رحمه الله "طبقات" كښې يو ځائ كښې دا ذكر كړى دى چه نبى كريم ﷺ خپل سپين قچر دلدل باندې شو "وركب بغلته البيضاء دلدل" (٤) او هم په دې باب كښې د يوڅو صفحونه پس دا ليكى چه هغوى ﷺ په خپل ((بغلة شهباء)) باندې سور وو ((وهو على بغلة له شهباء)) (٥)
د دې تعارض درې جوابونه دى:
① علامه عينى رحمه الله فرمائى چه ممكن دى هغوى ﷺ اول په يوقچرباندې سور شوې وى هغې نه كوز شوې وى په بل سور شوې وى. (٦)
② او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه صحيح روايت د مسلم دې يعنى حضرت عباس بن عبدلمطلب ﷺ هغه حديث چه اوس تيرشو. (٧)
غالبًا د حافظ صاحب نظر په دې روايت نه دې تيرشوې كوم چه مونږ اوس د حضرت سلمة بن الاكوع ﷺ په حواله سره بيان كړو ځكه چه هغه هم د مسلم روايت دې. د دې د پاره هم د مسلم يو روايت راجح او صحيح او دوئم مرجوح ګرځول په پوهه كښې نه راځى او سره د دې چه د هغې شاهد او متابع هم موجود وى، ځكه د ابن سعد هغه روايت كوم كښې چه ((على بغلة له شهباء)) الفاظ وارد شوى دى هغه د حضرت عباس ﷺ نه مروى دى.
او د علامه عينى د جواب مدار په دې باب باندې دې چه دلته هغه قچر مراد واخلئى، يو بيضاء او بل شهباء او مطلب دا وى چه هغوى ﷺ په غزوه حنين كښې په دوو قچرو وار په

١) (انظر الصحيح السلم (ج٦ص١٠٠) كتاب الجهاد والسير باب غزة حنين رقم (٤٦١٢)-
٢) (انظر الصحيح السلم كتاب الجهاد والسير باب غزوة حنين رقم (٤٦١٢) وايضًا انظر شرح معانى الاثارللطحاوى (ج٢ص١٧٧)-
٣) (صحيح مسلم كتاب الجهاد والسير باب غزوة حنين رقم (٤٦١٩)-
٤) (طبقات ابن سعد (ج١ص١٥٠)-
٥) (حواله بالا(ص١٥٥)-
٦) (عمدة القارى(ج١٤ص١٥٧)-
٧) (فتح البارى (ج٦ص٧٥)-

وار سور شوي وو.

③ دا جواب هم ورکولې شي چه دَ شهباء او بيضاء نه مراد هم يو قچر وي ځکه چه دَ لغت په اعتبار سره په دې الفاظوکښې څه خاص فرق نشته. دَ دې دپاره چه بيضاء خو ښکاره سپين ته وائي ليکن دَ شهب معنى هم دا ده چه بياض سره لږ غوندې تور والې هم وي، امام محمد رازي رحمه الله فرمائي ((الشهبة فى الالوان: البياض الغالب على السواد))(١)

بهرحال دلته راجح جواب دَ علامه عيني رحمه الله معلوميږي.

تنبيه دَ حضرت براء بن عازب رضي الله عنه مذکوره حديث تشريح ماقبل کښې ((باب من قاد دابة غيره فى الحرب)) کښې تيره شويده.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث دَ ترجمه دَ باب سره مناسبت دَ حديث په دې جمله کښې دې: ((والنبى صلى الله عليه وسلم على بغلته البيضاء)) (٢)

٦١- باب: جِهَادِ النِّسَاءِ

دَ ترجمة الباب مقصد: علامه ګنګوهي رحمه الله دَ دې باب دَ ترجمه دوه مقصده بيان کړي دي:

① امام بخاري رحمه الله په دې ترجمه کښې دا بيان کړي دي چه دَ ښځو جهاد څه څيز دې؟ اودَ هغوی دَ جهاد نوعيت ئې اوخودلو چه دَ هغوی جهاد حج کول دي.

② دَ ښځو په جهادکښې دَ شرکت جواز بيانول مقصد دې چه ښځې په جهاد کښې شريک کيدې شي. په اول صورت کښې خو مطلب واضح دې اودَ دوئم صورت وضاحت داسې دې چه دَ سوال تپوس کونکې حضرت عائشې رضي الله عنها په جهاد کښې دَ شرکت غوښتنه اوکړه نو نبي اکرم صلى الله عليه وسلم هيڅ نکير اونه کړونودَهغوی صلى الله عليه وسلم نکير نه کول دَ دې خبرې تقريردې چه ښځې په جهادکښې شرکت کولې شي اودَ هغوی شرکت فى الجهاد جائزدې.

خودا خبره دې ښکاره وي چه دا اجازت مشروط دې که دَ فتنې انديښنه وي نو بالکل اجازت نشته اوکه دَفتنې اوفسادانديښنه نه وي نوښځې په جهادکښې شرکت کولې شي.(٣)

[٢٧٢٠-٢٧٢١] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ إِسْحَاقَ عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ طَلْحَةَ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا(٤) قَالَتْ اسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجِهَادِ فَقَالَ جِهَادُكُنَّ الْحَجُّ وَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مُعَاوِيَةَ بِهَذَا

تراجم رجال

١- محمد بن کثير: دا ابوعبدالله محمدبن کثيرعبدي بصري رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب

١) (مختار الصحاح ماده "شهب"-

٢) (عمدة القارى(ج ١٤ص١٦٣)-

٣) (لامع الدرارى (ج٧ص ٢٣٤)-

٤) (قوله: عن عائشة رضى الله عنها: الحديث مرتخريجه فى كتاب الحج باب فضل الحج المبرور-

العلم باب الغضب في الموعظة والتعليم....)) كښې تيرشوى دى.(۱)

۲- سفيان: دامشهورامام حديث سفيان بن سعيدثورى رحمه الله دې، دَ دوى حالات ((كتاب الايمان باب علامة المنافق)) كښې تيرشوى.(۲)

۳- معاويه بن اسحاق: دا ابوالازهر معاويه بن اسحاق بن طلحه بن عبيدالله القرشى التيمى رحمه الله دې.

دې دَ خپل پلار اسحاق، عمران، موسى(دا دريواړه دَ ده ترونه دى) دَ خپلې ترور عائشه. ام الدرداء، عروة بن الزبير، سعيد بن جبير، ابوبرده بن ابوموسى او ابراهيم تيمى رحمهم الله وغيره نه دَ حديث روايت كوى.

اودَ هغه نه دَ هغه دوه دَ تره ځامن اسحاق، طلحه اودَ هغې وريرونه صالح بن موسى او دَهغوى آزادكړيشوې غلام يزيدبن عطاء الاعمش،اسرائيل،سفيان ثورى، شريك، شعبه، حسن بن عمرو فيمى او ابوعوانه رحمهم الله وغيره نه حديث روايت كوى. (۳)

① امام احمد رحمه الله او امام نسائى رحمه الله فرمائى ((ثقة)) (۴)
② امام ابن سعد رحمه الله فرمائى ((وكان ثقة)) (۵)
③ امام عجلى رحمه الله فرمائى ((كان ثقة)) (۶)
④ ابن حبان رحمه الله هغه په (كتاب الثقات) كښې ذكركړيدې.(۷)
⑤ امام ابوحاتم او يعقوب بن سفيان رحمه الله فرمائى ((لاباس به))(۸)
⑥ امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى ((هوثقة)) (۹)
⑦ علامه ذهبى رحمه الله هم هغه ثقه ګرځولې دې. (۱۰)

تاسو دَ معاويه بن اسحاق باره كښې دَ ائمه جرح او تعديل اقوال اوكتل چه دې ټولو حضراتو ثقه او معتمدګرځولې دې. ليكن امام ابوزرعه رحمه الله دَ دې ټولودَ رائې نه جدا هغه نه ضعيف ونيلى دى فرمائى ((شيخ واه)) (۱۱)

---

۱) (كشف البارى(ج۳ص۵۳۶)-
۲) (كشف البارى (ج۲ص۲۷۸)-
۳) (دَ شيواو تلامذه دَ پاره اوګورئ تهذيب الكمال (ج۲۸ ص ۱۶۰-۱۶۱)-
٤) (تهذيب الكمال(ج۲۸ص۱۶۱)-
۵) (طبقاته (ج۶ص۳۳۹)-
۶) (تعليقات تهذيب الكمال(ج۲۸ص۱۶۱) وتهذيب التهذيب(ج۱۰ص۲۰۲)-
۷) (الثقات لابن حبان(ج۷ص٤۶۷)-
۸) (تعليقات تهذيب الكمال(ج۲۸ص۱۶۱) وتهذيب التهذيب(ج۱۰ص۲۰۲)-
۹) (تاريخ الدارمى (ص۱۷۱)رقم (۶۱۳)-
۱۰) (الكاشف (ج۲ص ۲۷٤)-
۱۱) (تهذيب الكمال (ج۲۸ص۱۶۱)-

خود دي تولو اقوالو د تشيق نه پس امام ابوزرعه رحمه الله د قول طرف ته به التفات نشي كولې ځكه چه دا د هغوى ذاتي رائې ده.
يا معاويه بن اسحاق صرف د بخارى شريف راوى نه دې بلكه هغه نه امام نسائى رحمه الله او ابن ماجه رحمه الله هم روايت اخستې دې اودا هم د يوقسم توثيق او تعديل دې.
دونمه خبره دا دې چه امام بخارى هم د هغوى نه صرف د باب همدغه روايت اخستې دې او د هغه متابعت ئې د حبيب بن ابى عمره په ذريعه ذكر كړيدې. په دې وجه په امام بخارى باندې هيڅ اعتراض نه واريديږى.(۱)
همدغه وجه ده چه علامه ذهبى رحمه الله چرته د هغه ترجمه په (ميزان الاعتدال) كښې ذكر كړې نو هلته ئې د "صح" علامت هم لګولې دې. (۲)
د دې مطلب دا دې چه د هغوى باره كښې معتمد قول د توثيق دې. (۳)
۴- عائشه بنت طلحه: دا ام عمران عائشه بن طلحه التيميه رحمها الله ده. (۴)
۵- عائشه: دا ام المؤمنين حضرت عائشه بن ابى بكر الصديق رضي الله عنها ده د دوى حالات ((بدء الوحى)) د دوئم حديث په ذيل كښې تيرشوى دى. (۵)
قوله: قالت: استأذنت النبى صلى الله عليه وسلم فى الجهاد، فقال: جهادكن الحج: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمانى چه ما د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه په جهادكښې د شركت كولو اجازت اوغوښتلو نو هغوى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل ستاسو ښځو جهاد حج دې.
د ښځودپاره جهاد واجب نه دې. د باب حديث په دې خبره دلالت كوى چه جهاد په ښځوباندې واجب نه دې او نه هغه آيت مبارك ﴿انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا﴾ د عموم لاندې داخل دې په دې د امت د علماؤ اجماع ده. (۶)
د ښځودپاره حج د جهاد نه ولې افضل دې؟: په حديث باب كښې په دې خبره هم دلالت دې چه ښځې جهاد د عبادت ذريعه جوړولې شى او په دې كښې شريك كيدلې شى لكه چه د جهاد د شركت په سوال باندې د نكير نه كولونه معلومه شوه، ليكن افضل د ښځودپاره حج د بيت الله دې، د دې وجه دا ده چه ښځې د اهل قتال نه نه دى اونه د هغوى په جهاد باندې قدرت حاصل دې. اود ښځې د پاره د دې نه افضل بل څيز نشته چه هغه په ستر كښې اوسى او د سړو سره د ګډوډ كيدو او اجتماع نه پرهيز اوكړى همدغه د دوى په حق كښې غوره دى.

۱) (هدى السارى (ص ٤٤٤)-
۲) (ميزان الاعتدال (ج ٤ص ١٣٤)-
۳) (حاشية سبط ابن العجمى على الكاشف (ج٢ص٢٧٥)-
٤) (د هغوى د حالات د پاره اوګورئ كتاب الحج باب فضل الحج المبرور-
۵) (كشف البارى(ج١ص ٢٩١)-
۶) (شرح ابن بطال (ج٩ص٧٥)-

نو چه کله خبره دغه ده چه د ښځود پاره غوره او عام حالاتوکښې هم ستر او د سرو سره د ګډوډ کیدو نه بچ کیدل دی نو د جهاد باره کښې ستاسو څه خیال دې په خلاف د حج، چه د حج په دوران کښې د ښځودپاره د سرو نه احتراز او اجتناب کول ممکن او آسان دی نو په دې وجه حج د هغوی د پاره د جهاد نه غوره دې. (۱)

قوله: وقال عبدالله بن الوليد: حدثنا سفيان عن معاوية بهذا: دا تعليق امام سفيان ثوری رحمه الله په (جامع) کښې موصولاً ذکر کړيدې. (۲)

[۲۷۲۷] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مُعَاوِيَةَ بِهَذَا وَعَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ طَلْحَةَ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ (۳) -عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَهُ نِسَاؤُهُ عَنْ الْجِهَادِ فَقَالَ نِعْمَ الْجِهَادُ الْحَجُّ [ر:۱۴۴۸]

قوله: حدثنا قبيصة حدثنا سفيان عن معاوية بهذا: دا حديث د حضرت عائشه رضی الله عنها يو بل سند دې کوم کښې چه د امام بخاری شيخ قبيصه دې. (۴)

تراجم رجال

۱- قبيصه: دا ابوعامر قبيصه بن محمد سوائی کوفی رحمه الله دې. د دوی حالات ((كتاب الايمان باب علامة المنافق)) کښې تيرشوی دی (۵)

۲- سفيان: دا مشهورامام حديث حضرت سفيان ثوری رحمه الله دې، د دوی حالات هم "كتاب الايمان" په مذکوره باب کښې تير شوی دی. (۶)

۳- معاويه: دا معاويه بن اسحاق رحمه الله د دوی حالات په وړاندينی حديث کښې تيرشو.

۴- حبيب بن ابی عمرة: داحبيب بن ابی عمرة رحمه الله دې. (۷)

۵- عائشه بنت طلحه: سابقه سند اوګورئی (۸)

۶- عائشه: سابقه سند اوګورئی (۹)

---

۱) (شرح ابن بطال (ج۵ص۷۵-۷۶)-
۲) (عمدة القاری (ج ۱۴ص ۱۶۴) وفتح الباری (ج۶ص ۷۶)-
۳) (قوله: عن عائشة رضی الله عنها: الحديث مرتخريجه فی كتاب الحج باب الحج المبرور
۴) (عمدة القاری (ج ۱۴ص ۱۶۴)-
۵) (كشف الباری (ج۲ص۲۷۵)-
۶)كشف الباری (ج۲ص۲۷۸)-
۷) (د دوی د حالاتودپاره اوګورئ كتاب الحج باب فضل الحج المبرور-
۸) (حواله بالا-
۹) (كشف الباری (ج۱ص۲۹۱)-

د مذکوره تعلیق تخریج حبیب بن ابی عمرة رحمه الله دا تعلیق د قبیصه په طریق سره موصول دې.(۱) اوحبیب بن ابی عمرة رحمه الله دا تعلیق ابونعیم رحمه الله "المستخرج" کښې او اسماعیلی موصولاً نقل کړیدې.(۲)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت دَباب دَ ترجمه سره دَ باب دَ احادیثومناسبت په دې معنی دې چه نبی علیه السلام حج دَ ښځو دَ پاره جهاد ګرځولې دې. (۳)

۶۲- بَاب: غَزْوِ الْمَرْأَةِ فِي الْبَحْرِ

دَ ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله مقصد دَ دې ترجمه نه هغه اختلاف طرف ته اشاره کول دی چه دَ جمهورو او امام مالک رحمه الله په مینځ کښې دې. (۴)

امام مالک رحمه الله دَ ښځو سمندري جنګ کښې شرکت ناخوښوی او منع ګرځوی خو دَ جمهوروپه نزد ښځې چه څنګه دَ زمکې په جنګ کښې حصه اخستې شی دغه.شان په سمندری جنګ کښې هم شرکت کولې شی. (۵)

[۲۷۲۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ هُوَ الْفَزَارِيُّ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا(۶) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ابْنَةِ مِلْحَانَ فَاتَّكَأَ عِنْدَهَا ثُمَّ ضَحِكَ فَقَالَتْ لِمَ تَضْحَكُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي يَرْكَبُونَ الْبَحْرَ الْأَخْضَرَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ مَثَلُهُمْ مَثَلُ الْمُلُوكِ عَلَى الْأَسِرَّةِ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ اللَّهُمَّ اجْعَلْهَا مِنْهُمْ ثُمَّ عَادَ فَضَحِكَ فَقَالَتْ لَهُ مِثْلَ أَوْ مِمَّ ذَلِكَ فَقَالَ لَهَا مِثْلَ ذَلِكَ فَقَالَتْ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ أَنْتِ مِنْ الْأَوَّلِينَ وَلَسْتِ مِنْ الْآخِرِينَ قَالَ قَالَ أَنَسٌ فَتَزَوَّجَتْ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ فَرَكِبَتْ الْبَحْرَ مَعَ بِنْتِ قَرَظَةَ فَلَمَّا قَفَلَتْ رَكِبَتْ دَابَّتَهَا فَوَقَصَتْ بِهَا فَسَقَطَتْ عَنْهَا فَمَاتَتْ [ر:۲۶۳۶]

تراجم رجال

۱- عبدالله بن محمد: دا ابوجعفر عبدالله بن محمد مسندی رحمه الله دې دَ دوی حالات ((کتاب الایمان باب امور الایمان)) لاندې تیرشوی دی.(۷)

۱) (عمدة القاری (ج ۱۴ ص ۱۶۴)-
۲) (تعلیق التعلیق (ج ۳ ص ۴۴۱)-
۳) (عمدة القاری (ج ۱۴ ص ۱۶۴)-
۴) (تعلیقات لامع الدراری (ج ۷ ص ۲۳۵)-
۵) (حواله بالا والتمهید (ج ۱ ص ۲۳۳)-
۶) (قوله: انسا رضی الله عنه: الحدیث مر تخریجه فی اوائل کتاب الجهاد باب الدعاء بالجهاد....-
۷) (کشف الباری (جج ۱ ص ۶۵۷)-

۲-معاویه بن عمرو: دا ابوعمرو معاویه بن عمروالازدی رحمه الله دی. (۱)

۳-ابواسحاق: دا ابواسحاق ابراهیم بن محمدبن الحارث فزاری رحمه الله دی. (۲)

۴-عبدالله بن عبدالرحمن الانصاری: دا ابوطواله عبدالله بن عبدالرحمن بن معمربن حزم رحمه الله دی (۳)

۵- انس: دا مشهورصحابی خادم نبی، حضرت انس بن مالك رضی الله عنه دی. دَ دوی حالات ((کتاب الایمان باب من الایمان ان یحب لاخیه مایحب لنفسه)) په ذیل کښې تیرشوی. (۴)

قوله: قال: قال انس: فتزوجت عبادة بن الصامت فرکبت البحر مع بنت قرظة: ابوطواله فرمائی چه حضرت انس رضی الله عنه فرمائیلی چه حضرت ام حرام رضی الله عنها دَ حضرت عباده بن الصامت رضی الله عنه سره نکاح اوکړه اوبیا هغه بنت قرظه سره په سمندر کښې سوره شوه.

تنبیه: دَحضرت ام حرام رضی الله عنها حالات (کتاب الجهاد) په اول او دَ هغې دَ خاوند حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه حالات ((کتاب الایمان باب بلاترجمة)) لاندې تیرشوی دی. (۵)

قوله: بنت قرظه: دا دَ حضرت معاویه بن ابی سفیان رضی الله عنهما بی بی محترمه فاخته بنت قرظه رضی الله عنها ده،بعض حضراتو دَ هغې نوم کنود جوړلې دې. (۶) دَ هغې پلار قرظه بن عبد عمرو بن نوفل بن عبدمناف دې، لکه چه خلیفه بن خیاط په خپل تاریخ کښې دَ هغې تصریح کړیده.
او بعض حضراتو ته دا وهم شویدې چه هغوی حضرت فاخته دَ حضرت قرظه بن کعب الانصاری رضی الله عنه لور گرخولې ده. (۷)
او بلاذری په خپل تاریخ کښې ذکر کړی دی چه قرظه بن عبد عمرو په حالت دَ کفر کښې مړدې او دَ هغه لور (فاخته) رویت ثابت دې، دَ هغې دَ رور مسلم بن قرظه رضی الله عنه هم، چه دَ حضرت عائشه رضی الله عنها دَ طرف نه جنگیدلو او په جنگ جمل کښې شهیدشو. (۸)
دا دَحضرت معاویه رضی الله عنه سره دَاسلام رومبنی بحری جنگ کښې شریکه وه. کمافی حدیث الباب.

تنبیه: دَحدیث باب ټول تشریحات دَ (کتاب الجهاد) په شروع کښې ((باب الدعاء بالجهاد

---

۱) (دَ دوی دَحالاتو دَ پاره اوگورئ کتاب الاذان باب اقبال الامام علی الناس عنه تسویة الصفوف-
۲) (دَ دوی دَحالاتو دَ پاره اوگورئ کتاب الجمعة باب القائلة الجمعة-
۳) (کشف الباری)ج۲ص۲)-
٤) (کشف الباری)ج۲ص۲)-
۵) (کشف الباری (ج۲ص٤۸)-
۶) (عمدة القاری (ج ١٤ص۱۶۵) وفتح الباری(ج۶ص۷۶)-
۷) (عمدة القاری (ج ١٤ص۱۶۵) وفتح الباری(ج۶ص۷۷)-
۸) (حواله بالا-

والشهادة.....)) په ذیل کښې راغلی دی، البته دلته دَ حدیث باب سند سره متعلق دوه بحثونه مونږ ذکر کوو.

بحث اول دَ دې حدیث په سند کښې دی ((حدثنا ابواسحاق هوالفزاری عن عبدالله بن عبدالرحمن الانصاری)) دَ ټولو روایتونوسنه دغه شان دې چه دَ ابواسحاق او عبدالله په مینځ کښې بل راوی نشته.(۱)

لیکن ابومسعود رحمه الله په (اطراف) کښې دا دعوی کړیده چه دَ دې دواړو په منیځ کښې یو راوی زائده بن قدامه ساقط شویدې. حافظ جمال الدین مزی رحمه الله هم دَ هغه دا قول برقرار ساتلې اودَ ابومسعود رحمه الله دَقول دَ تائیددپاره ئې دا فرمائیلی چه مسیب بن واضح رحمه الله دا حدیث ((عن ابی اسحاق الفزاری، عن زائدة، عن قدامة)) په طریق باندې نقل کړیدې.(۲)

دَ علامه ابومسعود رحمه الله او حافظ مزی رحمه الله دا دعوی دَ بعض وجوهاتو په بنا صحیح نه ده

① حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دَ حافظ مزی رحمه الله دَ ابومسعود رحمه الله قول برقرار ساتل اودَ هغې تائید دَ مسیب بن واضح په روایت سره کول صحیح نه د ی،هم دبخاری شریف روایت صحیح دې. (۳) دَ دې وجه دا ده چه مسیب بن واضح ضعیف دې اودَ یوضعیف راوی دَ روایت په بنا دَ صحیح بخاری روایت غلط نشی ګرځولې کیدې.(۴)

② همدغه روایت امام احمد په خپل (مسند)کښې دَ ((معاویة بن عمروعن ابی اسحاق)) په طریق نقل کړیدې په دې کښې هم دَ دې دواړو په مینځ کښې بله واسطه نشته، نه دَ زائده او نه دَ بل چا.(۵)

③ ابوعلی جیانی رحمه الله او ابومسعود رحمه الله باندې کولو سره فرمائی ((تتبعت طرق هذا الحدیث عن ابی اسحاق الفزاری فلم اجد فیها زائدة)) یعنی ابوسحاق نه مروی دَ دې حدیث ټول طرق تتبع ما کړیده نو په دې کښې په یو کښې زائده موجود نه دې موندلې.(۶)

④ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ما دَ ابواسحاق فزاری کتاب (السیر)کښې دا حدیث اوکتلو نو په هغې کښې هم زائده نه وو. (۷)

⑤ همدغه روایت حافظ ابونعیم رحمه الله هم "المستخرج" کښې په دې سندسره نقل کړیدې. ((حدثنا ابن المقرئ ثنا ابوعروبة ثنا المسیب بن واضح، عن ابی اسحاق عن ابی طوالة عن انس رضی الله عنه))

---

۱) (فتح الباری (ج ص۷۷)-
۲) (تحفة الاشراف بمعرفة الاطراف (ج۱۳ص۷۳)-
۳) (النکت الظراف(ج۱۳ص۷۳)-
٤) (فتح الباری (ج۶ص۷۷)-
۵) (مسند امام احمد(ج۳ص۲۶۵)-
۶) (النکت الظراف (۱۳ص۷۳)-
۷) (حواله بالا-

دي كښې هم زائده نشته.(۱)
د دې ټول تفصيل حاصل دا شو چه د ابومسعود رحمه الله دا دعوى چه د صحيح بخارى په روايت كښې ابواسحاق اوعبدالله الانصارى په مينځ كښې پورتاوى زائده بن قدامه ساقط شوېدې صحيح نه ده او هم د صحيح بخارى روايت صحيح دې.

ابومسعود ته دا وهم ولې اوشو؟ د حافظ ابن حجر رحمه الله په قول ابومسعود مشقى رحمه الله ته دا وهم ځكه شويدې چه معاويه بن عمرو ځنګه دا حديث د ابواسحاق نه اخستې دې، دغه شان د ((زائدة عن ابى طواله)) په طريق سره ئې هم حاصل كړيدې.

ابومسعود مشقى رحمه الله دا ګنړلى دى چه دا روايت د معاويه په نزد ((عن ابى اسحاق عن زائدة)) طريق نه دې خوخبره داسې نه ده، بلكه معاويه سره دا روايت د ابواسحاق او زائده دواړونه دې. معاويه بن عمرو دا روايت بيانولو سره كله د دواړو ذكر كوى اوكله كله د هريو نه جدا روايت بيانوى.

امام احمد رحمه الله په خپل (مسند) كښې معاويه بن عمرو د دې حديث تخريج او هلته د زائده په روايت باندې د ابواسحاق روايت معطوف كړيدې، نود معاويه بن عمرو دا روايت اول ((ثنا معاوية بن عمرو ثنا زائدة ثنا عبدالله بن عبدالرحمن بن معمر الانصارى)) په سند سره بيان كړو(۲) بيا د دې نه پس همدغه روايت ((ثنا معاوية بن عمرو ثنا ابواسحاق عن عبدالله بن عبدالرحمن بن معمر)) په سندسره ذكركړو.(۳)

او اسماعيلى دا حديث ((ابى خيثمة عن معاوية بن عمرو عن زائدة)) په طريق سره نقل كړيدې او صرف زائده ئې ذكر كړيدې.

ابوعوانه هم دا روايت په خپل "صحيح" كښې ((عن جعفر الصائغ عن معاوية)) په طريق سره نقل كړيدې. بهرحال د دې ټول تفصيل نه به په تاسو دا خبره واضحه شوې وى چه د صحيح بخارى په روايت كښې څه راغلى دى هم هغه صحيح دى. (۴) والله اعلم.

دوئم بحث: حديث باب سره د حضرت انس رضي الله عنه نه درې كسان روايت كوى. اسحاق بن ابى طلحه، محمد بن يحيى بن حبان او ابوطواله عبدالله بن عبدالرحمن الانصارى.

اوس سوال دا پيدا كيږى چه دا حديث د مسند انس رضي الله عنه نه دې، يامسند ام حرام رضي الله عنها نه؟ د دې وجه داده چه دا روايت كله ابو اسحاق د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت كړونو د دې الفاظ دادى ((كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يدخل على ام حرام))(۵)

---

۱) (حواله بالا-
۲) (مسنداحمد (ج۳ص ۲۶٤)-
۳) (مسنداحمد (۳ص۲۶۵)-
٤) (فتح البارى (۶ص۷۷)-
۵) (الحديث اخرجه لبخارى كتاب الجهاد والسير باب الدعاء بالجهاد والشهادة للرجال والنساء رقم (۲۷۸۸-۲۷۸۹)-

اودَابوطواله الفاظ داسې دی ((دخل رسول الله صلى الله عليه على ابنة ملحان)) (۱)
دَ دې دواړو يعنی ابواسحاق او ابوطواله دَ کلام نه دا معلوميږی چه داحديث دَ مسند انس رضی الله عنه نه دې.

محمدبن يحيى خپل روايت داسې بيانوي ((عن انس عن خالته ام حرام)) (۲) دَ ده کلام په دې خبره واضح دلالت کوی چه دا حديث دَ مسندحرام نه دې او همدغه معتمد خبره ده. کيديشي چه حضرت انس رضی الله عنه په دې موقع حاضر نه وو نو هغوی په حديث کښې بيان شوې واقعه دَ خپلې ترور حضرت ام حرام رضی الله عنها نه واوريده، همدغه حديث دَ ام حرام رضی الله عنها نه عمير بن الاسود هم روايت کړيدې کوم کښې چه ښکاره دا ذکر دی چه دا حديث دَ مسانيد ام حرام نه دې، عمير بن اسود فرمائی ((فحدثتنا ام حرام انها سمعت النبی صلى الله عليه وسلم يقول: اول جيش من امتی......)) (۳)
دَ دې بحث خلاصه اوس دا شوه چه دَ حديث دَ شروع حصه مسند انس رضی الله عنه نه ده او دَ خوب چه کومه واقعه ده هغه دَ مسند ام حرام نه ده. چونکه حضرت انس رضی الله عنه په دې موقع موجود نه ووبه دې وجه هغوی ذکر شوې پورتنئی واقعه دَ خپلې ترور حضرت ام حرام رضی الله عنها نه اخستې ده.
د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث دَ باب دَ ترجمه سره مناسبت واضح دې او هغه داسې چه دَ ((غزوالمراة فی البحر)) باب قائم کړيشويدې او په حديث کښې هم دَ حضرت ام حرام او فاخته بنت قرظه په ((غزوة البحر)) کښې دَ حضرت معاويه رضی الله عنه په امارت کښې دَ شرکت ذکر دې. (۴)

۶۴- بَاب: حَمْلِ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ فِي الْغَزْوِدُونَ بَعْضِ نِسَائِهِ

دَ ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله دلته دا خودل غواړی که سړې دَخپلو ښځو نه بعضې په جهاد کښې دَخدمت وغيره په غرض بوځی اوباقی بونه ځی نو په دې کښې هيڅ بديت نشته. (۵) ليکن علامه عينی رحمه الله فرمائی چه دلته دَ يو قيد اضافه کول ضروری دی او هغه دا چه دَ دې ښځو په منيځ کښې به خسنړې هم کوی (قرعه اندازی) لکه چه دَ باب په حديث کښې ذکر دی. (۶)

---

۱) (صحيح البخاری کتاب الجهادوالسير باب غزوالمراة فی البحر رقم (۲۸۷۷،۲۸۰۰)-
۲) (صحيح البخاری کتاب الجهاد والسير باب فضل من يصرع فی سبيل الله رقم(۲۷۹۹-۲۸۰۰)-
۳) (صحيح البخاری کتاب الجهاد والسير باب ماقيل فی قتال الروم رقم (۲۹۲۴) وانظر لهذا البحث کله فتح الباری(ج۶ص۷۷) والنکت الظراف علی الاطراف (ج۱ص۲۶۲) و (ج۱۳ص۷۳)-
۴) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۶۴)-
۵) (عمدة القاری(ج۱۴ص۱۶۵)-
۶) (حواله بالا-

[۲۸۳۳] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ النُّمَيْرِيُّ حَدَّثَنَا يُونُسُ قَالَ سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ قَالَ سَمِعْتُ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ وَسَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ وَعَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ وَعُبَيْدَ اللهِ بْنَ عَبْدِ اللهِ عَنْ حَدِيثِ عَائِشَةَ كُلٌّ (۱) حَدَّثَنِي طَائِفَةً مِنَ الْحَدِيثِ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ أَقْرَعَ بَيْنَ نِسَائِهِ فَأَيَّتُهُنَّ يَخْرُجُ سَهْمُهَا خَرَجَ بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقْرَعَ بَيْنَنَا فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا فَخَرَجَ فِيهَا سَهْمِي فَخَرَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ مَا أُنْزِلَ الْحِجَابُ [ر: ۲۴۵۳]

تراجم رجال

۱- حجاج بن منهال: دا ابو محمدحجاج بن منهال انماطی بصری رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب الایمان باب ماجاء ان الاعمال بالنية والحسبة....)) لاندې تیر شوی دی. (۲)

۲- عبدالله بن عمر: دا عبدالله بن عمر نمیری رحمه الله دې. (۳)

۳- یونس: دا یونس بن یزیدبن ابی الجاد ایلی رحمه الله دې. دَ دوی مختصرحالات ((بدء الوحی)) دَ پنځم حدیث په ذیل کښې تیرشوی دی. (۴)

۴- زهري: دا امام محمدبن مسلم ابن شهاب زهری رحمه الله دې. دَ دوی مختصرحالات "بدء الوحی" دَ دریم حدیث په ذیل کښې تیرشوی دی. (۵)

۵- عروه بن الزبیر: دا جلیل القدر تابعی حضرت عروه بن زبیر رحمه الله دې. دَ دوی مختصر حالات ((بدء الوحی)) دَ دوئم حدیث په ذیل کښې تیرشوی دی. (۶)

۶- سعید بن المسیب: دا مشهور تابعی حضرت سعید بن المسیب رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب الایمان باب من قال ان الایمان هوالعمل)) لاندې تیرشوی دی. (۷)

۷- علقمه بن وقاص: داعلقمه بن وقاص بن محصن لیثی رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب الایمان باب ماجاء ان الاعمال بالنية اوالحسبة)) کښې تیرشوی دی. (۸)

---

۱) قوله: عن حديث عائشة رضى الله عنها: الحديث مر تخريجه فى كتاب الهبة باب هبة المراة لغير زوجها..
۲) (کشف الباری (ج۲ص۷٤٤)-
۳) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ كتاب الشهادات باب اذا عدل رجل رجلا....-
٤) (کشف الباری (ج۱ص٤٦۳) وانظر کشف الباری (ج۳ص۲۸۲)-
٥) (کشف الباری (ج۱ص۳۲۶)
۶) (کشف الباری (ج۱ص۲۹۱)
۷) (کشف الباری (ج۲ص۱۵۹)-
۸) (کشف الباری (ج۲ص۷٤۱)-

۸- عبيدالله بن عبدالله: داعبیده بن عبدالله بن عتبه بن مسعود ﷫ دي. دَ دوی څه حالات ((بدء الوحی)) پنځم حديث لاندې او مفصل حالات ((کتاب العلم باب متى يصح سماع الصغير؟)) کښې تيرشوی دی. (۱)

۹- عائشه: دا حضرت عائشه ام المؤمنين عائشه بن ابى بكر الصديق ﷺ ده. دَ دوی حالات ((بدء الوحی)) د دونم حديث لاندې راغلی دی. (۲)

تنبيه امام بخاری ﷫ دلته دَ باب لاندې چه کوم حديث ذکر کړيدې، هغه دَ حضرت عائشې ﷺ مشهور حديث ((حديث الافك)) دې. د دې حديث مکمل تشريح (کتاب المغازی) کښې راغلی ده. (۳)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث باب دَ ترجمه سره مطابقت ظاهر دې او په دې کښې تصريح ده چه عائشه ﷺ نبی کريم ﷺ خپل خان سره بوتلې وه، هغه نی دَ خسنړې راويستو نه پس بوتلې وه. (۴)

۶۳- بَاب: غَزْوِ النِّسَاءِ وَقِتَالِهِنَّ مَعَ الرِّجَالِ

دَ ترجمة الباب مقصد: حافظ ابن حجر ﷫ فرمائی چه دَ دې خبرې احتمال دې چه دَ امام بخاری ﷫ غرض دَ باب دَ ترجمه نه دابيان کول وی چه ښځې خود غزوې دپاره اووتلې ليکن هغوی به جنګ نه کوی نو دَعبارت تقدير به دا وی ((وقتالهن مع الرجال، ای هل هو سائغ، اواذا خرجن فی الغزو اقتصرن على ماذكر من مداواة الجرحى ونحو ذلك؟)) او دَ ښځو دَ سړو سره جنګ کول آيا دا شائع دی يا که ښځې دَ سړو دپاره دَ غزوې دپاره اووتلې نو دَ زخميانو مرهم پټئی يا دَ دې قسم په نورو خدمت باندې به اقتصار کوی؟ (۵)

[۲۷۲۳] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ عَنْ أَنَسٍ (۶) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ انْهَزَمَ النَّاسُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَلَقَدْ رَأَيْتُ عَائِشَةَ

---

۱) (کشف البارى (ج۱ص۴۶۶) و)ج۳ص۳۷۹)-
۲) (کشف البارى (ج۱ص۲۹۱)-
۳) (کشف البارى کتاب المغازى باب حديث الافک (ص۳۳۲)-
٤) (فتح البارى(ج۶ص۷۸)-
۵) (فتح البارى (ج۶ص۷۸)-
۶) (قوله: عن انس رضی الله عنه: الحديث اخرجه البخاری ايضًا كتاب الجهادوالسير باب المجن ومن يترس بترس صاحبه، رقم (۲۹۰۲) وکتاب فضائل اصحاب النبی صلى الله عليه وسلم باب مناقب ابی طلحه رضى الله عنه رقم (۳۸۱۱) وكتاب المغازى باب ﴿اذهمت طائفتان منكم ان تفشلا....﴾ رقم (٤٠٦٤) ومسلم كتاب الجهاد باب غزوة النساء مع الرجال رقم(٤٦٨٣)

بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ وَأُمَّ سُلَيْمٍ وَإِنَّهُمَا لَمُشَمِّرَتَانِ أَرَى خَدَمَ سُوقِهِمَا تَنْقُزَانِ الْقِرَبَ وَقَالَ غَيْرُهُ تَنْقُلَانِ الْقِرَبَ عَلَى مُتُونِهِمَا ثُمَّ تُفْرِغَانِهِ فِي أَفْوَاهِ الْقَوْمِ ثُمَّ تَرْجِعَانِ فَتَمْلَآنِهَا ثُمَّ تَجِيئَانِ فَتُفْرِغَانِهَا فِي أَفْوَاهِ الْقَوْمِ [٢٧٤٦، ٣٦٠٠، ٣٨٣٧]

تراجم رجال

١-ابومعمر: دا ابومعمرعبدالله بن عمروبن ابى الحجاج منقرى رحمه الله دي.

٢-عبدالوارث: داعبدالوارث بن سعيدبن ذكوان تميمى بصرى رحمه الله دي، دَدې دواړو حضراتو حالات (كتاب العلم باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: اللهم علمه الكتاب) كښې تيرشوى دى(١)

٣- عبدالعزيز: دا عبدالعزيز بن صهيب بنانى بصرى رحمه الله دي. دَ دوى مختصر حالات ((كتاب الايمان باب حب الرسول صلى الله عليه وسلم من الايمان)) كښې راغلى دى. (٢)

٤-انس: دا مشهور صحابى حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دي، دَ دوى حالات ((كتاب الايمان باب من الايمان ان يحب لاخيه مايحب لنفسه)) په ذيل كښې تيرشوى دى. (٣)

قوله: قال لما كان يوم احد انهزم الناس عن النبى صلى الله عليه وسلم: حضرت انس رضي الله عنه دَ جنګ احدپه ورځ چه كله خلقو ماتې اوخوړله او دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه خواره شول.

دلته حضرت انس رضي الله عنه په جنګ احد كښې دَ مسلمانانو دَ ماتې سره مخ كيدلو طرف ته اشاره اوفرمائيله، دَ كتاب المغازى په روايت كښې نور تفصيل ذكر دي.كوم چه مصنف رحمه الله دلته مصنف دَ اختصار په غرض سره حذف كړيدي. (٤)

قوله: قال ولقد رايت عائشة بنت ابى بكر و ام سليم، وانهما لمشمرتان: حضرت انس رضي الله عنه فرمائى ما حضرت عائشه او ام سليم رضي الله عنهما اوكتلې چه هغوى خپلې پينځې اوچتې كړې وې.

حضرت ام سليم رضي الله عنها دا مشهوره انصارى صحابيه اودَ حضرت انس رضي الله عنه مورده.(٥)

((مشتمرتان)) دَ باب تفعيل نه اسم فاعل، تثنيه مونث صيغه ده، وئيلى شى ((شمرالثوب عن ساقيه)) يعنى هغې كپړې دَ پنډونه اوچتې كړې.(٦)

---

١) (كشف البارى (ج٣ص٣٥٦-٣٦١)-
٢) (كشف البارى (ج٢ ص٢)-
٣) (كشف البارى (ج٢ص ٤)-
٤) (دَ تفصيل دَپاره اوګورئ كشف البارى كتاب المغازى (ص ٢٣٠)-
٥) (دَ دوى دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ كتاب العلم باب الحياء فى العلم-
٦) (عمدة القارى (ج ١٤ص١٢٦) ومصباح اللغات مادة شمر-

((اري خدم سوقهما)) ما دَ هغې دَ پنډو پانزيب ته كتل. ((خدم))، بفتح الخاء المعجمة والدال المهملة - خدمة جمع ده اودَ دې معنې خلخال يعني پازيب.(١)
او سوق جمع دَ ساق په معنى دَ پنډئى. (٢)

يوسوال او دَ هغې جواب: دلته سوال دا پيدا كيږى چه حضرت عائشه رضي الله عنها خودَ حضرت انس رضي الله عنه دَ پاره نامحرم وه نودَ حضرت انس رضي الله عنه دَ پاره دَ ام المؤمنين رضي الله عنها پنډئى طرف ته كتل څنګه جائزشو؟ علامه نووى رحمه الله دَ دې سوال دوه جوابونه فرمائيلى دى:

① دا ((نهى عن النظر الى الاجنبيات)) نه وړاندې واقعه ده، څكه چه حضرت انس رضي الله عنه دَ غزوه احد قصه بيانوى او هغه وخت پورې اجنبياتو طرف ته دَ كتلو نهى او ممانعت نه وو نازل شوې.

② حضرت انس رضي الله عنه داخو په حديث كښې نه دى فرمائيلى چه ما دَ هغې پنډئى ته په قصد سره كتلي وو، دَ هغه دا خبره په دې باندې محمول ده چه دا نظر كوم پريوتلې وو ناڅاپى او غير اختيارى توګه باندې وو. (٣)

قوله: تنقزان القرب: هغوى به مشكيزې ډكې اوړلې.
مطلب دا چه مشكيزې به دَ اوبونه دومره ډكې وې چه دَ هغې نه به اوبه تونيدلې. پورته چه كومه ترجمه مونږ نقل كړه، دا دَ حضرت انور شاه صاحب رحمه الله ده. (۴)

"تنقزان" معنى او ضبط: ((تنقزان)) تثنيه مؤنثه غائبه صيغه ده اودا كلمه شارحينوپه دوه شان ضبط كړيده ①يوچه دَ تاء دَ فتحه سره وى نودَ دې باب به ((نصر)) وى اودَ دې معنى دَ ټرپونو او دانګلو به وى.(۵)

ليكن په دې صورت كښې دَ ((القرب)) نصب مشكل دې. څكه چه ((النقز)) فعل لازم دې او هغه ((القرب)) كښې دَ نصب عمل نشى كولې.

دَ دې اشكال جواب صاحب ((تلويح)) داوركړې چه (القرب) ((منصوب على نزع الخافض)) دې يعنى ((تنقزان بالقرب)) (۶)

② چه دادَ تاء په ضمه سره وى نو دَ دې باب ((افعال)) راځى، او په هغه صورت كښې "القرب" نصب صحيح دې، مطلب به دا وى چه هغه به دَ سير دَ شدت دَ وجه مشكيزې خوزولې.(۷)

---

١) (جامع الاصول (ج٨ص٢٤٠) وفتح البارى (ج۶ص٧٨) وعمدة القارى (ج١٤ص١۶۶)-
٢) (عمدة القارى (ج١٤ص١۶۶)-
٣) (شرح النووى على مسلم (ج٢ص١١۶) وعمدة القارى (ج١٤ص١۶٧)-
٤) (فيض البارى (ج٣ص٤٣٤)-
۵) (عمدة القارى (ج١٤ص١۶۶) وفتح البارى (ج۶ص٧٨)-
۶) (حواله بالا-
٧) (حواله بالا-

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه په بعض اصول کښې ضمه د تاء صراحت دې. (١)
البته قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه بعض شیوخ ،،القرب،، مرفوع لولی په داسې طریقه چه ،،القرب علی متونهما،، جمله اسمیه بغیر د واو ده (٢)
اوعلامه خطابی رحمه الله فرمائی چه زما خیال دا دې چه صحیح لفظ ((تزفران)) دې او ((زفر)) وائی درنه مشکیزه اوچتولوته، د دې وجه دا ده چه وړاندینی باب په روایت کښې امام بخاری رحمه الله "تزفر" لفظ نقل کړیدې. (٣)
خو دا خبره منلې شویده چه دا کلمه که د تاء په فتحه سره وی اوکه ضمه سره، دا د سیرد سرعت نه کنایه ده. (٤)

قوله: وقال غيره: تنقلان القرب على متونهما: اود ابومعمر رحمه الله نه علاوه بل چا وئیلی دی چه هغه دواړو به په خپله شاباندې مشکیزې راوړلې.

د مذکوره تعلیق مطلب او مقصد: د ابوذر، کشمیهنی او حموی په نسخوکښې همدا رنګ دی، دا حدیث هم هغه شان په هغه سنداومتن سره امام بخاری رحمه الله په کتاب المغازی غزوه احد (٥) لاندې ذکر کړیدې.په دې کښې رواتو هیڅ اختلاف نه دې کړې بلکه ټولو((تنقزان)) نقل کړیدې. (٦)
او په ((غيره)) کښې ضمیر مجرد او ابومعمر طرف ته راجع دې اود غیر نه مراد جعفر بن مهران دې. (٧)
اوس د پورتنی عبارت مطلب دا شو چه عبدالوارث نه حدیث باب روایت کونکی ټولو حضراتو هم((تنقزان)) وئیلې دې خوجعفر بن مهران په خپل روایت کښې ((تنقلان))نقل کړیدې. او دا خبره خو د چا نه هم پټه نه ده ((تنقزان)) په صورت کښې چه کوم اشکال وړاندې کیدل هغه د ((تنقلان)) په صورت کښې نه راځی ځکه چه دا فعل متعدی دې او معنی ئی هم واضح ده. (٨)

دمذکروه تعلیق تخریج: مذکوره تعلیق امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کښې د عبدالله بن

---

١) (عمدة القاری(ج ١٤ص١٦٦)وقدجاء هذااللفظ بضم التاء روایة باب مناقبابی طلحه رضی الله عنه من کتاب مناقب الانصاررقم (٣٨٨) وباب ﴿اذهمت طائفتان منکم ان تفشلا...﴾ من کتاب المغازی رقم (٤٠٦٤)
٢) فتح الباری (٦\٧٨) وعمدة القاری (١٤\١٦٧) والنهایة (٥\١٠٦)_
٣) (اعلام الحدیث للخطابی (ج٢ص١٣٨٥)-
٤) (فتح الباری (ج٦ص٧٨)-
٥) (الصحیح للبخاری (ج ص) کتاب المغازی باب ﴿اذهمت طائفتان...﴾ رقم (٤٠٦٤)-
٦) (تعلیق التعلیق (ج٣ص٤٤٢)-
٧) (حواله بالا-
٨) (صحیح مسلم کتاب الجهاد والسیر باب غزوة النساء مع الرجال رقم (٤٦٨٣)-

عبدالرحمن الدارمي په واسطه سره، ابویعلي موصلي رحمه الله خپل مسند کښې او اسماعیلي رحمه الله د جعفر بن مهران په واسطه سره بعینه د حدیث باب سند سره نقل کړیدي. (۱)

قوله: ثم تفرغانه في افواه القوم، ثم ترجعان، فتملانها، ثم يجيئان فتفرغانه في افواه القوم....: بیا به دواړو اوبه د قوم په خلو کښې اړولې. بیا به واپس کیدلې او مشکیزې به ئې راډکولې راوړلې او بیا به ئې اوبه د قوم په خلوکښې اړولې.

((تفرغانه)) د باب افعال نه دي، د دې معنی راغورزولو او اړولو ده.او ضمیر منصوب ماء طرف ته راجع دې چه د قرب په لفظ سره مفهوم کیږي اوس مطلب دا شوچه هغه دواړو به هغه اوبه چه په مشکیزوکښې وې د خلقوپه خلوکښې ورغورزولې او وراړولې.(۲)

اود ابوذر په نسخه کښې ((تفرغانها)) دې، په دې صورت کښې ضمیر منصوب ((القربة)) طرف ته راجع به وی. (۳)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: علامه ابن المنیر اسکندرانی رحمه الله د باب د ترجمې په الفاظو باندې اعتراض کولو سره فرمائی چه امام بخاری رحمه الله خو ترجمه قائمه کړیده ((غزوالنساء وقتالهن مع الرجال)) اود باب په مینځ کښې چه کوم حدیث ذکر کړیدې په هغې کښې د سر نه د غزوې یا د قتال ذکر نشته، په دې وجه د ترجمه او حدیث په ذیل کښې مناسبت موجود نه دې، فرمائی ((بوّب علی غزوهن وقتالهن، ولیس فی الحدیث انهن قاتلن)) (۴)

او بیا هغوی پخپله د دې اعتراض جواب ورکولو سره دوه مناسبتونه ذکر کوی:

① چه دا اوونیلې شی چه ښځو د مجاهدینو او غازیانو کوم اعانت او امداد کولو هم دغه د هغوی جهاد وو (۵)

د دې جواب تائید د مختلفو احادیثونه کیږي. د ابوداؤد شریف روایت دې. حشرج بن زیاد د خپلې نیا ام زیاد رضي الله عنها نه روایت کوی:

((انها خرجت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم في غزوة خیبر سادس ست نسوة، فبلغ رسول الله صلی الله علیه وسلم، فبعث الینا، فجئنا، فراینا فیه الغضب، فقال: مع من خرجتن وباذن من خرجتن؟ فقلنا: یا رسول الله خرجنا نغزل الشعر، ونعین به في سبیل الله ومعنا دواء للجرحی ونناول السهام، ونسقی السویق.....)) (۶)

یعنی هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره غزوه خیبرته اووتلې، هغه د شپږو ښځو نه شپږمه ښځه وه،

---

۱) (تعلیق التعلیق (ج۳ص۴۴۲) وفتح الباری (ج۶ص۷۸)-
۲) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۶۷) وشرح القسطلانی ء (ج۵ص۸۴)-
۳) (ارشادالساری (ج۵ص۸۴)-
۴) (المتوازی (ص۱۵۶) وعمدة القاری (ج۱۴ص۱۶۶) وفتح الباری (ج۶ص۷۸)-
۵) (حواله بالا-
۶) (سنن ابی داؤد ابواب الجهاد باب فی المراة والعبد یحدیان من الغنیمة رقم (۲۷۲۹)-

نو رسول الله ﷺ ته خبره اورسیدله نو هغوی ﷺ زمونږ د راغوښتلو دپاره سړې راولیګلو نو مونږ په خدمت کښې حاضرې شو. مونږ د هغوی ﷺ په مخ مبارک باندې غصه اولیدله، وې فرمائیل تاسو ښځې دچاسره اودَ چا په اجازت راوتلې ئې؟ مونږ وئیل یا رسول الله! مونږ په دې وجه راوتلې یو چه سپنږسی به تارونه کوواودې په ذریعه به د الله تعالی دلارې مدد کوو او مونږ سره د زخمیانو دپاره دوائی ده او مونږ به غشی نیسو او ستوان به پرې ځکوو.
په دې حدیث کښې دا راغلی دې چه مونږ به غشو وررونکوته غشی نیسو او دا خبره ښکاره ده چه غازی ته څه ورکونکوته د هغې په مثل اجر او ثواب به ملاویږی. (۱)
د دې جواب تائید د حضرت ربیع بن معوذ ﷺ د حدیث نه هم کیږی چه راتلونکی باب نه پس په باب کښې راځی. چه ((کنامع النبی صلی الله علیه وسلم ونداوی الجرحی....))(۲)
دغه شان په مسلم شریف کښې د حضرت ابن عباس ﷺ حدیث دې ((وقد کان یغزوبهن فیداوین الجرحی....)) (۳) رسول الله ﷺ به غزواتو کښې ښځې هم خان سره بوتلې چه د زخمیانو خیال به ئې ساتلو او مرهم پټئی وغیره به کولې. (۴)
② یا که دا اووئیلې شی چه دغه صحابیاتو رضی الله عنهن کله د زخمیانو د خیال کولو فریضه پوره کوله او په هغوی به ئې اوبه وغیره څکولې نو بعض وخت د دې امورو پوره کولو په دوران کښې د خپل خان د حفاظت او بچ ساتلو هم ضرورت پیښیدلو او همدغه احتمال غالب دې په دې وجه هغوی ته د قتال نسبت کړیشوې دې. (۵)
د دې احتمال تائید د دې روایت نه کیږی کوم چه حضرت انس ﷺ بیان کړیدې، د صحیح مسلم روایت دې:
((ان ام سلیم اتخذت یوم حنین خنجرًا، فکان معها، فراها ابوطلحة فقال: یا رسول الله هذه ام سلیم معها خنجر فقال لها رسول الله صلی الله علیه وسلم: ما هذا الخنجر؟ قالت: اتخذته ان دنامنی احد من المشرکین بقرت به بطنه)) (۶)
ام سلیم ﷺ په غزوه حنین کښې یو خنجر لاس کښې نیولې وو، چه هم هغې سره وو، حضرت ابوطلحه (چه د ام سلیم خاوندوو) هغې ته اوکتل نو رسول الله ﷺ ته ئې عرض اوکړو. دا ام سلیم ده. د چا په لاس کښې چه خنجر دې. نورسول الله ﷺ ام سلیم ﷺ ته اوفرمائیل چه دا خنجر تاڅه له راخستې دې؟ نو هغې اووئیل چه څوك مشرك ماله نزدې راغلو نو په دې خنجر به زه د هغه خیټه اوشلوم.

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص ۱۶۶)-
۲) (صحیح البخاری کتاب الجهاد باب مداواة النساء الجرحی فی الغزو رقم (۲۸۸۲)-
۳) (صحیح مسلم کتاب الجهاد والسیر باب النساء الغازیات یرضخ لهن...رقم (٤۶۸٤)-
٤) (فتح الباری (ج۶ص۷۸)-
۵) (حواله بالا المتوازی (ص۱۵۶) وعمدة القاری (ج ۱٤ص۱۶۶)-
۶) (صحیح مسلم کتاب الجهاد والسیر باب غزوة النساء مع الرجال رقم(٤۶۸۰)-

دَ حضرت عمرفاروق رضی الله عنه دَ حکومت په زمانه کښې مشهور جنګ. جنګ یرموك کښې ښځو جنګ اوکړو، کله چه رومیانو په مسلمانانو باندې سختې حملې اوکړې او هغوی دَ مسلمانانو په لښکرکښې رانوتل نو رومیانو ښځې په تورو اووهلې. په دې موقع دَ قریشو ښځو ډیر په بهادرئی سره دَ رومیانو مقابله اوکړه او آخر ئې اوتختول. (۱)

۶۵-بَاب: حَمْلِ النِّسَاءِ الْقِرَبَ إِلَى النَّاسِ فِي الْغَزْوِ

دَ ترجمة الباب مقصد: دَامام بخاری رحمه الله مقصددَ باب دَ ترجمې نه دَ دې امر جواز او مشروعیت خودل دی چه ښځې په غزوه کښې سرو باندې اوبه څکولې شی، په دې کښې دَ حرج څه خبره نشته.(۲)

[۲۷۲۵] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ ثَعْلَبَةُ بْنُ أَبِي مَالِكٍ(۳) إِنَّ عُمَرَبْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَسَمَ مُرُوطًا بَيْنَ نِسَاءٍ مِنْ نِسَاءِ الْمَدِينَةِ فَبَقِيَ مِرْطٌ جَيِّدٌ فَقَالَ لَهُ بَعْضُ مَنْ عِنْدَهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَعْطِ هٰذَا ابْنَةَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِي عِنْدَكَ يُرِيدُونَ أُمَّ كُلْثُومٍ بِنْتَ عَلِيٍّ فَقَالَ عُمَرُ أُمُّ سَلِيطٍ أَحَقُّ وَأُمُّ سَلِيطٍ مِنْ نِسَاءِ الْأَنْصَارِ مِمَّنْ بَايَعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُمَرُ فَإِنَّهَا كَانَتْ تَزْفِرُ لَنَا الْقِرَبَ يَوْمَ أُحُدٍ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللّٰهِ تَزْفِرُ تَخِيطُ [۳۸۴۳]

تراجم رجال

۱-**عبدان:** دا عبدالله بن عثمان بن جبله رحمه الله دې.

۲-**عبدالله:** دا عبدالله بن مبارك بن واضح حنظلی رحمه الله دې. دَدې دواړو حضراتوحالات "بدء الوحی" دَ پنځم حدیث په ذیل کښې راغلی دی. (۴)

۳-**یونس:** دا ابویزید بن یزیدبن ابی النجاد ایلی رحمه الله دې. دَ ده مختصر حالات "بدء الوحی" پنځم حدیث (۵) او تفصیلی حالات ((کتاب العلم باب من یردالله به خیرا....)) لاندې تیرشوی دی. (۶)

۴-**شهاب:** دا ابوبکر محمد بن مسلم ابن شهاب زهری رحمه الله دې. دَ ده حالات ((بدء الوحی))

---

۱) (ارشاد الساری (ج۵ص ۸٤) وشرح ابن بطال (ج۵ص۷۷)-

۲) (عمدة القاری (ج ١٤ص ١٦٩)-

۳) (قوله: ثعلبة الحدیث اخرجه البخاری ایضًا کتاب المغازی باب ذکر ام سلیط رقم ٤٠٧١) والحدیث من افراده عمدة القاری (ج ١٤ص ١٧٠)-

٤) (کشف الباری (ج ۱ص ۳۶۱-۳۶۲)-

۵) (کشف الباری (ج ۱ص ٤٦۳)-

۶) (کشف الباری (ج ۳ص ۲۸۲)-

دريم حديث كښې راغلې دى.(۱)

۵- ثعلبه بن ابى مالك: داابويحيى ياابومالك ثعلبه بن ابى مالك عبدالله بن سام القرظى المدنى رضي الله عنه دې. (۲)

دا د بنوقريظه دَ جمات امام وو او تر آخرعمر پورې په دې منصب باندې وو اودَ انصارو خليف وو.(۳)

دَ هغه پلار عبدالله بن سام ابومالك اصلايمنى دېو قبيله "كنده" سره دَ هغه تعلق وو او يهودى مذهب والا وو، دَ يمن نه راغلې وو مدينه منوره كښې آباد شوې وواودَ بنو قريظه يوسړى ابن سعيد لورسره ئې نكاح اوكړه اوابومال بنو قريظه حليف جوړشو په دې وجه هغه ته قرظى وائى.(۴)

اودَهغه پلارعبدالله بن سام غالبًا غزوه بنى قريظه كښې دَ كفرپه حالت كښې اووژلې شو.(۵)

حضرت ثعلبه رضي الله عنه صحابى دې كه نه؟: دَحضرت ثعلبه رضي الله عنه په صحابى كيدو كښې دَ محدثينواختلاف دې. ابن سعد، امام ابوحاتم، ابن حيان، عجلى اوداسې نور بعض حضرات هغه ته تابعى وائى.ابن ابى حاتم فرمائى (سالت ابى عن ثعلبة بن ابى مالك؟ فقال: هومن التابعين)(۶)

خو امام يحيى بن معين، حافظ جمال الدين مزى، امام بخارى، ابن عبدالبر، ابن قانع، ذهبى او مصعب بن عبدالله زبيرى رحمهم الله وغيره رائې دا ده چه صحابى دې. (۷)

تاسو دَ فريقينو اقوال اوكتل خو راجح همدغه معلوميږى چه دا صحابى دې.

علامه ابن عبدالبر رحمه الله په قول حضرت ثعلبه قرظى رضي الله عنه دَ نبى كريم ﷺ په مباركه زمانه كښې اسلام قبول كړې وو. (۸)

پخپله دَ حضرت ثعلبه رضي الله عنه وينا ده، سماك بن حرب رحمه الله دَ حضرت ثعلبه رضي الله عنه نه روايت كوى چه هغوى فرمائيلى دى: ((كنت غلاما على عهد النبى صلى الله عليه وسلم))(۹)

په دې وجه راجح همدغه دى چه هغه صحابى دې. او هغوى په حالت اسلام كښې رسول الله ﷺ ليدلې دې. او ابن ماجه كښې دَ هغه مرفوع روايت هم موجود دې. (۱۰)

---

۱) (كشف البارى (ج۱ص۳۲۶)-

۲) (تهذيب الكمال (ج٤ص۳۹۷) وطبقات ابن سعد(ج۵ص۷۹)-

۳) (حواله بالا الجرح والتعديل (ج۲ص۳۹۰) رقم (۱۸۷۵)-

٤) (طبقات ابن سعد (ج۵ص۷۹)-

۵) (فتح البارى (ج۶ص۷۹) والاصابة (ج۱ص۲۰۱)-

۶) (تهذيب التهذيب (ج۲ص۲۵) وحاشية سبط ابن العجمى (ج۱ص۲۸٤)وطبقات ابن سعد [۵ص۷۹] وتعليقات معجم الصحابة (ج۳ص۹۲٤)-

۷) (تهذيب الكمال (ج٤ص۳۹۷) والاستيعاب (ج۱ص۱۳۲) وتاريخ البخارى الكبير (ج۱ص۱۷٤) ومعجم الصحابة (ج۳ص۹۲٤)والكاشف للذهبى (ج۱ص۲۸٤)-

۸) (الاستيعاب (ج۱ص۱۳۲)-

۹) (حاشية سبط ابن العجمى على الكاشف (ج۱ص۲۸٤)-

۱۰) اخرج ابن ماجة لثعلبة بن ابى مالک عن النبى صلى الله عليه وسلم كان يخطب قائما خطبتين يفصل بينهما بجلوس وابوبكروعمر رضى الله عنهما كذلک. سنن ابن ماجه: كتاب الرهن، باب الشرب من الاودية رقم (۲٤۸۱)

حافظ ابن حجر رحمه الله دَ هغوی صحابی کیدو ته ترجیح ورکولو سره لیکی: ((وحدیثه من عمرنی صحیح البخاری ومن یقتل ابوه بقریظة ویکون هو بصدد من یقتل لولا الانبات لایمتنع ان یصح سماعه فلهذا الاحتمال ذکرته هنا)) (۱)

یعنی دَ حضرت عمر رضی الله عنه نه په صحیح بخاری کښې دَ هغوی حدیث موجود دې او دَ چاپلار چه په بنوقریظه کښې قتل شوې وی او هغه پخپله هم قتل کیدو ته نزدې وی که دَ انبات معامله نه وه نود هغه سماع عن النبی ﷺ صحیح کیدل ممتنع نه دهٔ.په دې وجه دَ حضرت ثعلبه رضی الله عنه تذکره ما (قسم اول) کښې نقل کړیده.

او حافظ ابن حرج رحمه الله "الاصابة" په قسم اول کښې دَ هغه صحابه کرامو ترجمه او تذکره لیکلې ده دَ چا رویت او صحبت چه ثابت وی، که هغه ثبوت په کومه طریقه هم وی. (۲)

مصعب بن عبدالله زبیری رحمه الله فرمائی((سنه سن عطیة وقصته کقصته)) (۳) یعنې حضرت ثعلبه دَ حضرت عطیه رضی الله عنه هم عمر دې اود حضرت ثعلبه رضی الله عنه قصه هم دَ عطیه رضی الله عنه دَ قصې په شان ده.(۴)

دا خبره دې واضحه وی چه دَ حضرت عطیه رضی الله عنه په صحبت کښې هیڅ اختلاف نشته. هغه په اتفاق سره صحابی دې

نو حضرت ثعلبه رضی الله عنه به هم صحابی شمیرلې شی. حضرت ثعلبه رضی الله عنه دَ نبی کریم ﷺ نه. حضرت عمر، حضرت عثمان. حضرت جابر او حارثه بن نعمان رضی الله عنهم وغیره نه دَ حدیث روایت کوی.

اود هغه نه روایت کونکوکښې دَ هغه ځوئ ابومالك، منظور، زهری. مسوربن رفاعة، محمدبن عقبه او صفوان بن سلیم وغیره شامل دی.(۵)

دا دَ صحیح بخاری،ابوداؤداو ابن ماجه راوی دې.(۶) اود هغه په صحاح سته کښې صرف یو مرفوع حدیث دې. (۷)

---

۱) (الاصابة (ج۱ص۲۰۱)-

۲) (الاصابة (ج۱ص ٤)-

۳) (تهذیب الکمال (ج ٤ص۳۹۷)-

٤) (وقصة عطیة رواها الائمة الاربعة وهی: عن عطیة القرظی قال: کنت فیمن حکم علیهم سعد بن معاذ، فشکوا فی امن الذریة انا اومن المقاتلة؟ فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: انظروا فان کان انبت الشعر فاقتلوه والافلاتقتلوه. قال: فاذا عانتی لم تنبت فالقونی فی الذریة فلم اقتل. انظر سنن ابی داؤد ابواب الحدود باب فی الغلام یصیب الحد. رقم (٤٤٠٤-٤٤٠٥) والترمذی ابواب السیر باب ماجاء فی النزول علی الحکم رقم (١٥٨٤) والنسائی کتاب قطع السارق باب ماجاء البلوغ وذکر السن..... رقم (٤٩٨٤) وابن ماجه ابواب الحدود باب من لایجب علیه الحد رقم (٢٥٤١)-

۵) (شیوخ وتلامذه دَ پاره اوګورئ تهذیب الکمال(ج ٤ ص۳۹۷-۳۹۸)-

۶) (تهذیب الکمال (ج ٤ص۳۹۸)-

۷) (تعلیقات معجم الصحابة (ج۳ص ۹۲٤) وخلاصة الخزرجی)ص۵۷) حرف الثاء من اسمه ثعلبة-

۲- عمر بن الخطاب: دا خلیفه ثانی امیرالمؤمنین حضرت عمر بن الخطاب العدوی رضی الله عنه دې. دَ دوی مختصر حالات ((بدء الوحی)) په رومبنی حدیث او مفصل حالات ((کتاب الایمان باب زیادة الایمان ونقصانه)) لاندې تیرشوی دی.(۱)

قوله: ان عمر بن الخطاب رضی الله عنه قسم مروطاً بین نساء من نساء المدینة، فبقی مرط جید: حضرت ثعلبه بن ابی مالك رضی الله عنه فرمائی چه حضرت عمربن الخطاب رضی الله عنه د مدینې منورې په ښځوکښې څادرونه تقسیم کړل، نو یو ښه څادر بچ شو.

مروط—بضم المیم والراء—مرط جمع ده، دَ وړئی یا ریښمو څادر ته وائی.(۲)

((فقال له بعض من عنده: یاامیرالمؤمنین، اعط هذا ابنة رسول الله صلی الله علیه وسلم التی عندك – یریدون: ام کلثوم بنت علی))

نوحضرت عمر رضی الله عنه سره ناست یو سړی اووئیل امیرالمؤمنین!دا څادر دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم لوربی بی ته ورکړه چه ستاسو په نکاح کښې ده. دَ هغه مراد ام کلثوم رضی الله عنها وه. چه دَ حضرت علی رضی الله عنه لور وه.

حافظ ابن حجر فرمائی:((لم اقف علی اسمه)) دَ هغه قائل نوم ماته معلوم نه شو.(۳)

قوله: ام کلثوم رضی الله عنها: دا دَ حضرت علی او حضرت فاطمه رضی الله عنهما دَ تولونه کشره لور وه او دَ حضرات حسنین رضی الله عنهما سکه خور اودَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نمسئی وه. په دې وجه په حدیث کښې هغې ته ((بنت رسول الله)) اووئیلې شوه.(۴)

دا دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په حیات مبارك کښې پیدا شوه او حضرت عمر په خپل دور خلافت کښې دَ حضرت علی رضی الله عنه نه دَ هغې رشته دَ خپل ځان دَپاره اوغوښتله. هغه وخت دا ماشومه وه. (۵)

دَ هغې نکاح حضرت عمر رضی الله عنه سره په کال ۱۷ھ کښې اوشوه. (۶) دَ هغې نه دَ حضرت عمر رضی الله عنه یوه لور رقیه او یو خوئ زید پیداشو. (۷)

دَ حضرت عمر رضی الله عنه دَ شهادت نه پس دَ هغې نکاح عوف بن جعفر بن ابی طالب سره اوشوه. دَعوف دَ انتقال نه پس دَ هغه رور محمدبن جعفر هغې سره نکاح اوکړه. دَ محمد نه پس

---

۱) (کشف الباری (ج۱ص۲۳۹) و(ج۲ص ٤٧٤)-
۲) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٦٨)-
۳) (فتح الباری (ج۶ص۷۹)-
٤) (حواله بالا-
۵) (حواله بالا والاصابة (ج ٤ص٤٩٢) وعمدة القاری (ج ١٤ص ١٦٨)-
۶) (دَ شیعیت اصلی رو پ(ص۲۷۵)-
۷) (تهذیب الاسماء واللغات (ج۲ص۳۶۵) وسیر اعلام النبلاء (ج۳ص۵۰۱)-

عبدالله بن جعفر سره د هغې نکاح اوشوه. (۱)
دَ حضرت ام کلثوم رضي الله عنها او دَ هغې دَ خوئ زیدبن عمر په یوه ورځ انتقال اوشواوحضرت سعیدبن العاص رضي الله عنه چه په هغه ورخوکښې دَ مدینې منورې امیر وو دَ دواړو جنازه اوکړه.
دا سانحه دَ حضرت معاویه رضي الله عنه دَ خلافت په شروع ورخو کښې اوشوه. (۲)

قوله: فقال عمر: ام سليط احق، وام سليط من نساء الانصار ممن بايع رسول الله صلى الله عليه وسلم: نو حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل چه ام سلیط ډیره حقداره ده، او ام سلیط د انصارو په هغه ښځوکښې ده چا چه دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم په لاس بیعت کړې وو.

حضرت ام سليط رضي الله عنها: دا حضرت ام قیس بنت عبیدبن زیادبن ثعلبه النجاریه الانصاریه رضي الله عنها ده. (۳)
او دا هم په خپل کنیت سره مشهوره وه. (۴)
هغې سره اوله نکاح ابوسلیط بن ابی حارثه بن قیس نجاری کړې وه او دَ ابوسلیط نه یو خوئ سلیط او یوه لور فاطمه پیدا شوه نو په دې وجه هغې ته ام سلیط وائي. (۵)
دَ ابوسلیط دَ وفات نه پس دا دَ مالك بن سنان په نکاح کښې راغله اودَ هغه نه حضرت ابوسعید خدری رضي الله عنه پیدا شو. (۶)
هغې ته دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دَ بیعت او غزوه احد، خیبر او حنین کښې یوځائ کیدو شرف حاصل دې. (۷)

قوله: قال عمر: فانها كانت تزفر لنا القرب يوم احد: حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل چه ام سلیط به زمونږ دپاره په جنګ احد کښې مشکیزې راوچتولې او راوړلې. دلته حضرت عمر رضي الله عنه دَ خادر په معامله کښې حضرت ام کلثوم رضي الله عنها په مقابله کښې حضرت ام سلیط رضي الله عنها ته ترجیح ورکولو علت بنائی چه حضرت ام سلیط رضي الله عنها به په غزوه احد کښې زمونږ دَ پاره مشکیزې اوچتولې راوړلې نو په دې وجه دَ دغه خادر زیاته حقداره هغه ده.

قوله: قال ابوعبدالله: تزفر: تخيط: ابوعبدالله (امام بخاری) فرمائی چه تزفر معنی هغې به ګنډل.
داجمله صرف دَ مستملی په روایت کښې ده باقی نسخ صحیح بخاری کښې دا توضیحی جمله نشته. (۸)

---

۱) (الاصابة (ج ٤ص ٤٩٢)-
۲) (حواله بالا وطبقات ابن سعد (ج۸ص۴۶۵) کشف الباری کتاب المغازی (ص ۲٤۰)-
۳) (طبقات ابن سعد (ج۸ص۴۱۹)-
٤) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٦٨)-
۵) (عمدةالقاری (ج ١٤ص١٦٨)-
۶) (فتح الباری (ج۷ص۳۶۷)-
۷) (فتح الباری (ج۶ص۷۹) وعمدة القاری (ج ١٤ص١٦٩) وطبقات ابن سعد (ج۸ص۴١۸)-
۸) (فتح الباری (ج۶ص۷۹) وعمدة القاری [١٤ص١٦٩)-

امام بخاری رحمه الله دَ زفر معنی دلته ګنډل بیان کړې دی په دې باندې دَ بخاری شارحینو اعتراض کړې دې. حافظ ابن حجر او علامه عینی فرمائی ((ذلك لايعرف فى اللغة، وانما الزفر: الحمل)) (۱) چه دا په لغت کښې غیرمعروف ده او زفر په حقیقت کښې دَ اوچتولو په معنی کښې دې. او قاضی عیاض رحمه الله فرمائی((غيرمعروف فى اللغة))(۲) او حضرت شیخ الحدیث صاحب هم دَ علامه ګنګوهی رحمه الله په حواله سره (مقدمه لامع) کښې دا تفسیری جمله دَ امام بخاری رحمه الله دَ اوهامونه ګرځولې ده. (۳)

بیا حضرت ګنګوهی رحمه الله هم پخپله دَ دې توجیه ذکر کړیده. فرمائی چه کیدیشی دَ امام بخاری رحمه الله دَ پورته ذکر شوی تفسیر وجه دا وی ((تزفر)) معنی دَ هغوی په نزد دا چه حضرت ام سلیط رضی الله عنها هغه مشکیزې په هغه حال کښې چه هغه خالی شلیدلې وې نو دَ ګنډلوډپاره به ئی راوچتولې، او دا اوچتول دَ مشکیزود اوبوڅکلوډپاره نه وی. (۴)

او په دې توجیه سره دَ امام بخاری رحمه الله دا پورتنئی تفسیری جمله بالکل صحیح ګرځی.

او نورو شارحینو حضراتو دَ دې اعتراض جواب دا ارشاد فرمائیلې چه امام بخاری رحمه الله غالبًا دلته دَ ابوصالح کاتب اللیث اتباع کړیده، دَ ابوصالح نه تزفر په معنی دَ تخرز مروی دې اودَ خرز معنی ګنډل ده.(۵)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث شریف دَ باب دَ ترجمه سره مناسبت دَ حدیث باب په دې جمله کښې دې((فانها كانت تزفر لنا القرب يوم احد)) (۶)

۶۶- بَاب: مُدَاوَاةِ النِّسَاءِ الْجَرْحَى فِي الْغَزْوِ

دَ ترجمة الباب مقصد په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله دا بیان کول غواړی چه دَ حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې دَ جنګ په میدان کښې ښځو به دَ مجاهدینو دَ اسلام مرهم پټئی او علاج معالجه کوله او دا ثابت دی. (۷)

په وړاندینی باب کښې خود ښځو متعلق یوخدمت یعنی مشکیزې اوچتولو او راوړلو ذکر

---

۱) (انظر فتح الباری (ج۶ص۷۹) وعمدة القاری(ج۱۴ص۱۶۹) وقال ابن بطال: قوله: تزفرلنا القرب يعنى تحمل قال صاحب العين ولافعال (اى اخليل النحوى) زفر الحمل زفرا: نهض به والزفر: القربة، والزوافر: الاماء يحملن القرب(ج۵ص۷۹)-

۲) (شرح القسطلانی (ج۵ص۷۵)-

۳) (مقدمة اللامع (ج۱ص۲۴۳) وايضًاانظر لامع الدراری (ج۷ص۲۳۶)-

۴) (لامع الدراری (ج۷ص۲۳۵)-

۵) (ارشاد الساری (ج۵ص۸۵)وعمدة القاری (ج۱۴ص۱۶۸)فتح الباری(ج۶ص۷۹)-

۶) (عمدة القاری(ج۱۴ص۱۶۷)-

۷) (عمدة القاری (ج۱۴ص ۱۶۸)-

وو او په دې باب کښې د هغوی سره متعلق يو بل خدمت يعنی د زخميانو مرهم پټئی وغيره ذکر دې.

[۲۷۲۶] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ ذَكْوَانَ عَنْ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ (۱) قَالَتْ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَسْقِي وَنُدَاوِي الْجَرْحَى وَنَرُدُّ الْقَتْلَى إِلَى الْمَدِينَةِ [۲۷۲۷، ۵۳۵۵] .

تراجم رجال

۱- علي بن عبدالله: دا امام ابوالحسن علی بن عبدالله ابن المدينی رحمه الله دې. د دوی حالات ((كتاب العلم باب الفهم فى العلم)) لاندې تيرشوی دی. (۲)

۲- بشربن المفضل: دا ابواسماعيل بشربن المفضل بن لاحق رقاشی رحمه الله دې. د ده تذکره ((كتاب العلم باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: رب مبلغ اوعى من سامع)) لاندې راغلې ده. (۳)

۳- خالدبن ذکوان: دا ابوالحسن خالدبن ذکوان المدنی رحمه الله دې. (۴)

۴- الربيع بنت معوذ رضي الله عنها: دا انصاری صحابيه حضرت الربيع بنت معوذ رضي الله عنها ده. (۵)

قوله: قالت: كنا مع النبي صلى الله عليه وسلم نسقي، ونداوي الجرحى ونرد القتلى الى المدينة: حضرت ربيع بنت معوذ رضي الله عنها فرمائی چه مونږ نبی کريم صلی الله علیه وسلم سره (په يوغزوه کښې شريك وو) په زخميانوباندې به مو اوبه څکولې او د هغوی مرهم پټئی به موکولې او کوم خلق به چه شهيدان شو هغه به مو مدينې منورې ته اوچتولو راوړلو.

دباب په حديث کښې دا راغلی دی،د نامحرم سړی مرهم پټئی اوددې قسم نورخيزونه مثلاً د بيمار خيال به موساتلو او موتئ (شهداء) د ميدان جنګ نه مدينې منورې ته منتقل کول.

يواعتراض اود هغې جواب: اوس سوال دا پيدا کيږی چه دا څنګه جائز شو چه ښځې د نامحرم سړو پټئی کوی، ځکه چه په دې کښې د پردو سړو او ښځو ګډوډوالي لازم راځي؟ (۶)

---

۱) (قوله: عن الربيع..." الحديث اخرجه البخارى ايضًا كتاب الجهاد باب ردالنساء الجرحى والقتلى رقم (۲۸۸۳) وكتاب الطب باب هل يداوى الرجل المراة والمراة الرجل؟ رقم (۵۶۷۹) ولم يخرجه غيره من الائمة الستة-

۲) (كشف البارى (ج۳ص۲۹۷)-

۳) (كشف البارى (ج۳ص۲۲۲)-

۴) (د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ كتاب الصوم باب صولم الصبيان-

۵) (حواله بالا-

۶) (عمدة القارى (ج ۱۴ص۱۶۸)-

شارحینو د دې اعتراض دوه جوابونه لیکلی دي:

① دا احتمال چه مذکوره واقعه د حجاب د نازلیدلو نه اول وی نو څه حرج نشته. (۱)

② علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه ممکن ده چه صحابیات د علاج په دوران کښې سړو له د لاس اوړلو نه بغیر علاج کوی، هغه داسې چه دوائی خوصحابیاتو تیاروله او په متاثره حصه باندې هغه دوائی څوك بل سړې یا محرم ښځه لګوی، په دې صورت کښې هم لاس لګول نشی کیدې. (۲)

د حدیث باب نه مستنبط یوه فائده: د باب د حدیث نه دا معلومه شوه چه د ضرورت او حاجت په وخت کښې اجنبی سړې یا ښځه د یو بل علاج معالجه کولې شی، لیکن دا خبره دې خامخاپه خیال کښې ساتی چه د علاج په دوران کښې د متاثره حصې نه د نظر یا لاس لګولو وغیره نه تجاوز اونه کړی. صرف هغه متاثره حصې ته دې ګوری او لاس دې اوړی (۳)

ددې وجه داده چه علاج ضرورت دې اودا قاعده مسلمه ده چه (الضرورات تبیح المحظورات) (۴)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث مطابقت د باب د ترجمه سره بالکل واضح دې او هغه د حدیث په دې جمله کښې دې: ((ونداوی الجرحی)) چه مونږ به د زخمیانو علاج معالجه کوله. (۵)

۶۷- بَاب: رَدِّ النِّسَاءِ الْجَرْحَى وَالْقَتْلَى إِلَى الْمَدِينَةِ

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله د دې باب لاندې په میدان جنګ کښې د ښځو متعلق یو بل خدمت یعنی میدان جنګ نه زخمیان او شهیدان منتقل کولو بیان کوی. (۶)

په حدیث باب کښې دی چه ښځو به زخمیان راوچتول راوړل. خو چه کوم مقتولین او شهداء وو هغوی به ئی مدینې منورې ته رسول.

[۲۷۲۷] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ عَنْ خَالِدِ بْنِ ذَكْوَانَ عَنْ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ (۷) قَالَتْ كُنَّا نَغْزُو مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَسْقِي الْقَوْمَ وَنَخْدُمُهُمْ وَنَرُدُّ الْجَرْحَى وَالْقَتْلَى إِلَى الْمَدِينَةِ [ر: ۲۷۲۶]

تراجم رجال

۱- مسدد: دا مسدد بن مسرهد بن مسربل رحمه الله دې. د دوی مختصر تذکره ((کتاب الایمان باب

۱) (فتح الباری (ج۱۰ص۱۳۶)-
۲) (ارشاد الساری (ج۵ص۸۵)-
۳) (فتح الباری (ج۱۰ص۱۳۶) وعمدة القاری (ج۱۴ص۱۶۸) وشرح ابن بطال (ج۵ص۷۹)-
۴) (فتح الباری (ج۶ص۸۰)-
۵) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۶۸)-
۶) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۶۹)-
۷) (قوله: عن الربیع بنت معوذ رضی الله عنها: الحدیث مرتخریجه انفا فی الباب السابق-

من الايمان ان يحب لاخيه مايحب لنفسه)) لاندې تيره شويده.(۱)
دَ سندنورو رجال حواله په تيرشوی باب په سند کښې تيرشو دی.

قوله: قالت: كنا نغزو مع النبى صلى الله عليه وسلم فنسقى القوم ونرد الجرحى والقتلى الى المدينة:

دَ نردالجرحى والقتلى معنى اودَ دې احتمالات: علامه گنگوهى رحمه الله فرمائى:

((ونردالجرحى والقتلى)) کښې دوه احتماله دی.

① که قتلى نه مراد حقيقى مقتولين او شهداء وى او لفظ ((قتلى)) په حقيقت باندې محمول کړيشى نو هغه واپس کړولو وجه به دا وى چه دَ هغوى تدفين وغيره کښې مشغوليت چونکه په قتال کښې خلل پيدا کولو سبب دې، په دې وجه دا شهداء او مقتولين به بنځو دَ ميدان جنګ نه مدينې منورې ته منتقل کول.(۲)
ليکن په دې معنى او احتمال باندې دَ دې روايت په وجه دا اشکال کيږى کوم چه امام احمد، ابوداؤد، ترمذى، نسائى او دارمى رحمه الله وغيره نقل کړى دى، دَ حضرت جابر رضى الله عنه نه روايت دې فرمائى:

((لما كان يوم احد، جاءت عمتى بابى لتدفنه فى مقابرنا، فنادى منادى رسول الله صلى الله عليه وسلم: ردوا القتلى الى مضاجعهم))، (اللفظ للترمذى)(۳)
دَ دې روايت نه معلوميږى چه نبى اکرم صلى الله عليه وسلم شهيدان مدينې منورې ته منتقل کولونه منع فرمائيلې وه او هغوى دَ خپل شهادت ځائ ته واپس کولو حکم ورکړې وو. اودَ باب په حديث کښې ذکرشوې روايت برخلاف شهيدان مدينې منورې ته دَ منتقل کولو ذکر دې؟
حضرت شيخ الحديث مولانا محمد زکريا کاندهلوى رحمه الله دَ دې اشکال جواب ورکولو سره فرمائى چه بهتر هم دغه ده چه ردالقتلى نه هغوى دَ جنګ دَ ځائ نه قبرونوطرف ته منتقل کول مرادواخستې شى اودَ دې تائيد دَشرح القسطلانى دَدې عبارت نه کيږى:((قال السفاقسى: كانوا يوم احد يجعلون الرجلين والثلاثة من الشهداء على دابة، وتردهم النساء الى موضع قبورهم))(۴)
سفاقسى رحمه الله فرمائى چه دَ غزوه احد په موقع صحابه کرامو دوه يا درې شهيدان په يو

۱) (كشف البارى (ج۲ص۲)-
۲) (لامع الدرارى (ج۷ص۲۳۶)-
۳) (الحديث اخرجه الامام احمدفى مسنده (ج۳ص۲۹۷) وابوداؤدفى سننه ابواب الجنائز باب فى الميت يحمل من ارض الى ارض رقم (۳۱۶۵)والترمذى فى جامعه ابواب الجهاد باب (فى ماجاء فى دفن القتيل فى مقتله) رقم (۱۷۱۷)والنسائى فى سننه ابواب الجنائز باب اين يدفن الشهيد؟ رقم (۲۰۰۶-۲۰۰۷) والدارمى فى سننه (ج۱ص۳۶) المقدمة باب ما اكرم به النبى صلى الله عليه وسلم فى بركة طعامه رقم (۴۳) والخطيب التبريزى فى مشكاة المصابيح كتاب الجنائز باب دفن الميت الفصل الثانى رقم (۱۷۰۴)-
۴) (ارشاد السارى (ج۵ص۸۵) وعزاالعلامة العينى هذاالقول الى ابن التين (ج۱۴ص۱۶۹)-

خاروى كيخودل او ښځو به هغه د هغوى قبرونو ته منتقل كول (۱)

او پاتې شو ((الى المدينة)) الفاظ نو علامه قسطلانى رحمه الله په قول دا الفاظ د ابوذر په نسخه كښې نشته.(۲)

اودَ دې په جواب كښې داهم وئيلى شى چه ((الى المدينة)) الفاظوتعلق جرحیٰ سره دې نه چه دَ قتلیٰ نه، اودَ دې توجيه په صورت كښې معنى بالكل صحيح ده. يعنى ښځو به زخميان مدينې منورې ته منتقل كول نه چه شهيدان.(۳)

يابه دا وئيلې شى چه دَ حضرت ربيع بنت معوذ رضى الله عنها حديث كوم چه په باب كښې ذكر دې دَ نبى اكرم ﷺ دَ ممانعت نه وړاندې دې، يعنى دَ حضور ﷺ دَ منع كولو نه مخكې دې ښځو شهيدان مدينې منورې ته منتقل كول ليكن روستو هغوى ﷺ اوفرمائيل چه شهيدان هم دَ هغوى دَ شهادت په ځائ كښې خښ كړئى. دغه شان دَ سنن او بخارى په رواياتوكښې تطبيق كيږى.. (۴)

②دوئم احتمال دا دې چه ((قتلى)) نه هغه زخميان مراد دې كوم چه مرګ ته نزدې وى. پاتې شو هغه زخمى صحابه كرام دَ چا زخمونه چه په نزدې راتلونكى وخت كښې دَ جوړيدو احتمال وو، هغه ئى هم په ميدان جنګ كښې باقى پريخودې وو چه دَ جوړيدو نه پس بيا په جنګ كښې شريك شى. (۵)

خوبه دې احتمال باندې دا اشكال كيږى چه كه ((قتلى)) نه مراد زخميان دى نو بيا دَ جدا "جرحى" ذكر كولو څه ضرورت دې؟

دَ دې اشكال په جواب كښې دا وئيلې شى چه په حديث كښې "جرحى" نه مراد هغه كسان دى چه مرګ ته نزدې نه وى اودَ هغوى دَ واپس كولو نه دَ هغوى خيموته منتقل كول وى. (۶)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث دَ باب دَ ترجمه سره مطابقت واضح دې، چه دَ حديث په دې جمله كښې دې. ((وترد الجرحى والقتلى الى المدينة)) (۷)

۶۸-بَاب: نَزْعِ السَّهْمِ مِنَ الْبَدَنِ

دَ ترجمة الباب مقصد: علامه ابن المنير اسكندرانى رحمه الله فرمائى چه امام بخارى دَ يو وهم

---

۱) (تعليقات لامع الدرارى (ج۷ص۲۳۶)-
۲) (ارشاد السارى (ج۵ص۸۵)-
۳) (تعليقات لامع الدرارى (ج۷ص۲۳۶)-
٤) (حواله بالا (ص۲۳۷)-
۵) (لامع الدرارى (ج۷ص۲۳۷)-
۶) (تعليقات لامع الدرارى (ج۷ص۲۳۷)-
۷) (عمدة القارى (ج ١٤ص١۶۹)-

لړې کولو د پاره دا باب قائم کړیدې. چاته دا وهم کیدیشی چه شهید که په غشی لګیدلې دې نو هغه به د شهید بدن نه نشی راویستلې بلکه غشې هم په هغه حالت باندې پریخودیشی لکه څنګه چه هغه د وینو رنګ بدن سره د خښولو حکم ورکړې شوې دې د پاره چه د قیامت په ورځ هغه هم په هغه حالت کښې د الله تعالی دربارکښې حاضر شی، نو امام بخاری رحمه الله د دې توهم ازاله فرمائی چه داسې څه خبره نشته او حکم هم دغه دې چه کله تاسو.شهید خښ کړئی نو د هغه زغره وغیره کوزه کړئی او وسله کومه چه د هغه په بدن باندې ده هغه جداکړئی نو غشې به هم راویستې شی. (۱)

د علامه مهلب رحمه الله موقف بل دې هغه فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دلته د انسان د بدن نه د غشی ویستلو جواز بیانوی، کیدیشی چه د دې د راویستلو سره د هلاکت او مرګ اندیښنه وی او دا خپل خان پخپله په هلاکت کښې د اچولو برابر نه دی، او د دې کار نه د نفع او صحت امیدهم وی، هم د دې مثل زخم خیرل او دا شلول او په اوسپنه وغیره باندې داغ لګول یعنی هغه ټول کارونه د کومو په ذریعه چه علاج کولې شی.

مقصد دا شو لکه څنګه چه د زخم خیرل، او په بدن باندې د علاج په غرض داغ لګول جائز دی دغه شان د بدن نه غشې ویستل هم جائز دی. (۲)

حافظ ابن حجر او علامه عینی رحمه الله دې دوئم یعنی د علامه مهلب رحمه الله قول ته ترجیح ورکړیده څکه چه د باب حدیث د هغه سرې متعلق دې د چانه چه غشې د هغه د ژوند په حالت کښې اوویستلې شو اود علامه ابن المنیر رحمه الله قول (نزع السهم بعد الموت) سره متعلق دې (۳)

[۲۸۷۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى (۴) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ رُمِيَ أَبُو عَامِرٍ فِي رُكْبَتِهِ فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ قَالَ انْزِعْ هَذَا السَّهْمَ فَنَزَعْتُهُ فَنَزَا مِنْهُ الْمَاءُ فَدَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِعُبَيْدٍ أَبِي عَامِرٍ [۳۰۶۰، ۶۰۲۰]

تراجم رجال

۱- محمد بن العلاء: دا ابوکریب محمد بن العلاء بن کریب همدانی کوفی رحمه الله دې.

۲- ابواسامه: دا ابواسامه حماد بن اسامه بن زید قرشی کوفی رحمه الله دې.

۳- برید بن عبدالله: دا ابوبرده برید بن عبدالله بن ابی برده ابی موسی الاشعری کوفی رحمه الله

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص۸۱)-

۲) (شرح ابن بطال(۵ص۸۱)-

۳) (فتح الباری (ج۶ص۸۱)وعمدة القاری (۱۴ص۱۶۹)-

۴) (قوله: عن ابی موسی رضی الله عنه: الحدیث اخرجه البخاری ایضًا کتاب المغازی باب غزوة اوطاس رقم (۴۳۲۳) وکتاب الدعوات باب الدعاء عندالوضوء رقم (۶۳۸۳) ومسلم کتاب فضائل الصحابة باب من فضائل ابی موسی وابی عامر الاشعریین رقم (۶۴۰۶)-

دي. دَ دې دريواړو حضراتو تذكره ((كتاب العلم باب فضل من علم وعلم)) لاندې تيره شوې.(۱)

۴-ابوبردة: دا دَ حضرت ابوموسى الاشعرى رضي الله عنه ځوئ دې، دَ ده تذكره ((كتاب الايمان باب اى الاسلام افضل؟)) په ذيل كښې راغلې ده.(۲)

۵- ابوموسى: دا مشهور صحابى رسول، حضرت ابوموسى الاشعرى رضي الله عنه دې. دَ هغوئ حالات هم د مذكوره باب لاندې تيرشوى دى.(۳)

قوله: قال: رمي ابوعامر في ركبته فانتهيت اليه، فقال: انزع هذا السهم، فنزعته: حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه فرمائى چه دَحضرت ابوعامرزنګون په غشي اولګيدو نوزه هغه له لاړم،هغه ماته اووئيل چه دا غشي راوْباسه،نوماهغه راوْويستلو.

په حديث باب كښې ذكر شوې واقعه دَ غزوه اوطاس سره متعلق ده، دلته امام بخارى رحمه الله دَ ابو موسى اشعرى رضي الله عنه حديث په اختصار سره بيان كړو. همدغه حديث هغوى په كتاب المغازى كښې تفصيل سره نقل كړيدې هلته دَ دې تشريح هم راغلې ده. (۴)

قوله: حضرت ابوعامر رضي الله عنه: دا دَ نبى اكرم صلى الله عليه وسلم يو جانثار صحابى، دَ حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه محترم تره رضي الله عنه دې.دَ هغه نوم عبيد بن سليم بن حضاربن حرب دې، قبيله اشعرين اودبن زيد سره دَ هغه تعلق دې. (۵)

او على ابن المدينى دَ هغه نوم عبيدبن وهب او ابونعيم اصفهانى رحمه الله دَ هغه نوم عبدالله بن وهب ليكلې چه صحيح نه دې.(۶)

ددوى شميردَ نبى اكرم صلى الله عليه وسلم په كبارو صحابه كراموكښې دې، ابن قتيبه دَ هغوى ذكردَ حبشې طرف ته هجرت كونكو كښې كړيدې، لكه دا قديم الاسلام صحابى وو، هغوى نور ليكلى دى چه دې په شروع كښې نابينا وو بيا بينا شو.(۷)

په غزوه حنين كښې چه كله مشركانو ته شكست اوشو نو په هغوى كښې ډير خلق اوتختيدل او اوطاس ته راغلې وو، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغوى ته ماتې وركولودَپاره دَ حضرت ابوعامر رضي الله عنه په مشرئى كښې يوه ډله روانه كړه او هم په دې غزوه اوطاس كښې هغه شهيد شو، اودَ هغه دَ شهادت سبب هم هغه غشي جوړشوې ووچه دَ مشهور مشرك دريدبن صمه ځوئ سلمه بن دريد ويشتې وو چه دَ هغه په زنګون كښې اولګيدلو لكه چه دَ باب په حديث

---

۱) (كشف البارى(ج۳ص۴۱۷)-
۲) (كشف البارى (ج۱ص۶۹۰)-
۳) (حواله بالا-
٤) (انظر كشف البارى كتاب المغازى (ص۵٤۳)-
۵) (الاستيعاب بهامش الاصابة (ج ٤ص۱۳۵)والاصابة (ج ٤ص۱۶۳) واسدالغابة(ج۶ص۱۸۳)-
۶) (الاستيعاب بهامش الاصابة (ج ٤ص۱۳۵) واسدالغابة(ج۶ص۱۸۳)ومعرفت الصحابة (ج ٤ص ۵۱۷)-
۷) ((الاستيعاب بهامش الاصابة (ج ٤ص۱۳۵)والاصابة (ج ٤ص ۱۲۳) واسدالغابة(ج۶ص۱۸۳)-

شریف کښې هم مذکور دي بیا روستو حضرت ابوموسی اشعری ﷜ د هغه د قاتل کار خلاص کړو.(١)

او بعض حضراتو غښې ویشتونکي درید بن صمه ګرځولې دي خودا صحیح نه دی ځکه چه درید هغه وخت کښې ډیر بوډا شوې وو د هغه عمر د سلوکالونه زیات شوې وو اودَ بوډا والی دَ وجه هغه جنګ کښې شرکت نه وو کړې، نو ابن الاثیر ﷫ فرمائی:

((وقیل: ان دریدًا هوالذی قتل اباعامر، وقتله ابوموسی، وذلك غلط، فان دریدًا انما حضر الحرب شیخا کبیرا ولم یباشر الحرب لکبره)) (٢)

قوله: فنزامنه الماء، فدخلت علی النبی ﷺ فاخبرته، فقال: اللهم اغفر لعبید ابی عامر: نودَ زخم نه اوبه راوتلې او دَ نبی اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضرشو او پوره واقعه ئی عرض کړه نو هغوی ﷺ دعا اوکړه اې الله دَ عبید ابوعامر مغفرت نصیب کړه.

((نزا)) دَ باب "نصر" نه دې دَ دې مصدر نزوا و نزوانًا دې اودَ دې معنی راوچتیدل دی خودَ علامه ابن التین په قول دلته مراد دَ اوبو راوتل دی.(٣)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث دَ باب دَ ترجمه سره مطابقت ظاهر دې او هغه په دې جمله کښې دې ((انزع هذا السهم فنزعته))(۴)

۶۹-بَاب: الْحِرَاسَةِ فِي الْغَزْوِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ

دَ ترجمة الباب مقصد: دَ حافظ ابن حجر ﷫ او علامه عینی ﷫ په قول امام بخاری ﷫ په دې باب کښې دَاسلام دَ لښکر دَحفاظت اودَالله تعالی په لارکښې څوکیدارئی کولو فضیلت بیانول غواړی. (۵)

دا هم وئیلې شی چه امام بخاری ﷫ داخودل غواړی چه مسلمانانو له غافل نه دی اوسیدل پکار اودَ خپل حفاظت انتظام کول پکار دی. معلومه نه ده چه دښمن به کله او دَ کوم طرف نه حمله کوی؟ دې دَ پاره دَ حراست او حفاظت ښه اهتمام کول پکار دی.

٢٧٢٩: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ خَلِيلٍ أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا(٦) تَقُولُ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَهِرَ فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ قَالَ لَيْتَ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِي صَالِحًا يَحْرُسُنِي اللَّيْلَةَ إِذْ سَمِعْنَا

---

١) (حواله بالا وکشف الباری کتاب المغازی (ص٥٤٢)-
٢) (اسدالغابة (ج۶ص١٨٣) تنبیه: ابوعامر اشعری ﷜ دَ نوم یو بل صحابی هم دې خوهغه دَ ابوموسی اشعری ﷜ رور دې اودَ هغه نوم هانی یا عبدالرحمن یا عبید یاعباد بن قیس دې-
٣) (عمدة القاری (ج١٤ص١۶٩) وشرح ابن بطال (ج۵ص٨١)-
٤) (عمدة القاری (١٤ص١۶٩)-
۵) (فتح الباری (ج۶ص٨١) وعمدة القاری (ج١٤ص١٧٠)-
۶) (قوله: عائشه رضی الله عنها: الحدیث اخرجه البخاری ایضًا کتاب التمنی ...[بقیه حاشیه په بل مخ...

صَوْتَ سِلَاحٍ فَقَالَ مَنْ هَذَا فَقَالَ أَنَا سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ جِئْتُ لِأَحْرُسَكَ وَنَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۶۸۰۴]

تراجم رجال

۱- اسماعيل بن خليل: دا ابوعبدالله اسماعيل بن خليل كوفى رحمه الله دې. (۱)

۲- على بن مسهر: دا ابو الحسن على بن مسهر القرشى الكوفى رحمه الله دې. (۲)

۳- يحيى بن سعيد: دا مشهور تابعي محدث، يحيى بن سعيدالانصارى رحمه الله دې. د دوى حالات "كتاب الايمان باب صوم رمضان احسابًا من الايمان" لاندې تيرشوى دى. (۳)

۴- عبدالله بن عامر بن ربيعه: داحضرت عبدالله بن عامر ربيعه رضي الله عنهما دې. (۴)

۵- عائشه رضى الله عنها: دا ام المؤمنين حضرت عائشه بنت ابى بكر الصديق رضي الله عنهما ده. د دوى حالات "بدء الوحى" د دوئم حديث لاندې تيرشوى دى. (۵)

"تقول: كان النبي صلى الله عليه وسلم سهر، فلما قدم المدينة قال: ليت رجلا من اصحابي صالحا يحرسني الليلة" حضرت عبدالله بن عامر بن ربيعه رضي الله عنه فرمائي چه ما د حضرت عائشه رضي الله عنها نه واوريدل هغوى بيان فرمائيلو چه نبئ اكرم ﷺ (يوه شپه) په بيدارئى كښې تيره كړه، مدينې ته په رسيدو باندې هغوى ﷺ اوفرمائيل چه كاش زما په صحابه كرامو كښې يو صالح داسې وې چه د شپې زمونږ څوكيدارى اوكړې.

د رواياتو په مينځ كښې تعارض اود هغې حل: د باب په روايت كښې هم دا راغلى دى چه حضور ﷺ يوه شپه په بيدارئى كښې تيره كړه، په دې كښې د بيدارئى زمانه نه ده بيان كړې. نو د حديث ظاهرى مفهوم خوهمدغه دې چه د بيدارئى واقعه په مدينه منوره كښې د راتلونه وړاندې ده اود هغوى ﷺ قول "ليت رجلا من اصحابي صالحا..." روستو دې.

خو همدغه روايت امام مسلم رحمه الله هم په خپل "صحيح" كښې ذكر كړيدې، په دې كښې ليث عن يحيى بن سعيد په طريق باندې داسې مروى دى: "سهر رسول الله صلى الله عليه وسلم مقدمه المدينة ليلة فقال: ليت رجلا صالحا من اصحابي يحرسني الليلة" (۶)

...بقيه حا شيه] باب قوله صلى الله عليه وسلم: ليت كذاكذا رقم (۷۲۳۱) ومسلم كتاب فضائل الصحابة باب فضل سعدبن ابى وقاص رضى الله عنه رقم (۶۲۳۰-۶۲۳۲) والترمذى ابواب المناقب باب مناقب سعدبن ابى وقاص رضى الله عنه رقم (۳۷۵۶)

۱) (د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ كتاب الحيض باب مباشرة الحائض-

۲) (حواله بالا-

۳) (كشف البارى (ج ۲ ص ۳۲۱) وايضًا انظر كشف البارى (ج ۱ ص ۲۳۸)-

۴) (د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ كتاب تقصير الصلاة باب صلاة التطوع على الدواب....-

۵) (كشف البارى (ج ۱ ص ۲۹۱)-

۶) (صحيح مسلم كتاب فضائل الصحابة، باب فضل سعدبن ابى وقاص رضى الله عنه رقم (۶۲۳۱)-

نود صحیح مسلم روایت په دې باب کښې صریح دې چه د بیدارنې او قول دواړو زمانه د مدینې منورې د راتلونه پس ده.(۱) د دې دپاره به د مسلم روایت د بخاری د روایت په مقابله کښې راجح وی ځکه صریح په غیر صریح باندې راجح وی. د صحیح مسلم چه کوم روایت دې د هغې تائید د امام نسائی د دې روایت نه کیږی چه هغوی د ابواسحاق الفزاری عن یحیی بن سعید په طریق سره نقل کړیدې.په دې کښې دی: "کان رسول الله صلی الله علیه وسلم فی اول ما قدم المدینة یسهر من اللیل" (۲)

د امام بخاری رحمه الله د باب حدیث د متن متعلق به دا اوونیلې شی چه په دې کښې تقدیم او تاخیر دې. متن په اصل کښې داسې دې: ((سمعت عائشة رضی الله عنها تقول: لما قدم النبی صلی الله علیه وسلم المدینة سهر لیلة))(۳)

دغه شان د ټولو روایاتو په مینځ کښې به تطبیق اوشی ځکه چه حدیث یو او راوی هم یوه یعنی حضرت عائشه رضی الله عنها ده. (۴)

د قدوم مدینه نه څه مراددې؟: اوس دلته په دې خبره هم پوهه شنی چه په حدیث کښې قدوم مدینه نه نبی علیه السلام مدینې ته اولنې تشریف راوړل چه د هجرت نه پس شوی مراد نه دې ځکه چه هغه وخت حضرت عائشه رضی الله عنها حضور اکرم صلی الله علیه وسلم کره نه وه. نه حضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه وو، بلکه د یو سفروغیره تشریف راوړل مراد دی. (۵)

د دې دلیل هغه روایت دې کوم چه امام احمد په خپل مسند کښې "یزیدبن هارون عن یحیی بن سعید" په طریق سره نقل کړې دې، د هغې الفاظ دا دی:

"ان رسول الله صلی الله علیه وسلم سهر ذات لیلة وهی الی جنبه قالت: فقلت: ماشانك یا رسول الله؟...."(۶)

یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه شپه بیدار پاتې شو او حضرت عائشه د هغوی صلی الله علیه وسلم په اړخ کښې وه. حضرت عائشه فرمانی،ما اوونیل یا رسول الله تاسو ته څه پریشانی ده؟

معلومه شوه چه په حدیث کښې قدوم مدینه نه د هجرت نه پس ړومبې قدوم مراد نه دې بلکه دا د یو بلې موقع واقعه ده.

قوله: اذا سمعنا صوت سلاح، فقال: من هذا؟ فقال: انا سعد بن ابی وقاص جئت لاحرسك فنام النبی صلی الله علیه وسلم: په دې وخت کښې مونږ د وسلې آواز واوریدو نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل دا څوك دی؟ نو جواب ورکړیشو زه سعدبن ابی وقاص یم ستاسو د حفاظت د پاره راغلې یم، نو نبی علیه السلام اوده شو.

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص ۱۷۰) وفتح الباری (ج۶ص۸۲) وارشادالساری)۵ص۸۶)-
۲) (سنن النسائی الکبری (ج۵ص ۶۱)کتاب المناقب سعدبن مالک رضی الله عنه رقم (۸۲۱۷/۳)-
۳) (عمدة القاری (ج ۱٤ص ۱۷۰)-
٤) (عمدة القاری (ج ۱٤ص ۱۷۰)-
۵) (فتح الباری (ج ۱ص ۸۲) وعمدة القاری (ج ۱٤ص ۱۷۰) وشرح القسطلانی(ج۵ص۸۶)-
۶) (مسندالامام احمدبن حنبل (ج۶ص ۱٤۱)-

په صحيح مسلم کښې د ليث په طريق کښې دا هم ذکر دی چه رسول الله ﷺ د سعدبن ابی وقاص نه تپوس اوکړو چه ولې راغلې ئې؟ نو هغه جواب ورکړو "وقع فی نفسی خوف علی رسول الله صلی الله علیه وسلم، فجئت احرسه، فدعاله رسول الله صلی الله علیه وسلم" (۱)
زما په زړه کښې د رسول الله ﷺ متعلق دا انديښنه پيدا شوه نو زه د هغوی د حفاظت د پاره حاضرشوې يم، نو رسول الله ﷺ هغه ته دعاګانې اوکړې.

يوسوال اود هغې جوابونه: اوس دلته يو سوال دا پيداکيږی چه په قرآن کريم کښې خو الله تعالی دا فرمائيلې دی ﴿والله يعصمك من الناس﴾ اوالله تعالی به د خلقو د شر نه د ستاسو ﷺ حفاظت کوی نود الله تعالی د خصوصی حفاظت اونګرانئی کښې د کيدلو باوجود د نور حفاظت څه ضرورت دې؟(۲)

علامه ابن بطال رحمه الله د دې پورتنی سوال باره کښې جواب ورکړيدې چه په حديث کښې دا مذکوره واقعه د قرآن کريم د دې پورتنی آيت نه وړاندې ده. حديث (۳) کښې راغلی دی چه کله دا پورتنې آيت نازل شو نو نبی کريم ﷺ د شپې خپل حفاظت پريخودې وو.(۴)

علامه ابن بطال رحمه الله د قول خلاصه دا ده چه په حديث باب اودغه شان نورو احاديثوکوم کښې چه نبی اکرم ﷺ د حفاظت او نګرانئی ذکر کړيدې هغه په دې پورتنی آيت سره منسوخ دی. (۵)

خو علامه قرطبی رحمه الله فرمائی چه د باب حديث ته د منسوخ وئيلو هډو ضرورت نشته ځکه چه په آيت مبارك کښې څه داسې خبره نشته چه د حراست او حفاظت نفی کوی لکه چه الله تعالی خپل دين په نورو اديانو باندې غالب ظاهرولوسره د دې خبرې نفی نه کوی چه قتال اوکړئی او د هغې د پاره لښکر تيار کړئی. (۶)

نوپه دې صورت کښې عصمة نه مراد فتن،ګمراهی اودځان د ضائع کيدو نه حفاظت دې.(۷)

د نبی اکرم ﷺ محافظينِ صحابه کرام: په رواياتوکښې د نبی کريم ﷺ حفاظت کونکی صحابه کرامو تعداد تقريباً د شلو پورې مروی دی. په کوموکښې چه د بعض صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين نومونه دا دی:

---

۱) (صحيح مسلم كتاب فضائل الصحابة باب فضل سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه رقم (۶۲۳۱)-
۲) (عمدةالقاری (ج ۱٤ص ۱۷۰)-
۳) (وقد روی الترمذی من طريق عبدالله بن شقيق عن عائشه رضی الله عنهاقالت:كان النبی صلی الله عليه وسلم يحرس حتی ينزلت هذه الاية ﴿والله يعصمک من الناس﴾ فاخرج رسول الله صلی الله عليه وسلم رأسه من القبة. فقال لهم: أيهاالناس انصرفوافقد عصمنی الله. الجامع للترمذی كتاب تفسيرالقران باب:ومن سورة المائدة رقم (۳۰٤۶)-
٤) (شرح ابن بطال(ج۵ص۸۲)-
۵) (فتح الباری (ج۶ص۸۲)-
۶) (حواله بالاوعمدة القاری(ج ۱٤ص ۱۷۰)-
۷) (فتح الباری (ج۶ص۸۲)-

حضرت سعدبن معاذ، محمدبن مسلمه، زبير، ابوايوب الانصارى، ذكوان بن عبدقيس، درع السلمى، محجن بن ادرع، عبادبن بشير، عباس بن عبدالمطلب او ابوريحانه رضى الله عنهم اجمعين.(۱)

دَ حديث نه مستنبط فائدي: علامه مهلب رحمه الله فرمائي چه دَ حديث نه دا خبره فائده وركونكې معلومه شوه چه بادشاه له دَ دښمن دَ حفاظت او دَ خپل بچاوْ دَ پاره حفاظت او څوكيدارئ انتظام كول پكار دى. تاسو دَ رسول الله ﷺ فعل ته اوګورئى سره دَدې چه هغوى ته دا خبره معلومه وه چه الله تعالى به دَ هغوى په ذريعه خپل دين پوره كوى اود هغوى په ذريعه به دَ الله تعالى كلمه اوچتوى(او ښكاره خبره ده چه تركومې دَ رسالت دَ ادائيګئى فريضې كار پوره شوې نه وى نو هغوى ته څوك نقصان نشى رسولې) ليكن نبى عليه السلام دَ خپل حفاظت اهتمام كولو دې دَ پاره چه دښمن ناځاپى حملې اونه كړى اود حمله نه اود هغې دَ تكليفونونه حفاظت ممكن شى. (۲)

بله دا خبره هم فائده منده شوه چه خلقو له پكار دى چه هغوى دې پخپله هم دَ خپل بادشاه دَ حفاظت انتظام او اهتمام اوكړى، چه چرته داسې نه وى چه په بې خبرئى كښې دښمن ته دَ څه قسم نقصان رسولو موقع ملاوْ نشى.(۳)

دَ حديث دَ باب دَ ترجمه سره مطابقت: دَ باب ترجمه سره دَ حديث مطابقت په دې جمله كښې دى. "من يحرسنى الليلة..."

ليكن په دې دا اعتراض كيږى چه په حديث كښې خو "الغزوفى سبيل الله" دَ سره نه څه ذكر نشته، په دې كښې مذكوره واقعه خو دَ حضر ده نه چه دَ غزوې او ترجمه غزوة فى سبيل الله ده؟

دَ دې اعتراض په جواب كښې علامه عينى رحمه الله فرمائى چه سفر وى كه حضر نبى اكرم ﷺ به هميشه دَ الله تعالى په لاركښې وو،نو په دې وجه دَ دې اعتراض هيڅ معنى نشته. (۴)

۲۷۳۰: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا أَبُو بَكْرٍ يَعْنِي ابْنَ عَيَّاشٍ عَنْ أَبِي حَصِينٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(۵) عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ وَالدِّرْهَمِ وَالْقَطِيفَةِ وَالْخَمِيصَةِ إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ وَإِنْ لَمْ يُعْطَ لَمْ يَرْضَ قَالَ ابوعبدالله لَمْ يَرْفَعْهُ إِسْرَائِيلُ وَمُحَمَّدُ بْنُ جُحَادَةَ عَنْ أَبِي حَصِينٍ

---

۱) (شرح القسطلانى (ج۵ص۸۶) وحاشية السهارنفورى على صحيح البخارى (ج۲ص۱۰۷۴)-

۲) (شرح ابن بطال (ج۵ص۸۲)-

۳) (حواله بالا-

٤) (عمدة القارى (ج١٤ص١٧٠)-

۵) (قوله: عن ابى هريرة رضى الله عنه: الحديث اخرجه البخارى ايضًا (ج۱ص۴۰۴) كتاب الجهاد نفس الباب الذى نحن فيه رقم (۲۸۸۷) و (ج۲ص۹۵۲) كتاب الرقاق باب مايتقى من فتنة المال رقم (۶۴۳۵) وابن ماجه أبواب الزهد باب فى المكثرين رقم (۴۱۳۵-۴۱۳۶)-

تراجم رجال

۱- یحیی بن یوسف: دا ابویوسف یا ابوزکریا یحیی بن یوسف بن ابی کریمة الزمی الرقی رحمه الله دي. (۱)
دَ هغوی تعلق دَ خراسان یو کلی "زم" سره وو لیکن روستو هغوی په بغداد کښې استوګنه اختیارکړه. (۲)
دا دَ عبدالله بن ادریس، عبیدالله بن عمروالرقی، عیسی بن یونس، ابو معشرالمدنی، ابوبکربن عیاش، خلف بن خلیفه، ابولاحوص اوامام وکیع رحمهم الله وغیره نه دحدیث روایت کوی.
او دَ هغوی نه روایت کونکوکښې امام بخاری، ابن ماجه، ابوزرعه دمشقی، ابوحاتم رازی، محمدبن اسحاق صنعانی، عثمان بن خرزاذ، عباس الدوری، حنبل بن اسحاق، عبدالله بن حماد آملی، ابوبکربن ابی الدنیا، محمدبن غالب تمتام، ابوبکربن ابی خیثمه او احمدبن حسن بن عبدالجبار صوفی رحمهم الله وغیره شامل دی. (۳)
ابن ابی حاتم رحمه الله فرمائی "سألت أبي عنه، فقال: کتبنا عنه بالری قدیما ثم کتبنا عنه ببغداد وسألت أحمدبن حنبل عنه، فأثنی علیه، قلت لأبي: ماقولك فیه؟ قال: هوعندی صدوق" (۴)
دَ دې عبارت خلاصه دا ده چه ابن ابی حاتم فرمائی ما دَ خپل پلار نه دَ هغه باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی اووئیل چه مونږ دَ هغه نه ری او بغداد دواړو ځایونوکښې حدیث اوریدلی دی، امام احمد بن حنبل رحمه الله هم دَ هغه تعریف کړیدې. ما دَ خپل پلار ابوحاتم نه تپوس اوکړو نو هغوی اووئیل چه هغه زما په نزد صدوق دې.
امام ابوزرعه رحمه الله فرمائی ((هوثقة))(۵)
امام ذهبی رحمه الله هغوی په دې الفاظوسره یاد کړی دی.((الامام الحافظ الحجة ....وکان من کبار المحدثین الرحالة))(۶)
ابن قانع رحمه الله فرمائی ((وکان ثقة))(۷)
او ابن حبان رحمه الله هم هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړیدې. (۸)
په اصحاب اصول سته کښې دَ امام بخاری رحمه الله نه علاوه امام ابن ماجه هم دَ هغه نه روایات

---

۱) (تهذیب الکمال (ج۳۲ص۶۰) وطبقات ابن سعد (ج۷ص۳٤۸)-
۲) (تهذیب الکمال (ج۳۲ص۶۰-۶۱) وعمدةالقاری(ج۱٤ص۱۷۱)-
۳) (شیوخ او تلامذه دَ پاره اوګورئ تهذیب الکمال (ج۳۲ص۶۰-۶۱)-
٤) (تهذیب الکمال(ج۳۲ص۶۱) والجرح والتعدیل (ج۹ص۲٤۷)رقم (۱۶٤۸۷/۸۳۲)-
۵) (تهذیب الکمال (ج۳۲ص۶۱) وسیرأعلام النبلاء(ج۱۱ص۳۸)-
۶) (سیرأعلام النبلاء (ج۱۱ص۳۸)-
۷) (تهذیب التهذیب (ج۱۱ص۳۰۸)-
۸) (الثقات لابن حبان (ج۹ص۲۶۲)-

اخستې دی. (۱) او په صحيح بخارى كښې د هغوى نه صرف څلور احاديث مروى دى. (۲) دَعباسى خليفه ((واثق بالله)) په دورخلافت كښې بغداد كښې ۲۲۵ه انتقال شو (۳) بو قول ۲۲۹ه هم دې (۴) رحمه الله تعالى رحمة واسعة

۲- **ابوبكر:** دا ابوبكر عياش الخياط المقبرى رحمه الله دې. (۵)

۳- **ابوحصين:** دا ابوحصين عثمان بن عاصم الاسدى رحمه الله دې. (۶)

۴- **ابوصالح:** دا ابوصالح ذكوان السمان رحمه الله دې. دَدوى مختصرذكره ((كتاب الإيمان باب امورالإيمان)) لاندې تيره شويده. (۷)

۵- **ابوهريره رضي الله عنه:** دامشهورصحابى رسول، حضرت ابوهريره رضي الله عنه دې دَ دوى مفصل تذكره هم ((كتاب الإيمان)) دَ مذكوره باب لاندې راغلې ده. (۸)

قوله: عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: تعس عبدالدينار والدرهم والقطيفة والخميصة، إن أعطى رضي، وإن لم يعط لم يرض: حضرت ابوهريره رضي الله عنه دَ نبى اكرم صلى الله عليه وسلم نه نقل كوى چه هغوى فرمائيلى دى دَ دينار غلام، دَ درهم غلام، دَ جاليدار څادر غلام او دَ خميصه غلام هلاك شو، كه چرې هغه ته څه وركولې شى نو خوشحاليږى او كه نه نشى وركولې نو خفه كيږى.

قوله: قال أبوعبدالله: لم يرفعه إسرائيل ومحمد بن جحادة عن أبي حصين: امام بخارى رحمه الله فرمائى: اسرائيل (۹) او محمدبن جحاده (۱۰) دَ ابوحصين په واسطه سره دا روايت مرفوعًا نه دې بيان كړې.

دَ پورتنى عبارت مطلب: په دې عبارت كښې امام بخارى رحمه الله دا بيان كړيدې چه حضرت ابوهريره رضي الله عنه دَ باب كوم روايت دې دا اسرائيل بن يونس او محمدبن جحاده رحمهما الله موقوفا

---

۱) (تهذيب الكمال (ج۳۲ص۶۲) اعلم أن العلماة العينى رحمة الله عليه عمدة القارى (ج۱٤ص۱۷۱) عده من أفراد البخارى فحسب ولكن كما ترى أن المزى عده من رجال ابن ماجه أيضًا وهو الصحيح-

۲) (تهذيب التهذيب (ج۱۱ص۳۰۸)-

۳) (تهذيب الكمال (ج۳۲ص۶۱)-

٤) (حواله بالا وسير أعلام النبلاء (۱۱ص۳۹)-

۵) (دَ دوى دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ كتاب الجنائز باب ماجاء فى قبر النبى صلى الله عليه وسلم-

۶) (دَ دوى دَ حالاتو دَپاره اوګورئ كتاب العلم باب أثم من كذب على النبى صلى الله عليه وسلم-

۷) (كشف البارى (ج۱ص۶۵۸)-

۸) (حواله بالا(ص۶۵۹)-

۹) (دَدوى دَ حالاتو دَ پاره اوګوره كتاب العلم باب من ترك بعض الاختيار مخافة أن يقصر....-

۱۰) (دَدوى دَ حالات دَ پاره اوګوره كتاب الإجارة، باب كسب البغى-

نقل كړيدي. په اصل كښې داحديث ابوحصين نه اسرائيل بن يونس، قاضي شريك، قيس بن الربيع، مهربن جحاده او ابوبكر بن عياش رحمهم الله روايت كړيدي.
كوم كښې چه اسرائيل بن يونس او محمدبن جحاده روايت موقوف على ابى هريره ګرځولې دې يعنى حديث نى د ابوهريره رضي الله عنه قول ګرځولې دې. او ابوبكر بن عياش رحمه الله حديث ته مرفوع وئيلې دې او قاضى شريك او قيس بن الربيع هم د ابوبكر بن عياش په دې خبره كښې ملګرتيا كړې ده چه دا حديث مرفوع دې. (۱)

راجح موقوف دې كه مرفوع؟ اوس سوال دا پيدا كيږى چه د دې حديث حكم څه دې اودا حديث موقوف دې كه مرفوع؟
حافظ ابن حجر رحمه الله د دې جواب فرمائى:
((إسرائيل أثبت منهم، ولكن اجتماع الجماعة يقاوم ذلك، وحينئذ تتم المعارضة بين الرفع والوقف، فيكون الحكم للرافع....)) (۲)
اسرائيل د هغوى په مقابله كښې اثبت دې البته د هغه په مقابله كښې يو ډله ده په دې وجه دا ډله د هغه مقابله كولې شى، په داسې صورت كښې به د رفع او وقف معارضه وى او رفع ته به ترجيح وركولې شى.

وَزَادَنَا عَمْرٌو قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ وَعَبْدُ الْخَمِيصَةِ إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ وَإِنْ لَمْ يُعْطَ سَخِطَ تَعِسَ وَانْتَكَسَ وَإِذَا شِيكَ فَلَا انْتَقَشَ طُوبَى لِعَبْدٍ آخِذٍ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَشْعَثَ رَأْسُهُ مُغْبَرَّةٍ قَدَمَاهُ إِنْ كَانَ فِي الْحِرَاسَةِ كَانَ فِي الْحِرَاسَةِ وَإِنْ كَانَ فِي السَّاقَةِ كَانَ فِي السَّاقَةِ إِنِ اسْتَأْذَنَ لَمْ يُؤْذَنْ لَهُ وَإِنْ شَفَعَ لَمْ يُشَفَّعْ قال ابوعبدالله لم يرفعه اسرائيل ومحمد بن جحادة عن أبي حصين وَقَالَ فَتَعْسًا كَأَنَّهُ يَقُولُ فَأَتْعَسَهُمُ اللَّهُ طُوبَى فُعْلَى مِنْ كُلِّ شَيْءٍ طَيِّبٍ وَهِيَ يَاءٌ حُوِّلَتْ إِلَى الْوَاوِ وَهِيَ مِنْ يَطِيبُ [۲۰۷۱]

تراجم رجال

۱- عمرو: داعمرو بن مرزوق بصرى رحمه الله دې.(۳)

۲- عبدالرحمن بن عبدالله بن دينار: دا عبدالرحمن بن عبدالله بن دينار العدوى المزنى رحمه الله دې. (۴)

---

۱) (فتح البارى (ج۱۱ص ۲۵۴)-
۲) (حواله بالا-
۳) (ددوى دحالاتو د پاره اوګورئ كتاب الغسل باب إذاالتقى الختانان-
۴) (ددوى دحالاتو د پاره اوګورئ كتاب الوضوء باب إذا شرب الكلب فى إناء أحدكم...-

۳-أبيه: "ابيه" نه مراد ابوعبدالرحمن عبدالله بن دينار قرشي عدوى رحمه الله دي. دَ دوى حالات ((كتاب الإيمان باب أمور الإيمان)) لاندې تيرشوى دى.(۱)

۴-ابوصالح: مخکينې سنداوګورئى (۲)

۵-ابوهريرة رضي الله عنه: مخکينې سنداوګورئى (۳)

قوله: عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: تعس عبدالدينار وعبدالدرهم وعبدالخميصة:

دَ دې څيزونود غلامئى مطلب: په حديث شريف کښې راغلى دى چه دَ دينار، درهم او خميصه غلام هلاك شونودَ دې مطلب دا شو چه سړې دَ دې څيزونو حاصلولو او طلب دَ پاره هروخت په کوشش کښې وى، الله تعالى اودَ هغه احکامات هيرکړى اودَ هغه ټول کوشش هم دَ مال زياتى کښې تيرشى نو لکه چه هغه دَ مال، دينار او درهم غلام دې اوهم دَ دې څيزونو په حاصلولوکښې داسې مصروف دې لکه چه هغه بنده اودا څيزونه دَ ده رب دى اودَ دواړو په مينځ کښې دَ آقااو غلام تعلق دې. (۴)

بيا دلته چه دا په حديث کښې دَ دينار، درهم، **خميصه** او **قطيفه** ذکر راغلې دې نودَ دې څيزونو تخصيص مراد نه دې بلکه مطلقاً مال مراد دې.

((**الخميصة**)) هغه څادر ته وائى چه تور وى مربع وى او په دې باندې مختلف قسم کرخې جوړې شوې وى.(۵)

((**القطيفة**)) مخملى څادر ته وائى اودَ دې جمع قطائف ده. (۶)

قوله: إن أعطي رضي، وإن لم يعط سخط: که هغه له ورکړيشى نو راضى کيږى او که ورنه کړيشى نو خفه کيږى. مطلب دا چه دَ حقيقى خالق دَ طرف نه داسې سړى ته انعام ورکړيشى، هغه ته بنه مال دولت ورکړيشى نو راضى او خوشحاله اوسيږى او که هم دَ دغه خالق دَ طرف نه ورته کله ناکله دَ ده په رزق کښې تنګي پيدا کړيشى نو دَ خپل خالق نه ناراض کيږى، دَ داسې سړى متعلق دا وينا کول چه دَ دينار او درهم غلام دې. بالکل صحيح او درست ده. اوپه داسې صورت کښې دَ داسې سړى دَ پاره دَ هلاکت دعا کول هم ضرورى دى ځکه چه هغه په خپل اعمالودَ فانى دنيا حصول موقوف اوساتل اودَ آخرت دَ

---

۱) (کشف البارى (ج۱ص۶۵۸) و(ج۳ص۱۲۵)-
۲) (کشف البارى (ج۱ص۶۵۸)-
۳) (حواله بالا (ص۶۵۹)-
٤) (شرح ابن بطال (ج۵ص۸۳)-
۵) (عمدة القارى (ج۱٤ص۱۷۲)-
۶) (حواله بالا-

هیشه پاتې کیدونکې ژوند دپاره ئې د نعمتونو حاصلولو کوشش پرېخودو او د هغې د پاره ئې عمل کول پرېخودل.(١)

که غورسره اوکتې شي نو زمونږ په زمانه کښې هم دَ داسې خلقو کمې نشته چه دَ الله تبارك وتعالى دَ طرف نه لرېغوندې تکليف او مشقت باندې سخت غصه کيږي، تقدير ته خيرې کوی نو دَ کافرانو نه خو ګيله کول بې ځايه دی، زمونږ دَ اکثرو مسلمانانو دا حال دې، اوبه دې کښې هم زمونږ خپل قصور دې،اعمال داسې دی چه په کتلو ورته شرم راځي. اوبيا دَالله تعالى دَ نصرت اودَهغه دَطرف نه دَ رزق دَزياتوالى هم اميدواريو. فإلى الله المشتكى.

((تعس وانتکس)):داسې سړې هلاك او برباد شو.

په دې جمله کښې دَ داسې سړی دَ پاره خيرې دی چه دَ مال او دولت غلام جوړشی او هم دَ هغې شی او خپل خالق او مالك ئې هيرکړو نوداسې سړې هلاك او برباد دې.

دَتعس صرفی اومعنوی تحقيق: کلمه "تعس" تعساوتعسًانه دَ فعل ماضی مذکر غائب صيغه ده، دَ دې اکثر استعمال باب ((سمع)) نه کيږی او باب ((فتح)) نه هم استعماليږی.(٢)

دَ لغت مختلفو امامانو دَ دې کلمه مختلف معنې بيان کړی دی ليکن دَ دې ټولو مرجع او حاصل يودې په دې وجه مونږ هم دا اختيار کړه او په ترجمه کښې مو دَ دې ټولومعنو جامع لفظ "هلاکت" واخستو. (٣) .

دَ انتکس صرفی اولغوی تحقيق: او "انتکس" باب "افعال" نه فعل ماضی مذکرغائب صيغه ده. دَ دې مجرد نکس دې او دَ نکس معنی په قول دَ رستمی "سردَ لاندې راغورزيدل" مراد دلته هم هلاکت دې.(٤)

((وإذا شيك فلاانتقش)):او چه په هغه کښې چرته ازغې ننوتلو هغه راونه وتلو.

بيا دلته نبی اکرم ﷺ دَ تاکيد په توګه دَ هغه سړی دَپاره دا جمله هم دَ خيرو په توګه ارشاد اوفرمائيله چه که هغه کښې چرته ازغې خښ شي نو هغه ته په نوسی (دَ ازغی دَ راويستلو آله) باندې دَ راويستلو توفيق دې نه وی، چه هغه دَ دينارونو او درهمونو دَ طلب او سعی نه منع شی. (٥)

اوکله انتقاش دَ استعارې په توګه دَ توبې دَ پاره هم استعماليږی، په دې صورت کښې به دَ مذکوره جملې مطلب دا وی چه داسې سړی ته دې د توبې توفيق نه وی. (۶)

---

١) (شرح ابن بطال (ج٥ص٨٣) وعمدة القاری(ج ٤ ص١٧٢)-

٢) (فتح الباری (ج۶ص٨٢)-

٣) (فقال العلامة ابن بطال رحمة الله عليه: التعس: ألاينتعش. ولايفيق من عثرته....هذا قول الخليل وقال ابن الأنباری: التعس: الشر. هذاقول المبرد. وقال غيره: التعس: البعد. وقال الرستمي: التعس أن يخر على وجهه. قال: رانعس ايضاً: الهلاک. شرح ابن بطال (ج٥ص٨٣)-

٤) (قال الرستمی: النکس: ان يخرعلی رأسه شرح ابن بطال (ج٥ص٨٣)-

٥) (حواله بالا واعلام الحديث للخطابی (ج٢ص١٣٨٨) وتاج العروس (٤ص٣٥٩) مادة نقش-

۶) (مصباح اللغات (٩٠٢)مادة نقش-

قوله: طوبی لعبد آخذ بعنان فرسه في سبیل الله أشعث رأسه مغبرة قدماه: دَ داسې سړی دپاره دې زیرې او خوشخبری وی چه د الله تعالی په لارکښې دَ خپل اس واګه نې نیولې وی د هغه د سر ویښته بیر اود هغه قدمونه په خاورو ککړ وی.
په دې جمله کښې نبی اکرم ﷺ دَ جهاد او داسې اعمالوچه په دنیا او آخرت کښې فائده ورکړی ترغیب ورکړیدې. (۱)

دَ "اشعث راسه" اعراب: ((أشعث)) مجرور بالفتحه دې ځکه چه دا غیرمنصرف دې او دا لفظ چونکه دَ عبد صفت دې په دې وجه مجرور دې. (۲)

علامه طیبی رحمه الله ((أشعث)) ته منصوب بنابرحال وئیلې دې. (۳)

او ((رأسه)) دَ اشعث دَ فاعل کیدو په وجه مرفوع دې. (۴)

خودَ ابوذر په نسخه کښې ((أشعث)) مرفوع راغلې دې نو علامه کرمانی رحمه الله او بعض نورو دَ دې توجیه داسې کړې چه ((أشعث)) چونکه دَ ((رأسه)) صفت دې نو په دې وجه مرفوع دې او تقدیر دَ عبارت داسې دې. ((رأسه أشعث)) (۵)

خو علامه عینی رحمه الله دَ علامه کرمانی رحمه الله او بعضو په دې توجیه باندې رد کړیدې. او فرمائی چه کرمانی او بعضو څه وئیلی دی هغه دَ نحاة په نزد صحیح نه دی او ((رأس)) دَ أشعث فاعل دې او هغه صفت څنګه واقع کیدیشی حالانکه موصوف په خپل صفت باندې متقدم نه وی او بعضو چه دَ عبارت کوم تقدیر بیان کړیدې دَ هغې نه خو دا لازم راځی چه ((أشعث)) نه پس چه کوم ((رأسه)) دې هغه ملغی اوګرځولې شی، (۶)

او دَ ((مغبرة قدماه)) په اعراب کښې هم هغه تفصیل دې کوم چه ((أشعث رأسه)) کښې دې. (۷)

قوله: إن كان في الحراسة كان في الحراسة، وإن كان في الساقة كان في الساقة: که هغه په څوکې او پهره ورکولو کښې وی نو هم په پهره ورکولو کښې دې وی او که هغه دَ لښکر په آخری حصه کښې وی نو هم دَ لښکر په آخری حصه کښې دې وی.
دا ځایونه دَ داسې مواضعو نه دی چه چرته شرط او جزاء متحد دی لیکن معنی دَ هریو دَ بل نه مختلف ده او تقدیر عبارت داسې دې:

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص۸۳) وشرح ابن بطال (ج۵ص۸۳)-
۲) (شرح القسطلانی (ج۵ص۷۸)-
۳) (حواله بالا وشرح الطیبی (ج۵ص۲۸۸)-
۴) (ارشاد الساری (ج۵ص۸۷)-
۵) (فتح الباری (ج۶ص۸۳)وشرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۵۹)-
۶) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۷۲)-
۷) (فتح الباری (ج۶ص۸۳)-

إن کان المهم فی الحراسة کان فیها، وإن کان المهم فی الساقة کان فیها:(۱) یعنی که دَ لښکر څوکۍ او پهره ورکولو دَ وخت تقاضا او مهم وی نو هم په هغې کښې وی او که مهم او ضروری دَ لښکر په آخری حصه کښې موجودګی وی نو هم هلته وی.
او علامه عینی فرمائی چه مطلب دا دې چه هغه سړی ته دَ کوم کار حکم ورکولې شی هغه پوره کوی او چه کوم ځائ دې هم اودرولو دَ خپل ځائ نه نه خوزیږی کلک ولاړ وی. که هغه ته دَ مقدمة الجیش حفاظت ورکړیشی نو هم هلته به وی او که دَ لښکر دَ روستونی حصې دَ خیال ساتلو ورته اوونیلې شی نو دَ هغې نه هم انکار نه کوی.(۲)
دلته اوس اوونیلې شو چه دلته دَ جزاء تعظیم او فخامت باندې دلالت دې او مطلب دا دې چه که هغه په ساتنه او پهره کښې وی نو هغه په یو عظیم کارکښې مشغول دې او مراد دَ دې نه دَ دې لازم دې یعنی داسې سړی له پکار دی چه دَ حراست او ساتنې لوازم پوره کړی او دَ خپل کار اوفرض پوره کولوکښې په پوره چالاکئی سره مشغول وی. (۳)
او علامه ابن جوزی رحمه الله فرمائی چه مطلب دا دې چه هغه دَ مشهورتیانه بچ کیږی.دَ رفعت او اوچتوالی غوښتونکې نه وی، خپل کار سره کار لری، نولکه چه دَ نبی اکرم ﷺ مقصد دا دې که هغه په څوکئی کښې وی نو په هغې کښې مشغول اوسی او که دَ لښکر په روستونئ حصه کښې هغه اولګولې شی نو هم هلته وی یعنی په هر حال کښې خوشحاله وی او چه کومه ذمه واری هم هغه ته حواله کړیشی هغه پوره کوی.(۴)
دَ مقدمة الجیش او موخرالجیش دَ تخصیص بالذکر وجه: په حدیث کښې دَ شارحینو مطابق حراست نه مراد مقدمة الجیش یعنی دَ لښکر دَ وړاندینئ حصې څوکئی ده. او دَ ساقه نه مراد دَ لښکر آخری حصه ده. (۵)
نودلته صرف دَ لښکر په دوو حصو باندې اکتفاء شویده او دا دواړه ئې په خاص توګه ذکر کړې نودَ دې تخصیص وجه علامه طیبی رحمه الله او علامه عینی رحمه الله وغیره دا ذکر فرمائیلې دی چه دَ دې دواړو حصو په ساتنه کښې مشقت او تکلیف ډیر دې، اول خو هغه وخت وی چه کله مسلمان دَ میدان جنګ نه اوځی نو ښکاره خبره ده چه هم په دې وختونوکښې لښکر ته ډیره خطره وی.(۶)

قوله: إن استأذن لم یؤذن له، وإن شفع لم یشفع له: که هغه اجازت غواړی(دَ چا دَ ملاقات وغیره دَ پاره) نوچه هغه ته اجازت هم ملاونشی اوکه هغه دَ چا سفارش اوکړی نو دَ هغه سفارش هم قبول نه کړې شی ــ

---

۱) (حواله بالا-
۲) (عمدة القاری (ج ۱۴ص ۱۷۲)-
۳) (فتح الباری (ج ۶ص ۸۳) وعمدة القاری (۱۴ص ۱۷۲) وشرح الطیبی (ج ۹ص ۲۸۸)-
۴) (فتح الباری (ج ۶ص ۸۳)-
۵) (شرح الکرمانی (ج ۱۲ص ۱۵۶)-
۶) (عمدة القاری (۱۴ص ۱۷۲) وشرح الطیبی (ج ۹ص ۲۸۸)-

په دې جمله كښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چه دا سړې د دنيا او د دنيا د خلقو طرف ته ځه التفات او توجه نه وركوى، هغه خپل نفس بالكل فنا كړى دې نه د هغه دمال طلب دې اونه د خلقو د نزديكت او شان او شوكت خواهش مند دې. بلكه د هغه شان او شوكت خو الله تعالى سره دې، خلق خود چا باره كښې د هغه سفارش هم نه قبلوى ليكن د الله تعالى په نزد د هغه دا حيثيت دې چه د هغه شفاعت هم قبلولې شى اود هغه باره كښې هم سفارش قبلولې شى.(۱)

قوله: وقال: تعسا، كأنه يقول: فأتعسهم الله: اوامام بخارى ﷺ وئيلې چه په (قرآن مجيد كښې) **تعسا،** ((**فأتعسهم الله**)) الله تعالى دې هغوى هلاك كړى په معنى كښې دې د امام بخارى ﷺ دا پورته ذكرشوې قول صرف د مستملى په نسخه كښې موندلې شى.(۲) اود امام بخارى ﷺ دا معروف عادت دې چه په حديث كښې يو لفظ راغلې وى او هغه لفظ په قرآن كريم كښې هم استعمال شوى وى نو د هغې تفسير او توضيح كوى. (۳)

هم د دې عادت مطابق دلته هم امام بخارى ﷺ د قرآن مجيد د آيت مبارك ﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا فَتَعْسًا لَّهُمْ وَأَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ﴾ (۴) كښې وارد لفظ ((فَتَعْسًا)) تفسير فرمائى چه دا ((فأتعسهم الله)) معنى كښې دې يعنى الله دې هغوى هلاك كړى همدغه تفسير نورو مفسرينو حضراتو نه هم نقل شويدې.(۵)

قوله: طوبى فعلى من كل شئ، طيب،وهى ياء حولت إلى الواو،وهى من يطيب: طوبى د فعلى په وزن دې،د هرښه ځيز دپاره.واو په اصل كښې ياء وه. بيا ياء په واوسره بدل كړو او دا د يطيب نه مشتق دې.

د لفظ طوبى صرفى اولغوى تحقيق: دلته امام بخارى ﷺ د طوبى صرفى او لغوى تحقيق فرمائيلې دې چه دا د فُعلى په وزن ده او د يطيب نه مشتق ده، په دې صورت كښې ضيبى كيدل پكار وو خود دې وجه امام صاحب دا خودلې ده چه ياء په واو سره بدله كړېشوه ځكه چه د ياء ماقبل مضموم دې چه د اومتقاضى ده،د دې دپاره ياء په واو سره بدله كړې شوه.(۶) د طوبى يوه معنى خو د جنت ده او دا هم وئيلى شوى دى چه دا د جنت د يوې ونې نوم دې(۷) خو غالبًا امام بخارى ﷺ د دې په تفسيركښې ((من كل شئ طيب)) راوړلې ارشاد ئى

---

۱) (عمدة القارى (۱٤ص۱۷۲)-
۲) (حواله بالا وفتح البارى (ج۶ص۸۳)-
۳) حواله بالا-
٤) (محمد:۸- ۞
۵) (عمدة القارى (۱٤ص۱۷۲)وفتح البارى (ج۶ص۸۲)-
۶) (ارشاد السارى(ج۵ص۸۷)-
۷) (فتح البارى (ج۶ص۸۳)-

فرمائیلي چه دَ لفظ عام معنی مراد واخستلي شی نو ډیره به بهتر وی. دغه شان که جنت وی یا دَ هغې دَ یوې ونې نوم یا نور هم څه بنه څیز وی د دې په عموم کښې به داخل شی.
دلته هم امام بخاری رحمه الله دَ خپل عادت موافق دَ قرآن کریم آیت مبارک ﴿الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ طُوْبٰى لَهُمْ وَحُسْنُ مَاٰبٍ﴾ (۱) کښې وارد لفظ ((طوبی)) تفسیر او توضیح کړیدې.(۲)
د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث ترجمة الباب سره مناسبت په دې جمله کښې دې ((طوبی لعبد آخذ بعنان فرسه فی سبیل الله)) او ((إن کان فی الحراسة کان فی الحراسة)) په دې دواړو جملوکښې دَ الله تعالی دَ لارې ساتنه او پاسبانئی باندې خوشخبری ورکړیشویده.(۳)
دَ حراست فی سبیل الله فضیلت باره کښې نورڅواحادیث: دَ الله تعالی په لارکښې حفاظت او پاسبانی کولو فضیلت په نورو احادیثوکښې هم وارد شویدې کوم چه دَ امام بخاری رحمه الله په شرطونو خو نه دی البته صحیح ضرور دی، کوم نه چه یو څومونړ په ذیل کښې نقل کوو:
① دَ حضرت عثمان رضی الله عنه مرفوع روایت دې ((حرس لیلة فی سبیل الله تعالی أفضل من ألف لیلة، یقام لیلها ویصام نهارها))(۴) دَ الله تعالی په لارکښې یوه شپه څوکئی کول دَ زرو شپوورځونه بهتراوغوره دی، په کومو شپوکښې نفلونه اداکړیشی اودَ هغې په ورځوکښې روژې اوساتلې شی.
② حضرت ابوریحانه رضی الله عنه نه مرفوعًا مروی دی ((حرمت النار علی عین سهرت فی سبیل الله))(۵) یعنی دَ دوزخ اُور په هغه سترګه حرام دې چه دَ الله تعالی په لارکښې رونړه شوې وی.
③ دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما مرفوع حدیث دې: ((عینان لاتمسهما النار: عین بکت من خشیة الله، وعین باتت تحرس فی سبیل الله)) (۶) یعنی دَ دوزخ اُور به دوو سترګوسره نه لګی، یوه هغه سترګه چه دَ الله تعالی دَ ویرې ژړیدلې وی او دوئمه هغه سترګه کومې چه دَ الله تعالی په لار کښې دَ حفاظت او پاسبانئی فریضه پوره کولوسره شپه رونړه کړې وی.
④ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه مرفوع روایت دې چه نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو ((ألاأنبئکم بلیلة أفضل من لیلة القدر حارس حرس فی أرض خوف لعله أن لایرجع إلی أهله)) (۷)

---

۱) (الرعد:۲۹-
۲) (فتح الباری (ج۶ص۸۳)-
۳) (حواله بالا وعمدة القاری (ج ۱۴ص۱۷۱)-
۴) (مسندالإمام احمد (ج ۱ص۶۱و۶۵)الترغیب للمنذری (ج۲ص ۲۵۰)-
۵)(مسندالإمام احمد (ج ۴ص ۱۳۴) والمستدرک (ج۲ص۸۳) وقال الذهبی فی تلخیصه للمستدرک: صحیح
۶) (الجامع للترمذی، أبواب فضائل الجهاد، باب ماجاء فی فضل الحرس فی سبیل الله رقم (۱۶۳۹)-
۷) (المستدرک للحاکم (ج۲ص ۸۰) کتاب الجهاد باب من رابط یوما ولیلة، وکنزالعمال (ج۳ص۳۲۳) ومن أراد الاستزادة فلیراجع الترغیب والترهیب للمنذری (ج۲ص۲۴۸) کتاب الجهاد باب الترغیب فی الحراسة فی سبیل الله تعالی-

ایا زه تاسو ته د داسې شپې باره کښې اونه ښائم چه د لیلة القدر نه هم غوره وی، هغه د هغه څوکئی کونکی (شپه ده) څوك چه په خطرناکه زمکه باندې د سرحدونو د حفاظت فریضه پوره کوی، کیدیشی چه هغه خپل بال بچ طرف ته واپس رانشی.

۷۰-بَاب: فَضْلِ الْخِدْمَةِ فِي الْغَزْوِ

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله د دې باب په ذیل کښې د غازی د خدمت فضیلت بیانول غواړی. که دا د خدمت کار د وړوکی د لوئ دپاره وی یا د لوئ د طرف نه د وړوکی دپاره پوره کړې وی یا دوه د یوعمر او یو مرتبې کسان د یو بل د پاره کوی.(۱)

اود دې باب لاندې امام بخاری رحمه الله درې احادیث ذکرکړی دی. چه تول د حضرت انس رضی الله عنه نه مروی دی. په ړومبنی حدیث شریف کښې د لوئ د وړوکی دپاره خدمت کولو ذکر دې په دونم حدیث کښې د دې برعکس دې اوپه دریم حدیث کښې د یوشان کسانو د خدمت ذکر دې. لکه څنګه چه به مونږ وړاندې د احادیثو په تشریح کښې انشاء الله بیانوو.(۲)

[۲۷۳۱] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ يُونُسَ بْنِ عُبَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ (۳) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ صَحِبْتُ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ فَكَانَ يَخْدُمُنِي وَهُوَ أَكْبَرُ مِنْ أَنَسٍ قَالَ جَرِيرٌ إِنِّي رَأَيْتُ الْأَنْصَارَ يَصْنَعُونَ شَيْئًا لَا أَجِدُ أَحَدًا مِنْهُمْ إِلَّا أَكْرَمْتُهُ

تراجم رجال

۱- **محمد بن عرعره:** دا ابوعبدالله محمدبن عرعره رحمه الله دې. د دوی حالات ((کتاب الإيمان باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهولايشعر)) لاندې تیرشویدې.(۴)

۲- **شعبه:** دا امیرالمؤمنین فی الحدیث شعبه بن الحجاج عتکی بصری رحمه الله دې، د دوی مختصر تذکره((کتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون....)) لاندې تیره شویده.(۵)

۳- **یونس بن عبید:** داابوعبیده یونس بن عبیدبن دیناربصری رحمه الله دې د دوی مختصر تذکره ((کتاب الإيمان باب ﴿وإن طائفتان من المؤمنين اقتتلوا...﴾ لاندې تیره شویده.(۶)

۴- **ثابت البنانی:** دا مشهور تابعی بزرګ ابومحمدثابت بن بنانی رحمه الله دې.

---

۱) (عمدة القاری(ج ۱۴ص ۱۷۳)وفتح الباری (ج ۶ص ۸۳)-

۲) (حواله بالا-

۳) (قوله: عن انس رضی الله عنه: الحدیث أخرجه مسلم، کتاب فضائل الصحابة باب حسن صحبة الأنصار رضی الله عنهم رقم (۶۴۲۸)-

۴) (کشف الباری (ج ۲ص ۵۵۷)-

۵) (کشف الباری(ج ۱ص ۶۷۸)-

۶) (کشف الباری(ج ۲ص ۲۲۰)-

دَ دوى تفصيلي حالات ((كتاب العلم باب القراة والعرض على المحدث)) لاندې تيرشوى.(١)

٥- انس بن مالك: دامشهور صحابى خادم رسول حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دې. دَ دوى تذكره ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه...)) لاندې تيره شويده.(٢)

قوله: قال: صحبت جريربن عبدالله، فكان يخدمني، وهوأكبر من أنس:

حضرت انس بن مالك رضي الله عنه فرمائى چه زه دَ جريربن عبدالله رضي الله عنه سره ووم نو هغه به زما خدمت كولو حالانكه هغه دَ حضرت انس رضي الله عنه نه مشروو.

دا دَ سفرواقعه ده همدغه روايت په صحيح مسلم كښې هم دې. هلته دَ سفر تصريح موجود ده. ((خرجت مع جرير بن عبدالله في سفر....))(٣)

او دَ حديث په جمله ((وهوأكبرمن أنس))كښې دوه احتمالات دى:

① دا هم دَ حضرت انس رضي الله عنه قول دې،په دې صورت كښې دلته التفات دې، يعنى ((التفات المتكلم الى الغيبة)) ځكه چه كيدل داسې پكار وو((وهوأكبرمنى)) وئيل ليكن التفات كولوسره ئې ((أكبرمن أنس)) فرمائيلې دې په دې صورت كښې به دا جمله حاليه وى. (۴)

② مسلم شريف (۵) روايت ((محمدبن المثنى عن ابن عرعرة)) په طريق كښې دا الفاظ راغلى دى ((وكان جرير أكبرمن أنس)) نوكيديشى چه دا الفاظ دَ ثابت بنانى وى نو په دې صورت كښې دا جمله معترضه به وى (۶)

قوله: قال جرير: إني رأيت الأنصار يصنعون شيئًا لاأجد أحداًمنهم إلاأكرمته:

حضرت جرير رضي الله عنه فرمائى ما انصار په يوداسې كاركولو اوليدل چه كله به هم هغوى ماسره ملاويږى زه دَ هغوى تعظيم او اكرام كوم.

دَ مسلم شريف په روايت كښې ((إنى دأيت الأنصار تصنع برسول الله صلى الله عليه وسلم شيئا)) (۷) دى، نواوس به مطلب دا وى چه ما انصار دَ رسول الله ﷺ په خدمت اوتعظيم كولوسره اوليدل، دَ دې دپاره چه زه كله چا انصارى صحابى سره ملاويږم نو دَ هغه اكرام كوم. لكه چه دا حضرت جرير رضي الله عنه دَ حضرت انس رضي الله عنه كوم خدمت كړې وود هغې علت ئې بيان كړو، چه دې انصارو حضراتو به دَ نبى كريم ﷺ خدمت كولو اود هغوى به ئې ترحده پورې

---

١) (كشف البارى(ج٣ص١٨٣)-
٢) (كشف البارى (ج٢ص ٤)-
٣) (الصحيح لمسلم كتاب فضائل الصحابة باب حسن صحبة الأنصار رقم (٦٤٢٨)-
٤) (عمدةالقارى (ج ١٤ص١٧٣)وفتح البارى(ج٦ص ٨٤)-
٥) (صحيح مسلم كتاب فضائل الصحابة باب حسن صحبة الأنصار رقم (٦٤٢٨)-
٦) (فتح البارى (ج٦ص ٨٤) وإرشاد السارى(ج٥ص٨٧)-
٧) (صحيح مسلم كتاب فضائل الصحابة باب حسن صحبة الأنصار رقم(٦٤٢٨)-

تعظیم کولو نو مونږ له د دې انصارو خدمت او تعظیم کول پکار دی. (۱)

او حضرت جریر رضی الله عنه چه ،،شیأ،،مبهم ساتلې دې د دې نه مقصود مبالغه ده (۲)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: حافظ ابن حجر رحمه الله په امام بخاری رحمه الله باندې اعتراض کولوسره فرمائی چه د باب دا حدیث دهغه احادیثونه دې کوم چه مصنف د هغې په غیرمناسبه موقع ذکر کړی دی. پکار خودا ووچه هغه دا حدیث په مناقبو کنبې ذکر کړې وې نه چه په جهادکنبې لیکن هغوی د دې عکس اوکړو چه دا حدیث ئې په جهاد کنبې ذکرکړو.(۳)

علامه عینی رحمه الله د دې اعتراض جواب ورکولوسره فرمائی چه دا حدیث بعینه هم په دې سند سره امام مسلم رحمه الله هم ذکر کړیدې او په دې کنبې ((فی سفر)) اضافه هم مروی ده. (۴)

نو اوس معلومه شوه چه دا واقعه د خدمت او اکرام سفر دې او سفرعام دې که د غزوې وی او که د غیرغزوې، نو داشان به حدیث په خپل باب کنبې واقع وی او مطابقت به هم حاصل شی. (۵)

[۲۷۳۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو مَوْلَى الْمُطَّلِبِ بْنِ حَنْطَبٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ خَرَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى خَيْبَرَ أَخْدُمُهُ فَلَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاجِعًا وَبَدَا لَهُ أُحُدٌ قَالَ هَذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ ثُمَّ أَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ قَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا كَتَحْرِيمِ إِبْرَاهِيمَ مَكَّةَ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَمُدِّنَا [۳۱۸۷، ۳۸۵۵، ۳۸۵۶، ۵۱۰۵، ۶۰۰۲، ۶۹۰۲، وانظر: ۳۶۴، ۲۰۲۳]

تراجم رجال

۱- عبدالعزیز بن عبدالله: دا ابوالقاسم عبدالعزیز بن عبدالله القرشی الاویسی رحمه الله دې (۶)

۲- محمد بن جعفر: دا محمدبن جعفر بن ابی کثیرانصاری مدنی رحمه الله دې. (۷)

۳- عمرو بن ابی عمرو: دا عمروبن میسره ابی عمرو رحمه الله دې. (۸)

---

۱) (فتح الباری(ج۶ص ۸٤) وعمدة القاری(ج ۱٤ص۱۷۳)-

۲) فتح الباری (۶\۸٤) وعمدة القاری (۱٤\۱۷۳)

۳) (فتح الباری(ج۶ص ۸٤)-

٤) (مسلم شریف کتاب فضائل الصحابة باب حسن صحبة الأنصار رقم (۶٤۲۸)-

۵) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۷۳)-

۶) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب العلم باب احرص علی الحدیث-

۷) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الحیض باب ترک الحائض الصوم-

۸) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب العلم باب الحرص علی الحدیث-

۳-انس بن مالك: مخكينې سند اوګورئى. (١)

دحديث ترجمه د عمرو بن ابى عمرو رحمه الله نه مروى دى چه هغه د حضرت انس رضي الله عنه نه داسې اوريدلى چه زه د غزوه خيبرپه موقع حضور اكرم صلى الله عليه وسلم سره لاړم، ما به د هغوى صلى الله عليه وسلم خدمت كولو. بيا چه كله نبى اكرم صلى الله عليه وسلم واپس شو اود احدغرښكاره شو نو هغوى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل دا هغه غر دې كوم سره چه مونږ محبت كوو او هغه مونږ سره محبت كوى.

دې نه پس حضور صلى الله عليه وسلم د مدينې منورې طرف ته اشاره اوكړه او وئى فرمائيل اې الله! زه د دې دواړو كانړى ژنو ميدانونو په مينځ كښې خطه د حرمت والا ګرځوم، لكه څنګه چه حضرت ابراهيم عليه السلام د مكې ښار د حرمت والا ګرځولې وو. اې الله! زمونږ په صاع او زمونږ په مُد كښې بركت اوفرمائې.

د باب دا حديث په ماقبل كښې څو ځل تيرشوې دې او په كتاب المغازى كښې هم د دې څه تشريح راغلې ده په دې وجه مونږ دلته صرف د حديث په ترجمه باندې اكتفا اوكړه.(٢)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حديث ترجمة الباب سره مناسبت په دې جمله كښې دې: ((خرجت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى خيبر أخدمه)) (٣)

اود ترجمة الباب دمقصد لاندې مونږ دا بيان كړى دى چه امام بخارى رحمه الله د باب په ذيل كښې درې حديثونه ذكر كړى دى او په دې كښې په دوئم كښې د وړوكى د لوئ خدمت كول مذكور دى نو اوګورئى دلته حضرت انس رضي الله عنه بحيثيت خادم نبى كريم صلى الله عليه وسلم سره سفر كښې دې او حضرت انس رضي الله عنه صغير(وړوكې) دې او نبى كريم صلى الله عليه وسلم كبير(لوئ) دې.

[٢٧٣٣] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ أَبُو الرَّبِيعِ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ زَكَرِيَّاءَ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ عَنْ مُوَرِّقٍ الْعِجْلِيِّ عَنْ أَنَسٍ (٤) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثَرُنَا ظِلًّا الَّذِي يَسْتَظِلُّ بِكِسَائِهِ وَأَمَّا الَّذِينَ صَامُوا فَلَمْ يَعْمَلُوا شَيْئًا وَأَمَّا الَّذِينَ أَفْطَرُوا فَبَعَثُوا الرِّكَابَ وَامْتَهَنُوا وَعَالَجُوا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَهَبَ الْمُفْطِرُونَ الْيَوْمَ بِالْأَجْرِ

تراجم رجال

۱-سليمان بن داود: دا ابوالربيع سليمان بن داود عتكى زهرانى بصرى رحمه الله دې، د دوى حالات ((كتاب الإيمان، باب علامة المنافق)) لاندې تيرشوى دى. (٥)

۲-اسماعيل بن زكريا: دا ابوزياداسماعيل بن زكريا الخلقانى الكوفى رحمه الله دې. (٦)

---

١) (كشف البارى (ج٢ص ٤)-

٢) (كشف البارى كتاب المغازى (ص٢٥٢، ٣١٩)-

٣) (عمدة القارى(ج ١٤ص١٧٣)-

٤) (قوله: عن انس رضى الله عنه:الحديث أخرجه مسلم،كتاب الصيام باب أجر المفطر فى السفر إذا تولى العمل رقم ٢٦٢٢) والنسائى كتاب الصيام باب فضل الإفطار فى السفرعلى الصوم رقم (٢٢٨٥)-

٥) (كشف البارى (ج٢ص٢٧٠)-

٦) (د دوى د حالاتو د پاره اوګورئ كتاب البيوع باب مذكر فى الأسواق-

۳-عاصم: دا عاصم بن سلیمان الاحول رحمه الله دې. (۱)

۴-مورق العجلي: دا مورق بن شمرخ عجلي رحمه الله دې. (۲)

۵-انس: سابقه سند اوګورئ.(۳)

قوله: قال: کنا مع النبي صلى الله عليه وسلم: حضرت انس رضي الله عنه فرمائی چه مونږ دَ نبی اکرم صلى الله عليه وسلم سره وو.

دَ مسلم شریف دَ روایت نه معلومیږی چه دا دَ یو سفرواقعه ده، په دې کښې دی((کنا مع النبي صلى الله عليه وسلم في سفر فمنا الصائم ومنا المفطر قال: فنزلنا منزلا في يوم حار))(۴) یعنی مونږ نبی کریم صلى الله عليه وسلم سره یو سفرکښې وو مونږ کښې روژه دار هم وو او بغیر روژې والا هم. فرمائی نو مونږ په یومنزل باندې دَ سختې ګرمئ په ورځ کښې ډیره واچوله.

قوله: أكثرنا ظلا من يستظل بكسائه: په مونږ کښې دَ سورې په لحاظ باندې بهتر سړې هغه ووچا چه په خپل څادر سورې کړې وو.

مطلب دا دې چه سخته ګرمی وه، په دې وجه دَ سورې انتظام نه وو. که دَ ډیر نه ډیر به کیدیشونو هغه دا وه چه کومو صحابه کرامو سره څادر وغیره وو نو هغوی دَ دې په ذریعه باندې دَ سورې انتظام کړې وو.پاتې شو هغه حضرات چا سره چه څادر وغیره نه وو نو هغوی دَ ګرمئ نه دَ بچ کیدلودپاره دَ لاسونو استعمال اوکړو. دَ مسلم شریف روایت کښې دی: ((ومنا من يتقي الشمس بيده)) (۵)

قوله: وأما الذين صاموا فلم يصنعوا شيئا: اوچه کوم حضرات روژې سره وو نو هغوی هیڅ هم اونه کړل.

ګرمی ډیره زیاته وه، معامله هم ډیره اهمه وه یعنی غزوه وه. په دې وجه چه کوم خلق روژې سره وو هغوی برداشت نه کړیشو، کاروغیره نه عاجزشو. (۶)

قوله: وأما الذين أفطروا فبعثوا الركاب، وامتهنوا، وعالجوا: او چه کومو حضراتو روژه نه وه ساتلې نوهغوی خپل اوښان اوبو له بوتلل او ښه خدمت ئې اوکړو او نورکارونه ئې هم اوکړه.

مطلب دا چه روژه دار حضرات دَ کمزورئ او ستړیوالي په وجه هغوی کار وغیره نه عاجز وو نو په دې وجه ئې اوښانوته اوبه، واښه وغیره څرولو دَ پاره بې روژې حضراتو بوتلل،

---

۱) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب الماء الذي يغسل به شعر الإنسان-

۲) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب کتاب التهجد باب صلاة الضحىٰ في السفر-

۳) (کشف الباری (ج۲ص ٤)-

٤) (صحيح مسلم كتاب الصيام باب أجر المفطر في السفر.... رقم (۲۶۲۲)-

۵) (حواله بالا-

۶) (فتح الباری (ج۶ص ۸٤)-

هغوی د روژه دارو حضراتو هم ښه خدمت اوکړو او نور ټول کارونه ئې هم اوکړه.

قوله: فقال النبی صلی الله علیه وسلم: ذهب المفطرون الیوم بالأجر: نو نبی کریم اوفرمائیل نن خو اجر او ثواب روژه دارو یوړلو.

د اجر نه مراد ډیر اجردې او د نبی کریم ﷺ مذکوره ارشاد مطلب دا نه دې چه د رژوه دارو اجر کم شوې وو بلکه مطلب دا دې چه روژه نه ساتونکو حضراتو ته دهغوی د اعمالو اجرهم ملاویږی او د روژه دارو هم ځکه چه هغوی خپل کارونه هم پوره کړل او د روژه دارو ذمه واری ئی هم پوره کړې.(١)

د رسول الله ﷺ دمذکوره بالا ارشاد سبب: حضرت مولانا ظهورالباری د رسول الله ﷺ پورته ذکرشوې ارشاد سبب بیانولو سره لیکی:

روژه خوخیرمحض دې او مخصوص او مقبول عبادت دې بیا هم په سفر وغیره کښې په داسې موقعوچه د دې په وجه د اهموکارونو بندیدلو خطره وی نو روژه نه ساتل غوره دی. کومه واقعه چه په حدیث کښې ده په هغې کښې هم دا صورت پیش شوې ووچه د خلقو روژه وه او هغوی د ستړیوالی د وجې څه کارنشو کولې، خو بې روژې خلقو په پوره تیزئی سره ټول کارونه پوره کړل په دې وجه د هغوی ثواب زیات شو.

په اسلام کښې د عبادت نظام د انسان د فطرت مطابق او ډیریه معقول طریقه باندې قائم دی. دین په فرائضو او واجباتوکښې مدارج قائم کړی دی اود مدارجو چه څوك پوره لحاظ ساتی د الله تعالی په نزد به د هغه عبادت هم په هغه درجو کښې مقبول وی. په حدیث شریف کښې ځکه وئیلی شوی دی چه روژه نه ساتونکو نن اجر او ثواب یوړلو، حالانکه هغوی یو اهم عبادت پریخودې وولیکن د هغې نه د زیات اهم عبادت په خاطر، نو په دې وجه د ثواب هم زیات حقدار شو. (٢)

مذکوره بالا حدیث نه مستنبط فائدې: ① امام ابو عبدالله بن ابی صفرة رحمه الله فرمائی چه د دې حدیث نه معلومه شوه چه په غزوه کښې د خدمت اجر د روژې د اجر او ثواب نه زیات وی ځکه روژه نه ساتونکی جهاد، طلب علم نور اعمال صالحه او فاضله مثلاً دکمزوری امداد کول یا مسلمانانو ته چه د کوم څیز ضرورت او حاجت وی د هغې په پوره کولوکښې ډیر قوی او طاقتور وی.(٣)

② دا فائده هم راؤ وتله چه په جهاد کښې چرته کوزیدل وی، یا سفرکول وی نو په مجاهدینو باندې واجب دی چه یو بل سره امداد اوکړی. (۴)

③ د حدیث نه دا فائده هم حاصله شوه چه یو شان خلق د یو بل خدمت کولې شی او دا جائز دی او په دې کښې د هیڅ قسم شرم څه خبره نشته. (۵)

---

١) (فتح الباری (ج٦ص ٨٤) وعمدة القاری (ج ١٤ص١٧)-
٢) (تفهیم البخاری (ج٢ص٩٦)-
٣) (شرح ابن بطال (ج٥ص ٨٤)-
٤) (حواله بالا-
٥) (عمدة القاری (ج ١٤ص ١٧٤)-

دحدیث د ترجمة الباب سره مطابقت دحدیث ترجمة الباب سره مناسبت دحدیث په دې جمله کښې دې.((فبعثوا الرکاب، وامتهنوا وعالجوا)) ځکه چه دا ټول کارونه دَ خدمت نه عبارت دی. دَ بعث الرکاب مطلب خودادې چه اوښان ئې اوبوڅکولو له بوتله، او ((امتهنوا)) معنی ((خدموا)) او ((عالجوا)) خوراك وغیره پخول او تیارول دی. (۱)

۷۱-بَاب: فَضْلِ مَنْ حَمَلَ مَتَاعَ صَاحِبِهِ فِي السَّفَرِ

دَترجمة الباب مقصد:دَ دې باب په ذیل کښې امام بخاری رحمه الله په سفرکښې دَ خپل ملګری سامان وغیره دَ امداد په توګه دَ اوچتولو فضیلت بیانول غواړی. (۲)

[۲۷۳۳] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۳) عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ سُلَامَى عَلَيْهِ صَدَقَةٌ كُلَّ يَوْمٍ يُعِينُ الرَّجُلَ فِي دَابَّتِهِ يُحَامِلُهُ عَلَيْهَا أَوْ يَرْفَعُ عَلَيْهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ وَكُلُّ خَطْوَةٍ يَمْشِيهَا إِلَى الصَّلَاةِ صَدَقَةٌ وَدَلُّ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ [ر:۲۵٦۰]

تراجم رجال

۱-اسحاق بن نصر: دا اسحاق بن ابراهیم بن نصر بخاری سعدی رحمه الله دې. اکثر دَ خپل نیکه طرف ته منسوب کیدلو سره اسحاق بن نصر به یادیدلو. (۴)

۲-عبدالرزاق: دا ابوبکر عبدالرزاق بن همام صنعانی رحمه الله دې، دَ دوی حالات "کتاب الإیمان، باب حسن إسلام المرء)) لاندې تیرشوی دی.(۵)

۳- معمر:دامعمر بن راشد ازدی رحمه الله دې. دَ دوی مختصر تذکره دَ((بدء الوحي)) شپږم حدیث په ذیل کښې تیره شویده. (۶)

۴- همام: دا همام بن منبه بن کامل یمانی رحمه الله دې. دَ دوی حالات هم ((کتاب الإیمان باب حسن إسلام المرء)) لاندې تیرشوی دی.(۷)

۵-ابوهریره رضی الله عنه: دامشهور صحابی رسول حضرت ابوهریره رضی الله عنه دې.

---

۱) (حواله بالا-

۲) (عمدة القاری (ج ١٤ص ١٧٤)-

۳) قوله: عن أبي هريرة رضی الله عنه: الحديث قدمر تخريجه فی كتاب الصلح باب فضل الإصلاح بين الناس...

٤) (دَدوی حالاتو دَپاره اوګورئ کتاب الغسل باب من اغتسل عریانا وحده فی الخلوة -

٥) (کشف الباری (ج۲ص ٤٢١)-

۶) (کشف الباری (ج۱ص٤۶۵)-

۷) (کشف الباری (ج۲ص٤٢٨)-

دَ دوى تفصيلى حالات ((کتاب الإیمان باب أمور الإیمان)) لاندې تیرشوى دى. (۱)

دَ حدیث ترجمه دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه نبى اکرم ﷺ فرمائیلى دى چه روزانه دَ انسان په یو یو جوړباندې صدقه واجب ده. که یو سړې دَ چا په سورلئى کښې امداد کوى چه هغه په سورلئى سور کړى یا دَ هغه سامان په هغې باندې کیږدى نو دا هم صدقه ده. ښه او پاکه کلمه هم صدقه ده. هر قدم چه دَ مانځه دَ پاره اوچتولې شى هغه هم صدقه ده او لار خودنه هم صدقه ده.

تنبیه دحدیث باب څه تشریحات ((کتاب الصلح)) (۲) کښې تیرې شوى دى او هم دَ کتاب الجهاد ((باب من أخذ بالرکاب ونحوه)) لاندې به نور تشریحات راځى.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت ترجمة الباب سره دَ حدیث باب مناسبت دَ حدیث په دې ټکړه کښې دې ((یعین الرجل فى دابته، یحامله علیها أو یرفع علیها متاعه صدقة))

البته دلته کښې اشکال دا دې چه ترجمه خو دَ سفرده او دَ دې لاندې چه کوم حدیث راوړلې شویدې په هغې کښې خو دَ سرنه دَ سفر ذکر نشته.

نو دَ دې جواب دا دې چه حدیث مطلق دې اودا خبره خو معلومه ده چه کله په حضر کښې او عام حالاتو کښې دَ چا دَ سامان اوچتولو دا فضیلت وى نو ښکاره خبره ده چه په حالت سفر کښې دَ چا سامان اوچتولو فضیلت خو به په طریقه اولى ډیر وى. دغه شان په ترجمه او حدیث کښې مطابقت حاصلیږى. (۳)

۷۲- بَاب: فَضْلِ رِبَاطِ یَوْمٍ فِی سَبِیلِ اللَّهِ

دَ ترجمة الباب مقصد دَ اسلامى سلطنت او خلافت په سرحدونو باندې پهره ورکولو او خیال ساتل دا دَ اهل اسلام دَ حفاظت یو لویه ښکلې، محفوظ او مضبوطه طریقه ده. امام بخارى رحمه الله دلته دَ دې فعل دَ فضیلت بیانوى. (۴)

دَ رباط معنى الرباط—بکسر الراء وبالموحدة الخفیفة— معنى دا ده چه دَ کافرانو دَ شر او فساد نه دَ مسلمانانو دَ حفاظت او صیانت په غرض هغه ځائ او مقام لازم نیول چه دَ مسلمانانو او کافرانو په مینځ کښې وى (۵) کوم ته چه په عام عرف کښې سرحد وائى.

علامه ابن التین رحمه الله دا شرط هم لګولې دې چه دَ کوم ځائ حفاظت مرابط کول وى اودَ هغه وطن نه وى، همدغه شرط ابن حبیب دَ امام مالک رحمه الله نه هم نقل کړیدې. (۶) یعنى بقول ابن حبیب امام مالک رحمه الله هم دَ ابن التین بیان کړیشوې مذکوره شرط قائل دې. (۷)

---

۱) (کشف البارى (ج۱ص۴۵۹)-
۲) (کتاب الصلح باب فضل الإصلاح بین الناس...رقم(۲۷۰۷)-
۳) (عمدة القارى(ج ۱٤ص ۱۷۵) وفتح البارى (ج۶ص۸۵)-
٤) (عمدة القارى (ج ۱٤ص۱۷۵)-
۵) (حواله بالا وفتح البارى (ج۶ص۸۵)-
۶) (حواله بالا-
۷) (حواله بالا وقدذکر العلامة العینى تعریفات أخرى للرباط ولکن اخترنا أشهرها-

په دې وجه په سلفو صالحینو کښې ډیرو حضراتو په سرحدونو استوګنه اختیار کړې ده (١)
خو حافظ صاحب او علامه عینی د ابن التین دا شرط رد ړی دې د دې دواړو وینا دا ده چه
په دې اطلاق کښې اشکال دې ځکه چه بعضې وخت داسې کیږی چه د سړی خپل وطن وی
او هغه هلته ددشمن دفع کولو په نیت اقامت کړې وی (٢)
دې دپاره چه د رباط اجر او ثواب حاصل شی.

قوله: وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ [آل عمران:٢٠٠]: اود الله تعالی قول دې: اې دایمان خاوندانو! صبر کوئی او کلك اوسیږئ او ملاتړلی اوسیږئی اود الله تعالی نه ویریږئی دې دپاره چه تاسو کامیاب شئ.

د امام بخاری رحمه الله عادت دې چه هغه د ترجمة الباب د اثبات د پاره بعض وخت د قرآن آیاتونه پیش کوی، نو دلته هم د هغه عادت مطابق هغه دا مذکوره آیت پیش کړیدې او په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره کړیده چه مرابط په قرآنی آیت کښې موجود دې دینه همدغه د سرحد پهره او ساتنه مراد دی.

د دې آیت مفسرینو حضراتو ډیر تفسیرونه کړی دی (٣) خو مصنف علیه الرحمة آیت مبارك په دې مقام کښې ذکر کړو اود آیت مشهورترین تفسیر ئی اختیار کړو کوم چه حسن بصری رحمه الله او قتاده رحمه الله نه مروی دې. دا دواړه حضرات د مذکوره آیت په تفسیر کښې فرمائی

((اصبروا)) علی طاعة الله ((وصابروا)) أعداء الله فی الجهاد ((ورابطوا)) فی سبیل الله. (٤)

[٢٧٣٥] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُنِيرٍ سَمِعَ أَبَا النَّضْرِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (٥) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا وَمَوْضِعُ سَوْطِ أَحَدِكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا وَالرَّوْحَةُ يَرُوحُهَا الْعَبْدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ الْغَدْوَةُ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا [ر:٢٦٤١]

تراجم رجال

١- عبدالله بن منیر: دا ابوعبدالرحمن عبدالله بن منیر المروزی الزاهد رحمه الله دې. (٦)

٢- ابوالنضر: دا ابوالنضر هاشم بن قاسم لیثی خراسانی رحمه الله دې. (٧)

---

١) (فتح الباری (ج ٦ ص ٨٥)-
٢) پورتنئ حواله وقد ذکر العلامة العینی تعریفات أخری للرباط .لکن أخترنا أهرها)_
٣) (راجع لتلک الأقوال للمفسرین الفتح (ج ٦ ص ٨٥) والعمدة (ج ١٤ ص ١٧٥) وتفسیر القرطبی (ج ٤ ص ٣٢٢)
٤) (فتح الباری (ج ٦ ص ٨٥)-
٥) (قوله: عن سهل بن سعد رضی الله عنه: الحدیث قدمر تخریجه فی أوائل الجهاد باب الغدوة والروحة....-
٦) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب الغسل والوضوء فی المخضب......-
٧) (د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ کتاب الوضوء باب وضع الماء عندالخلاء-

۳- عبدالرحمن بن عبدالله بن دینار: دا عبدالرحمن بن عبدالله بن دینار مزنی عدوی رحمه الله دے. (۱)

۴- ابوحازم: دا مشهور زاهد ابوحازم سلمة بن دینار مدنی رحمه الله دے. (۲)

۵- سهل بن سعد الساعدی: دا مشهور صحابی رسول حضرت سهل بن سعد الساعدی الانصاری رضي الله عنه دے. (۳)

سمع أبا النضر: په دې عبارت کښې حذف دے اودَ عبارت تقدیر په اصل کښې داسې دے.
((انه سمع....)) مګرپه لیکلوکښې ((أنه)) اکثر حذف کولې شی. (۴)

قوله: أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: رباط یوم في سبیل الله خیر من الدنیا وما علیها: حضرت سهل بن سعد الساعدی رضي الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائیلې دے چه دَ الله تعالی په لار کښې یوه ورځ پهره ورکول دنیا او څه چه په دې کښې دی دَ هغې نه بهتر دی.

قوله: وموضع سوط أحدکم من الجنة خیر من الدنیا وما علیها: او په جنت کښې تاسو کښې دَ چا دَ پاره دَ یوې کوړې برابر ځائ دَ دنیا او څه چه په دې کښې دی دَ هغې نه بهتر دی.

خیر من الدنیا ومافیها نه دَ عدول کولووجه: دَ حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه دَ باب دا حدیث دَ ((کتاب الجهاد)) په شروع کښې هم تیر شویدې.(۵) هلته دَحدیث په الفاظوکښې ((خیرمن الدنیاوماعلیها)) په ځائ ((خیرمن الدنیا ومافیها)) راغلې نو ((فیها)) نه ((علیها)) طرف ته دَ عدول کولو وجه څه ده؟

علامه عینی فرمائی چه په دې عدول کښې دا فائده ده چه ((فیها)) کښې معنی دَ ظرفیت او ((علیها)) کښې دَ استعلاء معنی موندلې شی او دا خبره واضح ده چه استعلاء کښې دَ ظرفیت په مقابله کښې عموم زیات دې او هغه ظرفیت نه قوی هم ده. نو مبالغه کښې دَ زیاتوالی دَپاره ((فیها)) نه ((علیها)) طرف ته عدول کړیشویدې. (۶)

دَ جنت کوړې(سوط) برابر ځائ دَ دنیا او مافیهانه بهترکیدو وجه: دَباب په حدیث کښې ذکر

---

۱) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الوضوء باب إذا شرب المکلب فی إناء أحدکم....-
۲) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الوضوء باب غسل المرأة أباها الدم عن وجهه....-
۳) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الوضوء باب غسل المرأة أباها الدم عن وجهه....-
۴) (فتح الباری (ج۵ص۸۶)-
۵) (انظرالصحیح للبخاری کتاب الجهاد والسیر باب الغدوة والروحة فی سبیل الله....-
۶) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۲۶)-

دی چه په جنت کښې د يوې کورې برابر ځائ هم د دنيا اوځه چه په دې کښې دی د هغې نه بهتر دې د دې وجه بيانولو سره علامه مهلب رحمه الله فرمائی:

((وصار موضع سوط فی الجنة خيرمن الدنيا وما فيها، من أجل أن الدنيا فانية، وکل شئ فی الجنة وإن صغر فی التمثيل لنا — وليس فيها صغير — فهو أدوم وأبقی من الدنيا الفانية المنقطعة، فکان الدائم خير أمن المنقطع)) (۱)

يعنی د جنت د يوې کورې برابر ځائ د دنيا او مافيها نه ځکه بهتر دې چه دنيا فانی ده او د جنت هر څيز اګرچه د تمثيل په توګه زمونږ د پاره وړوکې وی خودهغه ځائ يو څيز سپک او وړوکې نه دې. د هميشه دپاره دې او د ختميدونکې او منقطع کيدونکې دنيا په مقابله کښې باقی پاتې کيدونکې دې، نو باقی پاتې کيدونکې څيز د منقطع څيز نه بهتر شو.

د اسلامی سرحدونو د حفاظت په فضيلت کښې نور احاديث: د اسلامی سرحدونو ساتنه او حفاظت (يعنی رباط) فضيلت کښې خو ډير احاديث وارد شوی دی(۲)

نو استيعاب خو مقصد نه دې په دې وجه يو څو احاديث مونږ ليکو:

① حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی:

((رباط يوم وليلة خيرمن صيام شهر وقيامه، وإن مات جری عليه عمله الذی کان يعمله، وأجری عليه رزقه، وأمن الفتان)).(اللفظ لمسلم) (۳)

د يوې شپې ورځې پهره ورکول د يوې مياشت د قيام او صيام نه بهتر دی او که چرې (په دې دوران) کښې هغه مړشو نو د هغه اعمال چه په دنيا کښې هغه کول، د هغه د پاره جاری وی او په هغه باندې به د هغه رزق جاری کولې شی اوهغه به د شيطان نه محفوظ وی.

② حضرت عثمان رضی الله عنه نه مرفوعا مروی دی:

((رباط يوم فی سبيل الله خيرمن ألف يوم فيما سواه من المنازل))(۴)

د الله تعالی په لارکښې د يوې ورځې څوکيدار کول په نورو ځايونوکښې تيرو شوو زرو کالونه بهتر دی.

③ حضرت فضاله بن عبيد رضی الله عنه نه روايت دې چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائيلی :((کل الميت يختم علی عمله، إلا المرابط، فإنه ينمو له عمله إلی يوم القيامة، ويؤمن من فتان القبر)). (اللفظ لأبی داؤد) (۵)

---

۱) (شرح ابن بطال (ج۵ص) وعمدة القاری (ج ۱٤ص۱۷۶)-

۲) (راجع لتلک الأحاديث الواردة فی فضل الرباط فی سبيل الله: الجامع الأحکام القرآن (ج ٤ص ۳۲٤)-

۳) (الحديث أخرجه مسلم فی کتاب الإمارة باب فضل الربات فی سبيل الله عزوجل رقم (٤۹۳۸) والترمذی فی فضائل الجهاد باب ماجاء فی فضل المرابط رقم (۱۶۶۵) والنسائی فی کتاب الجهاد فضل الرباط رقم (۳۱۶۹-۳۱۷۰)-

٤) (الحديث أخرجه الترمذی أبواب فضائل الجهاد باب ماجاء فی فضل المرابطة. رقم (۱۶۶۷) والنسائی فی سننه الصغری کتاب الجهاد فضل الرباط رقم (۳۱۷۱-۳۱۷۲) وابن ماجه أبواب الجاهد باب فضلؤالرباط فی سبيل الله رقم (۲۷۶۶)-

۵) (الحديث رواه أبوداؤد أبواب الجهاد فی فضل الرباط رقم (۲۵۰۰) والترمذی أبواب فضائل الجهاد باب ماجاءفی فضل من مات مرابطا رقم (۱۶۲۱)-

د هر مرې په اعمالو باندې مهر لګولې شی (بندولې شی) سوا د مرابط نه. د هغه عمل د هغه د پاره د قیامته پورې زیاتولې شی او هغه د قبر د فتنې نه په امن او محفوظ کیږی. او د حدیث نور تشریحات د ((کتاب الجهاد)) په شروع کښې ((باب الغدوة والروحة فی سبیل الله)) او ((باب الحور العین وصفتهن....)) کښې تیرشوی دی.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت د حدیث ترجمة الباب سره مناسبت بالکل واضح دې اوهغه د حدیث د شروع په جمله کښې ((رباط یوم فی سبیل الله....)) کښې دې.

٧٣-بَاب: مَنْ غَزَا بِصَبِيٍّ لِلْخِدْمَةِ

د ترجمة الباب مقصد: حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عینی رحمه الله فرمائی چه د امام بخاری رحمه الله مقصد دې ترجمه نه دې خبرې طرف ته اشاره کول دی چه ماشوم د جهاد مخاطب نه دې لیکن د دې باوجود هغه تبعا وضمنا بوتلل جائز دی. (١)

خو شیخ الحدیث حضرت محمدزکریا کاندهلوی رحمه الله فرمائی چه زما په نزد بهتر توجیه د ده چه داسې اووئیلې شی چه امام بخاری رحمه الله ماشوم د خدمت په غرض د بوتللو د جواز اثبات کوی. دا توهم دفع کولو سره چه د بعض صغار صحابه کرامو باره کښې وارد شوی دی چه کله هغوی په غزوه کښې د شرکت د پاره پیش شو نو هغوی ﷺ هغه واپس کړل مثلا ابن عمر، زیدبن ثابت او اسامه بن زید رضی الله عنهم اود دې توهم د ردکولو وجه دا ده چه دا حضرات صحابه کرام د قتال د پاره حاضر شوی وو نه چه د خدمت د پاره. نود هغوی د خدمت د پاره د بوتللو اجازت دې لیکن د قتال په غرض بوتلل جائز نه دی. (٢)

[٢٧٣٦] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ (٣) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَبِي طَلْحَةَ الْتَمِسْ غُلَامًا مِنْ غِلْمَانِكُمْ يَخْدُمُنِي حَتَّى أَخْرُجَ إِلَى خَيْبَرَ فَخَرَجَ بِي أَبُو طَلْحَةَ مُرْدِفِي وَأَنَا غُلَامٌ رَاهَقْتُ الْحُلُمَ فَكُنْتُ أَخْدُمُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَزَلَ فَكُنْتُ أَسْمَعُهُ كَثِيرًا يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْبُخْلِ وَالْجُبْنِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ ثُمَّ قَدِمْنَا خَيْبَرَ فَلَمَّا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْحِصْنَ ذُكِرَ لَهُ جَمَالُ صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيِّ بْنِ أَخْطَبَ وَقَدْ قُتِلَ زَوْجُهَا وَكَانَتْ عَرُوسًا فَاصْطَفَاهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَفْسِهِ فَخَرَجَ بِهَا حَتَّى بَلَغْنَا سَدَّ الصَّهْبَاءِ حَلَّتْ فَبَنَى بِهَا ثُمَّ صَنَعَ حَيْسًا فِي نِطَعٍ صَغِيرٍ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آذِنْ مَنْ حَوْلَكَ فَكَانَتْ تِلْكَ وَلِيمَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى صَفِيَّةَ ثُمَّ خَرَجْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ قَالَ فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَوِّي لَهَا وَرَاءَهُ بِعَبَاءَةٍ ثُمَّ يَجْلِسُ عِنْدَ بَعِيرِهِ فَيَضَعُ

---

١) (فتح الباری (ج٦ص٧٨) وعمدة القاری (ج١٤ص١٧٦)-
٢) (الأبواب و التراجم للکاندهلوی (ج١ص١٩٧)-
٣) (قوله: عن انس بن مالک رضی الله عنه الحدیث مرتخریجه فی کتاب الصلاة باب ما یذکر من الفخذ-

رُكْبَتِهِ فَتَضَعُ صَفِيَّةُ رِجْلَهَا عَلَى رُكْبَتِهِ حَتَّى تَرْكَبَ فَسِرْنَا حَتَّى إِذَا أَشْرَفْنَا عَلَى الْمَدِينَةِ نَظَرَ إِلَى أُحُدٍ فَقَالَ هَذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ ثُمَّ نَظَرَ إِلَى الْمَدِينَةِ فَقَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا بِمِثْلِ مَا حَرَّمَ إِبْرَاهِيمُ مَكَّةَ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي مُدِّهِمْ وَصَاعِهِمْ[ر: ٣٦٤]

تراجم رجال

١-قتيبه: دا شيخ الاسلام ابورجاء قتيبه بن سعيد ثقفى رحمه الله دي دَ دوى تذكره ((كتاب الإيمان باب إفشاء السلام من الإسلام)) لاندې تيره شويده.(١)

٢-يعقوب: دا يعقوب بن عبدالرحمن بن محمد اسكندرانى رحمه الله دې. (٢)

٣-عمرو: دا عمرو بن ابى عمرو مولى المطلب بن حنطب رحمه الله دې. (٣)

٤-أنس: دا مشهور صحابى رسول ابوحمزه حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دې. دَ دوى حالات ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه...)) لاندې تيرشوى دى. (۴)

قوله: أن النبى صلى الله عليه وسلم قال لأبى طلحة: التمس لى غلاما من غلمانكم يخدمنى حتى أخرج إلى خيبر: دَ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم حضرت طلحه رضي الله عنه ته اوفرمائيل چه دَ خپلو ماشومانو نه زما دَپاره يو ماشوم اولټوه چه زما خدمت اوكړى ترهغه وخته پورې چه زه غزوه خيبردَپاره اوځم.

كلمه ((حتى)) دَنبى عليه السلام په كلام كښې دَ تعليل دَپاره ده، دَ غايت دَ بيان دَپاره نه ده. او هغه ((التمس)) سره متعلق ده نه چه ((خدمنى))سره. اودَ كلام مقصد دا دې چه زما دَ پاره په سفركښې خدمت دَ پاره يو هلك اولټوه تردې چه زه مدينې منورې ته راواپس شم. (۵)

يواشكال اودَ هغې جواب: علامه داؤدى رحمه الله دَ حديث په دې ټكړه باندې اعتراض كړيدې او هغه دا چه ښكاره خو همدغه ده چه حضرت انس رضي الله عنه دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم خدمت دَ هغوى عليه السلام په رومبى ځل دَ هجرت نه پس مدينې منورې ته دَ راتلونه پس شروع كړو ځكه چه حضرت انس رضي الله عنه نه پخپله په صحيح احاديثوكښې مروى دى چه ((خدمت النبى صلى الله عليه وسلم تسع سنين)) (۶) او په يو روايت كښې ((عشر سنين)) (۷) دې اودَ خيبر واقعه ۷ هجرى

---

١) (كشف البارى(ج٢ص١٨٩)-
٢) (دَدوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الجمعة باب الخطبة على المنبر-
٣) (دَدوى دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب العلم باب الحرص على الحديث-
٤) (كشف البارى (ج٢ص١٥٢)-
٥) (حاشية المسندى على البخارى (ج٢ص١٥٢)-
۶) (الصحيح لمسلم كتاب الفضائل باب كان رسول الله صلى الله عليه وسلم أحسن الناس خلقا رقم (٦٠١٤)
٧) (الصحيح البخارى كتاب الأدب باب حسن الخلق والسخاء رقم ٦٠٣٨)-

ده. نو دينه خو دا لازميږى چه حضرت انس ﷺ به صرف څلور كاله د حضور ﷺ خدمت كړې وى.

د دې اعتراض جواب دا وركړيشويدې چه د نبى اكرم ﷺ ابوطلحه ﷺ ته دا فرمائيل چه ((التمس لى غلاما من غلمانكم)) مطلب او معنى دا ده چه هغوى ﷺ سره به په دې سفركښې څوك ځى چه د هغه تعين اوكړې شى نو حضرت ابوطلحه ﷺ حضرت انس ﷺ مقرركړو چه هم دې به د خدمت د پاره ځى. نود التماس مطلب استئذان به وى چه په سفركښې د ملګرتيا د پاره چاته اجازت وركړه، دا مطلب نه دې چه د نوى سرنه څوك د خدمت د پاره اولټوه ځكه چه هغه خو د اول نه د خدمت د پاره موجود دې دغه شان به په دواړو احاديثوكښې تطبيق اوشى.(۱)

آيا ماشوم ته به غنيمت كښې حصه ملاويږى؟: دلته ضمنا په دې مسئله باندې هم ځان پوهه كړنى كه ماشوم په غزوه كښې شريك وى كه د خدمت په نيت وى اوكه د قتال په نيت وى،ائمه ثلاثه امام ثورى، ليث بن سعد او ابوثور ﷺ په نزد به دوى ته سهم نشى وركولې بلكه امام به د خپلې مرضئى موافق څه مال وغيره وركوى. (۲)

خود امام مالك او امام اوزاعى ﷺ مسلك دا دې چه ماشوم ته به هم د مال غنيمت نه د بالغو كسانو په شان حصه ملاويږى. (۳)

خود دې دواړو حضراتو په اقوالو كښې فرق دا دې چه امام مالك ﷺ سهم په دې شرط سره مشروط كوى چه هغه ماشوم قتال هم كوى او د دې طاقت لرى نو د دې شرطونو په موجودګئى كښې دا ماشوم آزاد دې، مذكر دې او مقاتل هم دې.نو په دې وجه به ده ته هم د عامو خلقو سهم وركولې شى.

او امام اوزاعى ﷺ مطلقا د ماشوم د پاره په غنيمت كښې د حصې قائل دې. د هغه دليل دا دې چه رسول الله ﷺ په غزوه خيبركښې ماشومانوته هم په مال غنيمت كښې حصه وركړې وه. بيا روستو مسلمانانو خلفاؤ هم په ميدان جنګ كښې پيدا كيدونكو ماشومانو ته حصه وركوله. (۴)

دجمهورو دلائل: په دې مسئله كښې زمونږ يودليل خود حضرت سعيدبن المسيب دا اثر دې ((كان الصبيان والعبيد يحذون من الغنيمة إذا حضروا الغزو فى صدر هذه الأمة))(۵) چه د دې امت په ابتداء كښې ماشومان او غلامان كه په غزا كښې حاضريدل نو هغوى ته به د غنيمت نه څه نه څه وركولې كيدل.

---

۱) (فتح البارى (ج۶ص۸۷) وعمدة القارى (ج۱۴ص۱۷۷)-
۲) (المغنى لابن قدامة (ج۹ص۲۰۶)-
۳) (حواله بالا-
۴) (المغنى لابن قدامة (ج۹ص۲۰۶) وإعلاء السنن (ج۱۲ص۲۰۷)-
۵) (المغنى (ج۹ص۲۰۶)-

او جوزجانى په خپل سند سره روايت كړيدې چه تميم بن قرع المهدى په هغه لښكر كښې وو كوم چه په آخر خل اسكندريه فتح كړې وه، نوتميم وائى ((فلم يقسم لى عمرو من الفئ شيئا)) چه عمرو بن العاص رضي الله عنه (چه د اسلامى لښكر مشر وو) ماته په غنيمت كښې هيڅ هم رانه كړه او وئى فرمائيل چه نابالغ هلك دې، په دې وجه زما د قوم او قريشو د څه خلقو په مينځ كښې جنګ كيدو كيدو خو بندشو، نو په قوم كښې چا اووئيل چه په تاسو خلقو كښې د نبى كريم ﷺ د صحابه كرامو نه څه خلق موجود دى هم د هغوى نه تپوس اوكړئى نو هغوى د ابونضر او عقبه بن عامر رضي الله عنه نه تپوس اوكړو نو په قوم كښې چا زما معائنه اوكړه نو وئى كتل چه ويښته مې راټوكيدلې وو نو حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه ماته هم په غنيمت كښې حصه راكړه. (۱) د دې واقعه نقل كولو نه پس امام جوزجانى رحمه الله فرمائى:

((هذا من مشاهير حديث مصر وجيده، ولأنه ليس من أهل القتال، فلم يسهم له كالعبد، ولم يثبت أن النبى صلى الله عليه وسلم قسم لصبى، بل كان لا يجيزهم فى القتال فإن ابن عمر رضي الله عنهما (۲) قال: عرضت على النبى صلى الله عليه وسلم وأنا ابن أربع عشرة سنة، فلم يجزنى فى القتال، وعرضت عليه وأنا ابن خمس عشرة فأجازنى)) (۳)

يعنى دا حديث د مصر مشهورو او ښهٔ احاديثونه دې او چونكه تميم بن قرع په جنګ كونكو كښې نه وو په دې وجه هغه ته په غنيمت كښې حصه ورنه كړې شوه. لكه څنګه چه غلام ته نه وركړې كيږى او داخبره په يوشان هم ثابته نه ده چه نبى ﷺ د غنيمت نه يو ماشوم له څه وركړې وى. بلكه هغوى ﷺ خو به ماشومان د جنګ د پاره نه پريخودل (نو د غنيمت نه حصه وركولو څه معنى ده) دغه شان ابن عمر رضي الله عنهما فرمائى چه د څوارلسو كالو په عمر كښې زه د حضور ﷺ په خدمت كښې د جنګ د پاره پيش كړشوم نو هغوى ﷺ ماته په جنګ كښې د شركت كولو اجازت رانه كړو او د پنځلسو كالو په عمر كښې بيا پيش كړشوم نو هغوى ﷺ د شركت اجازت راكړو.

د امام اوزاعى رحمه الله د دليل جواب: تركومې چه د امام اوزاعى رحمه الله د دليل تعلق دې نو د دې جواب دا دې چه ممكن ده چه راوى ((رضخ)) (۴) ((سهم)) سره تعبير كړې وى او د ((رضخ)) قائل جمهور هم دى، نو په دې وجه دا د امام اوزاعى رحمه الله دليل نشى كيدې. (۵)

---

۱) (حواله بالا-

۲) (حديث عبدالله بن عمر رضي الله عنهما أخرجه البخارى كتاب الشهادات باب بلوغ الصبيان وشهادتهم رقم (۲۶۶۴) وكتاب المغازى باب غزوة الخندق رقم (۴۰۹۷) ومسلم كتاب الإمارة باب بيان سن البلوغ رقم (۴۸۳۷) والترمذى أبواب الجهاد باب ماجاء فى حد بلوغ الرجل رقم (۱۷۱۱) وأبوداؤد أبواب الحدود باب فى الغلام يصيب الحد، رقم (۴۴۰۶). والنسائى أبواب الطلاق باب متى يقع طلاق الصبى؟ رقم (۳۴۶۱)-

۳) (المغنى لابن قدامة (ج۹ص۲۰۶)-

۴) (الرضخ معناه: انهم (أى المرأة والعبد والصبى) يعطون شيئا من الغنيمة دون السهم. ولايسهم لهم كاملا. ولاتقدير لما يعطونه بل ذلك إلى اجتهاد الإمام فإن رأى التسوية بينهم سوى بينهم وإن رأى التفضيل فضل (المغنى ج۹ص۲۰۴)-

۵) (المغنى (ج۹ص۲۰۶) وإعلاء السنن (ج۱۲ص۲۰۷)-

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث ترجمة الباب سره مطابقت د حدیث په دې حصه کښې دې: ((التمس لی غلاما من غلمانکم یخدمنی حتی أخرج إلی خیبر)) دَ څه نه چه ماشوم دَ خادم په توګه دَ بوتللو اجازت معلومیږی.(١)

۷۴-بَاب: رُكُوبِ الْبَحْرِ

دَ ترجمة الباب مقصد: دَ دې باب په ذیل کښې امام بخاری رحمه الله دَ سمندری سفر مشروعیت او جواز بیانول غواړی. (٢) اودا جواز او مشروعیت عام دې که دَ سړو دپاره وی اوکه دَ ښځودپاره، دَ جهاد په غرض سره سمندری سفر وی یا دَ حج او تجارت په نیت سره. (٣)

رکوب بحرکښې دَ اسلافو اختلاف: په اسلافوکښې بعض حضرات رکوب بحر ناخوښوی او دینه به ئې منع فرمائیله. امام مالك رحمه الله فرمائی چه حضرت عمر رضی الله عنه به خلق دَ رکوب بحر نه منع کول، په دې وجه دَ هغوی په ژوند او خلافت کښې چا هم سمندری سفرنه دې کړې. دهغوی دانتقال نه پس حضرت معاویه رضی الله عنه دَ حضرت عثمان رضی الله عنه نه دَ رکوب بحر اجازت اوغوښتلو نو هغوی اجازت ورکړو. معامله هم په دې باندې پاتې شوه. تر دې چه دَ حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله خلافت راغلو نو هغه خلق بیا دَ رکوب بحر نه منع کړل. لیکن دا ممانعت دهغوی دَ ژونده پورې پاتې وو، روستوبیا دسمندری سفرسلسله دوباره شروع شوه.(۴)

روستنو بعض علماؤ هم د رکوب بحر نه منع کوله، او امام مالك رحمه الله دَ ښځو باره کښې دَ دې خبرې قائل دې چه هغوی دحج یا جهاد په نیت سره هم په سمندری سفرکښې شرکت نشی کولې. (۵)

دَ جمهورو مسلك دا دې چه سمندری سفرکه دَ ښځو دپاره وی اوکه دَ سړو دپاره ، دَ جهاد نیت وی اوکه دَ حج یا د تجارت په هرصورت کښې جائزدې. (۶)

اودَ باب حدیث دَ جمهورو دلیل دې، په کوم کښې چه مطلقا دَ رکوب بحر اجازت او اباحت موجود دې. (۷)

یوه اهم تنبیه: لیکن دا خبره واضحه کیدل پکار دی چه جمهورو دَ سمندری سفر کوم اجازت ورکړې دې هغه په یوشرط باندې مشروط دې، هغه دا چه سمندر پُرسکون وی او د هلاکت خطره نه وی ګنی دَ جمهورو په نزد هم دَ دې اجازت نشته. (۸)

---

١) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٧٧) وفتح الباری (ج ۶ص۸۷)-

٢) (ارشاد الساری (ج۵ص ۹۱)-

٣) (حواله بالا-

٤) (التمهیدلابن عبدالبر (ج ١ص٢٣٣) وفتح الباری (ج ۶ص۸۸)-

٥) (حواله بالا وعمدة القاری(ج ١٤ص١٧٨)-

۶) (عمدةالقاری (ج ١٤ص١٨٧) وفتح الباری (ج۶ص۸۸)-

٧) (فتح الباری (ج۶ص۸۸) وعمدة القاری (ج ١٤ص١٧٨)-

٨) (المهید(١ص ٢٣٤)-

علامه ابوعبيدهروى رحمه الله په ((غريب الحديث)) ذكر كړيدي چه نبى عليه السلام د سمندرى سفرنه د هغې د سيلاب او مشكلاتو د پيښيدو په صورت كښې منع فرمائيلې ده. د زهيربن عبدالله نه مرفوعا مروى دى چه نبى كريم ﷺ فرمائيلى ((من ركب البحر إذا التج —أوقال: ارتج— فقد برئت منه الذمة —أوقال: فلايلومن إلا نفسه—)) يعنى چا چه د سمندر طوفان (يا اوفرمائيل چه موج وهلو) په وخت كښې په دې كښې سفر اوكړو، د ده نه د الله تعالى ذمه خلاصه ده. (يا نې دا اوفرمائيل چه هغه دې خپل نفس ملامت كړى) (١)

د الله تعالى نه د هغه ذمه خلاصيدو مطلب دا دې چه الله تعالى د حفاظت كومه وعده فرمائيلې ده هغه وعده به ختمه شى ځكه چه هغه خپل ځان پخپله هلاك كړو. دا مطلب نه دې چه د اسلام ذمه د ده نه خلاصه شوه ځكه چه د اسلام نه يو سړې هغه وخت خلاصيږى چه هغه د كفر لار اختيار كړى. (٢)

نود زهيربن عبدالله په روايت كښې د سمندرى سفرنه ممانعت سمندرى طوفان سره مقيد دې، د دې مخالف مفهوم همدغه دې چه سمندرى طوفان نه كيدو په صورت كښې سمندرى سفر جائز دې او هم دغه قول د علماؤ نه مشهور دې. كه چرې د سلامتئى غلبه وى نو اوچه او لمده برابره ده. حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عينى رحمه الله فرمائى:

((وفيه (أى فى حديث زهير) تقييد المنع بالارتجاج، ومفهومه الجواز عند عدمه، وهو المشهور عن أقوال العلماء، فإذا غلبت السلامة فالبر والبحر سواء))(٣)

يوه بله تنبيه: مونږ پورته د امام مالك رحمه الله مذهب نقل كړې وو چه هغه د ښځودپاره سمندرى سفرته جائز نه وائى، كه هغه د حج د پاره وى او كه د جهاد د پاره وى، خو روستو ائمه مالكيه هم د جمهورو علماؤ قول اختيار كړيدې. (۴)

[٢٧٨٧] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ يَحْيَى عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ (٥) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ حَدَّثَتْنِي أُمُّ حَرَامٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمًا فِي بَيْتِهَا فَاسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا يُضْحِكُكَ قَالَ عَجِبْتُ مِنْ قَوْمٍ مِنْ أُمَّتِي يَرْكَبُونَ الْبَحْرَ كَالْمُلُوكِ عَلَى الْأَسِرَّةِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَقَالَ أَنْتِ مِنْهُمْ ثُمَّ نَامَ فَاسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ فَقَالَ مِثْلَ ذَلِكَ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا

---

١) (حواله بالا وشرح ابن بطال (ج٥ص٨٩) والأدب المفرد (ج٢ص٦٠٢) باب من بات على سطح ليس له سترة رقم ١٩٤)-

٢) (شرح ابن بطال (ج٥ص٨٩) ومسند الإمام أحمد (ج٥ص٧٩)-

٣) (فتح البارى (ج٦ص٨٨) وعمدة القارى (ج١٤ص ١٧٨)-

٤) (التمهيد (ج١ص٢٣٣)-

٥) (قوله: عن انس رضى الله عنه: الحديث مر تخريجه فى أوائل الجهاد باب الدعاء بالجهاد....-

قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ادْعُ اللّٰهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَيَقُولُ أَنْتِ مِنَ الْأَوَّلِينَ فَتَزَوَّجَ بِهَا عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ فَخَرَجَ بِهَا إِلَى الْغَزْوِ فَلَمَّا رَجَعَتْ قُرِّبَتْ دَابَّةٌ لِتَرْكَبَهَا فَوَقَعَتْ فَانْدَقَّتْ عُنُقُهَا [ر:٢٦٣٦]

تراجم رجال

۱- ابوالنعمان: دا ابوالنعمان محمد بن الفضل سدوسی بصری رحمه الله دی. دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: الدین النصیحة لله ورسوله....)) لاندې راغلی (۱)

۲- حماد بن زید: دا ابواسماعیل حماد بن زیدبن درهم ازدی رحمه الله دی، دَ دوی مختصر تذکره ((کتاب الإیمان باب ﴿وإن طائفتان من المؤمنین اقتتلوا...﴾))لاندې تیره شویده. (۲)

۳- یحیی: دا مشهورتابعی یحیی بن سعید انصاری رحمه الله دی. دَ دوی مختصر تذکره ((بدء الوحی)) په ړومبی حدیث کښې او تفصیلی تذکره ((کتاب الإیمان باب صوم رمضان احتسابًا من الإیمان))لاندې راغلې ده. (۳)

۴- محمدبن یحی بن حبان: دامحمدبن یحیی بن حبان بن منقذ انصاری رحمه الله دی.(۴)

۵- انس بن مالك: دا مشهور صحابی ابوحمزه انس بنْ مالك رضی الله عنه دی. دَ دوی تذکره ((کتاب الإیمان باب من الإیمان أی یحب لأخیه....)) په ذیل کښې راغلې ده. (۵)

قوله: قال: حدثتني أم حرام أن النبي صلى الله عليه وسلم قال يوما في بيتها: حضرت انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی چه حضرت ام حرام بنت ملحان رضی الله عنها ماته اوونیل چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ (غرمه) زما په کورکښې قیلوله اوفرمائیله.

په دې مذکوره عبارت کښې ((قال یوما)) کښې ((قال)) راغلې، دا دَ قیلولة نه دې نه چه دَ قول نه اودَ قیلوله معنی دَ غرمې دَ آرام کولو ده. (۶)

تنبیه: حضرت ام حرام رضی الله عنها دَ حضرت انس رضی الله عنه ترور وه. دَدوی تفصیلی حالات ((کتاب الجهاد)) ((باب الدعاء بالجهاد والشهادة للرجال والنساء)) وړاندې بیان شوی دی.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث ترجمة الباب سره مناسبت واضح دې چه په

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص۷۲۸)-
۲) (کشف الباری (ج۲ص۲۱۹)-
۳) (کشف الباری(ج۱٤ص۲۳۸) و(ج۲ص۳۲۱)-
٤) (دَدوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الوضوء باب من تبرّز علیٰ لبنتین-
۵) (کشف الباری (ج۲ص٤)-
۶) (عمدة القاری (ج۱٤ص۱۷۸)-

دې جمله کښې دې ((عجبت من قوم من أمتي يركبون البحر كالملوك على الأسرة)) (١)

٧٥-بَاب: مَنْ اسْتَعَانَ بِالضُّعَفَاءِ وَالصَّالِحِينَ فِي الْحَرْبِ

دَترجمة الباب مقصد: امام بخاري رحمه الله دلته دا خودل غواړي چه مقاتلينو او مجاهدينو ته دَ ضعيفانو او صالحانودعاګانې حاصلول پکار دی، دې دَ پاره چه دَ دعاګانو په برکت الله تعالی په جهاد کښې غلبه او فتح عطاکړی.(٢)

يا خو مطلب او مقصددا دې چه ضعفاء او صلحاء هم ځان سره بوځی چه دَ هغوی کمزورئی او پرهيزګارئی او تقوی په وجه هغوی ته استقامت حاصل وی او الله تعالی ئی فتح او نصرت سره کامياب کړی.

بهر حال که هغوی ته دَ دعاګانو درخواست اوکړيشی نودَ هغې دَپاره هم په سنت کښې اصل موجود دې او که هغوی ځان سره واخستې شی نودا هم ثابت دی.

[٢٧٣٨] وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَخْبَرَنِي أَبُو سُفْيَانَ قَالَ لِي قَيْصَرُ سَأَلْتُكَ أَشْرَافُ النَّاسِ اتَّبَعُوهُ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ فَزَعَمْتَ ضُعَفَاءَهُمْ وَهُمْ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ [ر:٧]

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه حضرت ابوسفيان رضی الله عنه ماته اوخودل چه قيصر ماته اووئيل چه ما تانه تپوس کړې ووچه لوئ خلق دَ هغوی اتباع کوی که ضعيف يا کمزوری خلق؟ نو ستا ګمان همدغه دې چه کمزوری خلق او همدغه خلق دَ رسولانو متبعين وی.

دَمذکوره تعليق تخريج: دلته امام بخاري رحمه الله دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ دې مشهور روايت نه دا جمله تعليقًا نقل کوی کوم چه دَ ابوسفيان بن حرب رضی الله عنه او دَ قيصرروم په مکالمه باندې مشتمله ده،اودا روايت موصولاً ((بدء الوحی))کښې راغلی دی او هم هلته دَ هغې تخريج هم تيرشوې دې.(٣)

دَمذکوره تعليق مقصد او ترجمة الباب سره مناسبت: په ترجمة الباب کښې ضعفاء او صالحينو دَ استعانت مسئله ذکر ده،

دَ مذکوره تعليق مقصد کښې هم دَ دې دليل راپيداکول دی چه هرقل ضعفاء ته اصل اتباع الرسل اوګرځول ليکن دلته دې دا خبره واضحه وی چه استدلال دَ هرقل قول کيدو په بنياد نه دې بلکه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ حکايت او تقرير په بنياد دې. دې نه دَ مذکوره تعليق دَ ترجمة الباب سره مناسبت هم ښه واضحه کيږی. والله اعلم.(٤)

[٢٧٣٩] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ طَلْحَةَ عَنْ طَلْحَةَ عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ رَأَى سَعْدٌ (٥) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ لَهُ فَضْلًا عَلَى مَنْ دُونَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

١) (حواله بالا-

٢) (فتح الباري (ج٦ص٨٨) وعمدة القاری (ج١٤ص١٧٨)-

٣) (کشف الباری (ج١ص٤٧٧)-

٤) (فتح الباري (ج٦ص٨٨)-

٥) قوله: مصعب بن سعد: الحديث أخرجه النسائی فی سننه الصغری فی الجهاد باب الاستصار بالضعيف رقم (٣١٨٠)

هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ

تراجم رجال

۱- سلیمان بن حرب: دا ابوایوب سلیمان بن حرب ازدی رحمه الله دې. دَ هغه مختصر تذکره ((كتاب الإيمان باب من كره أن يعود فى الكفر...)) لاندې راغلې دی.(۱)

۲- محمد بن طلحه: دا ابومصرف محمدبن طلحه بن مصرف رحمه الله دې. (۲)

۳- طلحه: دا ابومحمد طلحه بن مصرف اليامى رحمه الله دې. (۳)

۴- مصعب بن سعد: دا دَ مشهور صحابى حضرت سعدبن ابى وقاص رضى الله عنه خوئ مصعب دې.(۴)

قوله: قال: رأى سعد رضى الله عنه أن له فضلا على من دونه: حضرت مصعب بن سعد رحمه الله فرمائي چه حضرت سعد بن ابى وقاص رضى الله عنه ته دا گمان اوشو چه هغه ته په نورو باندې یوقسم فضیلت حاصل دې.

سعد نه مراد حضرت سعد بن ابى وقاص رضى الله عنه دې، چه دَ مصعب پلار دې.(۵)

اودلته دَ ((رأى)) چه دَ روية نه مشتق دې ((ظن)) په معنى كښې دې يعنى گمان ئې اوكړو

اودَ نسائى شريف په روايت كښې هم ((ظن)) راغلې دې.(۶)

او ((من دونه)) نه نور اصحاب رسول صلى الله عليه وسلم مراد دی. (۷)

دَنسائى شريف په روايت كښې دَدې نه پس دازياتې هم مروى دې((من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم)) (۸)

اودَ پورتنى عبارت خلاصه دا شوه چه حضرت سعدبن ابى وقاص رضى الله عنه ډيربهادر وو، مالداروو او رسول اكرم صلى الله عليه وسلم به هغه سره ډيره مينه كوله نودَ هغه دا خيال پيدا شو چه په نورو ډيرو صحابه كرامو هغه ته يودرجه فضيلت حاصل دې. (۹)

---

۱) (كشف البارى (ج۲ص۱۰۵)-
۲) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوگورئ كتاب العيدين باب استقبال الإمام الناس فى خطبة العيد-
۳) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوگورئ كتاب البيوع باب مايتنزه من الشبهات-
٤) (دَ دوى دَ حالاتودَپاره اوگورئ كتاب الأذان باب وضع الأكف على الركب فى الركوع-
۵) (فتح البارى (ج۶ص۸۸) وعمدة القارى (ج ١٤ص١٧٩)-
۶) (فتح البارى (ج۶ص۸۹) وعمدة القارى (ج ١٤ص١٧٩)-
۷) (حواله بالا-
۸) (انظر سنن النسائى كتاب الجهاد باب الاستنصار بالضعيف رقم (۳۱۸۰)-
۹) (فتح البارى (ج۶ص۸۹) وعمدة القارى (١٤ج١٧٩) او حضرت سعدبن ابى وقاص رضى الله عنه تفصيلى حالات دَ پاره اوگورئ كشف البارى (ج۲ص۱۷۳)-

دا روایت مرسل دې که متصل؟ د باب دا رومبې حدیث کوم چه حضرت مصعب بن سعد رحمه الله نه مروی دې، صورةً خو مرسل ښکاری ځکه چه حضرت مصعب رحمه الله د نبی اکرم ﷺ دا قول ((هل تنصرون الابضعفائکم؟)) زمانه نه ده موندلې.د دې وجه دا ده چه حضرت مصعب رحمه الله تابعی دې نه چه صحابی اود ده پیدائش د عهدنبوی نه ډیر د روستو زمانې دې، بیاهغه دلته د خپل پلار حضرت سعدبن ابی وقاص نه هم د سماع تصریح اونکړه خود دې نه باوجود دا روایت مرسل نه بلکه متصل دې، ځکه چه همدغه روایت نورو مختلفو حضراتو محدثینو نقل کړیدې اود هغه د پلار نه د هغه د روایت تصریح موجود ده.(۱)
همدغه روایت اسماعیل د معاذبن هانی په طریق باندې نقل کړیدې او په دې کښې دی ((حدثنا محمد بن طلحة....عن مصعب بن سعدعن أبیه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم)) خو بیا هم په دې کښې د رسول علیه السلام قول هم مرفوع دې، د دې رومبنی حصه یعنی ((رأی سعد رضی الله عنه أن له فضلاعلی من دونه)) موجود نه ده. (۲)
دې نه علاوه اسماعیلی رحمه الله او امام نسائی رحمه الله (۳) دا روایت ((مسعرعن طلحة بن مصرف عن مصعب عن أبیه)) په دغه طریق نقل کړیدې. په طریق کښې هم ((عن أبیه)) تصریح موجود ده نو دا روایت متصل دې نه چه مرسل. (۴)

قوله: فقال النبی صلی الله علیه وسلم: هل تنصرون وترزقون إلا بضعفائکم

:نو نبی کریم ﷺاوفرمائیل چه تاسو ته امداد او رزق هم د دې کمزورو په وجه درکولې شی. د نسائی شریف په روایت کښې دا الفاظ دی: ((إنما نصرالله هذه الأمة بضعفتهم بدعواتهم وصلاتهم وإخلاصهم))(۵) الله تعالی د دې امت نصرت د دې د کمزورو خلقو په وجه کړیدې د دوی د دعاګانو، مونځونو او اخلاص په بناء باندې.

ضعیفان دَ الله تعالی دَ نصرت سبب دی: اوس د دواړو طُرقو خلاصه دا شوه چه د الله تعالی د طرف نه کوم نصرت وغیره نازلیږی دهغې سبب همدا کمزورې خلق دی د چا په دعاګانو، مونځونو او اخلاص کښې چه دا برکت وی چه هغوی د الله تعالی نصرت د دې بندګانو طرف ته متوجه کولو سبب جوړیږی. ځکه چه د هغوی زړه د دنیا د ږرق ږروق او د دې د ښائست نه خالی وی اود هغوی ضمیرونه د دې ځیزونونه پاك وی چه هغوی د الله تعالی نه لرې کړی. هغوی د خپل ژوند مقصد صرف هم یو ځیز کیخودې وی چه څنګه به الله تعالی راضی کړی اود هغه خوشحالی به حاصله کړی، په دې وجه د هغوی زړونه پاك او د هغوی

۱) (فتح الباری (ج۱ص۸۸) وعمدة القاری (ج۱٤ص۱۷۹)-
۲) (فتح الباری (ج۶ص۸۸) وعمدة القاری (ج۱٤ص۱۷۹)-
۳) (سنن النسائی کتاب الجهاد باب الاستنصار الضعیف رقم (۳۱۸)-
٤) (فتح الباری (ج۶ص۸۸)وعمدة القاری (ج۱٤ص۱۷۹)-
۵) (سنن النسائی کتاب الجهاد باب الاستنصار الضعیف رقم (۳۱۸)-

دعاگانې قبليږي. علامه ابن بطال د حديث د مذكوره جمله وضاحت كولو سره فرمائي:

((وتأويل ذلك أن عبادة الضعفاء ودعاءهم أشد إخلاصا وأكثر خشوعا لخلاء قلوبهم من التعلق بزخرف الدنيا وزينتها، وصفاء ضمائرهم مما يقطعهم عن الله، فجعلوا همّهم واحدًا، وزكت أعمالهم، وأجيب دعاؤهم))(۱)

په حديث كښې تواضع اوډ كبرنه بچ كيدلوترغيب: نبی اكرم ﷺ چه حضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه ته دا فرمائيلی دی چه ((هل تنصرون وترزقون إلا بضعفائكم؟)) په دې كښې د هغه د پاره تواضع اختيارولو ترغيب دې اوډ نبی عليه السلام مقصود دا هم ووچه دعاءومسلمانانونه كبر ختم كړيشی، د دې د پاره هغوی ﷺ خطاب عام اوساتلو چه څوك دا اونه ګڼړی چه د رسول الله ﷺ د دې قول مبارك مخاطب څوك خاص سړې دې. علامه مهلب رحمه الله فرمائي:

((إنما أراد عليه السلام بهذا القول لسعد الحض على التواضع ونفي الكبر والزهد عن قلوب المؤمنين))(۲)

په حديث باب كښې د فضل نه څه مراد دې؟: نبی اكرم ﷺ چه حضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه ته دا كوم خطاب فرمائيلې دې ((هل تنصرون وترزقون إلا بضعفائكم؟)) چه هم د دې كمزورو په وجه ستا امداد كيږی او تاسوته رزق دركولې شی نوډ دې سبب څه وو؟ ځكه چه په ماقبل كښې مونږ د فضل وضاحت بهادرئی اومالدارئی سره كړيدې ليكن امام عبدالرزاق خپل مصنف (۳)كښې د مكحول رحمه الله نه مرسلاً يو روايت نقل كړيدې په كوم كښې چه دا زياتوالې هم مروی دې. ((قال سعد يا رسول الله أرأيت رجلا يكون حامية القوم ويدفع عن أصحابه أيكون نصيبه كنصيب غيره؟.....)) حضرت سعد رضی الله عنه اوفرمائيل يا رسول الله! ستاسو څه خيال دې چه يو سړې د خپل قول محافظ وی او د خپلو ملګرو دفاع كوی نو آيا د هغه حصه هم (غنيمت كښې) د نورو په شان ده؟ نو حضور ﷺ اوفرمائيل ((ثكلتك أمك يا ابن أم سعد، وهل تنصرون وترزقون إلا بضعفائكم؟)) اې د ام سعد خويه ستامور په تاا‌وژاړه هم د دې كمزورو په وجه ستاسو امداد كيږی او تاسوته رزق دركولې كيږی.

نو په دې صورت كښې فضل نه مراد غنيمت كښې زياتوالې به وی اوډ باب د حديث جمله ((رأى سعد رضی الله عنه أن له فضلاً على من دونه)) مطلب به دا وی چه د حضرت سعد رضی الله عنه دا خيال شو چه هغه د خپل قوم محافظ اوډ هغوی د طرف نه دفاع كونكې دې په دې وجه هغه ته د غنيمت نه زياته حصه ملاويدل پكار دی.

نو نبی كريم ﷺ هغه ته اوفرمائيل چه د مقاتلينو حصې برابر وی ځكه چه قوی او طاقتور ته كه د هغه د بهادرئی او قوت په بناء اوچتولې حاصله ده نو كمزوروته به هم د هغوی د دعاګانو او اخلاص په بناء يوقسم ترجيح حاصله وی.(۴)

---

۱) (شرح ابن بطال (ج۵ص۹۰)-

۲) (حواله بالا-

۳) (مصنف عبدالرزاق (ج۵ص۳۰۳) رقم (۹۶۹۱)-

۴) (شرح ابن بطال(۵ص۹۱)وفتح البارى(ج۶ص۸۹)-

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث ترجمة الباب سره مطابقت په دې معنى دې چه نبى اكرم ﷺ په حديث كښې دا فرمائيلى دى چه په هره معامله كښې ستاسو نصرت دَ ضعفاؤ او صلحاؤ په وجه وى لكه څنګه چه دَ كلام دَ اطلاق نه په پوهه كښې راځى ليكن دَ دې دَ ټولو نه اهمه موقعه دَ جنګ ميدان دې چه هلته ضعيفانو او صالحانو دَ دعاګانو په ذريعه مدد او بركت حاصل كړيشى نو په دې وجه دَ دې اهتمام كول پكار دى.(۱)

[۲۷۴۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو سَمِعَ جَابِرًا عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ (۲) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَأْتِي زَمَانٌ يَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ فَيُقَالُ فِيكُمْ مَنْ صَحِبَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُقَالُ نَعَمْ فَيُفْتَحُ عَلَيْهِ ثُمَّ يَأْتِي زَمَانٌ فَيُقَالُ فِيكُمْ مَنْ صَحِبَ أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُقَالُ نَعَمْ فَيُفْتَحُ ثُمَّ يَأْتِي زَمَانٌ فَيُقَالُ فِيكُمْ مَنْ صَحِبَ صَاحِبَ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُقَالُ نَعَمْ فَيُفْتَحُ [۳۴۴۹، ۳۹۹۹]

تراجم رجال

۱- عبدالله بن محمد: دا ابوجعفر عبدالله بن محمد بن عبدالله جعفى مسندى بخارى رحمه الله دې. دَ دوى مختصر تذكره ((كتاب الإيمان باب أمور الإيمان)) په ذيل كښې راغلى ده.(۳)

۲- سفيان: دا ابومحمد سفيان بن عيينه بن ابى عمران هلالى رحمه الله دې. دَ دوى مختصر حالات ((بدء الوحى)) په ړومبى حديث كښې (۴)

او تفصيلى حالات ((كتاب العلم باب قول المحدث: حدثنا أو أخبرنا وأنبأنا)) لاندې تيرشوى.(۵)

۳- عمرو: دا ابومحمد عمرو بن دينار جمحى مكى رحمه الله دې. (۶)

۴- جابر: دا مشهور صحابى حضرت جابر بن عبدالله الانصارى رضى الله عنه دې. (۷)

---

۱) (عمدة القارى (ج ۱۴ص ۱۷۹)-

۲) (قوله: عن أبى سعيد الخدرى رضى الله عنهم: الحديث أخرجه البخارى أيضًا كتاب المناقب باب علامات النبوة فى الإسلام رقم (۳۵۹۴) وكتاب فضائل أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم باب فضائل أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم ومن صحب... رقم (۳۶۴۹) ومسلم فى صحيحه كتاب فضائل الصحابة باب فضل الصحابة ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم رقم (۶۴۶۷)-

۳) (كشف البارى (ج ۱ص ۶۵۷)-

۴) (كشف البارى (ج ۱ص ۲۳۸)-

۵) (كشف البارى (ج ۳ص ۱۰۲)-

۶) (دَ دوى دَ حالاتو دَپاره اوګورئ كتاب العلم باب العلم والعظة بالليل-

۷) دَدوى دَحالاتو دَپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب من لم ير الوضوء إلا من المخرجين من القبل والدبر

۵- ابوسعید الخدری: دا مشهور صحابی حضرت سعد بن مالك بن سنان ابوسعید الخدری ﷺ دې. دَ دوی تذکره ((کتاب الإیمان باب من الدین الفرار من الفتن)) لاندې تیره شویده.(۱)

قوله: عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: يأتي زمان يغزو فئام من الناس فيقال: فيكم من صحب النبي صلى الله عليه وسلم؟ فيقال: نعم...: حضرت ابوسعید خدری ﷺ دَ نبی کریم ﷺ نه روایت کوی چه هغوی ﷺ فرمائیلی یوه زمانه به داسې راځی چه دَ مسلمانانو یوه ډله به په غزوه کښې وی تپوس به اوکړیشی چه په لښکر کښې څوك داسې بزرګ شته چه دَ نبی اکرم ﷺ په صحبت کښې پاتې وی؟ ونیلې به شی چه او،نو هغوی به په فتح او کامرانئی سره کامیاب کړیشی.

دَ "فئام" معنی: فئام—بکسر الفاء ويجوز الفتح أيضًا— معنی دَ ډلې ده دَ دې لفظ واحد نشته اودَ دې اطلاق همیشه په ډله باندې کیږی لکه لفظ قوم. (۲)

نبی اکرم ﷺ دَ ابی سعید الخدری ﷺ په حدیث کښې داسې دَ دریو طبقو او ډلوذکر کړیدې چه دَ هغوی موجودګی دَهریولښکر دَپاره دَ فتح او نصرت ضمانت دې. دَ هغوی دَ دعاګانو په برکت به الله تعالی فتح اوکامرانی ورکوی، نو پورته ذکرشوی عبارت کښې دَ اولنئی ډلې یا اولنئی طبقې بیان دې. هغه طبقه یا ډله دَ صحابه کرامو رضوان الله تعالی علیهم اجمعین ده. دَ نبی اکرم ﷺ دا مبارك الفاظ دَ دې دریواړو طبقاتو په فضیلت باندې دال دې. اودَ دې حدیث تائید دَ یو بل حدیث شریف (۳) نه هم کیږی چه ((خیر أمتي قرني، ثم الذین یلونهم، ثم الذین یلونهم))(۴)

قوله: ثم يأتي زمان، فيقال: فيكم من صحب أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم؟ فيقال: نعم، فيفتح: بیا به یوه زمانه راځی نو تپوس به کولې شی چه آیا په لښکریانو کښې څوك داسې شته چه هغوی دَ نبی کریم ﷺ صحابه کرامو صحبت لیدلې وی؟ ونیلې به شی چه او، نو فتح به کیږی. او په دې عبارت کښې چه دَ کومې ډلې ذکر دې هغه دَ تابعینو ډله ده، چه دَ صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین په صحبت کښې پاتې وو. دَ دې حضراتو تابعینو په شرکت او برکت به هم اهل اسلام ته فتح نصیب کیږی.

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص۸۲)-

۲) (شرح ابن بطال (ج۵ص۹۱) وفتح الباری ج۶ص۸۹) وعمدة القاری (ج۱ص۱۷۹)-

۳) (هذاالحدیث رواه غیر واحدمن الصحابة والذی ذکرنا ألفاظه رواه عمران بن حصین رضی الله عنه أخرجه البخاری فی کتاب فضائل أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم باب فضائل أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم....رقم (۳۶۵۰)-

۴) (شرح ابن بطال (ج۵ص۹۱)-

قوله: ثم يأتي زمان، فيقال: فيكم من صحب صاحب أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم؟ فيقال: نعم، فيفتح: بيا به يو وخت داسې راځي چه ونيلې كيږي به چه په تاسو كښې داسې څوك شته چه هغه د نبي كريم ﷺ د اصحابو د يو ملګرى صحبت موندلې وي؟ نو وئيلې به شي چه او، نو هغوى ته به هم فتح نصيب كيږي.
په دې عبارت كښې چه د كومو حضراتو ذكر كړيشويدې د هغوى نه تبع تابعين مراد دى چه د هغوى په بركت سره به هم اهل اسلام ته فتح او كامرانى حاصليږي.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره د حديث مناسبت په دې معنى دې چه هرهغه سړې چاچه د نبي اكرم ﷺ صحبت اختياركړو يا د نبي اكرم ﷺ د صحابو صحبت اوموندلو يا د نبي اكرم ﷺ د صحابو د اصحابو صحبت ئې اختياركړو نو دا درې قسمه حضرات دى يعنى صحابه كرام رضوان الله عليهم اجمعين، تابعين او تبع تابعين ﷭ نوهم د دې حضراتو په بركت به نصرت او كاميابى حاصليږي، ځكه چه دا حضرات د دنياپه كارونوكښې كمزورې اود آخرت په كارونوكښې كلك وو. علامه عينى ﷫ فرمائي:

((مطابقته للترجمة من حيث إن من صحب النبي صلى الله عليه وسلم ومن صحب أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم ومن صحب صاحب أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم وهم ثلاثة: الصحابة، والتابعون، وأتباع التابعين، حصلت بهم النصرة لكونهم ضعفاء فيما يتعلق بأمر الدنيا أقوياء فيما يتعلق بأمر الآخرة)) (۱)

٧٦- بَاب: لَا يَقُولُ فُلَانٌ شَهِيدٌ

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخارى ﷫ دا فرمائي چه د يو سړى متعلق هم په يقينى توګه دا نشي وئيلې چه دا شهيد دې ځكه چه د قطعى او يقينى علم لار وحى ده او ښكاره خبره ده چه دا لار اوس بند ده. (۲)
حافظ ابن حجر ﷫ فرمائي لكه چه امام بخارى ﷫ د حضرت عمر ﷛ د حديث طرف ته اشاره كړيده، چه هغه يو ځل خطبه وركولو وخت كښې فرمائيل:

((تقولون في مغازيكم: فلان شهيد، ومات فلان شهيدًا، ولعله قد يكون قد أوقر راحلته، ألا لا تقولوا ذلكم، ولكن قولوا كما قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من مات في سبيل الله أو قتل فهو شهيد)) (۳)
تاسو خلق په خپلو جنګونو كښې وايئې چه فلانكې شهيد شواوفلانكې شهيدشو مړشو، نو كيديشى چه هغه په خپله سورلئى باندې ډير بوج باركړې وي، واورئى دا مه وائې بلكه داسې وائى لكه چه رسول الله ﷺ فرمائيلى چه څوك د الله تعالى په لاركښې مړشو يا قتل شو نو هغه شهيد دې.

---

۱) (عمدة القارى (ج ١٤ ص ١٧٩)-
۲) (فتح البارى (ج ٦ ص ٩٠) وعمدة القارى (ج ١٤ ص ١٨٠)-
۳) (مسند الإمام أحمد (ج ١ ص ٤١) وفتح البارى (ج ٦ ص ٩٠) والإحسان بترتيب صحيح ابن حبان (ج ٨ ص ٦٨) كتاب السير، ذكر ايجاب الجنة لمن مات فى سبيل الله.... رقم (٤٦٠١)-

[۲۷۸۹] قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِهِ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ [ر: ۲۶۳۵، ۲۶۳۹]

حضرت ابوهريره رضي الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم روايت کوی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه الله تعالی ته په ښه شان سره معلومه ده چه د هغه په لارکښې څوك جهاد کوی او هم الله تعالی ته ډير علم دې چه د هغه په لارکښې څوك زخمی کيږی.

دمذکوره تعليق مقصد: پورته ذکر شوې تعليق امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې کومه دعوی کړيده چه د چا باره کښې دا مه وايئې چه فلانکې يقينی شهيد دې، د هغې د اثبات د پاره نقل کړی دی. د حضرت ابوهريره رضي الله عنه په تعليق کښې دا راغلی دی چه د الله تعالی په لارکښې څوك جهاد کوی يا څوك صرف د الله تعالی په لارکښې زخمي کيږی دا هم الله تعالی ښه پيژنی ځکه چه دهغه د معرفت تعلق زړه او نيت سره دې او د نيتونو حال د الله تعالی نه علاوه چاته معلوميدې شی؟ نو د يو سړی متعلق هم دا نه دی وئيل پکار چه فلانکې شهيد دې.

دمذکوره تعليق تخريج: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه پورته ذکر شوې تعليق دراصل په هغه دوو مختلفو احاديثو مشتمل دې کوم چه امام بخاری رحمه الله هم په يو تعليق کښې رايوځائ کړل، د تعليق ړومبې جمله يعنی ((الله أعلم بمن يجاهد فی سبيله)) موصولاً ((كتاب الجهاد)) (۱) په شروع کښې حضرت سعيدبن المسيب رحمه الله طريق سره تيرشوی دی اود تعليق دوئمه جمله ((والله أعلم بمن يكلم فی سبيله)) هم ((كتاب الجهاد)) (۲) په شروع کښې د اعرج رحمه الله په طريق سره موصولاً تيرشويدې.

دمذکوره تعليق ترجمة الباب سره مطابقت: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ترجمة الباب سره د تعليق مناسبت به په دې صورت کښې ظاهريږی چه د حضرت ابوموسی اشعری رضي الله عنه حديث ((من قاتل لتكون كلمة الله هی العليا فهو فی سبيل الله)) (۳) به هم په خيال کښې ساتې اود دې خبرې علم چه څوك د الله تعالی د کلمې د اوچتوالی د پاره جهاد کوی د آسمانی وحی نه بغير نشی کيدې. چه د چا باره کښې هم ثابت شی چه هغه واقعی د الله تعالی په لار کښې دې نو په هغه به د شهادت حکم لګولې شی اود حضرت ابوهريره رضي الله عنه قول ((والله أعلم بمن يكلم فی سبيله)) مطلب دا دې چه د دې علم بغير د الله تعالی نه بل چا ته نشی کيدې. چاته چه پخپله الله تعالی اطلاع او خبر ورکړو په دې وجه په جهاد کښې د هر قتل شوی متعلق د حکم دا اطلاق مناسب نه دې چه هغه د الله تعالی په لارکښې دې. (۴)

---

۱) (صحيح البخاری كتاب الجهاد باب أفضل الناس مؤمن مجاهدبنفسه.... رقم (۲۷۸۷)-
۲) (صحيح البخاری كتاب الجهاد باب من يخرج فی سبيل الله عزوجل رقم (۲۸۰۳)-
۳) (صحيح البخاری كتاب الجهاد باب من قاتل لتكون كلمة الله هی العليا رقم (۲۸۱۰)-
۴) (فتح الباری (ج۶ص۹۰)-

[۲۷۴۲] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ (۱) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْتَقَى هُوَ وَالْمُشْرِكُونَ فَاقْتَتَلُوا فَلَمَّا مَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى عَسْكَرِهِ وَمَالَ الْآخَرُونَ إِلَى عَسْكَرِهِمْ وَفِي أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ لَا يَدَعُ لَهُمْ شَاذَّةً وَلَا فَاذَّةً إِلَّا اتَّبَعَهَا يَضْرِبُهَا بِسَيْفِهِ فَقَالَ مَا أَجْزَأَ مِنَّا الْيَوْمَ أَحَدٌ كَمَا أَجْزَأَ فُلَانٌ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ أَنَا صَاحِبُهُ قَالَ فَخَرَجَ مَعَهُ كُلَّمَا وَقَفَ وَقَفَ مَعَهُ وَإِذَا أَسْرَعَ أَسْرَعَ مَعَهُ قَالَ فَجُرِحَ الرَّجُلُ جُرْحًا شَدِيدًا فَاسْتَعْجَلَ الْمَوْتَ فَوَضَعَ نَصْلَ سَيْفِهِ بِالْأَرْضِ وَذُبَابَهُ بَيْنَ ثَدْيَيْهِ ثُمَّ تَحَامَلَ عَلَى سَيْفِهِ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَخَرَجَ الرَّجُلُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ قَالَ وَمَا ذَاكَ قَالَ الرَّجُلُ الَّذِي ذَكَرْتَ آنِفًا أَنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَأَعْظَمَ النَّاسُ ذَلِكَ فَقُلْتُ أَنَا لَكُمْ بِهِ فَخَرَجْتُ فِي طَلَبِهِ ثُمَّ جُرِحَ جُرْحًا شَدِيدًا فَاسْتَعْجَلَ الْمَوْتَ فَوَضَعَ نَصْلَ سَيْفِهِ فِي الْأَرْضِ وَذُبَابَهُ بَيْنَ ثَدْيَيْهِ ثُمَّ تَحَامَلَ عَلَيْهِ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فِيمَا يَبْدُو لِلنَّاسِ وَهُوَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ فِيمَا يَبْدُو لِلنَّاسِ وَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ [۳۹۶۶، ۳۹۷۰، ۶۱۲۸، ۶۲۳۳]

تراجم رجال

۱- قتیبه: دا شیخ الاسلام ابو رجاء قتیبه بن سعید ثقفی رحمه الله دي دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب إفشاء السلام من الإیمان)) لاندې تیرشوی دی. (۲)

۲- یعقوب بن عبدالرحمن: دا یعقوب بن عبدالرحمن بن محمد بن عبدالله الاسکندرانی رحمه الله دي. (۳)

۳- ابوحازم: دا مشهور زاهد ابوحازم سلمه بن دینار مدنی رحمه الله دي. (۴)

۴- سهل بن سعد رضی الله عنه: دا مشهور صحابی رسول حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه دي. (۵)

---

۱) (قوله:عن سهل بن سعد الساعدی رضی الله عنه: الحديث أخرجه البخاری أيضًا فی كتاب المغازی باب غزوة خيبر رقم (۴۲۰۷، ۴۲۰۲) وكتاب الرقاق باب الأعمال بالخوتيم وما يخاف منها رقم (۶۴۹۳) وكتاب القدر باب العمل بالخواتيم رقم(۶۶۰۷) ومسلم كتاب الإيمان باب غلظ تحريم قتل الإنسان نفسه رقم (۳۰۶) وكتاب القدر باب كيفية خلق الأدمی فی بطن أمه وكتابة رزقه وعمله، وشقاوته وسعادته رقم (۶۷۴ی۱)-

۲) (کشف الباری (ج۲ص۱۸۹)-

۳) (دَ دوی حالاتو دَپاره اوګورئ کتا ب الجمعة باب الخطبة على المنبر-

۴) (دَ دوی حالاتو دَپاره اوګورئ کتا ب الوضوء باب غسل المرأة أباها الدم عن وجهه-

۵) (حواله بالا-

قوله: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم التقى هو والمشركون فاقتتلوا فلما مال رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى عسكره، ومال الآخرون إلى عسكرهم: حضرت سهل بن سعد ساعدى رضی الله عنه نه مروى دى چه رسول الله ﷺ دَ (ملګرو سره) دَ مشرکانو سره مخامخ شو نو هغوى په خپل مينځ کښې جنګ اوکړو. بيا چه کله رسول الله ﷺ خپل دَ ډيرې ځاى ته واپس شو او مشرکان خپلو ځايونو ته.

دَ حديث دَمضمون تعلق کومې غزا سره دې؟ حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه حديث کښې ذکر شوې واقعه دَ کومې يوې غزوې سره متعلق ده، چه کومه غزوه وه په دې کښې دَ محدثينو اختلاف دې. دَ علامه ابن جوزى رحمه الله خيال دې طرف ته دې چه دا واقعه دَ غزوهٔ احد ده، خو حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عينى اونورو بعضو حضراتو خيال دې چه دا واقعه دَ غزوهٔ خيبر سره متعلق ده. (١)

امام بخارى رحمه الله دَ حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه دَ حديث په ((کتاب الجهاد)) نه علاوه ((کتاب المغازى)) کښې باب غزوه خيبر (٢) لاندې هم ذکر کړيدې، دَ کوم نه چه معلوميږى چه دَهغه ذهن هم دغه دې چه دا واقعه دَ غزوه خيبرده.(٣)

قوله: وفى أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم رجل لايدع لهم شاذة ولافاذة إلا اتبعها، يضربها بسيفه: اودَ رسول الله ﷺ په اصحابوکښې يوسړې وو چه دَ مشرکانو راتختيدلې يو سړې به ئې هم نه پريخودو مګردا چه هغه پسې به وو او هغه به ئې پخپله توره وهلو.

دلته دَ ((رجل)) نه مراد قُزمان ظفرى دې اودَ هغه کنيت ابوالغيداق وو. (۴)

په پورته ذکر شوى عبارت کښې دَ هغه سړى شجاعت او بسالت بيان کړيشويدې چه هغه به په ميدان جنګ کښې چرته هم تلو دَ خپلې بهادرئى نښې به ئى لګولې يو تختيدلې سړې به هم دَ هغه نه نه بچ کيدلو.

د شاذه او فاذه معنى: علامه خطابى رحمه الله فرمائى چه ((شاذة)) هغې ته وائى چه دَ مخکښې نه په قوم کښې شامل وو بيادَ هغې نه جدا شو او ((فاذة)) هغې ته وائى چه دَ سرنه په قوم کښې هډو شامل نه وى. دا اوخودلې شو چه قزمان ظفرى به چه چا پسې هم شو دَ هغه دَ ختمولو نه پس به ئې ساه اخستله. (۵)

---

١) دَ تفصيل دَپاره اوګورئ کشف البارى کتاب المغازى (ص٢١و٤٢٢) وعمدة القارى (ج ١٤ ص ١٨٠)
٢) (صحيح البخارى کتاب المغازى باب غزوه خيبر رقم (٤٢٠٣و ٤٢٠٧)-
٣) (کشف البارى کتاب المغازى (ص٤٢٢)-
٤) (فتح البارى (ج٧ص٤٧٢) وعمدة القارى (ج ١٤ص١٨١)-
٥) (عمدة القارى (ج ١٤ص١٨١)-

دَ علامه داودى رحمه الله وينا ده چه ((شاذة)) نه لوئ ځيزونه او ((فاذة)) نه واړه ځيزونه مراد دى او مطلب دا دې چه هغه به دَ هيڅ قسم سختئى اونرمئى پرواه نه كوله. (١)

بيا دَ بعضو حضراتو رائې داده چه ((شاذة، فاذة)) كښې چه كومه تاء ده هغه دَ مبالغې ده، لكه دَ ((علامة، نسابة)) تاء ده. (٢)

خودَ بعضونوروحضراتو وينا ده چه دواړه لفظونه موصوف محذوف يعنى دَ ((نسمة)) صفت دې اودَعبارت تقديرداسې دې((لايدع لهم نسمة شاذة ولافاذة)) (٣)

قوله: فقالوا: ما أجزأ منا اليوم أحد كما أجزا فلان: صحابه كرام رضوان الله عليهم اجمعين فرمائيلى چه نن زمونږ دَ طرف نه يوداسې سړې اونه جنګيدلو لكه چه فلانكې سړې اوجنګيدلو.

دَ باب په روايت كښې((فقالوا)) راغلې دې او ظاهره ده چه دَدې ضمير مستتر صحابه كرام رضوان الله عليهم اجمعين طرف ته راجع دې ليكن دَ كشميهنى نسخه كښې دَ كتاب المغازى په روايت كښې ((فقلت)) ذكردې كه دا روايت صحيح او محفوظ دې نو قائل به حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه وى.(۴)

قوله: فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أما إنه من أهل النار: نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه واورئى هغه د دوزخيانونه دې.

يعنى چه كله هغوى صلى الله عليه وسلم اوكتل چه صحابه كرامو رضي الله عنهم مسلسل دَ هغه سړى باربار تعريفونه كول نو هغوى صلى الله عليه وسلم دَ وحى په ذريعه دَ هغه دَ جهنمى كيدو اوفرمائيل ځكه چه هغه سړې باطنًا منافق وو او خپل منافقت ئى پټ كړې وو.(۵)

كلمه ((أما)) دَ ميم دَ تخفيف سره استفتاحيه ده، په دې وجه دَ دې نه پس چه كوم ((إنه)) همزه ده هغه مكسور دې. (۶)

قوله: فقال رجل من القوم: أنا صاحبه: نو په حاضرينوكښې يو سړى اووئيل زه به هغه سره اوسيږم.

((رجل)) نه مراد حضرت اكثم بن ابى الجون الخزاعى رضي الله عنه مراد دې. په طبرانى كښې دَ هغوى روايت دې چه : ((قال: قلنا: يارسول الله، فلان يجزئ فى القتال، قال: هو فى النار، قلنا: يارسول

---

١) (حواله بالا-
٢) (حواله بالا وفتح البارى (ج٧ص٤٧٢)-
٣) (حواله بالا-
٤) (إرشاد السارى (ج٥ص٩٢) و انظر كشف البارى كتاب المغازى (ص٤٢٣)-
٥) (إرشاد السارى (ج٥ص٩٢)-
۶) (حواله بالا-

الله، إذا كان فلان فى عبادته واجتهاده ولين جانبه فى النار، فأين نحن؟ قال: ذلك إخبات النفاق، وهو فى النار، قال: فكنا نتحفظ عليه فى القتال)) (١)

يعني حضرت اكثم ﷺ فرمائي چه مونږ اووئيل يا رسول الله فلانكى خو په جنګ كښې كمال ښكاره كړو. نو نبى اكرم ﷺ اوفرمائيل هغه دوزخى دې. نو مونږ (په حيرانتيا) اووئيل يارسول الله چه يو سړې د خپل عبادت، محنت او نرم طبيعت نه باوجود دوزخى دې نو مونږ به چرته يو؟ نو هغوى ﷺ اوفرمائيل چه دا ټول دنفاق خباثت او خرابې ده او هغه دوزخى دې. حضرت اكثم ﷺ فرمائي چه مونږ ټولو په جنګ كښې په هغه نظر ساتلو.

دَ دې ټول تفصيل نه به معلومه شوې وى چه حضرت اكثم ﷺ ولې فرمائيلې وو چه ((أنا صاحبه)) چه زه به هغه سره اوسيږم څكه چه دَ هغه كار ظاهرى ښه وو، كله چه رسول الله ﷺ داخودل چه هغه دوزخى دې نولازمى خبره ده چه دَدې به عجيبه سبب وى دَ څه په وجه چه دَ هغه په دوزخيانوكښې شمير اوشو.(٢)

((قال: فخرج معه، كلما وقف وقف معه، وإذا أسرع أسرع معه، قال: فجرح الرجل جرحا شديدًا، فاستعجل الموت، فوضع نصل سيفه فى الأرض وذبابه بين ثدييه، ثم تحامل على سيفه فقتل نفسه))

حضرت سهل ﷺ فرمائي چه هغه (اكثم) هغه سره اووتلو، كوم ځائ كښې چه به هغه ولاړ وو هلته به دې هم اودريدو او كله به چه هغه منډې وهلې نو ده به هم هغه سره منډه وهله، حضرت سهل ﷺ وائى بيا هغه سړې سخت زخمى شو نو هغه په مړكيدو كښې تندى اوكړه. دَ خپلې تورې موټې ئى په زمكه او دَ هغې څوكه ئى دَ خپلو دواړو سينو په مينځ كښې كيخودله او په توره راټيټ شو او خپل ځان ئى قتل كړو.

مطلب دا چه حضرت اكثم بن ابى الجون ﷺ هم هغه سره وو، نو چه كوم ځائ به هغه اودريدو نو دې به هم اودريدو، او چه كوم ځائ كښې به هغه تندى كوله او منډه به ئى وهله نو حضرت اكثم ﷺ به هم منډه وهله، دَ هغه دَ حال مشاهده ئى مقصد وو، آخر هغه منافق سړې په جنګيدو كښې زخمى شو او دَ زخمونو طاقت ئى نشو راوړلې نو په دې وجه ئى په مړكيدو كښې تندى اوكړه او ځان ئى پخپله مړ كړو.

نصل سيفه كښې نصل نه څه مراد دې؟: حضرت ګنګوهى رحمه الله دَ ((نصل)) دوه معنى مرادى بيان كړى دى:

① دَ ((نصل)) نه مجازاً دَ تورې مقبض (يعنى موټې) مراد دې. دَ دې وجه دا ده چه په اصل كښې ((نصل)) مطلقا دَ تورې اوسپنې ته وائى (٣)

نو علامه طاهر پټنى هندى رحمه الله فرمائي ((النصال: وهو حديدة السيف)) (٤)

---

١) (فتح البارى (ج٧ص٤٧٣) والطبرانى فى الكبير (ج١ص٢٩٦) ومجمع الزوائد (ج٧ص٢١٤)-
٢) (إرشاد السارى (ج٥ص٩٢) وشرح النووى على مسلم (ج١ص٧٣)
٣) (لامع الدرارى (ج٧ص٢٣٧)-
٤) (مجمع بحار الأنوار (ج٤ص٧١٦)-

② ((نصل سیفه)) نه پوره توره مراد ده.(۱) حضرت شیخ الحدیث محمد زکریا صاحب رحمه الله فرمائی چه دَ دې تائیدَ ((کتاب المغازی)) دَ دې روایت نه هم کیږی کوم کښې چه ((فوضع سیفه بالأرض....)) راغلی دی.(۲)

او((ذبابه)) دَ تورې مخ ته وائی یا هغه حصې ته دکوم طرف نه چه وارکولې شی. (۳)

قوله: فخرج الرجل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: أشهد أنك رسول الله، قال: وماذاك؟ قال: الرجل الذي ذكرت آنفا أنه من أهل النار، فأعظم الناس ذلك، فقلت: أنا لكم به، فخرجت في طلبه.... فقتل نفسه:

هغه سړې (یعنی حضرت اکثم رضی الله عنه) رسول الله ﷺ له راغلو او وئی وئیل چه زه ګواهی ورکوم چه ته دَ الله رسول ئې. هغوی ﷺ اوفرمائیل څه اوشو؟وئی وئیل چه تاسو دَ کوم سړی باره کښې اوس فرمائیلې وو چه هغه دوزخی دې نو خلقودا خبره ډیره سخت اوګڼړله، ما وئیل چه زه تاسوله اطمینان درکوم،زه دَهغه په نګرانئی کښې لاړم بیا هغه سخت زخمی شو او هغه دَ مرګ دَ پاره تندی اوکړه اودَ خپلې تورې موټې ئې په زمکه او دَ هغې څوکه ئې دَ خپلو دواړو سینو په مینځ کښې کیخوده اوپه توره راتیټ شو او خپل ځان ئې قتل کړو.

په ذکر شوی عبارت کښې حضرت اکثم رضی الله عنه نبی کریم ﷺ ته دَ هغه منافق دَ خودکشې کولو خبر ورکوی چه کله هغوی ﷺ هغه دوزخی اوګرځولو نو دَ حضور ﷺ وینا په نورو خلقو سخته اولګیدله چه دومره بهادر سړې څنګه دوزخی کیدې شی؟ نو ما دَ هغوی دَ مطمئن کولو دَ پاره اووئیل چه زه دَ هغه باره کښې اوس تاسو خلقو ته خبر راوړم.... بیا چه هغه څه لیدلې وو هغه ئې نبی کریم ﷺ ته بیان کړل او دَ هغوی ﷺ دَ برحق نبی کیدو ګواهی ئې ورکړه.

ثم تحامل... دَ تحامل معنی مائل کیدو او ټیټیدو ده.(۴)

یو اعتراض اودَ هغې جواب: علامه کرمانی رحمه الله دلته یو اعتراض نقل کړې دې، دَ اعتراض تقریر دا دې چه خودکشی کول خو معصیت دې اودَ اهل سنت مشهور او مسلّمه قاعده ده چه ((العبدلایکفر بالمعصیة)) نو بیا خو هغه خودکشی کونکې جنتی دې ځکه چه هغه مؤمن دې نو رسول الله ﷺ څنګه اوفرمائیل چه هغه دوزخی دې؟(۵)

دَدې اعتراض ذکرکولو نه پس هغه پخپله دَ دې مختلف جوابونه ورکړی دی:

① کیدیشی چه رسول الله ﷺ ته دَ وحی په ذریعه دَ دې خبرې علم شوې وی چه هغه مؤمن

---

۱) (لامع الدراری (ج۷ص۲۳۷)-
۲) (تعلیقات لامع الدراری (ج۷ص۲۳۷)-
۳) (إرشاد الساری (ج۵ص۹۳) وعمدة القاری (ج ۱۴ص۱۸۱)-
۴) (عمدة القاری (ج ۱۴ص۱۸۱)-
۵) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۶۳)-

نه دي په دې وجه دَ هغه دَ دوزخي کيدو نې اوفرمائيل.
② يا دا چه هغه به زردې چه مرتدشي او خپل نفس حلالول به ورته حلال ښکاره شي او ښکاره خبره ده چه ((استحالة المعصية كفر))

③ يا دَ هغه دَ دوزخي کيدو مطلب دا دې چه هغه دَ هغه ګناهګارانونه دې چه دوزخ کښې به داخليږي بيا به دَ هغه ځائ نه راوځي. (١)

ليکن علامه عيني رحمه الله دَ علامه کرماني دا اعتراض او دَ دې جوابونه تکلف ګرځولې دې او ليکي: ((لواطلع الكرماني على أنه كان معدودا في المنافقين أو على قوله: ماقاتلت على دين، لما تكلف بهذه الترديدات)) (٢)

که کرماني رحمه الله ته دَ دې خبرې علم وې چه دَ هغه شمير په منافقانو کښې وو نو هغه ته به دَ دې قول خبروو چه زه دَ يو دين حفاظت کولو دَ پاره نه جنګيږم نو هغه ته به دَ دې ترديداتوهډو ضرورت نه وو.

((فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم عند ذلك: إن الرجل ليعمل عمل أهل الجنة فيما يبدو للناس، وهو من أهل النار، وإن الرجل ليعمل عمل أهل النار فيما يبدو للناس، وهو من أهل الجنة))

نو په دې موقع رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه يو سړې په ظاهره دَ خلقو په خيال کښې دَ جنتيانو کار کوي،خو هغه مآلاً دَ دوزخيانونه وي او يو سړې دَ خلقو په خيال کښې په ظاهره دَ دوزخيانو کارکوي حالانکه هغه مآلاً دَ جنتيانو نه وي.

دَ نبي ﷺ مذکوره ارشاد مطلب: يعني يوسړې هغه وي چه خلق دَ هغه عمل ته ګوري نو دا نتيجه راوباسي چه دا سړې جنتي دې ليکن دَهغه انجام خراب وي او دوزخ دَ هغه ټکانه وي. او يو سړې داسې وي چه په ظاهره دَ هغه اعمال خراب وي دَ څه په وجه چه خلق دا نتيجه اخذ کوي چه دَ ده ځائ دوزخ دې ليکن دَ هغه انجام ښه وي او جنت دَ هغه ځائ شي. په دې وجه سړې له پکار دې چه په خپلو نيکو عملونو باندې دهوکه اونه خوري اودغه شان ګناهګار دې دَ الله تعالى دَ رحمت نه نااميده کيږي نه. علامه نووي رحمه الله فرمائي:

((فيه: التحذير من الاغترار بالأعمال، وأنه ينبغي للعبد أن لايتكل عليها، ولايركن إليها، مخافة من انقلاب الحال للقدر السابق، كذا ينبغي للعاصي أن لايقنط، ولغيره أن لايُقنطه من رحمة الله تعالى)) (٣)

يعني حديث کښې دَ اعمالو په وجه دهوکه خوړلو ذکر دې او دا چه بنده له پکار دى چه صرف په نيکو اعمالو دې تکيه نه کوي او نه دې بهروسه کوي، هسې نه چه په وړاندينى تقدير سره دَ هغه دا ښه حالت په خراب حال باندې بدل نشي، دغه شان ګناهګار بنده له هم پکار دى چه نااميده کيږي دې نه او دَ نورو دَ پاره هم دا مناسب دى چه هغوى دَ الله تعالى دَ رحمت نه نااميده نه کړي.

---

١) (شرح الكرماني (ج١٢ص ١٦٤)-
٢) (عمدة القاري(ج ١٤ص ١٨١)-
٣) (شرح النووي (ج١ص٧٣)-

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دلته دا اشکال پیداکیږی چه د ترجمة الباب د حدیث سره مناسبت نشته ځکه چه ترجمه خو په دې باب قائمه کړیشویده چه چاته بغیر د تحقیق نه شهید مه وائې. د دې خبرې خو په حدیث کښې د سرنه څه ذکر نشته.
نو د حدیث ترجمة الباب سره مناسبت په قول د علامه ابن المنیر رحمه الله په دې معنی دې چه صحابه کرامو رضی الله عنهم هغه سړې (قزمان) د پاره د جهاد د وجه نه دا ګواهی ورکړې وه، اوس که هغه قتل شوې وې نو لازمی خبره وه چه صحابه کرامو به د هغه د شهادت ګواهی ورکوله او هغه به ئې شهید ګرځولو نو چه کله دا خبره معلومه شوه چه د هغه قتال او جهاد د الله تعالی د پاره نه وو بلکه هغه د قومیت د وجه نه جنګیدلو نو معلومه شوه چه هر مقتول فی الجهاد ته شهید نشی وئیلې. ځکه چه د دې احتمال دې چه هغه هم د دغه سړی (قزمان) په شان وی. دا جدا خبره ده چه هغه ته په احکام ظاهری کښې د شهید حکم ورکولې شی. همدغه وجه ده چه سلفو د بدر او احد وغیره مقتولین شهیدان ګرځولی دې او دینه مراد حکم ظاهری دې چه په غالب ګمان باندې مبنی دې. (۱)

۷۷-بَاب: التَّحْرِيضِ عَلَى الرَّمْيِ

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاری رحمه الله د غشو ویشتلو ترغیب ورکوی ځکه چه دا په جهاد کښې په کار راتلونکې څیز دې. او په دې سره د دښمن په مقابله کښې قوت حاصلیږی نو په دې وجه غشی ورول زده کول پکار دی. (۲)

قوله: وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ: [الانفال: ۶۰]: او د الله تعالی قول د دې (کافرانو) د پاره چه څومره قوت او اسونه ستاسو د پاره ممکن وی تیارکړئی په دې سره به تاسو د الله تعالی دښمنان او خپل دښمنان ویروئی.

آیت مبارک کښې "قوة" نه څه مراد دی؟: حافظ صاحب او علامه عینی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری د ترجمة الباب په ذیل کښې مذکوره آیت مبارك ذکر کولو سره دې خبرې طرف ته اشاره کړې ده چه د ((قوت)) نه مراد ((رمی)) ده، ځکه چه په یو حدیث کښې د ((قوت)) تفسیر په ((رمی)) سره کړیشویدې. حضرت عقبه بن عامر جهنی رضی الله عنه (۳) نه مروی دی ((سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم وهو علی المنبر یقول: ﴿وأعدوا لهم ما استطعتم من قوة﴾ ألا إن القوة الرمی—ثلاثا (۴)

۱) (فتح الباری (ج۶ص۹۰) وعمدة القاری (ج ۱۴ص ۱۸۰)-
۲) (عمدة القاری (ج ۱۴ص ۱۸۱)-
۳) (الحدیث أخرجه مسلم کتاب الإمارة باب فضل الرمی والحث علیه رقم (۴۹۴۶) وأبوداؤد کتاب الجهاد باب فی الرمی رقم (۲۵۱۴) والترمذی أبواب التفسیر باب ومن سورة الأنفال رقم(۳۰۸۳) وابن ماجه أبواب الجهاد باب الرمی فی سبیل الله رقم (۲۸۱۳)-
۴) (فتح الباری (ج۶ص۹۱) وعمدة القاری (ج ۱۴ص۱۸۱)-

د رمي تخصيص بالذكر وجه: علامه قرطبي رحمه الله آيت مبارك كښې د ((قوت)) تفسير ((رمي)) سره كول او ((رمي)) مخصوص بالذكر كولو وجه بيانولو سره فرمائي:

((وإنما فسر القوة بالرمي، وإن كانت القوة تظهر بإعداد غيره من الات الحرب، لكون الرمي أشد نكاية في العدو وأسهل مؤنة، لأنه قد يرمي رأس الكتيبة، فيصاب فينهزم من خلفه)) (۱)

يعني نبي اكرم ﷺ د ((قوت)) تفسير ((رمي)) سره كړيدې، سره د دې چه د ((قوت)) اظهار د جنګ نورو آلاتو تيارى سره هم كيږي خود دې وجه دا ده چه د غشو ورولو اثر په دښمن باندې سخت او د غشو بوج په خپل ځان باندې سپك وى ځكه چه كله ناكله د لښكر په وړاندينئ حصه باندې غشى ورولې كيږي نو هغوى د غشو ښكار شى او ماتې خوړلوسره روستو تختي او د تيختې لار اختياروى.

علامه طيبي رحمه الله د پورتنى آيت نحوى تعليل كولوسره فرمائي: ((مااستطعتم)) كښې ((ما)) موصوله ده او د دې عائد يعني ضمير محذوف دې او ((من قوة)) د دې دپاره بيان دې او مراد ترې نفس قوت دې.(۲)

نور فرمائي چه په دې بيان او مبين كښې اشاره دې خبرې ته ده چه دا د غشو ورولو تيارى بغير د ممارست او اوږد مشق پابندئ نه بغير نه صحيح كيږي او د جنګ په آلاتوكښې د كمان او غشى نه علاوه بل څه څيز نشته په كوم كښې چه دا دومره ممارست او پابندى ضرورى وى، په دې وجه نبي اكرم ﷺ بار بار د ((قوة)) تفسير ((رمي)) سره فرمائيلې دې. (۳)

او د آيت مبارك سره متعلقه بعض نورو تفصيلات ((باب من احتبس فرسا في سبيل الله)) لاندې په ماقبل كښې راغلى دى.

[۲۷۴۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ سَلَمَةَ بْنَ الْأَكْوَعِ (۴) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى نَفَرٍ مِنْ أَسْلَمَ يَنْتَضِلُونَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْمُوا بَنِي إِسْمَاعِيلَ فَإِنَّ أَبَاكُمْ كَانَ رَامِيًا ارْمُوا وَأَنَا مَعَ بَنِي فُلَانٍ قَالَ فَأَمْسَكَ أَحَدُ الْفَرِيقَيْنِ بِأَيْدِيهِمْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَكُمْ لَا تَرْمُونَ قَالُوا كَيْفَ نَرْمِي وَأَنْتَ مَعَهُمْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْمُوا فَأَنَا مَعَكُمْ كُلِّكُمْ [۳۲۱۶، ۳۱۹۳]

---

۱) (الجامع لأحكام القرآن (ج۸ص۳۷)-
۲) (شرح الطيبي (ج۷ص۳۱۴)-
۳) (حواله بالا-
۴) (قوله: سلمة بن الأكوع رضي الله عنه: الحديث أخرجه البخاري أيضًا في كتاب أحاديث الأنبياء باب قول الله تعالى ﴿واذكر في الكتاب إسمعيل إنه كان صادق الوعد﴾ رقم (۳۳۷۳) وكتاب المناقب باب نسب اليمن إلى إسمعيل منهم: أسلم بن أفصى بن حارثة بن عمرو من خزاعة رقم (۳۵۰۷)-

تراجم رجال

۱-عبدالله بن مسلمه: دا ابوعبدالرحمن عبدالله بن مسلمه بن قعنب حارثی رحمه الله دي.
دَ دوی تذکره ((کتاب الإیمان باب من الدین الفرار من الفتن)) لاندې تیره شویده. (۱)
۲-حاتم بن اسماعیل: دا ابواسماعیل حاتم بن اسماعیل کوفی رحمه الله دي.(۲)
۳-یزید بن ابی عبید: دا یزیدبن ابی عبید مولی سلمة بن الاکوع رحمه الله دي.
۴-سلمة بن الاکوع: دا مشهور صحابی حضرت سلمة بن الاکوع رضی الله عنه دي. (۳)

قوله: قال: مرالنبی صلی الله علیه وسلم علی نفر من أسلم ینتضلون:
حضرت سلمة بن الاکوع رضی الله عنه فرمائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم څه خلقو سره خواکې تیرشو په دې وخت کښې چه هغوی غشی ویشتل.
((أسلم)) نه مراد بنو اسلم دی، چه دَ عربو مشهوره قبیله وه. (۴)
((ینتضلون)) انتضال نه مشتق دې او دَ دې معنی دَ غشو ویشتلو ده. (۵) اودا جمله فعلیه ماقبل دپاره حال واقع کیږی. (۶)

قوله: فقال النبی صلی الله علیه وسلم: ارموابنی إسماعیل فإن أباکم کان رامیا ارموا وأنامع بنی فلان: نبی علیه السلام فرمائیلي اې بنواسماعیل! غشی اولئی ځکه چه ستاسو پلاربه هم غشی ویشتل، غشی اولئی او زه دَ فلانکې قبیلې سره یم.

بنی فلان نه څوک مراد دي؟: حدیث کښې ((وأنا مع بنی فلان)) راغلی او مراد دَدینه ((ابن الأدرع)) دی اودَ ابن الادرع نوم محجن دې. صحیح ابن حبان (۷) او مسند بزاز (۸) کښې دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت کښې ((وأنا مع ابن الأدرع)) الفاظ وارد شوی دی. دَ دې نه زیات صریح روایت دَ طبرانی دې کوم چه حمزه بن عمرو الاسلمی نه مروی دې، په دې کښې الفاظ دا دی: ((وأنا مع محجن بن الأدرع)) (۹)

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص۸۰)-
۲) (دوی حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب بلاترجمة بعد باب استعمال فضل وضوء الناس-
۳) (دَدې دوارو حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب العلم باب إثم من کذب علی النبی صلی الله علیه وسلم
۴) (عمدة القاری) ١٤ص١٨٢) وفتح الباری (ج۶ص۹۱)-
۵) (حواله بالا-
۶) (إرشاد الساری (ج۵ص۹٤)-
۷) (الأحسان بترتیب صحیح ابن حبان (ج۸ص۹۹) کتاب السیر ذکر اسم الرواة الذین قال لهم النبی صلی الله علیه وسلم هذالقول رقم (٤۶۷۵)-
۸) (فتح الباری (ج۶ص۹۱)-
۹) (مجمع الزوائد للهیثمی (ج۵ص۲۶۸)-

خود ابن منده رحمه الله خيال دا دې چه ابن الادرع نوم سلمه دې او نور فرمائي چه ادرع خو لقب دې او اصل نوم دَ هغه دَ پلار ذكوان دې. (١)

ليكن راجح قول هم رومبې دې. علامه خزرجي رحمه الله فرمائي ((محجن بن الأدرع ...وهو الذي قال فيه النبي صلى الله عليه وسلم: ارموا وأنا مع ابن الأدرع)) (٢)

حضرت محجن بن الادرع: دا حضرت محجن بن الادرع الاسلمي رضي الله عنه دې او قديم الاسلام صحابي دې. (٣)

هغه دَ نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه روايت كوي اودَ هغه نه حنظله بن علي الاسلمي، رجاء بن ابي رجاء الباهلي او عبدالله بن شقيق رحمهم الله وغيره دَ حديث روايت كوي.(٤)

آخرعمركښې بصره كښې اوسيدو، هم هغوي دَ مسجد بصره حدبندي وغيره كړې وه.(٥)

دَ امام ابن سعد رحمه الله مطابق هغه دَ وفات كيدونه وړاندې مديني منورې ته واپس راغلې وو او هم هلته دَ حضرت معاويه رضي الله عنه په دور خلافت كښې وفات شو. (٦)

امام بخاري رحمه الله په ((الادب المفرد)) كښې او امام ابوداود او نسائي رحمهما الله په خپلو خپلو كتابونو كښې دَهغه نه روايتونه اخستې دي. (٧)

هغه دَ نبي كريم صلى الله عليه وسلم ټول پنځه احاديث روايت كړي دي او اصحاب اصول سته دَ هغې نه دوه روايتونه اخستې دي.(٨)

قوله: قَالَ: فأمسك أحد الفريقين بأيديهم، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: مالكم لا ترمون؟ قالوا: كيف نرمي وأنت معهم؟: راوي وائي نو دوئم فريق خپل لاسونه بند كړل. رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل څه اوشو تاسو غشي ولې نه اولئ؟ هغوى اووئيل مونږغشي څنګه اولو كله چه تاسو دوئمې ډلې سره يئ.

مطلب دا دې چه كله نبي اكرم صلى الله عليه وسلم دا اوفرمائيل چه زه خو فلانكې يعنې محجن بن ادرع سره يم نو دوئمې ډلې غشي ورول بندكړل، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ هغوى نه دَ لاس بندولو باره كښې تپوس اوكړو چه څه خبره ده تاسو خلق غشي نه اولئ؟ نو لاس بندونكې ډلې اووئيل چه دا زمونږ دَ پاره څنګه ممكن ده چه مونږ غشي اولو او تاسو دوئمې ډلې سره يئ؟ ښكاره خبره ده چه په دې صورت كښې هم مونږ ماتې خورو.

---

١) (فتح الباري (ج٦ص٩١)-

٢) (خلاصة الخزرجي (ص٣٧٠)-

٣) (تهذيب الكمال(ج٢٧ص٢٦٧)-

٤) (حواله بالا-

٥) (حواله بالا-

٦) (طبقات ابن سعد(ج٧ص١٢)-

٧) (تهذيب الكمال (ج٢٧ص١٦٧) وفتح الباري(ج٦ص٩١)-

٨) (خلاصة الخزرجي (ص٣٧٠)-

جواب ورکونکې څوک وو؟: دَ حدیث جمله ((قالوا: کیف نرمی وأنت معهم؟)) کښې دَ حضور ﷺ دَ سوال جواب دې خو دا جواب ورکونکې صحابی څوک وو؟ نودَ حافظ صاحب رحمه الله وغیره په قول دا حضرت نضله الاسلمی رضی الله عنه وو. ابن اسحاق ((مغازی)) کښې سفیان بن فروة الاسلمی په طریق سره نقل کړی دی چه

((بینا محجن بن الأدرع یناضل رجل من أسلم یقال له: نضلة....فقال نضلة وألقی قوسه من یده: والله، لا أرمی معه وأنت معه....فقال نضلة: لایغلب من کنت معه)) (۱)

یعنی په دې دوران کښې حضرت محجن بن ادرع رضی الله عنه دَ قبیله اسلم یو سړی سره غشی ویشتل، چاته چه نضله وئیلی شی... نو حضرت نضله رضی الله عنه کمان دَ لاس نه غورزولو سره اووئیل والله! زه هغوی سره غشی نه اولم چه تاسو هغوی سره ئې... حضرت نضله رضی الله عنه فرمائی چه (یارسول الله) تاسو چه چاسره ئې هغوی ماتې نشی خوړلې.

قوله: فقال النبی صلی الله علیه وسلم: ارموا فأنامعکم کلکم: نونبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه غشی اولئی زه تاسو ټولوسره یم.

((کلکم)) چه کوم لام دې هغه مجرور دې ځکه هغه ((معکم)) چه کوم ضمیر دې دَ هغې دَ پاره تاکید دې.(۲)

یواشکال اودَ هغې جواب: دلته یو اشکال پیدا کیږی چه رسول الله ﷺ دواړو ډلو سره ولې یوځائ شو هرکله چه دا خبره شوې وه چه یو ډله به غالب وی او بله مغلوب؟ (۳)

علامه کرمانی رحمه الله دَ دې اشکال جواب دا ورکړې دې چه دلته دَ معیت نه مراد دَ خیر قصد او اراده، دَ نیت اصلاح او په غشو ویشتلو کښې دَ جنګ په غرض مشق دې، دلته دَ یوې ډلې غالب او مغلوب کیدلو سلسله مقصد نه ده او نه هغوی ﷺ دَ غالبیت او مغلوبیت په خیال خپل معیت بیان فرمائیلې دې. (۴)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت ((ارموابنی إسماعیل)) کښې دې او کوم کوم ځائ چه ((ارموا)) لفظ راغلې دې دَ دینه دَ غشو ویشتلو ترغیب او تحریض مراد دې. (۵)

دَ حدیث نه مستنبط فائدې: دَ حضرت سلمة بن الاکوع رضی الله عنه دَ حدیث نه دا لاندینئی فائدې مستفاد کیږی:

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص۹۲) وعمدةالقاری (ج۱٤ص۱۸۲) وإرشادالساری(ج۵ص۹٤) وقال الحافظ فی مقدمة الفتح هدی الساری ویحتمل أن یکون هو أبابرزة فإن اسمه نضلة بن عبید.(ص۲۹۰)-

۲) (شرح القسطلانی (ج۵ص۹٤)-

۳) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۶٤)-

٤) (شرح الکرمانی(ج۱۲ص۱۶۵)-

۵) (عمدة القاری (ج۱٤ص۱۸۲)-

① علامه مهلب رحمه الله فرمائی چه دَ حدیث نه معلومه شوه چه سلطان یا خلیفه له پکار دی چه خپلو خلقو ته دَ غشو ویشتلو او نورو ډیرو فنون جنګ دَ تعلیم حکم ورکړی او دَ هغې دَ زده کولو ترغیب ورکړی.(١)

② نور فرمائی چه دَ سړی دَپاره دا ضروری دی چه هغه دَ خپلو پلارانو نیکونو ښه خصلتونه اولټوی او دَ هغې اتباع اوکړی اوهم دَ هغوی په شان عمل دې اوکړی. دَ نبی علیه السلام ارشاد مبارك دې ((ارموا فإن أباكم كان راميا))(٢)

③دَ بادشاه دَپاره ضروری دی چه هغه دَ هریو فن ماهرینو باندې دا ښکاره کړی چه هغه دوی سره دې، یعنی دَ هغوی په ډله کښې شامل دې او هغوی سره مینه لری. څنګه چه حضور صلی الله علیه وسلم دَ غشو ویشتلو ماهرینو سره وکړل چه وئی فرمائیلې ((وأنا مع بنی فلان)) (٣)

④ بادشاه له دا هم پکار دی چه خلقوته دَ جنګ دَ امورو پخپله ننبې ښائی چه فلانکې څیز زده کړئی په دې کښې مهارت اختیارکړئی لکه چه نبی علیه السلام کول.(۴)

⑤ او دا هم معلومه شوه چه په اسونو سوریدل او دَ وسلې استعمال زده کول فرض کفایه دی اوکله کله هغه فرض عین هم شی. (۵)

[٢٧٤٣] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْغَسِيلِ عَنْ حَمْزَةَ بْنِ أَبِي أُسَيْدٍ عَنْ أَبِيهِ(٦) قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ حِينَ صَفَفْنَا لِقُرَيْشٍ وَصَفُّوا لَنَا إِذَا أَكْثَبُوكُمْ فَعَلَيْكُمْ بِالنَّبْلِ [٣٧٦٣]

تراجم رجال

١- ابونعیم: دا مشهور محدث ابونعیم فضل بن دکین کوفی رحمه الله دې. دَ ده تذکره ((کتاب الإیمان باب بلا ترجمة)) لاندې راغلې ده.(٧)

٢- عبدالرحمن بن الغسیل: داعبدالرحمن بن سلیمان بن حنظله غسیل الملائکه رحمه الله دې.(٨)

---

١) (شرح ابن بطال (ج٥ص ٩٤)-

٢) (شرح ابن بطال (ج٥ص ٩٤)-

٣) (حواله بالا-

٤) (حواله بالا-

٥) (تفسیر القرطبی (ج٨ص٣٩)-

٦) (قوله: عن ابیه: الحدیث أخرجه البخاری ایضًا کتاب المغازی باب فضل من شهد بدرا رقم (٣٩٨٤و ٣٩٨٥) وابوداؤد أبواب الجهاد باب فی الصفوف رقم (٢٦٦٣) وباب سل السیوف عند اللقاء رقم (٢٦٦٤)-

٧) (کشف الباری (ج٢ص٢٦٩)-

٨) (دَ دوی حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب الجمعة باب من قال فی الخطبة بعد الثناء: أما بعد-

۳- حمزه بن ابی اسید: دا حمزه بن ابی اسید مالك بن ربیعه الانصاری الساعدی رحمه الله دي. ابومالك د ده کنیت دې او دا دَ منذر بن ابی اسیدرور دي. (۱)

دې دَخپل پلار ابواسید الساعدی او حارث بن زیاد الانصاری رضي الله عنهما نه دَ حدیث روایت کوی.

اوده نه دده دواړه ځامن مالك اويحيى، سعدبن المنذر، عبدالرحمن بن سليمان بن الغسيل، محمد بن عمرو بن علقمه، امام زهری او ابوعمرو بن حماس رحمهم الله وغيره روايت كوى. (۲)

حافظ ابن حجر، خطیب بغدادی، او اسماعیلی رحمهم الله رائې دا ده چه حمزه بن ابی اسید صحابی دي او هغوی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارکه زمانه کښې پیدا شوی. (۳)

خو بعض نور حضرات محدثین مثلاً ابوحاتم ابن حبان رحمه الله هغه په خپل کتاب «الثقات» کښې تابعينو كښې ذكر كړيدي. (۴)

امام بخاری رحمه الله نه علاوه امام ابوداود او امام ابن ماجه رحمهما الله هم دَ ده نه روایت اخستې دي. (۵)

دَ خليفه ولید بن عبدالملك په زمانه کښې وفات شو. (۶)

۴- ابیه: «أب» نه مراد حضرت ابواسید مالك بن ربیعه الساعدی الخزرجی رضي الله عنه دي. (۷)

قوله: قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم يوم بدر حين صففنا لقريش، وصفوالنا: إذا أكثبوكم فعليكم بالنبل: حضرت ابواسيد رضي الله عنه فرمائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دَ جنګ بدر په موقع کله چه مونږ د قریشو په مقابله کښې صفونه تړلې اودریدو او هغوی هم زمونږ دَ پاره صفونه تړلې شو نو وئی فرمائیل که دښمن (قریش) تاسو له نزدې راغې نو تاسو پرې غشی ورول شروع کړئی.

دَحضرت ابواسید الساعدی رضي الله عنه دا حدیث دَ غزوه بدر متعلق دې نودَ دې تشريح هم په کتاب المغازی کښې راغلې ده. (۸)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: حديث ابی اسید رضي الله عنه مطابقت ترجمة الباب سره دَ حضور صلی الله علیه وسلم په ارشاد مبارك كښې ده «فعليكم بالنبل» ځکه چه په دې کښې دَ رمی بالسهام ترغيب او تحريض دي. (۹)

---

۱) (تهذیب الکمال (ج۷ص۳۱۱)-
۲) (شیوخ وتلامذه دَ پاره اوګورئ تهذيب الكمال (ج۷ص۳۱۱-۳۱۲)-
۳) (الإصابة (ج۱ص۳۵۳، ۳۵۸)-
۴) (تهذیب الکمال (ج۷ص۳۱۲)-
۵) (تهذیب الکمال (ج۷ص۳۱۲)-
۶) (طبقات ابن سعد (ج۵ص۲۷۲)-
۷) (دَ دوی دَ حالات دَ پاره اوګورئ کتاب الأذان باب من شکا إمامه إذاطول-
۸) (كشف البارى كتاب المغازی (۱۳۷)-
۹) (عمدة القاری (ج۱٤ص۸۳)-

رمی نه څه مراد دی؟ مونږ روستو د باب په شروع کښې نقل کړی دی چه په ایت مبارک ﴿واعدوا لهم ما استطعتم من قوة...﴾ (۱) د ((قوة)) تفسیر ((رمی)) سره شویدې اود امام بخاری رحمه الله منشا هم د آیت ترجمة الباب لاندې ذکر کولو همدغه وه چه ((قوة)) نه مراد ((رمی)) دې.

اوس خبرې په دې کښې دی چه ((رمی)) نه څه مراد دې؟ آیا هم هغه چه کوم معروف دې، یعنی غشی ورول یا رمی عام ده؟ نود بعضو حضراتو خیال دې چه د رمی نه د دې خاص معنی یعنی غشی ورول مراد دی.

لیکن راجح دا دی چه رمی د هغه قوت یو فرد دې باقی په کومه طریقه سره چه هم د دښمن په مقابله کښې قوت حاصلیدیشی هغه اختیارول ضروری اوواجب دی. مونږ دلته د حضرت مولانا ادریس کاندهلوی رحمه الله یو اقتباس لیکو د کوم سره چه به د راجح قول په پوهیدلو کښې نورامداد ملاوشی. فرمائی:

په احادیثوکښې اګرچه د قوت تفسیر په غشو ورولو سره شویدې خود الفاظود عموم په اعتبارسره د دې نه مراد هر قسم د جنګ سامان دې او دا مطلب نه دې چه صرف قوت په غشو ویشتلوخپلوکښې منحصردې بلکه توره، نیزه ډهال، زغره، قلعه ګانې، سامان رسد او سامان جنګ ټول په قوت کښې داخل دی ځکه چه د آیت مقصد اصلی دا دې چه هغه سازوسامان او د جنګ آلات پیداکړئی د څه په ذریعه چه تاسو د دښمن مقابله کولې شئی او په هغوی غالب راشئی... بهر حال په دې آیت کښې مسلمانانو ته دا حکم ورکول دی چه تاسو د دښمنانو په مقابله کښې د جنګ سامان تیارکړئی او چه څومره قوت او طاقت پیدا کولې شئی په هغې کښې کمې مه پریږدئی او ښکاره خبره ده چه په هره زمانه کښې د جنګ سامان بدلیږی. په مخکښې زمانه کښې نیزه او توره وه او په دې زمانه کښې توپه او ټوپک وغیره دی، دا ټول د جهاد سامان دې او دا ټول به دغه شان چه په راتلونکې وخت کښې کومه وسله او د جنګ آلات تیاریږی انشاء الله هغه ټول د دې آیت په عموم او مفهوم کښې داخل وی او عین منشائې قرآنی به وی.... (۲)

نوې وسله جوړول فرض دی: حضرت کاندهلوی رحمه الله نورفرمائی: د دې آیت په رو سره په مسلمانانو حکومتونو د جدید وسلې تیارولو اود هغې کارخانې قائمول فرض دی. ځکه چه په دې آیت کښې د قیامت پورې د هرمکان او زمان مناسب قوت او طاقت پیداکولو حکم

---

۱) (الانفال:۶۰)-

۲) (معارف القرآن للکاندهلوی (ج۳ص۲۵۵) قال محدث العصر الشاه أنور الکاشمیری رحمة الله: والتحریض علی الرمی کان فی الزمان الماضی وأما الیوم فینبغی أن یکون علی تعلم استعمال الآلات التی شاعت فی زماننا. کالبندقة. والغاز. ومن الغباوة: الجمود علی ظاهر الحدیث: فإن التحریض علیه لیس إلا للجهاد ولیس فیه معنی وراءه. ولما لم یبق الجهاد بالأقواس لم یبق فیها معنی مقصود. فلا تحریض فیها.... فالحاصل: أن التحریض فی کل زمان بحسبه. وفی النص إشارة إلیه أیضًا فقال تعالی: ﴿ترهبون به عدوالله وعدوکم﴾ والمصود هوالإرهاب. وذلک لایحصل الیوم بتعلم الرمی. فیض الباری (ج۳ص۴۳۵) وأیضًا انظر روح المعانی للعلامة الألوسی (۶ص۲۵)-

ورکړېشويدي. څنګه چه کافرانو تباه کونکې وسلې تيارې کړی دی په مونږ باندې هم دغه شان تباه کونکې وسلو تيارول فرض دی.دې د پاره چه دکفر او شرك مقابله اوکړېشي.(۱)

په اسونو سوريدل غوره دی که غشې ورول: په دې کښې هيڅ شك نشته که دَ اسونو سوريدل وی يا غشو ورول دواړه دَ جنګ او جهاد اهم ذريعې دی او دَ جنګ دَ اسبابونه دی ليکن په دې دواړو کښې غوره کوم يو دې حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائی:

((**وقد ذهب أكثر العلماء إلى أن الرمى أفضل من ركوب الخيل، وذهب الإمام مالك إلى أن الركوب أفضل من الرمى،وقول الجمهور أقوى للحديث**)) (۲)

اواکثر علماء دې طرف ته دی چه رمي دَ رکوب الخيل نه غوره ده او امام مالك رحمه الله دې طرف ته دی چه رکوب،دَ رمي نه غوره دی. اودَ جمهورو قول دَ حديث په وجه قوی دی.

حافظ ابن کثير رحمه الله چه د کوم حديث طرف ته اشاره کړېده هغه حضرت عقبه بن عامر الجهنی رضي الله عنه نه مروی دې فرمائی ((**قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ارموا واركبوا وأن ترموا خيرمن أن تركبوا**)) (۳) يعنی غشی وروئی او په اسونو سورلی کوئی اودا چه تاسو غشی وروئی د دې نه بهتر دی چه تاسو په اسونو سورلی کوئی.

نو په پورتنی حديث کښې رسول اکرم صلى الله عليه وسلم غشی ورول دَ اسونو سوريدلو نه بهتر او غوره ګرخولی دی.

۷۸-بَاب: اللَّهْوِبِالْحِرَابِ وَنَحْوِهَا

دَترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاری رحمه الله داخودل غواړی چه لهو بالحراب هغه لهو(لوبه) کښې داخل نه دی کوم چه منهی عنه ده،شريعت لهوبالحراب مشروع او جائز ګرځولی دی او دا ئی په مستثنيات کښې داخل کړی دی. که دا کار دَ تعليم په غرض وی نو جائزدې بلکه دَ جهاد قوت حاصلولو دَ پاره مندوب او مسنون دې. (۴)

حافظ ابن حجر فرمائی چه غالبًا امام بخاری رحمه الله دې ترجمة الباب په ذريعه هغه حديث شريف طرف ته اشاره فرمائی کوم چه حضرت عقبه بن عامرجهنی رضي الله عنه نه مروی دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل ((**.... وليس اللهو إلا فى ثلاثة تأديب الرجل فرسه، وملاعبته امرأته، ورميه بقوسه ونبله**))(۵) (اللفظ للنسائی)

---

۱) (معارف القرآن (ج۳ص۲۵۵)-

۲) (تفسير القرآن العظيم لابن كثير الدمشقى (ج۲ص۳۲۱)-

۳) (الحديث رواه أبوداؤد فى الجهاد باب فى الرمى رقم (۲۵۱۳) والترمذى فى فضائل الجهاد باب ماجاء فى فضل الرمى فى سبيل الله تعالى رقم(۱۶۳۷) وقال:هذا حديث حسن صحيح،والنسائى فى كتاب الخيل والسبق، باب تأديب الرجل فرسه رقم(۳۶۰۸) وابن ماجه فى أبواب الجهاد باب فضل الرمى فى سبيل الله رقم (۲۸۱۱)

۴) (عمدة القارى (ج۱۴ص۱۸۳) وفيض البارى (ج۳ص۴۳۶)-

۵) (الحديث رواه أبوداؤد فى الجهاد باب فى الرمى رقم (۲۵۱۳) والترمذى فى فضائل الجهاد باب ماجاء فى فضل الرمى فى سبيل الله تعالى رقم (۱۶۳۷) وقال: هذا حديث حسن صحيحوالنسائى فى كتاب الخيل والسبق باب تأديب الرجل فرسه رقم (۳۶۰۸) وابن ماجاه فى ابواب الجهاد باب فضل الرمى فى سبيل الله رقم (۲۸۱۱)

چه لهو دريو موقعونه علاوه بل چرته جائزنه دى. يو دا چه دَ سړى خپل اس برابرول، دونم دَ سړى خپلې ښځې سره مشغولتيا كول، او دريم غشى او لندې سره غشى ورول.(١)

حراب ــ بكسر الحاء وفتح الراء ــ حربة ــ بفتح الحاء وسكون الراء ــ جمع ده اودَ دې معنى نيزه ده.(٢)

او ((نحوها)) په ذريعه امام بخارى دا ارشاد فرمائى چه دَ لهو جواز حراب سره خاص نه دې بلكه دَ جنګ نور آلات مثلاً غشى لنده، توره وغيره سره هم جائز دى.

[٢٧٣٥] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ ابْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(٣) قَالَ بَيْنَا الْحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحِرَابِهِمْ دَخَلَ عُمَرُ فَأَهْوَى إِلَى الْحَصَى فَحَصَبَهُمْ بِهَا فَقَالَ دَعْهُمْ يَا عُمَرُ وَزَادَ عَلِيٌّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ فِي الْمَسْجِدِ

تراجم رجال

١- ابراهيم بن موسى: دا ابواسحاق ابراهيم بن موسى بن يزيد الفراء رحمه الله دې.

٢- هشام: دا ابوعبدالرحمن هشام بن يوسف صنعانى رحمه الله دې. (۴)

٣- معمر: دا ابوعروه محمدمعمر بن راشدازدى رحمه الله دې. دَ دوى مختصر تذكره ((بدء الوحي)) پنځم حديث لاندې تيره شويده.(۵)

۵- زهري: دا ابو بكر محمدبن مسلم زهرى رحمه الله دَ ده تذكره هم ((بدء الوحى)) دَ دريم حديث په ذيل كښې تيره شويده.(۶)

٦- ابن المسيب: دا امام التابعين حضرت سعيد بن المسيب رحمه الله دې. دَدوى حالات ((كتاب الإيمان باب من قال: إن الإيمان هو العمل)) لاندې تيرشوى دى. (٧)

٧- ابوهريره رضي الله عنه: دامشهورصحابى رسول، حضرت ابوهريره رضي الله عنه دې. دَده مفصل تذكره دَ ((كتاب الإيمان)) په ذيل كښې تيره شويده. (٨)

---

١) (فتح البارى (ج۶ص٩٣)-
٢) (عمدة القارى (ج١٤ص١٨٣) ومعجم الوسيط (ج١ص١۶٣) مادة حرب-
٣) (قوله: عن أبي هريرة رضى الله عنه: الحديث رواه مسلم كتاب العيدين باب الرخصة فى اللعب الذى لامعصية فيه فى أيام العيد رقم(٢٠۶٩) والنسائى كتاب العيدين باب اللعب فى المسجد يوم العيد ونظر النساء إلى ذلك رقم (١٥٩٧)-
٤) (ددې دواړو حضراتو دَحالاتو دَپاره اوګورئ كتاب الحيض باب غسل الحائض رأس زوجها ترجيله
٥) (كشف البارى (ج١ص ٤۶٥)-
۶) (حواله بالا (ص٣٢۶)-
٧) (كشف البارى (ج٢ص١٥٩)-
٨) (كشف البارى (ج١ص۶٥٩)-

قوله: قال: بينا الحبشة يلعبون عند النبي صلى الله عليه وسلم بحرابهم دخل عمر، فأهوى إلى الحصى فحصبهم بها: حضرت ابوهريره ﷺ فرمائي په دې دوران كښې چه حبشيانو خپلو نيزو سره د حضور ﷺ په وړاندې لوبې كولې نو حضرت عمر ﷺ داخل شو او د كانړو طرف ته متوجه شو بيا په دې كانړو باندې هغه حبشيان ننبه كړل.
حضرت ابوهريره ﷺ دلته د عهدنبوي ﷺ يوه واقعه ذكر كوي چه يو ځل څه حبش مدينې منورې طرف ته راغله او د نبي كريم ﷺ په وړاندې ئې مختلف قسم د جنګ مظاهرې پيش كړې نو هم دغه خلقو يو ځل خپلو تورو او نيزو سره لوبې كولې چه حضرت عمر ﷺ داخل شو او كله ئې چه دا نظاره اوليده نوكانړې ئې اولتيول او په دې كانړو باندې ئې دغه حبش ننبه جوړكړل.
د دې وجه دا وه چه حضرت عمر ﷺ ته د دې كار حكمت معلوم نه وو او هغه دا كار په لهو باطل كښې شميرلې وو. علامه قسطلاني ﷫ د حضرت عمر ﷺ د دې كارتوجيه بيانولو سره ليكي: ((لعدم علمه بالحكمة وظنه أنه من اللهو الباطل))(١)
او د نسائي شريف روايت نه معلوميږي چه دې حبشي خلقو بنوارفده سره تعلق لرلو.(٢)

قوله: فقال: دعهم يا عمر: نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل اې عمر! دوى (د دوى په حال باندې) پريږده.
يعنې د دوى په كار كښې دخل مه كوه او دوى پريږده چه لوبې كوى، ځكه چه د هغوى دا كار د جنګ تمرين او مشق اود دښمن مقابلې كولو تيارې د پاره دې. (٣)
د دې حديث نه معلومه شوه چه كه چرې اجتهادى خطا او غلطى اوشى نو هغه ملامت كول صحيح نه دى ځكه چه نبي كريم ﷺ حضرت عمر ﷺ ته د هيڅ قسم رټنه وغيره اونه كړه ځكه چه هغه په دې معامله كښې ناخبروو.(٤)

يواشكال او د هغې جوابونه: اوس اشكال دا شو چه حضرت عمر ﷺ دا حبشي خلق چه د نبي كريم ﷺ خواكښې ئې لوبى كولې ولې په كانړو اوويشتل، ځكه چه هغه ته ښكاريدل چه نبي اكرم ﷺ هلته موجود دې نو دا خو يو قسم الله تعالى دې نه كړى بې ادبى شوه.
علامه ابن التين ﷫ د دې اشكال دوه جوابونه وركوى:
① ممكنه ده چه حضرت عمر ﷺ نبي كريم ﷺ نه وو ليدلې او هغه ته دا معلومه نه وى چه هغوى ﷺ هم دې حبشيانو ته ګورى. (٥)
② يا هغه دا ګڼرلې وى چه نبي ﷺ دې خلقو ته كتل خو د حياء د وجه نه ئې هغوى نشو

١ ((إرشاد الساري (ج٥ص٩٥)-
٢) (سنن النسائي كتاب العيدين باب اللعب في المسجد يوم العيد.... رقم (١٥٩٧)-
٣) (شرح القسطلاني (ج٥ص٩٥) وشرح ابن بطال (ج٥ص٩٥)-
٤) (شرح ابن بطال(ج٥ص٩٥)-
٥) (عمدة القاري (ج١٤ص١٨٣)-

منع کولې، په دې وجه حضرت عمر ﷺ پخپله اقدام اوکړو او هغوی ئې منع کړل. او ابن التین ﷫ دا دوئم جواب راجح ګرځولې دې ځکه چه په حدیث کښې صراحت دې چه ((یلعبون عند النبی صلی الله علیه وسلم....)) نو د نه کتلو هډو مطلب نشته.(١)

قوله: زادعلی: حدثنا عبدالرزاق أخبرنا معمر: فی المسجد: د مذکوره عبارت مطلب دا دې چه کومه واقعه په حدیث کښې ذکر کړېشویده هغه د جمات وه چه هغه خلقو په جمات کښې نیزو سره لوبې کولې. (٢)

د علی نه مراد المدینی ﷫ دې، د دې ځائ روایت کښې خو ((زادعلی)) دې. لیکن مستملی په روایت کښې ((زادعلی...)) راغلې دی، د دې دپاره هغه ته څوك سرې غیر دال علی الاتصال اونه ګنړی. (٣)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت واضح دې او هغه د حدیث په رومبنی جمله کښې دی یعنی ((بینا الحبشة یلعبون عند النبی صلی الله علیه وسلم))

د علامه عینی او حافظ صاحب تسامح: حافظ ابن حجر ﷫ او علامه عینی ﷫ خیال دا دې چه ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت په حدیث باب کښې نشته. ځکه چه په دې کښې د ((حراب)) ذکر نشته نو کیدیشی امام بخاری ﷫ حدیث باب دلته ذکر اوفرمائیلو او د هغې بعض نورو طرق طرف ته ئې اشاره فرمائیلې ده. د دې نه مراد دې حضراتو د حضرت عائشه ﷞ هغه حدیث اخستې دې کوم چه امام بخاری ﷫ کتاب الصلاة (٤) کښې ذکر فرمائیلې ((رأیت النبی صلی الله علیه وسلم والحبشة یلعبون بحرابهم)) دغه شان د حدیث مطابقت ترجمه سره کیږي. (٥)

غالبًا دې حضراتو ته دلته تسامح شویده، دا هم ممکن دی چه د دې حضراتو په خیال کښې کومه نسخه وه کیدیشي په دې کښې حراب الفاظ موجود نه وی. د بخاری محشی حضرت احمدعلی سهارنپوری ﷫ فرمائی

((قوله: بحرابهم، هذا موضع الترجمة وکأنه لعدم وجوده فی بعض النسخ لم یطلع علیه بعض المهرة، فتحیر فی مطابقة الحدیث للترجمة))

تنبیه: د حدیث باب نور تشریحات کتاب الصلاة کښې تیرشوی دی.(٦)

---

١) (حواله بالا-
(٢(شرح القسطلانی (ج٥ص٩٥)-
(٣(تغلیق التعلیق (ج٣ص٤٤٤)-
٤) (صحیح البخاری کتاب الصلاة باب أصحاب الحراب فی المسجد رقم (٤٥٥)-
٥) (فتح الباری (ج٦ص٩٣) وعمدة القاری (ج١٤ص١٨٣)-
٦) (صحیح البخاری کتاب الصلاة باب أصحاب الحراب فی المسجد رقم (٤٥٤)-

٧٩-باب: الْمِجَنِّ وَمَنْ يَتَتَرَّسُ بِتُرْسِ صَاحِبِهِ

دَترجمة الباب مقصد: په دې باب کښې امام بخاري رحمه الله دَ ډهال او دَ هغې دَ استعمال ذکر کوی. (۱) اود دې ترجمې نه دهغه مقصد دا دې چه دَ دې څيزونو استعمال دَ توکل نه خلاف نه دې او دا دَ نبوت دَ تعليم او دَ نبوت دَ منصب نه هم خلاف نه دی. علامه ابن المنير اسکندرانی رحمه الله فرمائی:

((وجه هذه التراجم دفع من يتخيل أن هذه الآلات ينافی التوكل، والحق أن الحذر لايرد القدر، ولكن يضيق مسالك الوسوسة لما طبع عليه البشر)) (۲)

يعنی دَ دې ترجمو مقصد دَ هغه سړی خيال رد کول دی چه دا گڼړی چه دَ دې آلاتو استعمال دَ توکل منافي دې، صحيح خبره دا ده چه احتياط تقدير نه اړواکوی ليکن دومره خبره ضرور ده چه دَ انسانانو کومې دَ وسوسې جبلت او عادتونه دی دَ احتياط اختيارولو سره دَ دې وسوسو خاتمه کيږی.

دَمجن معنی: المجن: دَ ميم په کسره سره دَ جيم په فتح سره ډهال ته وائی (۳) او دا دَ جَنَّ يَجِنُّ نه مشتق دې. او معنی ئې پټول دی او مجن ته مجن په دې وجه وائی چه هغه دَ دښمن حمله منع کوی او دَ سړی او دښمن په مينځ کښې پرده جوړيږی. او دَ ترس معنی هم ډهال ده. (۴)

[۲۷۴۶] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا الْأَوْزَاعِيُّ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ (۵) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ أَبُو طَلْحَةَ يَتَتَرَّسُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتُرْسٍ وَاحِدٍ وَكَانَ أَبُو طَلْحَةَ حَسَنَ الرَّمْيِ فَكَانَ إِذَا رَمَى تَشَرَّفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَنْظُرُ إِلَى مَوْضِعِ نَبْلِهِ [ر: ۲۷۲۴]

تراجم رجال

۱-احمد بن محمد: دا ابوالعباس احمدبن موسی مروزی رحمه الله دې. (۶)

۲-عبدالله: دا امام عبدالله بن مبارك منظلی مروزی رحمه الله دې. دَ دوی تذکره ((بدء الوحی)) پنځم حديث کښې تيره شويده. (۷)

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ ص ۱۸٤)-
۲) (فتح الباری (ج ۶ ص ۹٤)-
۳) (حواله بالا وعمدة القاری (ج ۱٤ ص ۱۸٤)-
٤) (النهاية للجزری (ج ۱ ص ۳۰۸) باب الجيم مع النون-
۵) قوله: عن أنس بن مالک رضی الله عنه: الحديث مر تخريجه فی الجهاد باب غزو النساء وقتالهن مع الرجال
۶) (ذدوی دَ حالاتو دپاره اوگورئ کتاب الوضوء باب مايقع من النجاسات فی السمن والماء-
۷) (كشف الباری (ج ۱ ص ٤۶۲)-

٣-الاوزاعي: دا مشهور فقیه عبدالرحمن بن عمروبن ابی عمرواوزاعی شامی رحمه الله دی. دَ دوی حالات ((كتاب العلم باب الخروج في طلب العلم)) لاندې تیرشوی دی.(١)

٤-اسحاق بن عبدالله بن ابی طلحه: دا اسحاق بن عبدالله بن ابی طلحه انصاری مدنی رحمه الله دی. دَ دوی حالات ((كتاب العلم باب من قعد حيث ينتهي به المجلس...)) لاندې راغلی دی.(٢)

٥-انس بن مالك: دَ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه حالات ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب....)) لاندې تیرشوی دی.(٣)

قوله: قال: كان أبوطلحة يتترس مع النبي صلى الله عليه وسلم بترس واحد، وكان أبوطلحة حسن الرمي فكان إذا رمى يشرف النبي صلى الله عليه وسلم فينظر إلى موضع نبله: حضرت انس رضي الله عنه فرمائی چه طلحه رضي الله عنه به دَ نبی کریم ﷺ سره په یو ډهال کښې کاراخستلو، او ابوطلحه رضي الله عنه ډیر ښکلې غشی ورونکې وو نو چه کله به هغه غشې ویشتلو نو نبی کریم ﷺ به خپل سر مبارك اوچتولو اودَ هغه دَ غشی غورزیدو ځائ ته به ئی کتل.

په رومبنی جمله کښې حضرت انس رضي الله عنه دا ښائی چه حضرت طلحه رضي الله عنه دَ نبی کریم ﷺ سره په ډهال کښې کار کولو،مطلب دا چه ډهال رسول الله ﷺ نیولې وو او غشی ابوطلحه رضي الله عنه ورول. دَ دې وجه دا ده چه کوم سړې غشی وروی نو دَ هغه دواړه لاسونه بند وی دَ دې دَ پاره به نبی کریم ﷺ ډهال نیولې وو او په هغې به ئی دَ ابوطلحه رضي الله عنه بچاؤ کولو.(٤)

او دَ حدیث سره متعلقه نور تشریحات كتاب المغازی کښې به راځی.(٥)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث مناسبت ترجمې سره بالکل واضح دې او هغه دَ حدیث رومبنۍ جمله ((كان أبوطلحة يتترس مع النبي صلى الله عليه وسلم بترس واحد)) کښې دې.(٦)

[٢٧٤٧] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلٍ(٧) قَالَ لَمَّا كُسِرَتْ بَيْضَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَأْسِهِ وَأُدْمِيَ وَجْهُهُ وَكُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ

---

١) (كشف البارى (ج٣ص٤٠٨)-

٢) (كشف البارى (ج٣ص٢١٣)-

٣) (كشف البارى (ج٢ص٤)-

٤) (فتح البارى (ج٦ص٩٤) وعمدة القارى (ج١٤ص١٨٤)-

٥) (كشف البارى كتاب المغازى (ص٢١٢و ٢٣١)-

٦) (عمدة القارى (ج١٤ص١٨٤)-

٧) (قوله: عن سهل: الحديث مرتخريجه فى كتاب الوضوء باب غسل المرأة أباها الدم عن وجهه-

وَكَانَ عَلِيٌّ يَخْتَلِفُ بِالْمَاءِ فِي الْمِجَنِّ وَكَانَتْ فَاطِمَةُ تَغْسِلُهُ فَلَمَّا رَأَتِ الدَّمَ يَزِيدُ عَلَى الْمَاءِ كَثْرَةً عَمَدَتْ إِلَى حَصِيرٍ فَأَحْرَقَتْهَا وَأَلْصَقَتْهَا عَلَى جُرْحِهِ فَرَقَأَ الدَّمُ [ر: ۲۴۰]

تراجم رجال

۱-سعید بن عفیر: دا سعید بن کثیر بن عفیر رحمه الله دې. اکثر دَ خپل نیکه طرف ته منسوب کولې شی، دهغوی حالات (کتاب العلم باب من یرد الله به خیرا یفقهه...) لاندې تیرشوی. (۱)

۲- یعقوب بن عبدالرحمن: دا یعقوب بن عبدالرحمن بن محمدبن عبدالله اسکندرانی رحمه الله دې. (۲)

۳-ابوحازم: دا مشهورزاهدابوحازم سلمة بن دینار رحمه الله دې. (۳)

۴-سهل: دا مشهور صحابی حضرت سهل بن سعدساعدی انصاری رضي الله عنه دې. (۴)

قوله: قال: لماکسرت بیضة النبی صلی الله علیه وسلم...: حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه فرمانی چه کله دَ حضور اکرم صلی الله علیه وسلم خود (دَ وسپنې ټوپۍ چه دَ هغې په وجه سر دَ ګذار نه بچ کولې شی) په سرمبارک باندې مات شو او مخ مبارک ئې په وینو رنګ شواودَ هغوی صلی الله علیه وسلم دوه مخامخ غاښونه شهید شو نو حضرت علی رضي الله عنه به ډهال کښې اوبه راوړلې اوحضرت فاطمه رضي الله عنها زخم اووینځلو ،چه کله هغوی اوکتل وینه دَ اوبونه هم زیاته شو نو هغوی یو پوزکې اوسوزولو نودَ هغې ایره ئې دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په زخمونو اولګوله، دَ څه نه چه وینه راوتل بندشو.

دَ دې حدیث څه تفصیل (کتاب الوضوء) (۵) کښې او څه تشریحات (کتاب المغازی) (۶) کښې راغلی، دَ دې دپاره مونږ دلته صرف په ترجمه باندې اکتفا اوکړه.

دَ رسول الله په ګستاخانو باندې دَ الله عذاب: لکه څنګه چه تاسو اوس اوکتل چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم مخامخ دوه غاښونه شهیدان شوې وو اودا دَ غزوه احدواقعه ده، دَ دې غاښونو شهادت داسې اوشو چه دَ حضرت سعدبن ابی وقاص رضي الله عنه رورعتبه بن ابی وقاص په حضور صلی الله علیه وسلم باندې کاڼړې ورګذار کړو په څه سره چه دَ هغوی صلی الله علیه وسلم غاښونه مبارک او شونډه مبارکه زخمي شوه. (۷)

نو الله تعالی عتبه ته دَ دې ګستاخئی دا سزا ورکړه چه دَ دې واقعه نه پس دَ هغه په نسل

---

۱) (کشف الباری (ج۳ص ۲۷٤)-
۲) (دَ دوی دَ حالاتودپاره اوګورئ کتاب الجمعة باب الخطبة علی المنبر-
۳) (دَ دوی دَ حالاتودپاره اوګورئ کتاب الوضوء باب غسل المرأة أباها الدم عن وجهه-
٤) (حواله بالا-
۵) (حواله بالا-
۶) (کشف الباری کتاب المغازی (ص۲٤۷)-
۷) (إرشادالساری (ج۵ص۹۵)-

كښې كوم ماشوم هم پيدا كيدو د هغه د لاندې دوه غاښونه به د بيخه مات وو اودا څيز دَهغه په نسل كښې معروف اومشهور دى.(١)

دَ عبدالله بن قميئه په حضور ﷺ باندې حمله اوكړه چه دَ هغې په وجه دَ خود دوه دَ اوسپنې كړئى په مخ مبارك كښې ورخښې شوې. بيا هغه دَ كبراوگستاخئى نه داالفاظ اوونيل ((خذها وأنا ابن قميئة)) دا واخله او زه دَ قميه خوئ يم. رسول الله ﷺ په جواب كښې ارشاد اوفرمائيلو ((أقمأك الله)) الله تعالى دې تا خوار او ذليل كړى.

دَ رسول الله ﷺ دَ دې بددعا دا نتيجه ښكاره شوه چه الله تعالى په هغه باندې يوغرځنې چيلې مسلط كړو هغه چيلى دې باربار په ښكرو وهلو او تردې پورې چه هغه د ابن قميئه ټكړې ټكړې كړو.(٢)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره دَ حديث مطابقت دَ حديث په دې جمله كښې دې: ((وكان على يختلف بالماء فى المجن)) (٣)چه په دې كښې دَ مجن ذكر موجود دې چه دَ ترجمه رومبى جز دې.

[٢٧٤٨] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِاللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (٤) قَالَ كَانَتْ أَمْوَالُ بَنِي النَّضِيرِ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا لَمْ يُوجِفْ الْمُسْلِمُونَ عَلَيْهِ بِخَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ فَكَانَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاصَّةً وَكَانَ يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِ ثُمَّ يَجْعَلُ مَا بَقِيَ فِي السِّلَاحِ وَالْكُرَاعِ عُدَّةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ [٢٩٢٧، ٣٨٠٩، ٤٦٠٣، ٥٠٤٢، ٥٠٤٣، ٦٣٤٧، ٦٨٧٥]

تراجم رجال

١- **على بن عبدالله:** دا اميرالمؤمنين فى الحديث ابوالحسن على بن عبدالله بن جعفر رحمه الله دي. دَ دوى مفصل تذكره ((كتاب العلم باب الفهم فى العلم)) لاندې تيره شويده.(٥)

---

١) (حواله بالا-

٢) (حواله بالا وعمدة القارى (ج ١٤ص ١٨٤) وسيرة ابن هشام (ج٣ص٨٧)-

٣) (فتح البارى (ج٦ص ٩٤) وعمدة القارى (ج ٤ص ١٨٤)

٤) (قوله: عن عمررضي الله عنه: الحديث أخرجه البخارى أيضًا كتاب فرض الخمس باب فرض الخمس رقم (٣٠٩٤) وفى المغازى باب حديث بنى النضير... رقم (٤٠٣٣) وكتاب التفسير سورة الحشر باب قوله تعالى﴿ماأفاءالله على رسوله﴾ رقم (٤٨٨٥) وكتاب النفقات باب حبس الرجل قوت سنةعلى أهله.... رقم (٥٣٥٧-٥٣٥٨) وكتاب الفرائض باب سقول النبى صلى الله عليه وسلم: لانورث...رقم (٦٧٢٨) وكتاب الأعتصام باب مايكره من التعمق والتنازع فى العلم والغلو فى الدين والدع رقم (٧٣٠٥) ومسلم كتاب الجهاد باب حكم الفى رقم (٤٥٧٥) وابوداؤد أبواب الخراج والإمارة باب فى صفايا رسول الله صلى الله عليه وسلم من الأموال رقم (٢٩٦٣-٢٩٦٥) والترمذى أبواب السير باب ماجاء فى تركة رسول الله صلى الله عليه وسلم رقم (١٦١٠) وأبواب الجهاد باب ماجاء فى الفى رقم ١٧١٩) والنسائى أول كتاب قسم الفى رقم(٤١٤٥و ٤١٥٣)

٥) (كشف البارى (ج٣ص٢٩٧)-

يو اهمه تنبيه علامه عينى رحمه الله چه چرته د رواتود سند مختصر تعارف ليكلې دې هلته ئې علي بن عبدالله مسندى ګرځولې دې.(١) حالانكه د علي بن عبدالله نه مراد دلته ابن المدينى دې ځكه چه په رجال بخارى كښې د علي بن عبدالله نومې راوى نشته د چا نسبت چه المسندى وى.

٢- سفيان: دا امام سفيان بن عينيه رحمه الله دې. د دوى حالات ((بدء الوحى))(٢) د رومبى حديث په ضمن كښې مختصراً او ((كتاب العلم باب قول المحدث: أخبرنا...)) لاندې تفصيلاً تيرشوى دى. (٣)

٣- عمرو: دا ابومحمدعمروبن دينارمكى رحمه الله دې.(٤)

٤- زهري: دا امام ابوبكر محمدبن مسلم زهرى رحمه الله دې. د دوى مختصرتذكره ((بدء الوحى)) د دريم حديث لاندې تيره شويده. (٥)

٥- مالك بن اوس بن الحدثان: دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابى حضرت مالك بن اوس بن الحدثان رضي الله عنه دې. (٦)

٦- عمر رضي الله عنه: دا دونم خليفه ابوحفص عمربن الخطاب بن نفيل عدوى رضي الله عنه دې. د دوى تذكره ((كتاب الإيمان باب زيادة الإيمان ونقصانه)) لاندې راغلې ده.(٧)

قوله: قال: كانت أموال بني النضير....: حضرت عمر رضي الله عنه فرمائى د چه بنونضير د مالونوحيثيت داسې وو چه الله تعالى د خپل رسول صلى الله عليه وسلم په نګرانئى كښې بغير د څه جنګ نه وركړى وو اود هغې د حاصلولود پاره مسلمانانو نه څه اسونه زغلولې وو او نه ئې پرې سورلى كړې وه.دا مالونه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خاص نګرانئى كښې وود كومې نه چه به هغوى صلى الله عليه وسلم د خپلو بيبيانو د كال خرچه وركوله او چه څه به باقى پاتې كيدل هغه به ئې د وسلو او اسونو د اخستلودپاره د الله تعالى په لاركښې د جهاد دپاره هم خرچ كول.

تنبيه: امام بخارى رحمه الله د حضرت عمر رضي الله عنه د حديث څه حصه دلته نقل كړيده. همدغه حديث په پوره تفصيل سره كتاب المغازى كښې راغلې دې.(٨)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله

---

١) (عمدة القارى (ج ١٤ص١٨٥)-
٢) (كشف البارى (ج١ص١٣٨)-
٣) (كشف البارى (ج٣ص١٠٢)-
٤) (د دوى حالاتو د پاره اوګورئ كتاب العلم باب العلم والعظة بالليل-
٥) (كشف البارى (ج١ص٣٢٦)-
٦) (د دوى حالاتو د پاره اوګورئ كتاب البيوع باب مايذكر فى بيع الطعام واحكرة-
٧) (كشف البارى (ج٢ص ٤٧٤)-
٨) (كشف البارى كتاب المغازى (ص١٨٦-١٩١)-

کنبې راغلې دې((ثم يجعل ما بقي في السلاح والكراع عدة في سبيل الله)) (۱) څکه چه مجن هم دَ وسلې نه دې.
نو سعيد بن منصور په صحيح سند سره دَ حضرت عمر رضی الله عنه باره کنبې نقل کړيدی چه هغه سره يو ډهال وو، نوحضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائيل ((لولاأن عمرقال لي: احمس سلاحك لأعطيت هذه الدرقة لبعض أولادي))(۲) که حضرت عمر رضی الله عنه ماته دا نه وو وئيلې چه وسله خان سره ساته نو ما به دا ډهال خامخا خپل يو اولاد ته ورکړې وې. نو معلومه شوه چه مجن هم په وسله کنبې داخل دې.

[۲۷۳۹] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ قَالَ حَدَّثَنِي سَعْدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَدَّادٍ عَنْ عَلِيٍّ ح حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ شَدَّادٍ قَالَ سَمِعْتُ عَلِيًّا(۳) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفَدِّي رَجُلًا بَعْدَ سَعْدٍ سَمِعْتُهُ يَقُولُ ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي [۳۸۳۲، ۳۸۳۳، ۵۸۳۰]

تراجم رجال

۱- قبيصه: دا ابوعامر قبيصه بن عقبه بن محمد السوائی رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((كتاب الإيمان باب علامة المنافق)) لاندې تيرشوی دی. (۴)

۲- سفيان: دا مشهور امام حديث تبع تابعی ابوعبدالله سفيان بن سعيد بن مسروق ثوری رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((كتاب الإيمان باب علامة المنافق)) په ذيل کنبې راغلی دی.(۵)

۳- سعدبن ابراهيم: دا سعدبن ابراهيم بن عبدالرحمن بن عوف الزهری رحمه الله دې.(۶)

۴- عبدالله بن شداد: دا ابوالوليد عبدالله بن شداد بن هادر رحمه الله دې. (۷)

---

۱) (عمدة القاری (ج۱٤ص۱۸۵)-
۲) (فتح الباری (ج۶ص۹٤)-
۳) (قوله: سمعت عليارضی الله عنه: الحديث أخرجه البخاری ايضًا كتاب المغازی باب ﴿إذهب طائفتان منكم أن تفشلا...﴾ رقم (٤٠٥٨-٤٠٥٩) وكتاب الأدب باب قول الرجل: أبي وأمي رقم (٦١٨٤) ومسلم كتاب فضائل الصحابة باب في فضل سعدبن أبي وقاص رضی الله عنه رقم (٦٢٣٣) والترمذی أبواب المناقب باب: ارم فداک أبي وأمي رقم (٣٧٥٣، ٣٧٥٥) وأبواب الأدب باب ماجاء في فداک أبي وأمي رقم (٢٨٢٨-٢٨٢٩) ابن ماجه كتاب السنة باب في فضائل أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم رقم (١٢٩)-
٤) (كشف الباری (ج۲ص۲۷۵)-
۵) (كشف الباری (ج۲ص۱۷۸)-
۶) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ كتاب الوضوء باب الرجل يوضی صاحبه-
۷) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ كتاب الحيض باب مباشرت الحائض-

۵-علی رضی الله عنه: دا څلورم خلیفه ابوالحسن حضرت علی بن ابی طالب هاشمی رضی الله عنه دی. (۱)

قوله: حدثنا قبیصة حدثنا سفیان:

حافظ ابونعیم او مذکوره سند. په دې سند کښې د قبیصه نه مراد ابن عقبه او سفیان نه ابن سعید الثوری رحمه الله دی. لیکن ابونعیم رحمه الله ((المستخرج)) کښې دا وئیلی دی چه دلته د قبیصه لفظ د مدونین بخاری د طرف نه تصحیف دې او صحیح الفاظ ((حدثنا قتیبة)) دی.
نو په دې صورت کښې د سفیان نه ابن عُیَینه رحمه الله مراد به وی ځکه چه قتیبه د سفیان ثوری نه د حدیث سماع نه ده کړې. (۲)
نو لکه چه ابونعیم په حدیث کښې دا علت پیدا کول غواړي چه د سفیان نه ثوری مراد دې او د قتیبه سماع خو د ثوری نه ثابته نه ده په دې وجه دا روایت معلل دې (۳)
لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ماته د ابونعیم د دې انکار څه معنی معلومه نشوه ځکه چه د دې نه هیڅ یو څیز مانع نه دې چه دا حدیث سفیانین (ابن عینیه و ثوری رحمهما الله) نه مروی دې. نو مصنف رحمه الله دا حدیث (کتاب الأدب)(۴) کښې ((یحیی القطان عن سفیان الثوری)) په طریق باندې نقل کړیدې، بیا د نسفی په نسخه کښې هم زمونږ په وړاندې په موجوده باب (۵) کښې ((عن مسدد عن یحیی عن سفیان)) په طریق باندې مروی دې.(۶)
اوس خلاصه د بحث دا شوه چه دا حدیث د حضرت سفیان ثوری رحمه الله نه هم مروی دې. نو په دې وجه د دې خبرې هیڅ حاجت نشته چه د قبیصه په ځائ قتیبه او سفیان نه ابن عینیه مراد واخستې شی، اونه د دې څه ضرورت شته چه مدونین بخاری طرف ته د غلطئی نسبت اوکړېشی.
اود حضرت علی رضی الله عنه نه مروی د دې حدیث تشریح کتاب المغازی (۷) او کتاب الادب (۸) کښې راغلې ده.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د دې حدیث دلته په باب کښې راوړل غیر ظاهر دی ځکه چه په دې حدیث کښې د مجن څه ذکر نشته، او نه د مجن او ترس په ذریعه د دښمن د غشو نه بچ کیدل.
خو بیا حافظ صاحب پخپله د دې اشکال جواب هم ورکړیدې چه د ابن شبویه په نسخه

---

۱) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب العلم باب إثم من كذب على النبی صلی الله علیه وسلم-
۲) (فتح الباری (ج۶ص۹۴وعمدة القاری (ج۱۴ص۱۸۶)-
۳) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۸۶)-
۴) (صحیح البخاری کتاب الأدب باب قول الرجل: أبی وأمی رقم (۶۱۸۴)-
۵) (الکنت الظراف علی الأطراف (ج۷ص۴۰۹)-
۶) (فتح الباری (ج۶ص۹۴)-
۷) (کشف الباری کتاب المغازی (ص۲۳۰)-
۸) (کشف الباری کتاب الأدب(ص۶۰۳-۶۰۵)-

كښې د دې روايت نه وړاندې باب بغير د ترجمه ذكر دې (زمونږ په هندوستانى نسخو كښې داسې ده) اود دې باب بلاترجمه په مناسبت ماقبل باب سره په دې معنى دې چه غشې ويشتونكې د دې امر نه مستغنى نشى كيدې چه هغه به د دښمن د غشونه د بچ كيدلو دپاره د څه څيز استعمال نه كوى. د دې د پاره هغه د څه داسې څيز استعمال كوى چه د دښمن غشى منع كړيشى.(۱)

ليكن علامه عينى رحمه الله فرمائى چه د حافظ صاحب دا قول د تكلف او تعسف نه خالى نه دې. بهتردادى چه داسې اووئيلې شى چه په دې حديث كښې د رمى ذكردې. دغه شان د تيرشوى باب په ړومبى حديث كښې هم د رمى ذكر وو اود مناسبت د پاره هم دومره هم كافى دى. (۲)

داهم وئيلى شى چه د تيرشوى باب ړومبى حديث كښې دا راغلى دې چه حضرت ابوطلحه رضي الله عنه غشى ورول او نبى عليه السلام ډهال نيولې وو چه دواړه د مخالفينو د غشو نه بچ شى.دغه شان دلته هم دا راغلى دى چه حضرت سعدبن ابى وقاص رضي الله عنه غشى ورول او نبى عليه السلام هغه له غشى وركول.(۳) ښكاره غوندې خبره ده چه دا د دې د پاره وو چه هغوى د دښمنانو د غشو نه بچ پاتې شى ځكه چه د هغه طرف نه داسې مسلسل غشى وريږى نود بل طرف خلقوته به د غشو ورولو موقع نه ملاويږى.

۸۰-بَاب: الدَّرَق

دترجمة الباب مقصد: دلته هم امام بخارى رحمه الله د ډهال باره كښې خودلې دى چه د دې استعمال مشروع او جائز دې.(۴)

ليكن اعتراض داكيږى چه داخو په ترجمه كښې تكرار شوځكه چه وړاندينې باب كوم چه د مجن او ترس باره كښې وو نو په هغې كښې هم د مجن او ترس معنى هم د ډهال ده.

د دې اعتراض جواب خو دا وركولې شى چه د مجن او ترس معنى مطلقاً ډهال دې، خو درق هغه ډهال ته وائى چه د څرمنې نه جوړوى او په هغې كښې لرګې او پټه نه وى،اوس د معنې فرق دې نو په دې وجه هيڅ اعتراض پاتې نشو.(۵)

دونم جواب دا وركړيشويدې چه په مخكينى باب كښې د ترجمة الباب نه مقصد ((ومن يتترس بترس صاحبه)) جمله ده دمجن ذكرمقصد نه دې، په دې وجه امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې هم د ډهال ذكر اوكړو.(۶)

---

۱) (فتح البارى (ج۶ص ۹۴)-
۲) (عمدةالقارى (ج ۱۴ص ۱۸۶)-
۳) (انظر صحيح البخارى كتاب المغازى باب ﴿إذهب طائفتان منكم أن تفشلا....﴾رقم (۴۰۵۵)-
۴) (عمدة القارى (ج ۱۴ص ۱۸۶) وفتح البارى (ج۶ص۹۵)-
۵) (الأبواب والتراجم للكاندهلوى (ج۱ص۱۹۸) قال العلامة طاهر الفتنى رحمة الله وفى الدستور الدرقة – بفتحتين- وقاف الحجفةوأراد بها الترس من جلود ليس فيه خشب ولاعصب (ج۲ص۱۶۷) مادة درق-
۶) (الأبواب والتراجم (ج ۱۴ص۱۹۸)-

خو دا دونم جواب زړه ته نه لګی ځکه چه دا دعوی چه مقصود د ترجمه دونم جز دې صحیح نه ده، ځکه چه په مخکینی باب کښې امام بخاری چه کوم احادیث ذکر کړی دی په هغې کښې بعض د ترجمه اول جز او بعض دونم جز سره منطبق وو. لکه څنګه چه په ماقبل کښې د دې تفصیل تیرشویدې. بیا که چرې دا دعوی هم اومنلې شی چه وړاندینی باب کښې د ترجمه دونم جز مراد دې نو په دې کښې هم د ترس یعنی ډهال ذکر دې نو هم هغه اعتراض تکرارفی الترجمه دوباره واقع کیږی.

[۲۷۵۰] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ عَمْرٌو حَدَّثَنِي أَبُو الْأَسْوَدِ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا(۱) دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدِي جَارِيَتَانِ تُغَنِّيَانِ بِغِنَاءِ بُعَاثَ فَاضْطَجَعَ عَلَى الْفِرَاشِ وَحَوَّلَ وَجْهَهُ فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ فَانْتَهَرَنِي وَقَالَ مِزْمَارَةُ الشَّيْطَانِ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ دَعْهُمَا فَلَمَّا غَفَلَ غَمَزْتُهُمَا فَخَرَجَتَا قَالَتْ وَكَانَ يَوْمُ عِيدٍ يَلْعَبُ السُّودَانُ بِالدَّرَقِ وَالْحِرَابِ فَإِمَّا سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِمَّا قَالَ تَشْتَهِينَ تَنْظُرِينَ فَقَالَتْ نَعَمْ فَأَقَامَنِي وَرَاءَهُ خَدِّي عَلَى خَدِّهِ وَيَقُولُ دُونَكُمْ بَنِي أَرْفِدَةَ حَتَّى إِذَا مَلِلْتُ قَالَ حَسْبُكِ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَاذْهَبِي قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ قَالَ أَحْمَدُ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ فَلَمَّا غَفَلَ [ر: ۹۴۳]

تراجم رجال

۱- اسماعیل: دا اسماعیل بن ابی اویس بن عبدالله رحمه الله دې(۲) د دوی حالات ((کتاب الإیمان باب تفاضل أهل الإیمان فی الأعمال)) لاندې تیرشوی دی.(۳)

۲- ابن وهب: دا مشهور امام حدیث ابومحمد عبدالله بن وهب بن مسلم قرشی فهری رحمه الله دې. د دوی تذکره ((کتاب العلم باب من یرد الله به خیرا یفقهه فی الدین)) لاندې راغلی ده.(۴)

۳- عمرو: دا عمرو بن الحارث مصری رحمه الله دې. (۵)

۴- ابوالاسود: دا ابوالاسود محمدبن عبدالرحمن بن نوفل مدنی رحمه الله دې. (۶)

---

۱) (قوله: عن عائشة رضی الله عنها: الحدیث مرتخریجه فی کتاب الصلاة باب الحراب فی المسجد وکتاب العیدین باب الحراب والدرق یوم العید)-

۲) (فتح الباری (ج۶ص۹۵)-

۳) (کشف الباری (ج۲ص۱۱۳)-

۴) (کشف الباری (ج۳ص۲۷۷)-

۵) (دَدوی حالاتو دَپاره اوګورئ کتاب الوضوء باب من مضمض من السویق ولم یتوضأ-

۶) (دَدوی حالاتو دَپاره اوګورئ کتاب الغسل باب الجنب یتوضأ ثم ینام-

٥-عروة: دلمشهور تابعی حضرت ابوعبدالله عروه بن الزبيرقرشی اسدی رحمه الله دی. دَ دوی تذکره ((کتاب الإيمان باب أحب الدين إلى الله أدومه)) لاندې راغلی ده.(١)

٦-عائشه: دا ام المؤمنين حضرت عائشه بنت ابوبکر رضی الله عنها ده، دَ دوی حالات ((بدء الوحي)) دونم حديث کښې راغلی دی. (٢)

قوله: قالت: دخل على رسول الله صلى الله عليه وسلم.....: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ما کره تشريف راوړو نو دوو جينکو ماسره د جنګ بعاث شعرونه ونيل. حضور صلی الله علیه وسلم په بستره باندې سملاستو او مخ مبارك ئی بل اړخ ته کړو. دې نه پس حضرت ابوبکر رضی الله عنه راغلو هغه زه اورټلم چه دا شيطانی لوبه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې. رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ هغه طرف ته متوجه شواو ونی فرمائيل چه داپرېږده. بيا چه کله دَ حضرت ابوبکر رضی الله عنه توجو اخوا شوه نو ما دواړو جينکوته اشاره اوکړه نو لاړې.

حضرت عائشه رضی الله عنها نور فرمائی چه دَ اختر په ورځ به حبشی خلقو ډهالونواودَجنګ سامان سره لوبې کولې. حضور ته مې درخواست اوکړو يا هغوی صلی الله علیه وسلم پخپله ماته اوفرمائيل چه ته کتل غواړې؟ ما عرض اوکړو چه اوجی، هغوی صلی الله علیه وسلم زه خپلې شاته اودرولم، زما مخ دَ حضور صلی الله علیه وسلم مخ مبارك ته نزدې وو هغوی به فرمائيل اې بنی ارفده! بنه ډېر بنه، تر دې چه کله زه ستړې شوم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه بس. ما وئيل اوجی، نو حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه اوس زه.

تنبيه: دَحديث باب مکمل تشريح انشاء الله (کتاب الصلاة)(٣) او (کتاب العيدين)(٤) کښې به راځی.

قوله: قال أحمد: فلما غفل: دَ احمد نه مراد ابن صالح دې. (٥)

دَ تعليق مقصد: دَ دې تعليق مقصد دا دې چه احمدبن صالح په روايت کښې ((فلما عمل)) (لکه چه زمونږ په هندوستانی نسخوکښې دې) په ځائ ((فلما غفل)) دې. په دواړو صورتونو کښې فاعل حضرت ابوبکر رضی الله عنه دې. او معنی هم تقريبًا نزدې نزدې ده. نودَ ((فلما عمل)) مطلب خو دا دې چه کله حضرت ابوبکر رضی الله عنه بل طرف ته مشغول شو او ((فلما غفل)) مطلب دې چه کله هغه غافل شو.

دَمذکوره تعليق تخريج: امام بخاری دَ خپل شيخ احمدبن صالح دا تعليق موصولاً (کتاب

---

١) (کشف البارى (ج٢ص٤٣٦)-
٢) (کشف البارى (ج١ص٢٩١)-
٣) (صحيح بخارى کتاب الصلاة باب الحراب فى المسجد (رقم ٤٥٤)-
٤) (صحيح بخارى کتاب العيدين باب الحراب والدّرق يوم العيد رقم (٩٤٩)-
٥) (فتح البارى (ج٦ص ٩٥) حيث قال الحافظ رحمه الله وهومقتضى إطلا أبى على بن السكن حيث قال كل مافى البخارى: "حدثنا أحمد غيرمنسوب فهوابن صالح"-

العيدين) کښې نقل کړېدي.(۱)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت دَ حضرت عائشه رضي الله عنها دي جمله کښې دې. ((وكان يوم عيد، يلعب السودان بالدرق والحراب......))(۲)

فائده: علامه ابن بطال فرمائی چه دَ باب دَ حديث نه معلومه شوه چه درق دَ جنګ دَ هغه سامان نه دې دَ کوم استعمال چه مجاهد له پکار دې. اودَ دې په ذريعه دَ دښمن دَ وسلې نه بچ کيدل پکار دی اودَ نبی عليه السلام اصحابو هم دا آلات استعمال کړی دی.(۳)

زمونږ په زمانه کښې دَ ډهال په ځائې بلټ پروف جيکټس استعماليږی په کوم چه دَ ګولئی اثر نه کيږی او پخوانې زمانه کښې دَ ډهال چه کوم حکم ووهم هغه دَ نن په زمانه کښې دَ بلټ پروف جيکټونو دې.

۸۱-بَاب: الْحَمَائِلِ وَتَعْلِيقِ السَّيْفِ بِالْعُنُقِ

دَ حمائل معنی: حمائل — بفتح الحاء والميم — دَحمالة او حميلة جمع دہ. خو امام اصمعی رحمه الله فرمائی چه دَ حمائل دَ دې لفظ نه هيڅ واحد (مفرد) نشته بلکه دَ دې واحد محمل دې.(۴)

بهر حال دَ دې مفرد حماله وی حميله يا محمل دَ دې په معنی باندې دہ، دې ته پيټئی هم وائی کوم کښې چه توره زوړندولې شی.(۵)

دَ ترجمة الباب مقصد: علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه دَ باب مقصد او فائده دا دہ چه توره په غاړه کښې زوړندول پکار دی په خلاف دَ هغه سړی چه دَ دې خبرې قائل وی چه توره په غاړه کښې مه زوړندوه بلکه په سينه دې اوتړلې شی. نو ښکاره خبره دہ چه که توره په غاړه کښې زوړنده کړی يا په سينه ئی اوتړی يوه خبره دہ او په دې کښې هيڅ بدی نشته.(۶)

علامه ابن المنير رحمه الله فرمائی چه دَ مصنف عليه الرحمة مقصد دَ دې ترجمونه دَ سلف صالحينو طريقه کار خودل دی چه هغوی به دَ وسلوباره کښې اختياروله او دا خودل دی چه دَ حضور صلی الله عليه وسلم په مبارکه زمانه کښې به دَ کومو کومو وسلو استعمال کيدلو، دې دَ پاره چه هغه دَ نفس دَ پاکوالی سبب جوړشي او دَ بدعت نه دَ لريوالی ذريعه وی.(۷)

---

۱) (تغليق التعليق (ج۳ص۴۴۵)-
۲) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۸۷)-
۳) (شرح ابن بطال (ج۵ص۹۸)-
۴) (شرح ابن بطال (ج۵ص۹۸)-
۵) (حواله بالا. فتح الباری (ج۶ص۹۵) ولسان العرب (ج۱۱ص۱۷۸) (مادة ح.م.ل) -
۶) (القاموس الوحيد(ص۳۷۸) مادة حمل-
۷) (فتح الباری(ج۶ص۹۵)-

[۲۷۵۱] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۱) قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ وَأَشْجَعَ النَّاسِ وَلَقَدْ فَزِعَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ لَيْلَةً فَخَرَجُوا نَحْوَ الصَّوْتِ فَاسْتَقْبَلَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدِ اسْتَبْرَأَ الْخَبَرَ وَهُوَ عَلَى فَرَسٍ لِأَبِي طَلْحَةَ عُرْيٍ وَفِي عُنُقِهِ السَّيْفُ وَهُوَ يَقُولُ لَمْ تُرَاعُوا لَمْ تُرَاعُوا ثُمَّ قَالَ وَجَدْنَاهُ بَحْرًا أَوْ قَالَ إِنَّهُ لَبَحْرٌ [ر: ۲۴۸۴]

تراجم رجال

۱- سليمان بن حرب: دا ابوسليمان بن حرب ازدى رحمه الله دې. دَ دوى تذكره ((كتاب الإيمان باب من كره أن يعود في الكفر....)) لاندې راغلى دى. (۲)

۲- حماد بن زيد: دا حماد بن زيدبن درهم ازدى بصرى رحمه الله دې. دَ دوى حالات هم ((كتاب الإيمان باب ﴿وإن طائفتان من المؤمنين اقتتلوا....﴾ په ذيل كښې تيرشوى دى. (۳)

۳- ثابت: دامشهور تابعى حضرت ابومحمد ثابت بن اسلم بنانى رحمه الله دې. دَ دوى تذكره ((كتاب العلم باب القراءة والعرض على المحدث)) لاندې راغلى ده. (۴)

۴- انس: دا مشهور صحابى حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دې. دَ دوى حالات ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه)) (۵)

تنبيه دَ حضرت انس رضي الله عنه نه روايت شوى حديث باب تشريح روستو (كتاب الجهاد) په مختلفو خايونو كښې تيره شويده. خو دَ بعضو په اول خل راتلونكو جملوتشريح او توضيح دلته ذكر كولې شى.

قوله: وقد استبرأ الخبر....: په حقيقت كښې حضور صلى الله عليه وسلم دَ خبر تحقيق كړې وو.

((استبرأ)) معنى دَ تحقيق او تفتيش ده. (۶)

قوله: وهو يقول: لم تراعوا، لم تراعوا: حضور صلى الله عليه وسلم فرمائيل چه تاسو خلقو مه ويريږئ تاسو خلق مه ويريږئ.

علامه خطابى رحمه الله اود هغه په اتباع كښې علامه كرمانى رحمه الله او علامه عينى رحمه الله فرمائى

۱) (قوله: عن أنس رضى الله عنه: الحديث مر تخريجه فى كتاب الهبة باب من استعار من الناس الفرس-
۲) (كشف البارى (ج۲ ص۱۰۵) -
۳) (كشف البارى (ج۲ص۲۱۹)
۴) (كشف البارى (ج۳ص۱۸۳)
۵) (كشف البارى (ج۲ص ٤) -
۶) شرح الكرمانى (ج۱۲ص۱۶۸) وعمدة القارى (ج ١٤ص۱۷۸)-

چه کلمه ((لم)) دلته دَ ((لا)) ناهیه په معنی کښې دې او مطلب دا دې چه مه ویریږئ، دَ عربو خلق کلمه ((لم)) داسې استعمالوی چه ((لم)) دَ ((لا)) په ځائ وائی. (۱)

لیکن حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی ((لم تراعوا)) کښې دَ سر نه دَ ویرې نفی ده او په دې جمله کښې هغه مبالغه موندلې شی کومه چه ((لاتراعوا)) کښې نشی موندلې. دَ دې وجه دا ده چه په نهی او نفی کښې فرق دې نو نهی دَ خپل موجب دَ وجود متقاضی کیږی په خلاف دَ نفی چه نفی کښې دَ هغې دَ موجب دَ وجود کیدل ضروری نه دی. (۲)

اوس دَ حضور ﷺ دَ دې جملې ((لم تراعوا)) مطلب دا شو چه اې صحابه کرامو! تاسو اونه ویرېدلئ په دې کښې دَ سر نه دَ ویرې نفی اوشوه.

او چه دا ونیلی شوی دی اهل عرب کلمه ((لم)) ته کلمه ((لا)) ناهیه په ځائ هم استعمالوی دا په خپل موضع کښې نه ده واقع. (۳) یعنې که دا استعمال چرته په بل ځائ کښې وی نو وی دې لیکن دلته کلمه ((لم)) دَ کلمه ((لا)) په ځائ نه ده استعمال شوې لکه چه علامه خطابی رحمه الله وغیره دعوی کړیده.

حضرت شیخ الحدیث محمد زکریا رحمه الله هم دَ حضرت گنگوهی رحمه الله دا توجیه خوښه کړیده او دا ئې راجح گرځولې ده. (۴)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث باب ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله کښې دې. ((وفی عنقه السیف)) نودَ دې نه معلومه شوه چه توره په غاړه کښې زوړندول جائز دی. (۵)

لیکن اشکال دا کیږی چه په حدیث کښې خودَ حمائل ذکر نشته او په ترجمه کښې خودَ حمائل هم ذکر دې. نو جواب دا دې چه حمائل دَ تورې حصه ده او دَ تورې ذکر کول دَ حمائل په موجود کیدو باندې پخپله دلالت کوی. په دې وجه دَ دې جدا ذکر کولو څه ضرورت نشته. (۶)

---

(۱) (أعلا الحدیث (ج۲ص۱۳۹۹) وشرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۶۹) وعمدة القاری (ج۱۴ص۷۷) قال العلامة الخطابی رحمه الله وقوله: یرید: لاتخافوا، والعرب تتکلم بهذة الکلمة هکذا، تضع کلمة ((لم)) موضع ((لا))- وقال (أبوعراش) الهذلی. رفونی وقالوا: یاخلاد لم ترع. وانظر لسان العرب مادة (ر.ف.ا) (ج۱ ص۸۷)-

۲) (نور الأنوار مبحث النهی (ص۶۳)-

۳) (لامع الدراری ((ج۷ص۱۲۸)-

۴) (تعلیقات لامع الدراری (ج۷ص۲۳۸)-

۵) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۷۸) وفتح الباری (ج۶ص۹۵)-

۶) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۸۷)-

٨٢- باب: حِلْيَةِ السُّيُوفِ

دَ ترجمة الباب مقصد: حلية كالى ته وائى كه دَ سرو زرو وى كه دَ سپينو زرو او دَ امام بخارى رحمه الله مقصد دَ دې ترجمه نه داخودل دى چه په توره كښې سره زر يا سپين زر لګول جائز دى كه نه؟ (١) ليكن په دې مسئله كښې اختلاف دې د دې دپاره تفصيل به موږ وړاندې دَ حديث په تشريح كښې ذكر كوو.

[٢٧٥٢] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا الْأَوْزَاعِيُّ قَالَ سَمِعْتُ سُلَيْمَانَ بْنَ حَبِيبٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ (٢) يَقُولُ لَقَدْ فَتَحَ الْفُتُوحَ قَوْمٌ مَا كَانَتْ حِلْيَةُ سُيُوفِهِمُ الذَّهَبَ وَلَا الْفِضَّةَ إِنَّمَا كَانَتْ حِلْيَتُهُمُ الْعَلَابِيَّ وَالْآنُكَ وَالْحَدِيدَ

تراجم رجال

١- احمد بن محمد: دا ابوالعباس احمد بن محمدبن موسى المروزى رحمه الله دې. (٣)

٢- عبدالله: دا امام عبدالله بن مبارك الحنظلى رحمه الله دې. دَ دوى مختصر تذكره ((بدءالوحي)) كښې تيره شوې. (۴)

٣- الاوزاعى: دا ابوعمرو عبدالرحمن بن عمرو بن ابى عمرو يحمداوزاعى رحمه الله دې. دَ دوى حالات ((كتاب العلم باب الخروج فى طلب العلم)) لاندې تيرشوى دى. (۵)

۴- سليمان بن حبيب: دا امام قاضى سليمان بن حبيب المحاربى الدارانى رحمه الله دې. ابوايوب، ابوبكر يا ابوثابت دَ هغوى كنيت دې. (۶)

دې ديرشو كالوپورې دَ مختلفو خلفاؤ مثلاً عمربن عبدالعزيز، يزيد، وليد، هشام بن عبدالملك بن مروان، وليد بن يزيد بن عبدالملك وغيره دَ طرف نه دَ دمشق قاضى په مرتبه فائز وو. (٧)

قاضى سليمان بن حبيب حضرت ابوامامه الباهلى، حضرت ابوهريره، حضرت معاويه اوحضرت انس رضى الله عنه، عامر بن لدين اشعرى او وليد بن عباده الصامت رضى الله عنهم تعالى وغيره نه دَ حديث روايت كوى.

---

١) (عمدة القارى (ج ١٤ ص ١٨٨)-

٢) (قوله: سمعت أباأمامة رضى الله عنه: الحديث أخرجه الإمام ابن ماجة غير الإمام البخارى فى كتاب الجهاد باب السلاح رقم (٢٧٠٧)-

٣) (دَ دوى دَ حالاتودَ پاره اوګورئ كتاب الوضوء باب مايقع من النجاسات فى السمن والماء-

٤) (كشف البارى (ج١ص٤٦٢)-

٥) (كشف البارى (ج٣ص٤٠٨)-

۶) (تهذيب الكمال (ج١١ص٣٨٢) وسير أعلام النبلاء (ج٥ص٣٠٩)-

٧) (حواله بالا-

اود هغوى نه روايت كونكوكښې امام زهرى، عمر بن عبدالعزيز(دا دواړه) د هغوى داقرانو نه دى،عبدالعزيز بن عمرعبدالعزيز،اوزاعى،عثمان بن ابى العاتكه ، ابوكعب، ايوب بن موسى السعدى، عبدالوهاب بن بخت وغيره شامل دى.(١)

امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى ((ثقة)) (٢)

امام عجلى او امام نسائى رحمهما الله نه هم د هغه توثيق مروى دې. (٣)

امام دارقطنى رحمه الله فرمائى ((ليس به بأس، تابعى مستقيم)) (٤)

علامه ذهبى رحمه الله فرمائى ((ثقة))(٥)

امام بخارى رحمه الله نه علاوه امام ابوداؤد او امام ابن ماجه رحمهما الله هم د دوى نه روايت اخستې دې. (۶)

په بخارى شريف كښې د هغوى نه صرف يو حديث يعنى حديث باب دې. (٧)

علامه واقدى، ابن سعد ، ابن حبان او على بن عبدالله تميمى رحمهم الله په قول د هغوى انتقال په كال ١٢٦ه كښې شوې. او همدغه صحيح هم دى. (٨)

٥- ابوامامه: دامشهور صحابى حضرت ابوامامه رضى الله عنه صُدَى – بضم المهملة الأولى وفتح الثانية وتشديد الياء – (٩) ابن عجلان الباهلى دې.(١٠)

قوله: ...يقول: لقد فتح الفتوح قوم ما كانت حلية سيوفهم الذهب والفضة: قاضى سليمان بن حبيب رحمه الله فرمائى چه ماد حضرت ابوامامه باهلى رضى الله عنه نه اوريدلى هغوى فرمائيل چه بې شكه دا ټول فتوحات هغه خلقو (صحابه كرام رضى الله عنهم) كړى دى د چا د تورو ښائسته والې او زينت چه نه په سرو زرو سره شوې وو او نه په چاندئى سره.

حضرت ابوامامه باهلى رضى الله عنه چه دا اوفرمائيل صحابه كرام رضى الله عنهم د چا په لاسونوچه دا بې شميره فتوحات پوره شوى دى د هغوى په تورو باندې نه د سرو زرو كار شوې وو او نه د چاندئى. د دې فرمان اوقول سبب د ابن ماجه په روايت كښې راغلى دى چه په دې روايت كښې دا تفصيل هم ذكر دې:

---

١) (شيوخ او تلامذه د پاره اوګورئ تهذيب الكمال (ج١١ص٣٨٣)-

٢) (تاريخ عثمان الدارمى (ص١٢٩) رقم (٤٠٨)-

٣) (تهذيب تاريخ ابن عساكر (ج۶ص٢٤٨)-

٤) (الكاشف (ج١ص ٤٥٨) رقم (٢٠٧٨)-

٥) (تهذيب الكمال (ج١١ ص ٣٨٤) وحواله بالا-

۶) (عمدة القارى(ج ١٤ص١٨٨)-

٧) (فتح البارى (ج۶ص٩٥) وعمدة القارى (ج ١٤ص١٨٨)-

٨) (طبقات ابن سعد (ج٧ص ٤٥۶) وتهذيب الكمال (ج١١ص ٣٨٤)-

٩) (عمدة القارى (ج ١٤ص١٨٨)-

١٠) (دَدوى دَحالاتودَپاره اوګورئ كتاب الحرث والمزارعة، باب مايحذرمن عواقب الاشتغال بآلة الزرع....

((قال (أى سليمان بن حبيب) دخلنا على أبي أمامة: فرأى في سيوفنا شيئا من حلية فضة، فغضب، وقال: لقد فتح.....))(١)

قاضي سليمان بن حبيب فرمائي چه مونږ خلق حضرت ابوامامه باهلي رضي الله عنه كره داخل شو نو هغه زمونږ په تورو باندې څه چاندي اوليده نو په غصه شو او وئې فرمائيل.... د امام اسماعيلي رحمه الله د روايت نه معلوميږي چه حضرت ابوامامه كره د داخليدلو واقعه د حمص ده. (٢) د طبراني د روايت نه پته لګي چه قاضي سليمان بن حبيب سره د هغه په نورو ملګرو كښې عبدالله بن ابى زكريا او مكحول رحمهم الله هم وو. (٣)

قوله: إنما كانت حليتهم العلابي والآنك والحديد: بلكه د اوښ د ستې اوږده پټه، سيسه او اوسپنه د هغوى د تورو كالي وو.

د ذكر شوې جملې مطلب: مطلب دا دې چه حضرات صحابه كرام رضوان الله عليهم اجمعين د چا په لاسونوچه دا لوئ لوئ او عظيم الشان فتوحات سرته رسيدلې وو، په دې عيش او عشرت كښې نه وو په كوم كښې چه نن تاسو خلق اخته ئې، ستاسو د تورو ښائست او كالى سپين زر او سره زر دى خود هغوى د تورو كالى به دا معمولي څيزونه وو. (۴)

د لفظ "علابى" تحقيق: العلابي—بفتح العين المهملة وتخفيف اللام وكسر الباء الموحدة—(۵)

د علباء جمع ده. علامه خطابى رحمه الله مطابق د ستې پټې ته وائى او په هريو ستې كښې دوه علباء وى اود اوښ په ټولو پټوكښې دا مضبوطې وى.(۶)

اوس دعلامه خطابى رحمه الله مطابق د ((العلابي)) نه د اوښ د ستې پټې مراد دى.

علامه قسطلانى رحمه الله فرمائي چه داسې به كيدل چه اول به د اوښ د ستې پټې خيرې كيدلې بيا به د تورې تيكى لاندينئ او پاخننئ حصه كښې دا تړلې كيده بيا به ئې راتاووله او دا به د ښائست يا كالى په توګه اختيارولې شو. (٧)

د حافظ ابونعيم رحمه الله په (مستخرج) كښې چه كوم روايت دې په هغې كښې امام اوزاعى رحمه الله د علابي تفسير په دې الفاظوسره كړيدې. ((الجلود الخام التى ليست بمدبوغة)) يعنى هغه كچه څرمنې د كومې چه دباغت نه وى شوې.(٨)

---

١) (سنن ابن ماجه كتاب الجهاد باب السلاح رقم (٢٨٠٧)-
٢) (فتح البارى (ج ١٤ص٩٥)-
٣) (المعجم الكبير للطبرانى (ج٨ص ١٠٠) رقم (٧٤٩٣)-
٤) (فيض البارى (ج٣ص ٤٣٦)-
٥) (عمدة القارى (ج ١٤ص١٨٨) وفتح البارى (ج ۶ص ۹۶)-
۶) (أعلام الحديث (ج٢ص ١٤٠٠) والقاموس الوحيد (ص١١١٣) مادة علب-
٧) (شرح القسطلانى (ج٥ص٩٨) وتعليقات اللامع (ج٧ص ٢٣٩)-
٨) (حواله بالا. وفتح البارى (ج ۶ص ۹۶)وعمدة القارى (ج ١٤ص١٨٨)-

او دَ علامه داودى رحمه الله دا خيال دې چه ((علابى رصاص)) هم دَ سيسې يو قسم دې. ليکن حافظ دَ علامه قزاز په (شرح غريب الجامع) په حواله سره دا خودلې دى چه دَ داؤدى دا خيال غلط دې. (١)

بهرحال اکثرواهل لغت دَ اوبښ دَسټ پټې ته علابې ونيلې او همدغه راجح قول معلوميږى.(٢)

دَ "الانک" تحقيق: الآنك–بالمد وضم النون بعدها كاف– سيسې (سيکې) ته وائى دا داسې واحد مفرد لفظ دې دَ کوم چه هيڅ جمع نشته اودا هم ونيلى شوى دى چه ((آنك)) اسم جنس دې اودَ دې يوې ټکړې ته ((آنكة)) وائى.(٣)

او بعض حضراتو ونيلى دى ((آنك)) خالص سيسې ته وائى. (۴)

خو علامه داؤدى وائى چه ((آنك)) رانګ ته وائى.(۵) اوَ رانګ يو معدنى څيز دې کوم سره چه يوځائ کول او دَ قلعى کار اخستلې شى. (۶)

اودَ علامه ابن الجوزى رحمه الله وينا ده چه ((آنكه)) قلعى سيسې ته وائى او ((القلعة–بفتح اللام)) يو دَ کان نوم دې دَ کوم طرف ته چه اهل عرب ښه رانګ سره منسوب کوى.(٧)

په توره سره ياسپين زر لګولوحکم: دَ احنافو او شوافعو حضراتوپه نزدپه توره باندې سره او سپين زر لګولو حکم دا دې چه دَ سرو زرو خوبالکل اجازت نشته خو سپين زردَ ښائست په توګه استعمالولې شى.(٨)

دَ دې حضراتو دليل دَ ابوداؤد ترمذى او نسائى دا روايت دې. ((كانت قبيعة سيف الرسول الله صلى الله عليه وسلم من فضة))(٩)

((اللفظ للنسائى)) خو امام احمد رحمه الله نه دواړه قسمه روايتونه مروى دى. يوقول هم دغه چه

---

١) (فتح البارى (ج۶ص۹۶)-
٢) (تاج العروس (١ص٣٩٨) مادة علب-
٣) (فتح البارى (ج۶ص۹۶)-
٤) (فتح البارى (ج۶ص۹۶) وعمدةالقارى (ج١٤ص١٨٨)-
٥) (حواله بالا)-
۶) (مصباح اللغات(ص٦٨٤)مادة قصد-
٧) (حواله بالا ص٧٠٣)مادة قلع-
٨) (المجموع شرح الهذب للنووى(ج٤ص٤٤٤) وإعلاء السنن (ج١٧ص ٣٢١) كتاب الحظر والإ باحة وبذل المجهود (ج١٢ص٨٣)-
٩) (سنن أبى داؤد كتاب الجهاد باب فى السيف يحلى رقم)٢٥٨٣) وسنن النسائى كتاب الزينة باب حلية السف. رقم (٥٣٧٥) والجامع للترمذى أبواب الجهاد باب ماجاء فى السيوف وحليتها رقم (١٦٩١) والشمائل المحمدية للترمذى مع شرحه جمع الوسائل)ج١صض١٩٤) باب ماجاء فى صفة سيف رسول الله صلى الله عليه وسلم

صرف د چاندئی جوازشته (۱) دوئم قول دا دې چه سره زر هم په توره کښې استعمالولې شی. (۲)

د امام احمد دلائل او د دې جوابونه. امام احمد د سرو زرو په جواز د دې لاندینی احادیثو او آثارونه استدلال کړیدې.

① د حضرت عثمان بن حنیف باره کښې مروی دی چه د هغه د تورې میخ د سروزرو وو (۳)

② دغه شان د حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه باره کښې روایت دې چه هغوی سره یوه توره وه چه د هغې ډلې یا ټکړې د سرو زرو وې. (۴)

③ امام ترمذی رحمه الله په خپل سند سره مزیدة العصری نه روایت کړیدې چه نبی کریم ﷺ کله مکه مکرمه کښې داخل شوې وو نو د هغوی په توره باندې سره زر او سپین زر لګیدلې وو. د حدیث یو راوی طالب بن حجیر وائی ((**فسألته عن الفضة فقال: كانت بيعة السيف فضة**)) چه ما د هغوی نه د چاندئی باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی اووئیل چه د تورې د موټی چاپیره چاندی وه. (۵)

خود امام ترمذی دا حدیث د مختلفو وهاتو په وجه معلول دې

امام ترمذی رحمه الله پخپله دې حدیث ته حسن غریب وئیلې دې او ښکاره خبره ده چه چه حدیث غریب د هغوی د صحیح احادیثو معارضه نشی کولې په کومو کښې چه په صراحت سره د سرو دپاره د ذهب د استعمال ممانعت راغلې دې

د ملاعلی قاری رحمه الله ارشاد: ملاعلی قاری رحمه الله جمع الوسائل شرح الشمائل کښې لیکی:

((**لايعارض هذا ماتقرر من حرمته بالذهب لأن هذاالحديث ضعيف، ولايصح الجواب بأن هذا قبل ورود النهي من تحريم الذهب لأن تحريمه كان قبل الفتح على مانقل، ولعله على تقدير صحته أنه كانت فضته مموهة بالذهب.... ويشير إليه حيث ما سأل الراوي عن الذهب، لأنه كان عالما بحرمته وإنه لم يكن إلا تمويها**))(۶)

یعنی دا حدیث کښې چه کومه د سرو زرو د حرمت خبره مقرر شویده د دې معارضه نشی کولې ځکه چه دا حدیث ضعیف دې او دا جواب هم صحیح کیدې نشی چه دا حدیث د سرو زرو د حرمت د نهی واردکیدو نه وړاندینې دې ځکه چه د سرو زرو حرمت د مکې د فتح نه

---

۱) (المغنى لابن قدامة (۲ص۳۲۵)-

۲) (حواله بالا-

۳) (المغنى لابن قدامة (۲ص۳۲۵) واعلاء السنن (ج۱۷ص۳۲٤)-

٤) (حواله بالا-

۵) (الجامع للترمذی أبواب الجهاد باب ما جاء فی السیوف وحلیتها رقم (۱۶۹۰) وقال الترمذی: وهذا حدیث حسن غریب والشمائل المحمدیة له مع جمع الوسائل (ج۱ص۱۹٤) باب ما جاء فی صفة سیف رسول الله صلی الله علیه وسلم-

۶) (المواهب اللدنية للبيجوری (ص۹۶) وجمع الوسائل فی شرح الشمائل (ج۱ص۱۹٤)-

وړاندې دې لکه چه نقل دی. اوکه د حدیث صحت اومنلې شی نو کیدیشی چه د تورې په چاندنی باندې د سرو زرو اوبه چړاو شوې وی اود دې خبرې طرف ته د راوی فعل هم اشاره کوی چه هغه د سرو زرو په بابت سوال نه دې کړې(بلکه د چاندنی باره کښې سوال کړیدې) ځکه چه راوی ته پخپله د سرو زرو دحرمت علم وو او دا چه په دې باندې د سرو زرو اوبه چړاو شوې وې.

د دې حدیث په سند کښې یو راوی هود بن عبدالله دې، کوم چه ابن بطال رحمه الله مجهول ګرځولې دې. (۱) دغه شان علامه توریشتی رحمه الله فرمانی

((هذا الحدیث لاتقوم به حجة إذ لیس له سند یعتد به))(۲)

یعنی په دې حدیث سره حجت نشی تام کیدې ځکه چه د دې حدیث سند د دې درجې نه دې چه په دې باندې اعتبار او بهروسه اوکړیشی.

دې نه علاوه بعضو محدثینو حضراتو او ائمه رجالو هم د دې حدیث په سند کلام کړیدې. نو علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمانی ((لیس إسناده بالقوی))(۳) او ابن القطان رحمه الله فرمانی ((هوعندی ضعیف لاحسن)) او ابوحاتم رازی رحمه الله فرمانی ((هذا منکر)) او علامه ذهبی رحمه الله فرمانی ((صدق ابن القطان)) (۴)

د حضرت عثمان بن حنیف باره کښې چه دا کوم روایت دې چه د هغه د تورې میخ د سرو زرو وو نود دې نه احنافوته هم څه اختلاف نشته. قاضی خان رحمه الله فرمانی ((ولابأس بمسامیر الذهب والفضة)) (۵)

او ترکومې چه د حضرت عمر رضی الله عنه د تورې تعلق دې چه په دې کښې د سرو زرو ټکړې لګیدلې وې نو په دې کښې دوه احتماله دی:

① که چرې دا ثابته شی چه حضرت عمر رضی الله عنه به دا استعمالوله نو دا په اثر تمویه باندې محمول دی، مطلب دا چه د دغه تورې په ذکر شوی ټکړو باندې د سرو اوبه چړاو وې. (۶)

② دا هم ممکن ده چه هغه توره حضرت عمر رضی الله عنه له په غنیمت کښې راغلې وې او هغه خپل خان سره ایخودې وی او هغه ئې استعمال کړې نه وی او دا خو واضح دی چه د سرو دپاره د سرو زرو یا سپینو زرو استعمال ممنوع دې د دې ساتل منع نه دی.ددې د پاره ئې خان سره کیخودې وی چه الله تعالی هغوی په کومو نعمتونو سره مشرف کړې وو چه هغوی له په مشرکانو باندې،دهغوی په مالونو او وسله باندې غلبه ورکړې وه چه د دې شکریه اداکړیشی.(۷)

---

۱) (تهذیب التهذیب (ج۱۱ص۷۴)-
۲) (انظر کتاب المیسر فی شرح مصابیح السنة (ج۳ص۸۹۰) وجمع الوسائل (ج۱ص۱۹۴)-
۳) (حواله بالا والاستیعاب بهامش الإصابة (ج۳ص۵۲۶)-
۴) (انظر جمع الوسائل فی شرح الشمائل وبهامشه شرح المناوی (ج۱ص۱۹۴)-
۵) (فتاوی قاضی خان بهامش الفتاوی العالمکیریة (الهندیة) (ج۳ص۴۱۳)-
۶) (اعلاء السنن (ج۱۷ص۳۲۴)-
۷) (حواله بالا-

په توره کښې سره زر استعمالول او حدیث باب: حضرت ابوامامه الباهلی رضی الله عنه په حدیث باب کښې دَ مضمون مطابق په توره کښې سره زر او سپین زر استعمالولو باندې تنقید کړیدې. دینه معلومیږی چه دَ سرو او سپینو زرو کالی استعمالول په توره کښې جائز نه دی لیکن احناف او شوافع چاندی دَ زینت په توګه اختیارولو ته جائز وائی.

دَ دې اشکال په جواب کښې حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی رحمه الله فرمانی چه دَ حضرت ابوامامه رضی الله عنه په حدیث کښې داسې څه خبره نشته چه دَ چاندئی دَ کالی په توګه استعمال نفی وی، نو چه کله هغوی اوکتل چه خلق په دې کښې مشغول شو نو هغه تنقید اوفرمانیلوچه خلق دَ دې قسمه کارونو نه ډډه اوکړی. ګنی پخپله په بخاری شریف کښې روایت راغلې دې چه دَ حضرت زبیر رضی الله عنه توره په چاندئی سره ښانسته وه. (۱)

دغه شان دَ حضرت عروه رحمه الله باره کښې هم راغلی دی چه دَ هغه په توره کښې چاندې لګیدلې وه. (۲) په دې خبره باندې دلالت کوی چه دَ حضرت ابوامامه رضی الله عنه دا قول چه دَ صحابه کرامو تورې به چه سرو زرو او سپینو زرو ښانسته نه وې په اغلب باندې مبنی دې او په دې کښې دَ جواز نفی نشته. دَ حضرت ابوامامه رضی الله عنه منشاء همدغه وه چه خلق دې تورو ښانسته کولوکښې مشغول نه شی او دَ دې خبرې تنبیه کول وو چه دَ فتح او کامرانئی مدار په دې نه دې چه تورې دې ښانسته کړیشی.(۳)

۸۳-باب: مَنْ عَلَّقَ سَيْفَهُ بِالشَّجَرِ فِي السَّفَرِ عِنْدَ الْقَائِلَةِ

دَترجمة الباب مقصد: دلته دَ دې باب لاندې امام بخاری رحمه الله دا خودلې دی که اوزګار وخت وی، او سړې آرام او قیلوله کوی او په دې وخت کښې خپله توره چرته اونه یا کونډه کښې زوړند کړی نو هیڅ باك نشته ځکه چه دَ دې اصل په سنت کښې موجود دې او دغه شان حضور صلی الله علیه وسلم هم خپله توره په اونه کښې زوړند کړې وه.

او علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دَ دې ترجمه فائده دا ده چه دَ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم بهادری، په الله تعالی باندې توکل او صدق یقین بیان کړیشی. (۴)

[۲۷۵۳] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي سِنَانُ بْنُ أَبِي سِنَانٍ الدُّؤَلِيُّ وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ (۵) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَخْبَرَ أَنَّهُ غَزَا مَعَ

---

۱) (الصحيح البخاری (ج۶ص۵۶۶) كتاب المغازی باب قتل أبی جهل رقم (۳۹۷۴)-

۲) (حواله بالا-

۳) (إعلاء السنن (ج۱۷ص۳۲۱)-

٤) (الأبواب والتراجم (ج۱ص۱۹۸) وعمدة القاری (ج۱٤ص۱۸۹)-

۵) (قوله: جابر بن عبدالله رضی الله عنهما الحديث: أخرجه البخاری أيضًا فی كتاب الجهاد باب تفرق الناس عن الإمام عندالقائلة والاستظلال بالشجر رقم (۲۹۱۳) وكتاب المغازی باب غزوة ذات الرقاع رقم (۳٤، ۳۵، ٤۱۳۶) ومسلم كتاب صلاة المسافرين باب صلاة الخوف رقم (۱۹٤۹) والنسائی فی سننه كتاب صلاة الخوف رقم ۱۵۵۳و۱۵۵۵)-

رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجْدٍ فَلَمَّا قَفَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَفَلَ مَعَهُ فَأَدْرَكَتْهُمُ الْقَائِلَةُ فِي وَادٍ كَثِيرِ الْعِضَاهِ فَنَزَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَفَرَّقَ النَّاسُ يَسْتَظِلُّونَ بِالشَّجَرِ فَنَزَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ سَمُرَةٍ وَعَلَّقَ بِهَا سَيْفَهُ وَنِمْنَا نَوْمَةً فَإِذَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُونَا وَإِذَا عِنْدَهُ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ إِنَّ هٰذَا اخْتَرَطَ عَلَيَّ سَيْفِي وَأَنَا نَائِمٌ فَاسْتَيْقَظْتُ وَهُوَ فِي يَدِهِ صَلْتًا فَقَالَ مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي فَقُلْتُ اللّٰهُ ثَلَاثًا وَلَمْ يُعَاقِبْهُ وَجَلَسَ [٢٧٥٦، ٣٨٩٨، ٣٩٠٥، ٣٩٠٦، ٣٩٠٨]

تراجم رجال

۱- ابواليمان: دا ابواليمان حكم بن نافع بصرى رحمه الله دي.

۲- شعيب: دا ابوبشر شعيب بن ابى حمزة قرشي اموى رحمه الله دي. دَ دې دواړو حضراتو حالات ((بدء الوحي)) دَ شپږم حديث په ذيل كښې راغلى دى.(۱)

۳- الزهري: دا امام محمد بن مسلم ابن شهاب زهرى رحمه الله دي. دَ ده حالات هم اجمالاً ((بدء الوحي)) دَ دريم حديث په ذيل كښې راغلى دى.(۲)

۴- سنان بن ابى سنان الدؤلى: دا سنان بن ابوسنان يزيد بن اميه الدؤلى المدني رحمه الله دي. (۳)

دې دَحضرت جابربن عبدالله، حضرت حسين بن على بن ابى طالب، حضرت ابوهريره رضي الله عنهم او ابوواقد الليثى رحمه الله نه روايت كوى.

او دَ ده نه زيد بن اسلم او امام زهرى رحمه الله روايت كوى.(۴)

امام عجلى رحمه الله فرمائى ((مدني تابعي ثقة)) (۵)

امام ذهبى رحمه الله فرمائى ((ثقة)) (۶)

امام ابوحاتم او امام ابن حبان رحمهما الله هغه په (كتاب الثقات) كښې ذكر كړې (۷)

دَ امام بخارى نه علاوه امام مسلم، ترمذى او نسائى رحمهم الله هم دَ ده نه روايات اخستې دى.(۸)

---

۱) (كشف البارى(ج۱ص۴۷۹-۴۸۰)-
۲) (كشف البارى(ج۱ص۳۲۶)-
۳) (تهذيب الكمال (ج۱۲ص۱۵۱ وعمدة القارى (ج۱۴ص۱۸۹)-
۴) (تهذيب الكمال (ج۱۲ص۱۵۲)-
۵) (حواله بالا-
۶) (الكاشف للذهبى (ج۱ص۴۶۸ رقم (۲۱۵۶)-
۷) (تهذيب الكمال (ج۱۲ص۱۵۲)-
۸) (حواله بالا-

یحیی بن بکیر رحمه الله فرمائی چه د دوو اتیا کالو(۸۲) په عمر کښې په کال ۱۵۰ھ کښې وفات شو. (۱) رحمه الله رحمة واسعة.

۵- ابوسلمه بن عبدالرحمن: دا مشهور تابعی محدث حضرت ابوسلمه بن عبدالرحمن بن عوف رحمه الله دې. د ده حالات ((کتاب الإیمان باب صوم رمضان احتسابًا من الإیمان)) لاندې تیرشوی دی. (۲)

۶- جابربن عبدالله رضی الله عنهما: دا مشهور صحابی حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنهما دې. (۳)

قوله: أخبرنا أنه غزا مع رسول الله صلى الله علیه وسلم قبل نجد فلما قفل.....: حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنهما ابوسلمه بن عبدالرحمن ته خبرورکړو چه هغه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره د نجد طرف ته په یوه غزا کښې شریك وو. کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم واپس شو نو هغوی سره دې هم واپس شو. د قیلولې په وخت کښې می هغه په داسې وادئی کښې اومونډلو په کومه کښې چه لوئ لوئ ازغني ونې وې. حضور اکرم صلی الله علیه وسلم هلته کوز شو او خلق هم د ونود سورو حاصلولو په غرض خواره شو. پخپله حضور صلی الله علیه وسلم د یوې ونې لاندې آرام کولو او خپله توره ئی په دغه ونه کښې زوړنده کړه. مونږ تول اوده وو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته آواز اوکړو چه مونږ اوکتل نو یو بدو هغوی صلی الله علیه وسلم سره ولاړ وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دې سړی هم زما توره په ما باندې راوچته کړې وه او زه اوده ووم. کله چه بیدار شوم نو برېنډه توره د ده په لاس کښې وه، ده ماته اووئیل چه اوس به دې رانه څوك بچ کوی؟ نو ما درې ځل الله اووئیل نو توره د بدو د لاس نه پریوتله او حضور صلی الله علیه وسلم راوچته کړه، حضور صلی الله علیه وسلم دې اعرابی ته هیڅ سزا ورنه کړه.

تنبیه: د حدیث باب مکمل تشریح په کتاب المغازی (۴) کښې راغلې ده. د دې د پاره مونږ دلته صرف په ترجمه باندې اکتفا اوکړه. البته بعض فوائد کوم چه د حدیث باب نه مستنبط کیږی ذکر کول به د فائدې نه خالی نه وی.

د حدیث باب نه مستنبط فائدې: ① په ونه وغیره کښې توره او وسله د حفاظت په غرض زوړندول صحیح دی او دا امر معمول به دې. او په سنت کښې د دې اصل موجود دې. (۵)
② د شپې او قیلولې په وخت کښې د امام او سلطان حفاظت کول په خلقو باندې واجب او ضروری دی اود دې خبرې خیال نه ساتل غلطی او امر قبیح دې. (۶)

---

۱) (حواله بالا، وطبقات ابن سعد (ج۵ص۲۴۹) والکاشف (ج۱ص۴۶۸)-
۲) (کشف الباری (ج۲ص۳۲۳)-
۳) (د دوی د حالاتو د پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب من لم یرالوضوء إلا من المخرجین من القبل والدبر
۴) (کشف الباری کتاب المغازی (ص۳۲۲-۳۲۶)-
۵) (شرح ابن بطال (ج۵ص۱۰۰)-
۶) (شرح ابن بطال (ج۵ص۱۰۱)-

③ دَ حدیث باب نه دَ رسول الله ﷺ دَ صبر او برداشت پته لګی چه سره دَ دې خبرې چه مغوی ﷺ ته دَ دغه اعرابی نه دَ بدلې اخستلو طاقت حاصل وو لیکن حضور ﷺ معاف کړلو. جاهلانو سره هم دغه طریقه اختیارول پکار دی.(۱)
④ دَ مصنف ابن ابی شیبه رحمه الله دَ روایت نه معلومیږی چه دَ حدیث واقعه دَ آیت مبارک
﴿والله یعصمك من الناس﴾(۲)
دَ نزول سبب جوړ شوې وو، حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی:
((کنا إذا نزلنا طلبنا للنبی صلی الله علیه وسلم أعظم شجرة وظلها قال: فنزلنا تحت شجرة فجاء رجل وأخذ سیفه فقال: یامحمد من یمنعك منی؟قال: الله، فأنزل الله: ﴿والله یعصمك من الناس﴾- (۳)
یعنی چه کله به یو ځائ کښې کوزیدو نو دَ نبی ﷺ دپاره به مو لویه ونه اودَ دې سورې لټولو نو یوځل مونږ دَ یوې ونې لاندې اوده شو نو یو سړی راغلو اوهغه دَ حضور ﷺ توره راوچته کړه او وئی وئیل اې محمد مانه به تاڅوك بچ کوی؟ نو نبی ﷺ اوفرمائیل الله! الله تعالی دا آیت نازل کړو﴿والله یعصمك من الناس﴾.
او دَ نبی اکرم ﷺ دَ حراست او حفاظت په سلسله کښې تفصیلی بحث روستو تیرشو.
د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله کښې دې ((فنزل تحت شجرة وعلق بها سیفه)) (۴) دینه معلومه شوه چه په ونه کښې توره زوړندولو کښې څه باك نشته.

۸۳- باب: لُبْسِ الْبَيْضَةِ

دَترجمة الباب مقصد: ((البیضة))خود یعنی دَ اوسپنې ټوپئی ته وای او امام بخاری رحمه الله دلته په سر باندې دَ اوسپنې ټوپئی اغوستلو مشروعیت او جواز خودلې دې چه دَ دې استعمال نبی ﷺ نه ثابت دې او دا دَ توکل علی الله خلاف نه دی. (۵)

[۲۷۴۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ سَهْلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ (۶) جُرْحِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ فَقَالَ جُرِحَ وَجْهُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ وَهُشِمَتْ الْبَيْضَةُ عَلَى رَأْسِهِ فَكَانَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَام

---

۱) (حواله بالا-
۲) (المائده:۶۷-
۳) (شرح ابن بطال (ج۵ص۱۰۰)-
۴) (فتح الباری (ج۶ص۶) وعمدة القاری (ج۱۴ص۱۸۹)-
۵) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۹۰) ولامع الدراری (ج۷ص۲۴۰)-
۶) (قوله: عن سهل رضی الله عنه: الحدیث مرتخریجه فی کتاب الوضوء باب غسل المرأة أباها الدم....-

تَغْسِلُ الدَّمَ وَعَلِيٌّ يُمْسِكُ فَلَمَّا رَأَتْ أَنَّ الدَّمَ لَا يَزِيدُ إِلَّا كَثْرَةً أَخَذَتْ حَصِيرًا فَأَحْرَقَتْهُ حَتَّى صَارَ رَمَادًا ثُمَّ أَلْزَقَتْهُ فَاسْتَمْسَكَ الدَّمُ [ر: ۲۴۰]

تراجم رجال

۱- عبدالله بن مسلمه: دا ابوعبدالرحمن بن عبدالله بن سلمه بن قعنب قعنبی رحمه الله دي. دَ ده تذکره اجمالا ((کتاب الإیمان باب من الدین الفرار من الفتن)) لاندې تیره شویده. (۱)

۲- عبدالعزیز: دا عبدالعزیز بن ابی حازم سلمة بن دینار رحمه الله دې. (۲)

۳- ابیه: ((أب)) نه مراد ابوحازم سلمه بن دینار الاعرج المدنی رحمه الله دې. (۳)

۴- سهل: دا مشهور صحابی حضرت سهل بن سعد الساعدی رضی الله عنه دې. (۴)

تنبیه: دَ حدیث باب تشریح روستو په کتاب الوضوء (۵) کښې او کتاب المغازی (۶) او کتاب الطب (۷) کښې هم راغلې دې.او همدغه حدیث اوس ماقبل کښې یو څو بابونه وړاندې تیر شویدې.

دَ حدیث دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث شریف ترجمة الباب سره مناسبت په دې جمله کښې دې. ((وهشمت البیضة علی رأسه))(۸) هغه دَ اوسپنې ټوپئی چه دَ رسول الله ﷺ په سرباندې پرته وه ماته شوه. دینه لبس بیضه ثابت شویده چه مدعا ده.

۸۵- بَاب: مَنْ لَمْ يَرَ كَسْرَ السِّلَاحِ عِنْدَ الْمَوْتِ

دَترجمة الباب مقصد: دَ جاهلیت دَ خلقو طریقه دا وه چه په هغوی کښې به څوک بهادر مړشو نو دَ هغه وسلې به خلقوماتولې اودا به ئې وئیل چه اوس دَ دې استعمالونکې باقی پاتې نشو نو دا به څه باقی پاتې وی اوکله کله خو به مړکیدونکی پخپله وعده اخستله چه دَ ده وسله دې ماته کړیشی.

نودَ دې تردید دلته امام بخاری رحمه الله کړیدې چه دا دَ جاهلیت دَ خلقو کار او فعل دې په اسلام کښې دَ دې هیڅ تصور نشته. (۹)

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص۸۰)-

۲) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الصلوة باب نوم الرجال فی المسجد-

۳) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الوضوء باب غسل المرأة أباالدم عن وجهه-

٤) (حواله بالا-

۵) (صحیح البخاری کتاب الوضوء باب غسل المرأة أباهاالدم عن وجهه-

۶) (کشف الباری کتاب المغازی (ص۲٤۷)-

۷) (کشف الباری کتاب الطب ص۳٤)-

۸) (فتح الباری (ج۶ص۹۷) وعمدة القاری (ج١٤ص١٩٠)-

۹) (فیض الباری(ج۳ص٤۳۶)وفتح الباری (ج۶ص۹۷) وعمدة القاری(ج١٤ص١٩١) وإرشادالساری (ج۵ص١٠٠)

حافظ صاحب فرمائی چه غالبا دا هم کیدیشی چه امام بخاری رحمه الله د جعفر طیار بن ابی طالب رضی الله عنه واقعې طرف ته اشاره کړې وی. کله چه هغه په جنګ موته کښې شهید کیدلو نو هغه خپله وسله (نیزې او تورې) ماتې کړې وې او د خپلو اسونو پښې ئې پریکړې وې چه دښمن دا د مال غنیمت په توګه وانخلی.

نو امام بخاری رحمه الله فرمائی چه دا د حضرت جعفر رضی الله عنه ذاتی فعل او د هغه اجتهاد وو باقی داسې وسلې نشی ماتولې ځکه چه قاعده داده چه د مال تلف کول جائز نه دی. هغوی لیکی:

((ولعل المصنف لمح بذلك إلى ما نقل عنه أنه كسر رمحه عند الاصطدام حتى لا يغنمه العدو أن لو قتل وكسر جفن سيفه وضرب بسيفه حتى قتل كما جاء نحو ذلك عن جعفر بن أبي طالب في غزوة مؤتة (١) فأشار إلى أن هذا شئ لعله جعفر وغيره عن اجتهاد والأصل عدم جواز إتلاف المال لأنه يفعل شيئا محققا في أمر غير محقق)) (٢)

د حضرت ګنګوهی رحمه الله رائې: پورته تاسو د نورو شارحینو مثلا حضرت کشمیری رحمه الله، حافظ صاحب، علامه عینی او علامه قسطلانی رحمهم الله وغیره رائې په ترجمة الباب د مقصد باره کښې اوکتله. اوحضرت فقیه النفس ګنګوهی رحمه الله یوه بله خبره د ترجمة الباب د مقصد په توګه بیان کړیده. هغه دا چه که چرې د وسلې وغیره د ماتولو څه فائده وی نو وسله ماتول جائز دی ګنی هغه په اسراف منهی عنه کښې داخل دی.

د دې وجه دا ده چه نبی علیه السلام د خپل وفات حسرت آیات په وخت کښې خپله وسله تلف کړې او ضائع کړې نه وه ځکه چه په هغې کښې څه فائده نه وه.او که په وسله وغیره ماتولو کښې څه فائده وی مثلاً د وسلې د دښمن په لاس لګیدو ویره وی، یا د دې په وجه خپل ځان ته د نقصان رسیدو څه خطره وی یا بل چاته د نقصان رسیدو خطره وی مثلاً یو ماشوم وی یا لیونې چه د هغه په لاس دا وسله لګیدو سره خپل ځان ته نقصان رسوی یا د وسلې خپل ځان سره د کیخودو تهمت یا خرابئ څه اندیښنه وی لکه د هندوستان د جنګ آزادئ ۱۸۵۷ء کښې چه ووچه د چا د کور نه هم وسله راووتله نو هغه ته به د هندوستان حکومت نقصان رسولو نو په دې ټولو صورتونو کښې وسله ماتول جائز دی ځکه چه دا ټول صورتونه د څه نا څه فائدې متضمن دی.(۳)

حضرت شیخ الحدیث د حضرت ګنګوهی رحمه الله رائې ته ترجیح ورکړیده. (۴)

[۲۷۵۵] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَبَّاسٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ (٥) قَالَ مَا تَرَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا سِلَاحَهُ وَبَغْلَةً بَيْضَاءَ وَأَرْضًا جَعَلَهَا صَدَقَةً [ر: ۲۵۸۸]

---

١) (انظر سنن أبي داؤد أبواب الجهاد باب في الدابة تعرقب في الحرب رقم (٢٥٧٣) وقال أبوداؤد هذاالحديث ليس بالقوي. والسيرة الحلبية (ج٣ص٦٧)

٢) (فتح الباري (ج٦ص٩٧) وانظر لتفصيل مباحث غزوة مؤتة كشف الباري كتاب المغازي (ص٧٧)-

٣) (لامع الدراري (ج٧ص٢٤١)-

٤) (الأبواب والتراجم (ج١ص١٩٨)-

٥) (قوله: عن عمرو بن الحارث رضي الله عنه: الحديث مر تخريجه في كتاب الوصايا باب الوصايا-

تراجم رجال

۱- عمرو بن عباس: دا ابوعثمان عمرو بن عباس البصرى رحمه الله دی. (۱)

۲- عبدالرحمن: دا عبدالرحمن بن حسان عنبرى بصرى رحمه الله دی. (۲)

۳- سفيان: دا مشهور امام حديث تبع تابعی ابوعبدالله سفيان بن سعيدبن مسروق ثورى رحمه الله دی. دَ دوی حالات ((كتاب الإيمان باب علامة المنافق)) لاندې تيرشوی دی. (۳)

۴- ابواسحاق: دا ابواسحاق عمرو بن عبدالله بن عبيد سبيعى رحمه الله دی. دَ ده تذکره ((كتاب الإيمان باب الصلاة من الإيمان)) کښې تيره شويده. (۴)

۵- عمرو بن الحارث: دا مشهور صحابی، ام المؤمنين حضرت جويريه رضی الله عنها رور حضرت عمر بن الحارث رضی الله عنه دی. (۵)

قوله: قال: ماترك النبي صلى الله عليه وسلم إلا سلاحه وبغلة بيضاء وعرضا:
حضرت عمرو بن الحارث رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ د خپل وفات په وخت کښې خپله وسله، يو سپين قچر او په خيبر کښې يوه زمکه کومه چه هغوی صدقه کړې وه نه علاوه هيڅ نه وو پريخی.

دا حديث (كتاب الوصايا) په شروع کښې راغلې دې.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت په دې معنى دې چه اهل جاهليت کښې دَ مړکيدونکی وسله به ماتولې شوه او دَ څناورو پښې به پريکولې شوې، په دې کار کښې نبى عليه السلام دَ هغوی مخالفت اوکړو او چه کوم څه هغوی ﷺ په ترکه کښې پريخې وو دَ هغې متعلق ئې هيڅ قسم وصيت اونه فرمائيلو سوا دَ خيبر دَ زمکې نه، هغه ئې دَ الله تعالى په لار کښې صدقه کړه. دَ حضور ﷺ دې کار نه دا ثابته شوه چه واقعی دَ وسلې ماتولو رسم صحيح وې نو نبى عليه السلام به خامخا دَ دې وصيت فرمائيلو. نو قسطلانى رحمه الله فرمائی

((وخالف صلى الله عليه وسلم أهل الجاهلية فيما كانوا يوصون به من كسر السلاح، وعقر الدواب، وحرق المتاع، من ترك بغلته وسلاحه وأرضه من غير إيصاء فى ذلك بشىء إلا صدقة فى سبيل الله)) (۶)

---

۱) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ كتاب الصلاة باب فضل استقبال القبلة.
۲) (حواله بالا-
۳) (كشف البارى (۲ص۲۷۸)-
٤) (كشف البارى (ج۲ص۳۷۰)-
۵) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ كتاب الزكاة على الزوج والأيتام فى الحجر.
۶) (شرح القسطلانى (ج۵ص۱۰۰) وانظر شرح ابن بطال (ج۵ص۱۰۲) وعمدة القارى (ج۱٤ص۱۹۱)-

دَ کسر سلاح نه دَ ممانعت حکمت: اسلامی شریعت چه وسله وغیره نه تلف کولو او نه ماتولو بابت کښې فرمائیلي دی دَ دې حکمت دا دې چه دا وسله وغیره دَ مسلمان دَ ذکر خیر دَ بقا ذریعه اودَ کومو نیکو اعمالو بنیاد هغې اچولې او په کومو خو خصلتونو باندې هغه خلق راپاسوی نودَ هغې دَ زیاتوالی او ډیروالی سبب دې. په خلاف دَ اهل جاهلیت، دَ هغوی دَ کسر سلاح په فعل کښې دې خبرې ته اشاره ده چه دَ هغوی اعمال ختم اودَ هغوی دَ خیر آثار به ضائع او ناپید شی.

نوعلامه ابن المنیر اسکندرانی رحمه الله فرمائی ((وفی إبقاء السلاح عنوان للمسلم علی إبقاء ذکره، واستمناء أعماله الحسنة التی سنها للناس، وعادته الجمیلة التی حمل علیها العباد، بخلاف أهل الجاهلیة ففی فعلهم ذلك إشارة إلی انقطاع أعمالهم وذهاب آثارهم))(۱)

۸۲-بَاب: تَفَرُّقِ النَّاسِ عَنْ الْإِمَامِ عِنْدَ الْقَائِلَةِ وَالِاسْتِظْلَالِ بِالشَّجَرِ

دَ ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله دلته دا خودلی دی چه دَ اسلام مجاهدین کله چه دَ جهاد وخت نه وی او فارغ وخت وی نو هغوی دې دَ آرام دَ پاره اخوا دیخوا خواره شی خو چه دَ ناڅاپی حملې وغیره اندېښنه نه وی نو په دې کښې هیڅ خرابی نشته.

حضرت شیخ الحدیث محمدزکریا کاندهلوی رحمه الله فرمائی چه په شارحینو کښې چا هم دَ دې ترجمه غرض او مقصد طرف ته توجه نه ده ورکړې او زما په نزد دَ ټولونه بهتره توجیه دلته دا ده چه امام بخاری رحمه الله دَ دې ترجمة الباب په ذریعه دَ دې وهم دَ لرې کولو طرف ته اشاره کړیده چه دَ سنن ابوداؤد په روایت سره پیدا کیږی. (۲)

ابوداؤد کښې حضرت ابوثعلبه الخشنی رضی الله عنه روایت دې چه:

((کان الناس إذا نزلوا منزلا ـ وقال عمرو: وکان الناس إذا نزل رسول الله صلی الله علیه وسلم منزلا ـ تفرقوا فی الشعاب والأودیة، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم إن تفرقکم فی هذه الشعاب والأودیة إنما ذلکم من الشیطان ولم ینزل بعد ذلك منزلا إلا انضم بعضهم إلی بعض حتی یقال: لو بسط علیهم ثوب لعمهم))(۳)

یعنی صحابه کرام رضی الله عنهم به چه کله په یومنزل کښې کوزیدل، دَ امام ابوداؤد شیخ عمرو فرمائی چه کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو منزل کوزیدو نو صحابه کرام رضی الله عنهم به چرته په کندو او وادیانوکښې خوریدل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ستاسو خلقو دې کندو او وادیانوکښې خوریدل بې شکه دَ شیطان دَ طرف نه دی. دې نه پس چه به کله هم رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو منزل باندې ډیره واچوله نو ټول خلق به په خپل مینځ کښې یوځائ شو، تردې پورې وئیلې شوی دی چه که یوه کپړا په هغه ټولو خوره شوې وې نو هغه ټول به په هغه کپړا کښې پټیدې شو.

۱) (شرح القسطلانی (ج۵ص۱۰۰) وتعلیقات لامع الدراری (ج۷ص۲۴۲)-
۲) (الأبواب والتراجم (ج۱ص۱۹۸)-
۳) (سنن أبی داؤد أبواب الجهاد باب مایؤمر من انضمام العسکر وسعته رقم (۲۶۲۸)-

د دې روايت خو دا معلومه شوه چه د اسلام د مجاهدينو په اوزګار وخت کښې اخوا ديخوا خوريدل او ګډوډ کيدل جائز نه دی، نو امام بخاری رحمه الله دلته روايت باب ذکر کولو سره اوفرمائيل چه دا جائز دی.

يو تعارض او د هغې حل: تاسو اوس اوکتل چه امام بخاری رحمه الله خود دې قائل دې چه د لښکر د اوزګارتيا په وخت د آرام کولو په غرض يوخوا بل خوا خوريدل جائز دی او امام ابوداؤد د دې د عدم جواز قائل دې. نو اوس د صحيح بخاری او سنن ابی داؤد په تراجم باب کښې تعارض واقع کيږی. ترديې پورې چه د دواړو روايتونه هم خپل مينځ کښې متعارض دی. د حضرت جابر رضي الله عنه روايت د جواز طرف ته اشاره کوی نو د سنن ابوداؤد روايت کښې ممانعت دې.

د دې تعارض جواب دا دې چه د دواړو روايتونو محمل جدا جدا دې. د ابوداؤد شريف روايت په کوم کښې چه د اخواديخوا خوريدلو ممانعت دې، تعلق په يوځائ کښې د کوزيدلو د شروع وختونونه دې، مطلب دا چه کله هم لښکر يو ځائ کښې ډيره واچوله نو زر اخوا ديخوا نه دی کيدل پکار بلکه هم نزدې اوسيدل پکار دی چه سلطان يا مشر ته په مشوره کولو کښې تکليف پيښ نشی.

اوس چه ترکومې د ګډوډکيدلو او خوريدلو د اجازت تعلق دې لکه چه د باب روايت په دې واضح دلالت کوی نود دې تعلق د ډيرې اچولو نه پس وختونو سره دې. مثلاً قيلوله يا نور ضرورياتود پاره هم په يو وخت کښې خلق مشغول شی، غالباً هم دې طرف ته امام بخاری رحمه الله هم اشاره کړيده چه په ترجمه کښې دا الفاظ هم دې. ((عند القائلة والاستظلال بالشجر)).

حضرت شيخ الحديث محمد زکريا کاندهلوی رحمه الله د دې مذکوره تعارض جواب ورکولو کښې فرمائی:

((فيمكن أن يجاب عنه بأن المنع عن التفرق إنما هو عند ابتداء النزول لمصالح تقتضيه كأن يكون جميع العسكر برأى من الإمام ليراقبهم ويشاورهم ونحو ذلك من الفوائد، وأما جواز التفرق فالمراد به التفرق بعد النزول مجتمعا في وقت آخر للقيلولة وغيرها من الحاجات، ولعل الإمام البخاري إليه أشار بقوله في الترجمة: عند القائلة والاستظلال بالشجر)) (١)

د جواب خلاصه دا شوه چه د سنن ابوداؤد د روايت تعلق په يوځائ کښې د کوزيدونه پس دې او په روايت باب کښې چه کوم حکم بيان شويدې هغه د روستو اوقاتو دې.

[٢٧٥٦] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ حَدَّثَنَا سِنَانُ بْنُ أَبِي سِنَانٍ وَأَبُو سَلَمَةَ أَنَّ جَابِرًا أَخْبَرَهُ

حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ أَخْبَرَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ سِنَانِ بْنِ أَبِي سِنَانٍ الدُّؤَلِيِّ أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا (٢) أَخْبَرَهُ أَنَّهُ غَزَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى

---

١) (الأبواب والتراجم (ج١ص١٩٨)-

٢) (قوله: ان جابر بن عبدالله رضى الله عهنما: الحديث مر تخريجه آنفاقيل بابين-

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَدْرَكَتْهُمُ الْقَائِلَةُ فِي وَادٍ كَثِيرِ الْعِضَاهِ فَتَفَرَّقَ النَّاسُ فِي الْعِضَاهِ يَسْتَظِلُّونَ بِالشَّجَرِ فَنَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ شَجَرَةٍ فَعَلَّقَ بِهَا سَيْفَهُ ثُمَّ نَامَ فَاسْتَيْقَظَ وَعِنْدَهُ رَجُلٌ وَهُوَ لَا يَشْعُرُ بِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هٰذَا اخْتَرَطَ سَيْفِي فَقَالَ مَنْ يَمْنَعُكَ قُلْتُ اللّٰهُ فَشَامَ السَّيْفَ فَهَا هُوَ ذَا جَالِسٌ ثُمَّ لَمْ يُعَاقِبْهُ [ر: ٣٧٥٣]

تنبیه: حدیث باب دلته امام بخاری رحمه الله په دوو سندونو سره ذکر کړیدې. یو خو بالکل هم هغه سند دې چه اوس «باب من علق سیفه بالشجر...» لاندې تیرشو. دونم سند کښې هم دوه صرف داسې حضرات، دی چه په اول سند کښې نشته یوموسی بن اسماعیل اوبل ابراهیم بن سعد.

دَ موسی بن اسماعیل نه مراد تبوذکی بصری رحمه الله دې، دَ هغوی حالات «بدء الوحی» څلورم حدیث کښې تیرشویدې.(١)

او ابراهیم بن سعد نه مراد ابواسحاق ابن عبدالرحمن بن عوف رحمه الله دې. دَ دوی تذکره «کتاب الإیمان باب تفاضل أهل الإیمان فی الأعمال» لاندې تیره شویده. (٢)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت ظاهر دې چه په دې جمله کښې دې. «فتفرق الناس فی العضاه یستظلون بالشجر» (٣)

٨٧- بَاب: مَا قِيلَ فِي الرِّمَاحِ

دَترجمة الباب مقصد: دَ حافظ ابن حجر او علامه عینی رحمهما الله وغیره رائې دا ده چه امام بخاری رحمه الله دلته دَ رماح استعمال او هغه خپل ځان سره دَ کیخودلو فضیلت بیانوی.(٤)

اوحضرت فقیه النفس مولانا رشیداحمدګنګوهی رحمه الله فرمائی چه دَ امام بخاری مقصد دا بیانول وی چه دَ نیزې استعمال او دَ دې ځان سره ساتل جائز دی او دا دَ توکل منافی نه دی. «کما مر قوله فی لبس البیضة» (٥)

حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله دَ حضرت ګنګوهی رحمه الله رائې ته ترجیح ورکړیده. دَ دې وجه دا ده چه امام بخاری رحمه الله په باب کښې دوه احادیث نقل کړی دی، یو دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما او دونم دَ حضرت ابوقتاده رضی الله عنه. اودَ حافظ ابن حجر موقف دَ ابن عمر رضی الله عنهما دَ حدیث باره کښې خو صحیح کیدیشی لیکن دَ ابوقتاده رضی الله عنه دَ حدیث باره کښې نه څکه چه په هغې کښې دَ فضیلت وغیره باره کښې دَ سر نه ذکر نشته اونه په دې باندې څه دلالت شته. په دې وجه بهتر توجیه دا ده چه دا اووئیلې شی چه دَ بیان مقصد جواز دې نه چه دَ فضیلت بیان. هغه فرمائی:

---

١) (کشف الباری (ج١ص٤٣٣)-
٢) (کشف الباری (ج٢ص١٠٧)-
٣) (عمدة القاری (ج١٤ص١٩١)-
٤) (فتح الباری (ج٦ص٩٨) وعمدة القاری (ج١٤ص١٩١) وشرح ابن بطال (ج٥ص١٠٣)-
٥) (لامع الدراری (ج٧ص٢٤٢)-

((قال الحافظ: ((باب ماقيل فى الرماح)) أى فى اتخاذها واستعمالها من الفضل، وهكذا قال العينى وغيره، فحملوا الترجمة على الفضل، لكنه لايظهر إلا من حديث واحد.....))(۱)

قوله: وَيُذْكَرُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جُعِلَ رِزْقِي تَحْتَ ظِلِّ رُمْحِي وَجُعِلَ الذِّلَّةُ وَالصَّغَارُ عَلَى مَنْ خَالَفَ أَمْرِي: اوڅ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه مرفوعا روايت دې چه نبی اکرم ﷺ فرمائیلی دی زما رزق زما دَ نیزې دَ لاندې مقرر کړېشویدې او چه څوك زما دَ حکم خلاف ورزی کوی په هغه باندې ذلت او رسوائی مقررشویده.

دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دَ مذکوره تعلیق تخریج: دَ حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دا تعلیق امام احمد رحمه الله په خپل مسند کښې (۲) او حافظ ابوبکر بن ابی شیبه خپل (مصنف) (۳) کښې موصولاً نقل کړېدې.(۴)

مصنف رحمه الله خودلته دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دَ حدیث یوه حصه تعلیقًا نقل کړېده او پوره حدیث شریف داسې دې:

((قال رسول الله صلى الله عليه وسلم بعثت بين يدى الساعة بالسيف حتى يعبد الله وحده لاشريك له، وجعل رزقى تحت ظل رُمحى وجعل الذلة والصغار على من خالف أمرى، ومن تشبه بقوم فهو منهم)) (۵)

او امام ابوداؤد رحمه الله هم دَ دې حدیث صرف آخری حصه یعنی ((ومن تشبه بقوم فهو منهم)) موصولاً نقل کړېده. (۶)

دَ مذکوره تعلیق تشریح او مطلب: حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دا تعلیق په دوو جملو مشتمل دې.

① ((جعل رزقى تحت ظل رمحى)) ② ((وجعل الذلة والصغار على من خالف أمرى))

په اولنۍ جمله کښې دَ مختلفو امورو طرف ته اشاره ده، مثلاً په دې کښې دَ نیزې فضیلت بیان کړېشویدې. او دا خودلې شوی دی چه دَغنائمو حلت دې امت محمدیه علی صاحبها الصلوٰة والسلام سره مخصوص دې. مسلم شریف او جامع ترمذی (۷)کښې دَ حضرت ابوهریره رضي الله عنه مرفوع روایت دې چه نبی اکرم ﷺ فرمائیلی ((وأحلت لى الغنائم....))

---

۱) (تعليقات لامع الدرارى (ج۷ص۲٤۲) والأبواب والتراجم (ج۱ص۱۹۸)-
۲) (مسند الإمام أحمد (ج۲ص۵۰)-
۳) (مصنف ابن أبى شيبة (ج٤ص۲۲۲) كتاب الجهاد باب ماذكر فى فضل الجهاد رقم (۱۹٤۳۰)-
٤) (تغليق التعليق(ج۳ص٤٤۵)-
۵) (مسند الإمام أحمد (ج۲ص۵۰)-
۶) (سنن أبى داؤد أبواب اللباس باب فى لبس الشهرة رقم (٤۰۳۱)-
۷) (الحديث أخرجه مسلم فى صحيحه كتاب المساجد باب المساجد ومواضع الصلاة رقم (۱۱۶۷) والترمذى فى جامعه أبواب السير باب ماجاء فى الغنيمة رقم (۱۵۵۳)-

او نور نی دا هم بیان کړی دی چه د نبی اکرم ﷺ رزق نیزې سره تړلی شوی وو. همدغه وجه ده چه بعض علماؤ افضل ترین کسبه غنیمت ګرځولې دې. په (شرح المواهب) کښې دی
((أفضله (أى الكسب) الجهاد، ثم التجارة، ثم الحراثة، ثم الصناعة)) (۱)
صرف نیزه ذکر کولوکښې حکمت: بیا تاسو دلته ګورئ چه حضور ﷺ صرف نیزه ذکر کړیده چه د دې د لاندې زما رزق مقرر کړیشویدې د جنګ نور آلات یعنی توری وغیره متعلق ئی نه دی فرمائیلی چه زمارزق د دې د لاندې مقرر کړیشویدې
د دې وجه دا ده چه د اهل عرب معروف عادت دا وو چه هغوی به د نیزې په څوکه کښې جنګی جهنډا لګوله. په نیزه باندې د جهنډې لګولو سره د دې سورې خورېږی په دې وجه د رزق نسبت هغه طرف ته کول ډیر مناسب شو څکه چه د جهاد په وجه حاصل شوی مال (غنیمت) هم زیات وی. (۲)
البته یو حدیث چه د حضرت عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه نه روایت دې په هغې کښې د توری د سوری هم ذکر دې. د حدیث الفاظ دا دی: ((الجنة تحت ظلال السيوف)) (۳) نو د رزق نسبت خو د نیزې د سوری طرف ته شوی دې لکه مونږ اوس بیان کړو چه د نیزې نه مراد جهنډه ده. خو د جنت نسبت د تورې سوری طرف ته شویدې څکه چه د شهادت سبب اکثر توره جوړیږی. (۴)
د تعلیق د دوئمې جملې تشریح: د ابن عمر رضی الله عنهما د تعلیق دوئمه جمله ((وجعل الذلة والصغار على من خالف أمرى)) ده. د صغار معنی د جزیه ادا کول دی. (۵)
او مطلب دا دې چه څوك زما راوړلې شوی احکامات نه منی، د هغې نه اعراض او بغاوت کوی، په هغوی به ذلت مسلط کولې شی او په هغوی به د جزیې ادا کول لازمیږی.
د تعلیق ترجمة الباب سره مطابقت: د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما پورته ذکر شوی تعلیق مناسبت ترجمة الباب سره په دې جمله کښې دې. ((جعل رزقى تحت ظل رمحى)) خواه که د فضیلت رماح مراد واخستې شی یا جواز ((كما مر الآن فى غرض ترجمة الباب))-

[۲۷۵۴] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ مَوْلَى أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۶) أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِبَعْضِ طَرِيقِ مَكَّةَ تَخَلَّفَ مَعَ أَصْحَابٍ لَهُ مُحْرِمِينَ وَهُوَ

۱) (فتح الباری (ج۶ص۹۸) والدرالمختار (ج۵ص۳۲۸)-
۲) (فتح الباری (ج۶ص۹۸)-
۳) (الدحدیث أخرجه البخاری کتاب الجهاد باب الجنة تحت بارقة السیوف رقم (۲۸۱۸)-
٤) (فتح الباری (ج۶ص۹۸)-
۵) (حواله بالا وعمدة القاری (ج١٤ص۱۹۲) وشرح القسطلانی (ج۵ص۱۰۰)-
۶) قوله: عن أبی قتادة رضی الله عنه: الحدیث مرتخریجه فی کتاب جزاء الصید باب إذا صاد الحلال فأهدی-

غَيْرُ مُحْرِمٍ فَرَأَى حِمَارًا وَحْشِيًّا فَاسْتَوَى عَلَى فَرَسِهِ فَسَأَلَ أَصْحَابَهُ أَنْ يُنَاوِلُوهُ سَوْطَهُ فَأَبَوْا فَسَأَلَهُمْ رُمْحَهُ فَأَبَوْا فَأَخَذَهُ ثُمَّ شَدَّ عَلَى الْحِمَارِ فَقَتَلَهُ فَأَكَلَ مِنْهُ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَى بَعْضٌ فَلَمَّا أَدْرَكُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلُوهُ عَنْ ذَلِكَ قَالَ إِنَّمَا هِيَ طُعْمَةٌ أَطْعَمَكُمُوهَا اللَّهُ

وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ فِي الْحِمَارِ الْوَحْشِيِّ مِثْلُ حَدِيثِ أَبِي النَّضْرِ قَالَ هَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ [ر: ۱۷۲۵]

تراجم رجال

۱- عبدالله بن یوسف: دا عبدالله بن یوسف تنیسی دمشقی رحمه الله دی.

۲- مالك: دا امام مالك بن انس بن مالك رحمه الله دی. دَدې دواړوحضراتومختصره تذکره ((بدء الوحی)) په ړومبی حدیث کښې راغلې ده. (۱)

۳- ابوالنضر: دا ابوالنضر سالم بن ابی امیه مولی عمر بن عبیدالله رحمه الله دی. (۲)

۴- نافع: دا ابومحمد نافع بن عباس مولی ابی قتاده مدنی رحمه الله دی. (۳)

۵- ابوقتاده رضی الله عنه: دا مشهور صحابی حضرت قتاده حارث بن ربعی انصاری رضی الله عنه دی. (۴)

اودَ حضرت ابوقتاده رضی الله عنه نه مروی حدیث باب تشریح (کتاب جزاء الصید) (۵) ورسره (کتاب الذبائح والصید) (۶) کښې تیرشوی دی.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: حافظ ابن حجر او علامه عینی رحمهما الله خودا فرمائیلی دی چه دَ حدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت ((فسألهم رمحه فأبوا)) کښې دی. (۷)

لیکن څنګه چه مونږ دَ باب په شروع کښې دَ حضرت شیخ الحدیث رحمه الله په حوالې سره دا بیان کړې چه دې دواړو حضراتو دَترجمة الباب مقصد بیان کړیدې، دَ هغې په اعتبار سره دَ حضرت ابوقتاده رضی الله عنه دَ هغه حدیث ترجمة الباب سره مناسبت نه صحیح کیږی.خو که دَ حضرت ګنګوهی رحمه الله رائې وړاندې کړیشی نو ترجمة الباب سره مناسبت بالکل صحیح کیږی هغوی فرمائیلې وو چه دلته امام بخاری رحمه الله دَ نیزې دَ استعمال جواز خودلې دې

۱) (کشف الباری(ج۱ص۲۸۹-۲۹۰)دَامام مالک رحمه الله نورحالاتودَپاره اوګوریْ کشف الباری (ج۲ص۸۰)-
۲) (دوی دَ حالاتودَپاره اوګوریْ کتاب الوضوء باب المسح علی الخفین-
۳) (دوی دَ حالاتودَپاره اوګوریْ کتاب جزاء الصید باب لایعین المحرم الحلال فی قتل الصید-
٤) (دوی دَ حالاتودَپاره اوګوریْ کتاب الوضوء باب النهی عن الاستنجاء بالیمین-
۵) (صحیح البخاری کتاب جزاء الصید باب إذا صاد الحلال فأهدی للمحرم الصید أكله-
۶) (کشف الباری کتاب الذبائح والصید (ج۱۳ص۱۹۲)-
۷) (فتح الباری (ج۶ص ۹۹) وعمدة القاری (ج۱۳ص۱۹۲)-

کوم چه د حدیث نه واضح دي.

((ومن زید بن أسلم عن عطاء بن یسار عن أبي قتادة في الحمار الوحشي مثل حدیث أبي النضر قال: هل معکم من لحمه شئ))

ذپورتني تعلیق تخریج: دَ حضرت ابوقتاده رضي الله عنه دا تعلیق امام بخاری رحمه الله موصولاً (کتاب الذبائح) (۱) امام مسلم رحمه الله (کتاب الحج) (۲) او امام مالك رحمه الله (موطا) کښې (کتاب الحج) (۳) کښې ذکر کړی دی.(۴)

۸۸-بَاب: مَا قِيلَ فِي دِرْعِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْقَمِيصِ فِي الْحَرْبِ

دَترجمة الباب مقصد: دَ امام بخاری رحمه الله دا ترجمة الباب په دوو جزونو مشتمل دی. یوخو ((ماقیل في درع النبي صلی الله علیه وسلم)) دي او دونم ((والقمیص في الحرب)) دي.

حافظ صاحب علامه عینی اودهغوی اتباع کښې علامه قسطلانی او محشی بخاری حضرت سهارنپوری رحمه الله فرمائی چه دَ اول جز مقصد خو دا بیانول دی چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم کومه زغره وه هغه دَ څه څیز نه جوړه وه.(۵)

اودَ دونم جز مقصد په جنګ کښې قمیص او دَ دې دَ اغوستلو حکم بیانول دی. ښکاره خبره ده چه جائز دی.

خودَ دې بزرګانو عالمانو بیان کړشوی مقصدترجمه په قول دَ حضرت ګنګوهی رحمه الله او حضرت شیخ الحدیث رحمه الله دَ اشکال نه خالی نه دې. ځکه چه دَ دې خبرې ذکر چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم زغره دَ څه څیز وه، دَ دې په رومبی روایت کښې دَ سر نه هیڅ ذکر نشته نو په دې وجه دَ دوی دَ دې قول وجه معلومه نه ده،البته دا خبره کولې شی چه دَ حضرت عائشه رضي الله عنها دَ روایت نه معلومیږی چه زغره دَ اوسپنې وه نو دونم روایت به په دې باندې محمول کولې شی او دا به وئیلی شی چه دَ عائشه رضي الله عنها په روایت کښې دَ نبی صلی الله علیه وسلم زغره دَ اوسپنې نه جوړه شوې وه نودَ باب نور روایات په کوم کښې چه درع لفظ راغلې دې هلته به هم دَ اوسپنې زغره مراد وی.

حضرت ګنګوهی رحمه الله دَ ترجمة الباب مقصد دا بیان کړیدې چه امام بخاری رحمه الله مقصد دا ذکر کول دی چه نبی صلی الله علیه وسلم سره زغره وه. هغوی فرمائی :

---

۱) (صحیح البخاری کتاب الذبائح باب ماجاء فی الصید رقم (۵۴۹۱)-

۲) (صحیح مسلم کتاب الحج باب تحریم الصید...رقم (۲۸۵۳)-

۳) (موطاالإمام مالک کتاب الحج باب مایجوز للمحرم أکله من الصید رقم (۷۸)-

۴) (تغلیق التعلیق (ج۲ص۴۴۶) وعمدة القاری (ج۱۴ص۱۹۲)-

۵) (فتح الباری (ج۶ص۹۹) وعمدة القاری (ج۱۴ص۱۹۲) وإرشاد الساری (ج۵ص۱۰۱)وحاشیة السهار نفوری علی البخاری (ج۱ص۴۰۸)-

((الظاهر أن المراد بذلك إثبات أن النبى صلى الله عليه وسلم كان له درع، وبذلك تنطبق الروايات، وماقال المحشى: إن المقصود بيان أن درعه مم كانت؟ فلايدرى وجهه، إذا لاينا سبه الرواية الأولى، إلا أن يقال: إثبات أنها كانت من حديث يكفى ولولى روية، ثم تحمل بقية الروايات عليه، وإن لم تذكر فيها مم كانت؟)) (١)

حضرت شيخ الحديث رحمه الله هم دَ حضرت گنگوهى رحمه الله دا رائې راجح گرځولې ده او فرمائيلى دى چه دَ باب ټول روايات كتلو نه پس هم دغه خبره متعين معلوميږى چه امام بخارى رحمه الله دلته دا ثابت كول غواړى چه حضور ﷺ سره زغره وه او دَ دې استعمال دَ توكل خلاف نه دى. (٢)

او تاسو دَ ترجمة الباب په مقصد كښې دا هم وئيلې شئى چه امام بخارى رحمه الله دا خودل غواړى چه مسلمانانو له خپل ځان سره زغره ساتل پكار دى چه په ميدان جنګ په كار راشى اورسول الله ﷺ دَ پوره توكل دَ وصف نه باوجود زغره استعمال كړيده نو مونږ له هم دَ هغوى دَ سنتو اتباع كول پكار دى.

قوله: وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا خَالِدٌ فَقَدْ احْتَبَسَ أَدْرَاعَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ: [ر: ١٣٩٩] : او حضرت نبى اكرم ﷺ فرمائيلى دى چه پاتې شو خالد نو هغه خپلې زغرې دَ الله تعالى په لار كښې وقف كړى دى.

دَ پورتنى تعليق تخريج: امام بخارى رحمه الله چه دلته كوم تعليق ذكر كړيدې دا دَ حضرت ابوهريره رضی الله عنه دَ حديث شريف يوه ټكړه ده كومه چه امام بخارى رحمه الله موصولاً (كتاب الزكاة) كښې ذكركړيده.دَ دوى نه علاوه دَ اصحاب سته نه امام مسلم،ابوداؤد او نسائى رحمهم الله هم دَ حضرت ابوهريره رضی الله عنه دا تعليق په (كتاب الزكاة) كښې موصولاً نقل كړيدې.(٣)

دَمذكوره تعليق دلته دَ ذكركولو مقصد: مصنف رحمه الله دَ حضرت ابوهريره رضی الله عنه دا پورته ذكر شوې تعليق دلته ذكر كولو سره دې خبرې طرف ته اشاره كړيده چه څنګه پخپله نبى عليه السلام زغره اچولې ده دغه شان دَ زغرې ذكر ئې هم په خپله ژبه مباركه سره كړيدې او دَ دې نسبت ئې خپلو بعضو بهادرانو صحابه كراموطرف ته كړيدې مثلاً حضرت خالد بن وليد رضی الله عنه. دينه معلومه شوه چه دَ زغرې اچول مشروع دى او دا دَ توكل نه خلاف نه ده.(٤)

---

١) (لامع الدرارى (ج٧ص٢٤٢)-
٢) (تعليقات لامع الدرارى (ج٧ص٢٤٢)-
٣) (انظر الصحيح البخارى كتاب الزكاة باب قول الله تعالى ﴿وفى الرقاب والغارمين﴾ رقم (١٤٦٨) وصحيح مسلم كتاب الزكاة باب فى اتقديم الزكاة ومنعها رقم (٢٢٧٧) وسنن أبى داؤد أبواب الزكاة باب فى تعجيل الزكاة رقم (١٦٢٣) وسنن النسائى كتاب الزكاة باب إعطاء السيد المال بغير اختيار المصدق رقم (٢٤٦٦)-
٤) (فتح البارى (ج٦ص٩٩)-

[٢٧٥٨] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (١) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي قُبَّةٍ اللَّهُمَّ إِنِّي أَنْشُدُكَ عَهْدَكَ وَوَعْدَكَ اللَّهُمَّ إِنْ شِئْتَ لَمْ تُعْبَدْ بَعْدَ الْيَوْمِ فَأَخَذَ أَبُو بَكْرٍ بِيَدِهِ فَقَالَ حَسْبُكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَدْ أَلْحَحْتَ عَلَى رَبِّكَ وَهُوَ فِي الدِّرْعِ فَخَرَجَ وَهُوَ يَقُولُ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ وَقَالَ وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا خَالِدٌ يَوْمَ بَدْرٍ [٤٨٧٧،٤٨٧٥،٣٩٥٣،٢٥٩٦٣]

تراجم رجال

۱- محمد بن المثنی: دا ابوموسی محمدبن المثنی بن عبید عنزی رحمه الله دي.

۲- عبدالوهاب: دا ابومحمد عبدالوهاب بن عبدالمجید بن الصلت ثقفی رحمه الله دي. دَ دې دواړو حضراتو اجمالی تذکره ((کتاب الإیمان باب حلاوة الإیمان)) کښې راغلي ده. (۲)

۳- خالد: دا مشهور محدث ابوالمنازل خالد بن مهران حذاء بصری رحمه الله دي.

۴- عکرمه: دا مشهورامام حدیث وتفسیر ابوعبدالله عکرمه مولی ابن عباس رحمه الله دي. دَ دې دواړو حضراتو حالات ((کتاب العلم، باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: اللهم علمه الکتاب)) لاندې تیرشوی دی.(۳)

۵- ابن عباس: دا مشهور صحابی حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دي. دَ دوی حالات ((بدء الوحی)) څلورم حدیث په ذیل کښې او ((کتاب الإیمان باب کفران العشیر....)) لاندې تیرشوی دی.(۴)

دَ حدیث ترجمه: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم کله په یوه قبه کښې دننه وو اوفرمائیل ئې اې الله! تا چه کومه وعده او عهد کړیدې زه تانه دَ هغې دَ پوره کیدو درخواست کوم. اې الله! که ته غواړې چه دَ نن نه پس دې په زمکه ستا عبادت نه وې نو (بیا خو ټیك ده چه دا لړ شان مسلمانان هم ختم شی) نو حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دَ هغوی صلی الله علیه وسلم لاس اونیولو او وئې وئیل یا رسول الله! هم دومره دعا ستاسو دَپاره کافی ده. بې شکه هغوی صلی الله علیه وسلم دَ خپل پروردګار په وړاندې ډیره ژړا او زاری کړیده. هغه وخت حضور صلی الله علیه وسلم په

---

١) (قوله: عن ابن عباس رضی الله عنهما: الحدیث أخرجه البخاری أیضًا کتاب المغازی باب قول الله تعالی ﴿إذ تستغیثون ربکم فاستجاب لکم إنی ممدکم بألف من الملائکة....﴾ رقم (٣٩٥٣) وکتاب التفسیر باب قوله: ﴿سیهزم الجمع﴾ رقم (٤٨٧٥) وباب قوله ﴿بل الساعة موعدهم والساعة أدهی وأمر﴾ رقم (٤٨٧٧)-

٢) (کشف الباری (ج٢ص٢٥-٢٦)-

٣) (کشف الباری (ج٣ص٣٦١-٣٧٠)-

٤) (کشف الباری (ج١ص٤٣٥) و(ج٢ص٢٠٥)-

زغره کښې وو تاسو ﷺ دې وينا کولو سره د قبې نه راووتلو چه زر به دا ډله اوتختولې شي اوهغوى به شاکړى بلکه قيامت د هغوى وعده ده او قيامت ډير سخت او تريخ څيز دې.
د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په دې حديث کښې ذکر شوې واقعه د (غزوه بدر) متعلق ده او د دې تشريح هم (غزوه بدر) لاندې راغلى دى. (۱)

دَحديث نه مستنبط فائدې: خو يو څوفائدې دَحديث نه مستنبط کيږى دَهغې ذکرکولې شى:

① علامه مهلب رحمه الله فرمائى چه دَ حديث نه زغره ساتل او په دې کښې دَ جنګ کولو جواز معلوميږى. (۲)

② په حديث کښې دَ دې خبرې دلالت دې چه دَ بشرى نفوسو په يو وخت او يك دم ويره نه لرې کيږى ګورنى دلته دَ رسول الله ﷺ د پاره دَ الله تعالى دَ طرف نه دَ نصرت وعده ده او هم دَ دې وعدې پوره کولو حضور ﷺ درخواست هم کوى. نو چه کله حضور ﷺ دَ کافرانو شمير او لښکر ته اوکتل نو هغوى ته طبعى ويره اوشوه او دا دَ نبوت منافى نه ده. دغه شان واقعه په قرآن کريم کښې دَ حضرت موسى عليه السلام هم ذکر دې چه کله جادو ګرو خپلې رسئ او همساګانې واچولې نو هغوى ويره محسوس کړه، نو الله تعالى هغه ته اوخودل چه هغه ستا امداد کونکې دې او هم هغه اورى او وينى. دَ الله تعالى ارشاد دې: ﴿فأوجس في نفسه خيفة موسى﴾ (۳)

په اصل کښې دا دَ شيطان دَ طرف نه وسوسه وى چه هغه ئى په بنديګانو باندې اچوى، خاص توګه باندې دَ الله تعالى په خاص بنديګانو باندې، ليکن الله تعالى هغوى لره دنيا او آخرت کښې دَ کلمې په برکت ثابت قدم ساتى او دَ هغوى قدمونه دَ شيطانى وسوسې نه خوزوى. (۴)

قوله: وقال وهيب: حدثنا خالد يوم بدر:

دَ مذکوره تعليق تخريج: امام بخارى رحمه الله وهيب بن خالددا تعليق کتاب التفسيرکښې موصولاً نقل کړيدې. (۵)

دَ مذکوره تعليق مقصد: دَ وهيب بن خالد په دې تعليق کښې خالد نه مراد ابن مهران الحذاء دې. خالد الحذاء نه دَ باب دارِوايت دوو حضراتو عبدالوهاب بن عبدالمجيد الثقفى او وهيب روايت کوى.

اودَ امام بخارى رحمه الله دَ دې تعليق نه مقصد دا دې چه دَ وهيب په روايت کښې ((وهو في قبة)) نه پس (يوم بدر) اضافه هم ده. (۶)

---

۱) (کشف البارى کتاب المغازى ص ۶۴)-
۲) (شرح ابن بطال (ج۵ص۱۰۳)-
۳) (طه:۶۷)-
۴) (شرح ابن بطال (ج۵ص۱۰۴) وکشف البارى (ج۱ص۳۹۱)-
۵) (صحيح البخارى کتاب التفسير باب قوله ﴿سيهزم الجمع﴾ رقم (۴۸۷۵)-
۶) (فتح البارى ((ج۶ص۱۰۰)-

غالبا حديث باب کښې حضرت امام بخاری رحمه الله شيخ محمد بن المثنى نه ذهول شويدې. ځکه چه دمحمد بن المثنى شيخ عبدالوهاب نه دا روايت هم نورو دوو حضراتو محمد بن عبدالله بن حوشب (۱) او اسحاق بن راهويه (۲) روايت کړيدې.د دې دواړو حضراتو په روايت کښې هم د (يوم بدر) اضافه روايت ده. (۳)

دا حديث د صحابو د مراسيلو نه دې: د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دا حديث د مراسيل صحابه نه دې. ځکه چه په دې موقع (غزوه بدر) باندې هغه حاضر نه وو، هغه وخت به د هغه عمردغه څلور پنځه کاله وی، د دې د پاره پخپله د اوريدو خو هيڅ احتمال نشته. غالبًا هغوی به دا حديث د حضرت عمر رضي الله عنه يا حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه نه اوريدلې وی. په مسلم شريف کښې ابوزميل عن ابن عباس په طريق سره روايت دې. (۴)

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی: ((حدثني عمر: لما كان يوم بدر نظر رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى المشركين وهم ألف، وأصحابه ثلثمائة وتسعة عشرة رجلاً، فاستقبل القبلة، ثم مد يديه، فلم يزل يهتف بربه حتى سقط رداؤه من منكبيه....))(۵)

يعنې ماته حضرت عمر رضي الله عنه بيان اوکړو چه د بدر په ورځ کله رسول الله صلى الله عليه وسلم مشرکانو طرف ته اوکتل چه هغوی زر کسان دی او هغوی صلى الله عليه وسلم سره صرف ۳۱۹ دی نو هغوی صلى الله عليه وسلم قبلې طرف ته مخ ته کړو بيانې خپل لاسونه د الله تعالى په درباركښې خواره کړل او باربار ئې خپل رب ته زاری کوله او رابللو ئې تردې پورې چه د هغوی څادر مبارک د هغوی د اوږې مبارکې نه پريوتلو. او د ابن عباس رضي الله عنهما عادت همدغه دې چه هغه اکثر واسطې د مينځ نه حذف کوی اود هغوی اکثر روايات مرسل دی. (۶)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د دې حديث ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله کښې دې: (وهوفي الدرع)).(۷)

[۲۷۵۹] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ الْأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ(۸) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدِرْعُهُ مَرْهُونَةٌ عِنْدَ يَهُودِيٍّ بِثَلَاثِينَ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ

---

۱) (انظرصحيح البخاری کتاب المغازی باب قول الله تعالى ﴿إذ تستغيثون ربكم....﴾رقم (۳۹۵۳)-
۲) (انظر صحيح البخاری کتاب التفسير باب قوله ﴿بل الساعة موعدهم ...﴾رقم (۴۸۷۷)-
۳) (فتح الباری (ج۶ص۱۰۰)-
۴) (فتح الباری (ج۷ص۲۸۸) وعمدةالقاری (ج۱۴ص۱۹۳)-
۵) (الصحيح المسلم کتاب الجهاد باب الإمداد بالملائكة في غزوة بدر، وإباحة الغنائم رقم (۴۵۸۸)-
۶) (عمدةالقاری (ج۱۴ص۱۹۳)-
۷) (عمدةالقاری (ج۱۴ص۱۹۳)-
۸) (قوله: عن عائشة رضي الله عنها: الحديث مرتخريجه في کتاب البيوع باب شراء النبي صلى الله عليه وسلم بالنسيئة-

تراجم رجال

۱- محمد بن کثیر: دا ابوعبدالله محمدبن کثیر عبدی بصری رحمه الله دې. دَ دوی تذکره ((كتاب العلم باب الغضب والموعظة في التعليم إذا رأى....)) کښې تیره شویده.(۱)

۲- سفیان: ابن عینیه رحمه الله مراد دې.دَ دوی حالات ((بدء الوحی))په اول حدیث کښې او ((کتاب العلم باب قول المحدث: حدثنا....)) لاندې تیرشوی دی.(۲)

۳- الاعمش: دا ابومحمدسلیمان بن مهران اسدی کوفی رحمه الله دې. اعمش سره معروف دې. دَ دوی تذکره ((کتاب الإیمان باب ظلم دون ظلم)) په ذیل کښې راغلی دی.(۳)

۴- ابراهیم: دا ابوعمران ابراهیم بن یزیدنخعی رحمه الله دې اودَ دوی تذکره هم ((کتاب الإیمان)) په مذکوره باب کښې راغلې ده.(۴)

۵- الاسود: دا مشهور فقیه اسود بن یزید بن قیس نخعی رحمه الله دې.(۵)

۶- عائشه: دا ام المؤمنین حضرت عائشه بنت ابوبکرصدیق رضی الله عنهما ده.دَدوی تذکره ((بدء الوحی)) دَ دونم حدیث لاندې تیره شویده.(۶)

دَ حضرت عائشه رضی الله عنها دَ دې حدیث تشریح (کتاب البیوع) (۷) کښې او (کتاب المغازی) (۸) کښې راغلې ده.

وَقَالَ يَعْلَى حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ دِرْعٌ مِنْ حَدِيدٍ وَقَالَ مُعَلًّى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ وَقَالَ رَهَنَهُ دِرْعًا مِنْ حَدِيدٍ [ر: ۱۹۶۲]

یعلی نه مرادابن عبیدبن ابی عبیدابویوسف الطنافسی رحمه الله دې.اومعلی نه ابن اسدمراددې.(۹)

دپورته ذکرشوو دواړو تعلیقاتو تخریج: امام بخاری رحمه الله پورته دوه تعلیقات ذکر کړی دی. یو دَ یعلی او دونم دَ معلی. اولنې تعلیق امام بخاری رحمه الله موصولاً (کتاب العلم) (۱۰) کښې او

---

۱) (کشف الباری (ج۱ص۲۳۸) و (ج۳ص۵۳۶)-
۲) (کشف الباری (ج۳ص۱۰۲)-
۳) (کشف الباری (ج۲ص۲۵۱)-
٤) (کشف الباری (ج۲ص۲۵۳)-
۵) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب العلم باب من ترک بعض الإختیار مخافة أن یقصر...-
۶) (کشف الباری (ج۱ص۲۹۱)-
۷) (صحیح البخاری کتاب البیوع باب شراء النبی صلی الله علیه وسلم بالنسیئة-
۸) (کشف الباری کتاب المغازی (ص۶۹۰)-
۹) (عمدة القاری (ج۱٤ص۱۹٤)-
۱۰) (صحیح البخاری کتاب السلم باب الکفیل فی السلم رقم ۲۲۵۱)-

دونم ني ((كتاب الاستقراض)) (١) كښې ذكر فرمائيلې دې. (٢)

ذدواړو تعليقاتو ذكر كولومقصد: د دې دواړو تعليقاتو ذكر كولو مقصد واضح دې چه پورته كوم مسند روايت تيرشويدې په هغې كښې د ((درم)) ذكر وو او دې تعليقاتو ذكر كولو سره امام بخارى رحمه الله دا خودل غواړى چه هغه زغره چه يهودى سره نې گانړه ايخودې وه د اوسپنې وه.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت ((دروعه مرهونة..)) كښې دى،د كوم نه چه معلوميږى چه هغوى ﷺ سره زغره وه اوهغه د اوسپنې وه.(٣)

[٢٧٦٠] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا ابْنُ طَاوُسٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(٤) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلُ الْبَخِيلِ وَالْمُتَصَدِّقِ مَثَلُ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا جُبَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ قَدْ اضْطَرَّتْ أَيْدِيَهُمَا إِلَى تَرَاقِيهِمَا فَكُلَّمَا هَمَّ الْمُتَصَدِّقُ بِصَدَقَتِهِ اتَّسَعَتْ عَلَيْهِ حَتَّى تُعَفِّيَ أَثَرَهُ وَكُلَّمَا هَمَّ الْبَخِيلُ بِالصَّدَقَةِ انْقَبَضَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ إِلَى صَاحِبَتِهَا وَتَقَلَّصَتْ عَلَيْهِ وَانْضَمَّتْ يَدَاهُ إِلَى تَرَاقِيهِ فَسَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فَيَجْتَهِدُ أَنْ يُوَسِّعَهَا فَلَا تَتَّسِعُ [ر:١٣٧٥]

تراجم رجال

١-موسى بن اسماعيل: دا موسى بن اسماعيل تبوذكى بصرى رحمه الله دې. د ده اجمالى تذكره ((بدء الوحى)) په څلورم حديث لاندې راغلې ده.(٥)

٢-وهيب: داوهيب بن خالد بن عجلان باهلى رحمه الله دې. د دوى اجمالى حالات ((كتاب الإيمان باب تفاضل أهل الإيمان في الأعمال)) لاندې تيرشوى دى. (٦)

٣-ابن طاوس: دا عبدالله بن طاوس بن كيسان اليمانى رحمه الله دې. (٧)

٤-أبيه: د ابيه نه مراد طاوس بن كيسان يمانى جندى حميرى رحمه الله دې. (٨)

---

١) (صحيح البخارى كتاب الاستقراض... باب من اشترى بالدين وليس عنده ثمنه رقم (٢٣٨٦)-
٢) (تغليق التعليق (ج٣ص٤٤٧)-
٣) (عمدةالقارى (ج١٤ص١٩٤)-
٤) (قوله: عن أبى هريرة رضى الله عنه: الحديث مرتخريجه فى كتاب الزكاة باب مثل البخيل والمتصدق-
٥) (كشف البارى (ج١ص٤٣٣)-
٦) (كشف البارى (ج٢ص١٨)-
٧) (د دوى د حالاتو دپاره اوگورئ كتاب الحيض باب المرأة تحيض بعد الإفاضة-
٨) (ددوى دحالاتو د پاره اوگورئ كتاب الوضوء باب من لم يرالوضوء إلا من المخرجين من القبل والدبر

د- ابوهریرهؓ: دامشهور صحابی حضرت ابوهریره ﷺ دي. دَ ده حالات ((کتاب الإیمان باب أمور الإیمان)) لاندې تیرشوی دی. (۱)

او دَ حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت شوې حدیث مکمل تشریح (کتاب الطلاق) (۲) او (کتاب اللباس) کښې راغلی ده. (۳)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: حضرت ابوهریره ﷺ دَ دې حدیث ترجمة الباب سره مطابقت ((علیهما جبتان من حدید)) کښې دې.

او هغه داسې چه ((جبتان)) کښې دوه روایتونه دی. یو خودَ باء سره یعنی ((جبتان)) نو دا ((جبة)) تثنیه ده او دَ دې مناسبت دَ ترجمه جز ثانی یعنی القمیص فی الحرب سره دې.

او دا لفظ دَ نون سره ((جنتان)) هم مروی دې. چه دَ جنة تثنیه ده، دَ دې معنی ډهال ده. او ډهال څنګه چه انسان دَ دښمن دَ وار نه بچ کوی دغه شان زغره هم بچ کوی نو مناسبت دَ ترجمې اول جز سره په دې معنی حاصل دې. (۴)

۸۹- بَاب: الْجُبَّةِ فِي السَّفَرِ وَالْحَرْبِ

دَترجمة الباب مقصد: حضرت مصنف ﷺ دَ دې ترجمة الباب لاندې دا خودل غواړی چه دَ سفر او جنګ په موقع باندې جبه اچول جائز دی په دې کښې هیڅ بدیت نشته.

[۲۷۶۹] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ أَبِي الضُّحَى مُسْلِمٍ هُوَ ابْنُ صُبَيْحٍ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ حَدَّثَنِي الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ(ه) قَالَ انْطَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَاجَتِهِ ثُمَّ أَقْبَلَ فَلَقِيتُهُ بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ شَأْمِيَّةٌ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَغَسَلَ وَجْهَهُ فَذَهَبَ يُخْرِجُ يَدَيْهِ مِنْ كُمَّيْهِ فَكَانَا ضَيِّقَيْنِ فَأَخْرَجَهُمَا مِنْ تَحْتُ فَغَسَلَهُمَا وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ وَعَلَى خُفَّيْهِ [ر:۱۸۰]

تراجم رجال

۱- موسی بن اسماعیل: دا موسی بن اسماعیل تبوذکی بصری ﷺ دې. دَ دوی حالات اجمالاً ((بدء الوحی)) څلورم حدیث لاندې بیان شوی دی. (۶)

---

۱) (کشف الباری (ج۱ص۶۵۱)-
۲) (کشف الباری کتاب الطلاق (ص۵۱۹)-
۳) (کشف الباری کتاب اللباس (ص۱۵۸-۱۶۱)-
٤) (فتح الباری (ج۶ص۱۰)-
۵) (وله: المغیرة بن شعبة رضی الله عنه: الحدیث: مرتخرجه فی کتاب الوضوء باب الرجل یوضی صاحبه-
۶) (کشف الباری (ج۱ص۴۳۳)-

۲- عبدالواحد: داابوبشر عبدالواحد بن زياد بصری رحمه الله دی. دَ دوی تفصيلی تذکره ((کتاب الإيمان باب الجهاد من الإيمان)) لاندې تيره شويده.(۱)

۳- الاعمش: داابومحمدسليمان بن مهران رحمه الله دی. دَ دوی حالات ((کتاب الإيمان باب ظلم دون ظلم)) کښې راغلی دی.(۲)

۴- ابوالضحی مسلم بن صبيح: دا ابوالضحی مسلم بن صبيح العطار الکوفی رحمه الله دی.(۳)

۵- مسروق: دا امام ابوعائشه مسروق بن اجدع بن مالك همدانی رحمه الله دی. دَ دوی تذکره ((کتاب الإيمان باب علامة المنافق)) لاندې تيره شويده.(۴)

۶- المغيرة بن شعبه: دا مشهورصحابی حضرت مغيره بن شعبه بن ابی عامر رضي الله عنه دی.(۵)

دَ حديث باب تشريح روستو مختلفو مقاماتو کښې تيره شويده، اودَ دې څه تشريح (کتاب اللباس) کښې هم راغلې ده. (۶)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله کښې دی. ((وعليه جبة شامية)). ظاهره ده چه دا واقعه دَ سفر ده او دَ غزوې ده. او حضور صلی الله عليه وسلم جبه اغوستې ده. نو معلومه شوه چه په سفرکښې او په غزوه کښې جبه اغوستلو کښې څه بديت نشته. (۷)

۹۰- بَاب: الْحَرِيرِفِی الْحَرْبِ

دَ ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله دلته دا خودل غواړی چه ريښمينې جامې دَ جنګ په حالت کښې اچول صحيح دی.(۸)

[۲۷۶۲/۲۷۶۳] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْمِقْدَامِ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ أَنَّ أَنَسًا (۹) حَدَّثَهُمْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ وَالزُّبَيْرِ فِي قَمِيصٍ مِنْ حَرِيرٍ مِنْ حِكَّةٍ كَانَتْ بِهِمَا

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص۳۰۱)-
۲) (کشف الباری (ج۲ص۲۵۱)-
۳) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب الصلاة باب الصلاة فی الجبة الشامية-
٤) (کشف الباری (ج۲ص۲۸۱)-
۵) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب الرجل يوضئ صاحبه-
۶) (کشف الباری کتاب اللباس (ص۱۶۲-۱۶۳)-
۷) (عمدة القاری (ج ١٤ص ١٩٥)-
۸) (حواله بالا-
۹) (قوله: أنسا رضی الله عنه: الحديث: أخرجه البخاری أيضًا کتاب الجهاد.... [بقيه حاشيه په بله صفحه..

تراجم رجال

۱- احمد بن المقدام: دا احمد بن المقدام بن سليمان بن اشعث بصرى رحمه الله دے.(۱)

۲- خالد: دا خالد بن حارث بن سليم هجيمى رحمه الله دے. (۲)

۳- سعيد: دا ابوالنصر سعيد بن ابى عروبه يشكرى بصرى رحمه الله دے. (۳)

۴- قتاده: دا قتاده بن دعامه سدوسى بصرى دے.

۵- انس: دا مشهور صحابى حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دے. دَ دے دواړو حضراتو تذكره ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه...)) لاندے تيره شويده. (۴)

قوله: أن النبي صلى الله عليه وسلم رخص لعبد الرحمن والزبير في قميص من حرير من حكة كانت بهما: حضرت انس رضي الله عنه فرمائى چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم حضرت عبدالرحمن بن عوف او حضرت زبير بن العوام رضي الله عنهما ته دَ خارښ دَ وجه ريښمى قميص اغوستلو اجازت وركړے وو.

تنبيه: حضرت امام بخارى رحمه الله ترجمة الباب دَ دے مقصد دَپاره قائم كړے ووچه په جنګ كښے ريښمى لباس استعمالول جائز دى. اودَ دے دَپاره ئى دَ حضرت انس رضي الله عنه دا پورتنے حديث دَ دليل په توګه پيش كړے وو. دا مسئله مختلف فيها ده چه په بيمارئى سفر او جنګ وغيره كښے خالص ريښمى لباس استعمالول جائز دى كه نه؟

نوجمهورائمه سره دَ صاحبينو دَ دے دَ جواز قائل دى اوامام مالك او امام اعظم رحمه الله دَ عدم جواز. دَ دے مسئلے تفصيل په (كتاب اللباس) كښے راغلے دے.(۵)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره دَ حديث مطابقت دَ حديث په دے حصه كښے دے. ((في قميص من حرير من حكة)) دے نه معلومه شوه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دے دواړو حضراتو ته دَ ريښمى لباس اغوستلو اجازت كړے وو چه دَ جواز دليل دے. او تركومے چه دَ دے خبرے تعلق دے چه دلته خو دَ حرب او جنګ هډو ذكر نشته نودَ دے جواب دا دے چه دَ

.....بقيه حاشيه] باب الحرير فى الحرب رقم (۲۹۲۰-۲۹۲۲) وكتاب اللباس باب مايرخص للرجال من الحرير للحكة رقم (۵۸۳۹) ومسلم كتاب اللباس باب إباحة لبس الحرير للرجل إذا كانت به حكة أونحوها رقم (۵۴۲۹) وأبوداؤد أبواب اللباس باب فى لبس الحرير لعذر رقم (۱۷۲۲) والنسائى كتاب الزينة باب الرخصة فى لبس الحرير رقم(۵۳۱۲) وابن ماجه كتاب اللباس باب من رخص فى لبس الحرير رقم (۳۵۹۲)

۱) (دَ دوى دَ حالاتودَ پاره اوګورئ كتاب البيوع باب من لم ير الوساوس ونحوها من المشبهات-

۲) (دَ دوى دَ حالاتودَ پاره اوګورئ كتاب الصلاة باب فضل استقبال القبلة-

۳) (دَ دوى دَ حالاتودَ پاره اوګورئ كتاب الغسل باب إذا جامع ثم عاد.....-

۴) (كشف البارى (ج۲ص۳-۴)-

۵) (دَ مسئلے دَ تفصيل او فريقينو دلائلو دَ پاره اوګورئ كشف البارى كتاب اللباس (ص۱۹۱)-

باب په وړاندې روایت کښې د دې خبرې وضاحت راغې چه حضرت انس ﷺ پخپله فرمائی چه په یو جنګ کښې دا دواړه حضرات ما پخپله او لیدل چه هغه قمیصونه ئې د دوی په بدنونو باندې وو. ((فرأیته علیهما فی غزاة))-

[۲۷۶۳] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ (۱) ح حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ وَالزُّبَيْرَ شَكَوَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي الْقَمْلَ فَأَرْخَصَ لَهُمَا فِي الْحَرِيرِ فَرَأَيْتُهُ عَلَيْهِمَا فِي غَزَاةٍ

تراجم رجال

۱- ابوالولید: دا ابوالولید هشام بن عبدالملک طیالسی ﷺ دې. دَ دوی تذکره ((کتاب الإیمان باب علامة الإیمان حب الأنصار)) لاندې تیره شوې ده.(۲)

۲- همام: دا ابوعبدالله همام بن یحیی بن دینار بصری ﷺ دې.(۳)

۳- محمد بن سنان: دامحمد بن سنان ﷺ دې. دَ دوی تذکره ((کتاب العلم باب من سئل علما وهو مشتغل في حدیثه.....)) کښې راغلې ده.(۴)

دَ حضرت قتاده او انس ﷺ دَ پاره سابقه سند اوګورئې.

قوله: أن عبدالرحمن بن عوف والزبیر شکوا إلی النبی صلی الله علیه وسلم- یعنی القمل: حضرت انس ﷺ فرمائی چه حضرت عبدالرحمن بن عوف او زبیر بن عوام ﷺ نبی کریم ﷺ ته دَ سپږو شکایت اوکړو.

کلمه "شکوا" کښې دَ نسخو اختلاف: پورته په حدیث کښې ((شکوا)) لفظ روایت دې خو دَ ابوذر او اصیلی په نسخو کښې ((شکیا)) صیغه تثنیه سره دې. علامه ابن التین ﷺ اولنې صحیح ګرځولې دې ځکه چه دَهغه فعل لام کلمه واو دې. لکه دَ الله تعالی دَ دې قول ﴿دَعَوَا اللهَ رَبَّهُمَا﴾ (۵) کښې دی. (۶)

خو دلته یوه نسخه صحیح او نورې غلط ګرځولو هیڅ وجه نشته ځکه چه دا کلمه واو او یاء دواړو سره استعمالیږی، نو وئیلی شی ((شکیتُ وشکوتُ)) (۷)

---

۱) (قوله: أنس رضی الله عنه: الحدیث مر تخریجه فی الحدیث السابق-
۲) (کشف الباری (ج۲ص۳۸)-
۳) (دَدوی دَ حالاتو دَپاره اوګورئ کتاب مواقیت الصلاة باب من نسی صلاة فلیصل إذا ذکر....-
۴) (کشف الباری (ج۳ص۵۳)-
۵) (الاعراف:۱۸۹)-
۶) (عمدة القاری (ج۱٤ص۱۹۶) وشرح القسطلانی (ج۵ص۱۰۳)-
۷) (حواله بالا-

((يعني القمل)) دا دَ يو راوى تفسيرى جمله ده او خودل دا دى چه دې دواړو حضراتو صحابه كرامو چه دَ رسول الله ﷺ نه ګیله کړې وه دَ هغې سبب سپګې وې.(١)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت : دَحديث ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله كښې دې. ((فرأيته عليهما فى غزاة)) چه هغه قميص ما په يوه غزوه كښې دَ هغه په بدن اوليدو. (٢)

[٢٧٦٣] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ أَخْبَرَنِي قَتَادَةُ أَنَّ أَنَسًا (٣) حَدَّثَهُمْ قَالَ رَخَّصَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ وَالزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ فِي حَرِيرٍ

تراجم رجال

١- مسدد: دامسدد بن مسرهد بن مسربل رحمه الله دې.

٢- يحيى: داابوسعيد يحيى بن سعيد القطان رحمه الله دې.دَدې دواړوحضراتو اجمالى تذكره ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه....)) لاندې راغلې ده.(٤)

٣- شعبه: داامير المؤمنين فى الحديث شعبه بن الحجاج عتكى رحمه الله دې. دَده تذكره((كتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده)) لاندې راغلې ده. (٥)

حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ سَمِعْتُ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ (٦) رَخَّصَ أَوْ رُخِّصَ لَهُمَا لِحِكَّةٍ بِهِمَا [٥٥٠١]

تراجم رجال

١- محمد بن بشار: دامشهور امام حديث محمدبن بشار بن عثمان عبدى رحمه الله دې. دَ دوى تذكره ((كتاب العلم باب ماكان النبى صلى الله عليه وسلم يتخولهم بالموعظة....)) لاندې راغلې ده.(٧)

٢- غندر: داابوعبدالله محمد بن جعفر هذلى غندر رحمه الله دې. دَ دوى حالات ((كتاب الإيمان باب ظلم دون ظلم)) لاندې راغلى دى. (٨)

---

١) (عمدة القارى (ج ١٤ص١٩٦)-
٢) (حواله بالا-
٣) (قوله: أنسا رضى الله عنه: الحديث مر تخريجه آنفا أول الباب-
٤) (كشف البارى (ج٢ص٣٠٢)-
٥) (كشف البارى (ج١ص٤٧٨)-
٦) (قوله: عن أنس رضى الله عنه: الحديث مر تخريجه آنفا-
٧) (كشف البارى (ج٣ص٢٥٨)-
٨) (كشف البارى (ج٢ ص٢٥٠)-

قوله: رخص أورُخص لهما لحكة بهما: كله ((أو)) دَ شك دَپاره ده. اودلته راوی ته شك كيږی چه ((رخص)) صيغه معلوم سره ده يا مجهول سره ده. (١)

البته همدغه روايت امام احمد رحمه الله هم دَ غندر نه نقل كړيدې. دَ هغې الفاظ دا دی: ((رخص رسول الله صلى الله عليه وسلم))(٢) دې نه معلومه شوه چه شك محمد بن بشار ته شويدې. او صحيح لفظ ((رخص)) صيغه معلوم سره دې.

هم دغه روايت امام بخاری رحمه الله (كتاب اللباس) كښې هم((عن وكيع عن شعبة)) په طريق سره نقل كړيدې، په دې كښې هم صيغه دَ معلوم ده.(٣)

دَ ريښمين لباس دَ اجازت سبب څه وو؟: امام بخاری رحمه الله دَ حضرت انس رضي الله عنه دا حديث باب په پنځو مختلفو طرقو سره نقل كړيدې. دَ دې ټولو مجموعی مضمون او حاصل همدغه دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت عبدالرحمن بن عوف او زبير بن عوام رضي الله عنهما ته دَ ريښمين لباس اغوستلو اجازت كړې وو.

اوس سوال دا دې چه دَ دغه اجازت سبب څه وو.آيا خارښ دَ دې اجازت سبب جوړشوې وو لكه چه دَ باب اول او آخری طريق كښې راغلی دی (حكة خارښ ته وائی) يا دَ دې سبب سپګې وې لكه چه دَ باب په دريم طريق كښې دی. (٤)

دَ دې سوال مختلف محدثينو حضراتو جواب وركړيدې چه دَهغې تفصيل دا دې:

① ابن التين رحمه الله حكه يعنی دَ خارښ والا روايت راجح ګرځولې دې، فرمانی چه كيديشی چه يوراوی دَ دې تفسير كړې وی او هسې دَ هغه نه غلطی شوې وی. (٥)

② علامه داؤدی رحمه الله دَ دواړو قسم رواياتو په مينځ كښې داسې تطبيق وركړيدې چه دَ دې خبرې احتمال دې چه يو صاحب سره يو علت وی او بل سره بل. (٦)

③ علامه كرمانی رحمه الله فرمانی ((لامنافاة بينهما ولامنع لجمعهما)) (٧) يعنی دواړو علتونو كښې څه منافات نشته او نه دا دواړه په يو سړی كښې جمع كيدو كښې څه ممانعت شته.

④ كله كله دَ خارښ سبب سپګې هم وی.لكه چه تجربه په دې شاهد ده. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په دواړو قسم رواياتو كښې تطبيق داسې هم ممكن دې چه دَ خارښ سبب سپګې

---

١) (عمدة القاری (ج ١٤ص١٩٧) وفتح الباری (ج٦ص١٠١)-

٢) (مسندالإمام أحمد(ج٣ص٢٥٥) رقم (١٣٧١٧)-

٣) (صحيح البخاری كتاب اللباس باب مايرخص للرجال من الحرير للحكة رقم (٥٨٣٩)-

٤) (فتح الباری (٦ص١٠١) وعمدةالقاری (١٤ص١٩٦)-

٥) (حواله بالا-

(٦(حواله بالا وشرح القسطلانی (ج٥ص١٠٣) ومثله عن ابن العربی حيث قال: د وردأنه أرخص لكل منهما فالإفراد يتضی أن لكل حكمة-

٧) (شرح الكرمانی (ج٥ص١٧٦) وعمدةالقاری (ج ١٤ص١٩٦)-

وې نو کله د سبب طرف ته د علت نسبت اوکړیشو او کله د مسبب طرف ته. فرمائی:

((قلت: ویمکن بأن الحکة من القمل فنسبت العلة تارة إلی السبب، وتارة إلی سبب السبب)) (۱)

علامه عینی رحمه الله د حافظ صاحب کرمانی قول راجح ګرځولې دې. (۲)

۹۱- باب: ما یذکر في السکین

د ترجمة الباب مقصد. امام بخاری رحمه الله دلته دا فرمائی چه د جهاد او قتال په موقع باندې چاقو خان سره اوساتلې شی نو جائز دې. (۳)

ښکاره ده چه چاقو د فائدې څیز دې او په وخت په کار راځی. په میدان جهاد کښې ډیرې موقعې داسې هم پیښیږی چه کله د نورو وسلو استعمال ممکن پاتې نشی نو هغه وخت چاقو کار ورکوی.

[۲۷۶۵] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيِّ عَنْ أَبِيهِ(۴) قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ مِنْ كَتِفٍ يَحْتَزُّ مِنْهَا ثُمَّ دُعِيَ إِلَى الصَّلَاةِ فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ

حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَزَادَ فَأَلْقَى السِّكِّينَ [ر: ۲۰۵]

تراجم رجال

۱- <u>عبدالعزیز بن عبدالله</u>: داابوالقاسم عبدالعزیز بن عبدالله بن یحیی قرشی اویسی مدنی رحمه الله دې. (۵)

۲- <u>ابراهیم بن سعد</u>: داابواسحاق ابراهیم بن سعدبن عبدالرحمن بن عوف زهری رحمه الله دې. د دوی تذکره ((کتاب الإیمان باب تفاضل أهل الإیمان فی الأعمال)) لاندې تیره شویده. (۶)

۳- <u>ابن شهاب</u>: دامحمد بن مسلم بن عبیدالله بن شهاب زهری رحمه الله دې. د ده اجمالی حالات ((بدء الوحی)) د دریم حدیث لاندې تیرشوی دی. (۷)

۴- <u>جعفربن عمروبن امیه الضمری</u>: داجعفر بن عمروبن امیه بن خویلد المدنی رحمه الله دې. (۸)

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص۱۰۱) وعمدة القاری (ج۱۴ص۱۹۶) وإرشاد الساری (ج۵ص۱۰۳)-
۲) (عمدة القاری (ج۱۴ص۱۹۶)-
۳) (عمدة القاری(ج۱۴ص۱۹۷) وشرح القسطلانی (ج۵ص۱۰۴)-
۴) (قوله: عن أبیه: الحدیث مر تخریجه فی کتاب الوضوء باب من لم یتوضأ من لحم الشاة والسویق-
۵) (د دوی د حالاتودپاره اوګورئ کتاب العلم باب الحرص علی الحدیث-
۶) (کشف الباری (ج۲ص۱۲۰)-
۷) (کشف الباری (ج۱ص۳۲۶)-
۸) (ددوی حالاتود پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب من لم یتوضأ من لحم الشاة والسویق-

۵-ابیه: ((أب)) نه مراد حضرت عمرو بن امیه بن خویلد الضمری المدنی ﷺ دی. (۱)
د دې سند د ټولو رجالو تعلق مدینې منورې سره دې. علامه عینی ﷺ فرمائی ((هذاالإسنادکله مدنیون)) (۲)

قوله: قال: رأیت النبی صلی الله علیه وسلم یأکل من کتف یحتز منها، ثم دعی إلی الصلاة فصلی ولم یتوضأ: حضرت عمرو بن امیه ﷺ فرمائی چه ما نبی کریم ﷺ ته اوکتل غوښه ئې خوړله او پریکوله ئې. بیا هغوی د مانځه د پاره راوغوښتې شو نو هغوی ﷺ مونځ اوکړو او (دئوی سر نه ئې) اودس اونه کړو.

تنبیه: د حدیث باب سره دوه مشهورې مسئلې متعلق دی یوه ((الوضوء مما مست النار)) او د دې د تفصیل مقام (کتاب الوضوء) دې. دوئمه مسئله په چړې او کانټې سره د خوراك حکم. د دې تفصیل (کتاب الأطعمة) کښې دې.(۳)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث ترجمة الباب سره مطابقت د حدیث په معنی کښې دې.ځکه چه د حضور ﷺ غوښه پریکول اوخوړل ظاهره ده چه هم په چاړه سره وه او په دې باندې راتلونکې طریق دلالت کوی کوم کښې چه ((فألقی السکین)) راغلې دې.
او امام بخاری ﷺ دا باب د جهاد په ابواب کښې د دې دپاره ذکر کړیدې چه چاقو هم د وسلې یو قسم دې.
دغه شان علامه عینی ﷺ فرمائی :
((مطابقته للترجمة تؤخذ من معنی الحدیث لأن احتزازه صلی الله علیه وسلم من کتف الشاة کان بالسکین، ویشهد له الطریق الآخر الذی یأتی، وفیه: فألقی السکین، ووجه إدخال هذا الباب بین أبواب الجهاد من حیث إن السکین أیضا من أنواع السلاح)) (۴)
((**حدثنا ابوالیمان اخبرنا شعیب عن الزهري وزاد: فالقی السکین**)): دا د حضرت عمرو بن امیه ضمری ﷺ د حدیث یو بل طریق دې اودا طریق امام بخاری ﷺ ځکه ذکر کړیدې چه ترجمه او حدیث کښې مطابقت پیداشی چه په دې کښې صراحت سره د سکین لفظ موجود دې او په وړاندینی روایت کښې د دې صراحت نه وو. (۵)
او د زاد چه کوم فعل دې په هغې کښې دا دریواړه احتمالات دی چه د هغې فاعل زهری وی، جعفر بن عمرو وی یا د امام بخاری ﷺ شیخ ابوالیمان. (۶)

---

۱) (حواله بالا-
۲) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۹۷)-
۳) (کشف الباری کتاب الأطعمة (ص۱۱۱)-
٤) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۹۷)-
۵) (حواله بالا وإرشاد الساری (ج۵ص ۱۰٤)-
۶) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۹۷)-

۹۲- بَاب: مَا قِيلَ فِي قِتَالِ الرُّومِ

دَترجمة الباب مقصد حضرت امام بخاری رحمه الله دَ ې ترجمة الباب لاندې دَ اهل روم خلاف دَ جهاد فضيلت بيانول غواړی.(۱)

او حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه دَ امام بخاری رحمه الله دَ دې باب دَ ترجمه نه مقصد دَ هغه قومونوبيان کول دی چه کومو سره نبی اکرم صلی الله علیه وسلم (يا دَ هغه امت) جنګ کړيدې. (۲)

دَ روميانودَ نسل تحقيق: علامه جوهری رحمه الله فرمائی چه اهل روم، روم بن عيصو بن اسحاق بن ابراهيم دَ اولاد نه دې. (۳) او علامه رقاشی رحمه الله فرمائی چه دا ابن ليطابن يونان بن يافث بن نوح عليه السلام دَ اولاد نه دی. (۴)

دا هم وئيلې شوی دی چه اهل روم دَ خپل جداعلی رومی طرف ته منسوب کيږی.دوی ته روماس هم وئيلې شو او همدغه سړې دَ مشهور ښار روم بانی دې. (۵)

خو دَ حضرت شاه صاحب وينا دا ده چه روم په اصل کښې دَ مشهور ملك اټلی لقب وو. کله چه په دې کښې بلوې راپيدا شوې او هغوی دَ اختلافاتو ښکار شو نو څه خلقو اټلی پريخودو او قسطنطنيه کښې آباد شو نو روميان هم نصاری دی.(فيض الباری (ج۳ص۴۳۷)-

[۲۷٦٦] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ يَزِيدَ الدِّمَشْقِيُّ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمْزَةَ قَالَ حَدَّثَنِي ثَوْرُ بْنُ يَزِيدَ عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ أَنَّ عُمَيْرَ بْنَ الْأَسْوَدِ الْعَنْسِيَّ حَدَّثَهُ أَنَّهُ أَتَى عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ وَهُوَ نَازِلٌ فِي سَاحَةِ حِمْصَ وَهُوَ فِي بِنَاءٍ لَهُ وَمَعَهُ أُمُّ حَرَامٍ قَالَ عُمَيْرٌ فَحَدَّثَتْنَا أُمُّ حَرَامٍ(٦) أَنَّهَا سَمِعَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَوَّلُ جَيْشٍ مِنْ أُمَّتِي يَغْزُونَ الْبَحْرَ قَدْ أَوْجَبُوا قَالَتْ أُمُّ حَرَامٍ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَا فِيهِمْ قَالَ أَنْتِ فِيهِمْ ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلُ جَيْشٍ مِنْ أُمَّتِي يَغْزُونَ مَدِينَةَ قَيْصَرَ مَغْفُورٌ لَهُمْ فَقُلْتُ أَنَا فِيهِمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ لَا [ر: ۲٦۳٦]

تراجم رجال

۱- **اسحاق بن يزيد الدمشقي:** دا ابوالنصر اسحاق بن ابراهيم بن يزيد فراديسی رحمه الله دې. اکثر دَ نيکه طرف ته منسوب شوې او په اسحاق بن يزيد سره بللې شی. (۷)

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۹۷) وفتح الباری (ج٦ص۱۰۲)-
۲) (فيض الباری (ج۳ص۱۳۷)-
۳) (حواله بالا وحاشية الجمل علی الجلالين(ج٦ص٨٦)-
٤) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۹۷) وفتح الباری (ج٦ص۱۰۲)-
٥) (حواله بالا-
٦) (قوله: ام حرام: الحديث مر تخريجه فی أوائل الجهاد باب دلدعاء بالجهاد والشهادة للرجال والنساء-
۷) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوګورئ کتاب الزکاة باب ماأدی زکاته فليس بکنز-

٢- يحيى بن حمزة: دا ابوعبدالرحمن يحيى بن حمزه بن واقد حضرمى رحمه الله دى (١)

٣- ثور بن يزيد: دا ابوخالد ثور بن يزيد كلاعى حمصى رحمه الله دى (٢)

٣- خالد بن معدان: دا ابوعبدالله خالد بن معدان حمصى كلاعى رحمه الله دى (٣)

د- عمير بن الاسود العنسى: داد شام مشهور عابد او زاهد مخضرم تابعى حضرت عمير بن الاسود، شامى، دمشقى، حمصى رحمه الله دى د دوى كنيت ابوعبدالرحمن او ابوعياض دى. او همدى عمرو بن الاسود رحمه الله هم دى. (٤)

دوى د حضرت عمر، ابن مسعود، معاذ بن جبل، عبادة بن صامت، عياض بن ساريه، معاويه، عبدالله بن عمرو بن عاص، جناده بن اميه، ابوهريره، ام المومنين عائشه او د حرام بنت ملحان رضى الله عنهم نه د حديث روايت كوى.

او د دوى نه د دوى خوئ حكيم بن عمير، مجاهد، خالد بن معدان، شريح بن عبيد كثير بن ابى كثير، نصر بن علقمه، ابراهيم بن مسلم، هجرى او زياد بن فياض رحمهم الله وغيره روايت كوى. (٥)

ابن سعد رحمه الله فرمائى ((كان قليل الحديث، ثقة)) (٦)

عجلى رحمه الله فرمائى ((شامى تابعى ثقة)) (٧)

ابن حبان په (كتاب الثقات) كښې د هغوى ذكر كړيدې او فرمائيلى دى: ((من عباد أهل الشام وزهادهم)) (٨)

ابن عبدالبر رحمه الله فرمائى ((أجمعوا على أنه كان من العلماء الثقات)) (٩)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى ((ثقة عابد)) (١٠)

د مسند احمد رحمه الله په روايت كښې دى چه حضرت عمر رضى الله عنه د هغه باره كښې فرمائيلى دى ((من سره أن ينظر إلى هدى رسول الله صلى الله عليه وسلم فلينظر إلى هدى عمرو بن الأسود)) (١١)

---

١) (د دوى د حالاتو د پاره اوګورئ كتاب الجنائز باب ماينهى من الحلق عند المصيبة-
٢) (د دوى د حالاتو د پاره اوګورئ كتاب البيوع باب كسب الرجل وعمله بيده-
٣) (حواله بالا-
٤) (تهذيب الكمال (ج٢١ص٥٤٣) وسير أعلام النبلاء (ج٤ص٧٩)-
٥) (شيوخ او تلامذه د پاره اوګورئ تهذيب الكمال (ج٢١ص٥٤٤)-
٦) (طبقات ابن سعد (ج٧ص٥٤٥)-
٧) (تعليقات تهذيب الكمال (ج٢١ص٥٤٥)-
٨) (الثقات لابن حبان (ج٥ص١٧١)-
٩) (تهذيب الكمال (ج٨ص٥)-
١٠) (التقريب (٤١٨)رقم (٤٩٨٩)-
١١) (مسند الإمام أحمد (ج١ص١٨) حيلة الأولياء (ج٥ص١٥٦) والكاشف (ج٢ص٧٢)-

یعنی چه څوك په دې خبره کښې خوشحالي محسوس کوی چه د رسول الله ﷺ اخلاق ته اوګوری نو هغوی دې د عمرو بن الاسود رحمه الله اخلاق او سیرت ته اوګوری. یعنی د هغوی اخلاق مبارك او سیرت بعینه د رسول الله ﷺ د اخلاق او سیرت مطابق وو. هغه د رسول الله ﷺ د اخلاقو نمونه وه.

عبدالرحمن بن جبیر فرمائی چه عمرو بن الاسود د حج نه پس، کله مدینې منورې ته اورسیدو نو مونځ کولو کښې په هغه باندې د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نظر پریوتلو. تپوس ئې اوکړو دا څوك دې؟ اوخودلې شو چه د شام اوسیدونکې دې، عمرو بن الاسود نوم ئې دې نو حضرت ابن عمر رضی الله عنهما اوفرمائیل:

((ما رأیت أحدًا أشبه صلاةً، ولا هدیًا، ولا خشوعًا، ولا لبسةً برسول الله صلی الله علیه وسلم من هذا الرجل)) (۱)

یعنی مونځ، اخلاق سیرت، خشوع، او لباس کښې د دې سړی نه ډیر د رسول الله ﷺ مشابه ما بل څوك نه دی لیدلی.

د امام ترمذی رحمه الله نه علاوه باقی اصحاب اصول سته د دوی نه روایات اخستې دی.(۲) او په بخاری شریف کښې د دوی نه صرف یو حدیث یعنی حدیث باب مروی دې. (۳)

دحضرت معاویه رضی الله عنه دحکومت په زمانه کښې دهغوی انتقال اوشو(۴) رحمه الله تعالی رحمة واسعة.

تنبیه: ابوموسی المدینی رحمه الله د ابن ابی عاصم په حواله سره نقل کړی دی چه حضرت عمیر بن الاسود صحابی وو لیکن دا صحابی نه وو، بلکه د صحابه کرامو نه روایت کوی.

ابوموسی رحمه الله فرمائی: ((ولیس بصحابی، إنما یروی عن الصحابة)) (۵)

قوله: أنه أتی عبادة بن الصامت، وهو نازل في ساحة حمص، وهو في بناء، ومعه أم حرام: عمیر بن الاسود رحمه الله فرمائی چه هغه حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه له لاړو کوم وخت چه هغه د حمص په غاړه په خپل یو محل کښې وو او هغه سره د هغه بی بی حضرت ام حرام رضی الله عنها هم وه.

د حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه حالات (کتاب الإیمان) کښې (۶) او د حضرت ام حرام رضی الله عنها تذکره (کتاب الجهاد) په شروع کښې راغلې دی.(۷)

قوله: ثم قال النبي صلی الله علیه وسلم: أول جیش من أمتي یغزون

---

۱) (سیر أعلام النبلاء (۴ص۷۹)-
۲) (الکاشف (ج۲ص۷۲) وتهذیب الکمال (ج۲۱ص۵۴۵)-
۳) (عمدة القاری (۱۴ص۱۹۸) وفتح الباری (ج۶ص۱۰۲)-
۴) (تهذیب الکمال (ج۲۱ص۵۴۵) وسیر أعلام النبلاء (ج۴ص۸۱)-
۵) (تهذیب التهذیب (ج۸ص۵)-
۶) (کشف الباری (ج۲ص۴۸)-
۷) (کتاب الجهاد باب الدعاء بالجهاد والشهادة للرجال والنساء-

مدینة قیصر مغفور لهم، فقلت: أنا فیهم یارسول الله؟ قال: لا: بیا نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو، زما په امت کښې د ټولو نه اول کوم خلق چه د قیصر په حکومت کښې جهاد کوی د هغوی ښښنه شویده. ما عرض اوکړو یارسول الله! آیا زه په هغوی شامل یم؟ هغوی اوفرمائیل نه. په حدیث باب کښې مدینه قیصر نه مراد قسطنطنیه ده، چه د قیصر دارالخلافه او پایهٔ تخت وو. (۱)

او په حدیث کښې امت محمدیه د هغه لښکر د پاره د ښښنې وعده او زیرې ورکړیشویدې. څوك چه په هغه باندې په رومبی ځل حمله اوکړی او هلته جنګ اوکړی.

دینه کومه غزوه مراد ده؟: د جمهورو شارحینو په دې اتفاق دې چه دلته د قسطنطنیه اولنی غزا مراد ده او د اکثرومورخینو اتفاق دې چه دا اوله غزا چه د قیصر خلاف شوې وه د دې مشری یزید بن معاویه کړې وه او دا د ۵۲ هجری واقعه ده. (۲)

او په دې غزوه کښې جلیل القدر صحابه کرام مثلاً حضرت ابوایوب انصاری، ابن عباس، ابن عمر، ابن الزبیر اوحسین بن علی ﷺ هم شریك وو . (۳)

د حدیث باب نه د یزیدپه فضیلت باندې استدلال: د دې نه علامه مهلب ﷫ د یزید بن معاویه په فضیلت او نجات باندې استدلال کړیدې. ځکه چه هغه د دغه لښکرامیر ووکوم چه په رومبی ځل د قیصر په حکومت د قبضې د پاره جنګ کړې وو. (۴)

خو د مؤرخینو دا قول ډیرو علماؤ ردکړې دې، چه د هغې مختلف وجوهات لاندې ذکر دی.

① د قیصر خلاف جنګ کونکی لښکر په تعیین کښې مختلف روایات دی. ځکه چه په قسطنطنیه باندې د قبضې جنګ د حضرت معاویه ﷺ په دور خلافت کښې څوځل شویدې. او په دې کښې هم څه شك نشته چه په بعض جنګونوکښې یزید بن معاویه امیروو خو د دې نه دا نه لازمیږی چه هغه دې د اولنی لښکر هم امیر وی. علامه عینی لیکلی دی چه حضرت معاویه ﷺ یو لښکر د سفیان بن عوف په مشرئی کښې د قیصر حکومت طرف ته لیګلې وو چه د رومیانو په ښارونوکښې ورننوتلې وو او په دې لښکر کښې حضرت ابن عباس، ابن عمر، ابن الزبیر او ابوایوب انصاری ﷺ غوندې صحابه کرام هم وو. (۵)

نور فرمائی چه ډیره ښکاره خبره دا دې چه دا ټول صحابه کرام د سفیان سره وو نه چه یزید بن معاویه سره، په دې وجه چه یزید بن معاویه د دې قابل نه وو چه د دغه شان صحابه کرام ﷺ دې د یزید د حکم لاندې شی. (۶)

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص۱۰۶)-

۲) (قال العینی وعزاه إلی صاحب المرأة. انظر عمدةالقاری ((ج۱۴ص۱۹۸) وقال الأثیر: فی سنة تسع وأربعین(۳۹) وقیل سنة خمسین. انظر الکامل (ج۳ص۲۲۷)-

۳) (الکامل (ج۳ص۲۲۷) وتکملة فتح الملهم (ج۳ص۴۵۶)-

۴) (شرح ابن بطال (ج۵ص۱۰۷)-

۵) (عمدةالقاری (ج۱۴ص۱۹۸)-

۶) (حواله بالا-

④ دَ بعض روایاتو نه معلومیږی چه حضرت معاویه رضی الله عنه سفیان بن عوف لیګلې وو بیا ئې وریسې یزید هم اولیګلو لکه چه ابن الاثیر په خپل مشهورتاریخ ((الکامل)) کښې ذکرکړی دی.(۱) که چرې دا روایت صحیح او درست دې نودا په دې خبره دلالت کوی چه رومبې سرې کوم چه قسطنطنیه طرف ته روان شو هغه سفیان بن عوف دې، بیا روستو یزید بن معاویه دَ هغه شاته روان شو. نو اوس به دا ونیلې کیږی چه دَ یزید اولیت او تقدم ثابت نشو بلکه سفیان بن عوف اودَ هغوی ملګرو ته اولیت او مرتبه حاصله شوه.(۲)

⑤ علامه ابن التین او ابن المنیر رحمهما الله فرمائی چه دَ یزید بن معاویه په دې عموم کښې داخلیدلو سره دا نه لازمیږی چه هغه دَ څه خاص دلیل په وجه دَ دې عموم نه رابهر هم شی. ځکه چه په دې باب کښې دَ اهل علم نه دَ چا هم اختلاف نشته چه دَ نبی اکرم ﷺ دا قول مبارك ((مغفور لهم)) په یو شرط سره تړلې شویدې چه هغه خلقو دَ مغفرت اهل اوقابل هم وی. نو که یو سړې په دې غزوه کښې دَ شرکت نه پس مرتد شی نو دَ ټولو په نزد په دې خبره اتفاق دې چه هغه به په دې عموم کښې نه داخلیږی. نو معلومه شوه چه دَ مغفور نه مراد دا

---

۱) (قال ابن الأثیر الجزری رحمه الله فی هذه السنة(٤٩) سیّر معاویة جیشا کثیفًا إلی بلاد الروم للغزاة، وجعل علیهم سفیان بن عوف، وأمرابنه یزید بالغزاة معهم، فتثاقل واعتل، فأمسک عنه أبوه، فأصاب الناس فی غزاتهم جوّع ومرض شدید، فأنشا یزیدیقول:

ما إن أبالی بما لاقت جموعُهم ... بالغذ قدونة من حمی ومن موم

إذا اتکأت علی الأنماط مرتفقا ... بدّیر مرّانٍ عندی أم کلثوم

وأم کلثوم امرأته..... فبلغ معاویة شعره، فأقسم علیه لیلحنّ بسفیان فی أرض الروم لیصیبه ما أصاب الناس، فسار ومعه جمع کثیر، أضافهم إلیه أبوه، وکان فی هذا الجیش ابن عباس، وابن عمر، وابن الزبیر، وأبوایوب الأنصاری، وغیرهم......فأوغلوافی بلادالروم حتی بلغوا القسطنطنیة فاقتتل المسلمون والروم..... إلخ. الکامل (ج۳ص۲۲۷) وانظرأیضًا معجم البلدان للحموی(ج۲ص٥٣٤) کلمة دیر مران و(ج٤ص ۱۸۸) کلمة غذقدونة. علامه ابن الاثیر جزری رحمه الله فرمائی چه هم په دې کال یعنی ٤۹ هجری کښې حضرت معاویه رضی الله عنه دَ غزوې دَ پاره یو لویَ لښکر دَ بِلاد روم طرف ته روان کړو او سفیان بن عوف ئې دَ دې لښکر امیر مقرر کړو او خپل ځویَ یزید ته د دې خلقو سره په غزوه کښې دَ شریکیدو حکم اوکړو. لیکن یزید سستی اختیار کړه او بهانې مانې ئې لټولې. د یزید پلار معاویه رضی الله عنه هغه په خپل حال پریخودو. په دې جنګ خلقو ته ډیره ولږه او مرض اولګیدو نو یزید دا شعرونه ونیل: "مقام غذقدونه کښې چه دَ هغوی لښکر ته کومه تبه وغیره پریشانی وشوه د هغې ماته هیڅ پرواه نشته ځکه چه په دیر مروان مقام باندې په قالین باندې بنه په مزه کښې تکیه وهلې یم، زما سره ام کلثوم ده. او ام کلثوم دِ یزید د ښځې نوم دې..... حضرتِ معاویه رضی الله عنه ته چه کله دَ یزید دا شعرونه اورسیدل نو هغه دَ یزید نه قسم واخستو چه هغه به دَ روم په زمکه باندې دَ سفیان بن عوف سره ملاویږی. نو هغه یو لښکر جرار خان سره بوتلو کوم چه د هغه پلار دَ امداد په توګه هغه سره کړې وو. په دې لښکر کښې حضرت ابن عباس، ابن عمر، ابن الزبیر او ابوایوب انصاری رضی الله عنهم وغیره هم شامل وو..... نو دا خلق بلاد روم کښې دننه شو او تردې چه قسطنطنیه ته اورسیدل نو مسلمانانو او رومیانو په مینځ کښې سره جنګ وشو.....

۲) (تکملة فتح الملهم (ج۳ص٤٥٧)-

دي چه په ده کښې دَ مغفرت شرط هم موندلې شی.(۱)
دَ دې دريو وجوهاتو په بنا اکثر علماء کرامو دَعلامه مهلب رحمه الله قول رد کړيدې.
ليکن روايات خو په دې باره کښې مختلف دی چه په قسطنطنيه باندې کوم لښکر او رومبی ځل حمله کړې وه. په هغې کښې دَ ډيرو احتمالاتو ګنجائش هم دې. مګر په هغې کښې اکثر په دې خبره دلالت کوی چه دَ رومبی لښکر مشری دَ يزيد په لاس کښې وه دَ څه تائيد چه مسند احمد (۲) طبقات ابن سعد (۳) او البداية والنهاية (۴) دَ رواياتو نه کيږی.

دَ يزيد بن معاويه دَ نبی اکرم ﷺ دَ قول ((مغفورلهم)) په عموم کښې دَ داخليدلو يا نه داخليدلو باندې دَ ټولو نه بهتر او معتدل قول دَ حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله دې. فرمائی:

((قوله: ‹‹مغفورلهم››، تمسك بعض الناس بهذا الحديث في نجاة يزيد، لأنه كان من جملة هذا الجيش الثاني، بل كان رأسهم ورئيسهم على مايشهد به التواريخ، والصحيح أنه لايثبت بهذا الحديث إلا كونه مغفوراله ما تقدم من ذنبه على هذه الغزوة، لأن الجهاد من الكفارات، وشأن الكفارات إزالة آثار الذنوب السابقة عليها، لا الواقعة بعدها، نعم، لوكان مع هذا الكلام أنه مغفور له إلى يوم القيامة يدل على نجاته، وإذا ليس فليس، بل أمره مفوّض إلى الله تعالى فيما ارتكبه من القبائح بعد هذه الغزوة، من قتل الحسين رضي الله عنه، وتخريب المدينة، والإصرار على شرب الخمر، إن شاء عفا عنه، وإن شاء عذبه، كما هو مطرد في حق سائر العصاة..))(۵)

يعنی دَ رسول الله ﷺ مبارك ارشاد ((مغفورلهم))نه بعضو خلقو دَ يزيد دَ نجات استدلال کړيدې. ځکه چه هغه هم دَ دې دونم لښکر يوحصه وو، بلکه دَ لښکر مشر او قائد وو لکه چه دَ تاريخ کتابونه په دې ګواه دی. خو صحيح خبره دا ده چه دَ دې حديث نه صرف دومره ثابتيږی چه په دې غزوه کښې دَ شرکت نه وړاندې کومه دَ هغه ګناه وه هغه معاف کړيشوه ځکه چه جهاد دَ کفاراتو دَ قبيل نه دې او دَ کفاراتو شان دا وی چه دَ هغې نه وړاندې کومه ګناه شوې وی هغه ختمه کړی نه چه روستو واقع شوی ګناهونه ختمه وی. اوکه دې کلام سره دا هم وې چه دَ قيامته پورې دَ هغه مغفرت وشو نو دا حديث دَ يزيد په نجات باندې دلالت کوی خو که دا خبره نه وی نو هغه هم نشته. (يعنی چه کله ترقيامت پورې دَ مغفرت

---

۱) (حواله بالا وفتح الباری (ج۶ص۱۰۲) وعمدة القاری (ج۱۴ص۱۹۹)وأوجزالمسالک (ج۸ص۳۸۲) وتعليقات لامع الدراری(ج۷ص۲۴۴)-
۲) أخرج الإمام أحمد فی مسنده (ج۵ص۴۲۳) بسنده عن أبی ظبيان قال: غزا أبوأيوب مع يزيد بن معاوية...
۳) (أخرج ابن سعد فی طبقاته (ج۳ص۴۸۵) بسنده عن محمد قال: شهد أبوأيوب بدراً.......... قال: فمرض، وعلى الجيش يزيدبن معاوية. فأتاه يعوده.... په دې روايت کښې دَ مرض نه مراد دَ ابوايوب انصاری مرض الموت دې. او دا دَ ټولو په نزد مسلمه ده چه دَ حضرت ابو ايوب انصاری رضی الله عنه مرګ دَ قسطنطنيه په غزوه کښې شوې دې-
۴) (البداية والنهاية (ج۸ص۵۸-۵۹)-
۵) (رسالة شرح التراجم أبواب البخاری المطبوع مع صحيح البخاری (ص۳۱)-

ذکر نشته نود یزید نجات هم ثابت نه دې) بلکه یزید چه د دې غزوې نه پس د کومو قبائحو ارتکاب کړې دې د هغه معامله د الله تعالی په حواله ده، لکه د حضرت امام حسین بن علی رضی الله عنه شهادت، په مدینه منوره کښې تخریب کاری او فساد او په شرابو څکلو باندې اصرار وغیره کول، که الله تعالی اوغوښتل نو هغه به معاف کړی یا به سزا ورکړی، لکه چه د نورو ټولو ګناهګاراتو باره کښې حکم دې.

په خلیفه یزید بن معاویه باندې لعنت کولو حکم: خلیفه یزید بن معاویه باندې لعنت کول جائز دی که نه؟ مشهوره اختلافی مسئله ده. په کومه کښې چه د امت اکثر خلق د افراط او تفریط ښکار دی. یوه طبقه خو هغه ده چه په یزید باندې لعنت کول حق ګڼړی او دوئمه ډله هغه ده چه دهغه د بعض فضائلو اومناقبو قائله ده اویه هغه باندې لعنت کول جائزنه ګڼړی. مونږ دلته دا مسئله واضح کولو د پاره د حضرت فقیه النفس رشیداحمد ګنګوهی رحمه الله د فتاوې مجموعه (فتاوی رشیدیه) نه یو اوږد اقتباس نقل کړیدې، چه د سوال او جواب په صورت کښې دې. په څه سره چه د دې مسئلې د حقیقت او په حکم په پوهیدلو کښې مدد ملاوشی:

سوال: یزید چا چه حضرت امام حسین رضی الله عنه شهید کړې وو هغه د لعن قابل دې که نه؟ اګرکه په لعنت کولو کښې احتیاط کول پکار دی. لیکن ډیرو اکابر دین په یزیدباندې لعنت کول تحریر کړی دی.لکه حضرت ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چه د شهادت په شپه ما یو غیبی آواز واوریدو چه وئیلې:

أیها القاتلون جهلا حسینا	بشروا بالعذاب والتذلیل
قد لعنتم علی لسان ابن داود	وموسی و حامل الإنجیل

((کذا فی تحریر الشهادتین))(۱) ((وصواعق محرقة)) او امام جلال الدین سیوطی رحمه الله (تاریخ الخلفاء) کښې تحریرفرمائی ((قال صلی الله علیه وسلم: من أخاف أهل المدینة أخافه الله وعلیه لعنة الله والملائکة والناس أجمعین)) (رواه مسلم)(۲)

((وکان سبب خلع أهل المدینة له أن یزید أسرف فی المعاصی)) (۳)

او په دوئم ځائ کښې فرمائی ((فقتل وجیء برأسه فی طست حتی وضع بین یدی ابن زیاد، لعن الله قاتله وابن زیاد، ومعه یزید....))(۴)

او بعض محققین په شان د امام جوزی رحمه الله (۵)

---

(۱) (دلائل النبوة للأصبهانی (ج۲ص۵۵۳) الصواعق المحرقة (ص۲۱۸)-

۲) (الحدیث أخرجه مسلم فی صحیحه، کتاب الحج باب من أراد أهل المدینة بسوء..... رقم (۱۳۸۷-۱۳۸۸)

۳) (تاریخ الخلفاء للإمام سیوطی (ص۲۰۹)-

٤) حواله بالا(ص۲۰۷)-

۵) (النبراس شرح شرح العقائد (ص۳۳۱)-

او ملا سعد الدین تفتازانی (۱) وغیرهما ﷾ هم دَ لعن قائل دی. مولانا قاضی ثناء الله صاحب پانی پتی ﷫ خپلو مکتوباتو کښې لیکی:

«وجه قول جواز لعن آنست که ابن جوزی روایت کرده که قاضی ابویعلی درکتاب خود "معتمدالاصول" بسندخود ازصالح بن احمدبن حنبل روایت کرده که گفتم پدر خود راکه اے پدر! مردم گمان می برندکه ما مردم یزید رادوست می داریم.احمد گفت که اے پسر!کسے که ایمان بخدا و رسول داشته باشد اورا دوستی یزید چگونه رواباشد؟ وچرالعنت نه کرده شود برکسیکه خدا بروئے درکتاب خود لعنت کرده؟ گفتم درقرآن کجابریزید لعنت کرده است؟ احمد گفت ﴿فهل عسیتم إن تولیتم الخ﴾ (۲) او په بل مکتوب.... کښې دی:

غرض که کفر بریزید از روایت معتبره ثابت می شود، پس او مستحق لعن است، اگرچه درلعن گفتن فائده نیست، لیکن «الحب فی الله والبغض» مقتضی آنست (۳) والله أعلم-

دَ دې مذکوره عبارتونونه معلومیږي چه بعض حضرات دَ کفر هم قائل وو او بعض حضراتو اکابردین لعن جائزنه گنړلو. دَ دې دپاره چه دَ یزید دَ کفر حال محقق نه دې نو هغه دَ لعن قابل نه دې، نو یزیدته کافر وئیل یا لعن کول جائز دی که نه؟ مدلل ارقام اوفرمائي.

جواب: صحیح حدیث دې چه کله څوك په چا لعنت کوی نو که هغه سړې دَ لعنت قابل دې نو په هغه باندې لعن پریوزی گنی نو په لعنت کونکی باندې رجوع کیږی. (۴)

نو چه ترکومې دَ یو سړی کفر محقق شوې نه وې په هغه باندې لعنت نه دی کول پکار څکه چه په خپل ځان دَ لعنت کیدو اندیښنه ده. نو دَ یزید هغه کارونه که هر څومره دَ لعن کولو موجب دی خو چه چاته دَ محقق اخبارونه او قرائنو نه معلومه شوه چه هغه په دغه مفاسدو

---

۱) (قال العلامة سعدالدین التفتازانی فی شرح العقائد (ص۱۱۶) وانما اختلفوا فی یزید بن معاویة حتی ذکر فی الخلاصة وغیره أنه لاینبغی اللعن علیه ولاعلی الحجاج. لأن النبی علیه السلام نهی عن لعن المصلین. ومن کان من أهل القبلةو ومانقل من النبی علیه السلام من اللعن لبعض من أهل القبلة فلما أنه یعلم من أحوال الناس مالا یعلمه غیره. وبعضهم أطلق اللعن علیه. لما أنه کفرحین أمر بقتل الحسین،واتفقوا علی جواز اللعن علی من قتله أو أمربه. أو أجازه. ورضی به. والحق أن رضا یزید بقتل الحسین واستشاره بذلک وإهانة أهل بیت النبی علیه السلام مما تواتر معناه. وإن کان تفاصیله أحاداً. فنحن لانتوقف فی شأنه بل فی إیمانه لعنة الله علیه وعلی أنصاره وأعوانه- دا خودَ علامه تفتازانی ﷫ موقف شو لیکن علامه زبیدی ﷫ په (اتحاف) کښې دَ علامه تفتازانی ﷫ په موقف باندې رد کولو سره دَ تفتازانی ﷫ دَ عبارت نقل کولو نه پس لیکی: أنظر هذاالکلام من هذاالمحقق، مع أنه من کبار أئمة الشافعیة وقواعد مذهبه تقتضی عدم اللعن. اتحاف السادة المتین (ج۹ص۲۰۶) کتاب آفات اللسان، الآفة الثامنة: اللعن-

۲) (الصواعق المحرقة (ص۲۲۰)-

۳) (أخرجه الإمام ابوداؤد فی سننه عن أبی ذر رضی الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: أفضل الأعمال الحب فی الله والبغض فی الله. کتاب السنة باب مجانبة أهل الأهواء وبغضهم رقم (۴۵۹۹)- مقتضی آنست))

۴) (عن أبی الدرداء رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ یقول: إن العبد إذا لعن شیئا صعدت اللعنة إلی السماء.....فإذا لم تجد مساغارجعت إلی الذی لُعن. فإن کان لذلک، وإلارجعت إلی أهلها. انظر سنن أبی داؤد کتاب الأدب باب فی اللعن رقم (۴۹۰۵)-

راضي او خوشحاله وو او هغه ئې ښه او جائز ګنړلې وو او بغير د توبې نه مړشو نو هغه د لعن د جواز قائل دې او مسئله هم داسې ده، چه کوم علماء په دې کښې تردد کوی چه په اول کښې هغه مؤمن وو د دې نه پس هغه د دې افعالو مستحق وو که نه وو او ثابته شوه که نه، تحقيق نه دې شوې. نو بغير د تحقيق نه د دې امر لعن جائز نه دې. د علماؤ هغه ډله په وجه د حديث د مسلم د لعن نه منع کوی او دا مسئله حق هم ده. نود جواز او عدم جواز مدار په تاريخ باندې دې او مونږ مقلدينوته احتياط په سکوت کښې دې خکه که لعن کول جائز دى نو لعن نه کولو کښې هم څه بدى نشته. لعن کول نه فرض دى، نه واجب،نه سنت نه مستحب، محض مباح دى اوکه هغه محل نه دې نو پخپله په معصيت کښې اخته کيدل ښه نه دى. فقط والله اعلم. (۱)

د بحث خلاصه: د يزيدباره کښې د دې سوال او جواب خلاصه دا شوه چه په دې مسئله کښې د امت د علماؤ درې موقفه دى: ① لعنت بريزيد ② عدم لعنت ③ توقف او سکوت.

بعض علماء په يزيدباندې د لعنت وئيلو قائل دى لکه امام احمد، علامه ابن الجوزى، علامه تفتازانى،قاضى ابويعلى موصلى،کياالهراسى اوقاضى ثناءالله پانى پتى رحمهم الله وغيره(۲) اود بعضو علماؤ وينا ده چه په يزيد باندې لعنت کول جائز نه دى لکه امام غزالى (۳) علامه ابن تيميه، حافظ ابن حجر هيشمى او حافظ ابن الصلاح رحمهم الله وغيره (۴) بلکه بعض خلق خود هغه د بعض فضائلو او مناقبو هم قائل دى لکه چه د علامه مهلب رحمه الله قول چه اوس لږ وړاندې تيرشو.

او جمهورمحققين دريم موقف ته ترجيح ورکړې چه په دې مسئله کښې سکوت اختيار کړيشى. متقدمينو کښې مصطفى بن ابراهيم تونسى حنفى، امام قاسم بن قطلوبغا(۵) علامه زبيدى(۶) رحمهم الله او متاخرينوکښې مولانا ابوالحسنات عبدالحئ لکهنوى، حضرت شيخ الحديث محمد زکريا (۷) حکيم السلام مولانا محمدطيب (۸) حکيم الامت مولانا اشرف على تهانوى (۹) رحمهم الله اود نورو علماء ديوبند هم دغه مسلك دې.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره د حديث مطابقت د رسول الله ﷺ

---

۱) (فتاوى رشيديه مبوب (ص۷۶-۷۸) وتاليفات رشيديه (ص۸۳- ۸٤)-
۲) (حواله بالا البداية والنهاية (ج۸ص۲۲۳) شهيدکربلا اور يزيد (ص۱٤۱) والنبراس (ص۳۳۱) وحياة الحيوان (ج۲ص۱۵۷) باب الفاء كلمة الفهد-
۳) (إحياء العلوم الدين (ج۳ص ۱۲۵)-
٤) (إتحاف السادة المتقين (ج۹ ص ۲۰۵)-
۵) (حواله بالا (ص۲۰۷)-
۶) (قال الإمام الزبيدى رحمه الله وهناک قول ثالث وهو: التوقف وتفويض أمره إلى الله..... حواله بالا) ص۲۰۶)
۷) (تعليقات لامع الدرارى (ج۷ص۳٤۶) وذكر الشيخ عبدالحئ فى فتاواه (مجموعة الفتاوى (ج۱ص۶۱) عن المسامرة وشرحه أن الطرقة الثابتة القديمة فى شأن يزيد التوقف ورجع أمره إلى الله-
۸) (شهيدکربلا اور يزيد (ضص۱٤۶)-
۹) (إمداد الفتاوى (ج۱ص٤۲۶) وأيضًا انظر لهذه المسألة الصواعق المحرقة (ص۲۱۸-۲۲۱)-

دي جمله ((أول جیش من أمتی یغزون مدینة قیصر مغفور لهم)) کښې دي. دلته دَ رومیانو سره دَ جهاد فضیلت بیان کړېشوي دي. او (مدینه قیصر) نه قسطنطنیه مراد ده چه نن صبا دَ استنبول په نوم مشهور دي.

۹۳-بَاب: قِتَالِ الْيَهُودِ

دَ ترجمة الباب مقصد: دَ دې باب لاندې امام بخاری رحمه الله دَ یهودو متعلق دَ نبی اکرم ﷺ یوه پیشنګوئی بیانول غواړی چه مسلمانان به یهودو سره جنګ کوی او دا هم دَ نبی علیه السلام دَ معجزاتو نه یوه معجزه ده دَ کومې ښکاره کیدنه چه په انشاء الله په راتلونکې زمانه کښې کیږی. (۱)

[۲۷۶۷] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْفَرْوِيُّ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا (۲) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تُقَاتِلُونَ الْيَهُودَ حَتَّى يَخْتَبِيَ أَحَدُهُمْ وَرَاءَ الْحَجَرِ فَيَقُولُ يَا عَبْدَ اللَّهِ هَذَا يَهُودِيٌّ وَرَائِي فَاقْتُلْهُ [۳۳۹۸]

تراجم رجال

۱- اسحاق بن محمد الفروی: دا ابویعقوب اسحاق بن محمد بن اسماعیل بن ابی فروه رحمه الله دي. دې د خپل قرنیکه ابوفروه طرف ته منسوب کیدلو سره فروی باندې بللې شی. (۳)
دَ ده نه امام بخاری رحمه الله په واسطه سره هم روایت کړیدي. (۴)
هم دَ ده دَ نوم په شان یو بل راوی هم دي. اسحاق بن عبدالله بن ابی سفروه چه ضعیف دي او دي (ابن عبدالله) دَ اسحاق بن محمد دَ پلار تره دي. (۵) په دې
وجه د اشتباه نه بچ کیدل پکار دی. (۶)

۲- مالك: دامشهورامام فقیه مدینه حضرت مالك بن انس رحمه الله دي. دَ ده تذکره ((بدء الوحی)) دَ دوئم حدیث لاندې تیره شویده. (۷)

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۱۹۹)-
۲) (قوله: عن عبدالله بن عمررضی الله عنهما: الحدیث أخرجه البخاری أیضًا کتاب المناقب باب علامات النبوة فی الاسلام رقم (۳۵۹۳) ومسلم کتاب الفتن باب لاتقوم الساعة حتی یمر الرجل بقبر الرجل فیتمنی أن یکون مکان المیت من البلاء رقم (۷۳۳۵) والترمذی کتاب الفتن باب ماجاء فی علامة الدجال رقم (۲۲۳۶)
۳) (عمدةالقاری (ج ۱٤ص۱۹۹) وفتح الباری (ج۶ص۱۰۳)-
٤) (فتح الباری (ج۶ص۱۰۳)-
۵) (حواله بالا-
۶) (اسحاق بن محمد الفروی، دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب الصلح باب قول الإمام لأصحابه.
۷) (کشف الباری (ج۱ص ۲۹۰) و کشف الباری (ج۲ص۸۰)-

۳-نافع: دا مشهور تابعی حضرت نافع مولی ابن عمر رحمه‌الله دی. (۱)

۴-عبدالله بن عمر رضي الله عنهما: دامشهور صحابی حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دي. دَ ده حالات ((کتاب الإیمان باب الإیمان وقول النبی صلی الله علیه وسلم: بنی الإسلام علی خمس)) لاندې تیرشوی دی. (۲)

قوله: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: تقاتلون اليهود: رسول الله ﷺ ارشاد دې چه تاسو خلق به یهودیانو سره قتال او جهاد کوئی.

دلته نبی اکرم ﷺ اګرچه مخامخ ناستو صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین ته خطاب اوفرمائیلو لیکن مراد ترینه نور امتیان دی. ځکه چه په حدیث کښې ذکر شوې واقعه دَ حضرت عیسی علیه‌السلام دَ آسمان نه دَ تشریف راوړلو نه پس ښکاره کیږی او مسلمانان به هغه سره وی او یهودیان ((لعنة الله علیهم)) به دجال ((أعاذنا الله الجمیع من فتنته)) سره وی.(۳)

قوله: حتى يختبئ أحدهم وراء الحجر فيقول: يا عبدالله، هذا يهودي ورائي فاقتله: تردې چه د دې یهودیانونه به څوك دَ کاڼړی شاته پټ شی نو هغه کاڼړې به وائی اې د الله تعالی بنده دا زما شاته یهودی پټ شویدې دا قتل کړه.

مطلب دا چه مسلمانان به یهودیان یو یو راغونډوی او قتل کوی به ئې نو یهودیان به دَ پټیدلودَ پاره دَ کاڼړو آسرا اخلی خو هلته به هم نشی بچ کیدلې. ځکه چه همدغه کاڼړی دَ کوم شاته چه دوی پناه اخستې وی هغه به مسلمانان راغواړی او خودنه کوی چه دلته زما شاته یو یهودی پټ ناست دې دا قتل کړه او دا صورت حال به هغه وخت پیښیږی کله به چه حضرت عیسی علیه‌السلام دجال ملعون قتل کړې وی. دَ سنن ابن ماجه په روایت کښې دَ حضرت ابوامامه الباهلی رضی الله عنه نه په دې سلسله کښې دا تفصیل هم نقل دې:

((....قال عیسی علیه السلام: افتحوا الباب، فیفتح، ووراءه الدجال، معه سبعون ألف یهودی، کلهم ذو سیف محلی وساج، فإذا نظر إلیه الدجال ذاب ك ما یذوب الملح فی الماء، وینطلق هاربا، ویقول عیسی علیه السلام: إن لی فیك ضربة لن تسبقنی بها، فیدرکه عند باب اللد الشرقی فیقتله، فیهزم الله الیهود، فلا یبقی شیء مما خلق الله عزوجل یتواری به یهودی إلا أنطق الله ذلك الشیء، لاحجر، ولا شجر، ولاحائط، ولا دابة إلا الغرقدة، فإنها من شجرهم، لاتنطق، إلاقال: یا عبدالله المسلم، هذا یهودی، فتعال اقتله))(۴)

حضرت عیسی علیه‌السلام به فرمائی چه دروازه کولاؤ کړئی، نو دروازه به کولاؤ کړیشی اودَ هغه شاته به دجال وی چا سره چه به اویا زره یهودیان وی تولو سره به مزین توري او شنه

۱) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب العلم باب ذکر العلم والفتیافی المسجد-
۲) (کشف الباری (ج ۱ص ۶۳۷)-
۳) (عمدة القاری (ج ۱٤ص ۹۹) وفتح الباری (ج۶ص ۱۰۳) وإرشاد الساری (ج۵ص ۱۰۵)-
٤) (سنن ابن ماجه کتاب الفتن باب فتنة الدجال وخروج عیسی بن مریم وخروج یأجوج.... رقم (٤۰۷۷)-

خادرونه وي. كله چه دجال دوى ته اوګورى نو داسې به ويلې شى لكه چه مالګه په اوبو كښې ويلى كيږى او تښتى به، او عيسى عليه السلام به فرمائى چه زه به په تاباندې يو داسې ګذار كوم په كوم كښې چه به ته زمانه وړاندې والې اونه كړې شې. نو هغه عليه السلام به دجال دَ مقام لد مشرقى دروازې سره راګيركړى او هغه به قتل كړى. الله تعالى به يهوديانو ته شكست وركړى، نو دَ الله تعالى په مخلوقاتو كښې به داسې يوڅيز پاتې نشى دَ كوم شاته چه به چرته يو يهودى پټ شوې وى مګر دا چه الله تعالى به هغه څيز ګويان كړى. نه كاڼړې، نه ونه، نه څه څناور او نه چرته ديوال بغير دَ غرقده نه څكه چه هغه دَ يهوديانو دَ ونونه يوه ونه ده چه خبرې به نه كوى،خوهريو څيز به دا وائى اې دَ الله تعالى مسلمانانو بنديګانو دا يهودى دې راشه دا قتل كړه.

دَ سنن ابن ماجه دَ ذكر شوى روايت نه دا هم معلومه شود چه يهوديانوته به هيڅ څيز پناه نه وركوى سوا دَ غرقد (۱)

دَ كاڼړى دَ وينا مطلب: لكه څنګه چه اوس تيرشو چه كاڼړى به څپل شاته پټ شوى يهوديان ښكاره كوى او وائى به ((ياعبدالله، هذا يهودى ورائى فاقتله)) نو په دې كښې دوه احتمالات دى:

① دا كلام په حقيقت باندې محمول دې او په دې كښې هيڅ استعاد نشته چه الله تعالى به دوى ته دَ وينا طاقت وركړى او كاڼړى به وائى ((وهوعلى كل شئ قدير)) (۲)

② دا هم ممكنه ده چه دا كلام په مجاز باندې محمول وى او په دې كښې دې خبرې ته اشاره وى چه دَ يهوديانو جرړې به پريكړې شى او هغوى به بالكل ختم كړيشى. (۳)

علامه عينى رحمه الله اولنى احتمال ته ترجيح وركړې ده څكه چه دا خبره خو واضحه ده چه دَ الله تعالى دَ پاره خو دا كار څه مشكل نه دې چه هغه كاڼړو له دَ خبرو طاقت وركړى. (۴)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله كښې دې ((تقاتلون اليهود)) (۵) چه په دې كښې دَ مستقبل متعلق يو خبر وركړيشوې دې. چه مسلمانانو تاسو به يهوديانو سره جنګ كوئى په كوم كښې چه به په آخر كار فتح هم ستاسو مقدر وى.

دَ حديث باب يو خصوصيت: دَحضرت عبدالله بن عمر رضى الله عنهما دا حديث دَ امام مالك دَ مروياتو نه دې ليكن په موطا كښې نشته، نو دا دَ هغه احاديثونه دې دَ كومو تحديث چه امام مالك رحمه الله دَ موطا نه بهر كړيدې.

او اسحاق بن محمد امام مالك رحمه الله نه دَ دې حديث په روايت كښې متفرد هم نه دې بلكه دَ

---

۱) (غرقد يو قسم ازغنه ونه ده، علامه طيبى فرمائى ((هو ضرب من شجر العضاه وشجر الشوك والغرقدة واحدة)) انظر الكاشف عن حقائق السنن (ج۱۰ص۷۵)-

۲) (عمدة القارى (ج۱٤ص۱۹۹) وشرح الأبى على مسلم (ج۷ص۲۵۷)-

۳) (حواله بالا-

٤) (عمدة القارى (ج۱٤ص۱۹۹)-

۵) (حواله بالا-

هغه متابعت ابن وهب، معن بن عيسى، سعيد بن داوٗد او وليد بن مسلم کړيدي. د دې ټولو متابعاتو تخريج امام دارقطني رحمه الله (غرائب مالك) کښې کړيدې خو اسماعيلى صرف د ابن وهب طريق ذكر کړيدې (١)

[٢٧٦٨] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا جَرِيرٌ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ الْقَعْقَاعِ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (٢) عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا الْيَهُودَ حَتَّى يَقُولَ الْحَجَرُ وَرَاءَهُ الْيَهُودِيُّ يَا مُسْلِمُ هَذَا يَهُودِيٌّ وَرَائِي فَاقْتُلْهُ

تراجم رجال

١- اسحاق بن ابراهيم: دا اسحاق بن ابراهيم بن مخلدبن ابراهيم رحمه الله دې. په ابن راهويه سره مشهور دې، د دوى تذكره ((كتاب العلم باب فضل من علم وعلم)) لاندې تيره شوې. (٣)

٢- جرير: دا ابوعبدالله جريربن عبدالمجيد بن قرط رحمه الله دې. د دوى تذكره ((كتاب العلم باب من جعل لأهل العلم أياما معلومة)) په ذيل كښې راغلې. (۴)

٣- عمارة بن القعقاع: داعمارة بن القعقاع بن شُبرمه كوفى رحمه الله دې. د دوى حالات ((كتاب الإيمان باب الجهاد من الإيمان)) لاندې تيرشوى دى. (۵)

۴- ابوزرعه: دا مشهور محدث حضرت ابوزرعه عمرو بن جرير رحمه الله دې. د دوى حالات هم ((كتاب الإيمان)) په پورتنى باب كښې تيرشوى دى. (۶)

۵- ابوهريرة: دا مشهور صحابى حضرت ابوهريره رضي الله عنه دې. د دوى تذكره ((كتاب الإيمان باب أمور الإيمان)) لاندې تيرشوى دى. (٧)

قوله: عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لاتقوم الساعة....: حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه حضور اكرم صلى الله عليه وسلم فرمائيلى قيامت به ترهغه وخته پورې نه قائميږى تركومې چه تاسو يهوديانو سره جنګ اونه کړئى، او تردې چه هغه کاڼړى د كوم

---

١) (فتح البارى (ج ۶ ص ١٠٣)-
٢) (قوله: عن أبى هريرة رضى الله عنه: الحديث أخرجه مسلم كتاب الفتن باب لاتقوم الساعة حتى يمر الرجل بقبر الرجل فيتمنى أن يكون مكان الميت من البلاء رقم (٧٣٣٩)-
٣) (كشف البارى (ج ٣ ص ٤٢٨)-
٤) (كشف البارى (ج ٢ ص ٢۶٨)-
٥) (كشف البارى (ج ٢ ص ٣٠٣)-
۶) (حواله بالا (ص ٣٠٤)-
٧) (كشف البارى (ج ١ ص ۶۵٩)-

شاته چه یهودی پټ شوې وی به وائی اې مسلمانه دا زما شاته یهودی پټ شوې ناست دې دا قتل کړه.

دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه دَ دې حدیث مفهوم او مضمون هم هغه دې چه دَ تیر شوی حدیث وو،البته داخبره ښکاره کړیشویده چه دواړواحادیثوکښې دَ یهودیانو سره دَ جنګ ذکر دې او دا به قیامت سره نزدې وی اود قیامت دَ واقع کیدو دَ پاره به دَ علامت په توګه وی.

اسلام به دَ عیسی علیه السلام دَ نازلیدوپورې باقی وی: په احادیث باب کښې دې طرف ته اشاره ده چه دَ اسلام دین به دَ حضرت عیسی علیه السلام دَ نازلیدلو پورې باقی وی ځکه چه هم هغه به دجال سره جنګ کوی او یهودیان ځوك چه به دَ دجال منونکی او تابعدار وی دَ هغوی به هم جرړې پرې کوی.(۱)

په دې سلسله کښې به نورتفصیل انشاء الله کتاب المناقب کښې(باب علامة النبوة) لاندې راځی.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث باب ترجمة الباب سره مطابقت ښکاره دې او هغه دَ حدیث په دې جمله کښې دې. ((لاتقوم الساعة حتی تقاتلوا الیهود....)). (۲)

۹۴-بَاب: قِتَالِ التُّرْكِ

دَ ترجمة الباب مقصد: دَ دې ترجمة الباب نه امام بخاری رحمه الله دَ یو روایت دَ تضعیف طرف ته اشاره کړیده. په کوم کښې چه راځی ((أترکوا الترك ماترکوکم)) یا ((اترکوا الترك ماودعوکم)) (۳) یعنی چه ترکو مې ترك تاسو پرېږدی نو ترهغه وخت پورې تاسوهم هغوی سره څه غرض مه کوئ. دَ دې روایت نه خو دا معلومیږی چه ترکیانو سره جنګ نه دی کول پکار. نو امام بخاری رحمه الله دلته دا ښائی چه نه که چرې موقع راشی نو هغوی سره هم په جنګ کولو کښې څه بدی نشته. ځکه چه حضور اکرم صلی الله علیه وسلم پخپله دَ قیامت په علاماتو کښې دَ دې ذکر کړیدې چه په راتلونکی زمانه کښې به قیامت سره نزدې نزدې ترکیانو سره هم قتال او جهاد وی.

دَ ترکیانو دَ نسل باره کښې تحقیق: دَ ترکیانو په اصل کښې اختلاف دې چه دوی دَ چا نسل سره تعلق لری.علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه ترك دَحضرت ابراهیم علیه السلام دَیوې وینځې (قنطوراء) دَ نسل نه دی، دَ دې وینځې ډیر زیات اولاد اوشو او هم دَ دې دَ نسل نه ترك هم دی. (۴)

---

۱) (شرح ابن بطال (ج۵ص۱۰۷) وفتح الباری (ج۶ص۱۰۳) وعمدة القاری (ج۱٤ص۱۹۹)-

۲) (عمدة القاری (ج۱٤ص۱۹۹)-

۳) (الحدیث أخرجه أبوداؤد فی سننه، أبواب الملاحم باب فی النهی عن تهییج الترک والحبشة رقم (۴۳۰۲) والنسائی فی الصغری، أبواب الجهاد باب غزوة الترک والحبشة رقم (۳۱۷۸) والبیهقی فی سننه الکبری (ج۹ص۱۷۶) کتاب السیر باب ماجاء فی النهی عن تهییج الترک والحبشة. والسیوطی فی اللآلی المصنوعة فی الأحادیث الموضوعة (ج۱ص۸) بقیة المناقب، وقال: موضوع، والکنانی فی تنزیه الشریعة المرفوعة (ج۲ص۳۲) باب فی مناقب ومثالب متفرقة، و(ج۲ص۲۱۳) کتاب النکاح الفصل الثالث وابن الجوزی فی الموضعات (ج۲ص۲۳۵) کتاب الجهاد باب فی السبی والطبرانی فی الکبیر (ج۱۹ص۳۷۵) رقم (۸۸۲)

٤) (عمدة القاری (ج۱٤ص۱۹۹) وفتح الباری (ج۶ص۱۰٤)-

او علامه کراع رحمہ اللہ فرمائی چه ترک هم هغه خلق دی کومو ته چه (دیلم) وائی خو په دې قول باندې دا اعتراض شویدې چه دیلم دَ ترکو یو قسم دې. (۱)
علامه ابن عبدالبر رحمہ اللہ فرمائي چه ترک دَ یافث بن نوح علیہ السلام اولاد نه دی او دَ دوی ډیر زیات قسمونه دی. په دوی کښې دَ ښاریوخلق، دَقلعه ګانو اوسیدونکی او دَ غرونو په څوکو اوسیدونکی هم دی او دَ صحراګانو اوسیدونکی هم. (۲)
او دَ حافظ وهب بن منبه رحمہ اللہ قول دې چه ترک دَ یاجوج او ماجوج دَ تره خامن دی. داسې اوشوه چه کله حضرت ذوالقرنین سکندری دیوال جوړ کړو نو دَ یاجوج ماجوج څه کسان غائب وو، نو هغوی ئې بهر پریخودل په دې وجه هغوی ته ترک وائی.(۳)

[۲۷۶۹] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ الْحَسَنَ يَقُولُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ تَغْلِبَ (۴) قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ تُقَاتِلُوا قَوْمًا يَنْتَعِلُونَ نِعَالَ الشَّعَرِ وَإِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ تُقَاتِلُوا قَوْمًا عِرَاضَ الْوُجُوهِ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ [۳۳۹۷]

تراجم رجال

۱- ابوالنعمان: دا ابوالنعمان محمدبن الفضل سدوسی رحمہ اللہ دې. دَ دوی تذکره ((کتاب الإیمان باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: الدین النصیحة...)) لاندې راغلې ده. (۵)
۲- جریربن حازم: دا ابوالنضر جریر بن حازم بن زید ازدی بصری رحمہ اللہ دې. (۶)
۳- حسن: دا مشهور تابعی حضرت حسن بصری رحمہ اللہ دې، دَ دوی حالات ((کتاب الإیمان باب ﴿وإن طائفتان من المؤمنین اقتتلوا....﴾)) لاندې تیرشوی دی. (۷)
۴- عمروبن تغلب: دا عمرو بن تغلب عبدی ضمری رضی اللہ عنہ دې. (۸)

قوله: قَالَ: قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ

---

۱) (حواله بالا-
۲) (حواله بالا-
۳) (عمدة القاری (ج۱٤ص۲۰۰) وفتح الباری (ج۶ص ۱۰٤)-
٤) (قوله: عن عمرو بن تغلب رضی الله عنه: الحدیث أخرجه البخاری أیضًا فی المناقب باب علامات النبوة فی الإسلام رقم (۳۵۹۲) وابن ماجه أبواب الفتن باب الترک رقم (٤۰۹۸)-
۵) (کشف الباری (ج۲ص۷۶۸)-
۶) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب الصلاة باب الخوخة والممر فی المسجد-
۷) (کشف الباری (ج۲ص ۲۲۰)-
۸) (دَ دوی دَ حالاتو دَ پاره اوګورئ کتاب الجمعة باب من قال فی الخطبة بعد الثناء: أمابعد-

تقاتلوا قوما ينتعلون نعال الشعر: حضرت عمرو بن تغلب رضی الله عنه فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمانیلی چه بیشکه د قیامت په علاموکښې یوه علامه دا هم ده چه تاسو به داسې قوم سره جنګ کوئی چه د ویښتو څپلئی به اچوی.

د ویښتو څپلې اچولومطلب: قاضی عیاض رحمه الله د حدیث د دې جملې ((ينتعلون نعال الشعر)) دوه مطلبونه بیان کړی دی.

① یو دا چه هغه خلق به د ویښتونه رسئې اوغړی بیابه د دغه رسو نه څپلئی جوړوی.

② دا هم ونیلې شوی دی چه د هغوی د سر ویښته به ډیر ګڼړ او اوږده وی چه کله هغوی ویښته رازوړندوی نوهغه به د لباس په شان وی چه دهغوی د پښو پورې به وی دڅپلوپه شان(۱) یاد داسې څرمنو چه په هغې ویښته لګیدلې وی هغه څپلئی به استعمالوی. چه د هغوی په علاقو داسې سختئه واوره وریږی چه په نورو علاقو کښې نه وی، نو د دې د پاره چه پښې د واورې د سختئی او نقصان نه بچ کړیشی.

قوله: وإن من أشراط الساعة أن تقاتلوا قوما عراض الوجوه، كأن وجوههم المجان المطرقة: او بیشکه د قیامت د علامونه (دا هم ده چه) تاسو به یو داسې قوم سره جنګ کوئی د چا مخونه چه به پلن وی لکه چه هغه پلن ډهالونه دی.

د المجان المطرقة معنی: ((المجان)) جمع د مجن ده، د دې معنی ډهال ده.

اود ((المطرقة)) په راء کښې دوه احتمالات دی. تخفیف سره مُطْرَقة ده یا تشدید سره مطَرَّقة ده.

(۲) که د تشدید سره وی نو ((المجان المطرّقة)) معنی ده هغه ډهال چه په یو بل باندې ورختلې او قط په قط وی. ابن قرقول دا قول د بعض خلقو طرف ته منسوب کړیدې(۳)

او که چرې مطرقة بغیرد تشدید نه وی نو علامه خطابی رحمه الله د دې معنی دا بیان کړیده چه هغه ډهال په کوم چه اوسپنه خیژولې شوې وی(۴) کیږی داسې چه اوسپنه پلنه کړی او هغه په ډهال وغیره باندې وراوخیژوی. د دې د پاره چه غشې وغیره په دې اثر اونه کړی. همدغه معنی ډیره واضحه ده. اکثرو شارحینو حضراتو همدغه معنی بیان کړیده.

تشبیه په کوم څیز کښې ده؟: حدیث شریف کښې نبی اکرم ﷺ د ترک قوم د مخونود پلنوالی د هغه ډهال سره تشبیه ورکړیده په کوم چه اوسپنه ورخیژولې شوې وی. نو علامه خطابی فرمائی لکه چه څنګه ډهال راپړسیدلې وی دغه شان به د دوی مخونه پلن او اننګی راپړسیدلی وی. (۵)

---

۱) (عمدة القاری (ج ۱٤ص ۲۰۰)-

۲) (عمدة القاری(ج ۱٤ص ۲۰۰)-

۳) (حواله بالا-

٤) (أعلام الحديث(ج۲ص۵ ۰ ٤) وحواله بالا-

۵) (حواله بالا-

او قاضي بيضاوى رحمه الله فرمائي چه نبى عليه السلام د هغوى مخونوته د ډهال سره تشبيه ورکړې وه چه خورشوې وى او ګول وى او دا تشبيه د مخونو د مضبوطيا او د غوښې په زياتوالى کښې دى. (١)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت د حديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت د حديث په معنى کښې دى. ځکه چه نبى اکرم ﷺ ارشاد ((عراض الوجوه، كأن وجوههم المجان المطرقة)) د ترکو صفت دې. (٢)

لکه څنګه چه د باب په وړاندينى حديث شريف کښې په صراحت سره راغى.

[٢٧٧٠] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ صَالِحٍ عَنِ الْأَعْرَجِ قَالَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (٣) قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا التُّرْكَ صِغَارَ الْأَعْيُنِ حُمْرَ الْوُجُوهِ ذُلْفَ الْأُنُوفِ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمُ الشَّعَرُ [٢٧٧١، ٣٣٩٤-٣٣٩٦]

تراجم رجال

١- سعيد بن محمد: دا امام سعيد بن محمد بن سعيد جرمى کوفى رحمه الله دې. ابومحمد يا ابوعبيدالله ددوى کنيت دې. (۴)

دې د عبدالرحمن بن عبدالملك بن ابجر، ابو تميله يحيى بن واضح، يعقوب بن ابراهيم بن سعد، ابواسامة، مطلب بن زياد، ابوعبيده الحداد، حاتم بن اسماعيل، يحيى بن سعيدالاموى او امام ابويوسف رحمهم الله نه د حديث روايت کوى.

او د هغه نه امام بخارى، امام مسلم، ذهلى، ابوزرعه، عبدالله بن احمد، عبدالاعلى بن واصل، ابن ابى الدنيا، عباس دورى رحمهم الله او يولوئ ډله روايت کوى. (۵)

امام ابوداؤد او امام ابن ماجه رحمهما الله د ده نه د امام ذهلى په واسطه روايت اخستې دې. (۶)

امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى ((صدوق)) (٧)

---

١) (عمدة القارى (ج ١٤ص ٢٠٠) وفتح البارى (ج ۶ص ١٠٤) وشرح الكرمانى (ج ١٢ص ١٨٠)-

٢) (عمدة القارى (ج ١٤ص ٢٠٠)-

٣) (قوله: أبوهريرة رضى الله عنه: الحديث أخرجه البخارى أيضًا كتاب الجهاد باب قتال الذين ينتعلون الشعر رقم (٢٩٢٩) وكتاب المناقب باب علامات النبوة فى الإسلام رقم (٣٥٨٧،٣٥٩٠-٣٥٩١) ومسلم كتاب الفتن باب لا تقوم الساعة حتى يمر الرجل بقبر.... رقم (٧٣١٠) وأبوداؤد أبواب الملاحم باب فى قتال الترك رقم (٤٣٠٣) والترمذى أبواب الفتن باب ماجاء فى قتال الترك رقم (٢٢١۶) والنسائى كتاب الجهاد باب غزوة الترك والحبشة رقم (٣١٧٩) وابن ماجه أبواب الفتن باب الترك رقم (٤٠٩۶، ٤٠٩٨)-

٤) (سير أعلام النبلاء (ج ١ص ۶٣٧) وتهذيب الكمال (ج ١١ص ٤٥) تاريخ بغداد (ج ٩ص ٨٧)-

٥) (شيوخ او تلامذه د پاره اوګورئ تهذيب الكمال (ج ١١ص ٤٥-٤۶)-

(۶ (تهذيب الكمال (ج ٤ص ٧۶)-

٧) (تاريخ بغداد (ج ٩ص ٨٨) وتهذيب الكمال (ج ١١ص ٤۶)-

امام ابوزرعه دمشقي رحمه الله فرمائي ((سألت ابن نمير وابن أبي شيبة عنه، فأثنيا عليه، وذاكرت أحمد بن حنبل منه بأحاديث، فعرفه، وأثنى عليه، وقال: صدوق، كان يطلب معنا الحديث)) (١)

يعني د ابن نمير او ابن ابى شيبه نه ما د هغوى باره کښې تپوس اوکړو نو دې دواړو د سعيد بن محمد تعريف اوکړو. اود هغوى نه روايت شوى بعضو احاديثو باره کښې ما د احمد بن حنبل رحمه الله سره مذاکره اوکړه نو هغه دې اوپېژندلو. د هغه تعريف ئې اوکړو او وئې فرمائيل چه هغه صدوق دې. هغه به زمونږ سره سره حديث طلب کول.

امام ابوداؤد رحمه الله فرمائي ((ثقة)) (٢)

دې نه علاوه ابوحاتم (٣) علامه ذهبي (۴) او ابن حبان رحمهم الله هم د دوى توثيق کړيدې. (۵)

ليکن په هغوى باندې څه نه څه د تشيع هم غلبه وه. (۶)

خو ډيرو ائمه رجالو د حديث د ده توثيق کړې دې نو دې په دې وجه ډير خطرناك نه دې. (۷)

د امام بخارى نه علاوه امام مسلم، ابوداؤد او ابن ماجه رحمهم الله هم د دوى نه روايت اخستې دى. (۸)

د دوى انتقال په کال ٢٣٠هـ کښې شويدې. (۹) رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

٢- **يعقوب:** دا ابويوسف يعقوب بن ابراهيم بن سعد بن ابراهيم زهرى رحمه الله دې. د دوى تذکره ((كتاب العلم باب ماذكر في ذهاب موسى صلى الله عليه وسلم..)) لاندې تيره شوې ده. (١٠)

٣- **ابى:** دا ابراهيم بن سعد بن ابراهيم بن عبدالرحمن بن عوف رحمه الله دې. د دوى مختصر تذکره ((كتاب الإيمان باب تفاضل أهل الإيمان...)) (١١) لاندې او تفصيلى حالات ((كتاب العلم)) په مذکوره باب کښې راغلى دى. (١٢)

---

١) تهذيب الكمال (ج١١ص٤٦) وسير أعلام النبلاء (ج١٠ص٦٣٨)-

٢) (تاريخ بغداد (ج٩ص ٨٨) وحواله بالا-

٣) (تهذيب الكمال (ج١١ص٤٦) وتهذيب التهذيب (ج٤ص٧٧)-

٤) (الكاشف (ج١ص٤٤٣) وميزان الاعتدل (ج٢ص١٥٧) وسير أعلام النبلاء (ج١٠ص٦٣٧)-

٥) (تهذيب الكمال (ج١١ص٤٦) وتهذيب التهذيب (ج٤ص٧٧)-

٦) (تهذيب الكمال (ج١١ص٤٦) وتهذيب التهذيب(ج٤ص٧٧)وتعليقات تهذيب الكمال (ج١١ص ٤٦)-

٧) قال ابراهيم بن عبدالله بن ابراهيم المخزومى: كان سعيدالجرمى إذا قدم بغداد نزل على أبى. وكان أبوزرعة الرازى يجيئ، كل يوم ينتقى عليه ومعه نصف رغيف، وكان إذا حدث فجاء ذكر النبى صلى الله عليه وسلم سكت، وإذا جاء ذكر على بن أبى طالب. قال: صلى الله عليه وسلم. انظر تاريخ بغداد (ج٩ص٨٨) وتهذيب الكمال (ج١١ص٤٦) وكشف البارى كتاب العلم (ج٣ص١٣٧)-

٨) (تهذيب الكمال(ج١١ص٤٥) والكاشف (ج١ص٤٤٣)-

٩) (سير أعلام النبلاء (ج١٠ص٦٣٨)-

١٠) (كشف البارى(ج٣ص٣٣١)-

١١) (كشف البارى (ج٢ص ١٢٠)-

١٢) (كشف البارى (ج٣ص٣٣٣)-

۴- صالح: داابوصالح بن كيسان مدني رحمه الله دې. دَ دوى حالات ((كتاب الإيمان باب تفاضل أهل الإيمان في الأعمال)) لاندې تيرشوى دى.(۱)

۵- الاعرج: داابوداؤد عبدالرحمن بن هرمز مدني قرشي رحمه الله دې. دَ دوى مختصر تذكره ((كتاب الإيمان باب حب الرسول صلى الله عليه وسلم)) كښې راغلې.(۲)

۶- ابوهريره: دامشهورصحابي حضرت ابوهريره رضي الله عنه دې، دَ ده حالات ((كتاب الإيمان باب أمور الإيمان)) لاندې راغلى دى.

قوله: قال أبوهريرة رضي الله عنه: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا تقوم الساعة حتى تقاتلوا الترك صغار الأعين، حمر الوجوه، ذلف الأنوف، كأن وجوههم المجان المطرقة: حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى قيامت به تر هغه وخته پورې نه قائميږى تركومې پورې چه تاسو دَ وړوستركو. سرو مخونو او هوارو پوزو والا تركيانو سره جنګ اونه كړئى لكه چه دَ هغوى مخونه پلن پلن ډهالونه دى. دلته په دې حديث كښې دَ دې خبرې تصريح راغله چه په تيرشوى حديث كښې قوماً راغلې وو هغې نه مراد ترك دى، بيا دَ تركو دَ نورو صفتونو ذكر دې چه هغوى دَ وړو ستركو والا دى، سره مخونه به ئې وى او دَ هغوى پوزې به هوارې وى.

دَ ذلف الانوف تحقيق: دَ ذلف ذال دَ معجمه په ضمه سره أذلف جمع ده او دَ الأذلف معنى دَ وړې او هوارې پوزې والا، په نورو الفاظوكښې چيټې پوزې والا هم وئيلى شى. (۳)

او أنوف جمع دَ أنف ده.لكه چه دَ فلس جمع فلوس ده، دَ دې معنى پوزه ده. پوزې ته أنف ځكه وائى چه په مخ باندې دَ ټولو نه ښكاره او وړاندې راوتلې څيز هم پوزه ده. او هر اول او وړاندې زيات شوى څيز ته أنف وائى.(۴)

قوله: ولاتقوم الساعة حتى تقاتلوا قوماً نعالهم الشعر: او قيامت به تر هغه وخته پورې قائم نشى تركوم وخت پورې چه تاسو يوداسې قوم سره جنګ اونه كړئى دَ چا څپلئى چه به دَ ويښتو وى.

دَ دې جملې تشريح په دَ ماقبل په حديث كښې راغلې ده.

---

۱) (كشف البارى (ج۲ص۱۲۱)-

۲) (كشف البارى (ج۲ص۱۱)-

۳) (عمدة القارى (ج۱۴ص۲۰۱) وفتح البارى (ج۹ص۱۰۵) وشرح الأبى والسنوسى على مسلم (ج۷ص۲۵۲)-

۴) (عمدة القارى (ج۱۴ص۲۰۱)قال الخليل: أنف اللحية طرافها وأنف كل شئ أوله... وأنف الجبل أوله وما بذالک منه.انظر معجم مقابيس اللغة مادة أنف (ج۱۴ص۲۰۰)-

په حديث كښې ذكرشوى صفات د كوم قوم دى؟ د حضرت عمرو بن تغلب او حضرت ابوهريره رضي الله عنهما د حديث نه معلوميږى چه هغه قوم د چا مخونه چه د پلنوډهالونو په شان وى او د كوم قوم څپلئى چه د ويښتو وى په دې كښې فرق دې او د دواړو مصداق جدا جدا قومونه دى.ځكه چه حضور ﷺ دواړه قومونه جدا جدا مستقلاً ذكر كړى دى. نو د حديث دوه جزونه دى:

((إن من أشراف الساعة أن تقاتلوا قوما ينتعلون نعال الشعر)) او ((وإن من أشراط الساعة أن تقاتلوا قوما عراض الوجوه، كأن وجوههم المجان المطرقة)) ((كما فى حديث عمرو بن تغلب رضى الله عنه))

نو حافظ ابن حجر اود بعض نورو محدثينو رائې ده چه دا د دوو مختلفو ډلو يا قومونو طرف ته اشاره ده. د حديث اولنئ جمله تركوسره متعلق دې. د كوم تصريح چه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه په حديث كښې هم موجود ده اود دوئمې جملې تعلق بابك خرمى فرقې سره ده.(۱)

بابک الخرمى اود هغه فرقه: د خليفه مامون الرشيدپه زمانه كښې يو سړې تيرشوې دې. د كوم نوم چه بابك وو او خرمى – بضم ډوله وتشديد ثانيه (۲) سره مشهور وو. دا د يو زنديق قسم فرقې مشر وو. په كوم كښې چه محرمات حلال وو. د مامون په زمانه كښې دې فرقې ښه غلبه او قوت حاصل كړو اود عجم ډير ښارونه مثلاً "طبرستان" او "رى" وغيره باندې قابض شو او آخر په كال ۲۲۲ه كښې دخليفه معتصم په زمانه كښې دې جهنم ته اورسيدلو. (۳)

امام اسماعيلى د محمدبن عباد په طريق سره نقل كړى دى هغه فرمائى چه ماته دا خبره رارسيدلې ده چه د بابك د ملګرو څپلئى د ويښتو وې. (۴)

د اسماعيلى د دې طريق نه استدلال كولو سره حافظ ابن حجر پورتنې قول پيش كړيدې. خود علامه عينى او حافظ قسطلانى رحمهما الله ميلان هغه طرف ته دې چه د دواړو جملو مصداق هم يو قوم يعنى ترك دى. (۵)

د مسلم شريف د بعض رواياتو نه هم د علامه عينى وغيره د رائې تائيد كيږى خاص كر د حضرت ابوهريره رضي الله عنه دارروايت چه د سهيل عن أبيه په طريق سره مروى دې،دهغې الفاظ دادى:

((لا تقوم الساعة حتى يقاتل المسلمون الترك قوما وجوههم كالمجان المطرقة، يلبسون الشعر، ويمشون فى الشعر)) (۶)

---

۱) (فتح البارى (ج۶ص ۱۰٤) وعمدة القارى (ج ١٤ص ۲۰۰)-
۲) (قال الإمام ياقوت الحموى: خُرّم ...... وهو رستاق بأردبيل؟ قال نصر: وأظن الخرّمية الذين كان منهم بابك الخرمى نسبوا إليه وقيل:الخرمية فارسى معناه:الذين يتبعون الشهوات ويستبيحونها. معجم البلدان (ج ۲ص ۳۶۲)-
۳) (فتح البارى (ج۶ص ۱۰٤) وعمدة القارى (ج ١٤ص ۲۰۱)-
٤) (حواله بالا-
۵) (عمدة القارى (ج ١٤ص ۲۰۰) وإرشاد السارى (ج۵ص ۱۰۶)-
۶) (صحيح مسلم كتاب الفتن باب لاتوم الساعة حتى يمرالرجل بقبر أخيه... رقم (۷۳۱۳)-

اوګورئی په دې روایت کښې د ترکو همدغه صفت بیان کړیشویدې چه هغوی وېښته اغوندی او په وېښتو کښې ګرځی، یعنی دَ هغوی په بدنونوباندې د وېښتو لباس او په پښوکښې دَ وېښتو څپلئی به وی.

خو په دې دواړو قسم روایتونوکښې داسې تطبیق ورکولې شی چه دَ وېښتو اغوستل ترک او غیر ترک په مینځ کښې مشترک څیز دې. کله ئی دَ ترکو دَ علامت په توګه ذکر کړو او کله دَ نورو قومونو دَ علامت په توګه لبس شعر ذکر کړې شو (١)

په دې وجه په روایاتوکښې هیڅ منافات نشته اونه دَ یو راجح او بل مرجوح ګرځولو ضرورت دې.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث ترجمة الباب سره مناسبت دَ باب وړاندینې حدیث په مقابله کښې زیات ښکاره دې ځکه چه هلته دَ"ترک" تصریح نشته خو دلته دَ "ترک" تصریح هم موجود ده.(٢)

دَ باب په دواړو روایتونوکښې حضور دَ ترکیانو سره جنګ کولو ذکر فرمائیلې دې نو که موقع راشی نو هغوی سره په جنګ کولو کښې هیڅ بدیت نشته.

دَ ترکو متعلق احادیثوباره کښې یو وضاحت: نبی اکرم ﷺ په مختلفو احادیثوکښې دَ ترکو په واضح الفاظوکښې خرابې بیان کړیدې او هغوی سره ئی دَ جنګ فضیلت خودلې دې. دَ دې همدغه وجه ده چه هغه وخت هغوی دَ کفر او شرک په تیارو کښې ډوب شوې وو لیکن دَ نن معامله څه بل څه ده چه هغوی ټول مسلمانان شوی دی، په دې وجه مناسب همدغه ده چه دَ هغوی دَ بدنامئی علامت لرې کړی شې.

حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه ماته دَ یو قوم متعلق دا علم نشته چه هغه ټول په ټول مسلمانان شوی وی، سوا دَ عربو، ترکو او افغانیانو، نو په دوی کښې چه چا هم کفر اختیارکړو نو هم دَ اسلام دَ قبلولو نه پس ئی کړیدې یعنی په شروع کښې هغوی هم مسلمانان وو. په فیض الباری کښې دی:

((وإنما وردت الأحاديث في ذمهم لكونهم كفاراً إذ ذاك، أما اليوم فإنهم أسلموا جميعًا، فينبغي أن يرتفع عنهم ميسم السوء، ولا أعرف قوما أسلموا كلهم إلا العرب والترك والأفغان، فإنه لم يكفر من كفر منهم إلا بعد إسلامه))(٣)

٩٥- بَاب: قِتَالِ الَّذِينَ يَنْتَعِلُونَ الشَّعَرَ

دَ ترجمة الباب مقصد: اوس په تیرشوی باب کښې دا خبره راغلې ده چه حافظ صاحب دَ دې امر قائل دې چه هغه خلق کوم چه دَ وېښتو څپلئ اچوی دَ ترکو نه علاوه څوک بل قوم دې. په دې صورت کښې به دَ ترجمة الباب مقصد دا وی چه تیر شوې باب دَ ترکیانو سره دَ

---

١) (تکملة فتح الملهم (ج٦ص٢٢٧)-

٢) (عمدة القاری (ج١٤ص٢٠١)-

٣) (فیض الباری (ج٣ص٤٣٨)-

جنگ کولو باره کښې وو چه یوه زمانه به داسې راشي چه تاسو به ترکیانو سره جنګ کوئی او دا به ((اشراط الساعة)) (دَ قیامت دَ علامونه) وی.
اوس دلته دا ترجمه قائمولو سره دا خبره فرمائی چه دَ قیامت دَ علامونه یوه داهم ده چه مسلمانان به دَ ویښتو څپلئی اچونکو سره جنګ کوی.
خو دَ علامه عینی او حافظ قسطلانی رحمهم الله رائې خودا وه چه چه په تیر شوی باب کښې ذکر کړ یشوی صفوتونه هم دَ یو قوم یعنی ترکو دی نو موجوده باب به دَ اشکال نه خالی نه وی ځکه داسې به ترجمه مکرر یعنی په دونم ځل شي. ښکاره خبره ده چه کله ترک او دَ ویښتو څپلئی اچونکی خلق یو قوم دې نو دَ نوې سر نه دَ ترجمه قائمولو هیڅ ضرورت نشته؟ (۱)
دَ دې اشکال (تکرار ترجمه) ختمولو کوشش خو علامه عینی ښه کړېدې لیکن دَ دې هیڅ فائده نشته، مثلاً فرمائی:
((أی هذا باب فی بیان قتال القوم الذین ینتعلون الشعر، وهم أیضا من الترک کما ل ذکرناه، ولکن لما روی الحدیث المذکور فی الباب السابق عن أبی هریرة رضی الله عنه من وجه آخر عقدله هذه الترجمة لأن لفظ أبی هریرة فی الحدیث الماضی ..لاتقوم الساعة حتی تقاتلوا قوما نعالهم الشعر،، وقع فی آخر الحدیث، وهو فی هذا الحدیث وقع فی صدره)) (۲)
یعنی دا باب دَ هغه خلقو سره دَ جنګ په باره کښې دې چه دَ ویښتو څپلئی به نې اچولې وی او هغه هم دَ ترکونه دی لکه چه مونږ ذکر کړل، لیکن امام بخاری رحمه الله دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه په وړاندینی باب کښې ذکر شوې حدیث دلته ذکر کړو نو دَ دې دَ پاره ئې جدا ترجمه قائمه کړه ځکه چه دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه دَ حدیث دا الفاظ ((لاتقوم الساعة حتی تقاتلوا قوما نعالهم الشعر)) دَ تیرشوی باب دَ حدیث په آخر کښې راغلي وو او همدغه الفاظ دَ حدیث باب په شروع راغلی دی.
ګورئې دَ دې خبرې په ظاهره هیڅ فائده نه ښکاری چه دَ یو حدیث په یو طریق کښې یوه جمله دَ حدیث په شروع کښې وی او هم هغه جمله په بل طریق کښې آخره کښې راغلې وی اودَ دې دَ پاره دَ جدا باب قائمولو ضرورت پریوځی. په دې وجه حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا کاندهلوی رحمه الله فرمائی ((وهذا کما تری لایجدی شیئا)) (۳)
حضرت کاندهلوی رحمه الله نور فرمائی چه زما په نزد ډیر بهتردا دی چه اووئیلې شی چه دَ امام بخاری دا مستقل ترجمه دَ دې خبرې اشارې کولو دپاره فرمائیلې ده چه دَ ویښتو څپلئی اچونکو په مصداق کښې اختلاف دې، لکه چه په تیرشوی باب کښې دَ هغې څه لږ ډیر تفصیل راغلې دې او یوقول داهم دې چه دا دَ خوارجو سره تعلق لرونکې یو قوم دې. (۴)

---

۱) (الأبواب والتراجم (ج۱ص۱۹۹)-
۲) (عمدة القاری (ج ۱٤ص۲۰۲)-
۳) (الأبواب والتراجم (ج۱ص۱۹۹)-
٤) (حواله بالا-

دا خبره هم کولې شي چه مصنف رحمه الله دلته کومه ترجمه قائمه کړېده دا د ترکود ترجمه نه عام ده يعني يو خو ترک داسې قسم څپلئی اچوی په کومو چه وينبته وی او که نور خلق هم داسې وی نو هغوی سره به هم جنګ کولې شي.

[۲۷۷۱] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ الزُّهْرِيُّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۱) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمُ الشَّعَرُ وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ

تراجم رجال

۱- علي بن عبدالله: دا امام على بن عبدالله ابن المدينی رحمه الله دې. دَ ده حالات ((كتاب العلم باب الفهم فى العلم)) لاندې تيرشوی دی. (۲)

۲- سفيان: دا امام سفيان بن عُيَينه رحمه الله دې، دَ دوی حالات ((بدء الوحی)) كښې دَ رومبی حديث په ضمن كښې مختصراً (۳) او ((كتاب العلم باب قول المحدث: حدثنا....)) په ذيل كښې تفصيلاً راغلی دی. (۴)

۳- زهري: دا مشهور امام حديث ابن شهاب زهری رحمه الله دې. دَ دوی تذكره ((بدء الوحی)) دَ دريم حديث په ذيل كښې اجمالاً راغلې ده. (۵)

۴- سعيد بن المسيب: دا امام التابعين حضرت سعيد بن المسيب قرشی مخزومی رحمه الله دې. دَ دوی تذكره ((كتاب الإيمان باب من قال: إن الإيمان هو العمل)) لاندې راغلې ده. (۶)

۵- أبي هريرة: وړاندينې سند اوګورئی (۷)

دَ حديث مكمله تشريح اوس په تيرشوی باب كښې بيان كړېشوه.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت دَ حديث ترجمه سره مطابقت واضح دې چه په دې جمله كښې دې: ((لاتقوم الساعة حتى تقاتلوا قوما نعالهم الشعر))-

قَالَ سُفْيَانُ وَزَادَ فِيهِ أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رِوَايَةً صِغَارَ الْأَعْيُنِ ذُلْفَ الْأُنُوفِ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ [ر: ۲۷۷۰]

---

۱) (قوله: عن أبی هريرة رضی الله عنه: الحديث مر تخريجه آنفا فی الباب السابق-
۲) (كشف الباری (ج۳ص۲۹۷)-
۳) (كشف الباری (ج۱ص۲۳۸)-
٤) (كشف الباری (ج۳ص۱۰۲)-
۵) (كشف الباری (ج۱ص۳۲۶)-
۶) (كشف الباری (ج۲ص۱۵۹)-
۷) (كشف الباری (ج۱ص۶۵۹)-

دَ مذکوره عبارت مقصد دامام بخاری رحمه الله مقصد دَ دې عبارت نه دا دې چه سفیان بن عیینه دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه دا حدیث په بل طریق باندې نقل کړیدې. یو طریق خو هغه دې چه دَ باب په شروع کښې تیرشو او دوئم دَ ابوالزناد عن الاعرج دې. او په دې دوئم طریق کښې دَ ابوالزناد نه دا اضافه هم شویده. ((صغار الأعین، ذلف الأنوف، کأن وجوههم المجان المطرقة)) چه دَ هغوی سترګې به ورې او پوزې چتې وی لکه چه دَ هغوی مخونه پلن پلن ډهالونه دی.
بیا دوئمه خبره دا ده چه دا تعلیق نه دې لکه چه صاحب التلویح علامه علاء الدین مغلطائی رحمه الله ته دا مغالطه لګیدلې ده بلکه سابقه سند سره موصول دې. (۱)

دَ ((روایة)) مطلب حافظ ابن حجر فرمائی چه دَ حضرت سفیان بن عُیینه دا قول ((روایة)) عن النبی صلی الله علیه وسلم په عوض کښې دې. اسماعیلی دا روایت دَ ((محمد بن عبادة عن سفیان)) په طریق سره په دې الفاظو نقل کړیدې.((عن النبی صلی الله علیه وسلم)) دغه شان دَ تیرشوی باب دوئم حدیث کوم چه دَ الاعرج نه مروی دې په دې کښې هم ((قال رسول الله صلی الله علیه وسلم)) الفاظ وارد شوی دی.(۲)

دَ حافظ دَ دې ارشاد خلاصه دا شوه چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه کوم دا الفاظ ((صغار الأعین، ذلف الأنوف، کأن وجوههم المجان المطرقة)) اضافه کړی دی دا اضافه ئې دَ خپل طرف نه نه ده کړې او دا دَ هغه خپل قول نه دې بلکه دا الفاظ هم دَ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه مروی دی او دَ هغوی نه ئې مرفوعا نقل کوی. نو حاصل دا چه ((روایة)) لفظ دَ حدیث مرفوع کیدلو دَپاره راوړلې شو. او علامه کرمانی رحمه الله دَ دې لفاظ تشریح په بل انداز کښې فرمائیلې. هغوی لیکی:
((قوله: ‹‹روایة››بالنصب، أی زاد علی سبیل الروایة، لا علی طریق المذاکرة، أی قاله عن النقل والتحمل، لا عند القال والقیل)) (۳)

یعنی دَ ((روایة)) لفظ منصوب دې او مطلب دا دې چه هغه دا زیاتوالې روایت کولو سره نقل کړیدې،صرف دَ حدیث دَ مذاکرې په توګه نه، یعنی هغوی دا اضافه نقل و اداء حدیث په وخت کښې ارشاد فرمائی.

خو په تیرشوی او زمونږ دَ دې باب په روایت کښې فرق دې چه په دې کښې ((حمر الوجوه)) زیاتوالې مروی دې او ((صغار الأعین)) الفاظ په دې کښې نشته. دَ کوم اضافه چه زمونږ دَ وړاندې په دې باب کښې موجود دی.(۴)

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص۱۰۵) وتغلیق التعلیق (ج۳ص۴٤۷)-
۲) (فتح الباری (۶ص۱۰۵) وفتح المغیث بشرح ألفیة الحدیث (ج۱ص۱٤٤) النوع الرابع من الفروع السبعة
۳) (عمدة القاری (ج۱٤ص۲۰۲) وشرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۷۹)-
٤) (فتح الباری (ج۶ص۱۰۵)-

٩٦-باب: مَنْ صَفَّ أَصْحَابَهُ عِنْدَ الْهَزِيمَةِ وَنَزَلَ عَنْ دَابَّتِهِ وَاسْتَنْصَرَ

دَ ترجمة الباب مقصد. دَ دې باب لاندې امام بخارى دا خودلى دى كه سړي دَ پښيمانتيا او ماتى په وخت كښې خپل هغه ملګرى چه روستوشوى نه دى دَ نوي سر نه صف بندى اوكړى. دَ سورلئى نه راكوز شى او دَ دښمن په مقابله كښې دَ الله تعالى نه مدد اوغواړى نو دَ دې اصل په سنت كښې موجود دې. اود باب لاندې مصنف رحمه الله دَ غزوه حنين مشهوره واقعه بيان كړيده.(١)

ليكن امام بخارى رحمه الله چه كوم صورت دلته بيان كړيدې دا څه قانون نه دې چه هم داسې به كولې كيږى لكه چه نبي اكرم ﷺ په جنګ حنين كښې كړى وو. بلكه دَ مصنف رحمه الله مقصد دا دې كه چرې داسې دَ هزيمت نه پس چرته دوباره دَ
حملې كولې اهتمام وى نو په دې كښې هيڅ نقصان نشته اود دې اصل په سنت كښې موجود دې نو په دې وجه دَ دې خبرې هم ګنجائش شته.

[٢٧٧٢] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ الْحَرَّانِيُّ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ(٢) وَسَأَلَهُ رَجُلٌ أَكُنْتُمْ فَرَرْتُمْ يَا أَبَا عُمَارَةَ يَوْمَ حُنَيْنٍ قَالَ لَا وَاللَّهِ مَا وَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَكِنَّهُ خَرَجَ شُبَّانُ أَصْحَابِهِ وَأَخِفَّاؤُهُمْ حُسَّرًا لَيْسَ بِسِلَاحٍ فَأَتَوْا قَوْمًا رُمَاةً جَمْعَ هَوَازِنَ وَبَنِي نَصْرٍ مَا يَكَادُ يَسْقُطُ لَهُمْ سَهْمٌ فَرَشَقُوهُمْ رَشْقًا مَا يَكَادُونَ يُخْطِئُونَ فَأَقْبَلُوا هُنَالِكَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى بَغْلَتِهِ الْبَيْضَاءِ وَابْنُ عَمِّهِ أَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ يَقُودُ بِهِ فَنَزَلَ وَاسْتَنْصَرَ ثُمَّ قَالَ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ ثُمَّ صَفَّ أَصْحَابَهُ [ر: ٢٧٠٩]

تراجم رجال

دَ حديث باب داسندبالكل په هغه حضراتوباندې مشتمل دې ((كتاب الإيمان باب الصلاة من الإيمان)) كښې هم تيرشوې دې او دَ ټولو رجالو دَ سند حالات هم راغلى دى.(٣)

تنبيه: په حديث باب كښې ذكر كړيشوې واقعې تفصيل (كتاب المغازى) كښې "غزوه حنين"(۴) لاندې راغلې دې، دغه شان دَ حديث دَ بعضو جملو او اجزاؤ تشريحات روستو هم په (كتاب الجهاد) كښې ((باب من قاد دابة غيره فى الحرب)) لاندې ذكر كړې شوې دې. خو چه امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې كوم حديث ذكر كړيدې په هغې كښې دَ څه نورو جملو اضافه هم ده. دَ هغې تشريح مونږ دلته لاندې بيان كوو.

---

١) (فتح البارى (ج۶ص١٠٥)-
٢) (قوله: البراء رضى الله عنه: الحديث مر تخريجه فى كتاب الجهاد باب من قاد دابة غيره فى الحرب-
٣) (كشف البارى (ج٢ص٣٢۶-٣٧۶)-
٤) (كشف البارى كتاب المغازى (ص٥٣٣-٥٣٥)-

قوله: قال: لا، والله، ماولى رسول الله صلى الله عليه وسلم، ولكنه خرج بأن أصحابه وخفافهم حسرا، ليس بسلاح: حضرت براء بن عازب رضي الله عنه فرمائى نه. قسم په الله! رسول الله ﷺ نه ده شاكرې خو د هغوى كم عمره اصحاب چا سره چه وسله نه وه هغوى ورسره راغلې وو، نو هغوى تلې وو.

د خفافهم تحقيق: زمونږ په هندى نسخوكښې ((ولكنه خرج شبان أصحابه)) نه پس ((وأخفافهم)) لفظ وارد شوې دې او اخفاف جمع د خفيف ده. (۱)

بيا چه كومې نورې نسخې دى په هغې كښې دوه الفاظ وارد شوى دى اخفاء او خفاف. نو په اكثرو نسخوكښې خو اخفاء ده چه د خف جمع ده او د خفيف په معنى كښې دې. او دې نه هغه خلق مراددى چه خالى لاس وو اوهغوى سره څه وسله نه وه. يعنى (حسرا ليس معهم سلاح) (۲)

او د ابوذر، مستملى او حموى نسخوكښې خفافهم وارد شوې. (۳) چه د خفيف جمع ده او مراد ترينه هم دغه دى كوم چه پورته ذكر شو، هغه خلق كومو سره چه وسله نه وه.

خلاصه دا شوه چه په درې قسمه نسخوكښې درې قسمه الفاظ وارد شوى دى. كومو كښې چه يو ((اخفافهم)) دې كما فى النسخ الهندية خو په اكثرو نسخوكښې دوه الفاظ يعنى ((أخفاؤهم)) دې او بعض كښې ((خفافهم)) راغلې.

د حسرا تحقيق: حسر جمع د حاسر ده اوحاسرمشتق د حسر نه دې. د كوم معنى چه كولاويدلو او كولاوولو ده. (۴) ليكن دلته مرادحسراخالى لاس كيدل دى يعنى هغوى سره وسله وغيره نه وه. (۵)

دا هم وئيلې شوى دى چه د حاسر معنى دا ده چه هغه سړې چا سره چه زغره او ډهال نه وى. (۶) اودا لفظ د حاليت په بنا منصوب دې او د دې ذوالحال ((شبان أصحابه)) دى. (۷)

د ليس بسلاح جملې نحوى تحقيق: د حديث جملې ((ليس بسلاح)) كښې دوه روايتونه دى او د دواړو روايتونو په اعتبار سره تركيب نحوى هم مختلف كيږى:

① اكثرو نسخو او رواياتوكښې ((ليس بسلاح)) باء سره دې نو په دې صورت كښې د ليس اسم محذوف دې او تقدير عبارت داسې دې: ((ليس أحدهم متلبسا بسلاح)) (۸)

---

۱) (انظر صحيح البخارى (ج۱ص۴۱۰) طبع قديم كتب خانه كراچى)-

۲) (عمدة القارى (ج۱۴ص۲۰۳) وشرح القسطلانى (ج۵ص۱۰۶)-

۳) (حواله بالا وأعلام الحديث (ج۲ص۱۴۰۷) النهاية فى غريب الحديث (ج۲ص۵۴) وتاج العروس (ج۶ص۹۲-۹۳)-

۴) (مصباح اللغات مادة حسر-

۵) عمدة القارى (ج۱۴ص۲۰۳) وشرح الكرمانى (ج۱۲ص۱۸۰) وأعلام الحديث للخطابى (ج۲ص۱۴۰۷)-

۶) (حواله بالا-

۷) (حواله بالا و شرح القسطلانى (ج۵ص۱۰۶)-

۸) (حواله بالا و شرح الكرمانى (ج۲ص۱۸۰)-

② بعضو رواياتو كښې ((حسرا، ليس سلاح)) مروى دي يعنى بغيرد باء او د سلاح د رفع سره نو دا د ليس اسم دي او د دې خبر محذوف دې. يعنى ((ليس سلاح لهم)) (١)

قوله: فأتوا قوما رماة جمع هوازن وبني نصر ما يكاد يسقط لهم سهم: هغوى د قبيله هوازن او بنو نصر مخې ته راغله (هغوى داسې مشاق غشى ويشتونکى وو چه) د هغوى به يو غشې هم خالى نه تلو.

په پورته ذکر شوى عبارت کښې ((رماة)) کوم لفظ وارد شويدې هغه د ((رامي)) جمع ده د څه معنى چه ورغورزونکى ده. او دا لفظ خو د ((قوما)) په صفت کښې واقع کيدونکې دې نو په دې وجه منصوب دې او د ((قوما)) د نصب وجه مفعوليت دې. (٢)

او په جمع هوازن او بنى نضر کښې دوه احتماله دي:

① دا دواړه على سبيل البدلية منصوب وى او قوما مبدل منه وى.

② چه دا دواړه الفاظ مرفوع وى او د مبتدائې محذوف خبرواقع وى يعنى ((هم جمع هوازن وجمع بني نصر)) نو بهر حال دواړه صورتونه جائز دى. (٣)

قوله: فرشقوهم رشقا ما يكادون يخطئون: رشق د باب نصر نه دې، د دې معنى غشې ويشتل او ورغورزول دى. او علامه داودي رحمه الله فرمائى چه د حديث د دې جملې مطلب دا دې چه هغوى به ټول په يوځل په مسلمانانو باندې غشى اووروى او د غشو باران به پرې اوکړى. (۴)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت د حديث ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله کښې دې ((فنزل واستنصر)) (۵) چه نبى کريم ﷺ د خپلې سورلئى (سپين قچر) نه راکوز شو اود الله تعالى نه ئې فتح او امداد اوغوښتلو. اود جنګ په شروع کښې هغوى د ماتې سره مخ شوى وو او همدغه د امام بخارى رحمه الله هم مقصد وو.

٩٧- بَاب: الدُّعَاءِ عَلَى الْمُشْرِكِينَ بِالْهَزِيمَةِ وَالزَّلْزَلَةِ

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخارى رحمه الله دا فرمائى چه د وخت امام که د جنګ په موقع د مشرکانو د هزيمت او د هغوى د متزلزل کيدو دعا کوى او د هغوى خلاف بددعا کوى نو دا فعل جائز دې اود نبى عليه السلام نه ثابت دې. (۶)

اود دې باب لاندې امام بخارى رحمه الله پنځه احاديث ذکر کړى دى لکه چه اوس به ستاسو وړاندې راشى.

---

١) (عمدة القارى (ج ١٤ص٢٠٣) وشرح الكرمانى (ج١٢ص١٨٠)-
٢) (عمدة القارى (ج ١٤ص٢٠٣) وإرشاد السارى (ج٥ص١٠٦)-
٣) (حواله بالا-
٤) (عمدة القارى (ج ١٤ص٢٠٣) وأعلام الحديث للخطابى (ج٢ص١٤٠٧)-
۵) (عمدة القارى (ج ١٤ص٢٠٣) وفتح البارى (ج٦ص١٠٥)-
٦) (عمدة القارى (ج ١٤ص٢٠٣) وشرح القسطلانى (ج٥ص١٠٧)-

[٢٧٧٣] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عِيسَى حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (١) قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْأَحْزَابِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَلَأَ اللَّهُ بُيُوتَهُمْ وَقُبُورَهُمْ نَارًا شَغَلُونَا عَنِ الصَّلَاةِ الْوُسْطَى حَتَّى غَابَتِ الشَّمْسُ [٣٨٨٥، ٤٢٥٩، ٦٠٣٣]

تراجم رجال

١- ابراهيم بن موسى: دا ابواسحاق الفراء ابراهيم بن موسى بن يزيد التميمى الرازى رحمه الله دي (٢)

٢- عيسى: دا ابوعمرو بن يونس بن ابى اسحاق السبيعى كوفى رحمه الله دي. (٣)

٣- هشام، دلته دَ هشام نه څوک مراد دي؟: حافظ ابن حجر رحمه الله ته دلته دا وهم اوشو چه هغه دا اوفرمائيل چه دَ هشام نه دستوائى مراد دي او بيا ئې په امام اصيلى باندې رد اوکړو چه دَ دې خبرې قائل دي چه دَ هشام نه ابن حسان مراد دي. فرمائى:

((وزعم الأصيلى أنه ابن حسان، ورام بذلك تضعيف الحديث فأخطأ من وجهين....)) (٤)

يعنى دَ اصيلى گمان دا دې چه هغه ابن حسان دې اود اصيلى مقصد دَ دې نه حديث ضعيف ثابتول دي نو هغه په دوه قسمه غلطى اوکړه.

مطلب دا شو چه دَ حافظ ابن حجر رحمه الله په قول يوه غلطى دَ اصيلى نه دا اوشوه چه هغه دا اووئيل چه دَ هشام نه مراد ابن حسان دې. دوئمه غلطى دا اوشوه چه هغه داسې دَ حديث ضعيف ثابتولو كوشش اوكړو.

دغه شان حافظ ابن حجر فرمائى چه كرمانى دا بهادرى كړې ده چه دائې وئيلى چه دَ هشام نه مراد ابن عروه دي. (٥)

خود حافظ ابن حجر رحمه الله پورتنې تنقيد په دواړو حضراتومحدثينو (يعنى اصيلى اوكرمانى) باره كښې صحيح نه دې. دلته وهم او مغالطه هم پخپله هغه ته شويده.

علامه عينى رحمه الله حافظ صاحب دلته دَ لاس نه كلك نيولې او فرمائيلى دى چه بهادرى خو پخپله حافظ كړيده چه هشام ئى دلته دستوائى گرځولې دې حالانكه هغه دستوائى نه دې بلكه ابن حسان دې لكه څنگه چه اصيلى وئيلې وو. حافظ جمال الدين مزى رحمه الله په (تحفة

---

١) (قوله: على رضى الله عنه: الحديث: أخرجه البخارى أيضًا كتاب المغازى باب غزوة الخندق رقم (٤١١١) وكتاب التفسير سورة البقرة باب حافظوا على الصلوات.... رقم (٤٥٣٣) وكتاب الدعوات باب الدعاء على المشركين رقم (٦٣٩٦) ومسلم كتاب الصلاة باب الدليل لمن قال: الصلاة الوسطى هى صلاة العصر رقم (١٤٢٠) والترمذى أبواب التفسير باب ومن سورة البقرة رقم (٢٩٧٨) وأبواب الصلاة باب وقت صلاة العصر رقم (٤٠٩) والنسائى كتاب الصلاة باب المحافظة على صلاة العصر رقم (٤٧٤) وابن ماجه أبواب الصلاة باب المحافظة على صلاة العصر رقم (٦٨٤)-

٢) (دَ دوى دَ حالاتودپاره اوگورئ كتاب الحيض باب غسل الحائض رأس زوجها وترجيله-

٣) (دَ دوى دَ حالاتودپاره اوگورئ كتاب الأذان باب من صلى بالناس فذكرحاجة فتخطاهم-

٤) (فتح البارى (ج٦ص١٠٦)-

٥ (حواله بالا-

الاشراف» (۱) کښې دوه ځل (۲) دَدې خبرې تصریح کړېده چه دَهشام نه مراد ابن حسان دې. (۳)
علامه کرمانی رحمه الله هم دَ جزم سره نه دی فرمائیلی چه هشام نه هم ابن عروه مراد دې بلکه هغه داسې وائی: «الظاهر أنه ابن حسان، لکن المناسب لما مرّ فی باب شهادة الأعمی هشام بن عروة» (۴)
په قول دَ علامه عینی رحمه الله دراصل علامه کرمانی رحمه الله ته دا مغالطه او دهوکه په دې وجه اوشوه چه (کتاب الشهادات) کښې امام بخاری رحمه الله یو روایت «عیسی بن یونس عن هشام عن أبیه عروة» (۵) په طریق نقل کړی دی. نو علامه کرمانی رحمه الله همدغه اوګڼړل چه دلته هم دَ هشام نه هم ابن عروه مراددې حالانکه حقیقت دَ دې نه خلاف دې او دَ دې نه په قول دَعلامه عینی دَ علامه کرمانی بهادری نه ښکاره کیږی، فرمائی:
«ولم یظهر منه تجاسر لأنه لم یجزم أنه هشام بن عروة وإنما غرّته روایة عیسی بن یونس عن هشام عن أبیه عروة فی الباب المذکور، فظن أنه ههنا أیضًا کذلك» (۶)
دَ حافظ ابن حجر خبرداری: مونږ پورته دَ حافظ ابن حجر رحمه الله باره کښې دا اووئیل چه هغه ته دَ هشام بن حسان متعلق وهم پیښ شوی دې چه هغه هشام دستوائی ګرځولې دې. دا معامله خو دَ (کتاب الجهاد) متعلق ده لیکن چه کله هغه (کتاب المغازی) ته اورسیدو نو هغه خبردار شو دا ئې اومنله او دَدې خبرې تصریح ئې اوکړه چه داهم هشام بن حسان دې. لیکی: «هشام: کنت ذکرت فی الجهاد أنه الدستوائی، لکن جزم المزی فی الأطراف بأنه ابن حسان، ثم وجدته مصرحا به فی عدة طرق، فهذا المعتمد» (۷)
دغه شان په (کتاب الدعوات) کښې هم هغوی دلته دَذکرشوی موقف نه خپله رجوع بیان کړېده (۸)
آیا هشام بن حسان ضعیف راوی دې؟ پورته چه مونږ دَ حافظ ابن حجر رحمه الله په حواله دَ امام اصیلی رحمه الله کوم موقف نقل کړې وو چه هغوی حدیث باب دَ هشام بن حسان دَ وجه نه ضعیف ګرځولې دې نو دَ امام اصیلی دَ دې موقف جواب حافظ رحمه الله پخپله ورکړیدې.
هغه فرمائی دَ هشام بن حسان دَحفظ باره کښې سره دَ دې چه بعضو حضراتو کلام فرمائیلې لیکن چاهم هغه صرف دَ حفظ دَ وجه نه هغه مطلقًا ضعیف نه دې ګرځولې بلکه دَ هغه په بعضو شیوخوکښې هغه ته ضعیف وئیلی. بیا دَ هغه ټولو ائمه رجال و محدثین په دې خبره

۱ (انظر تحفة الأشراف (ج۷ص۴۲۹-
۲) (قال العینی رحمه الله فی العمدة (ج۱۴ص۲۰۳): وکذا نص علیه الحافظ المزی فی الأطراف فی موضعین کما تذکره عن قریب. إلا أن المزی رحمه الله صرح: "ابن حسان" فی ثلاثة مواضع. انظر تحفة الأشراف (ج۷ص۴۲۹-۴۳۰)
۳ (عمدة القاری (ج۱۴ص۲۰۳) وشرح القسطلانی (ج۵ص۱۰۷)-
۴ (شرح الکرمانی (ج۱۲ص ۱۸۱)-
۵) (صحیح البخاری کتاب الشهادات باب شهادة الأعمی ... رقم (۲۶۵۵)-
۶) (عمدة القاری (ج۱۴ص۲۰۳)-
۷) (فتح الباری (ج۷ص۴۰۵)-
۸) (فتح الباری (ج۱۱ص۱۹۵)-

کښې اتفاق دې چه د باب په حدیث کښې چه کوم شیخ دې یعنې محمد بن سیرین رحمه الله د هغه باره کښې دا ثبت دی. سعید بن ابی عروبه (۱) فرمائی چه د ابن سیرین نه په روایت کښې د هغه په شاګردانو کښې د هشام نه څوك احفظ نه وو. او یحیی القطان فرمائی چه هشام بن حسان د محمد بن سیرین باره کښې ثقه وو. هغه نور فرمائی چه هغه د ابن سیرین باره کښې زما په نزد عاصم الاحول او خالد الحذّاء نه بهتر اوخوښ دې.(۲) او امام علی ابن المدینی (۳) فرمائی امام یحیی القطان دهشام بن حسان د امام عطاء نه روایت شوی احادیث به ضعیف ګرځول خو زمونږ اصحابو به هغې ته ثبت وئیل. نور فرمائی چه پاتې شو هغه احادیث کوم چه هغه د محمد بن سیرین نه روایت کوی نو هغه صحیح دی او یحیی بن معین رحمه الله فرمائی چه د هشام بن حسان د دې احادیثونه انکار نشی کولې کوم چه هغه د عطاء، عکرمه او حسن بصری رحمه الله نه روایت کوی.(۴)

حافظ ابن حجر رحمه الله د امام یحیی بن معین رحمه الله د پورته ذکر شوی قول جواب ورکولو سره فرمائی چه امام احمدخودا فرمائی چه ته دهغه د هرقسم څیز (روایت) نه انکار اوکړه نو دا به مومې چه یا خو به ایوب هغه روایت کړې وی او یا عوف (۵) یعنی د هغه متابعت به یو نه یو خامخا کړې وی. ابن عدی رحمه الله فرمائی چه د هغه احادیث مستقیم دی ما په هغې کښې هیڅ منکر شئ نه دې لیدلې.(۶)

پاتې شو عطاء نو په صحیحینو کښې د عطاء نه یو روایت نشته. البته د عکرمه نه په صحیح بخاری کښې د هغه روایات شته لیکن ډیر کم دی او په هغې باندې متابعت هم کړیشویدې. والله اعلم.(۷)

د حافظ صاحب د دې اورد جواب خلاصه دا شوه چه اولاً خو هشام بن حسان مطلقًا سئ الحفظ او ضعیف راوی نه دې او ثانیًا یوازې په دې بنیاد د هغوی روایات نشی ردکولې.

خاصکر چه هغه دمحمدبن سیرین نه روایت کښې ثقه او ثبت وی. کماصرح به ائمة الرجال وحفاظ الحدیث

۳- **محمد:** دا امام، شیخ الاسلام ابوبکر محمد بن سیرین انصاری بصری رحمه الله دې. د دوی تذکره ((کتاب الإیمان باب اتباع الجنائز من الإیمان)) لاندې تیره شویده.(۸)

---

۱) (تهذیب الکمال (ج ۳۰ ص۱۸۷)-
۲) (تهذیب الکمال (ج ۳۰ص۱۸۶)وفتح الباری (ج۱۱ص۱۹۵)-
۳) (تهذیب الکمال (ج ۳۰ص۱۸۷) والضعفاء الکبیر للعقیلی (ج ٤ص۳۳۵)-
٤) (تهذیب الکمال (ج ۳۰ص۱۸۹)-
۵) (فتح الباری (ج۱۱ص۱۹۵)-
۶) (الکامل لابن عدی (ج۷ص ۱۱٤)-
۷) (فتح الباری (ج۱۱ص۱۹۵) حافظ رحمه الله فتح الباری (ج۷ص۴۰۵) (کتاب المغازی) کښې خو دا فرمائیلې ووچه د اصیلی د حدیث باب متعلق کوم خیال دې، د دې باره کښې به زه په (کتاب التفسیر) کښې کلام کوم لیکن معلومه نه ده چه هغوی نه څنګه ذهول اوشو چه د (فتح الباری) په (کتاب التفسیر) کښې په دې باره کښې هیڅ بحث نه دې کړې بلکه مونږ ته خو دا بحث د ډیر لټون نه پس په (کتاب الدعوات) کښې ملاؤشو -
۸) (کشف الباری (ج۲ص ۵۲٤)-

۵-عبیدة: دا ابومسلم عبیدة –بفتح العین المهملة وکسر الباء الموحدة– بن عمرو کوفی دې.(۱)
۶-علی: دا مشهورصحابی دَ رسول الله ﷺ خوم حضرت علی بن ابی طالب ﷺ دې.(۲)

قوله: قال: لما کان یوم الأحزاب قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ملأ الله بیوتهم.....: حضرت علی ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ دَ غزوه احزاب په ورځ اوفرمائیل الله تعالی دې دَ دغه مشرکانو کورونه او قبرونه دَ أور نه ډك کړی چه هغوی مونږ دَ صلاة الوسطی نه مشغول او محروم کړو او نمر ډوب شو.

تنبیه: په حدیث باب کښې دَ ذکرشوې واقعې تفصیل(کتاب المغازی) (۳)کښې اودَ صلاة الوسطی متعلق مکمل بحث (کتاب التفسیر) (۴) کښې راغلې دې.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: په حدیث شریف کښې بهر حال دَ دې خبرې بددُعاء (ښیرې) خو شته چه الله تعالی دې دَ دغه مشرکانو کورونه او قبرونه دَ أور نه ډك کړی لیکن دَ شکست بددُعاء ئې اونه کړه او ترجمه هم دَ دې وه.

نو حافظ صاحب او علامه عینی ﷺ فرمائی چه دَ حدیث مناسبت دَ ترجمه سره دَ زلزله په لفظ کښې دې. هغه داسې چه دَ هغوی کورونه سوزول اودَ نفوس ښه جړقولو او خوزولو سبب دې چه دَشکست مترادف دی،دغه شان به په ترجمه اوحدیث کښې مطابقت اوشی.(۵)

[۲۷۷۳] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ ابْنِ ذَكْوَانَ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (۶) قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو فِي الْقُنُوتِ اللَّهُمَّ أَنْجِ سَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ اللَّهُمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ اللَّهُمَّ أَنْجِ عَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ اللَّهُمَّ أَنْجِ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنْ الْمُؤْمِنِينَ اللَّهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ اللَّهُمَّ سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ [ر: ۹۶۱]

تراجم رجال

۱-قبیصه: دا ابوعامر قبیصه بن عقبه بن محمد بن سفیان کوفی ﷫ دې.
۲-سفیان: دا مشهور امام حدیث ابوعبدالله سفیان بن سعیدبن مسروق ثوری ﷫ دې. دَ دې دواړو حضراتو تذکره ((کتاب الإیمان باب علامة المنافق)) لاندې راغلې.(۷)

---

۱) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوگورئ کتاب الوضوء باب الماء الذی یغسل به شعر الإنسان-
۲) (دَ دوی دَ حالاتودَپاره اوگورئ کتاب العلم باب إثم من کذب علی النبی صلی الله علیه وسلم-
۳) (کشف الباری کتاب المغازی (ص۲۷۷)-
٤) (کشف الباری کتاب التفسیر(ص)-
۵) (فتح الباری (ج۶ص۱۰۶) وعمدة القاری (ج ١٤ص۲۰۳)-
۶) (قوله:عن أبی هریرة رضی الله عنه: الحدیث مر تخریجه فی الأذان باب بلاترجمة بعد باب فضل اللهم ربنا لک-
۷) (کشف الباری (ج۲ص۲۷۵-۲۸۰)-

د علامه عيني او قسطلاني تسامح دلته علامه عيني رحمه الله (١) او د هغه په اتباع کښې علامه قسطلاني رحمه الله (٢) نه دا تسامح شويده چه دې دواړو حضراتو په سند کښې ذکر شوې سفيان ابن عيينه ګرځولې حالانکه دا سفيان بن سعيد ثوري دې. ځکه چه قبيصه خو د امام ثوري نه روايت کوي ليکن د ابن عيينه نه نه کوي. نو ائمه رجال مثلاً حافظ مزي (٣)، علامه ذهبي (۴) او حافظ ابن حجر(۵) رحمهم الله وغيره د هغه په شيوخو کښې ابن عيينه چرته هم نه دې ذکر کړې او هرځائ کښې ئې د ثوري تصريح کړېده. د کوم نه چه همدغه معلوميږي چه دلته هم د سفيان نه هم ثوري مراد دې نه چه ابن عيينه.

۳- ابن ذکوان دا عبدالرحمن عبدالله بن ذکوان مدني قرشي رحمه الله دې. د دوي تذکره ((کتاب الإيمان باب حب الرسول صلى الله عليه وسلم من الإيمان)) لاندې تيره شويده. (۶)

۴- الاعرج دا ابوداؤد عبدالرحمن بن هرمز رحمه الله دې. د ده تذکره هم په اختصار سره د ((کتاب الإيمان)) د مذکوره باب لاندې تيره شويده. (۷)

۵- ابوهريره: دا مشهور صحابي رسول حضرت ابوهريره رضي الله عنه دې. د ده تذکره ((کتاب الإيمان باب أمور الإيمان)) لاندې تيره شويده.(۸)

د حديث ترجمه: حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم به په قنوت کښې دا دعا فرمائيله يا الله! سلمه بن هشام ته خلاصې ورکړې يا الله! وليد بن وليد ته خلاصې ورکړې. يا الله! عياش بن ابي ربيعه ته خلاصې ورکړې يا الله! کمزورو مسلمانانو ته خلاصې ورکړې، يا الله! د قبيله مضر په کافرانو باندې سختې اوکړې، يا الله! په داسې قحط کښې اخته کړې ځکه چه تا د يوسف عليه السلام په زمانه کښې په قحط کښې خلق اخته کړې وو.

مونږ دلته صرف د حديث په ترجمه باندې اکتفاء اوکړه ځکه چه د حديث تشريح او په دې کښې د ذکر شوې اعلامو حالات (کتاب الأذان) کښې ذکر دی.(۹)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت: د حديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله کښې دې ((اللهم اشدد وطأتك على....)) ځکه چه شدت وطات (نيول) د دې خبرې نه اعم دې چه هغوي په هزيمت يا زلزله سره متصف وي يا د دې نه علاوه په نورو تکليفونو او مشکلاتو کښې هم اخته وي. مثلاً سخته ګراني يا د ذلت مرګ وغيره. (۱۰)

---

١) (عمدة القاري (ج ١٤ ص ٢٠٤)-
٢) (إرشاد الساري (ج ۵ ص ١٠٧)-
٣) (تهذيب الكمال (ج ٢٣ ص ٤٨٢)-
(٤ (سير أعلام النبلاء (ج ١٠ ص ١٣١)-
۵) (تهذيب التهذيب (ج ٨ ص ٣٤٧)-
۶) (كشف الباري (ج ٢ ص ١٠)-
٧) (كشف الباري (ج ٢ ص ١١)-
٨) (كشف الباري (ج ١ ص ۶۵٩)-
٩) (صحيح البخاري كتاب الأذان باب يهوي بالتكبير حين يسجد رقم (٨٠٤)-
١٠) (عمدة القاري (ج ١٤ ص ٢٠٤) ومثله للحافظ في الفتح (ج ۶ ص ١٠۶)-

[۲۷۷۵] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا(۱) يَقُولُ دَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْأَحْزَابِ عَلَى الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيعَ الْحِسَابِ اللَّهُمَّ اهْزِمِ الْأَحْزَابَ اللَّهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ [۳۸۸۹، ۶۰۲۹، ۷۰۵۱، وانظر: ۲۶۶۳]

تراجم رجال

۱- احمد بن محمد: دا ابوالعباس احمدبن محمد بن موسى المروزى رحمه الله دې. (۲)

۲- عبدالله: دا مشهور امام حضرت عبدالله بن مبارك حنظلى رحمه الله دې. د دوى مختصر تذکره ((بدء الوحى)) کښې تېره شويده. (۳)

۳- اسماعيل بن ابى خالد: دا اسماعيل بن ابى خالد احمسى بجلى کوفى رحمه الله دې د ده اجمالى تذکره ((کتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده)) لاندې تېره شويده. (۴)

۴- عبدالله بن ابى اوفى رضى الله عنه: دا مشهور صحابى رسول ﷺ، حضرت عبدالله بن ابى اوفى اسلمى رضى الله عنهما دې. (۵)

قوله: يقول: دعا رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم الأحزاب على المشركين:
حضرت عبدالله بن ابى اوفى رضى الله عنهما فرمائى چه د غزوه احزاب (خندق) په موقع حضور ﷺ د مشرکانو خلاف بددعاء اوفرمائيله. دلته حضرت عبدالله بن ابى اوفى رضى الله عنهما د غزوه احزاب په موقع د رسول الله ﷺ نه د مشرکانو خلاف يوه بددعا ذکر کړېده، د کومې الفاظ چه وړاندې په حديث کښې راغى.

قوله: فقال: اللهم منزل الکتاب، سريع الحساب: نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ياالله!

---

۱) (قوله: عبدالله بن أبى أوفى رضى الله عنه: الحديث أخرجه البخارى أيضًا فى كتاب الجهاد باب كان النبى صلى الله عليه وسلم إذ لم يقاتل أول النهار... رقم (۲۹۶۵-۲۹۶۶) وباب لاتتمنوا لقاء العدو رقم (۳۰۲۴-۳۰۲۵) وكتاب المغازى باب غزوة الخندق..... رقم (۴۱۱۵) وكتاب الدعوات باب الدعاء على المشركين رقم (۶۳۹۲) وكتاب التوحيد باب قول الله تعالى ﴿أنزله بعلمه والملائكة يشهدون﴾ رقم (۷۴۸۹) كتاب الجهاد باب كراهية تمنى لقاء العدو ولأمر بالصبر عندا للقاء رقم(۴۵۴۲) وباب استحباب الدعاء بالنصر عندلقاء العدو رقم (۴۵۴۳) والترمذى أبواب الجهاد باب ماجاء فى الدعاء عندالقتال رقم (۱۶۷۸) وابن ماجه كتاب الجهاد باب القتال فى سبيل الله سبحانه تعالى رقم (۲۷۹۶)-

۲) (د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب مايقمع من النجات فى السمن-

۳) (كشف البارى (ج ۱ ص ۴۶۲)-

۴) (كشف البارى (ج ۱ ص ۶۷۹)-

۵) ددوى د حالاتو دپاره اوګورئ كتاب الوضوء باب من لم يرالوضوء إلا من المخرجين: من القبل والدبر

دَ کتاب نازلونکیه! او زر حساب اخستونکیه! دکتاب نه مراد قرآن کریم دې او دَ سریع الحساب نه علامه کرمانی رحمه الله دوه مطلبه بیان کړی دی:

① دا مطلب دې ((أنه سریع حسابه ومجیئ وقته)) دَ الله تعالی حساب او دَ هغې وخت زر راتلونکې دې.

② ((أوأنه سریع فی الحساب)) یا دا چه هغه په حساب کتاب کښې تیز دې. او زر نیول کوی.(۱)

په اولنی صورت کښې به ((سریع)) دَ حساب صفت وی او په دونم صورت کښې دَ الله تعالی صفت به وی.

قوله: اللهم اهزم الأحزاب، اللهم اهزمهم وزلزلهم: یا الله! دې ډلو ته شکست ورکړې یا الله دوی ته شکست ورکړې او ونی خوزوې.

مطلب دا چه یا الله دوی ذره ذره کړې او دَ دې دا غونډه ګډه وډه او خوره کړې دې دپاره چه دوی ته چرته هم آرام او سکون ملاونشی او هغوی چرته هم کلك پاتې نشی. (۲)

او علامه داؤدی فرمائی چه دَ رسول الله ﷺ مطلوب او مقصود دا وو چه دَ هغوی عقلونه ختم شی او په جنګ کښې دَ هغوی پښې اوخوئیږی.(۳)

نو دَ نبی علیه السلام دَ دې بددعا نتیجه ډیره زر ښکاره شوه او الله تعالی یوه ډیره تیزه سیلئی راولیګله، کومې سره چه دَ کفارو دَ لښکر ټولې خیمې راوولې دَ هغوی تنابونه پرې شو. کټوئی او نور سازوسامان ئی اوشندلې شو دَ څه په وجه چه کافران بدحواس شو او ویریدل او آخر ټول اوتښتیدل. (۴)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث ترجمه سره مناسبت ((اللهم اهزم الأحزاب، اللهم اهزمهم وزلزلهم)) کښې دې. (۵) په دې کښې نبی کریم ﷺ مشرکانو ته بددعا فرمائیلې او هم دغه مقصد د ترجمه هم وو.

دَ نبی اکرم ﷺ په بددعاکښې یو حکمت: دلته تاسو ګورئی چه نبی کریم ﷺ خودکافرانو اومشرکانو خلاف بددُعاء فرمائیلې ده چه دوی ماتې سره مخامخ شی ولې دَ هغوی دَ هلاکت او بربادئی بددُعاء ئی نه ده فرمائیلې.

دَ دې وجه دا ده چه په هزیمت او ماتې کښې دَ هغوی دَ ځانونو تلف کیدل نشته بلکه سلامتی ده، اوهمدغه سلامتی او عدم اتلاف دَ دې امر امید جوړیدلې شی چه هغوی په راتلونکی وخت کښې دَ کفر او شرك نه توبه کړی او په زړه او ځان سره اسلام کښې داخل شی او صحیح مقصد دَ نفوسو دَ هلاکت بددُعاء ختموی. یعنی که دَ هلاکت بددُعاء ئی

---

۱) (الکواکب الدراری (ج۱۲ص۱۸۲) وعمدة القاری (ج۱٤ص۲۰٤) وشرح القسطلانی (ج۵ص۱۰۸)-

۲) (فتح الباری (ج۶ص۱۰۶) وعمدة القاری (ج۱٤ ص۲۰٤) وشرح القسطلانی (ج۵ص۱۰۸)-

۳) (حواله بالا-

٤) (انظر کشف الباری. کتاب المغازی)ص۲۷۵)-

۵) (عمدة القاری (ج۱٤ص۲۰٤)-

كړې وه نو دا صحيح او عظيم مقصد به نه وو حاصل شوې. د دې نه پس تاريخ همدغه ګواهي ورکوي چه د دې غزوه احزاب نه بچ وتونکي ډير مشرکان په اسلام مشرف شو او هغوی ته د صحابيت عظيم شرف حاصل شو لکه حضرت ابوسفيان رضی الله عنه. علامه قسطلانی هم دا حکمت ذکر کولو سره ليکي: ((وإنما خص الدعاء عليهم بالهزيمة والزلزلة دون أن يدعو عليهم بالهلاك لأن الهزيمة فيها سلامة نفوسهم وقد يكون ذلك رجاء أن يتوبوا من الشرك، ويدخلوا في الإسلام، والإهلاك الماحق لهم مفوت لهذا المقصد الصحيح))(۱)

[۲۷۷۶] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ عَوْنٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(۲) قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ وَنَاسٌ مِنْ قُرَيْشٍ وَنُحِرَتْ جَزُورٌ بِنَاحِيَةِ مَكَّةَ فَأَرْسَلُوا فَجَاءُوا مِنْ سَلَاهَا وَطَرَحُوهُ عَلَيْهِ فَجَاءَتْ فَاطِمَةُ فَأَلْقَتْهُ عَنْهُ فَقَالَ اللَّهُمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ اللَّهُمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ اللَّهُمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ لِأَبِي جَهْلِ بْنِ هِشَامٍ وَعُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ وَشَيْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ وَالْوَلِيدِ بْنِ عُتْبَةَ وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ وَعُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ فَلَقَدْ رَأَيْتُهُمْ فِي قَلِيبِ بَدْرٍ قَتْلَى قَالَ أَبُو إِسْحَاقَ وَنَسِيتُ السَّابِعَ قَالَ أَبُو عَبْد اللَّهِ وَقَالَ يُوسُفُ بْنُ إِسْحَاقَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ أُمَيَّةُ بْنُ خَلَفٍ وَقَالَ شُعْبَةُ أُمَيَّةُ أَوْ أُبَيٌّ وَالصَّحِيحُ أُمَيَّةُ [ر: ۲۳۷]

رجال الحديث

۱- عبدالله بن ابى شيبه: دا ابوبكر عبدالله بن محمد بن ابى شيبه عيسى كوفى رحمه الله دې.(۳)

۲- جعفر بن عون: دا ابوعون جعفر بن عون بن جعفر بن عمرو بن حريث قرشى مخزومى رحمه الله دې. د دوی تذکره ((کتاب الإيمان باب زيادة الإيمان ونقصانه)) کښې تفصيل سره راغلې ده.(۴)

۳- سفيان: دا مشهور امام حديث ابوعبدالله سفيان بن سعيد بن مسروق ثورى كوفى رحمه الله دې. د دوی تذکره ((کتاب الإيمان باب علامة المنافق)) لاندې تيره شويده. (۵)

۴- ابواسحاق: دا ابواسحاق عمرو بن عبدالله بن عبيد سبيعى كوفى رحمه الله دې. د دوی حالات ((کتاب الإيمان باب الصلاة من الإيمان)) لاندې راغلې دی. (۶)

---

۱) (شرح القسطلانی (ج۵ص۱۰۸)-
۲) (قوله: عن عبدالله رضى الله عنه: الحديث مر تخريجه فى كتاب الوضوء باب إذا ألقى على ظهر المصلى قذر...
۳) (د دوی حالاتو دپاره اوګورئ كتاب العمل فى الصلاة باب لايرد السلام فى الصلاة-
۴) (كشف البارى (ج۲ص۴۶۹)-
۵) (كشف البارى (ج۲ص۲۷۸)-
۶) (كشف البارى)(ج۲ص ۳۷۰)-

۵- عمرو بن میمون: دامخضرمی تابعی حضرت ابویحیی عمرو بن میمون ازدی رحمه الله دی.[۱]
۶- عبدالله: دا مشهور صحابی حضرت عبدالله بن مسعود بن غافل بن حبیب هذلی رضی الله عنه دي. دَ ده مفصل حالات ((کتاب الإیمان باب ظلم دون ظلم)) لاندې تیرشوی دی. (۲)

قوله: قال: کان النبي صلی الله علیه وسلم یصلي في ظل الکعبة: حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی نبی کریم صلی الله علیه وسلم د کعبه په سورې کښې مونځ کولو.
په دې حدیث شریف کښې په نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندې دَ مکې دَ قریشو دَ سردارانو دَ طرف نه رواساتلې ظلمونو، زیاتو او شیطانو نه دَ یو بیان دې. مشهوره واقعه ده یو ځل نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ کعبه دَ سوری لاندې مونځ کولو نو ابوجهل دَ هغه ملګرو او چمچو هغوی صلی الله علیه وسلم په دې حالت کښې اولیدل نو ابوجهل اوونیل چه په مکه مکرمه کښې فلانکی کور کښې اوښ حلال شویدې دَ هغې لرې کولمې به څوك راوړی چه هغه دَ محمد (صلی الله علیه وسلم) په سټ باندې واچوی؟ نو دَ قوم یو بدبخت پاسیدو اوهغه لرې کولمې ئې راوړلې او هغه ئې دَ حضور صلی الله علیه وسلم په سټ مبارك باندې واچولې کوم وخت چه هغوی صلی الله علیه وسلم دَ سجدې په حالت کښې وو. دَ (کتاب الوضوء) په روایت کښې دی عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه دا ټوله معامله ما کتلې خو هیڅ مې نشو کولې. افسوس چه ماسره دومره طاقت وی (۳) او دَ مکې مشرکانو حضور صلی الله علیه وسلم سره ټوقې او مسخرې کولې. تردې چه حضرت فاطمه زهراء رضی الله عنها راغله او هغه لرې کولمې ئې دَ باباجان دَ سټ مبارك نه اخوا کړل نو په دې موقع حضور صلی الله علیه وسلم دَ دې مکې دَ مشرکانو خلاف بددعا اوفرمائیله دَکومې الفاظ چه دَ باب په حدیث کښې ذکر دی.

قوله: فقال: أبوجهل وناس من قریش، ونحرت جزور بناحیة مکة: نو ابوجهل او دَقریشو څه خلقو اوونیل دغه وخت دَ مکې مکرمې په یو کوټ کښې اوښ حلال کړیشوې وو.دلته دَ باب په روایت کښې دا خو ذکر دی چه ابوجهل او څه قریشیانو خلقو اوونیل لیکن څه ئې اوونیل (یعنی مقوله) محذوف ده او هغه محذوف مقوله دا ده: ((هاتوا من سلا الجزور التی نحرت)) (۴) او په دې حذف باندې دلیل دَ(کتاب الوضوء) وغیره روایت دې په کوم کښې چه دا الفاظ دی: ((إذقال بعضهم لبعض: أیکم یجئ، بسلی جزور بنی فلان....؟))(۵)
او ((ونحرت جزور بناحیة مکة)) جمله، جمله معترضه حالیه ده. (۶)

---

۱) (دَ دوی دَ حالاتودَ پاره اوګورئ کتاب الوضوء باب إذاألقی علی ظهر المصلی قذر-
۲) (کشف الباری (ج۲ص۲۷۵)-
(۳) الصحیح للبخاری کتاب الوضوء باب إذا ألقی علی ظهر المصلی قذر أوجیفة... رقم (۲۴۰)-
۴) (عمدة القاری (ج ۱۴ص۲۰۵)-
۵) (الصحیح للبخاری کتاب الوضوء باب إذا ألقی علی ظهرالمصلی قذر أو جیفة....رقم (۲۴۰)-
۶) (عمدة القاری (ج ۱۴ص۲۰۵)-

قوله: فأرسلوا فجاؤامن سلاها: نوهغوی سرې اولیګلو نوهغه ده‌غه لرې کولمې راوړلې.
مطلب دا چه ابوجهل، د هغه ملګرو او شیطانانو د مکې په یوغاړه کښې حلال کړېشوې اوښانو لرې کولمو د پاره سړې اولیګلو چه لاړو او هغه لرې راوړل.
لرې پسې تلونکې او راوړونکې هم یو سړې وو خو هغوی په دې عمل کښې شریك وو نو په دې وجه هغوی ټولوته نسبت اوکړېشو. د (کتاب الوضوء) په روایت کښې د حدیث الفاظ دا وارد شوی دی: ((فانبعث أشقى القوم، فجاء به....))(۱) چه د قوم بدبخت ترین سړې لاړو او هغه لرې کولمې ئې راوړې.
((السلی)) هغه جلئی ته وائی په کومه کښې چه بچې رااینغښتې شی نو که دا جلئی په خیټه کښې اوشلیږی نو مور او بچې دواړه مری. (۲)

قوله: قال عبدالله: فلقد رأیتهم فی قلیب بدر قتلی: حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وائی ما دې د بدر په کوهی کښې مردار اولیدلو. د
حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د قول مطلب دا دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم سردارانو د قریشو خلاف مکه مکرمه کښې کومې خیرې کړې وې د هغې نتیجه په غزوه بدر کښې ښکاره شوه. نو پخپله حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه هغه اووه کسان اوکتل چه هغه ټول د بدر په کوهی کښې مردار پراته وو. دغه شان الله تعالی د خپل نبی د بددعا عزت اوساتلو.
((قلیب))—بکسر اللام— هغه کوهی ته وائی د کوم چه غاړه نه وی، دا مذکر او مؤنث په دواړه قسمه استعمالیږی او د دې جمع قُلب، قُلُب او أقلبة راځی.(۳)
او قتلی د قتیل جمع ده او په معنی د مقتول ده او په ترکیب کښې د رأیت مفعول ثانی واقع کیږی.

قوله: قال أبوأسحاق: ونسیت السابع: ابواسحاق سبیعی رحمه الله فرمائی او مانه اووم هیر شو.
د پورتنی عبارت مقصد: په حدیث باب کښې به تاسو کتلې وی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د کومو کسانو خلاف بددعا فرمائیلې وه په هغې کښې د شپږو نومونه ذکر دی خو اووم نوم نشته.
ابواسحاق سبیعی رحمه الله دا فرمائی چه اووم نوم مانه هیرشویدې. کله چه ابواسحاق سبیعی رحمه الله دا حدیث حضرت سفیان ثوری ته واورولو نو هغه د اووم نوم ذکر نه کړو او د نسیان تصریح ئې اوکړه. (۴)

---

۱) الصحیح للبخاری کتاب الوضوء باب إذا ألقی علی ظهر المصلی قذر أو جیفة....رقم (۲۴۰)-
۲) (عمدة القاری (ج۱۴ص۲۰۵) وإرشاد الساری (ج۵ص۱۰۸) وجامع الأصول (ج۱۱ص۳۶۶) ومصباح اللغات مادة سلی-
۳) (عمدة القاری (ج۱۴ص۲۰۵) وإرشاد الساری (ج۵ص۱۰۸) وجامع الأصول (ج۱۱ص۳۶۶) ومصباح اللغات مادة قلب-
۴) (فتح الباری (ج۶ص۱۰۷) وعمدة القاری (ج۱۴ص۲۰۵) وشرح القسطلانی (ج۵ص۱۰۸)-

اوس سوال دا پيداكيږي چه دا اووم سړې څوك دې، نود دې جواب دا دې چه هغه سړې عمارة بن وليد دې اود دې تصريح په (كتاب الصلاة) (١) كښې دَ اسرائيل نه مروى روايت كښې موجوددې او دَ اسرائيل سماع دَ ابواسحاق نه ډير په اوچته درجه باندې ده، ځكه چه ابواسحاق دَ اسرائيل نيكه دې او دې به هروخت هغه سره وو.اسرائيل پخپله فرمائى((كنت احفظ حديث أبي إسحاق كما أحفظ سورة الحمد)) (٢)

قوله: قال: أبو عبدالله: قال يوسف بن إسحاق عن أبي إسحاق: أمية بن خلف....وقال شعبة: أمية أوأبي ،والصحيح: أمية:

د ذكرشوى تعليق مقصد: د امام بخارى رحمه الله مقصد د دې تعليق نه دا دې چه دَ ابواسحاق سبيعى نه دا روايت يوسف بن اسحاق هم روايت كړيدې كوم كښې چه اميه بن خلف دې او شعبه هم روايت كړيدې كوم كښې چه اميه يا ابى دې، يعنى شعبه ته په دې كښې شك شويدې، خود پلار روايت ئې كوم چه دَ سفيان ثورى رحمه الله نه دې په هغې كښې ابى دې نو امام بخارى رحمه الله دا فرمائى چه صحيح اميه دې نه چه ابى، ځكه چه ابى بن خلف خو پخپله حضور پاك ﷺ په غزوه احد كښې په خپلو لاسونو دوزخ ته رسولې وو. كه هغه چرته په بدر كښې مردارشوې وې نو په غزوه احد كښې دَ وژلو به څه مطلب وى؟ (٣)

دَ دواړو تعليقاتو تخريج: امام بخارى رحمه الله دلته دوه تعليقات ذكر كړى دى، يو دَ يوسف بن اسحاق او بل دَ شعبه.دَ يوسف بن اسحاق تعليق خو موصولاً امام بخارى رحمه الله په (كتاب الوضوء) كښې ذكر كړيدې.(۴) او دَ شعبه تعليق موصولاً امام بخارى رحمه الله په (كتاب الجزية الموادعة) او (كتاب مناقب الانصار) كښې روايت كړيدې. (۵) دَ دې نه علاوه امام بخارى رحمه الله هم دَ شعبه روايت موصولاً نقل كړيدې.

---

١) (صحيح البخارى كتاب الصلاة باب المرأة تطرح عن المصلى شيئا من الأذى رقم (٥٢٠)-

٢) (فتح البارى (ج١ص٣٥١)-

٣) (عمدة القارى(ج١٤ص٢٠٥) وإرشادالسارى (ج٥ص١٠٨)-

٤) (صحيح البخارى كتاب الوضوء باب إذا ألقى على ظهر المصلى قذر أو جيفة-

٥) (صحيح البخارى كتاب الجزية والمواعدة باب طرح جيف المشركين فى البئر.... رقم (٣١٨٥) وكتاب مناقب الأنصار باب مالقى النبى صلى الله عليه وسلم وأصحابه من المشركين بمكة رقم (٣٨٥٤)-

تنبيه: حافظ صاحب فتح البارى (ج۶ص١٠٧) او تغليق التعليق (ج٣ص٤٤٨) علامه عينى عمدة القارى (ج٣ص٢٠٥) اود دې دواړو حضراتو اتباع كولو سره علامه قسطلانى رحمه الله إرشاد السارى (ج٥ص ١٠٨) كښې دا ونيلى دى چه امام بخارى رحمه الله دَ شعبه تعليق موصولاً (كتاب المبعث) كښې نقل كړيدې. ليكن دې تولو حضراتو ته غالباً تسامح شويدې ځكه چه اول به په صحيح بخارى كښې داسې څه كتاب نشته دَ كوم نوم چه (كتاب المبعث) وى دَ هغې طرف ته دَ تعليق نسبت اوكړيشى. او دونم لكه څنګه چه مونږ په تخريج كښې ذكركړل، دا تعليق مصنف رحمه الله په دوو مقاماتو كښې موصولاً ذكر كړيدې او په دې دواړو مقاماتو كښې دَ شعبه دَ شك تصريح موجود ده-

او دَ حدیث باقي تشریحات به انشاء الله (کتاب الوضوء) کښې راځي.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله کښې دې ((اللهم علیك بقریش)) او په دې کښې هم هغه تقریر دې کوم چه دَ باب په نورو احادیثو کښې راغلي دي چه دَ الله تعالی نیول عام دی، که د شکست په ذریعه وی، که دَ زلزلې په ذریعه وي یا دَ نور قسم تکلیفونو او مشکلاتو په ذریعه وی (۱) دَ حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ په دې حدیث کښې هم دَ کفار قریش خلاف دَ رسول الله ﷺ بددعا قبوله شوه اودَ الله تعالی دَ طرف نه دَ هغوی سخت نیول اوشو.

فائده: دَ دې حدیث ټول رجال کوفیان دی، بیا په دې کښې دَ تابعی دَ تابعی نه روایت دې. ابو اسحاق سبیعی تابعی دې اوعمروبن میمون هم مخضرم تابعی دې چه دَصحابی نه روایت کوی(۲)

[۲۷۷۷] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا (۳) أَنَّ الْيَهُودَ دَخَلُوا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا السَّامُ عَلَيْكَ فَلَعَنْتُهُمْ فَقَالَ مَا لَكِ قُلْتُ أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا قَالَ فَلَمْ تَسْمَعِي مَا قُلْتُ وَعَلَيْكُمْ

[۵۶۷۸، ۵۶۸۳، ۵۹۰۱، ۶۰۳۸، ۶۵۲۸]

تراجم رجال

۱- سليمان بن حرب: داابوایوب سلیمان بن حرب بن بجیل ازدی رحمه الله دې. دَ ده حالات اجمالاً ((کتاب الإيمان باب من كره أن يعود في الكفر....)) لاندې تیرشوی دی. (۴)

۲- حماد: دا ابواسماعیل حماد بن زیدبن درهم ازدی بصری رحمه الله دې. دَ ده تذکره ((کتاب الإيمان باب ﴿وإن طائفتان من المؤمنين اقتتلوا فأصلحوا....)) لاندې راغلې ده. (۵)

۳- أيوب: دا ایوب بن ابی تمیمه کیسان سختیانی بصری رحمه الله دې. دَ دوی حالات ((کتاب الإيمان باب حلاوة الإيمان)) کښې راغلی دی. (۶)

---

۱) (عمدة القاری (ج۱٤ص۲۰۵)و فتح الباری (ج۶ص۱۰۶)-
۲) (شرح القسطلانی (ج۵ص۱۰۸)-
۳) (قوله: عن عائشة رضی الله عنها: الحديث أخرجه البخاری أيضًا فی كتاب الأدب باب الرفق فی الأمر كله رقم (۶۰۲٤) وباب لم يكن النبی صلی الله عليه وسلم فاحشا ولا متفحشا، رقم (۶۰۳۰) وكتاب الاستئذان باب كيف يردعلی أهل الذمة والسلام رقم (۶۲۵۶) وكتاب الدعوات باب دلدعاء علی المشركين رقم (۶۳۹۵) وباب ول النبی صلی الله عليه وسلم يستجاب الشافی اليهود، ولايستجاب لهم فينا رقم (۶٤۰۱) وكتاب استتابة المرتدين باب إذا عرض الذمی وغيره بسب النبی صلی الله عليه وسلم ولم يصرح..... رقم (۶۹۲۷) ومسلم كتاب السلام باب النهی عن ابتداء أهل الكتاب بالسلام وكيف يرد عليهم؟ رقم (۵۶۵۶) والترمذی أبواب الاستئذان باب ماجاء فی التسليم علی أهل الذمة رقم (۲۷۰۱)-
٤) (كشف الباری (ج۲ ص۱۰۵)-
۵) (كشف الباری (ج۲ص۲۱۹)-
۶) (كشف الباری (ج۲ص۲۶)-

۴-ابن ابی ملیکه: دا ابوبکر عبدالله بن عبیدالله بن ابی ملیکه تیمی قرشی رحمه الله دي. دَ دوی تذکره ((كتاب الإيمان باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله...)) په ذیل کښې تیره شوې ده.(۱)

۵-عائشه رضي الله عنها: دا ام المؤمنین حبیبة الرسول ﷺ حضرت عائشه بنت ابی بکر صدیق رضي الله عنهما ده، دَ دې حالات ((بدء الوحی)) په دونم حدیث کښې تیرشوی دی.(۲)

قوله: أن اليهود دخلوا....: دَ حضرت عائشه رضي الله عنها نه روایت دې چه یهود یوه ورځ نبی اکرم ﷺ له راغله او وئې ونیل چه ته دې مړشې نوماپه هغوی باندې لعنت اوملامتیا اوکړه. حضور ﷺ اوفرمائیل (اې عائشه) په تاڅه اوشو؟ ماونیل چه تاسو واونه ریده چه دې خلقو څه اوونیل؟وئې فرمائیل چه تا واونه ریدل چه ماڅه اووئیل وعلیکم یعنی تاسوله دې مرګ راشی.

دَ وعلیکم واو متعلق یو بحث: علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه دَ عامو محدثینو روایت خو همدغه دې چه واو دې باقی وی لیکن ابن عیینه رحمه الله دَ ((علیکم)) داکلمه بغیردَ واو نه روایت کوله او همدغه صحیح هم دی.

دَ دې وجه دا ده که چرې واو حذف کړیشی نو دَ هغوی دا پورته ذکر شوې قول به بعینه په هغوی راواپس کیږی او دَ واو داخلولو په صورت کښې په صفت او بد دعا کښې اشتراک ثابتیږی. یعن ځنګه چه دَ دې یهودیانودپاره به بددعا وی هغه شان به دَ حضور ﷺ دَ پاره هم وی (العیاذبالله) ځکه چه واو حرف عطف دې او دَ دوو څیزونو دَ یوځائ کولو او شریکولو دَ پاره استعمالیږی. (۳)

علامه قرطبی فرمائی چه دلته واو زائده دې او په زائده کیدلوکښې هیڅ اشکال نشته اودا هم ونیلی شوی دی چه استئنافیه دې اودَ واو استئنافیه دَ ماقبل سره ربط او تعلق نه وی نو په دې صورت کښې به مطلب داوی چه مرګ دې هم په تاسووی. په دې صورت کښې اشتراک بین الامرین نه دې، دَ هغوی هم دا رائې ده چه دَواو حذف کول په معنوی اعتبار سره احسن دې خودَ دې اثبات اصح او مشهور روایت دې. (۴)

علامه ابومحمد المنذری رحمه الله فرمائی چه دَ سام دوه تفسیرونه شوی دی مرګ او سټړیوالې، کومو حضراتو چه دَ سام تفسیر په مرګ سره کړیدې دَ هغوی په نزد دَ واو په اثبات کښې هیڅ خرابی نشته او کومو حضراتو چه دَدې تفسیر سآمه (خفګان او سټړیوالې) سره کړیدې نودَ هغوی په نزد دَ واو حذف بهتر دې.(۵)

---

۱) (کشف الباری (ج۲ص۵٤۸)-
۲) (کشف الباری (ج۱ص۲۹۱)-
۳) (عمدة القاری (ج۱٤ص۲۰۶)-
٤) (حواله بالا-
۵) (حواله بالا-

دَ حدیث باب نوره تشریح به انشاء الله (کتاب الأدب) (١) او (کتاب الاستئذان) کښې راځي.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث باب ترجمة الباب سره مطابقت ((وعلیکم)) نه حاصلیږي. ځکه چه دَ دې معنی دا ده چه تاسو دې هم مړه شئ او دا دَ نبی کریم ﷺ دَ طرف نه دَ یهودیانو خلاف بددعا وه. (٢)

اودَ دې حدیث په بعض طرق کښې داهم راغلی دی ((یستجاب لنا فیهم، ولایستجاب لهم فینا))(٣) چه زمونږ دعاګانې خودَ هغې خلاف قبلیږی ولې دَ هغوی دعاګانې زمونږ خلاف نه قبلیږي. دَ دې طریق نه دا معلومه شوه چه دَ مشرکانو خلاف بددعا کول جائز دی. سره دَ دې چه بددعا کونکی (داعی) ته دا ویره وی چه هغوی هم دَ ده خلاف بددعا کوی. (۴)

((وهذا آخر ما أردنا إیراده هنا من شرح أحادیث کتاب الجهاد والسیر من صحیح البخاری رحمه الله، للشیخ المحدث الجلیل سلیم الله خان حفظه الله ورعاه ومتعنا الله بطول حیاته بصحة وعافیة، وقد وقع الفراغ من تسویده، وإعادة النظر فیه، ثم تصحیح ملازم الطبع بیوم الثلثاء ٢٠ جمادی الأولی ١٤٢٦ هجری الموافق ٢٨ یونیوه ٢٠٠٥م، والحمدلله الذی بنعمته تتم الصالحات، وصلی الله علی النبی الأمی وآله وصحبه وتابعیهم وسلم علیه مادامت الأرض والسموات، رتبه وراجع نصوصه وعلق علیه حبیب الله محمد زکریا عضو قسم التحقیق والتصنیف والأستاذ بالجامعة الفاروقیة، ووفقه الله تعالی لاتمام باقی الکتب کما یحبه ویرضاه وهو علی کل شئ قدیر، ولاحول ولاقوة إلا بالله العلی العظیم، ویلیه إن شاء الله))

باب هل یرشد المسلم أهل أو یعلمهم الکتاب؟

....

د ترجمې کمپوزنګ ،او سیټنګ نه نن د ګل په ورځ
دریمه ذوالقعده ١٤٢٨هـ مطابق ١٢ نومبر ٢٠٠٧ فارغ شو

---

١) (کشف الباری کتاب الأدب(ص٣٩٣و ٣٩٩)-
(٢)(عمدةالقاری (ج١٤ص٢٠۶)-
٣) (صحیح البخاری کتاب الدعوات باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: یستجاب لنا فی الیهود.... رقم: ٦٤٠١) ومسلم کتاب السلام باب النهی عن ابتداء أهل الکتاب بالسلام..... رقم (٥۶۶٠) غیر أنه من روایة جابر بن عبدالله رضی الله عنهما-
٤) (فتح الباری (ج۶ص١٠٧)-

مصادر و مراجع

القرآن الكريم

۱۔ الابواب والتراجم لصحیح البخاری ۔حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب الکاندھلوی رحمه الله تعالیٰ . متوفیٰ ۱۴۰۲ھ / ۱۹۸۲ء . ایچ ایم سعید کمپنی کراچی۔

۲۔ اتحاف السادۃ المتقین بشرح اسرار احیاء علوم الدین ۔ علامه سید محمد بن محمد الحسینی الزبیدی المشهور بمرتضی ، رحمه الله تعالی ، متوفی ۱۲۰۵ھ ۔ دار الکتب العلمیة بیروت۔

۳۔ الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان ۔ امام ابو حاتم محمد بن حبان بستی رحمه الله تعالیٰ ،متوفیٰ ۳۵۴ھ ۔ مؤسسة الرسالة بیروت۔

۴۔ احکام القرآن امام ابو بکر احمد بن علی رازی جصاص رحمه الله متوفیٰ ۳۷۰ھ دار الکتاب العربی بیروت۔

۵۔ احیاء علوم الدین ۔ امام محمد بن محمد الغزالی رحمه الله ، متوفیٰ ۵۰۵ھ ، دار احیاء التراث العربی۔

۶۔ الادب المفرد مع شرح فضل الله الصمد ۔ امیر المؤمنین فی الحدیث محمد بن اسماعیل البخاری ، رحمه الله تعالی ، المتوفی ۲۵۶ھ ، مکتبة الایمان ، المدینة المنورة۔

۷۔ ارشاد الساری شرح صحیح البخاری ۔ ابو العباس شهاب الدین احمد القسطلانی ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفیٰ ۹۲۳ھ ، المطبعة الکبریٰ الامیریة مصر ، طبع سادس ۱۳۰۴ھ ۔

۸۔ الاستاذ المودودی و شیئ من حیاته و افکاره ۔ الاستاذ العلامة السید محمد یوسف البنوری ، رحمه الله ، المتوفی ۱۳۹۷ھ ، المکتبة البنوریة کراتشی۔

۹۔ الاستیعاب فی اسماء الاصحاب (بهامش الاصابة) ۔ ابو عمر یوسف بن عبدالله بن محمد بن عبد البر ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفیٰ ۴۶۳ھ ۔ دار الفکر بیروت ۔

۱۰ ۔ اسد الغابة فی معرفة الصحابة ۔ عز الدین ابو الحسین علی بن محمد الجزری المعروف بابن الاثیر ، رحمه الله تعالیٰ ، المتوفیٰ ۶۳۰ھ ، دار الکتب العلمیة بیروت۔

۱۱۔ الاصابة فی تمییز الصحابة ۔ شهاب الدین ابو الفضل احمد بن علی العسقلانی المعروف بابن حجر ،رحمه الله تعالی ، المتوفی ۸۵۲ھ ۔ دالفکر بیروت ۔

۱۲۔اعلام الحدیث ۔ امام ابو سلیمان حمد بن محمد الخطابی ، رحمه الله تعالی ، متوفی ۳۸۸ھ ۔ مرکز احیاء التراث الاسلامی جامعة ام القری مکه مکرمه۔

۱۳۔ اعلاء السنن ۔علامه ظفر احمد عثمانی ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفیٰ ۱۳۹۴ھ ، ادارۃ القرآن کراچی ۔

۱۴۔ اکمال اکمال المعلم شرح صحیح المسلم ۔ ابو عبد الله محمد بن خلفة الوشتانی الابی المالکی ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفی ۸۲۷ھ ۔ یا ۸۲۸ھ ۔ دار الکتب العلمیة ، بیروت ۔

۱۵۔ امداد الفتاوی ، حکیم الامت اشرف علی بن السید عبد الحق العمروی التهانوی ، رحمه الله تعالی ، متوفی ۱۳۶۲ھ مکتبه دار العلوم کراچی۔

۱۶۔ الانساب ۔ ابو سعد عبد الکریم بن محمد بن منصور السمعانی ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفیٰ ۵۶۲ھ ۔ دار الجنان بیروت، طبع اول ۱۴۰۸ھ / ۱۹۸۸م ۔

١٧۔ اوجز المسالک الیٰ مؤطا مالک ۔ شیخ الحدیث حضرت مولانا زکریا صاحب کاندھلوی ، رحمہ اللہ ، متوفی ١٤٠٢ھ ، مطابق ١٩٨٢ء۔ ادارہ تالیفات اشرفیہ ، ملتان۔
١٨۔ بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع ۔ ملک العلماء علاء الدین ابو بکر بن مسعود الکاسانی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ٥٨٧ھ۔ ایچ ایم سعید کمپنی کراچی۔
١٩۔ بدایۃ المجتهد ۔ علامہ قاضی ابو الولید محمد بن احمد بن رشد قرطبی ، متوفی ٥٩٥ھ ، مصر طبع خاص۔
٢٠۔ البدایۃ والنہایۃ ۔ حافظ عماد الدین ابو الفداء اسماعیل بن عمر المعروف بابن کثیر ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ٧٧٤ھ۔ مکتبۃ المعارف بیروت ، طبع ثانی ١٩٧٧ء۔
٢١۔ البدر الساری حاشیۃ فیض الباری ۔ حضرت مولانا بدر عالم میرٹھی صاحب ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ١٣٨٥ھ۔ ربانی بکڈپو دھلی ، ١٩٨٠ء۔
٢٢۔ بذل المجهود فی حل ابو داؤد ۔ علامہ خلیل احمد سہارنپوری ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ١٣٤٦ھ۔ مطبعة ندوة العلماء لکھنؤ ١٣٩٣ھ / ١٩٧٣ء۔
٢٣۔ البنایۃ شرح الهدایۃ ۔ العلامۃ بدر الدین عینی محمود بن احمد ، رحمہ اللہ ، متوفی ٨٥٥ھ ، مکتبہ رشیدیہ ، کوئٹہ۔
٢٤۔ بیان القرآن ۔ حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تھانوی رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ١٣٦٢ھ۔ شیخ غلام علی اینڈ سنز لاهور۔
٢٥۔ تاج العروس من جواهر القاموس ۔ ابو الفیض سید محمد بن محمد المعروف بالمرتضیٰ الزبیدی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ١٢٠٥ھ ، دار مکتبۃ الحیاۃ ، بیروت۔
٢٦۔ تاریخ بغداد او مدینۃ السلام ۔ حافظ احمد بن علی المعروف بالخطیب البغدادی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ٤٦٣ھ۔ دار الکتاب العربی بیروت۔
٢٧۔ تاریخ الخلفاء للامام السیوطی بتحقیق محیی الدین عبد الحمید رحمہ اللہ منشورات الشریف الرضی
٢٨۔ تاریخ عثمان بن سعید الدارمی ، المتوفی ٢٨٠ھ ، عن ابی زکریا یحیی بن معین ، المتوفی ٢٣٣ھ ، دار المامون للتراث ، ١٤٠٠ھ۔
٢٩۔ التاریخ الصغیر ۔ امیر المؤمنین فی الحدیث محمد بن اسماعیل البخاری ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ٢٥٦ھ المکتبۃ الاثریۃ ، شیخوپورہ۔
٣٠۔ التاریخ الکبیر ۔ امیر المؤمنین فی الحدیث محمد بن اسماعیل البخاری ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ٢٥٦ھ۔ دار الکتب العلمیۃ بیروت۔
٣١۔ تالیفات رشیدیہ ۔ الامام الربانی رشید احمد گنگوهی قدس سرہ المتوفی ١٣٢٣ھ ، ادارہ اسلامیات۔
٣٢۔ تحفۃ الاحوذی ۔ الشیخ عبد الرحمن المبارکفوری ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، المتوفی ١٣٥٣ھ ، نشر السنۃ ملتان۔
٣٣۔ تحفۃ الاشراف بمعرفۃ الاطراف ۔ ابو الحجاج جمال الدین یوسف بن عبد الرحمن المزی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ٧٤٢ھ۔ المکتب الاسلامی بیروت ، طبع دوم ١٤٠٣ھ / ١٩٨٣ء۔
٣٤۔ تدریب الراوی بشرح تقریب النواوی ۔ حافظ جلال الدین عبد الرحمن سیوطی رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ٩١١ھ۔ المکتبۃ العلمیۃ مدینہ منورہ۔

۳۵۔ تذكرة الحفاظ ۔ حافظ ابو عبد الله شمس الدين محمد بن عثمان ذهبى ، رحمه الله تعالىٰ . متوفى ۷۴۸ ھ ، دائرة المعارف العثمانية ، الهند۔
۳۶۔ الترغيب و الترهيب ۔ امام عبد العليم بن عبد القوى المنذرى ، رحمه الله ، المتوفى ۶۵۶ ھ ، دار احياء التراث العربى ، بيروت ، الطبعة الثالثة ، ۱۳۸۸ ھ / ۱۹۶۸ م۔
۳۷۔ تعليقات على بذل المجهود ۔ شيخ الحديث محمد زكريا كاندهلوى رحمه الله تعالىٰ ، المتوفى ۱۴۰۲ ھ ، المكتبة التجارية ، ندوة العلماء لكهنؤ ، الطبعة الثالثة ۱۳۹۳ ھ / ۱۹۷۳ م ۔
تاريخ الطبرى ، انظر (تاريخ الامم و الملوک)۔
۳۸۔ تعليقات على تهذيب التهذيب ۔ المطبوع بذيل تهذيب التهذيب ۔
۳۹۔ تعليقات على تهذيب الكمال دكتور بشار عواد معروف حفظه الله تعالىٰ ، مؤسسة الرسالة طبع اول ۱۴۱۳ ھ
۴۰۔ تعليقات على الكاشف للذهبى ۔ شيخ محمد عوامة / شيخ احمد محمد نمر الخطيب حفظهما الله ، مؤسسة دار القبلة / مؤسسة علوم القرآن ، الطبعة الاولىٰ ۱۴۱۳ ھ۔
۴۱۔ تعليقات على الكوكب الدرى ۔ مولانا شيخ الحديث مولانا محمد زكريا الكاندهلوى ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفىٰ ۱۴۰۲ ھ۔
۴۲۔ تعليقات على لامع الدرارى شيخ الحديث مولانا محمد زكريا صاحب رحمه الله تعالىٰ متوفىٰ ۱۴۰۲ ھ / ۱۹۸۲ م
۴۳۔ تعليقات على معجم الصحابة جماعة من العلماء والمحقيقين مكتبه نزار مصطفى الباز مكة / الرياض
۴۴۔ تغليق التعليق ۔ حافظ احمد بن على المعروف بابن حجر رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۸۵۲ ھ ، المكتب الاسلامى ، ودار عمار ۔
۴۵۔ تفسير الطبرى (جامع البيان) ۔ امام محمد بن جرير الطبرى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفى ۳۱۰ ھ ، دار المعرفة ، بيروت ۔
۴۶۔ تفسير القرآن العظيم ۔ حافظ ابو الفداء عماد الدين اسماعيل بن عمر ابن كثير دمشقى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۷۷۴ ھ ، دار احياء الكتب العربية۔
۴۷۔ تفسير القرطبى (الجامع لاحكام القرآن) ۔ امام ابو عبد الله محمد بن احمد الانصارى القرطبى ، رحمه الله تعالىٰ متوفى ۶۷۱ ھ ، دار الفكر ، بيروت۔
۴۸۔ تفهيم القرآن ۔ السيد ابو الاعلى المودودى ، ادارة ترجمان القرآن ، لاهور۔
۴۹۔ تقريب التهذيب ۔ حافظ ابن حجر عسقلانى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۸۵۲ ھ ۔ دار الرشيد حلب ۱۴۰۶ ھ۔
۵۰۔ تقرير الجنجوهى على الصحيحين۔
۵۱۔ تكملة فتح الملهم ۔ حضرت مولانا محمد تقى عثمانى صاحب مدظلهم ، مكتبه دار العلوم كراچى ۔
۵۲۔ التلخيص الحبير فى تخريج احاديث الرافعى الكبير ۔ حافظ ابن حجر عسقلانى رحمه الله ، متوفىٰ ۸۵۲ ھ ۔ دار نشر الكتب الاسلامية لاهور ۔
۵۳۔ تلخيص المستدرک (مع المستدرک) ۔ حافظ شمس الدين محمد بن احمد عثمان ذهبى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۷۴۸ ھ ، دار الفكر بيروت ۔

۵۴ ـ التمهید لما فی الموطا من المعانی و الاسانید ـ حافظ ابو عمر یوسف بن عبد اللہ بن محمد عبد البر مالکی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۴۶۳ھ ـ المکتبۃ التجاریۃ، مکۃ المکرمۃ۔
۵۵ ـ تنزیہ الشریعۃ المرفوعۃ عن الاحادیث الشنیعۃ الموضوعۃ ـ الامام ابو الحسن علی بن محمد بن عراق الکنانی، رحمه الله، المتوفی ۹۶۳ھ، دار الکتب العلمیۃ بیروت، الطبعۃ الثانیۃ ۱۴۰۱ھ۔
۵۶ ـ تنظیم الاشتات فی حل عویصات المشکوۃ ـ مولانا العلام ابو الحسن رحمه الله تعالیٰ، میر محمد کتب خانہ کراچی۔
۵۷ ـ تهذیب الاسماء و اللغات ـ امام محیی الدین ابو زکریا یحیی بن شرف النووی، رحمه الله تعالیٰ، متوفیٰ ۶۷۶ھ ـ ادارۃ الطباعۃ المنیریۃ۔
۵۸ ـ تهذیب تاریخ دمشق الکبیر ـ الامام الحافظ ابو القاسم علی المعروف بابن عساکر الشافعی، رحمه الله، المتوفی ۵۷۱ھ، دار المسیرۃ، بیروت، الطبعۃ الثانیۃ ۱۳۹۹ھ / ۱۹۷۹م۔
۵۹ ـ تهذیب التهذیب ـ حافظ ابن حجر عسقلانی، رحمه الله تعالیٰ، متوفیٰ ۸۵۲ھ ـ دائرۃ المعارف النظامیۃ، حیدر آباد دکن ۱۳۲۵ھ۔
۶۰ ـ تهذیب الکمال ـ حافظ جمال الدین ابو الحجاج یوسف بن عبد الرحمن مزی، رحمه الله تعالیٰ، متوفیٰ ۷۴۲ھ ـ مؤسسۃ الرسالۃ، طبع اول، ۱۴۱۳ھ۔
۶۱ ـ الثقات لابن حبان ـ حافظ ابو حاتم محمد بن حبان بستی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۳۵۴ھ، دائرۃ المعارف العثمانیۃ، حیدر آباد، ۱۳۹۳ھ۔
۶۲ ـ جامع الاصول من حدیث الرسول ـ علامہ مجد الدین ابو السعادات المبارک بن محمد بن الاثیر الجزری، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۶۰۶ھ، دار الفکر، بیروت۔
جامع البیان (دیکھئے، تفسیر الطبری)
۶۳ ـ جامع الترمذی (سنن ترمذی) ـ امام ابو عیسیٰ محمد بن عیسیٰ بن سورۃ الترمذی، رحمه الله تعالیٰ، متوفیٰ ۲۷۹ھ ـ ایچ ایم سعید کمپنی / دار احیاء التراث العربی۔
الجامع لاحکام القرآن (تفسیر القرطبی)۔
۶۴ ـ الجرح والتعدیل، الامام الحافظ عبد الرحمن بن ابی حاتم الرازی، رحمه الله تعالیٰ، المتوفیٰ ۳۲۷ھ، دار الکتب العلمیۃ، بیروت، الطبعۃ الاولی ۱۴۲۲ھ / ۲۰۰۲م۔
۶۵ ـ جمع الوسائل فی شرح الشمائل ـ الامام علی بن سلطان القاری، رحمه الله، متوفی ۱۰۱۴ھ، ادارہ تالیفات اشرفیہ ملتان۔
حاشیۃ تهذیب الکمال ـ (دیکھئے تعلیقات تهذیب الکمال)۔
۶۶ ـ حاشیۃ تفہیم البخاری ـ مولانا ظہور الباری، فاضل دار العلوم دیوبند۔
۶۷ ـ حاشیۃ الجمل علی الجلالین (الفتوحات الالہیۃ) ـ الامام العلام سلیمان الجمل، رحمه الله تعالیٰ، المتوفی ۱۲۰۴ھ، قدیمی کتب خانہ کراتشی۔
۶۸ ـ حاشیۃ سبط ابن العجمی علی الکاشف ـ امام برہان الدین ابراہیم بن محمد سبط ابن العجمی الحلبی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۸۴۱ھ، شرکۃ دار القبلۃ / مؤسسۃ علوم القرآن۔

۶۹۔ حاشیة السندی علی البخاری ۔ امام ابو الحسن نور الدین محمد بن عبد الهادی السندی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۱۱۳۸ھ ، دار المعرفة ، بیروت۔

۷۰۔ حاشیة السہارنفوری المطبوع مع صحیح البخاری ۔ مولانا احمد علی السہارنفوری ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، المتوفی ۱۲۹۷ھ ، طبع قدیمی کتب خانہ کراتشی ۔

۷۱۔ حلیة الاولیاء ۔ حافظ ابو نعیم احمد بن عبد اللہ بن احمد الاصبہانی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۴۳۰ھ ۔ دار الفکر بیروت۔

۷۲۔ حیاة الحیوان ۔ الامام ابو البقاء کمال الدین محمد بن موسی بن عیسی الدمیری ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، المتوفی ۸۰۸ھ ، شرکة مصطفی الحلبی بمصر ، الطبعة الثالثة ۱۳۷۶ھ / ۱۹۵۶م ۔

۷۳۔ الخصائص الکبری ۔ الامام جلال الدین سیوطی ، رحمہ اللہ ، المتوفی ۹۱۱ھ ، دار الکتب العلمیة ، بیروت ۔

۷۴۔ خلاصة الخزرجی ، (خلاصة تذهیب تهذیب الکمال) ۔ علامہ صفی الدین خزرجی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۹۲۳ھ کے بعد ۔ مکتب المطبوعات الاسلامیة بحلب۔

۷۵۔ دائرہ معارف اسلامیہ (اردو) ۔ اساتذہ جامعہ پنجاب ، دانش گاہ پنجاب ، لاہور ، نقش ثانی ۱۴۰۰ھ / ۱۹۸۰م

۷۶۔ الدر المختار ۔ علامہ علاء الدین محمد بن علی بن محمد الحصکفی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۱۰۸۸ھ ، مکتبہ عارفین ، پاکستان چوک کراچی ۔

۷۷۔ دلائل النبوة الحافظ ابو بکر احمد بن الحسین بن علی البیہقی رحمہ اللہ متوفی ۴۵۸ھ مکتبہ اثریہ لاہور

۷۸۔ ذخائر المواریث فی الدلالة علی مواضع الحدیث ۔ العلامة عبد الغنی بن اسماعیل بن عبد الغنی النابلسی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۱۱۴۳ھ ۔ دار المعرفة بیروت ۔

۷۹۔ رد المحتار ۔ علامہ محمد امین بن عمر بن عبد العزیز عابدین شامی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۱۲۵۲ھ ، مکتبہ رشیدیہ ، کوئٹہ۔

۸۰۔ رسالة شرح تراجم ابواب البخاری (مطبوعہ مع صحیح البخاری) ۔ حضرت مولانا شاہ ولی اللہ ، رحمہ اللہ ، متوفی ۱۱۷۶ھ ، قدیمی کتب خانہ کراچی ۔

۸۱۔ روح المعانی فی تفسیر القرآن العظیم و السبع المثانی ۔ ابو الفضل شہاب الدین سید محمود آلوسی بغدادی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۱۲۷۰ھ ، مکتبہ امدادیہ ، ملتان ۔

۸۲۔ ریاض الصالحین ۔ الامام یحیی بن شرف النووی الدمشقی رحمہ اللہ تعالیٰ ، المتوفی ۶۷۶ھ ۔ قدیمی کتب خانہ کراتشی۔

۸۳۔ زاد المعاد من هدی خیر العباد ۔ حافظ شمس الدین ابو عبد اللہ محمد بن ابی بکر المعروف بابن القیم ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۷۵۱ھ ، مؤسسة الرسالة ۔

۸۴۔ سنن ابن ماجہ ۔ امام ابو عبد اللہ محمد بن یزید بن ماجہ ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۲۷۳ھ ، قدیمی کتب خانہ کراچی / دار الکتاب المصری قاہرہ ،

۸۵۔ سنن ابی داؤد ۔ امام ابو داؤد سلیمان بن الاشعث السجستانی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۲۷۵ھ ۔ ایچ ایم سعید کمپنی / دار احیاء السنة النبویة۔

۸۶۔ سنن الدار قطنی ۔حافظ ابو الحسن علی بن عمر الدارقطنی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفیٰ ۳۸۵ ھ ، دار نشر الکتب العلمیۃ ، بیروت ، الطبعۃ الثانیۃ ، ۱۴۲۴ھ / ۲۰۰۳م ۔
۸۷۔ سنن الدارمی ۔امام ابو محمد عبد اللہ بن عبد الرحمن الدارمی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفیٰ ۲۵۵ھ ۔ قدیمی کتب خانہ کراچی ۔
۸۸۔ السنن الصغریٰ للنسائی ۔امام ابو عبدالرحمن احمد بن شعیب النسائی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفیٰ ۳۰۳ ھ ، قدیمی کتب خانہ کراچی / دارالسلام ریاض۔
۸۹۔ السنن الکبری للنسائی ۔ امام ابو عبد الرحمن احمد بن شعیب النسائی ، رحمہ اللہ تعالی ، متوفی ۳۰۳ھ ۔ نشر السنۃ ملتان۔
۹۰۔ السنن الکبری للبیہقی ۔ امام حافظ ابو بکر احمد بن الحسین بن علی البیہقی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفیٰ ۴۵۸ھ ۔ نشر السنۃ ملتان ۔
۹۱۔ سیر اعلام النبلاء ۔حافظ ابو عبد اللہ شس الدین محمد بن احمد بن عثمان ذہبی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفیٰ۷۴۸ھ ۔ مؤسسۃ الرسالۃ۔
۹۲۔ السیرۃ الحلبیۃ (انسان العیون) ۔ علامہ علی بن برہان الدین الحلبی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۱۰۴۴ھ ۔ المکتبۃ الاسلامیۃ ، بیروت۔
۹۳ ۔ السیرۃ النبویۃ ۔ الامام ابو محمد عبد الملک بن ہشام المعافری ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، المتوفی۲۱۳ھ ۔ مطبعۃ مصطفی البابی ، الحلبی ، ۱۳۵۵ھ /۱۹۳۶م ۔
۹۴ ۔ شرح ابن بطال ، امام ابو الحسن علی بن خلف بن عبد الملک ، المعروف بابن بطال ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفیٰ۴۴۹ھ ، مکتبہ الرشد ، الریاض ، الطبعۃ الاولیٰ ، ۱۴۲۰ھ / ۲۰۰۰م ۔
۹۵ ۔ شرح الزرقانی علی المؤطا ۔ شیخ محمد بن عبد الباقی بن یوسف الزرقانی المصری ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۱۱۲۲ھ ، دار الفکر ، بیروت ۔
شرح الطیبی (دیکھیے ، الکاشف عن حقائق السنن)
۹۶ ۔ شرح العقائد النسفیۃ ۔ علامہ سعد الدین مسعود بن عمر التفتازانی ، رحمہ اللہ تعالی ، متوفی ۷۹۱ھ ۔ مکتبہ حبیبیہ کوئٹہ۔
شرح القسطلانی (دیکھیے ارشاد الساری)
۹۷ ۔ شرح الکرمانی (الکواکب الدراری) ۔علامہ شمس الدین محمد بن یوسف بن علی الکرمانی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفیٰ ۷۸۶ھ ، دار احیاء التراث العربی۔
۹۸۔ شرح المناوی بہامش جمع الوسائل ۔ الامام عبد الرؤف المناوی المصری ، رحمہ اللہ تعالی ، ادارۃ تالیفات اشرفیہ ، ملتان۔
۹۹۔ شرح النووی علی صحیح مسلم ۔ امام ابو زکریا یحییٰ بن شرف النووی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، المتوفیٰ ۶۷۶ھ ، قدیمی کتب خانہ کراچی ۔
۱۰۰۔ الشمائل المحمدیۃ للترمذی بشرح المواہب اللدنیۃ للبیجوری ، الامام ابو عیسی محمد بن عیسی بن سورۃ الترمذی ، المتوفی ۲۷۹ھ ، فاروقی کتب خانہ ملتان ۔

۱۰۱۔ شہید کربلا اور یزید ۔ حکیم الاسلام قاری محمد طیب صاحب، رحمہ اللہ تعالیٰ، ادارہ اسلامیات، انارکلی، لاہور، کراچی الطبعۃ الاولی ۱۹۷۶م ۔
۱۰۲۔ شیعیت کا اصلی روپ ۔ غلام محمد، مطبع غلام محمد، حیدر آباد سندھ۔
۱۰۳۔ الصحیح للبخاری ۔امام ابو عبداللہ محمد بن اسمعیل البخاری، رحمہ اللہ تعالیٰ، المتوفیٰ ۲۵۶ ھ، قدیمی کتب خانہ، کراچی / دار السلام، ریاض، الطبعۃ الاولیٰ ۱۴۱۷ھ۔
۱۰۴۔ الصحیح لمسلم ۔ امام مسلم بن الحجاج القشیری النیسابوری، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفیٰ ۲۶۱ ھ، قدیمی کتب خانہ، کراچی / دار السلام، ریاض۔
۱۰۵۔ الصواعق المحرقۃ ۔ علامہ شہاب الدین احمد بن محمد علی بن حجر الہیثمی المکی، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفی ۹۷۴ھ، مکتبۃ القاھرۃ، مصر۔
۱۰۶۔ الطبقات الکبریٰ ۔ امام ابو محمد بن سعد، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفیٰ ۲۳۰ھ ۔ دار صادر بیروت۔
۱۰۷۔ طرح التثریب فی شرح التقریب ۔ امام زین الدین، ابو الفضل عبد الرحیم بن الحسین العراقی، المتوفی ۸۰۶ھ ۔ و ولدہ الحافظ ابو زرعۃ العراقی، المتوفی ۸۲۶ھ، مکتبہ نزار مصطفی الباز، مکۃ المکرمۃ۔
۱۰۸۔ عمدۃ القاری ۔الامام بدر الدین ابو محمد بن محمود احمد العینی، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفی ۸۵۵ھ، ادارۃ الطباعۃ المنیریۃ۔
۱۰۹۔ عون المعبود شرح سنن ابی داود ۔ شمس الحق عظیم آبادی، دار الفکر بیروت، لبنان۔
۱۱۰۔ فتاویٰ رشیدیہ ۔ الامام الربانی رشید احمد گنگوہی قدس سرہ المتوفی ۱۳۲۳ ھ ایچ ایم سعید۔
۱۱۱۔ فتاوی قاضی خان بہامش الفتاوی الہندیۃ (العالمگیریۃ) ۔ الامام فخر الدین حسن بن منصور الفرغانی، رحمہ اللہ تعالی، المتوفی ۵۹۲ھ، نورانی کتب خانہ پشاور۔
۱۱۲۔ الفتاوی الہندیۃ (العالمگیریۃ) ۔ العلامۃ الامام الشیخ نظام و جماعۃ من علماء الہند ۔ نورانی کتب خانہ پشاور۔
۱۱۳۔ فتح الباری ۔ حافظ احمد بن علی المعروف بابن حجر العسقلانی، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفیٰ ۸۵۲ھ ۔ دار الفکر بیروت۔
۱۱۴۔ فتح القدیر ۔ امام کمال الدین محمد بن عبدالواحد المعروف بابن الہمام، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفیٰ ۸۶۱ھ ۔مکتبہ رشیدیہ کوئٹہ۔
۱۱۵۔ فتح المغیث شرح الفیۃ الحدیث ۔ امام ابو عبداللہ محمد بن عبد الرحمن السخاوی رحمہ اللہ تعالی، المتوفی ۹۰۲ھ، دار الامام الطبری، الطبعۃ الثانیۃ ۱۴۱۲ھ / ۱۹۹۲م ۔
۱۱۶۔ فیض الباری ۔ امام العصر علامہ انور شاہ کشمیری، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفیٰ ۱۳۵۲ھ ربانی بکڈپو دہلی ۔
۱۱۷۔ القاموس الوحید ۔مولانا وحید الزمان بن مسیح الزمان قاسمی کیرانوی، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفیٰ ۱۴۱۵ ھ / ۱۹۹۵م، ادارہ اسلامیات لاہور ۔ کراچی۔
۱۱۸ ۔ قواعد فی علوم الحدیث ۔ العلامۃ المحقق ظفر احمد العثمانی، رحمہ اللہ تعالیٰ، المتوفی ۱۳۹۴ھ، ادارۃ القرآن کراتشی۔

۱۱۹۔ الکاشف ۔ شمس الدین ابو عبد اللہ محمد بن احمد بن عثمان ذھبی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفیٰ ۷۴۸ ھ ۔ شرکۃ دار القبلۃ / مؤسسۃ علوم القرآن ،طبع اول ۱۴۱۳ ھ / ۱۹۹۲م ۔

۱۲۰۔ الکاشف عن حقائق السنن ۔ (شرح الطیبی) امام شرف الدین حسین بن محمد بن عبد اللہ الطیبی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفیٰ ۷۴۳ ھ ۔ ادارۃ القرآن کراچی۔

۱۲۱۔ الکامل فی التاریخ ، علامہ ابو الحسن عز الدین علی بن محمد ابن الاثیر الجزری ،رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۶۳۰ ھ ، دار الکتب العربی ،بیروت۔

۱۲۲۔ الکامل فی ضعفاء الرجال ۔ امام حافظ ابو احمد عبد اللہ بن عدی جرجانی رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۳۶۵ ھ ، دار الفکر ،بیروت ۔

۱۲۳۔ ۔کتاب الام ۔ امام محمد بن ادریس الشافعی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۲۰۴ ھ ، دار المعرفۃ ، بیروت ، طبع ۱۳۹۳ ھ / ۱۹۷۳م ۔

۱۲۴۔ کتاب الامالی ۔ امام قالی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، دار الکتب العلمیۃ ، بیروت۔

۱۲۵ ۔ کتاب الخراج ، الامام ابو یوسف ، یعقوب القاضی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، المتوفی ۱۸۲ ھ ۔

۱۲۶ ۔ کتاب الضعفاء الکبیر ۔ابو جعفر محمد بن عمر بن موسی بن حماد العقیلی المکی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفیٰ ۳۲۲ ھ ، دار الکتب العلمیۃ ، بیروت ۔

۱۲۷۔ کتاب المبسوط ۔ الامام شمس الائمۃ ابو بکر محمد بن ابی سہل السرخسی ، رحمہ اللہ ، المتوفی ۴۸۳ ھ ، دار المعرفۃ ،بیروت ، الطبعۃ الثالثۃ ، ۱۳۹۸ ھ / ۱۹۷۸م۔

۱۲۸ ۔ کتاب المغازی الامام محمد بن عمر الواقدی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، المتوفی ۲۰۷ ھ ، مؤسسۃ الاعلمی ، بیروت

۱۲۹ ۔ کتاب المیسر فی شرح مصابیح السنۃ ۔ الامام ابو عبد اللہ الحسن التوربشتی ، رحمہ اللہ ، المتوفی ۶۶۱ ھ ، مکتبۃ مصطفی نزار الباز ، مکۃ المکرمۃ ، الطبعۃ الاولیٰ ۱۴۲۲ ھ /۲۰۰۱م ۔

۱۳۰ ۔ الکاشف عن حقائق غوامض التنزیل ۔۔۔۔۔ ۔ الامام جار اللہ محمود بن عمر الزمخشری ، المتوفی ۵۲۸ ھ ، دار الکتاب العربی ، بیروت ، لبنان۔

۱۳۱ ۔ کشف الباری ۔ شیخ الحدیث حضرت مولانا سلیم اللہ خان صاحب مدظلہم ، مکتبۃ فاروقیہ ، کراچی ۔

۱۳۲ ۔ کشف الخفاء و مزیل الالباس ۔ شیخ اسماعیل بن محمد العجلونی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۱۱۶۲ ھ ، دار احیاء التراث العربی ، بیروت۔

۱۳۳۔ کنز العمال ۔ علامہ علاء الدین علی المتقی بن حسام الدین الھندی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفیٰ ۹۷۵ ھ ۔ مکتبۃ التراث الاسلامی ،حلب۔

۱۳۴۔ الکوکب الدری حضرت مولانا رشید احمد گنگوھی رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفیٰ ۱۳۲۳ ھ ، ادارۃ القرآن کراچی الکواکب الدراری (دیکھئے ، شرح الکرمانی)

۱۳۵ ۔ لامع الدراری ۔ حضرت مولانا رشید احمد گنگوھی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفیٰ ۱۳۲۳ ھ ، مکتبہ امدادیہ مکۃ مکرمۃ۔

۱۳۶ ۔لسان العرب ۔ علامہ ابو الفضل جمال الدین محمد بن مکرم ابن منظور افریقی مصری ، رحمہ اللہ تعالیٰ ،متوفیٰ ۷۱۱ ھ ، نشر ادب الحوزۃ ، قم ، ایران ،۱۴۰۵ ھ ۔

۱۳۷ـ الموطأ ـ الامام مالک بن انس ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۱۷۹ھ ـ دار احیاء التراث العربی ـ

۱۳۸ـ المتواری علی تراجم ابواب البخاری ـ علامہ ناصر الدین احمد بن محمد المعروف بابن المنیر الاسکندرانی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۶۸۳ھ ـ مظہری کتب خانہ کراچی ـ

۱۳۹ـ مجمع بحار الانوار ـ علامہ محمد بن طاہر پٹنی ، رحمہ اللہ ، متوفی ۹۸۲ھ ـ دائرۃ المعارف العثمانیہ حیدرآباد ، ۱۳۹۵ھ ـ

۱۴۰ـ مجمع الزوائد امام نور الدین علی بن ابی بکر الہیثمی رحمہ اللہ تعالیٰ متوفی ۸۰۷ھ ، دار الفکر ، بیروت

۱۴۱ـ المجموع (شرح المہذب) ـ امام محیی الدین ابو زکریا یحییٰ بن شرف النووی رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۶۷۶ھ ، شرکۃ من علماء الازہر ـ

۱۴۲ـ مجموعۃ الفتاوی ـ ابو الحسنات عبد الحیی ، لکھنوی ، متوفی ۱۳۰۴ھ ، ایچ ایم سعید کمپنی ـ

۱۴۳ـ المحلّی ـ علامہ ابو محمد علی احمد بن سعید بن حزم رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۴۵۶ھ ـ المکتب التجاری بیروت / دار الکتب العلمیۃ بیروت ـ

۱۴۴ـ مختار الصحاح ، امام محمد بن ابی بکر بن عبد القادر الرازی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۶۶۶ھ کے بعد ـ دار المعارف مصر ـ

۱۴۵ـ المدونۃ الکبری ـ الامام مالک بن انس رحمہ اللہ تعالیٰ ، المتوفی ۱۷۹ھ ، دار صادر ، بیروت ـ

۱۴۶ـ مراح الارواح ـ الامام العلامۃ احمد بن علی بن مسعود ، رحمہ اللہ ، المتوفی میر محمد کراچی ـ

۱۴۷ـ مرقاۃ المفاتیح (شرح مشکوۃ المصابیح) ـ علامہ نور الدین علی بن سلطان القاری رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۱۰۱۴ھ ، مکتبہ امدادیہ ملتان ـ

۱۴۸ـ المستدرک علی الصحیحین ـ حافظ ابو عبد اللہ محمد بن عبد اللہ الحاکم النیسابوری ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۴۰۵ھ ، دار الفکر ، بیروت ـ

۱۴۹ـ مسند احمد ـ امام احمد بن حنبل ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۲۴۱ھ ـ المکتب الاسلامی / دار صادر ، بیروت

۱۵۰ـ مسند الحمیدی ـ امام ابو بکر عبد اللہ بن الزبیر الحمیدی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۲۱۹ھ ـ المکتبۃ السلفیۃ ، مدینۃ منورہ ـ

۱۵۱ـ مشکاۃ المصابیح ـ شیخ ابو عبد اللہ ولی الدین خطیب محمد بن عبد اللہ ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۷۳۷ھ کے بعد ـ قدیمی کتب خانہ کراچی ـ

۱۵۲ـ مصباح اللغات ـ ابو الفضل مولانا عبد الحفیظ البلیاوی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، المتوفی ۱۳۹۱ھ ، مکتبہ برہان ، دہلی ـ

۱۵۳ـ المصنف لابن ابی شیبۃ ـ حافظ عبد اللہ بن محمد بن ابی شیبۃ المعروف بابی بکر بن ابی شیبۃ ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۲۳۵ھ ـ دار الکتب العلمیۃ ، بیروت ، طبع اول ، ۱۴۱۶ھ ـ

۱۵۴ـ المصنف لعبد الرزاق الامام عبد الرزاق بن ہمام صنعانی رحمہ اللہ تعالیٰ متوفی ۲۱۱ھ مجلس علمی کراچی

۱۵۵ـ معارف الحدیث ـ مولانا منظور نعمانی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، المتوفی ۱۴۱۷ھ ، دار الاشاعت کراچی ـ

۱۵۶ـ معارف القرآن ـ علامہ محمد ادریس کاندھلوی ، رحمہ اللہ ، مکتبہ عثمانیہ لاہور ، طبع دوم ۱۹۸۲ء ـ

۱۵۷۔ معالم السنن ۔ الامام ابو سلیمان حمد بن محمد الخطابی ، رحمہ اللہ تعالی ، المتوفی ۳۸۸ ھ ، مطبعة انصار السنة المحمدیة ، ۱۹۳۸ م / ۱۳۶۷ ھ ۔
۱۵۸۔ معجم البلدان ۔ علامہ ابو عبد اللہ یاقوت حموی رومی ، رحمہ اللہ تعالی ، متوفی ۶۲۶ ھ ، دار احیاء التراث العربی ، بیروت ۔
۱۵۹۔ معجم الصحابة ، الامام الحافظ ابو الحسین عبد الباقی بن قانع البغدادی ، رحمہ اللہ تعالی ، المتوفی ۳۵۱ ھ ، مکتبہ نزار مصطفی الباز ، مكة المكرمة ، الرياض ، الطبعة الاولی ، ۱۴۱۸ ھ ۔
۱۶۰۔ المعجم الکبیر امام سلیمان بن احمد بن ایوب الطبرانی رحمہ اللہ تعالی متوفی ۳۶۰ ھ دار الفکر ، بیروت
۱۶۱۔ المعجم المفهرس لالفاظ الحدیث النبوی ۔ أ ۔ وی ۔ منسک ، و ی ۔ پ ۔ منسنج ، مطبعة بریل فی مدینة لیدن ۱۹۶۵ م ۔
۱۶۲۔ معجم مقاییس اللغة ۔ امام احمد بن فارس بن زکریا قزوینی رازی ، رحمہ اللہ تعالی ، متوفی ۳۹۵ ھ ۔ دار الفکر ، بیروت ۔
۱۶۳۔ المعجم الوسیط ۔ دکتور ابراهیم انس ، دکتور عبد الحلیم منتصر ، عطیة الصوالحی ، محمد خلف الله احمد ، مجمع اللغة العربیة ، دمشق ۔
۱۶۴۔ معرفة الصحابة ۔ الامام الحافظ ابو نعیم احمد بن عبد الله الاصبهانی ، رحمہ اللہ تعالی ، المتوفی ۴۳۰ ھ ، دار الکتب العلمیة ، بیروت ، لبنان ، الطبعة الاولی ، ۱۴۲۲ ھ / ۲۰۰۲ م ۔
۱۶۵۔ المغرب ، ابو الفتح ناصر الدین مطرزی ، رحمہ اللہ تعالی ، المتوفی ۶۱۰ ھ ، ادارة دعوة الاسلام ۔
۱۶۶۔ المغنی ۔ امام موفق الدین ابو محمد عبد اللہ بن احمد بن قدامة ، رحمہ اللہ تعالی ، متوفی ۶۳۰ ھ ، دار الفکر ، بیروت ۔
مقدمة فتح الباری (دیکھئے ، هدی الساری) ۔
۱۶۷۔ مقدمة لامع الدراری ، حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب کاندھلوی رحمہ اللہ تعالی ، المتوفی ۱۴۰۲ ھ ۔ مکتبہ امدادیہ مکہ مکرمہ ۔
۱۶۸۔ مقدمة مشارع الاشواق الی مصارع العشاق لابن النحاس المتوفی ۸۱۴ ھ ۔ المحقق ادریس محمد علی ، دار البشائر الاسلامیة ، بیروت ۔
۱۶۹۔ مکتوبات شیخ الاسلام ، مرتبہ مولانا نجم الدین اصلاحی ، مکتبہ دینیہ ، دیوبند ۔
۱۷۰۔ مکمل اکمال الاکمال ۔ الامام ابو عبد اللہ محمد بن محمد بن یوسف السنوسی ، رحمہ اللہ تعالی ، المتوفی ۸۹۵ ھ ، دار الکتب العلمیة ، بیروت ۔
۱۷۱۔ المنجد ۔ لوئیس بن لقولا ۔
۱۷۲۔ المواهب اللدنیة المطبوع مع الشمائل المحمدیة ۔ الامام الشیخ ابراهیم البیجوری ، رحمہ اللہ تعالی ، فاروقی کتب خانہ ، ملتان ۔
۱۷۳۔ الموضوعات ۔ الامام ابو الفرج عبد الرحمن ابن الجوزی ، رحمہ اللہ تعالی ، المتوفی ۵۹۷ ھ ، قرآن محل ، اردو بازار کراچی ۔

۱۷۴ـ موسوعة النحو والصرف والاعراب ـ الدکتور امیل بدیع یعقوب . انتشارات استقلال للملایین . الطبعة الاولی ۱۹۸۸م . بیروت . لبنان / دار العلم . ایران ـ

۱۷۵ـ میزان الاعتدال فی نقد الرجال ـ حافظ شمس الدین محمد احمد بن عثمان ذهبی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۷۴۸ھ ـ دار احیاء التراث العربیة ، مصر ، ۱۳۸۲ھ ـ

۱۷۶ـ الناقد الحدیث فی علوم الحدیث ـ الشیخ محمد المبارک عبد اللہ ، مطبعة محمد علی صبیح ، مصر ، الطبعة الاولی ۱۳۸۱ھ / ۱۹۶۱م ـ

۱۷۷ـ النبراس شرح العقائد ـ علامہ عبد العزیز بن احمد الفرہاری ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، ۱۲۳۹ھ ـ کے بعد ـ مکتبہ حقانیہ ملتان ـ

۱۷۸ ـ نسیم الریاض فی شرح شفاء القاضی عیاض ـ الامام شہاب الدین احمد بن محمد بن عمر الخفاجی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، المتوفی ۱۰۶۹ھ ، دار الکتب العلمیة بیروت ، الطبعة الاولیٰ ، ۱۴۲۱ھ / ۲۰۰۱م ـ

۱۷۹ ـ النکت الظراف علی الاطراف ـ الامام الحافظ احمد بن علی بن حجر العسقلانی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۸۵۲ھ ـ المکتب الاسلامی ، بیروت ـ

۱۸۰ـ نور الانوار شرح المنار ، مولانا شیخ احمد المعروف بملا جیون الصدیقی الحنفی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، المتوفی ۱۱۳۰ھ ، ایچ ایم سعید کمپنی کراچی

۱۸۱ـ النہایة فی غریب الحدیث و الاثر ـ علامہ مجد الدین ابو السعادات المبارک بن محمد ابن الاثیر ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۶۰۶ھ ـ دار احیاء التراث العربی بیروت ـ

۱۸۲ ـ وفیات الاعیان ـ قاضی شمس الدین احمد بن محمد المعروف بابن خلکان ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۶۸۱ھ ، دار صادر ، بیروت ـ

۱۸۳ ـ الہدایة ـ برہان الدین ابو الحسن علی بن ابی بکر المرغینانی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۵۹۳ھ ، مکتبہ شرکت علمیہ ، ملتان ـ

۱۸۴ ـ ہدی الساری (مقدمة فتح الباری) ـ حافظ ابن حجر عسقلانی ، رحمہ اللہ تعالیٰ ، متوفی ۸۵۲ھ ، دار الفکر ، بیروت ـ